بسم الله الرحمن الرحيم

اَلتَّسهِيلُ الضَّرُورِی لِمَسَائِلِ القُدُورِی

پښتو ترجمه

په مذهب کی دا امام ابوحنیفه رحمه الله

تالیف

مُحَمَّد عَاشِقِ اِلٰهِی البَرنی

مَکتَبَہ عَرَبِیَّہ

کاسی روڈ . کوئٹه

اَلتَّسهِيلُ الضَّرُورِي

لِمَسَائِلِ القُدُورِي

پښتو ترجمه

په مذهب کی د امام ابوحنیفه رحمه الله

جلد اول

تالیف

مُحَمَّد عَاشِق الٰهِی البَرنِی

مَكتَبَة عَرَبِيَّة

کاسی روډ، کوئټه فون،

د امام ابو الحسن القدوري د ژوند حالات

علامه خطیب په (تاریخ بغداد ٤-٣٧٧) کي ویلي دي : د هغه نوم احمد بن محمد بن احمد بن جعفر بن حمدان ابو الحسن فقیه او په قدوري سره معروف دی ، د عبید الله بن محمد الحوشبي څخه ئې حدیث اورېدلي دي مګر یوازي د یو څو حدیثو روایت ئې کړی دی ، ما له هغه څخه لیکلي دی اوهغه رښتینی وو او په فقه کي ډېر ماهر وو ځکه زیرك وو ، په عراق کي د امام ابوحنیفه رح د ملګرو امام ګڼل کیدی او ډېر قدر او عزت ئې وو ، هغه د ښه بیان څښتن او زړور وو په دائمي توګه ئې د قران کریم تلاوت کوی ، د ابو بشیر محمد بن عمر الوکیل او ابو القاسم التنوخي القاضي څخه ما واورېدل هغوی ویل چي قدوري په درې سوه او دو شپېته هجري کال کي زېږېدلی دی .

ابن العماد په (شذرات الذهب ٣-٢٣٣) کي ویلي دي : ابو بکر الخطیب له لغه څخه روایت کړی دی او په مذهب کي ئې (المختصر) چي مشهور کتاب دی او نور تابونه لیکلي دي او د شیخ ابوحامد اسفرائیني سره ئې چي د شافعي مذهب فقیه وو ناظره کول او د هغه ډېر تعظیم ئې کوی .

او په (الفوائد البهیه) کي ذکر سوي دي : د احمد بن محمد بن احمد ابو الحسن غدادي القدوري په هکله ویل سوي دي : چي د بغداد یو کلي ته نسبت دی چي هغه قدوره ویل کیږي ، داسي هم ویل سوي دي چي د قدور (دېګونه) خرڅولو ته نسبت . هغه د (مختصر) څښتن دی چي مبارك او د طلابو په منځ کي مشهور کتاب دی قه ئې د ابو عبد الله فقیه محمد بن یحیی الجرجاني څخه اخستي ده هغه د احمد صاص څخه هغه د عبید الله ابو الحسن الکرخي څخه هغه د ابو سعید البردعي څخه د موسی الرازي څخه هغه د محمد څخه اه .

او په هغه کي ئې د مدینه العلوم څخه نقل کړی دی چي دغه د قدور (دېګونه) لو یا خرڅولو ته نسبت دی یا د یو کلي نوم دی اه . الله ﷻ ته حق ښه معلوم دی .

د کشف الظنون مصنف ویلي دي : د (مصباح انوار الادعیة) مصنف ویلي دي : نو د وباء په ورځو کي د هغه په لوستلو سره تبرك کوي او هغه یو مبارك کتاب دی چي ئې په یاد کړي له فقر څخه په امن کي کیږي تر داسي اندازې ویل سوي دي :

چي څوك ئې پر يو صالح استاذ ولولي او د كتاب د ختم په وخت كي هغه ده ته د بركت دعاء وكړي د هغه د مسائلو په شمير سره د دراهمو مالك كيږي ، د مجمع په ځينو شرحو كي ذكر سوي دي چي په هغه كي دوولس زره مسئلې دي اه .

دغه رنګه د (مفتاح السعاده ٢-١٤٦) مصنف ليكلي دي او هغه ويلي دي : په دغه مختصر سره علماء تبرك كوي تر داسي اندازې چي د سختيو او طاعون په ورځو كي ئې د هغه لوستل تجربه كړي دي .

او په (كشف الظنون) كي ذكر سوي دي : ابو علي الشاشي ويل : څوك چي دغه كتاب په ياد كړي هغه زموږ د ملګرو تر ټولو لوى حافظ دى او څوك چي ئې زده كړي هغه زموږ د ملګرو تر ټولو پوه دى .

او ښكنده خبره ده چي دِ هدايې مصنف لمړى په فقه كي (البداية) وليكل او په هغه كي ئې د (القدوري) او (الجامع الصغير) كوم چي امام محمد بن الحسن الشيباني ليكلى دى مسئلې ذكر كړلې ،د (مفتاح السعاده ٢-١٢٩) مصنف ويلي دي : د هدايې مصنف په خپل كتاب كي د ځان لپاره ځيني اصطلاحات ټاكلي دي : يو دا چي كه مسئله په (القدوري) يا (الجامع الصغير) يا (البداية) كي ذكر سوي وي د (قال) لفظ ذكر كوي او كه په بل كتاب كي ذكر سوې وي د (قال) لفظ نه ذكر كوي ، بل دا چي د (القدوري) مسئلې لمړى ذكر كوي او د (الجامع الصغير) مسئلې د بابو په اخر كي ذكر كوي او كه په هغوى كي لږ فرق وو د (الجامع الصغير) لفظ په ښكنده توګه ذكر كوي ... تر پايه پوري .

د (مفتاح السعاده ٢-١٤٥) مصنف ويلي دي : قدوري د (مختصر الكرخي) شرح ليكلې ده او (التجريد) ئې په اوو ټوكو كي ليكلى دى چي په هغه كي د امام شافعي او امام ابوحنيفه اختلاف ذكر سوى دى ، د دغه كتاب املاء ئې په څلور سوه او پنځه كي شروع كړل ، هغه (كتاب التقريب) ليكلى دى چي په هغه كي ئې د امام ابوحنيفهرح او د هغه د ملګرو اختلاف بېله دلائلو ذكر كړى دى ، بيا ئې دوهم تقريب وليكى چي په هغه كي ئې مسئلې د دلائلو سره ذكر كړې .

حافظ ذهبي په (سير اعلام النبلاء ١٧-٥٧٥) كي ويلي دي : د عبيد الله بن محمد الحوشبي او محمد بن علي بن سويد المودب څخه ئې روايت كړى دى او خطيب

او قاضي ابو عبدالله الدامغاني له ده څخه روايت کړی دی ، د رجب په مياشت کي په
څلور سوه او اته ويشت هجري کال کي وفات سو چي عمر ئې شپږ شپېته کاله وو اه .
دغه رنګه ئې په (تذکره الحفاظ ٣-١٠٨٦) کي دده وفات په دغه کال کي ذکر
کړی دی ، دده د ژوند د حالاتو لپاره (الانساب للسمعاني ١٠-٣٥٢) او (وفيات
الاعيان لابن خلکان ١-٨٦) او (البداية و النهاية ١٢-٤٠) او (هدية العارفيـــن ١-٧٣) او
(الجواهر المضيئة ١-٢٤٧) وګوره .

د ظاهر روایت کتابونه

د حنفي فقه په کتابو کي په مکرره توګه د (ظاهر روایت) تکی ذکر سوی دی ، زده کونکي لره ضروري ده چي د هغه معنی او مطلب زده کړي :

پوه سه چي ابن عابدين الشامي په خپله رساله (عقود رسم المفتي) کي ويلي دي :

و كتب ظاهر الرواية اتت ستا و بالاصول ايضا سميت

صنفها محمد الشيباني حرر فيها المذهب النعماني

الجامع الصغير و الكبير و السير الكبير و الصغير

ثم الزيادات مع المبسوط تواترت بالسند المضبوط

كذا له مسائل النوادر اسنادها في الكتب غير ظاهر

و بعدها مسائل النوازل خرجها الاشياخ بالدلائل

بيا شامي ويلي دي پوه سه چي زموږ د حنفي علماوو مسئلې پر درې طبقې دي :

لمړی : هغه مسئلې چي اصول او ظاهر روايت بلل کيږي ، هغه هغه مسئلې دي چي د مذهب د څښتنانو څخه نقل سوي وي چي ابوحنيفهرح او ابو يوسفرح او محمدرح دي او هغوی ته درې علماء ويل کيږي ، کله کله زفررح او حسنرح او نور علماء کوم چي د ابوحنيفه رح څخه ئې فقه زده کړې ده هم د دوی په ډله کي شمېرل کيږي مګر په ظاهر روايت کي مشهوره د دغو درو علماوو يا په هغوی کي د ځينو قول دی .

دغه مسئلې چي ظاهر روايت او اصول بلل کيږي هغه دي چي د محمدرح په کتابو کي وي چي هغه په لاندي توګه دي :

١: المبسوط
٢ : الزيادات
٣ : الجامع الصغير
٤ : السير الصغير
٥ : الجامع الكبير
٦ :السير الكبير

ظاهر روايت ځکه بلل کيږي چي د محمدرح څخه د ثقاتو په روايت سره نقل سوي دي نو هغه يا متواتر دي يا مشهور دي .

دوهم : نوادر مسئلې دي هغه هغه دي چي د مذهب د څښتنانو څخه ئې کوم چي ذکر سول روايت سوي وي مګر په نوموړو کتابو کي نه وي بلکه يا د محمدرح په نورو کتابو کي وي يا د محمدرح څخه پرته په نورو کتابو کي وي .

دريم : د فتاوى او پېښو مسئلې هغه هغه مسئلې دي چي وروستنيو مجتهدينو رااېستلي وي کله چي له هغوى څخه پوښتني سوي وي او په هغه کي ئې د پخوانيو مذهب څښتنانو روايت نه وي موندلى .

د حنبلي او شافعي فقه څښتنان
چي د امام ابوحنيفه رح پر ملګرو شاګردان سوي وي

بيا د مالك بن انس رح وروسته محمد بن ادريس المطلبي الشافعي رح وو ، تر مالكرح وروسته ئې عراق ته سفر وکړى او د امام ابوحنيفهرح د ملګرو سره ئې ملاقات وکړى او د اهل حجاز او اهل عراق طريقې ئې سره ګډي کړې او ځان ته ئې بېل مذهب جوړ کړى او د مالكرح سره ئې په ډېرو مسئلو کي اختلاف وکړى ، له هغوى څخه وروسته احمد بن حنبلرح راغلى ، هغه د حديث د لوړو علماوو څخه وو او د هغه ملګرو د امام ابوحنيفهرح له ملګرو څخه علم حاصل کړى سره له دې چي دحديث لويه برخه ئې درلودل نو يو بل مذهب ئې ځان ته جوړ کړى .

(د ابن خلدون مقدمه ٤٤٧-٤٤٨)

او واڼې ځنبنل : يعني کوم څوك چې د امام په قواعدو او اصولو کې ئې غور وکړی او د ډيرو مسئلو په راايستلو کې ئې کوښښ وکړی د امام اعظم شاګر ابويوسف يعقوبرح ابن ابراهيم وو چې قاضي القضاه وو څرنګه چې خطيب ئې په خپل تاريخ کې روايت کړی دی : اول هغه څوك چې په اصول الفقه کې ئې د ابوحنيفهرح پر مذهب کتاب ليکلی وو او د مسئلو املاء ئې وکړل او د ابوحنيفه رح علم ئې د مځکې په برخو کې وپاشی .

او ډوډۍ ئې څنې پخه کړل : يعني کوم څوك چې د مسئلو په راايستلو او وضاحت او صافولو کې ئې زياتوالۍ وکړی په دې توګه چې بل شي ته ضرورت نه سو پاته امام محمد بن الحسن الشيبانيرح وو چې د امام ابوحنيفهرح او ابويوسفرح شاګرد وو چې نعماني مذهب ئې خلاصه کړی او د هغه پر فقيه والي علماوو اتفاق کړی دی .

نو نور کسان د هغه له ډوډۍ څخه خورك کوي : يعني د محمدرح له ډوډۍ څخه کومه چې د ابويوسفرح له اخبنلو اوړو او امام ابوحنيفهرح له اوړو څخه ئې پخه کړې وه .

(د الدر المختار او رد المحتار له مقدمې څخه)

د فقه خدمات

فقه : عبد الله بن مسعود ﷺ وکرل او علقمهرح اوبه کړل او ابراهيم نخعيرح لو کړل او حمادرح غوبل کړل او ابوحنيفهرح اوړه کړل او ابويوسفرح واخبښل او محمدرح ډوډۍ ځني پخه کړل او نور خلگ د هغه له ډوډۍ څخه خورك کوي .

ددغه شرح او وضاحت :

وئې کرل : يعني لمړی هغه څوك چي د هغه د مسئلو په رااېستلو کي ئې خبره وکړل عبدالله بن مسعود ﷺ وو چي لوی صحابي او د هغه صحابه وو څخه وو چي مخکي ئې اسلام قبول کړی وو او د بدر غزوه ته حاضر سوی وو او د صحابه وو د لويو علماوو څخه وو .

اوبه ئې کړل : يعني د هغه تاييد او وضاحت علقمه رح بن قيس بن عبدالله بن مالك النخعي وکړی چي لوی فقيه او د اسود بن يزيد رح تره او ابراهيم نخعيرح ماما وو ، د نبي ﷺ په ژوند کي زېږېدلی وو او قران او علم ئې له عبدالله بن مسعود ﷺ او علي ﷺ او عمر ﷺ او ابو الدرداء ﷺ او عائشه ﷺ څخه زده کړی وو .

لو ئې کړل : يعني هغه څوك چي فائدې او نادر مسئلې ئې چي متفرقي وې سره جمع کړې او د استفادې لپاره ئې تياري کړې ابراهيمرح بن يزيد بن قيس بن اسود ابو عمران نخعي کوفي وو چي مشهور امام او صالح او پرهېزگار وو .

غوبل ئې کړل : يعني کوم چا چي د هغه په وضاحت کي کوښښ وکړی حمادرح بن مسلم کوفي وو چي د امام ابوحنيفهرح شيخ وو .

او اوړه ئې کړل : يعني کوم چا چي د هغه قواعد ور ډېر کړ ل او مسائل ئې رااوايستل او لاري ئې ورروښانه کړې د امامانو امام او د امت څراغ ابوحنيفهرح النعمان وو ځکه هغه لمړی هغه څوك وو چي د فقه تدوين ئې وکړی او پر بابو او کتابو ئې مرتب کړل څرنگه چي نن ده او امام مالكرح ئې په خپل کتاب موطا کي متابعت وکړی او کوم کسان چي دده مخکي وه ددوی پر حفظ ئې اعتماد کوی .

كتابُ الطَّهارة

﴿ د پاكوالي كتاب ﴾

س : فقهاء ولي خپل كتابونه د طهارت په احكامو سره شروع كوي ؟
ج : ځكه چي طهارت د لمانځه د صحت له شرطو څخه دی ، او لمونځ د اسلام د پنځو ركنو څخه دوهم ركن دی ، نو دوی د طهارت احكام مخكي ذكر كوي د هغه څخه وروسته د لمانځه احكام ذكر كوي .
س : د طهارت لغوي او شرعي معنی څه شی ده ؟
ج : طهارت په عربي ژبه كي پاكوالي ته ويل كيږي او په شريعت كي د كوچنی ناپاكي او لويي ناپاكي ليري كول او له كالو،بدن او لمانځه له ځايه څخه د نجاست (مرداري) ليري كولو ته ويل كيږي .
س : لويه ناپاكي څه شي ده ؟
ج :كله چي پر سړي يا ښځه د ټول بدن پريمنځل فرض سي ﴿ دجنابت ، حيض يا نفاس له وجهي ﴾ نو هغه ته لويه ناپاكي ويل كيږي كله چي بدن پرېمنځی دغه ناپاكي ليري كيږي او دغه پريمنځل غُسل (د غين په پېښ سره) او اغتسال بلل كيږي .
س : كوچنی ناپاكي څه شي ته وايي ؟
ج : كله چي پر سړي يا ښځه د لمانځه د اداء كولو لپاره د ځينو اندامو پريمنځل او د ځينو مسح كول فرض سي نو دغه كوچنی ناپاكي ﴿ بې اودسي ﴾ بلل كيږي ، كله چي د دغو اندامو څخه ناپاكي ليري سي نو په دغه سره طهارت حاصليږي ،او دغه پريمنځل وضوء ﴿ اودس ﴾ بلل كيږي او دغه سړی متوضئ ﴿ اودس لرونكی ﴾ بلل كيږي .
س : هغه اندامونه بيان كړئ چي په اودس كي ئې پريمنځل يا مسح كول ضروري دي .
ج : هغه :

۱ : مخ دی ، د سر د وربښتانو د ختميدو له ځايه څخه د زني تر لاندي برخي پوري او د ښي غوږ له نرمی څخه د چپه غوږ تر نرمی پوري .
۲ : لاسونه دي ، د گوتو له سرو څخه تر څنگلو پوري .

۳ : پښې دي ، د ګوتو له سرو څخه تر بجلکو پوري ، دغه اندامونه په اودس کي پريمنځل کيږي او سړی تر هغو اودس کونکی نه دی تر څو چي دغه ټوله مينځي ، که د يوه وريښته په قدر ځای پاته سو چي اوبه نه ورورسېدلې اودس ئې صحيح نه دی تر څو چي دغه ځای مينځي .

٤ : هغه اندام چي مسح کيږي ، سر دی ، د ټوله سر مسح کول سنت دي او د څلورمي برخي مسح کول فرض دي .

س : اياد بجلکو او څنګلو پرېمنځل فرض دي ؟

ج : هو د هغو پرېمنځل د اودس له فرضو څخه دي .

س : له کوم ځای څخه تاسي پوه سولاست چي په اودس کي د درو اندامو پريمنځل او د سر مسح کول فرض دي ؟

ج : الله ﷻ په خپل کتاب کي بيان کړي دي ، هغه فرمايلي دي :

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾(۱) (ای هغه کسانو چي ايمان مو راوړی دی کله چي ولاړ سئ لمانځه ته نو پريمنځئ مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پوري او مسح وکئ پر سرو خپلو او (پريمنځئ) پښې خپلي تر بجلکو پوري) .

س : پردې باندي څه دليل دی چي د سر څلورمه برخه مسح کول فرض دي ؟

ج : پر دې باندي دليل د مغيره بن شعبه ؓ حديث دی ده وويل : نبي ﷺ اودس وکی او پر نزله باندي ئې مسح وکړل (۲) .

د اودس سنتونه

س : د اودس سنتونه کوم دي ؟

ج : ۱ : نيت دی ، د ناپاکۍ د ليري کولو يا داسي کار د رواکېدلو نيت به کوي چي بېله اودسه نه رواکيږي .

۲ : داودس په سر کي د لاسو پريمنځل تر بندو پوري درې ځله ، کله چي اودس

(۱) سورة المائدة : اية ٦ .

(۲) امام مسلم ئې په " باب المسح على الخفين " کي روايت کړی دی .

کونکی د خوب څخه راکښيني ، په هغه وخت کي ئې پريمنځل سنت موکد (ټينګ سنت) دي ، مخکي له دې څخه چي لوښي ته ئې داخلوي لاسونه به مينځي .

۳ : په سر کي د اودس د الله ﷻ نوم يادول .

٤ : مسواك وهل .

٥ : خوله پريمنځل درې ځله .

٦ : پزه پريمنځل درې ځله سره د صفاکولو .

۷ : د ټوله سر مسح کول .

۸ : د غوږو مسح کول .

۹ : د ګوتو خلالول .

۱۰ :د ږيرې خلالول .

۱۱ : پريمنځل تر درو ځلو پورې تکرارول .

۱۲ : ترتيب څرنګه چي په قران کريم کي ذکر سوی دی ، اول به مخ مينځي ، بيا به لاسونه تر څنګلو پورې مينځي ، بيا به پر سر مسح کوي ، بيا به پښې تر بجلکو پورې مينځي .

۱۳ : په ښي اندامو سره شروع کول ، اول به ښی لاس مينځي بيا به چپه لاس مينځي ، دغه رنګه به اول ښی پښه مينځي بيا به چپه پښه مينځي .

۱٤ : په پريمنځلو کي پرله پسې والی .

۱٥ : د غاړې مسح کول (۱) .

---

(۱) قدوري مخکي تر لوښي داخلولو د لاسو پريمنځل ، د الله ﷻ نوم يادول ، مسواك وهل ، خوله پريمنځل ، پزه پريمنځل ، دغوږو مسح کول ، د ږيرې خلالول ، د ګوتو خلالول او د پريمنځلو تکرار تر درې ځلو پورې دغه ټوله سنت بللي دي ، وروسته ئې ويلي دي : اودس کونکي لره مستحب دی چي د پاکی نيت وکي او ټوله سر پريمنځي او اودس په ترتيب سره وکي او په ښي اندامو شروع وکي او په پريمنځلو کي پرله پسې والی وکي او غاړه مسح کي دغه شپږ شيان ئې مستحب وبلل مګر د " هدايې " مصنف د الله ﷻ نوم يادول مستحب بللي دي او نيت او ترتيب ئې سنت بللي دي ، نو ددغه اختلاف له کبله په دې کتاب کي موږ ټوله د سنت ترعنوان لاندي ذکرکړل تر څو دنوي زده کونکي ذهن ونه پاشل سي استاذ لره په کار ده چي زده کونکي ته داخبره وروښوي چي د مستحب درجه ترسنت کښته ده .

د اودس ماتونکي

س : کله چي سړی یاښځه په اودس کولو سره د کوچنۍ ناپاکي څخه ځان پاك کړي ، بیا دغه پاکي (اودس) کله ماتیږي ؟

ج : دغه پاکي په یوه سره د لاندي شیانو ماتیږي ، او دې ته د اودس ماتونکي وایي :

١: د انسان څخه مرداري راوتل .

٢: په یقین سره د انسان څخه د باد وتل که اواز ورسره وي که نه .

٣: د بولو ، ودي یا مذي راوتل .

٤: د وینو ، نو یا ژړو اوبو راوتل ، کله چي یو له دغو درو څخه راووزي او داسي ځای ته ورسیږي چي هغه په اودس یا غسل کي پرېمنځل کیږي .

٥: قي چي په ډکه خوله وي .

٦: خوب چي پر اړخ پروت وي .

٧: خوب چي پر مخکه ئې تکیه کړې وي یا ئې یو داسي شي ته تکیه کړې وي که هغه ایسته سي دی غځاریږي .

٨: د عقل مغلوبه کیدل په بې هوښي سره .

٩: لیونتوب .

١٠: قهقهه (په زوره خندا) دداسي لمونځ کونکي چي بالغ وي او په داسي لمانځه کي وي چي رکوع او سجده ولري . کله چي له دغو شیانو څخه یو شی پیښ سي نو لمونځ کول جائز نه دي تر څو چي اودس کوي .

فرضي غسل او دهغه لازمونکي

س : انسان ته لویه ناپاکي کله راځي ؟ او په څه شي سره غسل لازمیږي ؟

ج : لویه ناپاکي د لاندي ذکر سوو شیانو څخه په یوه سره پیدا کیږي او غسل پر لازمیږي .

١: د سړي یا ښځي احتلام (په خوب کي شیطان خطایستل) چي مني (د انسان نطفه) راووزي .

٢: چي نر د ذکر سر د ښځي په فرج کي یا د ښځي د شا په ځای کي یا د نر د شا په ځای کي داخل کي که مني راووزي که نه ، په دغه صورت کي پر فاعل (کونکي) او

مفعول ﴿ کړل سوي ﴾ غسل لازميږي ، فقهاء ﴿ د فقه علماء ﴾ د ښځي په فرج کي ذکر داخلولو ته التقاء الختانين ﴿ د سنت سوو ځايو يو ځاي کيدل ﴾ وايي .

۳: په غورځيدلو او شهوت سره د نر يا ښځي څخه مني راوتل ، کله چي د دغو درو شيانو څخه يو شي پيدا سي نو ويل کيږي : سړی جنب سو يا ښځه جنبه سول يا داسي ويل کيږي : دوی جنبان دي .

٤: د حيض ختمېدل .

٥: د نفاس ختمېدل .

په نومړو شيانو سره غسل فرضيږي يعني د ټوله بدن پرېمنځل فرض دي په داسي ډول چي د يوه ورېښته ځای وچ پاته نه سي .

س : ايا په مذي يا ودي سره غسل لازميږي ؟

ج : د هغو په راوتلو سره غسل نه لازميږي ، بلکه څرنګه چي مو مخکي ذکر کړل اودس ماتوي .

سنت غسل او د هغه ځايونه

س : بېله فرضي غسل څخه په سپېڅلي شريعت کي بل غسل سته ؟

ج : هو رسول الله ﷺ د جمعې ، اخترو ، احرام او د عرفات په ورځ پر عرفات درېدلو لپاره غسل سنت بللی دی (١) .

---

(١) د سمره بن جندب ﷺ څخه روايت سوی دی ده وويل : رسول الله ﷺ وويل : که څوك د جمعې په ورځ اودس وکي نو ښه دی او څوك چي غسل وکي نو غسل ډېر افضل دی . ددې حديث روايت ترمذي په " ابواب الجمعة " کي کړی دی او دا ئي ويلي دی چي دا حسن حديث دی . د ابن عباس ﷺ څخه روايت سوی دی چي ده وويل : رسول الله ﷺ وويل : دا د اختر ورځ ده چي الله ﷺ د مسلمانانو لپاره ټاکلې ده نو څوك چي د جمعې لمانځه ته راځي غسل دي وکي ، که ئې خوشبويي درلودله هغه دي په ځان پوري ومږي او مسواك دي حتماً استعمال کړئ . ددې حديث روايت ابن ماجه په " باب ما جاء في الزينة يوم الجمعة " کي کړې دی . منذري په " ترغيب " کي ويلي دي ددې حديث اسناد حسن دی او طحاوي په " شرح معاني الاثار " کي د زاذان څخه روايت کړی دی چي ما د علي ﷺ څخه دغسل په باره کي پوښتنه وکړل ده وويل : که دي خوښه وي غسل وکړه ، ما ورته وويل : زه دهغه غسل په باره کي پوښتنه در څخه کوم چي سنت دی ، ده وويل : د جمعې په ورځ ، د عرفات په ورځ ، د کوچني اختر په ورځ او دلوی اختر

دغسل فرضونه

س : د غسل فرضونه كوم دي ؟

ج : په فرضي غسل كي لاندي ذكر سوي شيان فرض دي :

١ - خوله پريمنځل په داسي ډول سره چي خوله تر ستوني پوري په اوبو ډكه سي .

٢ - د پزي تر نرمي برخي پوري پزه پريمنځل .

٣ - د نور بدن پريمنځل يو ځل (١) .

س : پر سنت طريقه به انسان څرنگه غسل كوي ؟

ج : پر سنت طريقه غسل داسي دی چي غسل كونكی لمړی خپل لاسونه پريمنځي بيا استنجاء ووهي يعني د مخ او شا خوا دي پريمنځي او څومره چي ممكن وي په استنجاء كي دي پيراخه كښيني كه ئې پر بدن كوم ښكاره نجاست ﴿ مرداري ﴾ وو هغه دي پاك كړي ، بيا دي د لمانځه په ډول اودس وكي بيا دي پر سر او نور بدن درې ځله اوبه واچوي ، او د غوړو شپيليو ، بغلو ، نو او نورو داسي ځايو ته دي توجه ولري كومو ته چي بېله توجه اوبه نه رسيږي .

فائده : كه انسان پر يو تخته يا ډبره يا ماربل باندي غسل كوی په داسي ډول چي مستعملي اوبه نه جمع كيږي ، نو پښې دي پر عادي طريقه د اودس په آخر كي مينځي ، او كه مستعملي اوبه د غسل په ځای كي جمع كېدلې نو د پښو پريمنځل دي و ځنډوي ، چي دی له هغه ځای څخه منتقل سي د غسل په آخر كي دې ئې پريمنځي .

س : د غسل دغه كيفيت يوازي د هغه چا لپاره دی چي غسل پر فرض وي كه دټولو غسل كونكو لپاره دی ؟

ج : دغه كيفيت د هر غسل كونكي لپاره دی كه فرضي غسل كوي كه سنت .

د ص ٥ حاشيې پاته برخه : په ورځ ، په باب غسل يوم الجمعه كي ئې ددې حديث روايت كړی دی . او حاكـم په " مستدرك ١ – ٤٤٧ " كي د بكربن عبد الله څخه روايت كړی دی چي ابن عمر ﷺ وويل : د احرام تړلو په وخت كي اوكله چي انسان مكې ته داخليږي غسل سنت دی ، حاكم ويلي دي دا حديث صحيح دی د شيخينو پر شرط دی او ذهبي هم صحيح بللی دی .

(١) د درو واړو لپاره قيد دی .

س : ايا ښځي ته د وريښتانو د لندولو په هکله کومه اساني سته ؟ او که پر دې کوڅې خلاصول لازم دي د دې لپاره چي ورېښتان ئې لانده سي ؟
ج : پر ښځه دا لازمه نه ده چي خپلي کوڅې به خلاصوي ، د ټولو ورېښتانو لندول پر لازم نه دي ، چي د ورېښتانو بېخو ته ئې اوبه ورسيږي کفايت ورته کوي ، دغه اساني يوازي هغو ښځو ته سته چي ورېښتان ئې کوڅې کړي وي که داسي نه وه نو دوريښتانولندول هم پر لازم دي او د ورېښتانو بېخوته اوبه رسول هم پر لازم دي ، دغه رنګه پر سړي لازمه ده چي ټوله ورېښتان به لندوي که ئې ورېښتان ډېر وي که لږ .

د کوچنۍ ناپاکي (بې اودسي) او لويي ناپاکي حکمونه

س : د دواړو ناپاکيو احکام بيان کړئ .
ج : کله چي پر سړي يا ښځه غسل فرض سي ، نو هغه ته په دغه حالت کي لمونځ کول ، مسجد ته ننوتل ، قران کريم لوستل ، قران کريم ته لاس وروړل او طواف کول روا نه دي ﴿ که قران کريم په داسي پوښ کي وو چي پر هغه مبنتی نه وي نو لاس وروړل روا دي ﴾ ، د قران کريم د تلاوته پرته نور ذکر دوی ته روا دی . هغه څوك چي بې اودسه وي هغه ته لمونځ کول ، پر کعبه طواف کول تر هغو نه دي روا ترڅو چي اودس کوي ، د قران کريم تلاوت ، د الله ﷻ ذکر او مسجد ته ننوتل ورته روا دي ، قران کريم ته لاس وروړل يوازي په داسي پوښ سره ورته روا دي چي پوري مبنتی نه وي .

اوبه

س : په څه شي سره لويه ناپاکي او کوچنۍ ناپاکي ليري کيږي ؟
ج : له دواړو ناپاکيو څخه د باران ، شېلو ، ولو ، چينو ، څاهانو او دريابو په اوبو سره که څه هم تروې وي ، پاکي حاصلول جائز دي . هغه اوبه چي يو پاك شی ورسره ګډ سوی وي او د اوبو يو صفت ئې ورتبديل کړی وي لکه د سېلِ اوبه چي خاوري ورسره ګډي سوي وي يا هغه اوبه چي صابون يا زعفران ورسره ګډ سوي وي ، په هغه سره هم له دواړو ناپاکيو څخه پاکي حاصلول جائز دي .
س : داسي اوبه سته چي په هغه سره له دغو دوو ناپاکيو څخه پاکي حاصلول جائز نه وي ؟

ج : هغه اوبه چي له وني يا مېوې څخه نبنتېزل سوي وي يا داسي اوبه چي يو بل شی ورسره ګډ سوی وي او هغه پر اوبو غالبه سوی وي په داسي ډول سره چي اوبه ئې له خپله مزاج څخه ايستلي وي لکه شربت ، سرکه ، ښوروا او داسي نور ، په هغو سره اودس يا غسل کول جائز نه دي .

س : مستعملي اوبه چي له ددو ناپاکيو څخه يوه ناپاکي په ليري سوې وي يا د ثواب په نيت په بدن کي مستعملي سوي وي ـ د مثال په توګه يو سړی اودس لري او د ثواب په نيت بل اودس وکړي ـ دغه اوبه څه حکم لري ؟

ج : په هغه سره نه اودس جائز دی نه غسل .

س : په دې خبره موږ پوه سولو چي په مستعملو اوبو سره کوچنۍ يا لويه ناپاکي نه ليري کيږي اوس غواړوچي په دې خبره ځان پوه کړوچي مستعملي اوبه خپله پاکي دي که نه ؟

ج : که په اوبو سره حکمي ناپاکي (بې اودسي ، جنابت يا هغه ناپاکي چي ښځي ته د حيض او نفاس له وجهي پيداکيږي) ليري سوې وي حقيقي نجاست (هغه مرداري چي محسوسيږي لکه بولي ، وينه او داسي نور) نه وي په ليري سوی نو اوبه خپله پاکي دي پاکونکي نه دي يعني دوهم ځل د لويي او کوچنۍ ناپاکي لپاره نه سي مستعملېدای ، نو که د اودس يا غسل په وخت کي يو څه قدر مستعملي اوبه د انسان پر کالو توی سي يا په نورو اوبو يا لوښو کي ولويږي ، دغه شيان نه مرداريږي .

د اوبو مرداروالی او پاکوالی

س : که اوبو ته يو شی ولويږي هغه مرداريږي که نه ؟

ج : الله ﷻ اوبه طاهري (پاکي) او مطهري (پاکونکي) پيداکړي دي مګر که نجاست (مرداري) لږ يا ډېر په کښي ولويږي ، مرداريږي . څکه چي نبي ﷺ له نجاست څخه د اوبو په ساتنه امر کړی دی هغه ﷺ ويلي دي (لَا يَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِيْ لَايَجْرِيْ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ) (۱) (ستاسي څخه يو څوك دي داسي نه کوي چي په ولاړو اوبو کي چي جاري نه وي بولي کوي بيا په هغه کي غسل کوي) .

او نبي ﷺ ويلي دي (اِذَا اسْتَيْقَظَ اَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْاِنَاءِ حَتّٰى يَغْسِلَهَا

(۱) امام بخاري ئې د ابوهريره ﷺ څخه په "كتاب الوضوء" کي روايت کړی دی .

ثَلَاثًا ، فَاِنَّهُ لَا يَدْرِيْ اَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ﴾ (١) ﴿ کله چي له تاسو څخه يوله خوب څخه راکښېني نو خپل لاس دي په لوښي کي نه غوټه کوي ترڅو چي دري ځله ئې مينځي ځکه دی نه دی خبر چي لاس ئې چيري شپه تېره کړې ده (په شپه کي له کوم ځای سره مښتی دی) ﴾ ، نو که په اوبو کي نجاست ولوېږي په هغه سره اودس او غسل نه دی جائز .

س : که په يو حوض کي نجاست ولوېږي او يو څوك وغواړي چي له هغه څخه اودس وکړي ، فقهاء ﴿ د فقه علماء ﴾ په دغه مسئله کي څه وايي ؟

ج : لوی حوض په داسي ډول چي د يوه اړخ په ښورولو سره ئې بل اړخ نه ښوري ، که ئې په يوه اړخ کي نجاست ولوېږي د بل اړخ څخه ئې اودس کول جائز دي ، ځکه دا ښکاره خبره ده چي نجاست هغه بل اړخ ته نه رسيږي ځکه يو اړخ ئې له بل څخه ليري دی .

س : په جاري اوبو ﴿ رواني اوبه ﴾ کي چي نجاست ولوېږي ، دهغه څه حکم دی ؟

ج : که د نجاست اثر ﴿ رنګ ، خوند يا بوی ﴾ په اوبو کي ښکاره نه سي اودس او غسل کول له هغه څخه جائز دي،ځکه د اوبو د بهيدلو له کبله نجاست نه درېږي .

س : که په اوبو کي يو حيوان مړ سي اوبه مرداريږي که نه ؟

ج : هو هغه حيوان چي بهېدونکې وينه ولري که مرغه وي که څلور پښې حيوان اوبه په مرداريږي ، هغه حيوان چي په اوبو کي ژوند کوي لکه ماهی ، چنګوښه او چنګاښ ، که په اوبو کي مړسي اوبه نه مرداريږي ، دغه رنګه که داسي حيوان په اوبوکي مړ سي چي بهېدونکې وينه نه لري لکه کيکه ، مچ ، غالبوزه او لړم هم اوبه نه مرداريږي .

د څاه پاکول کله چي نجاست ورولوېږي

س : تاسي مخکي ذکر کړل چي د څاه اوبه پاکي دي ، ممکنه ده چي يو نجاست ورولوېږي ، نو بيا دهغه د پاکولو څه طريقه ده ؟

ج : ١: کله چي په څاه کښي نجاست ولوېږي يا يو انسان ، سپی ، پسه ، يايو دا سي حيوان چي ددوی سره په جسامت کي برابر وي ، مړ سي نو د څاه ټوله اوبه راکښل ضروري دي ، کله چي ټوله اوبه راوکښل سي څاه پاکيږي .

---

(١) مسلم ئې دابوهريره ﷺ څخه په " باب کراهية غمس المتوضئ " کي روايت کړی دی .

۲: که کوتره ، چرګه ، پشي یا په مثل ددغو یو بل حیوان په کښې مړسو نو د څلوېښتو سولاغو راکښل واجب او د پنځوسو سولاغو راکښل مستحب دي .

۳: که موږك ، چوغکه یا د هغو په مثل یو بل حیوان په کښې مړ سو نو د شلو سولاغو راکښل واجب دي او د دیرشو سولاغو راکښل مستحب دي .

٤: دا حکمونه په هغه صورت کښې دي چې مړ سوی حیوان پړسېدلی یا شوړېدلی نه وي ، که پړسېدلی یا شوړېدلی وو د څاه ټوله اوبه را کښل ضروري دي که حیوان کوچنی وي که لوی .

س : د څاه څخه اوبو راکښلو کي کومه سولاغه معتبره ده ؟

ج : په دغه کي میانه سولاغه معتبره ده کومه چې په څاهانو کي اُستعمالیږي .

س : کله کله سولاغه لویه وي نو بیا څرنګه حسابیږي .

ج : د سولاغې لویوالي ته کتېل کیږي ، که ئې لس میانه سولاغې ځایولې ، دوې یا درې سولاغې را کښل کفایت کوي که موږك یا د هغه په مثل بل حیوان په کښې مړ سوی وي ، دغه رنګه حساب په څلوېښتو سولاغو کي کیږي که کوتره یا دهغه په مثل یو حیوان په کښې مړ سوي وي .

فائده : دڅاه دټولو اوبو را کښلو مطلب دا دی چې په څاکي دومره اوبه پاته سي چې نیمه سولاغه نه په ډکیږي .

س کله کله څا چینه لرونکی وي د سولاغو په راکښلو ئې اوبه نه ختمیږي ، هر ځل چې اوبه راوکښل سي له لاندي څخه بیرته اوبه زیاتیږي ، په دغه صورت کښې څاه څرنګه پاکیږي ؟

ج : کله چې دومره اوبه راوکښل سي چې په څاه کښې موجودي وي ، څاه پاکیږي . په دغه حکم کي د دوو عادلو سړیانو چې په اوبو کي مهارت لري په قول عمل کیږي د محمد بن حسن رح ملګري دامام ابوحنیفه رح څخه روایت سوی دی چې له دغسي څاه څخه دي دوه سوه تر درو سوو سولاغو پوري اوبه راوکښل سي (۱)

(۱) په درمختار کي ئې ویلي دي : دغه قول چې د محمدرح څخه نقل سوی دی اسانه دی او په هغه بل قول کي یعني ددوو سړیانو په قول سره عمل کول احتیاط سته اه . ابن عابدین ویلي دي : په هغه قول کي چې په متن کي ذکر سوی دی یعني چې ددوو سړیانو په قول سره عمل وکي ځکه احتیاط ستـــه

فائده :کله چي په ځينو حالتو کي تر ټولو يا په ځينو نورو حالتو کي تر يو څه مقدار اوبو راکښلو وروسته دڅاه په پاکېدو سره حکم وسي نو سولاغه رسيږ د اوبو راکښونکي لاس د څاه د يوالونه او دهغه خاوري هم پاکيږي د هغو پريمنځلو ته ضرورت نسته .

فائده : د اوبو راکښل دنجاست رااېستلو څخه وروسته حسابل کيږي ، که ئې نجاست نه وو رااېستلی او ټوله څاه ئې وچ کړی څاه نه پاکيږي .

س : ممکنه ده چي کله په څاه کښي مړ موږك پيدا سي ، معلوم نه وي چي کله ورلوېدلی دی ، سره له هغه لمونځ کونکو له هغه څخه اودسونه کړي وي ، کالي ، لوښي او نور شيان ئې په هغه سره پريمنځلي وي ، په دغه صورت کي به دوی څه کوي ؟

ج : که موږك شوړېدلی يا پړسېدلی نه وو د يوې شپې او ورځي لمونځونه دي راوګرځوي او کوم شی چي په دغه وخت کښي د څاه اوبه وررسېدلي وي هغه دي پريمنځي ، که موږك پړسېدلی يا شوړېدلی وو ، د درو شپو او ورځو لمونځونه دي راوګرځوي.دا دابوحنيفه رح قول دی ، ابويوسف رح او محمدرح ويلي دي : تر څو چي دا معلومه نه وي چي کله موږك ورلوېدلی دی پر هغه خلګو د هيڅ لمانځه راګرځول نسته ، دغه قول اسانه دی او دابوحنيفه رح په قول کي احتياط دی .

د سور ﴿ دڅښلو څخه پاته اوبه ﴾ مسائل

س : د انسان او حيواناتو سور څه حکم لري ؟

ج : د هر انسان سور پاك دی که سړی وي که ښځه ، که جنب وي که حائضه ښځه ، که مسلمان وي که کافر دغه رنګه هر هغه حيوان چي غوښي ئې خوړل کيږي ، د هغه سور پاك دی . د سپي ، سرکوزي او څيرونکي حيواناتو سور نجس دی . د پشي ، ايله چرګي

د ص ۱۰ حاشيې پاته برخه : چي د اختلاف څخه انسان خلاصيږي بل له دې کبله چي د حديثو سره موافق دی (۱ - ۱۴۳) د هدايي مصنف ويلي دي : په چينه لرونکي څاه کښي د اوبو د مقدار معلومولو له ابو يوسف رح څخه دوې طريقې نقل سوي دي : لمړی : دا چي د اوبو د طول ، عرض او ژوروالي په اندازه يو کنده وکندل سي ، د څاه څخه اوبه راوکښل سي او په دغه کنده کي واچول سي ، کله چي دغه کنده ډکه سي نو څاه پاکيږي .دوهم : دا چي يو نل يا وچه رسيږ دي په څاه کي ننه ايستل سي ، تر کوم ځای پوري چي اوبه وي هغه دي نښاني سي ، بيا دي د مثال په توګه شل سولاغې اوبه راوکښل سي او نل دي بيا اوبو ته ورداخل کړل سي اوودي کتل سي چي څومره مقدار د اوبو کم سوی دی ، بيا دي د هر يوه دومره مقدار په اندازه شل سولاغې اوبه راوکښل سي .

ځيرونکي مرغانو لکه ځرخك او باز سور مکروه دی ، دغه رنګه د هغه حيوانانو سور چي په کورو کي اوسيږي لکه مار او موږك مکروه ده .

س : د مکروه سور څه حکم دی ؟

ج : که نوري اوبه وي د هغه استعمالول مکروه دي ، د مثال په توګه د يو سړي سره پاکي اوبه وي چي له هغه څخه پشي چښــل کړي وي او نوري پــاکي اوبه وي چي له هغه څخه انسان چښل کړي وي ، دی غواړي چي اودس وکړي ، نو دی دي په هغه اوبو اودس وکړي چي له هغو څخه انسان چښل کړي وي ، دغه افضل دی تر هغو اوبو چي له هغه څخه پشي يا دهغه په مثل بل حيوان چښل کړي وي .

س : که ئې بېله هغه اوبو چي پشي چښل ځني کړي وي نوري اوبه نه کړې پيدا ، نو به اودس کوي که به تيمم وهي ؟

ج : اودس به کوي ، تيمم به نه وهي ځکه دغه پاکي اوبه دي ، که څه هم استعمال ئې په هغه وخت کي مکروه دی چي نوري غير مکروه اوبه وي .

س : داسي سور سته چي مشکوك وي ؟

ج : د خره او غاتري سور مشکوك دی يعني د هغه په طهوريت ﴿ بل شي پاکولو ﴾ کي اختلاف دی ، ځکه په دغه مسئله کښي دلائل مختلف دي .

س : که ئې داسي اوبه وموندلې چي خره يا غاتري چښل ځني کړي وه ، اودس به کوي که به تيمم وهي ؟

ج : اودس به هم کوي تيمم به هم وهي چي له شك څخه ووزي .

س : اول به اودس کوي که به اول تيمم وهي ؟

ج : هر يو چي ئې مخکي وکړی جائز دی .

فائده : د انسان سور هغه وخت پاك دی چي شراب ئې نه وي چښلي او د غاښو څخه ئېويني نه وي راوتلي او قی ئې نه وي وهلی ، که له دغو څخه يو حالت وو نو سور ئې نجس دی ، مګر که ئې درې ځله خوله پريمنځل يا ئې څو ځله ناړي تيري کړې تر څو چي په خوله يا شونډانو کي ئې مردار شی پاته نه سي ، بيا ئې سور پاك دی (۱) .

(۱) دغه مسئله د "البحر الرائق " (۱ - ۱۳۳) مصنف ذکر کړې ده ، حاشيه د ابن عابدين پر" الدر المختار" وګوره (۱ - ۱٤۹) .

دغه رنګه که پشی موږك وخوړی او فوراً ئې اوبه وڅښلې ، سور ئې نجس دی ، که ئې لږ څنډ وکی او په خپلو نارو ئې خوله درې ځله پریمنځل او د نجاست اثر ئې له خولې څخه لیري سو ، بیا ئې خوله پاکه ده او سور ئې مکروه دی (۱) .

تیمم

س : تیمم په لغت او شریعت کي څه شي ته وايي ؟

ج : تیمم په عربي ژبه کي قصد او ارادې ته وايي ، او په شریعت کي د طهارت په نیت سره چي کوچنی یا لویه ناپاکي لیري سي د خاوري یا بل داسي شي چي د مځکي پر مخ وي په یوه خاصه توګه استعمالولو ته ویل کیږي ؛ د هغه لپاره دلیل د الله ﷻ داقول دی ﴿ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَـيِّباً فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَ اَيْدِيْكُمْ مِنْهُ ﴾ (۲) ﴿ او تاسي نه کړې پیدا اوبه نو تیمم وکړئ په خاوره پاکه سره ، مسح کړئ خپل مخونه او لاسونه په هغه سره ﴾

س : بې اودسه ته کله تیمم جائز دی ؟

ج : که بې اودسه مسافر یا دښار څخه دباندي وو ، اوبه ئې نه کړې پیدا ، دده او اوبو تر منځ یو میل یا زیات مسافت وو ، نو ده ته د بې اودسي د لیري کولو لپاره تیمم جائز دی .

س : که اوبه وي مګر دی ناروغه وي تیمم ورته جائز دی که نه ؟

ج : هو که ناروغه له دې څخه بېرېدی که اوبه استعمال کړي ناروغي ئې زیاتیږي ، دغه رنګه که یو څوك جنب وو له دې څخه بېرېدی که په یخو اوبو غسل وکړي یخ به

---

(۱) د "هدايې" مصنف ویلي دي : که ئې موږك وخوړی او فوراً ئې اوبه وڅښلې اوبه مرداریږي مګر که ئې یو ګړی څنډ وکی بیا ئې اوبه وڅښلې نه مرداریږي ځکه خپله خوله په نارو سره مینځي ، د تویلو حکم د ضرورت له کبله ساقطیږي ﴿ یعني چي کله یو څوك مردار شی مینځي نو دا ضروري ده چي اوبه به پر تویوي ، دلته خو تویول ممکن نه دي نو د تویولو حکم د ضرورت له کبله ساقطیږي ﴾ ، دغه حکم پر قول د ابو حنیفه رح او ابو یوسف رح دی ابن الهمام ویلي دي د محمدرح پر قول که پشي څنډ وکي بیا اوبه وڅښي هم اوبه مرداریږي ځکه دده په نزد نجاست بېله اوبو په بل شي نه پاکیږي .

(۲) سوره المائده أية ٦ .

ئې مړ کړي يا به ئې ناروغه کړي او د اوبو د ګرمولو ذريعه ئې نه کړل پيدا تيمم دې ووهي (۱) .

س : تيمم څرنګه دی ؟

ج : لمړی دې د کوچنۍ يا لويې ناپاکي ليرې کولو نيت کوي ﴿ کومه يوه چې په ده کې وه ﴾ يا دې د لمانځه د رواکېدلو نيت وکي ، بيا دې لاسونه پر مځکه ووهي ، خپل ټوله مخ دې په داسې ډول مسح کړي چې د يوه ورېښته ځای داسې پاته نه سي چې دده لاس نه وي پر تېر سوی ، بيا دې دوهم ځل لاسونه پر مځکه ووهي ، ښی لاس دې د ګوتو له سرو څخه د څنګلي تر پايه پوري په چپه لاس مسح کړي ، بيا دې ټوله چپه لاس د ګوتو له سرو څخه تر څنګلي پوري په ښی لاس مسح کړي .

س : د غه تيمم د بې اودسي لپاره دی که د لويې ناپاکي لپاره ؟

ج : د تيمم کوم صورت چې موږ ذکر کړی د بې اودسي او لويې ناپاکي دواړو لپاره دی ، ددواړو ناپاکيو تيمم برابر دی .

س : په څه شي به تيمم وهي ؟

ج : په پاکه خاوره او په هر هغه شي چې د مځکي له جنس څخه وي تيمم روادی لکه رېګ ، ګچ ، اهاك ، رانجه او ډبره که څه هم ښوی وي ګرځ نه وي باندي ، په دغو ټولو شيانو کي دا شرط دی چي پاك به وي ، دا د ابوحنيفه رح او محمدرح په قول کي ، ابويوسف رح ويلي دي : بېله خاوري او رېګ په بل شي سره تيمم نه دی روا ، په خاوري او رېګ کي هم دا شرط دی چي پاك به وي .

س : که يو چا کور و نړوی او باد خاوره په هوا کړل پر لاسو او مخ ئې ومښتل ، په هغه سره ئې تيمم کيږي او لمونځ ورته رواکيږي که نه ؟

(۱) په "البحر الرائق" : (۱ – ۱٤۹) کي ئې ويلي دي : پوه سه چي په نزد د ابوحنيفه رح جنب ته هغه وخت تيمم جائز دی چي نه د اوبو پر ګرمولو قدرت ولري ، نه ﴿ د ښار په صورت کي ﴾ د حمام پر مزدوری قدرت ولري ، نه يو کالی ولري چي ځان په ګرم کړي او نه يو ځای ولري چي هلته د ځان د ګرمولو لپاره ورسي ، دغه بيان په "البدائع" او " شرح الجامع الصغير" چي قاضي خان تصنيف کړی ده ليکل سوی دی ، نو قاعده داده چي که جنب په يو طريقه د طريقو پر غسل قدرت درلودی په اجماع سره تيمم ورته روا نه دی اه .

ج : په دغه سره دده تیمم نه کیږي اوکومه پاکي چي دی غواړي په دغه سره نه حاصلیږي ، ځکه په تیمم کي نیت فرض دی ، مګر که یو سړی په اوبو کي غوټه سو د غسل نیت ئې نه وو کړی غسل ئې صحیح کیږي ، دغه رنګه که د یو چا ټولو اعضاوو ته د باران اوبه ورسېدلې او پر وبهېدلې او پر سر ئې لاس تېر کړی اودس ئې صحیح کیږي که څه هم د اوداسه نیت ئې نه وي کړی ، دا ځکه چي په اودس او غسل کي نیت فرض نه دی بلکه سنت دی .

س : که یو څوک تیمم ووهي په هغه سره نفلي لمونځونه کولای سي ؟

ج :تیمم کونکی څومره چي دده خوښ وي فرضي او نفلي لمونځونه کولای سي ، دغه رنګه کوم شیان چي جنب ته تر غسل کولو وروسته او بې اودسه ته تر اودس وروسته رواکیږي ، هغه ټوله شیان په تیمم سره روا کیږي ، ځکه کومه پاکي چي په غسل یا اودس سره حاصلیږي او هغه پاکي چي په تیمم سره حاصلیږي برابري دي ، نو تیمم کونکي ته د قران کریم مسه کول ، مسجد ته ننوتل ، د قران کریم تلاوت او پر کعبه طواف جائز دي .

س : داسي څوک چي جوړ او مقیم (پر کور) وي هغه ته هم په ځینو حالاتو کي تیمم روا دی ؟

ج : په داسي حالت کي چي جنازه د لمانځه لپاره حاضره سي د مړي ولي ﴿ قریب کوم چي د لمانځه د ورکولو حق دهغه وي ﴾ بل څوک وي ، دی له دې څخه بېرېږي که په اودس مشغوله سي د جنازې لمونځ ځني تېرېږي ، په داسي حالت کي که څوک جوړ او مقیم وي هم ده ته رواده چي تیمم ووهي او د جنازې لمونځ وکړي .

س : که یو څوک د اختر لمانځه ته حاضر سي او اودس نه لري نو څه حکم دی ؟

ج : دغه رنګه که څوک د اختر لمانځه ته حاضر سي او له دې څخه بېرېږي که په اودس مشغول سي داخترلمونځ به ځني تېر سي تیمم دي وکړي اوداختر لمونځ دي دامام سره وکړي .

س : که یو څوک د جمعې لمانځه ته حاضر سو او اودس ئې نه درلودی ، له دې څخه بېرېدی که په اودس مشغول سي د جمعې لمونځ ځني تېرېږي ، تیمم ورته جائز دی ؟

ج : ده ته تیمم نه دی جائز بلکه اودس دي وکړي ، که ئې د امام سره د جمعې لمونځ ونیوی هغه دي وکړي که نه د ماپښین لمونځ دي څلور رکعاته وکړي .

س : که وخت دومره تنګ سو که دی اودس وکړي وخت وزي او لمونځ ځني قضاء کيږي د مثال په توګه د لمر ختو څخه لږ مخکي راکښيني ، دومره وخت پاته وي چي اودس او لمونځ دواړه نه په کښي ځاييږي ، ده ته تيمم روادی که نه ؟

ج : ده ته تيمم نه دی جائز بلکه اودس دي وکړي ، که جنب وي غسل دي وکړي ، کله چي لمر راوخېژي او د يوې نېزې په قدر راپورته سي قضا دي ئې راوړي ، ځکه د وخت تنګوالی د تيمم لپاره عذر نه دی .

س : که د چا سره اوبه نه وې او دا اميد ئې درلودی چي په آخر وخت کي به اوبه پيدا کړي لمونځ ځنډول پر واجب دی که نه ؟

ج : لمونځ ځنډول پر واجب نه دی بلکه ځنډول ئې مستحب دی که ئې اوبه په آخر وخت کي پيدا کړې اودس دي وکړي که نه تيمم دي ووهي او لمونځ دي وکړي .

س : که يو څوك مسافر وو په خپله کته کي ئې اوبه هيري سوې او هغه ئې په خپله ايښي وې يا دده په امر يو بل چا ايښي وې ، تيمم ئې وکړی او لمونځ ئې وکړی وروسته ئې په داغه وخت کي اوبه په ياد سوې لمونځ به راګرځوي که نه ؟

ج : په نزد د ابوحنيفه رح او محمدرح پر ده د لمانځه راګرځول نه دي واجب ، ابويوسف رح ويلي دي : په دغه صورت کي به لمونځ راګرځوي .

س : که يو سړی په سفر کي وو اوبه نه وې ورسره په اوبو پسي ګرځېدل پر واجب دي ؟

ج : که دده غالب ګمان دا وو چي نژدې اوبه سته ، تر هغو تيمم نه دی ورته روا چي په اوبو پسي ګرځي او که ئې غالب ګمان دا نه وو په اوبو پسي ګرځېدل پر واجب نه دي .

س : که يو څوك مسافر وو ، د ملګري سره ئې اوبه وې ، د تيمم څخه مخکي به له هغه څخه اوبه غواړي که نه ؟

ج : هو له هغه څخه به اوبه غواړي ، که هغه بېله پيسو يا په خپل قيمت سره يا له خپل قيمت څخه دومره ګراني ورکولې چي په عادت کښي ئې خلګ دومره ګراني ورکوي ، اوبه دي ځني واخلي او اودس دي په وکړي ، که ئې نه ورکولې يا ئې دومره ګراني ورکولې چي په عادت کي ئې خلګ دومره ګراني نه ورکوي ، تيمم دي وکړي او لمونځ دي په تيمم سره وکړي (۱) .

(۱) د " عنايې " مصنف ويلي دي : دغه مسئله درې قسمه ده اول داچي د اوبو کوم قيمت وي په هغــه

س : كوم شى تيمم ماتوي ؟
ج : كه ئې د اودس پر ځاى تيمم كړى وو په هر هغه شي ماتيږي چي اودس په ماتيږي او كه ئې د غسل پر ځاى كړى وو په هر هغه شي ماتيږي چي په هغه سره غسل لازميږي . په دغو دواړو صورتو كي د اوبو په پيداكولو سره هم تيمم ماتيږي كه ئې پر استعمالولو قدرت درلودى .

پر موزو او سنكنده ﴿ هغه شى چي زخمي ځاى په تړل سوى وي ﴾ مسح

س : په اودس كښي د پښو د پريمنځلو كوم بدل (عوض) سته ؟
ج : هو د پښو د پريمنځلو په بدل كي د موزو مسح په ډيرو صحيح حديثو سره ثابته سوې ده . (۲)
س : د موزو د مسح كولو لپاره كوم شرط سته ؟
ج : هو د هغه لپاره دا شرط دى چي په اوداسه به ئې په پښو كړي وي .
س : د موزو د مسح كولو لپاره كوم وخت تاكل سوى دى ؟
ج : كه ئې موزې په اوداسه په پښو كړي وې ، وروسته بې اودسه سو ، كه مقيم وو يوه شپه او ورځ مسح كول ورته جائز دي ، كه مسافر وو درې شپې او ورځي ورته جائز دي ، په دغه مده كي كه ئې هر ځل اودس كوى د موزو مسح ورته روا ده .
س : د يوې شپې او ورځي يا درو شپو او ورځو حساب د موزو د په پښو كولو څخه حسابيږي كه د بې اودسي له وخت څخه ؟
ج : كله چي دى موزې په اوداسه په پښو كي ، وروسته بې اودسه سي ، د بې اودسي له وخت څخه دغه مده حسابيږي ، د مثال په توګه كه يو سړى وروسته له زوال څخه پوره اودس وكړي او پر پاكي باندي موزې په پښو كړي ، د لمر لويدو په وخت كي بې اودسه

د ۱٦ صفحې پاته برخه : قيمت ئې وركوي ، دوهم دا چي له هغه څخه ئې لږ ګراني وركوي ، دريم دا چي له هغه څخه ئې ډيري ګراني وركوي ، په اول او دوهم صورت كي تيمم نه دى ورته جايز ، په دريم صورت كي تيمم ورته جائز دى ځكه ده ته ضرر رسيږي ، د ډېر ګران قيمت په تفسير كي اختلاف دى ، په (نوادر) كي ذكر سوي دي : هغه دادى چي د اصلي قيمت څخه دوه چنده وي ، ځيني علماوو ويلي دي هغه دا دى چي د قيمتونكو له قيمتو څخه لوړ وي اه .

(۲) ابن المنذر ويلي دي : موږ له حسن رح څخه روايت كړى دى چي ده وويل : ماته د نبي ﷺ اويا صحابه وو ﷺ ويلي دي چي رسول الله ﷺ پر موزو مسح كول . نصب الراية (۱ – ۱٦۲)

سي ، که مقيم وو د راتلونکي ورځي تر ماښام پوري مسح کول ورته روا دي ، مسافر هم پر دغه قياس که .

س : هغه څوك چي غسل پر فرض سوی وي پر موزو مسح ورته روا ده که نه ؟

ج : هغه ته مسح پر موزونه ده روا بلکه پر هغه فرض دي چي دنور بدن سره پښې هم پريمنځي .

س : که موزه څيري وه پر هغه مسح روا ده ؟

ج : که موزه دومره څيري وي چي د پښو د درو کوچنيو ګوتو په قدر ځاي ځني ښکاره کيږي مسح کول پر جائز نه دي ، که تر دي لږ څيري وه مسح کول پر جائز دي .

س : د څيري والي دغه قدر له يوې موزې څخه حسابل کيږي که له دواړو څخه ؟

ج : د يوې موزې څيري والی سره جمع کيږي نه د دواړو موزو . يعني که په دواړو موزو کي په قدر د درو ګوتو څيري والی وي مسح کول جائز دي ، که په يوه موزه کي يا هره يوه کي دغه قدر څيري والی وي مسح کول پر جائز نه دي .

س : پر موزو څرنګه مسح کيږي ؟

ج : د موزو پر سرپېره خوا مسح کيږي په داسي ډول چي په ګوتو خطونه جوړ سي ، د لاسو ګوتي به په اوبو لندوي او ټوله ګوتي به پر موزو اږدي (۱) ، بيا به ئې په دغه ډول د پښو له ګوتو څخه تر پنډيو پوري کشوي ، د لاس د درو ګوتو په مقدار مسح کول په هره موزه کي ضروري دی .

س : دغه مسح په څه شي سره ماتيږي ؟

ج : کوم شی چي اودس ماتوي دغه مسح هم ماتوي ، دغه رنګه د موزې کښل او د مسح د مدې تېرېدل هم د موزو مسح ماتوي .

س : که د موزو د مسح مده پوره سول يا ئې يوه يا دواړي موزې وکښلې ، د اودس د ماتونکو څخه يو شی نه سو پيدا څه به کوي ؟

ج : په دغو دوو صورتو کي به يوازي پښې مينځي او لمونځ به کوي د نور اودس راګرځول پر لازم نه دي .

س : تاسي مخکي ذکر کړل چي مقيم به يوه شپه او ورځ پر موزو مسح کوي او مسافر به

---

(۱) يعني يوازي د ګوتو سرونه به پر پښو نه اږدي بلکه ټوله ګوتي به پر اږدي .

درې شپې او ورځي پر موزو مسح کوي ، که يو سړی مسافر وو بيا مقيم سو يا مقيم وو بيا مسافر سو د هغه څه حکم دی ؟

ج : څوك چي په داسي حال کي مسح شروع کړي چي دی مسافر وي وروسته مقيم سي ، که ئې يوه شپه او ورځ يا تر هغه زياته مسح کړې وه دا پر لازمه ده چي موزې به کاږي ، که ئې تر دغه کمه مده مسح کړې وه يو شپه او ورځ دي پوره کړي ، هغه څوك چي مسح په داسي حال کي شروع کړي چي دی مقيم وي ديوې شپې او ورځي پوره کولو څخه مخکي مسافر سي درې شپې او ورځي دي پوره کي .

س : که يو څوك پر موزو سربېره بوټ په پښو کړي پر هغه مسح کول جائز دي که نه ؟

ج : هو که ئې د بې اودسي څخه مخکي په پښو کړې مسح کول پر جائز دي .

س : پر جراپو مسح کول څه حکم لري ؟

ج : پر جراپو مسح کول روا نه دي مگر که مجلدين (١) يا منعلين وې مسح کول پر روا دي ، دا دابو حنيفه رح قول دی،ابويوسف رح او محمدرح ويلي دي : که جراپي پنډي وي او پښې نه تر ښکاره کيږي (٢) مسح کول پر روا دي .

س : بېله موزو څخه پر نورو شيانو مسح کول څه حکم لري ؟

ج : پرټوکر چي پر ټپ يا مات عضو دعلاج لپاره تړل سوې وي (٣) مسح کول جائز دي دغه رنگه سکنده چي پر مات عضو لکه بازو يا پنډۍ تړل سوې وي . (٤)

س : پرټوکره يا سکندې مسح کولو کي دا شرط دی چي پر اوداسه به ئې تړلي وي ؟

ج : د هغو په مسح کي دا شرط نه دی ، که ئې بېله اوداسه تړلي وې ، وروسته ئې د

---

(١) مجلد هغه موزې ته ويل کيږي چي لاندي او سربېره څرمن پر گنډل سوې وي ، منعل هغه ته ويل کيږي چي يوازي لاندي څرمن پر گنډل سوې وي ، داسي وي لکه چوټه د قدم لپاره .

(٢) "شف الثوب" يعني دومره نازکي وي چي تر هغه لاندي شی ښکاره کيږي " قاموس " .

(٣) په اوسنۍ زمانه کښې پلستر چي پر مات عضو ئې تړي د سکندې پر ځای ولاړ دی .

(٤) څوك چي رگ ئې خلاص کړی وي يا زخمي وي ، هغه ته روا ده چي پر ټوکره مسح وکړي سره له هغه ځای چي په ټوکره نه وي پټ سوی که پرينځلو ضرر ورته کوی يا د ټوکره څخه لاندي ځای باندي مسح ضرر ورته رسوی يا د ټوکره خلاصولو ضرر ورته رسوی ، دغه رنگه که ئې ټوکر خپله نه سوای تړلای ، له " الدر المختار" او " رد المحتار" څخه

اودس کولو اراده وکړل مسح کول ورته جائز دي .
س : که ئې تر جوړېدو وروسته ټوکر خلاص کی وئې غورځوی مسح ئې ماتيږي که نه ؟
ج : په دغه صورت کي د ټوکره او سکندې مسح ماتيږي ، که ئې له دغه څخه مخکې اودس کړی وو او پر ټوکره يا سکنده ئې مسح کړې وه ، وروسته ئې هغه خلاص کړل او نور ضرورت ورته پاته نه وو ، وئې غورځول ، د اودس ماتونکی نه وو ورته پيدا سوی ، د ټوکره او سکندې ځای دي پريمنځي او لمونځ دي وکي .
س : پر لنګوټه ، خولی ، بغره او لاس پوښو مسح جائز ده که نه ؟
ج : پر دغو شيانو مسح جائز نه ده .

حيض ، نفاس او استحاضه

س : حيض څه شی دی ؟
ج : د ښځي له رحم (د اولاد ځای) څخه په مياشت کي يو ځلويني بهيږي (د ځينو ښځو څخه تر مياشتي کم او د ځينو څخه تر مياشتي زيات وخت کي هم بهيږي مګر د اکثرو ښځو څخه په مياشت کي يو ځل بهيږي) ، دغه وينو ته حيض ويل کيږي او کوم وخت چي له ښځي څخه وينه نه بهيږي ، هغه حالت ته طهر (پاکي) ويل کيږي .
س : په سپيځلي شريعت کي حيض کوم احکام لري ؟
ج : هو هغه ځان ته خپل احکام لري چي د فقه په کتابو کي ذکر سوي دي .
س : که ښځي ته حيض ورسي نو د هغه څه حکم دی ؟
ج : د هغه پنځه حکمونه دي :

اول : د حيض په ورځو کښي دې ته لمونځ او روژه نه دي روا نه فرضي نه نفلي .
دوهم : مسجد ته ننوتل او پر کعبه طواف کول ورته روا نه دي .
دريم : د قران کريم تلاوت ورته روا نه دی .
څلورم : قران کريم ته لاس وروړل ورته جائز نه دي ، مګر که په داسي پوښ کي وو چي پوري ګنډلی نه وو بيا لاس وروړل ورته جائز دي .
پنځم : ميړه دي جماع نه ورسره کوي .

س : کله چي ښځه له حيض څخه پاکه سي ، د لمانځه او روژې قضاء راوړل پر فرض دي که نه ؟

ج : د لمانځه قضاء دي نه راوړي ځکه هغه دديې له ذمي څخه الله ﷻ پورته کړی دی ، او کله چي پاکه سي د رمضان د مياشتي د روژو قضاء دي راوړي .
س : حيض د ډېروالي او لږوالي په حيث کومه مده لري ؟
ج : هو د حيض کمه مده درې ورځي او شپې ده او لويه مده ئې لس ورځي او شپې ده .
س : د حيضويني کوم خاص رنګ لري ؟
ج : کومي سرې ، ژړي يا خړي اوبه چي حايضه ښځه ئې د حيض په مده کښي ويني هغه ټوله حيض بلل کيږي تر څو چي سپيني اوبه ويني .
س : که ئې د حيض ويني ختم سوې او سپيني اوبه ئې وليدې ، د مېړه جماع کله ورته جائز ده ؟
ج : که د حيض ويني د لسو ورځو څخه په کمه مده کي ختم سوې ، د مېړه جماع تر هغه وخت پوري ورته روا نه ده تر څو چي دا غسل کوي (١) يا د يوه پوره لمانځه (٢) وخت باندي تېرېږي ، که ئې ويني د لسو ورځو په مده کي ختمي سوې د غسل کولو څخه مخکي هم د مېړه جماع ورسره روا ده .
س : که ددوو وينو په منځ کښي پاکه وه دغه پاکي په حيض کي شمېرل کيږي که په طهر کي ؟
ج : که د حيض په مده کي د دوو وينو په منځ کښي پاکي پيدا سول هغه لکه جاري ويني په حيض کي شمېرل کيږي او د هغه ټوله احکام د حيض په شان دي .
س : ايا طهر د لږوالي يا ډېر والي په حيث کومه مده لري ؟
ج : د طهر کمه مده پنځلس ورځي ده ﴿ که ئې د حيض لس ورځي تيري سوي بيا ويني بندي سوې ، وروسته ئې تر پنځلس ورځي مخکي ويني وليدې نو دغه ويني حيض نه

---

(١) دا په هغه صورت کي چي د لسو ورځو په کمه مده کي ئې د خپل عادت مطابق ويني ختم سوي وي ، که ئې خپل عادت نه وو پوره سوی که څه هم غسل وکي د مېړه جماع ورسره روا نه ده ، ځکه چي تر څو ئې خپل عادت نه وي پوره سوی کيدای سي چي بيرته ويني ورته راوګرځي نو په دې خبره کي احتياط دی چي مېړه ئې له جماع څخه پر هېز وکړي ، دغه رنګه په " هدايه " کي ذکر سوي دي .
(٢) د پوره کلمه ددې لپاره ده که ئې د يو ناقص لمانځه په وخت کي ويني ختمي سوي لکه د ځانښت يا اختر لمونځ نو د مېړه جماع تر هغو ورسره جائز نه ده تر څو چي غسل کوي يا د ماپښين د لمانځه وخت پر تيرېږي ، دغه خبره ئې په څرګنده توګه په " الجوهرة النيرة " کي ذکر کړې ده .

بلل کیږي څکه د دوو وینو په منځ کښي طهر وي او دهغه مده تر اوسه نه ده پوره سوې ﴾ ، د طهر لویه مده کوم حد نه لري ﴿ که ئې طهر څو کاله اوږد سو او حیض نه ورغلی ، دا تر هغو پاکه بلل کیږي تر څو چي د حیض ویني ویني ﴾ .

س : نفاس څه شي دی ؟

ج : نفاس هغه وینو ته ویل کیږي چي د کوچني تر زیږېدلو وروسته د ښځي له رحم څخه راوزي .

س : د هغه مده څومره ده ؟

ج : لویه مده ئې څلوېښت ورځي ده او کوچنۍ مده ئې اندازه نه لري .

س : د نفاس څه حکمونه دي ؟

ج : د نفاس هم هغه احکام دي کوم چي د حیض وه ، نفاس والا ښځه به لمونځ نه کوي ، روژه به نه نیسي ، مېړه به جماع نه ورسره کوي ، مسجد ته به نه داخلیږي ، پر کعبه به طواف نه کوي ، د قران کریم تلاوت به نه کوي او لاس به نه وروړي مګر که په داسي پوښ کي لاس وروړي چي پوري ګنډلی نه وي هغه جائز دی ، د روژې قضاء به راوړي او د لمونځو قضاء دي نه راوړي څرنګه چي موږ د حیض په احکامو کي ذکر کړل .

س : که ئې په یوه ځل دوه کوچنیان وزیږول ﴿ د دواړو تر منځ لږ وخت تېر سوی وو ﴾ ، نفاس به له کوم یوه څخه شروع کوي ؟

ج : د ابوحنیفه رح او ابویوسف رح په نزد ئې نفاس له اول کوچني څخه شروع کیږي ، محمدرح او زفررح ویلي دي : له دوهم کوچني څخه ئې نفاس شروع کیږي .

س : که دښځي نس پري سي ﴿ اپرېشن ئې وسي ﴾ او کوچنی څني راوایستل سي ، نفاس والا ښځه بلل کیږي او د نفاس احکام پر جاري کیږي که نه ؟

ج : که ئې د رحم څخه په عادي توګه ویني راووتلې نفاس والا ښځه بلل کیږي او د نفاس احکام پر جاري کیږي ، که ئې درحم څخه ویني نه راووتلې نو د تپ په شان ګڼل کیږي او د تپ احکام پر جاري کیږي (۱)

س : که ئې په عادي طریقه کوچنی وزیږوی او له رحم څخه ئې ویني ونه بهېدلې ، ددغه زیږېدلو له کبله پر دې د نفاس حکم کیږي که نه ؟

(۱) " البحر الرائق " (۱- ۲۲۹) وګوره .

ج : هو دا نفاس والا ښځه بلل کيږي ، غسل پر فرض دی ، بېله انتظار څخه دي روژه او لمونځ کوي (۱)

س : د سقط (مړ کوچنی) څه حکم دی ښځه په هغه سره نفاس والا ګرځي ؟

ج : که د سقط ځيني اعضاء ښکاره سول لکه لاس ، پښه ، ګوته ، نوك يا وريښته ، نفاس والا ګرځي او که ئې هيڅ عضو ښکاره نه سو نو د بهېدونکي وينو حکم لري که ئې درې شپې او ورځي دوام وکړی او مخکي ئې پوره طهر تېر سوی وو ، حيض بلل کيږي که نه ، استحاضه بلل کيږي (۱) .

س : هغه طهرچې د نفاس په شپو کي د وينو په منځ کي پيدا سي هغه څه حکم لري ؟

ج : د څلويښتو ورځو په موده کي چي د وينو په منځ کي طهر پيدا سي هغه نفاس بلل کيږي .

س : استحاضه (د عادت له وينو څخه پرته نوريويني) څه شی ته ويل کيږ ي ؟

ج : هغه څو صورتونه لري :

۱ : که ښځي ويني وليدې اوله درو ورځوڅخه مخکي ختمي سوې هغه استحاضه ده.

۲ : کومي ويني چي ددې له عادت څخه زياتي سي او تر لسو ورځو هم زياتي سي ، هغه ټوله استحاضه ده .

۳:که ئې په لمړي ځل کي ويني وليدلې او تر لسو ورځو زياتي سولې نو لس ورځي حيض بلل کيږي او له هغه څخه زياتي ويني استحاضه ده ، که دداسي ښځي چي د لمړی ځل لپاره حيض ورغلی وو څو کاله ويني جاري سولي نو له هري مياشتي څخه ئې لس ورځي حيض او نوري ويني ئې استحاضه ده .

٤: حامله ښځه چي د حمل په دوران کښي ويني ويني هغه استحاضه ده .

٥:کومي ويني چي حامله ښځه ئې د کوچني د زېږېدلو څخه مخکي د زېږېدلو په حالت کي ويني هغه استحاضه ده .

٦:که نفاس والا ښځي ځان ته معلوم عادت درلودی او ويني ئې تر څلويښت ورځي زياتي سوې نو کومي ويني چي تر عادت ئې زياتي دي هغه ټوله استحاضه ده .

---

(۱) " البحر الرائق ۱ ـ ۲۲۹ " وګوره .

(۲) " الدر المختار" وګوره .

۷: که ئې د لمړي ځل لپاره کوچنی وزېږوی او ويني ئې تر څلوېښت ورځو زياتې سوې نو څلويښت ورځې ئې نفاس دی او له هغه څخه زياتي ويني ئې استحاضه ده .
۸ : که ئې مړ کوچنی پيدا سو او هيڅ عضو ئې نه سو ښکاره او حيض نه سوای بلل کيدلای نو هغه استحاضه ده .
س : د مستحاضې ښځي څه حکمونه دي ؟
ج : د قران کريم په تلاوت ، مسجد ته ننوتلو ، فرضي او نفلي روژې او د مېړه په جماع کښې مستحاضه ښځه د پاکي ښځي په شان ده ، مګر که ئې ويني دومره جاري وې چي هيڅ وخت ئې ويني نه درېدلې نو دا د معذور حکم لري ، د هر لمانځه د وخت لپاره دې اودس کوي ، په داغه وخت کي چي څومره لمونځونه دا وغواړي کولای ئې سي ، د لمانځه د وخت په وتلو سره ئې اودس ماتيږي ، کوم وخت چي اودس وکړي لمونځ کول، پر کعبه طواف کول او قران کريم ته لاس وروړل ورته جائز دي .

د معذور حکم

س : هغه څوك چي د پزي وينه ئې په دائمي توګه جاري وي ، هغه څوك چي له ټپ وينه ئې نه درېږي ، هغه څوك چي بولي ئې نه درېږي او هغه څوك چي باد ئې نه درېږي ، دغه کسان به څه کوي ؟
ج : دغه کسان به د هر لمانځه د وخت لپاره اودس کوي ، په دغه اودس سره چي دوی څومره فرض يا نفل وغواړي کولای ئې سي ، په دغه ناروغي سره ئې د وخت تر وتلو پوري اودس نه ماتيږي ، کله چي وخت ووزي اودس ئې ماتيږي .
س : په کومه ناروغي چي دوی مبتلی دي بېله هغه څخه که د اودس يو بل ماتونکی په دغه وخت کي ورته پيدا سو ، اودس ئې ماتيږي که نه ؟
ج : هو اودس ئې ماتيږي ، د مثال په توګه که د يو سړي د پزي ويني جاري وې ، د اودس کولو څخه وروسته ئې بولي وکړي په بولو سره ئې د وخت د وتلو څخه مخکي اودس ماتيږي .

نجاستونه او د هغو پاکول

س : نجس شيان او دنجاست قسمونه بيان کړئ .
ج : نجاست دوه قسمه دی : غليظه (سخت) او خفيفه (سپك) .

غليظه نجاست : هر هغه شی دی چې د انسان له بدن څخه راوزي او په هغه سره اودس يا غسل لازميږي لکه د انسان مرداري ، بولي ، مني ، مذي ، ودي ، نو ، ژړي اوبه ، قی چې په ډکه خوله سره وي ، د حيض او نفاس او استحاضهويني ، د کوچني هلك يا کوچنۍ نجلۍ بولي که د شيدو کوچنيان وي که د شيدو څخه پرې سوي وي ، د انګورو شراب ، بهيدونکې وينه او د مړه حيوان غوښه او وازګه او پوست . دغه رنګه د هغه حيوان بولي چې غوښې ئې نه خوړل کيږي ، پوچي ، د غوا خوشايي ، د سپي مرداري ، د چرګي ، بطۍ (يو قسم هيلۍ) او اوز (يو قسم هيلۍ) مرداري او د ځيرونکو حيوانانو مرداري . دغه ټوله غليظه نجاستونه دي ، دغه رنګه سرکوزی ټوله غليظه نجاست دی .

خفيفه نجاست : د هغه حيوان بولي چې غوښې ئې خوړل کيږي ، د آس بولي او دهغه مرغانو مرداري ده چې غوښې ئې نه خوړل کيږي (۱) .

س : د غليظه نجاست او خفيفه نجاست فرق په څه شي کي ښکاره کيږي ؟

ج : د هغو فرق د لمانځه په رواوالي کي ښکاره کيږي ، که د لمونځ کونکي کالو يا بدن ته د يوه درهم په اندازه يا له هغه څخه کم غليظه نجاست وروروسېدی ، د هغه سره لمونځ صحيح مګر مکروه دی ، او که ئې کالو ته د څلورمي برخي څخه کم خفيفه نجاست وروروسېدی لمونځ ورسره صحيح دی . که غليظه نجاست له درهم څخه زيات سو يا خفيفه نجاست څلورمي برخي ته ورسېدی لمونځ ورسره صحيح نه دی .

س : که کالو يا بدن ته نجاست وروزسيږي د هغه د پاکولو څه طريقه ده ؟

ج : که داسي نجاست وو چې ليدل کېدی ، د کالو يا بدن څخه د هغه د پاکولو طريقه داده چې په پاکو اوبو يا ښيله اوبو په يو بل مائع (ويلي) شي سره لکه سرکه يا دګل ګلاپ اوبه ليري کړل سي ، که داسي نجاست وو چې نه ليدل کېدی لکه بولي يا مرداري اوبه ، دهغه د پاکولو طريقه داده چې تر هغه وخت پوري پرېمنځل سي تر څو چې د پرېمنځونکي غالب ګمان داوي چې پاك سو .

---

(۱) دغه کلمه چې غوښي ئې نه خوړل کيږي ځکه زياته کړل چې هغه مرغان چې غوښي ئې خوړل کيږي لکه کوتره او چوغکه د هغو مرداري د حنفيانو په نزد پاکه ده .

س : که ئې ليدل کېدونکې نجاست ليرې کړی او اثر ﴿ رنګ ، خوند يا بوی ﴾ ئې پاتې وو دهغه څه حکم دی ؟
ج : کله چې خپله نجاست په پريمنځلو سره ليرې کړل سي او اثر ئې لکه بوی يا رنګ په تکليف سره ليرې کېږي پروا نه لري .
س : د نجاستو د پاکولو لپاره نوري طريقې سته ؟
ج : هو په هغه کې تفصيل سته چې فقهاوو بيان کړی دی ، دهغه يوڅه بيان په لاندې ډول دی :
۱ : که موزې ته داسې نجاست ورورسېدی چې جسم ئې درلودی او پر وچ سو ، بيا ئې پر مځکه په داسې ډول ومږې چې نجاست ليرې سي ، لمونځ په کښې جائز دی .
۲:که کالو ته مني ورورسېدل ، که لانده وه بېله پريمنځلو نه پاکېږي ، که پر کالو وچ سول په فرك ﴿ په ګوتو او نوکانو سره مښل ﴾ سره پاکېږي په دې شرط چې بولې نه وي ورسره ګډې سوي (۱) .
۳: که هنداري يا توري ته نجاست ورورسېدی مسح کول ﴿په يوشي پوزي مښل ﴾ ئې کفايت کوي .
٤:که مځکي ته نجاست ورورسيدی ، وچ سو او اثر ئې ولاړی پر هغه ځای لمونځ جائز دی ، مګر پر هغه ځای تيمم جائز نه دی ، که مځکه پريمنځل سول او د نجاست اثر ختم سو بيا دواړه جائز دي .
٥: که دپوست دباغت وکړل سو ﴿ رطوبت ئې وچ کړل سو چې بوی ونه کې﴾ پاك بلل کېږي او لمونځ پر روا دی ، دغه رنګه که ئې لوښی ځني جوړ کړی او اوبه ئې په کښې واچولې، له هغه څخه اودس کول جائز دي . مګر د سرکوزي پوست هيڅ کله نه پاکېږي ، د انسان د پوست استعمال د هغه د عزت له کبله جائز نه دی .

استنجاء

س : د استنجاء څه حکم دی ؟

(۱) که د يو چا د ذکر سره په بولو سره مردار وو بيا مني په فرك سره نه پاکېږي ، دغه رنګه په " محيط السرخسي " کې ذکر سوي دي " الفتاوى الهنديه ۱ – ٤٤ " .

ج : استنجاء سنت ده ، ډبره و لوټه يا د هغه په رنګه يو بل شی کفايت کوي ، د استنجاء ځای د ي تر هغه وخت پوري ومږي تر څو پاکيږي ، تاکوالی افضل دی واجب نه دی او په اوبو سره پريمنځل افضل دي که نجاست له خپل ځای څخه تېر سو ﴿ د هغه ځای شاوخوا هم په ولړل سول ﴾ بيا په ډبره يا د هغه په رنګه يو بل شي استنجاء کفايت نه کوي ،په دغه وخت کي د اوبو يا يو بل مائع شي استعمالول واجب دي .

س : هغه شيان بيان کړئ چي په هغو سره استنجاء وهل ممنوع دي .

ج : په ښی لاس دي استنجاء نه وهي ، په هډوکي ، خوشايي ، خورکي شي او عزت والا شي سره دي استنجاء نه وهي .

س : د بولو يا قضاء حاجت په وخت کښي د قبلې استقبال ﴿ مخ کول ﴾ او استـــدبـــار ﴿ شاکول ﴾ په صحراء يا ودانۍ کي څه حکم لري ؟

ج : د قضاء حاجت او بولو په وخت کي په صحراء او ودانۍ کي د قبلې استقبال او استدبار مکروه دي .

س :بولي او قضاء حاجت په کومو ځايو کي ممنوع دي ؟

ج : په اوبو ، د اوبو رااخستلو په ځايو کي ، تر ميوه لرونکي وني لاندي ، په داسي سايه کي چي خلګ ګته ځني اخلي او د خلګو په لاره کښي بولي او قضاء حاجت ممنوع دي . د باد په لوري کي او په غار کي بولي کول ممنوع دي ، دغه رنګه په ولاړي بولي کول ممنوع دي .

كتاب الصَّلاة

﴿ د لمانځه كتاب ﴾

س : په اسلام كي د لمانځه څه حكم دی ؟

ج : تر ﴿ لااله الا الله محمد رسول الله ﴾ وروسته لمونځ د اسلام د اركانو څخه تر ټولو لوی ركن او د اسلام ستون دی ، د هغه په اقامت ﴿ په كامله توګه اداء كول ﴾ سره الله ﷻ په قران كريم كي ځو ځله امر كړی دی ، او پر هر هغه چا فرض دی چي بالغ او عاقل وي كه نر وي كه ښځه او څوك چي ئې د فرضيت څخه منكر سي داسلام له دين څخه وتلی دی .

س : كوچنيان كله په لمانځه امر كيږي ؟

ج : نبي ﷺ ويلي دي : ﴿ مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَ هُمْ اَبْنَاءُ سَبْعٍ ، وَ اضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَ هُمْ اَبْنَـاءُ عَشْرٍ ، وَ فَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ ﴾ (١) ﴿ كله چي ستاسي اولاد د اوو كالو وي په لمانځه ئې امر كړئ او كله چي د لسو كالو سي پر لمانځه ئې ووهئ او د خوب ځايونه ئې سره جلا كړئ ﴾ ، په يوه روايت كي راغلي دي : ﴿ عَلِّمُوْا الصَّبِيَّ ابْنَ سَبْعِ سِنِيْنَ وَ اضْرِبُوْهُ عَلَيْهَا ابْنَ عَشْرٍ ﴾ (٢) ﴿ كله چي كوچنی د اوو كالو وي لمونځ ورو ښوئ او كله چي د لسو كالو سي پر وئې وهئ ﴾ . او پر پلار واجب دی چي زامن په لمانځه امر كړی ، الله ﷻ ويلي دي ﴿ وَ اَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحَى ﴾ (٣) ﴿ او ما ته غوره كړی يې نو غوږ ونيسه هغه ته چي درته وحي كيږي ﴾ .

د لمانځه وختونه ، اول ، اخر او مستحب وختونه

س : په يوه شپه او ورځ كي ځو ځله لمونځ فرض دی ؟

ج : په يوه شپه او ورځ كي ئې پنځه ځله په پنځو وختو كي اداء كول فرض دي او هر وخت

---

(١) ابوداود ئې په خپل " سنن " (باب متى يومر الغلام بالصلاة) كي روايت كړی دی .

(٢) ترمذي ئې په " الجامع " (باب ما جاء متى يومر الصبي بالصلاة) كي روايت كړی دی .

(٣) سورة طه : اية ١٣٢

لره اول او اخر سته .
س : د لمانځه پنځه وختونه ، د هغو اول او اخر بیان کړئ .
ج : اول : د ماپښین دلمانځه وخت دی ، د هغه شروع د لمر له زوال څخه ده ، او اخر وخت ئې په نزد د ابوحنیفه رح هغه وخت دی چي د هر شي سایه دزوال له سایې (۱) څخه پرته دوه چنده سي ، ابو یوسف رح او محمد رح ویلي دي : د ماپښین وخت له زوال څخه شروع کیږي بیا تر هغه وخته پوري چي د هر شي سایه بېله زوال له سایې څخه د هغه شي په قدر سي .
دوهم : د مازدیگر د لمانځه وخت دی ، د هغه اول وخت هغه وخت دی کله چي د ماپښین د لمانځه وخت ووزي ، په دغه وخت کي هم هغه اختلاف سته کوم چي د ماپښین د لمانځه په آخر وخت کي سته . د ما ځدیگر د لمانځه آخر وخت هغه وخت دی کله چي لمر نه وي لوېدلی .
دریم : د ماښام د لمانځه وخت دی ، د هغه اول وخت هغه وخت دی کله چي لمر ولویږي او آخر وخت ئې هغه وخت دی کله چي شفق نه وي لوېدلی .
څلورم : د ماخستن د لمانځه وخت دی ، د هغه اول وخت هغه وخت دی کله چي شفق ولویږي او آخر وخت ئې هغه وخت دی کله چي دوهمه رڼا نه وي راختلې .
پنځم : د سهار د لمانځه وخت دی ، د هغه اول وخت هغه وخت دی کله چي دوهمي سپیدې راوخېژي او آخر وخت ئې هغه وخت دی کله چي لمر نه وي راختلی .
س : شفق څه شی دی ؟
ج : کله چي تر لمر لوېدلو وروسته ځوك لویدیځ لوري ته وګوري په افق کي سوروالی لیدل کیږي ، هغه په افق کي تقریباً څلوېښت دقیقې یا څه زیات وخت پاته کیږي ، او ورو ورو کمیږي ، کله چي سوروالی ختم سي په همدغه افق کي سپینوالی پیداکیږي .
دغه سوروالي او سپینوالي هریوه ته شفق ویل کیږي ،ابوحنیفه رح ویلي دي په دغه ځای

---

(۱) دا هغه سایه ده چي د ورځي په نیمایي کي وي کله چي لمر پر سر ولاړ وي ، د " الدر المختار " مصنف ویلي دي د زوال سایه هغه ده چي شیانو لره د زوال څخه مخکي وي ، او هغه د ځای او زماني په بدلون سره بدلیږي . ابن عابدین ویلي دي : یعني کله اوږده وي کله لنډه وي کله له سره ختمـه سي .
د " عمدة الراية " مصنف ویلي دي : د سايې نسبت و زوال ته د لږ مناسبت پر بنسټ سوی دی .

کي له شفق څخه مراد سپينوالی دی ، کله چي سپينوالی ختم سي د ماښام وخت وزي او ماخستن وخت داخليږي (۱) ، د ابوحنيفه رح ملګرو ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : له شفق څخه مراد سوروالی دی ، کله چي سوروالی ختم سي د ماښام وخت وزي او د ماخستن وخت داخليږي .

س : دوهمي سپيدې څه شي ته ويل کيږي ؟

ج : کله چي شپه ختميږي په ختيځ افق کي د ستون په شان په اوږدو رڼا ليدل کيږي ، دغه رڼا ته لمړۍ سپيدې ، صبح کاذب او اوږدې سپېدې ويل کيږي ، له هغه څخه وروسته په افق کي داسي تاريکي راځي چي افق پټوي ، له هغه څخه وروسته پاشلې رڼا پيداکيږي چي په ختيځ افق کي پاشلې وي او ورو ورو زياتيږي ، دغه تيزي رڼا ته دوهمي سپېدې او صبح صادق ويل کيږي او دغه رنګه صبح مستنير او صبح مستطير هم ورته ويل کيږي .

س : د ټولو فرضي لمونځو د رکعاتو شمير بيان کړئ .

ج : په ماپښين ، مازديګر او ماخستن کي څلور رکعاته فرض دي ، په ماښام کي درې رکعاته او په سهار کي دوه رکعاته فرض دي .

س : د دغو لمونځو سره نور لمونځونه هم سته ؟

ج : هو نور لمونځونه هم سته ليکن هغه فرض نه دي ، له هغو څخه يو وتر لمونځ دي چي هغه واجب دی ، د فرضي او واجب لمونځو څخه پرته نور سنت لمونځونه دي چي فضيلت ئې په احاديثو کي بيان سوی دی او موږ ئې ان شاء الله بيانوو .

---

(۱) په دغه ځای کي له شفق څخه مراد سپينوالی دی ، امام ابوحنيفه رح دغه قول مختاره کړی دی او همدغه د ابي بکر الصديق او عمر او معاذ او عائشي ﷺ قول دی د " البحر الرائق " مصنف دغه خبره ذکر کړې ده "۱-۲۵۸" . ابن عابدين د " البحر الرائق "په حاشيه " منحة الخالق " کي د " الاختيار " څخه نقل کړی دی چي عبد الرزاق دغه قول د ابي هريره او عمر بن عبد العزيز څخه نقل کړی دی او بيهقي د سوروالي روايت صرف د ابن عمر ﷺ څخه کړی دی . ابن خزيمه رح په خپل صحيح کي ويلي دي : کله چي سوروالی ورک سي او سپينوالی پاته وي د ماخستن د لمانځه د وخت داخلېدل شکمن دي يقيني نه دي خکه چي علماوو د شفق په مفهوم کي اختلاف کړی دی ، ځيني علماوو ويلي دي سوروالي ته ويل کيږي ، ځيني نورو علماوو ويلي دي سپينوالي ته ويل کيږي ، په علمي توګه د نبيﷺ څخه نه ده ثابته سوې چي شفق سوروالي ته ويل کيږي " ۱- ۱۸٤ " .

س : د وتر لمانځه وخت بيان کړئ .
ج : د وتر لمانځه او ماخستن د لمانځه وخت يو دى مګر د ماخستن د لمانځه څخه مخکې د وتر لمانځه اداء کول نه صحيح کيږي ځکه چې په لمونځو کې ترتيب لازم دى ، د وتر لمانځه آخري وخت هغه وخت دى چې دوهمې سپيدې نه وي راختلي .
س : ايا د لمونځو ځيني وختونه تر نورو وختو فضيلت لري ؟
ج : هو ځيني وختونه پر ځيني نورو فضيلت لري ، هغه په لاندي ډول سره دي :
۱ : د سهار لمونځ په رڼا کې اداء کول مستحب دي ، په رڼا کې به د سهار لمونځ شروع کوي او سنت قراءت دي په کښې وايي او په داسي وخت کې دي ئې ختموي که تر لمونځ کولو وروسته دا ښکاره سي چې لمونځ ئې فاسد وو دومره وخت به وي چې له سره اودس وکي او په سنت قراءت سره لمونځ وکي ، دومره دي ئې نه ځنډوي چې د لمر په راختلو کې شك پيدا سي (۱) .
۲ : د ماپښين د لمانځه په خنکي کې اداء کول مستحب دي ، يعني په دوبي کې دي د ماپښين لمونځ ځنډوي ، او په ژمي کې دي ئې وختي اداء کول مستحب دي .
۳ : په دوبي او ژمي کې د ماځديګر د لمانځه ځنډول مستحب دي تر څو چې لمر نه وي بدل سوى ، د لمر بدلېدل دادي چې څوك ورته وګوري سترګې ئې نه پر برېښي .
٤: په دوبي او ژمي کې د ماښام لمونځ وختني کول مستحب دي .
٥ : د ماخستن د لمانځه د شپې تر دريمې حصې پوري ځنډول مستحب دي .
دغه احکام په عامو ورځو کې دي ، د وريځې په ورځ کې د ماځديګر او ماخستن د لمانځه وختي اداء کول مستحب دي او د نورو لمونځو ځنډول مستحب دي .
٦ : څوك چې د شپې د لمانځه سره عادي وي د هغه لپاره دا مستحب دى چې وتر لمونځ د شپې تر اخر پوري وځنډوي که ئې پر وېښېدلو باور وو ، که ئې پر وېښېدلو باور نه وي او له دې څخه بېرېږي چې له دوهمو سپېدو څخه مخکې نه سي راوېښېدلای نو دي له بيدېدلو څخه مخکې وتر لمونځ وکي .

(۱) " البحر الرائق " وګوره (۱ـ ۲٦۰) .

مکروه وختونه

س : ایا په شپه او ورځ کي داسي وختونه سته چي په هغو کي د لمانځه له اداء کولو څخه منع سوې ده ؟

ج : هو درې وختونه دي چي په هغو کي د لمانځه اداء کولو څخه منع سوې ده :

۱: د لمر ختلو په وخت کي .

۲: د لمر لوېدلو په وخت کي .

۳ : د غرمې په وخت کي چي لمر پر سر ولاړ وي ، په دغو وختو کي دي نه فرضي لمونځونه کوي نه سنت لمونځونه او نه نفلي لمونځونه ، دغه رنګه دي نه د جنازې لمونځ کوي نه سجده تلاوت .

س : ایا داسي لمونځ سته چي په دغو وختو کي ئې اداء کول صحيح وي ؟

ج : هو داسي لمونځ سته چي د لمر لوېدلو په وخت کي ئې اداء کول صحيح مګر مکروه وي ، هغه څوك چي دهغې ورځي د ماځديګر لمونځ ئې نه وي کړی د لمر لوېدلو په وخت کي دي د ماځديګر لمونځ وکي او د ځنډولو لپاره دي له الله ﷻ څخه بخښن وغواړي ، د بل هيڅ لمونځ اداء کول په دغه وخت کي نه صحيح کيږي .

س : له دغو درو وختو څخه پرته داسي وختونه سته چي په هغه کي لمونځ مکروه وي ؟

ج : هو دوه وختونه دي چي نفلي لمونځونه په کښې مکروه دي .

۱: د سهار دلمانځه څخه وروسته ترڅو چي لمر ديوې نېزې په قدر راپورته کيږي .

۲ : د ماځديګر د لمانځه څخه وروسته تر څو چي لمر لويږي .

س : که يو چا دسهار د لمانځه څخه وروسته يا د ماځديګر د لمانځه څخه وروسته پر کعبه شريفه طواف وکړی د طواف دوه رکعاته به په دغه وخت کي کوي ؟

ج : د طواف دوه رکعاته به هم په دغه دوو وختو کي نه کوي بلکه انتظار به کوي چي لمر راوخېژي او راپورته سي ، دغه رنګه دي د لمر لوېدلو انتظار کوي (۱) .

(۱) امام بخاري په خپل " صحيح " کي " باب الطواف بعد الصبح و العصر " ذکر کړی دی ، او په هغه کي ئې دا خبره ذکر کړې ده چي عمر ﷺ د سهارد لمانځه څخه وروسته طواف وکړی بيا پر آس سپور سو

س : كه څوك وغواړي چي د سهار له لمانځه څخه وروسته يا د ماخديگر له لمانځه څخه وروسته قضائي لمونځونه اداء كړي ، ايا دا جائز دی ؟
ج : هو ، دا جائز دی مگر كه د ماخديگر له لمانځه څخه وروسته قضائي لمونځ كوي د لمر ژړېدلو څخه مخكي به ئې به ختموي .
س : كه څوك وغواړي چي په دغو دوو وختو كي د جنازې لمونځ وكړي يا د تلاوت سجده وكړي ، ايا دا جائز دی ؟
ج : هو ، دا جائز دی .
س : كه يو څوك د سپېدو راختلو څخه وروسته او د سهار لمانځه څخه مخكي نفلي لمونځ كوي ، په دې كي تاسي څه واياست ؟
ج : د سپېدو راختلو څخه وروسته د سهار د دوو ركعاتو سنتو څخه پرته نور نفلي لمونځونه (۱)كول مكروه دي .
س : تر لمر لوېدلو وروسته او ماښام د لمانځه څخه مخكي نفلي لمونځ كولو كي تاسي څه واياست ؟
ج : تر لمر لوېدلو وروسته دي نفل نه كوي بلكه ژر دي د ماښام لمونځ كوي (۲) .

د ص ۳۲ پاته برخه : او د طواف دوه ركعاته ئې په ذي طوی كي اداء كړل ، او امام مالك ئې په خپل كتاب (الموطا) كي روايت كړی دی اوامام طحاوي په (شرح معاني الاثار) (باب الطواف بعد الصبح و العصر) كي په خپل سند سره ذكر كړی دی ، وروسته ئې ويلي دي : دغه عمر ﷺ دی په دغه وخت كي ئې لمونځ نه كړی اداء ځكه دده په نزد دا د لمانځه وخت نه وو ، لمونځ ئې تر هغو وځنډوی تر څو چي د لمانځه وخت داخل سو ، بيائې لمونځ وكړی ، په دغه وخت كي د نبي ﷺ نور صحابه ﷺ هم حاضر وه ، هيڅ چا پر ده انكار و نه كړی ، كه دغه وخت دده په نزد د طواف د لمانځه وخت وای په دغه وخت كي به ئې لمونځ كړی وای او ځنډولی به ئې نه وای ځكه د هيڅ چا لپاره دا مناسبه نه ده چي بېله عذر څخه د طواف لمونځ وځنډوي .
(۱) كله كله نفل د زائد په معنی استعمالېږي ، يعني د فرضي لمونځو څخه پرته نور لمونځونه ، نو په دغه معنی سره سنت موكد لمونځونه هم په كښې داخلېږي .
(۲) نبي ﷺ ويلي دي : (د ماښام د لمانځه څخه مخكي لمونځ وكړئ) (درې ځله) په دريم ځله كي ئې وويل د چا چي خوښه وي ، ددې حديث روايت امام بخاري په " كتاب التهجد " كي كړی دی او د هغه لپاره ئې " باب الصلاة قبل المغرب " ذكر كړی دی . له حديث څخه څرگنده ده چي د ماښام د لمانځه څخه مخكي نفلي لمونځ كول صحيح دي او دا هم څرگنده ده چي دغه لمونځ سنت موكد نه دی

اذان او اقامت

س : په سپيڅلي شريعت کي د اذان څه حکم دی ؟
ج : د پنځو لمونځو او جمعې د لمانځه لپاره اذان سنت موکد دی ، د نورو لمونځو لپاره نه دي سنت ، د اخترو د لمونځو لپاره نه دی سنت ، نه د سنتو لمونځو او نفلو لمونځو لپاره سنت دی او نه د استسقاء د لمانځه او د کسوف د لمانځه لپاره سنت دی .
س : د اذان کوم الفاظ دي ؟

د ص ۳۳پاته برخه : ابن قدامه په " المغني " (۱- ۷٦٦) کي ويلي دي : د امام احمد له کلام څخه دا خبره معلوميږي چي دغه دوه رکعاته جائز دي ، سنت نه دي اه . په دې هکله موږ وينو چي خلک دوې ډلې دي ، يوه ډله داسي خلک دي چي دغه دوه رکعاته په دائمي توګه کوي او هيڅ کله ئې نه پرېږدي ، او څوک چي ئې نه کوي هغه ته د حقارت په سترګه ګوري ، نژدي وي چي حمله پر وکي ، دا له حد څخه تېرې دی ځکه چي د دوی دغه کار پر دې ښوونه کوي چي د دوی په نزد دغه دوه رکعاته له موکدو سنتو څخه دي چي نه پرېښول کيږي او دا د نبي ﷺ د قول (د چا چي خوښه وي) (له دې ببري څخه چي څوك ئې سنت ونه ګرځوي) څخه خلاف دی ، بله ډله داسي خلک دي چي دا عقيده لري چي د ماښام د لمانځه څخه مخکي نفل کول سخت منع دي ، سره له دې چي وخت پيراخه وي هيڅ کله ئې نه کوي په خاصه توګه کله چي خلک په حرمينو شريفينو کي امام ته انتظار کوي ځکه چي امامان د لمانځه ځای ته د اذان څخه لږ وروسته راځي په داسي ډول که په حاضرو خلګو کي يو څوك وغواړي چي دوه رکعاته لمونځ وکي کولای ئې سي ، نو که دغه خلك کله لمونځ وکي کله ئې پرېږدي څه بدي سته ؟
کومه خبره چي په ځينو حنفي کتابو کي ذکر سوې ده چي د ماښام د لمانځه څخه مخکي نفل کول مکروه دي له هغه څخه مراد دادی چي دغه دوه رکعاته اوږده کي او د اذان او اقامت په منځ کي وقفه زياته سي ، که وقفه لږ وي او په تلوار سره دوه رکعاته وکي نو مکروه نه دی ، شامي په " رد المحتار " (۱-۲۵۲) کي ويلي دي : په " الفتح " کي دا خبره ذکر سوې ده او په " حلبة المجلي شرح منية المصلي " او " البحر " کي ئې هم ټينګه کړې ده چي که دوه رکعاته په لنډه توګه اداء کړي او اوږدوالی په کښبي ونه کي کول ئې روا دي اه . زه وايم : په صحيح البخاري ، کتاب الاذان " باب کم بين الاذان و الاقامة " کي دا خبره په ځرګنده توګه ذکر سوې ده ، عثمان بن جبله او ابوداود له شعبه څخه نقل کړی دي چي د اذان او اقامت په منځ کي لږ وخت وو اه . نو د هر ځنډول او دوه رکعاته دومره ځنډول چي د ماښام د لمانځه ژر اداء کولو ته نقصان پېښ سي مکروه دی . ځرنګه به مکروه نه وي حال دا چي امام بخاري له رافع بن خديج څخه روايت کړی دی چي ده وويل : موږ به د نبي ﷺ سره د ماښام لمونځ وکړی ، په موږ کي به يو نفر به ولاړی او د خپلو غشو ځايونه به ئې ليدل اه .

ج : د اذان الفاظ موږ ذکر کوو ته غوږ ورته ونيسه :
الله أكبر الله أكبر ، الله أكبر الله أكبر ، أشهد أن لا اله الا الله ، أشهد أن لا اله الاالله ، أشهد أن محمدا رسول الله ، أشهد أن محمدا رسول الله ، حي على الصلاة ، حي على الصلاة ، حي على الفلاح ، حي على الفلاح ، الله أكبر الله أكبر ، لا اله الا الله .
س : د ځيني وختو په اذان کي نور الفاظ هم زياتيږي ؟
ج : هو ، د سهار په اذان کي تر " حي على الفلاح " وروسته دوه ځله " الصلاة خير من النوم " زياتيږي .
س : په اذان کي ترجيع سته ؟
ج : د حنفيانو په نزد په اذان کي ترجيع نسته (١) .
س : د اقامت الفاظ بيان کړئ او ځاى ئې وښوئ .
ج : کله چي خلګ د جماعت لمانځه ته ولاړ سي موذن دي د اذان الفاظ دوهم ځل په دومره اواز سره ووايي چي حاضر خلګ ئې اوري ، تر " حي على الفلاح " وروسته دي دوه ځله " قد قامت الصلاة " زياتوي ، همدغه اقامت دى .
س : ايا په اداء کولو کي د اذان او اقامت په منځ کي فرق سته ؟
ج : هو په اذان کي دي ځنډ کوي او په اقامت کي دي تلوار کوي .
س : په اذان او اقامت کي د قبلې ته مخ کولو څه حکم دئ ؟
ج : په اذان او اقامت کي دي قبلې ته مخ کوي ، همدغه د نبي ﷺ څخه نقل سوى دى تر نن ورځي پوري .
س : ايا په ځيني کلمو کي د اذان په وخت کي موذن مخ ګرځوي ؟
ج : کله چي موذن "حي على الصلاة " وايي ، دا مستحب ده چي مخ ښى خوا ته وګرځوي او کله چي " حي على الفلاح " وايي دا مستحب ده چي مخ چپ خوا ته وګرځوي .
س : په غوږو کي ګوتي نيول څه حکم لري ؟

---

(١) ترجيع داده چي شهادتين يو ځل په کښته اواز سره ووايي بيا ئې په لوړ اواز سره ووايي . د شافعيانو په نزد دا سنت دى .

ج : هغه په اذان کې سنت دی ، نبي ﷺ بلال ﷺ په دغه سره امر کړی او ده ته ئې وويل : دغه ستا اواز دربورته کوي (١) .

س : د قضائي لمانځه لپاره د اذان او اقامت څه حکم دی ؟

ج : د قضائي لمانځه لپاره دي اذان او اقامت کوي ، که ډېر لمونځونه څني قضاء سول او ده غوښتل چې ټوله په يوه وخت کې وکي ، د اول لپاره دي اذان او اقامت دواړه وکي او په نورو لمونځو کي ده لره اختيار دی که دواړه کوي او که يوازي اقامت کوي .

س : بېله اوداسه اذان او اقامت کولای سي ؟

ج : مناسبه داده چې اذان او اقامت په اوداسه وکي ، که ئې بېله اوداسه اذان وکی جائز دی ، او اقامت بېله اوداسه مکروه دی ، دغه رنګه په جنابت کې اذان کول مکروه دي .

س : که يو چا په داسي وخت کې اذان يا اقامت وکړی چې جنب وو د هغه څه حکم دی ؟

ج : اذان دي ئې راوګرځول سي او اقامت دي ئې نه راګرځول کيږي (٢) .

س : ايا د کوچني اذان صحيح کيږي او په هغه سره کفايت کيږي ؟

ج : هو ، هغه کوچنی چې عقل لري د ښه او بد فرق کولای سي اذان ئې صحيح دی ، که اذان وکي اذان ئې نه راګرځول کيږي .

س : مخکي له وخت څخه اذان کول څه حکم لري ؟

ج : دا جائز نه دی که ئې مخکې له وخت څخه اذان وکی بيرته دي ئې راوګرځوي مګر ابويوسف د سهار اذان مخکي له وخت څخه جائز بللی دی .

د لمانځه شرطونه

س : د لمانځه شرطونه بيان کړئ کوم چې د لمانځه د صحت لپاره له هغو څخه چاره نسته .

---

(١) ددې حديث روايت ابن ماجه کړی دی .

(٢) دوی ويلي دي : د جنب اذان راګرځول کيږي او اقامت نې په صحيح قول کې نه راګرځول کيږي دغه رنګه په " الهداية " کې راغلي دي ، او څرنګه چې په " المجتبى " کې راغلي دي دغه قول ډېر صحيح دی څکه د اذان تکرار په شريعت کې راغلی دی لکه د جمعې په اذان کې ، د اقامت تکرار په شريعت کې نه دی راغلی ، له دې څخه معلوميږي چې د بې اودسه سړي اقامت په طريق اولى سره نه راګرځي " البحر الرائق ١ - ٢٧٨ "

ج : د لمونځ کونکي لپاره د لاندي شیانو څخه چاره نسته :
۱:کله چي لمونځ کوي له اول څخه تراخر پوري به له دوارو ناپاکیوڅخه پاك وي .
۲ : بدن به ئې له نجاستو څخه پاك وي .
۳ : د لمانځه ځای به ئې پاك وي .
٤ : داسي پاك کالی به ئې اغوستي وي چي دده عورت په پټ وي ، که ئې عورت لڅ وي لمونځ ئې نه صحیح کیږي څرنګه چيَ په مردار کالي کي لمونځ نه صحیح کیږي .
٥: هر لمونځ به په خپل وخت کي وي ، د وخت د داخلېدلو مخکي لمونځ نه صحیح کیږي .
٦ : قبلې ته به مخامخ وي .
۷ : د لمانځه نیت به کوي بیا به په لمانځه کي شروع کوي په داسي ډول چي د نیت او تکبیر تحریمه (الله اکبر) په منځ کي به بل کار نه کوي ، په زړه کي به وایي چي کوم لمونځ کوي ، پر مقتدي ددغه نیته سره دا هم لازم دی چي د امام د متابعت نیت وکي .
س : د چا سره چي پاك کالی نه وي او داسي شی هم نه وی ورسره چي کالی په پاك کړي څه به کوي ؟
ج : په همدغه نجس کالي کي دي لمونځ وکړي او دغه لمونځ ئې صحیح دی بیا دي ئې نه راګرځوي (۱) .
س : د چا سره چي داسي کالی نه وي چي عورت په پټ کړي څرنګه به لمونځ کوي ؟

---

(۱) قدوري دغه خبره په دغه ډول په اجمالي توګه ذکر کړې ده ، او د " هدایې " مصنف په دغه خبره کي تفصیل کړی دی هغه ویلي دي : دا پر دوه صورته دی : که ئې د کالي څلورمه یا له هغه څخه زیاته برخه پاکه وي په هغه کي دي لمونځ وکړي ، که ئې لڅ لمونځ وکړی نه صحیح کیږي ، ځکه چي د یو شي څلورمه برخه د ټوله پر ځای دریږي ، که ئې پاکه برخه له څلورمي څخه کمه وه نو هم داغه حکم دی په نزد د محمد رح ، د امام شافعي رح یو قول هم دغسي دی ځکه چي که په دغه کالي کي لمونځ وکړي یو فرض پاته کیږي او که لڅ لمونځ وکړي ډېر فرضونه پاته کیږي ، په نزد د ابو حنیفه رح او ابویوسف رح ده لره اختیار سته که لڅ لمونځ کوي که په دغه کالي کي لمونځ کوي او په دغه کالي کي لمونځ کول افضل دي ، دا ځکه چي ستر د عورت یوازي په لمانځه پوري خاص نه دی او د کالو پاکي یوازي په لمانځه پوري خاص ده .

ج : كه په ولاړي لمونځ وكړي او ركوع او سجده كوي صحيح كيږي ، مګر افضل دادي چي په ناستي لمونځ وكړي او ركوع او سجده په اشاره سره وكړي (١) ، په دواړو صورتو كي به ځان د خلګو له سترګو څخه پټوي .

س : د سړي د عورت اندازه څومره ده كوم چي د هغه پټول په لمانځه كي ضروري دي ؟

ج : د سړي عورت د نو څخه لاندي تر ځنګون پوري دى ، ځنګون په عورت كي داخل دی او نو نه دى داخل .

س : د ښځي عورت كوم ځاى دى ؟

ج : ښځه چي ازاده وي د لمانځه د رواكېدلو لپاره د هغې عورت ټوله بدن دى بېله مخ او ورغوو او قدمو څخه ، دا د لمانځه د رواوالي لپاره دى ، داسي څوك چي ددې محرم نه وي د هغه په مخ كي مخ لڅول ورته جائز نه دي (٢) . كوم چي د سړي عورت دى هغه د مينځي ښځي عورت دى او نس او شا ئې هم عورت دى ، له هغه څخه پرته نور بدن ئې عورت نه دى .

س : څوك چي د يو ځيرونكي حيوان له بېري له كبله يا يو بلي وجهي څخه قبلې ته مخ كولو باندي قدرت نه لري څه به كوي ؟

ج : كوم لوري ته چي قدرت لري هغه لوري ته دي لمونځ وكړي .

س : كه لمونځ كونكي ته قبله معلومه نه وه او په هغه ځاى كښي داسي څوك نه وو چي دى د قبلې په هكله پوښتنه ځني وكړي ، نو دقبلي د مخ كولو څه حكم دى ؟

---

(١) په دې كي څلور صورته دي : ١ - چي په ناستي په اشاره سره لمونځ وكړي . ٢- چي په ناستي لمونځ وكړي په ركوع او سجده سره . ٣ - چي په ولاړي په اشاره سره لمونځ وكړي . ٤ - چي په ولاړي لمونځ وكړي په ركوع او سجده سره ، څرنګه چي په " الدر المختار " كي ذكر سوي دي دغه ټوله صورتونه جائز دي ، اول صـورت ئې تر ټولو افضـل دى د " الدر المختـار " حاشيـه " رد المحتـار " " باب شروط الصلاة " وګوره .

(٢) صاحب د "الدر المختار " دغه خبره ذكر كړې ده هغه ويلي دي : ځوانه ښځه د خلګو په مخ كي له مخ لڅولو څخه منع كيږي نه له دې كبله چي مخ عورت دى بلكه د فتنې له بېري څخه لكه هغې ته لاس وروړل كه څه هم د شهوت بېره نه وي ځكه دا ډېر سخت دى اه .

ج : اجتهاد (کوښښ) دي وکړي او د قبلې د لوري په هکله دي فکر وکړي ، کوم لوري ته چي دده غالب گمان وي هغه لوري ته دي لمونځ وکړي .
س : که په اجتهاد او فکر سره لمونځ وکړي او تر لمونځ کولو وروسته ورته معلومه سول چي په قبله کي خطاسوی دی ایا لمونځ به راگرځوي ؟
ج : د لمانځه راگرځول پر لازم نه دي .
س : که په لمانځه کي ورته معلومه سول چي په قبله کي خطا سوی دی څه به کوي ؟
ج : د قبلې لوري ته به گرځي او هغه لمونځ به پسي پوره کوي ، دا نه ده پر لازمه چي لمونځ له سره راوگرځوي .
فائده : که لمونځ کونکی په مسجد حرام کي وو پر ده لازمه ده چي عین کعبې ته به مخامخ کیږي ، کوم څوك چي په مسجد حرام کي نه وي که څه هم په مکه کي وي د هغه قبله صرف د کعبې لوری دی .

د لمانځه فرضونه

س : د لمانځه فرضونه بیان کړئ .
ج : د لمانځه فرضونه شپږ دي :
۱ : تکبیر تحریمه .
۲ : ولاړه .
۳ : قرائت د قران شریف که څه هم یو ایت وي .
٤ : رکوع .
٥ : سجده .
٦ : د تشهدي په قدر اخره ناسته .
س : د لمانځه د فرضو څه حکم دی ؟
ج : د هر فرض اداء کول ضروري دي ، که ئې په قصد یا هېره سره یو فرض پرېښوی لمونځ ئې نه صحیح کیږي ، په دغه صورت کي به حتما بیرته لمونځ راگرځوي ، د فرض د پرېښولو کمی په سجده سهو سره نه پوره کیږي .

د لمانځه واجبات

س : د لمانځه واجبات بیان کړئ .

ج : هغه په لاندي ډول دي :

۱ : سورة الفاتحة ويل .

۲ : له هغه څخه وروسته يو سورت يا درې ایاته ويل .

۳ : سورة الفاتحة له سورت څخه مخکي کول .

٤ : د فرضو په اولو دوو رکعاتو کي قرائت ويل .

٥ : په ارکانو (هغه فرضونه چي په لمانځه کي دننه دي) کي اطمينان کول .

٦ : اوله ناسته .

۷ : په اوله ناسته کي تشهد ويل ، دغه رنګه په دوهمه ناسته کي تشهد ويل .

۸ : د لمانځه د وتلو په وخت کي د سلام لفظ ويل .

۹ : د وترو قنوت ويل .

۱۰ : د اخترو زائد تکبيرونه ويل .

۱۱ : د سهار په لمانځه ، جمعې په لمانځه ، اخترو په لمانځه ، په تراويحو کي د رمضان په مياشت کي په وترو کي او د ماښام او ماخستن په اولو دوو رکعاتو کي امام لپاره په زوره قرائت ويل .

۱۲ : د ماپښين په لمانځه ، د ماځديګر په لمانځه او د ماښام او ماخستن په اخرو رکعاتو کي د امام لپاره کرار قرائت ويل .

س : د لمانځه د واجباتو څه حکم دی ؟

ج : که په قصد سره يو واجب پاته سو د لمانځه راګرځول واجب دي او که په سهو سره پاته سو د هغه کمی په سجده سهو سره پوره کيږي .

د لمانځه سنتونه .

س : د لمانځه سنتونه بيان کړئ .

ج : هغه په راتلونکي ډول سره ياد کړه :

۱ : د تکبير تحريمه لپاره لاسونه پورته کول ، د نر لپاره د غوږو تر برابري پوري او د ښځي لپاره د اوږو تر برابري پوري بيا دي سړيان ښی لاسونه پر چپه لاسو تر نو لاندې کښيږدي .

۲ : تر تکبير تحريمه وروسته ثناء ويل .

۳ : اعوذ بالله ويل .

٤ : بسم الله ويل .

٥ : امين ويل .

٦ : سمع الله لمن حمده ويل .

٧ : ربنا ولك الحمد ويل .

٨ : د ركوع او سجدې او د ركوع څخه وروسته ولاړې او ناستې او سجدې څخه راپورته كېدلو تكبيرونه .

٩ : د ركوع او سجدې تسبيحات .

١٠ : د ركوع په وخت كي ځنګنونه په لاسو سره په داسي ډول نيول چي ګوتي ئې سره خلاصي وي .

١١ : په دواړو ناستو كي او د دوو سجدو په منځ كي چپه پښه غوړول ، پر هغه كېښېنستل او ښی پښه درول .

١٢ : د شهادت (أشهد أن لااله الاالله) په وخت كي په ګوته سره اشاره كول .

١٣ : په ناسته كي پر ورونو لاسونه ايښول .

١٤ : په فرضي لمونځو كي له اولو دوو ركعاتو څخه وروسته په نورو ركعاتو كي قرائت ويل ، له فرضي لمونځو څخه پرته د نورو لمونځو په ټولو ركعاتو كي قرائت ويل لازم دى ، د امام لپاره تكبيرونه ، سمع الله لمن حمده او سلام په زوره ويل .

١٥ : تر وروستى تشهدي وروسته پر نبي ﷺ درود ويل .

١٦ : تر درود وروسته په داسي الفاظو سره دعاء كول چي د قران د الفاظو سره مشابه وي .

١٧ : د دوو سلامو په وخت كي ښی او چپ لوري ته مخ ګرځول .

١٨ : د امام لپاره د دوو سلامو په وخت كي د خلكو ملائكه وو او صالح پېرانيانو نيت كول .

١٩ : د مقتدي لپاره دده طرف كي د امام نيت كول ، كه د امام پر برابري ولاړ وو په دواړو سلامو كي دي د امام نيت وكړي .

۲۰ : د مقتدي لپاره په هر سلام كې د مقتديانو ملائكه وو او صالح پېرانيانو نيت كول .

۲۱ : د يوازي لمونځ كونكي لپاره په دواړو سلامو كې صرف د ملائكه وو نيت كول .

د لمانځه اداب

س : د لمانځه اداب كوم شيان دي ؟

ج : هغه په لاندي ډول دي :

۱ : د سړي لپاره د تكبير تحريمه په وخت كي لاسونه له لستوڼو څخه راكښل .

۲ : د ولاړي په وخت كي د سجدې ځاى ته كتل ، د ركوع په وخت كي قدم ته كتل ، د سجدې په وخت كي د پزي نرمۍ ته كتل ، د ناستي په وخت كي سينې ته كتل او د سلام ګرځولو په وخت كي اوږو ته كتل .

۳ : خومره چي ممكن وي ټوخي بندول .

٤ : د ارږمۍ په وخت كي خوله بندول .

له تكبير تحريم څخه تر سلام پوري د لمانځه د اداء كولو طريقه

س : د لمانځه د اداء كولو طريقه له سره څخه تر پايه پوري بيان كړئ .

ج : كله چي د لمانځه د شروع كولو اراده وكړي د شروع لپاره دي ښه مده په ولاړي په داسي حال كي چي لاسونه ئې تر غوږو پوري پورته كړي وي تكبير ووايي ، له تكبير څخه وروسته دي خپل ښي لاس پر چپ لاس تر نو لاندي كښېږدي ، بيا دي ثناء ووايي ، داسي دي ووايي : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَ تَعَالَى جَدُّكَ وَ لَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ، وروسته دي أَعُوْذُ بِاللّٰهِ ووايي ، تر هغه وروسته دي بِسْمِ اللّٰهِ ووايي ، دغه درې سره دي كرار ووايي ، مقتدي دي أَعُوْذُ بِاللّٰهِ او بِسْمِ اللّٰهِ نه وايي ځكه دى قرائت نه وايي ، وروسته دي سورة الفاتحة ووايي ، له هغه څخه وروسته دي امين كرار ووايي كه څه هم په جهري لمانځه كي وي ،له هغه څخه وروسته دي يو سورت يا درې اياته له كوم ځاى څخه چي دده خوښ سي ووايي ، كله چي له قرائت څخه فارغ سي د كښته كېدو سره ښېله لاسو پورته كولو دي تكبير ووايي ، لاسونه دي په داسي ډول پر ځنګنو كښېږدي چي ګوتي ئې سره خلاصي وي ددې لپاره چي په لاسو سره ئې ونيولاى سي او پنډۍ دي سيده

دروي ، شا دي په داسي ډول غوړوي چي د کناټو سره برابره وي نه به ئې سر پورته کړي وي نه به ئې کښته کړی وي ، او په رکوع کي دي تسبيح ووايي ، داسي دي ووايي : " سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ " درې ځله ، دغه ئې کمه اندازه ده ، بيا دي له رکوع څخه سر راپورته کي او په دغه وخت کي دي " سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ " وايي ، په هغه پسي دي متصل " رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ " ووايي که ئې يوازي لمونځ کوی او که امام وو يوازي " سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ " دي وايي او که مقتدي وو يوازي " رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ " دي وايي ، سيده دي ودرېږي ، وروسته دي په داسي حال کي تکبير ووايي چي دی سجدې ته کښته کيږي اول دي ځنګنونه کښيږدي بيا دي لاسونه کښيږدي بيا دي ورغوي کښيږدي ، د سجدې په وخت کي دي د لاسو ګوتي سره ومښلوي او قبلې ته دي ئې مخامخ کړي او پر پزه او تندي دي سجده وکړي ، بغلونه دي ښکاره کړي ، نس دي له ورنو څخه ليري کړي ، د پښو سرونه دي قبلې ته مخامخ کړي او تسبيح دي ووايي : داسي دي ووايي : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعَلَى " درې ځله ، دغه ئې کمه اندازه ده ، بيا دي سر په داسي حال کي راپورته کړي چي تکبير ويونکی وي ، په اطمينان سره دي سيده کښېني په داسي ډول سره چي لاسونه ئې پر ورونو غوړولي وي ، بيا دي تکبير ووايي او دوهم ځل دي سجده وکړي ، درې ځله دي تسبيح ووايي ، بيا دي تکبير ووايي او د قدمو پر سرو دي راپورته سي نه دي لاسونه پر مځکه تکيه کوي نه دي کښېني ، اول دي سر راپورته کوي بيا لاسونه بيا ځنګنونه او دوهم رکعت ته دي ولاړ سي ، دوهم رکعت داسي دی لکه اول رکعت مګر لاسونه دي نه پورته کوي نه دي ثنا وايي نه دي " أَعُوذُ بِاللّٰهِ " وايي ، کله چي ددوهم رکعت له دوهمي سجدي څخه فارغه سي چپه پښه دي وغوړوي او پر هغه دي کښېني ، ښې پښه دي په داسي ډول ودروي چي ګوتي ئې قبلې ته مخامخ وي ، ښی لاس دي پر ښی ورون کښېږدي او چپ لاس دي پر چپ ورون کښېږدي ، ګوتي دي پر هغه وغوړوي او د عبدالله بن مسعود ؓ تشهد دي ووايي : داسي دي ووايي : " اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَ عَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ " په ښی سبابه ګوته (د بټي ګوتي پسې ګوته) دي د أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ په وخت کي اشاره وکړي په

داسي ډول سره چي د مابين په ګوته او بټه ګوته سره حلقه جوړه کړي او خمچه ګوته او د
هغه پسې ګوته بندي کړي ، که ئې د دوو رکعاتو نيت کړی وو تر تشهد وروسته دې پر
نبي ﷺ درود ووايي بيا دي داسي دعا وکړي چي د هغه الفاظ د قران کريم يا حديث
شريف سره مشابه وي ، داسي دعا دي نه کوي چي الفاظ ئې د خلګو د خبرو سره
مشابه وي ، بيا دي دوه ځله سلام ووايي ښی لوري ته دي داسي ووايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ
رَحْمَةُ اللّٰه چپه لوري ته دي هم داسي ووايي تر څو چي د بارخو سپينوالی ئې معلوميږي
، د سلام په وخت کي دي اوږو ته ګوري او په سلام سره دي د هغه کسانو نيت کوي چي
دده په ښی او چپ لوري کي دي چي امام ، لمونځ کونکي او ملائکه دي څرنګه چي موږ
مخکي ذکر کړل ، که ئې د تکبير تحريمه په وخت کي د څلورو رکعاتو نيت کړی وو نو
کله چي له تشهد څخه فارغه سي دريم رکعت ته دي ولاړ سي ، لاسونه دي نه پورته کوي
نه دي ثنا وايي نه دي " أَعُوْذُ بِاللّٰه وايي ، کله چي د دريم رکعت له سجدو څخه فارغه
سي څلورم رکعت ته دي ولاړ سي ، دغه آخر دوه رکعاته دي همدغه رنګه په ولاړه ،
قرائت ، رکوع او سجده سره پوره کړي څرنګه چي اول دوه رکعاته ئې پوره کړي وه ، د
آخري رکعت تر دوو سجدو وروسته دي داسي کښېني څرنګه چي پر اولو دوو رکعاتو
کښېنستلی وو ، تشهد دي ووايي او پر نبي ﷺ دي درود ووايي بيا دي دعا وکړي بيا
دي ښی او چپ لوري ته سلام وګرځوي څرنګه چي مخکي تېر سو ، او که ئې د تکبير
تحريمه په وخت کي د درو رکعاتو نيت کړی وو نو د دريم رکعت تر سجدو وروسته دي
کښېني،تشهد دي ووايي،پر نبي ﷺ دي درود ووايي،دعادي وکړي اوسلام دي وګرځوي.
س : که يو چا د لنګوټې پر ول يا اضافي کالي سجده وکړل ، د هغه څه حکم دی ؟
ج : که ئې ول پر تندي وو دغسي ئې سجده وکړل سجده ئې صحيح ده مګر مکروه ده ،
که ئې د عذر له کبله داسي سجده وکړل بېله کراهته روا ده (١) .

(١) په " الدر المختار " کي ئې ويلي دي : د لنګوټې پر ول سجده که عذر نه ولري مکروه تنزيهي ده په
دې شرط چي هغه ول دده پر تولہ تندي يا يوه برخه د تندي وي څرنګه چي دا خبره مخکي تېره سول ، که
ئې ول يوازي پر سر وو او يوازي پر هغه ځای ئې سجده وکړل نه صحيح کيږي ځکه چي سجده ئې پر
ځپل ځای ونه کړل ، بل شرط دادی چي ځای به پاك وي او د مځکي کلکوالی به محسوسوي او له دې
مسئلې څخه ډېر خلګ غافله دي " فصل في صفة الصلاة " .

د نر او ښځي د لمانځه فرق

س : کوم کيفيت چي تاسي بيان کړئ دا د نر د لمانځه لپاره دی که د نر او ښځي دواړو د لمونځو لپاره دی ؟

ج : دا کيفيت د نر او ښځي دواړو د لمونځو لپاره دی مګر ښځه له نر څخه په څو ځايو کي بېل ده چي موږ ئې په لاندي ډول سره بيانوو :

١ : ښځه دي لاسونه پر سينه اږدي .

٢ : لاسونه دي له لستوڼو څخه د تکبير تحريمه په وخت کي نه راباسي .

٣ : لاسونه دي د اوږو تر برابرۍ پوري پورته کوي .

٤ : د رکوع په وخت کي دي خپلي ګوتي نه سره خلاصوي بلکه سره منښلوي دي ئې او لاسونه پر ځنګنو صرف اږدي .

٥ : په رکوع کي دي لږ کږيږي په داسي ډول چي د رکوع اندازې ته ورسيږي ، پر دغه دي زياتوالی نه کوي .

٦ : په رکوع کي دي ځنګلي د بغلو سره منښلوي .

٧ : په سجدي کي دي نس د ورنو سره منښلوي .

٨ : په هره ناسته کي دي پر کناتي کښېني په داسي ډول چي دواړي پښې دي ښی طرف ته راباسي ، ښی ورون دي پر چپ ورون اږدي او پر مځکه دي کښېني .

٩ : د سجدې په وخت کي دي بازوګان پر مځکه اږدي .

١٠ : په جهري لمانځه کي دي قرائت په زوره نه وايي (١) .

د قرائت بيان

س : د امام ، مقتدي او منفرد (يوازي لمونځ کونکی) د قرائت احکام بيان کړئ .

ج : راتلونکي مسئلې ياد کړه :

١ : صرف قرائت په ټولو لمونځو کي فرض دی .

٢ : د سورة الفاتحة ويل واجب دي .

٣ : دغه رنګه تر هغه وروسته د يوه سورت يا درو اياتو ويل واجب دي . له دغه

---

(١) " رد المحتار " (١ ـ ٣٣٩) او طحطاوي شرح د " مراقي الفلاح " (ص ١٤١) وګوره .

دوو واجبو څخه په هر يوه سره صرف قرائت هم اداء كيږي .

٤ : له دغه څخه د فرضي لمانځه دريم او څلورم ركعت وزي څكه چي د سورة الفاتحة ويل په هغو كي سنت دی نه فرض دی نه واجب .

٥ : قرائت د فرضو په اولو دوو ركعاتو سره خاصول واجب دی .

٦ : پر نور قرائت د سورة الفاتحة مخكي كول واجب دی .

٧ : د فرضي لمونځو په آخرو ركعاتو كي لمونځ كونكی اختيار لري كه سورة الفاتحة وايي كه تسبيحات وايي ، سورة الفاتحة ويل افضل دي ، كه ئې د فرضي لمونځو په آخرو ركعاتو كي تر سورة الفاتحة وروسته نور قرائت ووايه دسهو سجده نه پرلازميږي .

٨ : په امام پسي دي مقتدي قرائت نه وايي نه په جهري لمانځه كي نه په سري لمانځه كي (١) .

٩ : پر امام واجب ده چي د سهار په دوو ركعاتو كي ، د جمعې په لمانځه كي د اخترو په لمانځه كي او د ماښام او ماخستن په اولو دوو ركعاتو كي قرائت په زوره ووايي .

١٠ : امام او منفرد دي د ماپښين او ماځديګر په ټولو ركعاتو كي او د ماښام په دريم ركعت كي او د ماخستن په آخرو دوو ركعاتو كي كرار قرائت وايي .

١١ : په هغو لمونځو كي چي امام په زوره قرائت وايي منفرد ته اختيار سته كه كرار قرائت وايي كه په زوره دواړه ورته جائز دي .

١٢ : د امام او منفرد لپاره داسنت دی چي د سهار او ماپښين په لمونځو كي د مفصل اوږده سورتونه ووايي (٢) ، د ماځديګر او ماخستن په لمونځو كي د مفصل ميانه سورتونه ووايي (٣) او د ماښام په لمانځه كي د مفصل لنډ سورتونه

---

(١) څكه مسلم له ابو موسى اشعري ﷺ څخه روايت كړی دی چي نبي ﷺ په خپل حديث كي وويل : كله چي امام قرائت وايي تاسي چپ سئ (باب التشهد في الصلاة) .

(٢) د مفصل اوږده سورتونه له " سورة الحجرات " څخه تر " سورة البروج " پوري دي .

(٣) د مفصل ميانه سورتونه له " سورة الطارق " څخه تر " سورة البينة " پوري دي .

لپاره او مسافر چي كوم سورت ئې ووايي (۱) ، دا د مقيم (هغه څوك چي مسافر نه وي) خوښ وي هغه دي ووايي .

س :كله چي امام يا منفرد قرائت په زوره وايي اعوذ بالله اوبسم الله به هم په زوره وايي ؟

ج : دغه دوه به په زوره نه وايي بلكه كرار دي ئې وايي .

س : كله چي امام سورة الفاتحة ختم كړي امام او مقتدي به آمين په زوره وايي ؟

ج : په زوره به ئې نه وايي .

س : كله چي ښځه يوازي لمونځ كوي په جهري لمانځه كي به قرائت په زوره وايي ؟

ج : په زوره به قرائت نه وايي بلكه كرار دي ئې وايي .

س : په ځيني لمونځو كي كوم خاص سورت ويل كيږي ؟

ج : د هيڅ لمانځه لپاره يو خاص سورت نسته په داسي توګه چي په هغه لمانځه كي بل سورت ويل جائز نه وي ، بلكه د ځيني لمونځو يا ټولو لمونځو لپاره يو سورت خاصول په داسي ډول چي بل سورت نه په كښي وايي مكروه دى .

س : په واجبه توګه په ځيني لمونځو كي كوم سورتونه خاص نه دي . د ځينو لمونځو لپاره په حديث كي د ځيني سورتو ذكر سوى دى چي كه لمونځ كونكى هغه ووايي ثواب وركول كيږي ؟

ج : هو د ځيني لمونځو لپاره په حديث كي د ځيني سورتو ذكر سوى دى ، د هغو سورتو ويل په هغو لمونځو كي ثواب لري ، ځيني له هغو څخه په لاندي كي ذكر كوو :

۱ : د جمعې د ورځي د سهار د لمانځه په اول ركعت كي ﴿ الم تنـــزيل ﴾ ويل او په دوهم ركعت كي ﴿ هل أتى على الانسان ﴾ ويل سنت دي (۲) .

۲ : د جمعې د لمانځه په اول ركعت كي ﴿ سورة الجمعة ﴾ ويل او په دوهـــم ركعت كي ﴿ إذا جاءك المنافقون ﴾ ويل سنت دي (۳) .

---

(۱) د مفصل لنډ سورتونه له " سورة الزلزال " څخه د قران كريم تر پايه پوري دي .

(۲) امام بخاري او مسلم ئې له ابوهريره ﷺ څخه روايت كړى دى .

(۳) مسلم ئې له ابوهريره ﷺ څخه روايت كړى دى .

۳ : دغه رنګه د جمعې د لمانځه په اول رکعت کي ﴿ سبح اسم ربك الاعلى ﴾ او په دوهم رکعت کي ﴿ هل أتاك حديث الغاشية ﴾ ويل سنت دي (۱) .

٤ : داخترو په لمونځو کي هم د دغو دوو سورتو ﴿ سورة الاعلى ﴾ او ﴿ سورة الغاشية ﴾ ويل سنت دی (۲) .

وتر لمونځ

س : وتر لمونځ به څرنګه کوي او څو رکعاته به کوي ؟

ج : وتر درې رکعاته دي ، د ماخستن له لمانځه څخه وروسته دي ئې اداء کوي ، له هغه څخه مخکي نه صحيح کيږي ، کله چي د وترو د اداء کولو اراده وکړي تکبير تحريمه دي ووايي بيا دي ثناء او اعوذ بالله او بسم الله ووايي او سورة الفاتحة او له هغه څخه وروسته دي يو بل سورت ووايي ، بيا دي رکوع او دوې سجدې وکړي ، بيا دي دوهم رکعت ته ولاړ سي ، په داسي ډول دي ئې اداء کړي لکه چي په نورو لمونځو کي اداء کيږي ، بيا دي کښيني او تشهد دي ووايي ، کله چي دريم رکعت ته ولاړ سي سورة الفاتحة او له هغه څخه وروسته بل سورت دي ووايي ، کله چي له قرائت څخه فارغ سي تکبير دي ووايي (۳) په داسي حال کي چي لاسونه غوږو ته پورته کونکی وي (٤) بيا دي

---

(۱) مسلم ئې له نعمان بن بشير څخه روايت کړی دی .

(۲) مسلم ئې له نعمان بن بشير څخه روايت کړی دی .

(۳) ابن ابي شيبه له شعبه څخه روايت کړی دی هغه وويل : ما له حکم ، حماد او ابواسحق څخه واورېدل هغه د وتر په قنوت کي ويل : کله چي فارغه سي (يعني له قرائت څخه) تکبير دي ووايي بيا دي قنوت ووايي .

(٤) له عبد الرحمن بن الاسود څخه روايت سوی دی هغه له خپل پلار څخه روايت کړی دی هغه له عبدالله (عبد الله بن مسعود ﷺ) څخه روايت کړی دی چي ده د وتر په قنوت کي لاسونه پورته کول ، ددې حديث روايت ابن ابي شيبه کړی دی (۳- ۳۹۰) دمدينې منورې چاپ ، امام بخاري په جزء رفع اليدين کي له عبدالله څخه روايت کړی دی او صحيح ئې بللی دی چي ده د وتر په آخر رکعت کي ﴿ قل هو الله أحد ﴾ وايه بيا ئې لاسونه پورته کول او له رکوع مخکي ئې قنوت وايه (ص ۲۸ وګوره) .

قنوت ووايي (۱) ، کله چي له قنوت څخه فارغ سي (۲) تکبير دي ووايي په داسي حال کي چي سجدې ته کښېنته کېدونکی وي ، له هغه څخه وروسته دي دريم رکعت داسي پوره کړي لکه د نورو لمونځو رکعاتونه .

س : سورة الفاتحة او بل سورت به د وتر په ټولو رکعاتو کي وايي ؟

ج : هو ، د وتر په ټولو رکعاتو کي دي ئې وايي .

س : په وتر کي سنت قرائت سته ؟

ج : هو په وتر کي دا سنت دی چي په اول رکعت کي تر سورة الفاتحة وروسته ﴿ سورة الاعلى ﴾ ووايي او په دوهم رکعت کي ﴿ سورة الکافرون ﴾ ووايي او په دريم رکعت کي ﴿ سورة الاخلاص ﴾ ووايي ، په ځينو رواياتو کي راغلي دي چي په آخر رکعت کي دي ﴿ سورة الاخلاص ﴾ او ﴿ المعوذتين ﴾ يعني سورة الفلق او سورة الناس درواړه ووايي (۳) .

س : قنوت به په زوره وايي که کرار ؟

ج : که امام وي که منفرد او که مقتدي قنوت به کرار وايي .

س : آيا وتر به په جماعت سره کوي ؟

---

(۱) له ابراهيم څخه روايت سوی دی چي ده وويل : د وتر په قنوت کي ووايه : " أللّهم نـا نستـعينك و نستغفرك " ددې روايت ابن ابي شيبه کړی دی (۳-۳۸۱) له ابي عبدالرحمن څخه روايت سوی دی ده وويل : عبد الله بن مسعود موږ ته راوښول چي په قنوت کي داسي ووايو : " أللّهم إنـا نستـعينك و نستغفرك و نومن بك و نثني عليك الخير " اه ددې روايت هم ابن ابي شيبه کړی دی .

(۲) له علقمه څخه روايت سوی دی چي ابن مسعود او د نبي ﷺ صحابه وو په وتر کي له رکوع څخه مخکي قنوت وايه ، ابن ابي شيبه ئې روايت کړی دی (۳-۳۸۳) . د عبدالرحمن بن الاسود څخه روايت سوی دی هغه له خپل پلار څخه روايت کړی دی چي عبدالله بن مسعود به کله له قرائت څخه فارغ سو تکبير به ئې ووايه بيا به ئې قنوت ووايه ، کله چي به له قنوت څخه فارغ سو تکبير به ئې ووايه وروسته به ئې رکوع وکړل ، ابن ابي شيبه ئې روايت کړی دی (۳-۳۸۹) .

(۳) ترمذي او ابوداود ئې له عائشې ﷺ څخه روايت کړی دی او نسائي ئې له عبد الرحمن بن ابزی څخه روايت کړی دی او احمد ئې له ابی بن کعب څخه روايت کړی دی او دارمي ئې له ابن عباس څخه روايت کړی دی ، دوی دوو معوذتين نه دي ذکر کړي " مشکوة المصابيح – باب الوتر " وګوره .

ج : هو دا سنت دی چي د رمضان په ټولو شپو کي تر تراويح وروسته وتر په جماعت سره وکي .

س : څوك چي په وتر كي امام وي قرائت به په زوره وايي ؟

ج : هو ، امام به د وتر په درو سره ركعاتو كي قرائت په زوره وايي .

س : د وتر څخه پرته په بل كوم لمانځه كي قنوت وايي ؟

ج : پېله وتر څخه په بل لمانځه كي دي قنوت نه وايي مګر كه مسلمانانو ته يو واقعه پېښه سول په هغه وخت كي دي تر ركوع وروسته په ولاړه كي قنوت وايي او امام دي مسلمانانو ته دعاء كوي او ددوی دښمنانو ته دي ښرا كوي .

سنت او نفل لمونځونه

س : تر فرضي لمونځو مخكي او وروسته سنت څو ركعاته دي ؟

ج : دوولس ركعاته ټينګ سنت دي ، هغه سنت موكد بلل كيږي ځكه چي ام المومنين عائشه ﷺ روايت كړي دی چي نبي ﷺ وويل : څوك چي پر دوولسو ركعاتو سنتو مشابره (۱) (دوام) وكړي الله ﷺ به ده ته په جنت كي يو كور ورجوړ كړي ، څلور ركعاته د ماپښين له لمانځه څخه مخكي او دوه ركعاته له هغه څخه وروسته ، دوه ركعاته د ماښام له لمانځه څخه وروسته ، دوه ركعاته د ماخستن له لمانځه څخه وروسته او دوه ركعاته د سهار له لمانځه څخه مخكي (۲) ، شريح له عائشې ﷺ څخه روايت كړی دی چي دې وويل : هر وخت چي نبي ﷺ د ماخستن لمونځ كړی دی بيا زما كورته راغلی دی څلور ركعاته يا شپږ ركعاته لمونځ ئې كړی دی (۳) .

س : په دغو سنتو كي ځيني تر ځيني نورو ټينګ دي ؟

---

(۱) د ثبر معنی بندول دي او د مثابره معنی دوام دی له " القاموس " څخه .

(۲) ترمذي او نسائي ئې روايت كړی دی او دغه لفظ د ترمذي دی ، وروسته ترمذي ويلي دي : په دغه باره كي له ام حبيبه ، ابو هريره ، ابو موسی او ابن عمر ﷺ څخه هم روايت سوی دی ، بيا ئې د ام حبيبې حديث نقل كړی دی او هغه ئې صحيح بللی دی ، مسلم د ام حبيبې د حديث روايت كړی دی او په آخر كي ئې ذكر كړي دي چي هغې وويل : له دغه څخه وروسته ئې زه دائما اداء كوم .

(۳) په دغه حديث كي د ماخستن له لمانځه څخه وروسته د څلورو يا شپږو ركعاتو ذكر سوی دی څوك چي په دغه عمل وكي ډېر ښه دی مګر په هغو كي موكد دوه ركعاته دي ځكه چي پر هغو باندي دوام لپاره نبي ﷺ ترغيب وركړی دی ، د شريح حديث ابو داود نقل كړی دی .

ج : هو ، تر ټولو ټينګ د سهار سنت دي ، له هغه څخه وروسته هغه څلور رکعاته دي چي د ماپښين له لمانځه څخه مخکي دي ، څکه چي عائشې ﷺ روايت کړی دی چي نبي ﷺ د هيڅ نفلي لمانځه دومره خيال نه ساتی څومره چي د سهار د دوو رکعاتو خيال ئې ساتی . دغه رنګه دې روايت کړی دی چي نبي ﷺ د ماپښين د لمانځه مخکي څلور رکعاته او د سهار د لمانځه مخکي دوه رکعاته نه پرېښول (۱) .

س : د جمعې د لمانځه مخکي او وروسته سنتونه سته ؟

ج : هو ، څلور رکعاته د جمعې د لمانځه مخکي سنت دي او څلور رکعاته د جمعې دلمانځه وروسته سنت دي (۲) . دا د ابوحنيفه رح په نزد او ابو يوسف رح ويلي دي د جمعې تر لمانځه وروسته شپږ رکعاته سنت دي .

---

(۱) د دغه دواړو حديثو روايت امام بخاري او نورو محدثينو کړی دی .

(۲) د جمعې د لمانځه څخه وروسته څلور رکعاته څکه سنت دي چي امام مسلم له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی ، ده ويل چي نبي ﷺ ويل : کله چي تاسي د جمعې د لمانځه وروسته لمونځ کوئ نو څلور رکعاته وکړئ ، په يوه روايت کي د نورو محدثينو پرته له امام بخاري ذکر سوي دي " کله چي په تاسي کي يو د جمعې لمونځ وکړي نو تر هغه وروسته دي څلور رکعاته وکړي " اول روايت پر مستحب والي ښوونه کوي او دوهم روايت پر وجوب ښوونه کوي نو موږ وايو چي سنت موکد دي ددې لپاره چي ددواړو حديثو په منځ کي جمع راسي ، او د جمعې د لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته څکه چي د ماپښين د لمانځه په سنتو کي دا خبره تېره سول چي نبي ﷺ له زوال څخه وروسته پر څلور رکعاتو دوام کوی ، په دغه کي د جمعې د لمانځه سنت هم داخل دي دغه رنګه په " غنية المستملي " کي راغلي دي . زه وايم چي امام مسلم له ابوهريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل : څوك چي غسل وکړي بيا د جمعې لمانځه ته راسي او هغه لمونځ وکي چي ده ته ليکل سوی وي ، بيا تر هغه وخت پوري چپ سي چي امام له خطبې څخه فارغه کيږي ، بيا د امام سره د جمعې لمونځ وکړي له دغه جمعې څخه تر بلي جمعې پوري او درې ورځي له هغه څخه زياتي دده ګناوي بخښل کيږي ، نو له دغه حديث څخه په ښکاره توګه څرګنديږي چي د جمعې له خطبې څخه مخکي لمونځ سته ، او په دې کي پر هغه چا رد دی چي د جمعې د لمانځه څخه مخکي لمانځه څخه ئې انکار کړی دی ، عبد الله بن مسعود ﷺ د جمعې د لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته کول لکه چي عبدالرزاق (۳-۲۴۷) او ابن ابي شيبه (۳-۱۴۳) ئې روايت کړی دی ، او عبد الرزاق له ثوري څخه روايت کړی دی ، هغه د عطاء بن السائب څخه هغه د ابي الاحوص السلمي څخه روايت کړی دی هغه وويل : عبـد الله موږ په دې سره امر کولـو چي د جـمـعې د لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته وکړو ، تر هغه وروسته دوه رکعاته وکړو او تر هغه وروستـه څـلـور

س : د ماځدیګر له لمانځه څخه مخکي سنتونه راغلي دي ؟

ج : هو ، له ماځدیګر څخه مخکي څلورو رکعاتو په باره کي په حدیث کي ترغیب راغلی دی (۱) ځکه نبي ﷺ ویلي دي : الله دي رحم وکړي پر هغه سړي چي د ماځدیګر له لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته وکړي . او علي ﷺ روایت کړی دی چي نبي ﷺ به ماځدیګر له لمانځه څخه مخکي دوه رکعاته کول (۲) .

س : د ماخستن له لمانځه څخه مخکي سنتونه سته (۳) ؟

ج : د ماخستن له لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته مستحب ګڼي .

س : دغه سنتونه څه حکم لري ؟

ج : د ماځدیګر او ماخستن له لمونځو څخه مخکي سنتونه موکد نه دي .

س : په ځیني سنتو کي کوم خاص قرائت سنت دی ؟

د ص ۵۱ پاته برخه : رکعاته وکړو ، حافظ په " الدرایة " کي ویلي دي : د سند رجال ئې ثقات دي اه، دغه موقوف حدیث (د صحابي قول) دی مګر په حکم کي د مرفوع حدیث (د نبي ﷺ قول) دی ځکه ښکاره خبره داده چي ده ځکه په دې سره امر کوی چي ده ته د نبي ﷺ څخه ثابت سوي وه ، طحاوي په " باب التطوع باللیل والنهار کیف هو ؟ " کي له جبله بن سحیم څخه روایت کړی دی چي عبدالله بن عمر د جمعې د لمانځه څخه مخکي څلور رکعاته کول په مابین کي ئې سلام نه ګرځوی ، بیا ئې د جمعې د لمانځه څخه وروسته دوه رکعاته کول بیا ئې څلور رکعاته کول ، اسناد ئې صحیح دی ، دغه رنګه نیموي په آثار السنن کي ویلي دي .

(۱) ابو داود ئې روایت کړی دی .

(۲) ابو داود ئې روایت کړی دی .

(۳) حلبي د " منیة المصلي " په شرح کي چي " غنیة المستملي " نومیږي ویلي دي : د ماخستن له لمانځه څخه مخکي څلورو رکعاتو کي په خصوصي توګه حدیث نه دی راغلی ، مګر د هغه لپاره هغه حدیث دلیل کېدلای سي کوم چي اصحاب د صحاح سته وو ئې له عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روایت کړی دی . چي نبي ﷺ وویل : د هرو دوو اذانو (اذان او اقامت) په منځ کي لمونځ سته ، په دریم ځل کي ئې وویل د هغه چا لپاره چي خوښه ئې وي ، له دغه حدیث څخه دا خبره معلومیږي چي کله د ماخستن له لمانځه څخه مخکي نفل کولو څخه مانع نه وي ، له هغه څخه مخکي نفل کول مستحب دي لیکن دا چي هغه به څلور رکعاته وي د ابوحنیفه رح پر قول برابریږي ځکه دده په نزد څلور رکعاته افضل دي ، نو لمونځ خو مطلق راغلی دی له هغه څخه همدغه څلور رکعاته اخستل کیږي ځکه چي له مطلق څخه هغه لمونځ اخستل کیږي چي په مقدار او صفت کي کامل وي اه .

ج : هو ، ترمذي له عبدالله ﷺ څخه روايت کړی دی چي هغه ووېل : زه نه سم شمېرلای چي څومره واره ما له نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چي د ماښام له لمانځه څخه وروسته دوو رکعاتو او سهار له لمانځه څخه مخکي دوو رکعــاتو کي ئې ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴾ او ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴾ ويل . مسلم له ابوهريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ د سهار په دوو رکعاتو کي ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴾ او ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴾ ووېل . امام مسلم له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ د سهار په دوو رکعاتو کي په اول رکعت کي ﴿ قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللَّهِ وَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا ﴾ کوم چي په سورة البقرة کي دی وايه او په دوهم رکعت کي ئې ﴿ آمَنَّا بِاللَّهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴾ وايه (۱) ، دغه رنګه امام مسلم له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چي نبي ﷺ د سهار په دوو رکعاتو کي ﴿ آمَنَّا بِاللَّهِ وَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا ﴾ (۲) او هغه ايت چي په آل عمران کي دی ﴿ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَ بَيْنَكُمْ ﴾ ويل .

س : آيا د فرضي لمونځو ، وتر او سنتو څخه پرته بل کوم لمونځ سته ؟

ج : هو ، له هغه څخه پرته بل لمونځ سته ، هغه نفل لمونځ دی په شپه او ورځ کي چي څومره دده خوښه وي نفلي لمونځونه دي کوي ، په دې کي ډېر ثواب دی (۳) ، له مکروه وختو څخه دي کوم چي موږ په خپل ځای کي ذکر کړل پرهيز کوي .

س : دا حکم چي تاسي ذکر کړی د هغه نفلي لمونځو په هکله دی چي په ټولو حــالاتو او

---

(۱) يعني د آل عمران پوره آيت څرنګه چي د ابوداود په شرح بذل المجهود کي راغلي دي .

(۲) يعني په اول رکعت کي ئې ﴿ قولوا امنا بالله ﴾ د ايت تر پايه پوري وايه ، په بيهقي (۳-۴۳) کي په څرګنده توګه ذکر سوي دي چي تر ﴿ و نحن له مسلمون ﴾ پوري ئې وايه ، دغه رنګه ئې په دوهم رکعت کي د ال عمران پوره ايت يعني ﴿ قل يا أهل الكتاب تعالوا الى كلمة ﴾ وايه .

(۳) له ابوهريره ﷺ څخه روايت سوی دی چي ده ووېل چي ما له نبي ﷺ څخه واورېدل هغه ويل : د بنده له اعمالو څخه چي تر ټولو مخکي ئې له بنده سره حساب کيږي لمونځ دی ، که ئې لمونځ صحيح وو نو دی کامياب سو او که ئې لمونځ فاسد وو نو دی ناکام سو ، که ئې په فرضي لمونځو کي څه قدر کم وو الله ﷺ وايي وګورئ زما بنده کوم نفلي لمونځونه لري چي دده د فرضي لمونځو کمی په پوره سي ، له هغه څخه وروسته ئې نور عملونه پر دغه ډول وي ، ابوداود ئې روايت کړی دی .

زمانو کي اداء کیږي ، کوم نفلي لمونځونه چي په ځیني خاصو وختو کي اداء کیږي د هغو لپاره کوم خاص فضیلت نقل سوی دی ؟

ج : هو ، د شپې په آخر کي (۱) د نفلي لمانځه فضیلت راغلی دی ، هغه ته د تهجد لمونځ ویل کیږي او د ځاښت په وخت کي (۲) او د رمضان په شپو کي په خاصه توګه د قدر په شپه (۳) او وروسته تر اودس (٤) او مسجد ته د داخلېدو په وخت کي مخکي تر کښېنستلو (٥) او په هغه وخت کي چي چا ته یو مشکل پېښ سي (٦) ، دغه رنګه د

---

(۱) له ابو امامه ؓ څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ وویل : تاسي د شپې لمونځ کوئ ځکه دا له تاسو څخه مخکي صالحانو طریقه وه او دا تاسي خپل رب ته نژدې کوي او ګناوي رژوي او له ګناه څخه ژغورونکی دی ، ترمذي ئې روایت کړی دی .

(۲) له ابوهریره ؓ څخه روایت سوی دی چي رسول الله ﷺ وویل : څوك چي د ځاښت پر جفتو رکعاته په دائمي توګه ساتنه وکي ګناهونه ئې بخښل کیږي که څه هم دومره وي لکه د دریاب ځګ ، احمد ، ترمذي او ابن ماجه ئې روایت کړی دی لکه چي په " مشکاة المصابیح " کي ذکر سوي دي ، له معاذه ؓ څخه روایت سوی دی دې وویل ما له عائشې ؓ څخه پوښتنه وکړل : رسول الله ﷺ څو رکعاته د ځاښت لمونځ کوی ؟ هغې وویل : څلور رکعاته ، څومره چي به د الله ﷻ خوښه وه هغومره به ئې زیاتوی ، مسلم ئې روایت کړی دی ، عائشې ؓ اته رکعاته د ځاښت لمونځ کوی بیا ئې ویل : که ماته زما مور او پلار راژوندي سي هم ئې زه نه پرېږدم ، امام مالك ئې روایت کړی دی .

(۳) له ابوهریره ؓ څخه روایت سوی دی چي رسول الله ﷺ وویل : څوك چي د رمضان د میاشتې روژه د ایمان پر بنسټ او د ثواب په نیت ونیسي دده مخکني ګناهونه بخښل کیږي ، او څوك چي د ایمان پر بنسټ او د ثواب په نیت د رمضان لمونځ (تراویح) وکړي دده مخکني ګناهونه بخښل کیږي او څوك چي د قدر په شپه د ایمان پر بنسټ او د ثواب په نیت لمونځ وکړي دده مخکني ګناهونه بخښل کیږي ، بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی .

(٤) له ابوهریره ؓ څخه روایت سوی دی چي رسول الله ﷺ بلال ؓ ته د سهار د لمانځه په وخت کي وویل : ای بلال ما ته یاد کړه هغه عمل چي تا په اسلام کي کړی دی او ته ډېر امید ورته لرې ځکه چي ما په جنت کي زما په مخکي ستا د چوټو کښکې واورېدې ، هغه وویل : ما هیڅ عمل نه دی کړی چي زه هغه ته ډېر امید لرم مګر دا چي د شپې او ورځي په هیڅ وخت کي مي اودس نه دی کړی مګر په هغه اودس مي لمونځ کړی دی کوم چي ما ته لیکل سوی دی ، بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی .

(٥) له ابوقتاده ؓ څخه روایت سوی دی چي رسول الله ﷺ وویل : کله چي ستاسو څخه یو مسجد ته داخل سي مخکي له دې څخه چي کښېني دوه رکعاته لمونځ دي وکړي ، بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی .

توبې لمونځ (۷)، د حاجت لمونځ (۸) او داستخارې لمونځ (۹) په شريعت کي راغلي دي

س : څو رکعاته نفلي لمونځ به په يوه سلام سره کوي ؟

ج : په ورځ کي دده خوښه ده که دوه رکعاته نفلي لمونځ په يوه سلام کوي که څلور رکعاته ، پر دې زياتوالی مکروه دی . د شپې په هکله ابوحنيفه رح ويلي دي : که اته رکعاته په يوه سلام وکړي جائز دي پر دغه زياتوالی مکروه دی. ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي په شپه کي دي په يوه سلام سره تر دوه رکعاته زيات نه کوي .

د ص ٥٤ پاته حاشيې : (٦) له حذيفه ﷺ څخه روايت سوی دی ده وويل : کله چي نبي ﷺ ته به کوم مشکل پېښ سو لمونځ به ئې وکړی ، ابو داود ئې روايت کړی دی .

(۷) له علي ﷺ څخه روايت سوی دی چي ما ته ابوبکر وويل او ابوبکر رښتيا ويلي دي هغه وويل ما د نبي ﷺ څخه واورېدل چي ويل ئې : هيڅ سړی نسته چي يو ګناه وکړي بيا ولاړ سي اودس وکړي بيا لمونځ وکړي بيا د الله ﷻ څخه بخښن وغواړي مګر الله ﷻ بخښن ورته ونه کړي . ابن ماجه ئې روايت کړی دی .

(۸) د عبدالله بن ابي اوفی ﷺ څخه روايت سوی دی چي رسول الله ﷺ وويل : څوک چي الله ﷻ ته يا يو انسان ته کوم حاجت لري اودس دي وکړي ، په ښه ډول دي اودس وکړي بيا دي دوه رکعاته لمونځ وکړي بيا دي د الله ﷻ ثناء ووايي بيا دي پر نبي ﷺ درود ووايي بيا دي ووايي : لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ أَسْـأَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَ عَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَ الْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَ السَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْباً إِلَّا غَفَرْتَهُ وَ لَا هَمّاً إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَ لَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضاً إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ . ترمذي او ابن ماجه ئې روايت کړی دی .

(۹) له جابر ﷺ څخه روايت سوی دی چي رسول الله ﷺ موږ ته په ټولو کارو کي استخاره داسي راښوول لکه چي د قران کريم يو سورت چي به ئې راوښوی هغه ﷺ ويل : کله چي په تاسو کي يو د يو کار اراده وکړي د فرضي لمانځه پرته دي دوه رکعاته لمونځ وکړی بيا دي ووايي : " اَللَّهُمَّ إِنِّيْ اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَ اَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَ أَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَ لَا أَقْدِرُ وَ تَعْلَمُ وَ لَا أَعْلَمُ وَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ اَللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَ مَعَاشِيْ وَ عَاقِبَةِ أَمْرِيْ (يا دي داسي ووايي : عَاجِلِ أَمْرِيْ وَ أَجِلِه) فَاقْدِرْهُ لِيْ وَ يَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَ مَعَاشِيْ وَ عَاقِبَةِ أَمْرِيْ (يا دي داسي ووايي : عَاجِلِ أَمْرِيْ وَ أَجِلِه) فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَ اصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَ اقْدِرْ لِيْ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِيْ بِهِ " ده وويل : او خپل حاجت دي يادوي (يعني ددغه قول " هذا الامر " پر ځای ، بخاري ئې روايت کړی دی .

س : که څوك په نفلي لمانځه شروع وکي وروسته ئې فاسد کړي په هغه کي تاسي څه وایاست ؟
ج : پر ده لازمه ده چي قضاء ئې راوړي ځکه نفل په شروع کولو سره لازمیږي .
س : که ئې څلور رکعاته وکړل او پر اولو دوو رکعاتو کښېنستی بیا ئې آخر دوه رکعاته فاسد کړل د څو رکعاتو قضاء به راوړي ؟
ج : د دوو رکعاتو قضاء به رواړي ځکه اول جفت مکمل سو ، ابویوسف رح ویلي دي : د څلورو رکعاتو قضاء به راوړي .
س : که ئې نفلي لمونځ په ناستي وکی او پر ولاړه ئې قدرت درلودی دا صحیح کیږي ؟
ج : هو ، دا صحیح کیږي مګر ثواب ئې نیمی دی .
س : که ئې نفلي لمونځ په ولاړي شروع کی بیا کښېنستی په دې کي تاسي څه وایاست ؟
ج : دابوحنیفه رح په نزد جائز دی ، دده ملګرو ویلي دي بېله عذر څخه نه صحیح کیږي .
س : دا روا دی چي پر خپل حیوان سپور وي نفل وکړي ؟
ج : هو دا روا ده چي پر حیوان سپور وي نفلي لمونځ وکي هر لوري ته چي ئې مخ وي او په اشاره سره دي ئې کوي ، دا په هغه حال کي جائز دی چي له ښار څخه وتلی وي .

د قضاء سوو لمونځو اداء کول

س : که د یو چا څخه لمونځ قضاء سي کله به ئې قضاء راوړي ؟
ج : کله چي ئې په یاد سي قضاء به ئې راوړي مګر په هغو درو وختو کي به ئې نهٔ کوي له کومو څخه چي منع سوې ده .
س : که له یو چا څخه ډېر لمونځونه قضاء سي څرنګه به ئې قضاء راوړي ؟
ج : څرنګه چي په اصل کي د لمونځو ترتیب وو قضاء به ئې هم په هغه ترتیب راوړي ، دا پر هغه چا واجب دی چي ترتیب والا وي .
س : ترتیب والا څه معنی ؟
ج : که له چا څخه له شپږو لمونځو څخه کم لمونځونه قضاء سي هغه د فقه د علماوو په اصطلاح کي ترتیب والا دی ، پر ترتیب والا د وختي لمونځ (د هغه وخت لمونځ په کوم وخت کي چي دی وي) په اداء کولو او د قضاء سوي لمانځه په قضاء راوړلو کي ترتیب واجب دی . د قضاء سوو لمونځو قضاء به په ترتیب سره راوړي او وختي لمونځ به پر هغو نه مخکي کوي ، که ئې سره واړول دهغو لمونځو بیرته کول پر لازم دي . ددې لپاره

مور ېو مثال بيانوو : که يو سړی ترتيب والا وو د ماپښين د لمانځه څخه مخکي ئې د ماخذيګر د لمانځه قضاء راوړل ، پر ده واجبه ده چي د ماپښين لمونځ به کوي بيا به د ماخذيګر لمونځ بيرته راګرځوي ، دا د قضاء سوو لمونځو په منځ کي ، د قضاء سوي او وختي لمانځه په منځ کي مثال دادی چي يو سړی ترتيب والا وي د ماپښين په وخت کي ئې قضاء سوی لمونځ په ياد سي او د ماپښين لمونځ د قضاء سوي لمانځه څخه مخکي وکي پر ده واجبه ده چي اول قضاء سوی لمونځ وکي بيا د ماپښين لمونځ بيرته راوګرځوي

س : د وتر او فرضي لمانځه په منځ کي ترتيب واجب دی ؟

ج : هو ، هغه واجب دی ، که ئې د ماخستن له لمانځه څخه مخکي وتر وکړل د ماخستن د لمانځه اداء کولو څخه وروسته بيرته د وتر لمانځه راګرځول پر واجب دي او که يو ثوك وتر ونه کي او بيده سي تر څو چي سپېدې راوخېژي پر ده واجبه ده چي اول د وتر لمانځه قضاء راوړي بيا د سهار لمونځ اداء کړي ، که ئې سره واړول د سهار د لمانځه بيرته راګرځول پر لازم دي .

س : په ځيني وختو کي ترتيب ساقطيږي ؟

ج : هو ، په يوه د درو شيانو ترتيب ساقطيږي :

١ : چي د وتر لمانځه څخه پرته قضاء سوي لمونځونه شپږ سي (١) .

٢ : چي قضاء سوی لمونځ ئې هېر سي .

٣ : چي وخت تنګک سي .

کله چي قضاء سوي لمونځونه شپږ سي هر لمونځ چي دده خوښ وي مخکي کول

(١) په " الدر المختار " (١-٤٨٨) ذکر سوي دي : که وخت تنګک سي يا ئې قضاء سوی لمونځ هېر سي نو ترتيب نه دی لازم ځکه دا عذر دی ، يا شپږ اعتقادي لمونځونه ځني قضاء سول ځکه د تکرار په اندازه کي سول چي په هغه سره تکليف پيداکيږي ، ابن عابدين په خپل حاشيه کي ويلي دي : دا قول (اعتقادي) په دې سره عملي فرض ووتی چي هغه وتر لمونځ دی ځکه چي د هغه او نورو لمونځو په منځ که څه هم ترتيب فرض دی مګر هغه د نورو لمونځو سره نه حسابل کيږي ځکه په هغه سره ډېروالی نه پيداکيږي کوم چي د ترتيب د ساقطېدلو سبب دی ځکه په هغه سره د يوې شپې او ورځي وظيفه پوره کيږي ، ډېروالی هغه وخت پيداکيږي چي د وختو په حيث يا د ساعتو په حيث لمونځونه تر هغه زيات سي او وتر په دې کي مداخله نه لري اه .

ئې ورته جائز دي ، دغه رنګه ورته رواده چې وختي لمونځ اداء کړي سره له دې چې قضاء سوي لمونځونه ئې په ياد وي که ئې قضاء سوی لمونځ هېر وو وختي لمونځ ئې په خپل وخت کي وکی وروسته ئې قضاء سوی لمونځ په ياد سو وختي لمونځ ئې صحيح دی راګرځول ئې پر واجب نه دي ، که تر لمر ختلو لږ مخکي راکښېنستی او دده په ياد وه چې د ماخستن لمونځ يا وتر لمونځ ځني قضاء سوی دی د سهار لمونځ دي وکړي او د ماخستن لمونځ دي يا وتر لمونځ تر لمر راپورته کېدلو وروسته وکي ، د سهار د لمانځه قضاء راوړل پر واجب نه دي ځکه د وخت د تنګوالي له کبله ترتيب ساقط سو .

د لمانځه مفسدات

س : هغه کارونه يا قولونه بيان کړئ کوم چي لمونځ فاسدوي .

ج : کارونه په لاندي ډول دي :

١ : خورك او چښښګ که څه هم په هېره سره وي .

٢ : ډېر کار .

٣ : د لمانځه په منځ په قصد سره ځان بې اودسه کول .

٤ : درې ګامه يا زيات پرله پسې تګ کول .

٥ : سينه له قبلې څخه ګرځول .

٦ : بې هوښي .

٧ : ليونتوب .

٨ : په کتلو يا احتلام (شيطان خطايستل) سره جنب کېدل .

٩ : د داسي ښځي سره پر بغل کېدل چي اشتهاء ورته کېږي په مطلق لمانځه کي چي دوی په تکبير تحريمه کي سره شريك وي او په يوه ځای کي وي او په منځ کي ئې پرده نه وي .

١٠ : د عورت د لڅوالي په حالت کي يا د داسي نجاست سره چي لمونځ نه ورسره صحيح کېږي د يوه رکن اداء کول .

١١ : په دومره اندازه خندل چي دی ئي اوري .

او قولونه چي لمونځ فاسدوي په لاندي ډول دي :

١ : خبري که څه هم يوه کلمه وي که په قصد سره وي که په هېره که په خطا .

۲ : يو چا ته سلام ويل .
۳ : په ژبه د سلام جواب ورکول .
٤ : اف ويل .
٥ : زګېروی کول .
٦ : اوه کول .
۷ : د درد يا مصيبت له کبله په زوره ژړل نه د جنت يا دوږخ له ذکر څخه .
۸ : نرږي کونکي ته : يرحمك الله ويل .
۹ : د الله ﷻ د شريك په هکله سوال کونکي ته په لاإله إلا الله جواب ورکول (۱) .
۱۰ : د غم د خبر راتلو په وخت کي استرجاع ويل (۲) .
۱۱ : د خوشحالۍ د خبر رسېدو په وخت کي الحمد لله ويل .
۱۲ : د يو شي په هکله د لا اله الا الله يا سبحان الله په ويلو تعجب ښکاره کول .
۱۳ : هره کلمه چي په هغه سره مقصد جواب يا د يو چا سره خبره وي لکه چي يو چا ته ووايي ﴿ يا يحيى خذ الكتاب بقوة ﴾ .
۱٤ : پرته له خپل امام څخه بل چا ته فتح ورکول .
۱٥ : په قرائت يا تکبيرو کي دومره لحن (په تلفظ کي غلطي) چي معنی فاسدوي لکه چي په تکبير کي همزه ته مد ورکړي (۳) .

دوولس اختلافي مسئلې

۱ : که تيمم کونکي په لمانځه کي اوبه وليدلې او د هغه پر استعمال ئې قدرت درلودی .
۲ : يا ئې پر موزو مسح کړې وه او د مسح مده ئې ختمه سول .
۳ : يا ئې په لږ عمل سره موزې وکښلې .

(۱) يعني که يو سړی د لمونځ کونکي څخه داسي پوښتنه وکړي : آيا د الله ﷻ سره شريك سته ؟ دی په ﴿ لا إله إلا الله ﴾ سره جواب ورکړي لمونځ ئې فاسدېږي ځکه دغه کلمه ده د جواب په توګه ورته وويل .
(۲) يعني يو چا ته د غم خبر ورسيږي دی استرجاع ووايي يعني ﴿ إنا لله و إنا إليه راجعون ﴾ ووايي لمونځ ئې فاسديږي .
(۳) يعني د کلمې په سر کي همزه ته مد ورکول ځکه چي په هغه سره د استفهام همزه پيداکيږي .

٤ : يا امي (هغه څوك چي قرائت ئې له سره نه وي زده) وي يو آيت زده کړي .
٥ : يا لڅ وي کالی پيدا کي .
٦ : يا اشاره کونکی وي پر رکوع او سجده قدرت پيدا کړي .
٧ : يا ئې په ياد سول چي تر هغه لمانځه مخکي چي دی ئې کوي پر ده بل قضائي لمونځ سته او دی ترتيب والا وو .
٨ : يا قارئ امام (چي قرائت ئې زده وي) بې اودسه سو او امي ئې خليفه کړی .
٩ : يا د سهار په لمانځه کي لمر راوختی .
١٠ : يا د جمعې په لمانځه کي د ماځدیګر وخت داخل سو .
١١ : يا ئې پر سکنده مسح کړې وه د جوړ والي له کبله ولوېدل .
١٢: يا ښځه مستحاضه وه وينې ئې ختمي سوې .
د ابوحنيفه رح په قول کي که څه هم دغه شيان هغه وخت پېښ سي چي په اخره ناسته کي د يوه تشهد په قدر کښېنستلی وي لمونځ ئې فاسديږي . ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي که د لمانځه په آخرکي د يوه تشهد په قدر کښېنستلی وي لمونځ ئې صحيح دی .

د لمانځه مکروهات

س : هغه کارونه بيان کړئ چي په لمانځه کي منع سوي دي او کول ئې په لمانځه کي مکروه دي .
ج : لمونځ کونکي ته راتلونکي شيان مکروه دي :
١ : په کالي يا بدن لوبې کول .
٢ : شګي اړول مګر که ئې سجده نه سواى پر کولاى نو يو وار به ئې برابروي .
٣ : په ګوتو تکان کول يا ګوتي يو په بل کي داخلول .
٤ : پر بغل لاس ايښول .
٥ : کالی داسي پر ځان اچول چي راځړېږي يا کالی راټولول .
٦ : وربښتان پر سر باندي غوټه کول .
٧ : ښی او چپ لوري ته په داسي ډول کتل چي غاړه ورسره وګرځوي .
٨ : د سپي په شان په لمانځه کي کښېنستل (پر کناټو کښېنستل) .
٩ : بازوګان په سجده کي غوړول .

۱۰ : په لاس سره د سلام جواب ورکول (۱) .
۱۱ : بېله عذره تربع (پر پښو کښېنستل او څنګونه ښي او چپ لوري ته کول) .
۱۲ : په لمانځه کي له تندي او پزي څخه خاوري پاکول .
۱۳ : په خوله کي داسي شی نیول چي له قرائت څخه ئې منع کوي .
۱٤ : هر هغه شی چي زړه ئې په مشغوله کیږي او خشوع ته ئې ضرر رسوي .

جماعت او امامت

س : په سپېڅلي شریعت کي د جماعت ثواب او مرتبه بیان کړئ .
ج : جماعت د سړیانو لپاره سنت موکد دی او ثواب ئې ډېر دی ځکه نبي ﷺ ویلي دي : د جماعت لمونځ له یوازي لمانځه (۲) څخه اوه ویشت ځله زیات ثواب لري ، بخاري او مسلم ئې له ابن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی ، او د ابو الدرداء ﷺ څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ وویل : په کلي یا په صحراء کي داسي درې نفره نسته چي لمونځ په جماعت سره نه په کښي اداء کیږي مګر شیطان پر غالبه کیږي نو ته د جماعت سره لازم اوسه ځکه چي شرمښ هغه پسه خوري چي له رمې څخه لیري وي ، احمد ، ابو داود او نسائې ئې روایت کړی دی ، او د ابوهریره ﷺ څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ وویل : په هغه ذات قسم چي زما نفس د هغه په لاس کي دی زما زړه غواړي چي لرګي راوغواړم بیا په لمانځه امر وکړم چي د هغه لپاره اذان وسي بیا یو سړی امر کړم چي خلګو ته لمونځ ورکړي وروسته زه هغو خلګو ته ورسم کورونه ئې وروسوځم (۳) .
س : څوك په امامت سره حقداره دی ؟
ج : په امامت سره تر ټولو حقداره هغه څوك دی چي په سنت او د شریعت په مسائلو په خاصه توګه د لمانځه په مسائلو ډېر خبر وي ، دا د ابوحنیفه رح په نزد ، ابویوسف رح ویلي دي : په امامت سره حقداره هغه څوك دی چي د کتاب الله ښه قارئ وي ، که په هغه کي سره برابر وه بیا هغه څوك دی چي ډېر پرهېز ګاره وي ، که په هغه کي سره برابر

---

(۱) که ئې په ژبه د سلام جواب ورکړی لمونځ ئې فاسدیږي .
(۲) یعني چي یو سړي لمونځ کوي .
(۳) بخاري ئې روایت کړی دی ، معنی ئې داده چي هغو کسانو ته ورسم چي لمانځه ته نه وي راوتلي کورونه ئې وروسوځم .

وه بيا هغه څوك دی چي په دوی كي مشر وي .

س : په خلكو كي داسي څوك سته چي اقتداء پسي مكروه وي ؟

ج : هو ، په مريې ، صحرايي ، فاسق ، ړانده (كه ئې په پاكي كي احتياط نه كوی) او ولد زنا پسي اقتداء مكروه ده ، سره له هغه كه دوی مخكي سول لمونځ پسي جائز دی .

س : ښځي ددې لپاره چي په جماعت لمونځ وكړي مسجدو ته حاضرېدلای سي ؟

ج :د دوی لپاره د جماعت د لمانځه لپاره حاضرېدل مكروه دي ، كورونه د دوی لپاره ښه دي ، كه زړه ښځه په سهار ، ماښام او ماخستن كي مسجد ته حاضره سي او خپل زينت ئې نه وي ښكاره كړی په نزد د ابو حنيفه رح ورته رواته ده ، ابو يوسف رح او محمدرح ويلي دي : په ټولو لمونځو كي ورته رواده .

س : د ښځو په جماعت كي تاسي څه واياست ؟

ج : د ښځو لپاره جماعت مكروه دی ، كه ئې جماعت كوی امام دي ئې په منځ كي ودرېږي لكه لڅ كسان چي جماعت كوي امام ئې په منځ كي درېږي .

س : كه د امام سره يوازي يو مقتدي وو چيري به ئې دروي ؟

ج : خپل ښی بغل ته دي ئې دروي كه تر يوه زيات وه دی دي د هغو په مخ كي درېږي .

س : كه يوه ښځه په يوه سړي پسي لمونځ كوي چيري به ئې دروي ؟

ج : خپل شا ته به ئې دروي .

س : كه په مقتديانو كي سړيان ، ښځي او هلكان وه صفونه څرنګه مرتب كېږي ؟

ج : د امام تر شا اول سړيان صف كېږي بيا هلكان بيا نر ښځيان بيا ښځي .

س : په امام پسي د اقتداء احكام بيان كړئ .

ج : د هغه تفصيل په راتلونكي ډول دی :

۱ : د فرض لمونځ كونكي په فرض لمونځ كونكي پسي اقتداء جائز ده كه دواړو يو لمونځ كوی . كه سره جلا وه لكه چي يو د ماپښين لمونځ كوي بل د ماځديګر لمونځ كوي يا يو د نن ورځي د ماپښين لمونځ كوي بل د تيري ورځي د ماپښين لمونځ كوي اقتداء ئې نه صحيح كېږي .

۲ : تيمم كونكی د اودس كونكو لپاره امام كېدلای سي .

۳ : دغه رنګه پر موزو مسح كونكی دپښو پرېمنځونكو لپاره امام كېدای سي .

٤ : د ولاړ لمونځ په هغه چا پسي چي د ناروغۍ له کبله په ناستي لمونځ کوي جائز دی .
٥ : څوك چي رکوع او سجده کوي په هغه چا پسي دي لمونځ نه کوي چي په اشاره ئې کوي .
٦ : نفل کونکی دي په فرض کونکي پسي لمونځ کوي .
٧ : د دې سر چپه جائز نه دی .
٨ : څوك چي معذور نه وي په معذور پسي دي لمونځ نه کوي د مثال په توګه د يو سړي بولي جاري وي يا ئې باد جاري وي يا ئې داسي تپ وي چيويني ئې نه دريږي جوړ په حقيقت سره پاك سړی دي په ده پسي لمونځ نه کوي .
٩ : پاکه ښځه دي په مستحاضې ښځې پسي لمونځ نه کوي .
١٠ : قارئ (څوك چي د قران کريم يو آيت ويلای سي) دي په امي (څوك چي فرضي قرائت نه سي ويلای) پسي لمونځ نه کوي .
١١ : پټ دي په لڅ پسي لمونځ نه کوي .

س : څوك چي په يو امام پسي لمونځ وکي وروسته خبر سي چي امام ئې بې اودسه وو څه به کوي ؟

ج : لمونځ به راګرځوي .

فرضي لمونځ نيول (١)

س : که ئې په يوازي توګه د ماپښين يا ماخستن يو رکعت وکی او سجده ئې وکړه وروسته د جماعت د لمانځه اقامت وسو (٢) څه به کوي ؟

ج : بل رکعت دي ورسره يوځای کي بيا دي سلام وګرځوي او د امام سره دي په جماعت کي داخل سي (٣) .

---

(١) قدوري دغه مسئلې نه دي ذکر کړي ، ما د "فتح القدير" او " الفتاوی الهندية " څخه راواخستلې دلته مي زياتي کړې .

(٢) له اقامت څخه مراد د امام په لمانځه کي شروع ده نه ده موذن اقامت ، نو که موذن په اقامت شروع وکړه او سړي د اول رکعت سجده نه وه کړې ببله اختلاف څخه زموږ د ملګرو دي دوه رکعاته پوره کړي دغه رنګه په " النهاية" کي راغلي دي " الفتاوی الهندية ١-١١٩ " وګوره .

س : که ئې د اول رکعت سجده نه وه کړې ؟
ج : هغه لمونځ دي پرېږدي او دامام سره دي شروع وکي .
س : که ئې د ماپښین یا ماخستن درې رکعاته کړي وه او د دریم رکعت سجده ئې کړې وه وروسته د لمانځه اقامت وسو د هغه څه حکم دی ؟
ج : خپل لمونځ دي پوره کوي بیا دي په امام پسې د نفلي لمونځ اقتداء کوي .
س : که ئې د دریم رکعت سجده نه وه کړې ؟
ج : هغه لمونځ دي پرېږدي او دامام سره دي په لمانځه کي داخل سي .
س : څرنګه به هغه پرېږدي؟
ج : ده لره اختیار سته که کښېني او یو سلام ګرځوي که په ولاړي تکبیر وایي او د امام د لمانځه د داخلېدو نیت کوي ، په دې سره دواړه کاره کېږي یعني کوم لمونځ چي دی ئې کوي د هغه پرېښول او د امام په لمانځه کي داخلېدل .
س : د څلور رکعتیز لمونځو څخه د ماخدیګر د لمانځه حکم پاته سو هغه بیان کړئ .
ج : په هغه صورت کي چي د ماخدیګر په لمانځه کي ئې یو رکعت یا درې رکعاته یوازي کړي وي دهغه په پرېښولو او پوره کولو کي هغه حکم دی چي د ماپښین او ماخستن په لمانځه کي مو ذکر کړی مګر دلته دي تر څلورو رکعاتو پوره کولو وروسته د امام سره نه داخلیږي ځکه د ماخدیګر تر لمانځه وروسته نفل مکروه دي .
س : که ئې د سهار یا ماښام د فرضي لمانځه څخه په یوازي توګه یو یا دوه رکعاته وکړل وروسته د لمانځه اقامت وسو څه به کوي ؟
ج : که ئې د ماښام یا ماخستن له لمانځه څخه یو رکعت کړی وي او د جماعت اقامت وسو که ئې سجده کړې وي که نه هغه لمونځ به پرېږدي ، که ئې د دوهم رکعت سجده نه وي کړې هم به ئې پرېږدي او په درو سره صورتو کي به د امام په لمانځه کي داخلیږي ، که ئې د دوهم رکعت سجده کړې وه هغه دي پوره کي نه دي ئې پرېږدي .
س : چي لمونځ پوره کي د امام په لمانځه کي به داخلیږي ؟

د ص ٦٣ پاته برخه : (٣) له دې څخه دا حکم څرګند سو که یو سړی د ماپښین یا ماخدیګر په لمانځه کي بر دوه رکعاته ناست وو تشهد ئې ویل د لمانځه اقامت وسو تر دغه تشهد وروسته دي سلام ګرځوي او د امام سره دي په جماعت کي داخلیږي .

ج : په دغو صورتو كي به د امام په لمانځه كي نه داخليږي (١).

س : كه يو سړي د ماپښين يا جمعې له لمانځه څخه مخكي په سنتو شروع وكړل وروسته د لمانځه اقامت يا خطبه شروع سول څه به كوي ؟

ج : پر دوه ركعاته دي سلام گرځوي بيا دي په ماپښين كي د امام په لمانځه كي داخليږي او په جمعه كي دي خطبې ته غوږ نيسي (٢) .

س : كه ئې په نفلي لمانځه شروع كړې وه او د لمانځه اقامت وسو څه حكم ئې دى ؟

ج : كه ئې په نفلي لمانځه شروع وكړه وروسته د فرضي لمانځه اقامت وسو هغه جفت دي پوره كي كوم چي دى په كښي دى او پر هغه دي زياتوالى نه كوي .

س : كه يو سړى امام ته د سهار په لمانځه كي وررسېدى او د سهار دوه ركعاته سنت ئې نه وه كړي څه به كوي ؟

ج : كه ئې دا گمان وو چي يو ركعت څني تېرېږي او يو ركعت نيولاى سي د مسجد په دروازه كي دي د سهار دوه ركعاته سنت وكړي بيا دي د امام په لمانځه كي داخل سي او كه له دې څخه ببرېدى چي دواړه ركعاته څني تېرېږي سنت دي پرېږدي او د امام سره دي داخل سي (٣) .

---

(١) د "الكنز" مصنف ويلي دي : كه ئې د سهار يا ماښام يو ركعت وكى او اقامت وسو پرېږدي دي ئې او اقتداء دي كوي ، د "البحر" مصنف ويلي دي : ځكه كه بل ركعت ورسره يو ځاى كي جماعت څني تېرېږي ، ځكه چي د سهار په لمانځه كي په حقيقت كي او د ماښام په لمانځه كي تقريباً فارغه سوى دى ځكه اكثر د ټوله حكم لري ، دده په خبره كي هغه صورت هم داخل دى چي دوهم ركعت ته ولاړ سوى وى او سجده ئې نه وي كړې ركوع ئې كړې وي نه هغه صورت چي د دوهم ركعت سجده ئې كړې وي ځكه هغه به نه پرېږدي پوره كوي به ئې او د امام سره به شروع نه كوي " الكنز" سره د" البحر ١-٧٧ " وگوره.

(٢) په " الهداية " كي ئې ويلي دي : له ابويوسف رح څخه د دغه روايت سوى دى او داسي هم ويل سوي دي : پوره كوي دي ئې اه . ابن الهمام په " فتح القدير" كي ويلي دي اول قول (پر دوو ركعاتو سلام گرځول) زيات مناسب دى ځكه تر فرضي لمانځه وروسته ئې قضاء راوړلاى سي او پر دوو ركعاتو سلام ني لمونځ نه باطلوي نو ببله وجهي بايد د خطبې اورېدل او په كامله توگه اداء كول نه پرېږدي اه .

(٣) دغه رنگه په " الهداية " كي راغلي دي ، او د " كفايې " مصنف ويلي دي : په كتاب كي دا خبره نه ده ذكر سوې كه ئې د آخري ناستي نيولو اميد وو څه به كوي ، كومه خبره چي له كتاب څخه ښكاره كيږي هغه پر دې ښوونه كوي چي دامام سره به داخليږي فقيه ابوجعـفـر رح ويلي دي د ابـوحنيفه رح او

س : که له يو چا څخه د سهار لمونځ قضاء سي او تر لمر ختلو وروسته ئي قضاء راوړي د فرضي لمانځه سره به د سنتو قضاء هم راوړي که به په فرضي سره کفايت کوي ؟

ج : که ئې په هغه ورځ له زوال څخه مخکي قضاء راوړل نو د فرض په تبع کي به د سنتو قضاء هم راوړي ، که لمر زوال وکی بيا به يوازي د فرضي لمانځه قضاء راوړي (۱) .

س : که ئې د سهار فرض په خپل وخت کي وکړل او د سهار دوه رکعاته سنت ئې ځکه نه وکړل چي د امام سره داخل سو يا وخت تنګ وو د سنتو قضاء به کله راوړي ؟

ج : د إبوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد به ئې په دغه صورت کي نه تر لمر راختلو مخکي نه وروسته قضاء راوړي ، محمدرح ويلي دي زما خوښه ده چي تر لمر راختلو وروسته تر زوال مخکي ئې قضاء راوړي .

س : که د ماپښين تر فرضو مخکي سنت ځني پاته سول کله به ئې قضاء راوړي ؟

ج : د ماپښين تر لمانځه وروسته په داغه وخت کي به ئې قضاء راوړي ، که وخت ووتی قضاء ئې نسته .

س : که ئې د ماپښين تر فرضي لمانځه وروسته د مخکني سنتو قضاء راوړل دغه څلور رکعاته به مخکي کوي که هغه دوه رکعاته چي تر فرضو وروسته اداء کيږي ؟

ج : وروستني سنت به مخکي کوي ، اول به هغه کوي بيا به هغه څلور رکعاته کوي چي تر فرضي لمانځه مخکي ځني پاته سوي دي (۲) .

دص ٦٥ پاته برخه : ابويوسف رح پر قول به دوه رکعاته سنت کوي ځکه د دوی په نزد د تشهد نيول دامي دي لکه د رکعت نيول اه . بيا پوه سه چي د " هدايې " مصنف ويلي دي د د مسجد د دروازي لفظ پر دې ښوونه کوي چي که امام په لمانځه کي وو په مسجد کي مکروه دي اه ، ابن الهمام ويلي دي تر ټولو سخت مکروه لکه چي دېر جاهلان ئې کوي دادی چي په صف کي ئې وکي اه .

(۱) د "هدايې" مصنف ويلي دي په وروسته کي تر زوال د مشايخو اختلاف دی اه. د " عنايې " مصنف ويلي دي يعني د ماوراء النهر مشايخ خينو ويلي دي د سنتو په تبع کي دي ئې قضاء راوړي مستقل دي ئې قضاء نه راوړي ، خينو ويلي دي : په هيڅ حال کي دي ئې قضاء نه راوړي د " کفايې " مصنف له " المحيط " څخه نقل کړی دی چي تر زوال وروسته دي د سنتو قضاء نه راوړي که څه هم ئې د فرضي لمانځه سره پر اينبي وي ، اختلاف ئې نه دی ذکر کړی .

(۲) په دغه کي اختلاف دی د " الکنز " مصنف ويلي دي هغه سنت چي د ماپښين ترفرضو مخکي دي په خپل وخت کي تر دوو رکعاتو مخکي کيږي ، شيخ ابن الهمام په " فتح القدير " کي ويلي دي : د دوو

س : که له چا څخه د جمعې مخکني سنت پاته سي د جمعې تر لمانځه وروسته به ئې قضاء راوړي ؟

ج : هو تر هغه وروسته به ئې قضاء راوړي حکم ئې د ماپښين د لمانځه په شان دی (۱) .

په لمانځه کي بې اودسي

س : که لمونځ کونکي ته د لمانځه په منځ کي بې اودسي پيښه سي څه به کوي ؟

ج : له لمانځه څخه دي ولاړ سي اودس دي وکي او مخکنی لمونځ دي پوره کي ، له سره راګرځول افضل دي .

س : که امام وو د لمونځ کونکو سره به څه کوي ؟

ج : که امام وو يو مقتدي به خليفه کوي ، هغه به پاته لمونځ دوی ته ورپوره کوي .

س : که خليفه مسبوق وو (څوک چي د لمانځه سر ځني تېر سوی وی) ؟

ج : هغه دي مقتديانو ته پاته لمونځ ورپوره کي بيا دي يو مدرك (څوک چي د امام سره ئې لمونځ له سره نيولی وي) خليفه کي ، هغه دي په دوی سلام وګرځوي .

س : که لمونځ کونکی په آخره ناسته کي د تشهد په قدر کښېنستی وروسته بې اودسه سو څه به کوي ؟

ج : له لمانځه څخه دي ولاړ سي اودس دي وکي او سلام دي وګرځوي .

س : که ئې تر بې اودسي وروسته خبري وکړي څه حکم ئې دی ؟

ج : لمونځ ئې فاسدېږي او د هغه لمانځه پوره کول ورته جائز نه دي که ئې په قصد خبري کړي وي که په هېره که په خطا سره .

س : که دغه لمونځ کونکي د اودس ځای ته د تنګ ضرورت وو يا د هغه لپاره له قبلې څخه وګرځېدی لمونځ ئې نه فاسدېږي ؟

ج : دا ده ته عفو دی لمونځ ئې په دې سره نه فاسدېږي که څه هم درې ګامه يا زيات ئې تنګ کړی وي .

د ص ٦٦ حاشيه : رکعاتو مخکي کول اولی دي ځکه چي څلور رکعاته له خپل سنت وخت څخه پاته سول نو دغه دوه رکعاته بايد په قصد سره بېله ضرورته له خپل ځای څخه پاته نه سي اه .

(۱) د " البحر " مصنف د ماپښين د سنتو تر ذکر وروسته ويلي دي : څرنګه چي ښکاره خبره ده د جمعې تر لمانځه مخکي څلور رکعاته داسي دي لکه د ماپښين تر لمانځه مخکي څلور رکعاته اه .

س : كه لمونځ كونكي ته جنابت پېښ سو لمونځ پوره كول ورته جائز دي ؟

ج : څوك چي په لمانځه كي بيده سي احتلام ورته پېښ سي يا لېونی سي يا بېهوښه سي يا په زوره وخاندي لمونځ ئې فاسديږي ، د هغه لمانځه پوره كول ورته جائز نه دي نو په اول صورت كي تر غسل وروسته او په نورو درو صورتو كي تر اودس وروسته به لمونځ له سره راګرځوي .

د سهو سجده

س : كه لمونځ كونكی په لمانځه كي سهو سي څه به كوي ؟

ج : كه لمونځ كونكی په لمانځه كي سهو سي د لمانځه له جنس څخه يو كار زيات كي د مثال په توګه ركوع مكرره كي يا يو ركعت زيات كي يا يو واجب كار پرېږدي لكه چي سورة الفاتحة يا ترهغه وروسته سورت يا اوله ناسته يا يوه تشهده يا په وتر كي قنوت يا د اخترو تكبيرونه پرېږدي يا امام په سري لمانځه كي په زوره قرائت ووايي يا په جهري لمانځه كي كرارقرائت ووايي د سهو لپاره دي ترآخري تشهدي وروسته دوې سجدې كوي بيا دي سلام ګرځوي بيا دي دوهم ځل تشهده وايي بيا دي سلام ګرځوي (١) .

س : كه امام سهو سي پر مقتديانو د سهو سجده واجبه ده ؟

ج : كه امام سهو سي پر امام او مقتدي دواړو د سهو سجده واجبيږي .

س : كه امام د سهو سجده نه وكړل مقتدي به څه كوي ؟

ج : كه امام د سهو سجده نه وكړل مقتدي به ئې هم نه كوي .

س : كه مقتدي سهو سي د سهو سجده پر لازميږي ؟

ج : نه پر ده د سهو سجده لازميږي نه پر امام .

س : كه څوك په څلور ركعتيز يا درې ركعتيز لمانځه كي له اولي ناستي څخه سهو سي وروسته ئې په يادسي څه به كوي ؟

ج : ودي ګوري كه ناستي ته نژدې ووكښېني دي تشهد دي وايي او پاته لمونځ دي پوره كوي ، د سهو سجده نه ده پر لازمه ،كه ولاړي ته نژدې وو نه دي راګرځي خپل لمونځ دي پوره كي ، تر دوهمي تشهدي وروسته دي د سهو سجده وكي او سلام دي وګرځوي .

---

(١) مختار قول دادی چي پر نبي ﷺ درود او دعاء دي په آخري ناسته كي وايي اوداسي ويل سوي دي احتياطاً دي ئې په دواړو كي وايي .

س : كه له آخري ناستي څخه سهو سي څه به كوي ؟
ج : كه په څلور ركعتيز لمانځه كي له آخري ناستي څخه سهو سي پنځم ركعت ته ولاړ سي تر څو چي سجده ئې نه وي كړې ناستي ته دي راوګرځي ، پنځم ركعت دي پرېږدي او د سهو سجده دي وكي .
س : كه ئې د پنځم ركعت سجده كړې وي څه به كوي ؟
ج : په دغه صورت كي ئې فرضي لمونځ باطل سو ځكه فرض كار ئې چي آخري ناسته ده پرېښوى او لمونځ ئې نفل سو شپږم ركعت دي ورسره يو ځاى كي (١) .
فائده : پر دغه ئې قياس كه كه په دوه ركعتيز يا درې ركعتيز لمانځه كي له اخري ناستي څخه سهو سي .
س : كه په څلرم ركعت كي كښېنستى تشهده ئې وويل وروسته په دې ګمان چي دوهم ركعت دى ولاړ سو ، وروسته ئې په ياد سول څه به كوي ؟
ج : تر څو چي د پنځم ركعت سجده ئې نه وي كړي بيرته دي ناستي ته راوګرځي ، د سهو سجده دي وكي او لمونځ ئې صحيح دى .
س : كه ئې د پنځم ركعت سجده كړې وه څه به كوي ؟
ج : يو بل ركعت دي ورسره يو ځاى كي ، د سهو سجده دي وكي او څلور ركعاته ئې پوره سول د كوم لپاره چي ئې تكبير تحريمه ويلي ده او زائد دوره ركعاته ئې نفل سول .
س : چا ته چي په لمانځه كي شك پېښ سي چي درې ركعاته ئې وكړل كه څلور څه حكم ئې دى ؟
ج : كه ئې دغه په ژوند كي اول شك وو چي ده ته پيښ سوى وو لمونځ دي له سره راوګرځوي ، كه په لمانځه كي شك ډېر ورته پېښېدى پر غالب ګمان دي لمونځ پوره كي او هر ځاى چي د ناستي توهم كېدى (٢) هلته دي كښېني ، كه ئې غالب ګمان پر يوه

---

(١) كه شپږم ركعت ورسره يو ځاى نه كي شى نسته پر ده لكه چي په " هدايه " كي راغلي دي . د سهو سجده به كوي ؟ په " فتح القدير" كي ئې ويلي دي صحيح قول داډى چي نه به ئې كوي ځكه د فساد كمى د سهو په سجده سره نه پوره كيږي .
(٢) د " عنايې " مصنف ددې مثال بيان كړى دى هغه ويلي دي : ددې بيان داډى كه په څلور ركعتيز كي شك ورته پېښ سو چي اول ركعت دى كه دوهم فكر دي په كښي وكړي ، كه ئې پر يوه خوا فكر ټينګ نه سو پر لږ مقدار دي لمونځ پوره كي نو هغه دي اول ركعت و بولي او كښې دي ني ځكه كېداى سي

خوا نه وو پر يقين يعني لږ انــدازه دي لمونځ پوره كي او پــه دواړو صورتو (۱) كي دي د
سهو سجده وكي .

د تلاوت سجده

س : مور د قران كريم تلاوت كونكي وينو چي د تلاوت په منځ كي يوه سجده كوي ، د
دغې سجدي څه حقيقت دی ؟

دص ٦٩ پاته برخه : چي دا دوهم ركعت وي او په هغه كي ناسته واجب ده بيا دي ودرېږي يو بل ركعت
دي وكي او كښې دي نې ځكه مور دا دوهم وبلی بيا دي ودرېږي يو بل ركعت دي وكي او كښې دي نې
ځكه كېدای سي چي دا څلرم ركعت وي بيا دي ودرېږي يو بل ركعت دي وكي او كښې دي نې ځكه مور
دا څلرم وبلی او په هغه كي ناسته فرض ده ، دري ركعتيز پر دغه قياس دی اه .

(۱) قدوري په هغه صورت كي چي پر لږ مقدار لمونځ پوره كي د سهو سجده نه ده ذكر كړې نه په هغه صورت كي چي پر غالب گمان عمل وكي ، د" الدر المختار" مصنف ويلي دي : د شك په ټولو صورتو كي د سهو سجده پر واجب ده كه ئې په فكر عمل كړی وي كه ئې پر لږ مقدار لمونځ پوره كړی وی او دغه خبره نې "الفتح" ته منسوبه كړې ده ، بيا ئې ويلي دې مگر په "السراج" كي ذكر سوي دي كه په لږ عمل وكي د سهو سجده به په هر حال كي كوي ، كه په غالب گمان عمل وكي په هغه حال كي به د سهو سجده كوي چي د يوه ركن په مقدار فكر وكي اه ، د"الفتح" الفاظ داسي دي كه ئې پر يوه خوا فكر ټينگ سو پر هغه دي لمونځ پوره كي او د سهوسجده دي وكي ، دغه رنگه دي د شك په ټولو صورتو كي د سهو سجده كوي كه ئې په فكر عمل كړی وي كه ئې پر لږ مقدارلمونځ پوره كړی وي ، په "الهداية" او" النهاية" كي د سجدې ذكر پرېښول غير مناسب دي ، كه ئې پر يوه خوا فكر ټينگ نه سو پر لږ مقدار دي عمل وكي اه . ابن عابدين الشامي د هغي خبري تاييد كړی دی چي په "السراج" كي ذكر سوې ده هغه ويلي دي كه نې فكر وكی او غالب گمان ئې پر يوه خوا ټينگ سو په هغه سره عمل كول پر لازم دی ، په دغه صورت كي د سجدې واجبولو كومه وجه نه ښكاره كيږي مگر هغه وخت چي فكر ئې اوږد سي په هغه تفسير چي مور ذكركړی اه . زه وايم كومه خبره چي په "الفتح" كي ذكر سوې ده هغه صحيح ده ځكه د عبد الله بن مسعود ﷺ په صحيح مرفوع حديث سره ئې چي بخاري او مسلم ئې روايت كړی دی تاييد سوی دی كه له تاسو څخه يو په لمانځه كي شكمن سي د صحيح مقدار فكر دي وكي پر هغه دي لمونځ پوره كي بيا دي سلام وگرځوي او دوې سجدي دي وكي ، بخاري ئې په "باب التوجه نحو القبلة حيث كان" كي روايت كړی دی او مسلم ئې په سجود السهو كي روايت كړی دی د سهو د سجدې د وجوب لپاره د اوږده فكر د شرط زياتول په دغه ځای كي په حديث كي نه دی ذكر سوی كه څه هم خپله په هغه سره كه د يوه ركن په اندازه وو او په قرائت مشغوله نه سو د احنافو په نزد سجده واجبيږي .

ج : دغه سجده د تلاوت سجده بلل کيږي ، دا پر هغه چا واجب ده چي د سجدې آيت
ووايي يا ئې واوري که ئې د قران کريم د اورېدلو اراده کړې وي که نه .
س : د هغه سورتو نومونه او شمېر بيان کړئ چي د سجدې آياتونه په کښي راغلي دي .
ج : د سجدې آياتونه په څوارلس سورتو کي راغلي دي د هغو نومونه په لاندي ډول دي :

١ : سورة الاعراف .

٢ : سورة الرعد .

٣ : سورة النحل .

٤ : سورة الاسراء .

٥ : سورة مريم .

٦ : سورة الحج .

٧ : سورة الفرقان .

٨ : سورة النمل .

٩ : سورة آلم السجدة .

١٠ : سورة ص .

١١ : سورة حم السجدة .

١٢ : سورة النجم .

١٣ : سورة الانشقاق .

١٤ : سورة العلق .

د سجدې آياتونه حافظانو ته معلوم دي او په مصحفو کي علامې پر ليکل سوي دي .
س : که امام د سجدې آيت ووايي پر مقتدي سجده لازميږي ؟
ج : که امام د سجدې آيت په زوره ووايي يا کرار سجده دي وکي او مقتدي دي ئې هم
سجده ورسره وکي .
س : که مقتدي د سجدې آيت ووايي پر ده او پر امام ئې سجده لازميږي ؟
ج : که ئې مقتدي ووايي نه پر ده سجده لازميږي نه ئې پر امام لازميږي .

س : كه دوى په لمانځه كي وه او د داسي سړي څخه ئې د سجدې آيت واورېدى چې ددوى سره په لمانځه،كي نه وو پر دوى سجده لاژميږي ؟

ج : پر دوى سجده لاژميږي مگر په لمانځه كي دي سجده نه كوي بلكه تر لمانځه وروسته دي ئې وكي .

س : كه ئې دغه سجده په لمانځه كي وكړل كفايت ورته كوي ؟

ج : كفايت نه ورته كوي .

س : په دغه زائده سجده سره ئې لمونځ فاسديږي ؟

ج : په دغه سجده سره ئې لمونځ نه فاسديږي .

س : كه يو سړي د سجدې آيت د لمانځه دباندي ووايه او سجده ئې نه وكړل ، په لمانځه كي داخل سو دغه آيت ئې ووايه او د دواړو لپاره ئې سجده وكړل دغه سجده د دواړو تلاوتو لپاره كفايت كوي ؟

ج : هو ، كفايت ورته كوي كه دواړه تلاوته په يوه مجلس كي وي .

س : كه يو څوك د سجدې آيت د لمانځه دباندي ووايي او سجده وكي بيا په لمانځه كي داخل سي او داغه آيت دوهم ځل ووايي.اوله سجده كفايت ورته كوي ؟

ج : اوله سجده كفايت نه ورته كوي ددغه تلاوت لپاره به دوهمه سجده كوي .

س : څوك چي د سجدې يو آيت څو ځله مكرر كړي يوه سجده كفايت ورته كوي ؟

ج : كه يو آيت په يوه مجلس كي مكرر كړي يوه سجده كفايت ورته كوي او كه ئې په څو مجلسو كي مكرر كړي د مجلسو د بدلون په حساب سجدې پر لاژميږي ، دغه رنگه كه ئې د سجدې آياتونه له مختلفو سورتو څخه وويل د هر يوه لپاره به سجده كوي كه څه هم ئې په يوه مجلس كي ويلي وي .

س : څوك چي د تلاوت سجده كول غواړي څه به كوي ؟

ج : ببله پورته كولو د لاسو به تكبير وايي او يوه سجده به كوي بيا به تكبير وايي او سر به راپورته كوي ، نه تشهد پر ده سته نه سلام .

د مريض لمونځ

س : كه يو مريض نه سي درېدلاى څه به كوي ؟

ج : كه پر مريض ولاړه سخته سول په ناستي دي لمونځ وكړي ركوع او سجده دي كوي .

س : كه ئې ركوع او سجده نه سواى كولاى ؟

ج : رکوع او سجده دي په اشاره کوي او سجده دي تر رکوع کښته کوي ، مخ ته دي شی نه راپورته کوي چي سجده پر وکي .
س : که نه سوای کښېنستلای ؟
ج : پر شا دي پرېوزي او پښې دي د قبلې لوري ته کي . تر سر لاندي دي یو شی کښېږدي چي سر ئې په راپورته سي او مخ دي د قبلې لوري ته کوي په دغه ډول دي لمونځ کوي او رکوع او سجده دي په اشاره سره کوي .
س : که پر بغل پرېوزي رکوع او سجده په اشاره سره کوي تاسي څه وایاست ؟
ج : که پر بغل پرېوزي مخ ئې قبلې ته وي لمونځ وکي رکوع او سجده په اشاره سره کوي روادی .
س : که ئې په سر اشاره نه سوای کولای په سترګو ، ورځو یا زړه سره به اشاره کوي ؟
ج : بېله سر په بل ځای به اشاره نه کوي که ئې په سر اشاره نه سوای کولای لمونځ دي وځنډوي .
س : که یو مریض ولاړه کولای سي رکوع او سجده نه سي کولای څه به کوي ؟
ج : په دغه وخت کي ولاړه پر لازم نه ده ، دده لپاره افضل دادی چي په ناستي په اشاره لمونځ وکي ، که ئې په ولاړي لمونځ وکی اشاره ئې کول روا دی .
س : که جوړ سړي یو څه لمونځ په ولاړي وکی بیا ناروغي ورپېښه سول څرنګه به لمونځ پوره کوي ؟
ج : په ناستي به ئې پوره کوي رکوع او سجده به کوي ، که ئې رکوع او سجده نه سوای کولای په اشاره به ئې پوره کوي او که کښېنستلای نه سوای پر شا به پرېوزي په اشاره به ئې پوره کوي .
س : که ئې د ناروغی له کبله په ناستي په رکوع او سجده سره لمونځ کوی د لمانځه په منځ کي جوړ سو له سره به لمونځ راګرځوي ؟
ج : له سره به ئې نه راګرځوي بلکه هغه لمونځ به په ولاړي پوره کوي .
س : که ئې یو څه لمونځ په اشاره سره وکی وروسته ئې پر رکوع او سجده قدرت پیدا کی مخکنی لمونځ به پوره کوي ؟
ج : هغه لمونځ به نه پوره کوي بلکه له سره به ئې راګرځوي .
س : که له یو چا څخه دبېهوښۍ په حال کي لمونځونه پاته سوي وه دهغه څه حکم دی ؟

س : كه دوى په لمانځه كي وه او د داسي سړي څخه ئې د سجدې آيت واورېدى چي ددوى سره په لمانځه.كي نه وو پر دوى سجده لاژميږي ؟
ج : پر دوى سجده لاژميږي مګر په لمانځه كي دي سجده نه كوي بلكه تر لمانځه وروسته دي ئې وكي .
س : كه ئې دغه سجده په لمانځه كي وكړل كفايت ورته كوي ؟
ج : كفايت نه ورته كوئي .
س : په دغه زائده سجده سره ئې لمونځ فاسديږي ؟
ج : په دغه سجده سره ئې لمونځ نهٔ فاسديږي .
س : كه يو سړي د سجدې آيت د لمانځه دباندي ووايه او سجده ئې نه وكړل ، په لمانځه كي داخل سو دغه آيت ئې ووايه او د دواړو لپاره ئې سجده وكړل دغه سجده د دواړو تلاوتو لپاره كفايت كوي ؟
ج : هو ، كفايت ورته كوي كه دواړه تلاوته په يوه مجلس كي وي .
س : كه يو څوك د سجدې آيت د لمانځه دباندي ووايي او سجده وكي بيا په لمانځه كي داخل سي او داغه آيت دوهم ځل ووايي اوله سجده كفايت ورته كوي ؟
ج : اوله سجده كفايت نه ورته كوي ددغه تلاوت لپاره به دوهمه سجده كوي .
س : څوك چي د سجدې يو آيت څو ځله مكرر كړي يوه سجده كفايت ورته كوي ؟
ج : كه يو آيت په يوه مجلس كي مكرر كړي يوه سجده كفايت ورته كوي او كه ئې په څو مجلسو كي مكرر كړي د مجلسو د بدلون په حساب سجدې پر لاژميږي ، دغه رنګه كه ئې د سجدې آياتونه له مختلفو سورتو څخه وويل د هر يوه لپاره به سجده كوي كه څه هم ئې په يوه مجلس كي ويلي وي .
س : څوك چي د تلاوت سجده كول غواړي څه به كوي ؟
ج : ببله پورته كولو د لاسو به تكبير وايي او يوه سجده به كوي بيا به تكبير وايي او سر به راپورته كوي ، نه تشهد پر ده سته نه سلام .

د مريض لمونځ

س : كه يو مريض نه سي دربېدلاى څه به كوي ؟
ج : كه پر مريض ولاړه سخته سول په ناستي دي لمونځ وكړي ركوع او سجده دي كوي .
س : كه ئې ركوع او سجده نه سواى كولاى ؟

ج : رکوع او سجده دي په اشاره کوي او سجده دي تر رکوع کښته کوي ، مخ ته دي شی نه راپورته کوي چي سجده پر وکي .

س : که نه سوای کښېښستلای ؟

ج : پر څټ دي پرېوزي او پښې دي د قبلې لوري ته کي ، تر سر لاندي دي يو شی کښېږدي چي سر ئې په راپورته سي او مخ دي د قبلې لوري ته کوي په دغه ډول دي لمونځ کوي او رکوع او سجده دي په اشاره سره کوي .

س : که پر بغل پرېوزي رکوع او سجده په اشاره سره کوي تاسي څه واياست ؟

ج : که پر بغل پرېوزي مخ ئې قبلې ته وي لمونځ وکي رکوع او سجده په اشاره سره کوي روادی .

س : که ئې په سر اشاره نه سوای کولای په سترګو ، ورځو يا زړه سره به اشاره کوي ؟

ج : بېله سر په بل ځای به اشاره نه کوي که ئې په سر اشاره نه سوای کولای لمونځ دي وځنډوي .

س : که يو مريض ولاړه کولای سي رکوع او سجده نه سي کولای څه به کوي ؟

ج : په دغه وخت کي ولاړه پر لازم نه ده ، دده لپاره افضل دادی چي په ناستي په اشاره لمونځ وکي ، که ئې په ولاړي لمونځ وکی اشاره ئې کول روا دی .

س : که جوړ سړي يو څه لمونځ په ولاړي وکی بيا ناروغي ورپېښه سول څرنګه به لمونځ پوره کوي ؟

ج : په ناستي به ئې پوره کوي رکوع او سجده به کوي ، که ئې رکوع او سجده نه سوای کولای په اشاره به ئې پوره کوي او که کښېښستلای نه سوای پر شا به پرېوزي په اشاره به ئې پوره کوي .

س : که ئې د ناروغی له کبله په ناستي په رکوع او سجده سره لمونځ کوی د لمانځه په منځ کي جوړ سو له سره به لمونځ راګرځوي ؟

ج : له سره به ئې نه راګرځوي بلکه هغه لمونځ به په ولاړي پوره کوي .

س : که ئې يو څه لمونځ په اشاره سره وکی وروسته ئې پر رکوع او سجده قدرت پيدا کی مخکنی لمونځ به پوره کوي ؟

ج : هغه لمونځ به نه پوره کوي بلکه له سره به ئې راګرځوي .

س : که له يو چا څخه دبېهوښی په حال کي لمونځونه پاته سوي وه دهغه څه حکم دی ؟

ج : كه څوك د پنځو لمونځو په اندازه يا كم له هغه بېهوښه سو كله چي جوړ سي قضاء دي ئې راوړي ، كه د بېهوښى په حال كي له دې څخه زيات لمونځونه ځني پاته سول قضاء دي ئې نه راوړي .

د مسافر لمونځ

س : په سپيڅلي شريعت كي مسافر ځانته حكمونه لري ؟

ج : هو مسافر لره حكمونه سته چي د فقه په كتابو كي په خپلو بابو كي بيان سوي دي .

س : د لمانځه متعلق حكمونه بيان كړئ (١) .

ج : كه ئې د اوښانو په تګ او د پښو په تګ د درو ورځو د مسافت ذ سفر اراده وكړل او له خپل ښار يا كلي څخه ووتی څلور ركعتيز لمونځ دي كم كوي يعني د ماپښين ، ماځديګر او ماخستن لمونځ دي دوه دوه ركعاته كوي د ماښام په لمانځه ، وتر لمونځ ، سنتو او نفلو كي كمی نسته .

---

(١) د " هدايې " مصنف ويلي دي هغه سفر چي حكمونه په بدلېږي دادی چي انسان د داسي ځاى اراده وكړي چي د اوښ په تګ يا د پښو په تګ د درو ورځو لار وي ، له دغه تګ څخه ميانه تګ مراد دی ، له ابوحنيفه رح څخه په مرحلو اندازه كول هم نقل سوي دي دا اول قول ته نژدې دی ، د فرسخو حساب اعتبار نه لري دغه قول صحيح دی اه . په " الكفاية " كي ئې ددې قول (هغه سفر چي حكمونه په بدلېږي) په اړه ويلي دي : يعني لمونځ كمول ، د روژې ماتولو زواوالی ، د مسح مده تر درو ورځو پوري اوږدېدل ، د جمعې او اخترو د لمونځو ساقطېدل ، د قرباني ساقطېدل او پر ازادي ښځي ببله محرم څخه وتل حرامېدل اه . ابن عابدين شامي (١-٥٢٧) ويلي دي : په " الهداية " كي ئې ويلي دي (دغه قول صحيح دی) دا د عامو مشايخو د قول رد دی چي هغو په فرسخو اندازه كړی دی بيا دوی اختلاف كړی دی : يو ويشت فرسخه ويل سوي دي ، اتلس فرسخه ويل سوي دي او پنځلس فرسخه ويل سوي دي ، فتوى پر دوهم قول ده ځكه هغه ميانه دی او په " المجتبى " كي ذكر سوي دي چي د خوارزم د مشايخو فتوى پر دريم قول ده بيا ئې د " الدر " د مصنف تر دې قول (نو كه ئې تلوار وكی په دوې ورځي ورسېدی لمونځ دي كم كوي) لاندي ويلي دي : له دې څخه څرګنده ده كه په كرامت سره په ډېر لږ وخت كي وررورسېدی هم دغه حكم دی مګر په " الفتح " كي ئې دا قول ليري بللی دی ځكه په دې كي تكليف نسته او د لمانځه د كمولو سبب هم هغه دی اه .

زه وايم په تېره زمانه كي هر يوه پر پښو يا اوښانو سفر نه كوی او په دې زمانه كي عام خلك دغه سفر ته ضرورت نه لري ، كه يو تېز سړي پر آس يا ډاګي چي په تېره زمانه كي وو سفر وكی يا ئې په طيــــاره يا

س : که ئې په هغه لمونځو کي چي کمېږي څلور رکعاته وکړل ثواب ورکول کیږي ؟

ج : له دوو رکعاتو څخه زیاتوالی مکروه دی ځکه کمول ټینګ حکم دی .

س : سره له دې چي مکروه دی که ئې څلور رکعاته وکړل دوه رکعاته ئې له فرضو څخه کفایت کوي ؟

دص۷٤ پاته برخه : موټر کي چي په زموږ په زمانه کي دي سفر وکی نو دا به څرنګه اندازه کیږي چي ده د پښو په تګ یا اوښانو په تګ د درو ورځو مسافت پرې کی ؟ سره له دې چي فقهاوو ویلي دي که څوك په تېز تګ سره د درو ورځو مسافت پرې کي لمونځ دي کم کوي ، هر څوك چي ئې دده په اندازه اندازه کي هغه وایي چي ددرو ورځو مسافت دی (لکه چي ابن الهمام په الفتح کي ویلي دي) . له امام څخه په مرحلو اندازه کول لکه چي په " الهدایة " کي راغلي دي هم نقل سوي دي نو اندازه کونکي له شرعي اندازې څخه نه ووتل په خاصه توګه که هره مرحله د قافلو لپاره په میانه تګ سره د یوې ورځي په سفر اندازه سوې وي ، په دې زمانه کي مسافران د فرسخو او میلو اندازې ته ډېر ضرورت لري نو څوك چي هغه فتوی ورکي کومه چي وروستنیو علماوو ورکړې ده ډېره ښه او اسانه ده ، که موږ د فتوی لپاره د هغه چا قول خوښ کو چي په اتلس فرسخه ئې فتوی ورکړې ده ځکه دا میانه دی نو د لمانځه کمولو مسافت څلورپنځوس میله کیږي ځکه ددوی پر تحقیق فرسخ درې میله دی ، بیا که موږ میلونه په کیلومتر سره اندازه کو کوم چي زموږ په زمانه کي مشهور او رواج دی نو د لمانځه کمولو مسافت له اته نوي کیلومترو څخه لږ زیات کیږي او که د پنځلسو فرسخو په قول فتوی ورکول سي د لمانځه د کمولو مسافت پنځه څلوېښت میله کیږي او هغه تر دواتیا کیلومترو لږ زیات کیږي ، ځیني علماء دا فتوی ورکوي چي د لمانځه کمولو مسافت تقریبا اته اتیا دی ، دا دهغه چا پر قول چي لمانځه کمولو مسافت ئې شپاړس فرسخه بللي دی ، الله ﷻ په حق ډېر ښه خبر دی . کومه خبره چي ابن الهمام کړې ده (که یو کرامت والا سړی د درو ورځو مسافت په یوه ګړي پرې کي د هغه په هکله ویل کیږي چي د لمانځه د کمولو مسافت ئې پرې کی او له هغه څخه دا راوځي چي باید لمونځ کم وکي او دا لیري خبره ده ځکه د تکلیف ګمان دلته نه سي کېدلای او هغه سبب دی) په دې کي دا خبره سته چي کله خپله سفر د تکلیف سبب وګرځول سو که تکلیف وي که نه وي نو خپله تکلیف ته نه کتل کیږي ، له دې کبله فقهاوو دا فتوی ورکړې ده که تېز سړی د ډاکي یا آس په ذریعه د درو ورځو مسافت په دوو ورځو کي پرې کي دده او دهغه سړي چي په درو ورځو کي ئې پرې کوي حکم فرق نه لري ، نو د کرامت والا سړي حکم چي د لمانځه کمولو مسافت په یوه ګړي پرې کي او د هغه چا حکم چي مسافت په موټر یا طیاره کي په لږ وخت کي پرې کي فرق نه لري ، که د ابن الهمام په زمانه کي طیارې خلګ ورلای نو د کرامت والا مثال ته به ئې ضرورت نه درلودلای ځکه د درو ورځو مسافت په یوه ګړي کي پرې کول نن هر ښه او بد سړی کولای سي نو فکر وکه .

ج: که ئې څلور رکعاته وکړل او پر دوهم رکعت د تشهدي په قدر کښېنستلی وو دوه رکعاته ئې له فرضي لمانځه څخه کفایت کوي او دوه رکعاته ئې نفل دي.

س: که پر دوهم رکعت د تشهدي په قدر نه کښېنستی څه حکم ئې دی؟

ج: فرضي لمونځ ئې باطل سو (۱)، لمونځ دي له سره راوګرځوي.

س: په ځینو وختو کي به مسافر څلور رکعتیز لمونځ پوره کوي؟

ج: هو که ئې دغه لمانځه په وخت کي چي دی ئې کوي (۲) په مقیم امام پسي اقتداء وکړل، دغه رنګه که ئې په یو ښار یا کلي کي د پنځلسو ورځو اقامت (اوسېدلو) نیت وکی څلور رکعتیز لمونځ دي پوره کوي.

س: که ئې تر پنځلسو ورځو کم اقامت نیت وکی؟

ج: لمونځ دي کموي پوره کوي دي ئې نه.

س: که یو مسافر یو ښار یا کلي ته داخل سو او په نیت کي ئې دا نه وه چي پنځلس ورځي به هلته اوسیږي بلکه دا ئې ویل چي صبا یا بل صبا وزم څه حکم ئې دی؟

ج: څلور رکعتیز لمونځ به دوه دوه رکعاته کوي که څه هم څو کاله پر دغه ډول پاته سي.

س: د مسلمانانو لښکر د دښمنانو په مځکه کي داخل سو او د پنځلس ورځو اقامت نیت ئې وکی لمونځ به پوره کوي؟

ج: دوی به لمونځ کم کوي ځکه د دوی نیت اعتبار نه لري.

س: که مسافر په څلور رکعتیز لمانځه کي امام سو او تر شا ئې مقیمان وه دوی ته به لمونځ کم ورکوي؟

ج: هو مسافر به لمونځ کم کوي او کوم کسان چي دده شا ته مقیمان دي کله چي امام پر دوو رکعاتو سلام وګرځوي هغوی به خپل لمونځ پوره کوي.

س: مسافر امام به مقتدیان په کوم شي خبروي؟

---

(۱) د "الدر المختار ۱-۵۲۰" په حاشیه "رد المحتار" کي ذکر سوي دي: که نه کښېنستی فرضي لمونځ ئې باطل سو تو له لمونځ ئې نفل سو ځکه فرضي ناسته ئې پرېښول اه.

(۲) دې ته اشاره ده چي د وخت تر وتلو وروسته په مقیم پسي د مسافر اقتداء نه صحیح کیږي ځکه د وخت تر وتلو وروسته دده فرض نه بدلیږي.

ج : هو ده لره مستحب ده کله چي سلام وګرځوي چي دوی ته ووايي خپل لمونځ پوره کړئ ځکه زه مسافر يم .

س : که مسافر دا نيت وکی چي په مکه او منی کي به پنځلس ورځي اوسيږي مسافر دی که مقيم ؟

ج : مسافر دی ځکه د اقامت نيت په يوه ځای کي اعتبار لري .

س : که مسافر خپل وطن ته بيرته راغلی او دا نيت ئې نه وو کړی چي پنځلس ورځي به دلته اوسي لمونځ به پوره کوي که به ئې کم کوي ؟

ج : مسافر که خپل وطن ته داخل سي که څه هم د يوه ګړي لپاره وي لمونځ دي پوره کوي او د اقامت نيت په کښي شرط نه دی .

س : که يو سړي خپل اصلي وطن درلودی چي په هغه کي زېږېدلی او ډېر وخت ئې ژوند کړی وو بيا ئې هغه پرېښوی او بل ښار ئې د ځان لپاره وطن وګرځوی ، بيا اول وطن ته د يو کار لپاره داخل سو لمونځ به کم کوي که به ئې پوره کوي ؟

ج : که اول وطن د درو ورځو يا زياتو په مسافت کي وو کم دي ئې کوي ځکه نبي ﷺ له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکی بيا کله چي مکې ته داخل سو لمونځ ئې کم کوی .

س : که له يو مسافر څخه په سفر کي لمونځ پاته سو ، خپل وطن ته داخل سو او د هغه د قضاء راوړلو اراده ئې وکړل يا يو سړی په خپل وطن کي مقيم وو لمونځ ځني پاته سو وروسته مسافر سو او د هغه د قضاء راوړلو اراده ئې وکړل دوی به څه کوي ؟

ج : په دې کي قانون دادی چي قضاء د اداء په شان ده نو له چا څخه چي په سفر کي لمونځ پاته سو د حضر په وخت کي (چي مسافر نه وي) دي ئې دوه رکعاته قضاء راوړي او له چا څخه چي د حضر په وخت کي لمونځ پاته سو په سفر کي دي ئې څلور رکعاته قضاء راوړي .

س : رخصت (لمونځ کمول) يوازي طاعت کونکي مسافر لره دی که طاعت کونکي او ګناه کار دواړو لره دی ؟

ج : په دغه رخصت کي طاعت کونکی او ګناه کار برابر دي .

س : په اوس زمانه کي خلګ په موټرانو او طيارو کي سفر کوي او مسافرانو ته هيڅ تکليف نه پېښېږي له دغه سره به لمونځ کم کوي ؟

ج : كله چي له خپلو وطنو څخه ووزي او د لمانځه د كمي مسافت اراده ئې كړي وي لمونځ دي كم كوي ، خپله سفر د تكليف پر ځاى درول سوى دى .

س : مسافر ته ددوو لمونځو لكه ماپښين او ماځديګر او ماښام او ماخستن جمع كول روا دي ؟

ج : فعلي جمع كول روا دي وختي جمع كول نه دي روا ځكه الله ﷻ وايي ﴿ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَاباً مَوْقُوْتاً ﴾ .

س : ددې څه مطلب دى چي فعلي جمع كول روا دي وختي جمع كول نه دي روا ؟

ج : فعلي جمع كول دادي چي د ماپښين لمونځ وځنډوي او د ماځديګر لمونځ رامخكي كي ، ماپښين په خپل اخر وخت كي وكي او ماځديګر په خپل اول وخت كي وكي ، دا فعلي جمع ده او د فقهاوو په اصطلاح كي دې ته صوري جمع ويل كيږي ، د يوه وخت لمونځ د بل لمانځه په وخت كي چي مخكي ئې وكي يا وروسته زموږ په نزد نه دي روا ، دا وختي جمع ده چي فقهاء ئې حقيقي جمع بولي .

د جمعې لمونځ

س : د جمعې د لمانځه څه حكم دى ؟

ج : هغه پر هغه چا چي نر آزاد بالغ عاقل جوړ ليدونكى مقيم وي فرض عين دى .

س : د هغه د اداء كولو لپاره كوم شرطونه سته ؟

ج : هو هغه لره شرطونه سته چي په لاندي توګه دي :

اول :دا چي په جامع ښار يا د ښار په عيدګاه كي به وي نو په كلو كي نه دى روا.

دوهم : دا چي پاچا به ئې وركوي يا هغه څوك چي پاچا امر كړى وي يا داسي څوك چي مسلمانان پر راټول سي او د جمعې د لمانځه لپاره ئې امام وټاكي (١) .

---

(١) قدوري ويلي دي : ببله پاچا يا هغه څوك چي پاچا امر كړى وي بل چا ته ئې وركول روا نه دي ، ما دا خبره زياته كړل (يا به ئې داسي څوك وركوي چي مسلمانان پر راټول سي او د جمعې د لمانځه لپاره د ئې امام وټاكي) ځكه د "الفتاوى الهندية" مصنف د "معراج الدراية" څخه نقل كړى دى داسي ښارونه چي مشران ئې كافران وي د مسلمانانو لپاره د جمعې د لمانځه اداء كول ورته روا دي ، قاضي د خلګو په رضا قاضي كيږي او پر دوى لازمه ده چي دځانو لپاره مسلمان والي وټاكي اه (١-١٤٦) د مصرچاپ . دغه رنګه ابن عابدين شامي په " رد المحتار ١-٥٤٠ " كي له "معراج الدرايه" څخه نقل كړى دى .

دریم : دا چي د ماپښين په وخت کي به وي نو د ماپښين تر وخت مخکي او وروسته نه صحيح کيږي .

څلورم : تر لمانځه مخکي خطبه ده ، که ئې په خطبه کي يوازي د الله ﷻ ذکر وکی د ابوحنيفه رح په نزد صحيح کيږي او ملګرو ئې ويلي دي يو اوږد ذکر چي خطبه بلل کيږي ضروري دی .

پنځم : جماعت دی ، د ابوحنيفه رح او محمدرح په نزد ئې کمه اندازه بېله امام څخه دري نفره دي ابويوسف رح ويلي دي کمه اندازه ئې بېله امام څخه دوه نفره دي (۱) .

س : هغه عذرونه بيان کړئ چي د هغو په وجه جمعه پرېښول روا دي .

ج : هغه په لاندي توګه دي :

۱ : چي لمونځ کونکی د لمونځ کمولو په مسافت مسافر وي .

۲ : چي ښځه وي .

---

(۱) نه قدوري نه د " هدايې " مصنف دجمعې د لمانځه د صحت لپاره عامه اجازه ذکر کړې ده ، د حنفيانو په نورو کتابو کي ذکر سوې ده : مطلب ئې دادی چي د جامع دروازې خلاصي سي ټولو خلګو ته اجازه وسي ، نو که يوه ډله په جامع کي راټوله سي او ، د مسجد دروازې وتړي او د جمعې لمونځ وکي نه صحيح کيږي لکه چي په " الفتاوى الهندية " کي ئې د " المحيط" څخه نقل کړی دی ، ابن عابدين په خپله حاشيه کي پر " الدر المختار" ويلي دي دغه شرط په ظاهر روايت کي نه دی ذکر سوی ، ځکه ئې په " هدايه " کي نه دی ذکر کړی بلکه دا په نادر روايتو کي ذکر سوی دی او په " الكنز " ، " الوقاية " ، "النقاية " ، " الملتقى " او نورو معتبروکتابو کي په هغه پسي تللي دي اه . زه وايم دغه شرط که څه هم له نادرو رواياتو څخه دی مګر د مسلمانانو په عامو مسجدو کي په هغه سره عمل کيږي ځکه هغه د هر هغه چا لپاره چي د جمعې لمونځ کوي خلاص دي مګر په لښکر ځايو کي دا مشکل کيږي ځکه د هغو اهالي وو ته د جمعې د لمانځه اداء کولو اجازه کيږي نور خلګ و هغو ته داخلېدلو څخه ممنوع دي نو عامه اجازه هلته نسته ، له وروستنيو علماوو څخه ابن عابدين دغه مشکل حل کړی دی ځکه هغه د بحث په آخر کي ويلي دي : بايد د اختلاف ځای هغه صورت وي چي د جمعې لمونځ يوازي په يوه ځای کي اداء کيږي ، که په ډيرو ځايو کي اداء کېدی نو داسي نه ده ځکه د جمعې لمونځ نه پاته کيږي لکه چي په دليل کي دا خبره ذکر سوې ده " رد المحتار" د " الدر المختار " پر حاشيه (۱-۵٤٦) وګوره . نو بايد د دوی د جمعو د صحت فتوی ورکول سي ځکه چي عامه اجازه په ظاهر روايت کي نه ده ذکر سوې او ځکه چي د جمعې لمونځ په ښارو کي په ډيرو ځايو کي اداء کيږي ، الله ﷻ په حق ډېر ښه خبر دی .

۳ : ناروغي .
٤ : ړوندوالی .
٥ : مریی توب .
نو پر مسافر ، ښځه ، ناروغه ، ړوند او مریي نه دی واجب .

س : که دغه کسان د جمعې لمانځه ته حاضر سي او د خلګو سره لمونځ وکي آیا دغه د وخت د فرضي لمانځه څخه کفایت ورته کوي ؟

ج : هو ، دغه د وخت دفرضي لمانځه څخه کفایت ورته کوي .

س : که د جمعې په لمانځه کي مریی یا ناروغه یا مسافر یا ړوند امام سي او تر شا ئې آزاد جوړ مقیم کسان وي د امام او مقتدیانو لمونځ صحیح کیږي ؟

ج : هو دوی ته روا ده چي د جمعې په لمانځه کي د خلګو امامت وکي او ددوی ټولو لمونځو صحیح کیږي .

س : که د چا څخه د عذر له کبله د جمعې لمونځ پاته سي څه شی پر واجبیږي ؟

ج : هغه به د ماپښین لمونځ کوي ، دغه رنګه هر هغه څوك چي د جمعې لمانځه ته حاضر نه سي که څه هم پرېښونکی ئې بېله عذر څخه ګناه کاره کیږي .

س : څوك چي د جمعې په ورځ بېله عذر څخه د امام تر لمانځه مخکي په خپل کور کي د ماپښین لمونځ وکي دا ورته روا دی ؟

ج : دا حرام دی .

س : که ئې داسي وکړل او د ماپښین وخت ووتی دغه لمونځ ئې د وخت د فرضي لمانځه څخه کفایت کوي ؟

ج : دغه لمونځ ئې د وخت د فرضي لمانځه څخه کفایت کوي .

س : که دغه سړی د جمعې لمانځه ته روان سو او د امام سره ئې د جمعې لمونځ وکی څه حکم ئې دی ؟

ج : د جمعې لمونځ ئې صحیح سو او د ماپښین لمونځ ئې چي ده کړی وو د جمعې په روانېدو سره باطلیږي ، دا په نزد د ابوحنیفه رح او دده ملګرو رح ویلي دي د ماپښین لمونځ ئې تر هغو نه باطلیږي تر څو د امام سره د جمعې په لمانځه کي داخلیږي .

س : معذور کسان او بندیان به د جمعې په ورځ د ماپښین لمونځ په جماعت سره کوي ؟

ج : د دوی لپاره دا مکروه دی بلکه یوازي یوازي به لمونځ کوي .
س : که د جمعي په لمانځه کي له چا څخه یو رکعت تېر سي څه به کوي ؟
ج : د جمعي لمونځ به پوره کوي ، د پاته برخي قضاء به راوړي .
س : که امام ته په تشهد یا د سهو په سجده کي وررسېدی څه به کوي ؟
ج : د ابوحنیفه رح او ابویوسف رح په نزد به د جمعې لمونځ پوره کوي . محمد رح ویلي دي : که ئې د دوهم رکعت اکثره برخه ورسره نیولې وه د جمعې لمونځ دي پوره کي او که ئې د دوهم رکعت کمه برخه ورسره نیولې وه د ماپښین لمونځ دي پوره کي یعني په دغه تکبیر سره دي څلور رکعاته وکي .
س : د جمعې تر اذان وروسته پلورل او رانیول څه حکم لري ؟
ج : ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَ ذَرُوْا الْبَيْعَ ﴾ (کله چي د جمعي د ورځي د لمانځه لپاره اذان وسي نو د الله ﷻ ذکر ته چابك سئ او پلورل پرېږدئ)
س : د امام تر راوتلو وروسته لمونځ کول او خبري څه حکم لري ؟
ج : کله چي امام راووزي خلك دي لمونځ او خبري پرېږدي تر څو چي هغه له خطبې څخه فارغ کیږي ، دا د ابوحنیفه رح په نزد او ملګرو رح ئې ویلي دي : تر څو چي امام په خطبه شروع نه وي کړې خبري پروا نه لري .
س : په جمعه کي څو ځله اذان کیږي ؟
ج : دوه ځله .

لمړی : کله چي لمر زوال وکي ، په دغه وخت کي پر خلګو لازمه ده چي د جمعې لمانځه ته روان سي او پلورل پرېږدي او د الله ﷻ ذکر ته تلوار وکي .
دوهم : کله چي امام منبر ته وخېژي او پر منبر کښېني په دغه وخت کي دده په مخ کي اذان کیږي بیا امام دوې خطبې وایي ، کله چي له دوهمي خطبې څخه فارغه سي لمونځ دي وکي .
س : د خطبې سنت طریقه بیان کړئ .
ج : امام دي په ولاړي پر پاکي باندي دوې خطبې ووايي په منځ کي دي یو ځل کښېني
س : د جمعې په لمانځه کي امام په زوره قرائت وایي که کرار ؟
ج : امام دي په زوره قرائت وایي .
س : څوك چي لیري وي د هغه لپاره د خطبې د اورېدلو څه حکم دی ؟

ج : په دغه حکم کي ليري لکه نژدې ، خطبې ته غوږ نيول او چوپتيا په هر يوه لازم د
که ليري وي که نژدي د امام اواز اوري که نه .

د اخترو لمونځ

س : د اخترو د لمانځه څه حکم دی ؟

ج : پر هر چا چي د جمعې لمونځ واجب دی د اختر لمونځ هم پر واجب دی .

س : د اخترو اول او آخر وخت کوم دي ؟

ج : اول وخت ئې هغه دی کله چي د لمر په پورته کېدو سره لمونځ روا سي ، آخر وخت
ئې هغه دی چي لمر زوال وکي مګر د لوی اختر په ورځ لمونځ وختي کول مستحب دي
ځکه تر لمانځه وروسته قرباني کيږي او د کوچني اختر په ورځ ئې ځنډول مستحب دی .

س : د اخترو په ورځ کوم سنتونه دي بيان ئې کړئ .

ج : د لوی او کوچني اختر په ورځو مسواك وهل ، غسل کول ، خوشبويي لګول او ښه
کالي اغوستل مستحب دي ، که د کوچني اختر ورځ وه تاکي خرما وي يا خوږ شی دي
خوري ، له عيدګاه ته تلو مخ کي دي سرسايه اداء کوي ، که د لوی اختر ورځ وه خورك
دي ځنډوي تر څو چي له لمانځه څخه فارغ کيږي او تر هغه وروسته دي قرباني کوي بيا
دي له خپلي قرباني څخه خورك وکي .

س : چي د اخترو لمونځو ته ځي پر لاري به تکبيرونه وايي ؟

ج : د لوی اختر په ورځ کله چي عيدګاه ته ځي د درو سره وو امامانو رح په نزد دي پر
لاري په زوره تکبيرونه وايي ، د صاحبينو رح په نزد دي د کوچني اختر په ورځ تکبيرونه
وايي او د ابوحنيفه رح په نزد دي ئې نه وايي (۱) .

---

(۱) دغه رنګه قدوري ذکر کړي دي ، په " الفتاوى الهندية " کي ئې ويلي دي په لوی اختر کي دي پر لاري
په زوره تکبيرونه وايي کله چي عيدګاه ته ورسيږي بند دي ئې کي ، په دغه قول عمل کيږي ، په
کوچني اختر کي د امام ابو حنيفه رح مختار مذهب دادی چي په زوره دي ئې نه وايي ، په دغه قول
عمل کيږي . دغه رنګه په " الغياثية " کي ذکر سوي دي ، کرار ويل مستحب دي دغه رنګه په "
الجوهرة النيرة ۱-۱۵۰ " مصري چاپ کي راغلي دي . دا پر دې ښوونه کوي چي د کوچني اختر په ورځ د سړ
لاري په تکبيرو کي اختلاف په کيفيت کي دی په نفس تکبير کي نه دی ، دغه خبره په ياد که او پر
" الدرالمختار " د ابن عابدين شامي " حاشيه ۹۱-۵۵۸ " وګوره .

س : عيدګاه ته د تګ په وخت کي کوم سنت ستـه ؟

ج : د هغه چا لپاره چي د اخترو لمونځو ته ځي دا مستحب ده چي په تګ او راتګ کي لاره سره بېل کي ، پر يوه لاره ولاړ سي پر بله لاره راسي .

س : د اختر تر لمانځه مخ کي په عيدګاه کي نفل کيږي ؟

ج : په عيدګاه کي نه د اختر تر لمانځه مخکي نفل کيږي نه وروسته .

س : د اختر د لمانځه کيفيت بيان کړئ .

ج : امام او خلګ دي له ودانيو څخه صحراء ته ووزي ، امام دي خلګو ته دوه ركعاته لمونځ وركي په اول ركعت كي دي تكبير تحريمه ووايي بيا دي ثناء ووايي بيا دي په زوره درې تكبيرونه ووايي د هر تكبير سره دي لاسونه پورته كوي بيا دي اعوذ بالله ووايي بيا دي كرار بسم الله ووايي بيا دي سورة الفاتحة او تر هغه وروسته بل سورت په زوره ووايي بيا دي دغه ركعت داسي پوره كي څرنګه چي نور لمونځونه كوي ، كله چي دوهم ركعت ته ولاړ سي بسم الله دي كرار ووايي (۱) بيا دي سورة الفاتحة او يو بل سورت په زوره ووايي ، كله چي له قرائت څخه فارغ سي درې تكبيره دي په زوره ووايي د هر تكبير سره دي لاس پورته كوي بيا دي څلرم تكبير د ركوع لپاره بېله لاسو پورته كولو ووايي او دغه ركعت دي په هغه ډول پوره كي څرنګه چي نور لمونځونه كوي ، تر تشهدي ، پر نبي ﷺ درود او دعا وروسته دي سلام وګرځوي .

س : د زائدو تكبيرو په منځ كي به لاسونه ايله كوي كه به ئې تر نو لاندي اړدي ؟

ج : په ټولو زائدو تكبيرو كي به لاسونه ايله كوي بېله د اول ركعت دريم تكبير په هغه كي به ئې تر نو لاندي نيسي .

س : دا خو د اختر و په لمونځو كي د امام كار دى مقتديان به څه كوي ؟

ج : كوم كسان چي په امام پسي لمونځ كوي په هر شي كي به په هغه پسي اقتداء كوي بېله اعوذ بالله ، بسم الله او قرائت څخه ، دوى به دغه درې نه وايي او تكبيرونه به په زوره نه وايي بلكه كرار به ئې وايي .

س : د اخترو په لمونځو كي خطبه ستـه ؟

(۱) يعني " بسم الله الرحمن الرحيم " دي ووايي .

ج : د اخترو تر لمونځو وروسته دوې خطبې سنت دي ، امام به خطبې وايي په هغو کې به د اختر حکمونه لکه سرسايه د کوچني اختر په خطبه کي او د قرباني مسائل او د تشريق تکبيرونه په لوی اختر کي .

س : د اخترو د خطبې څه حکم دی ؟

ج : هغه سنت ده او وخت ئې تر لمانځه وروسته دی .

س : د حاضرو کسانو لپاره ئې اورېدل څه حکم لري ؟

ج : غوږ نيول او چپوالی د هري خطبې لپاره واجب دي که د جمعې خطبه وي که د اختر.

س : که يو سړی وځنډېدی د اختر لمونځ ځني تېر سو قضاء به ئې راړوي ؟

ج : له چا څخه چي د اخترو لمونځ تېر سي قضاء ئې نسته باندي .

س : که مياشت پټه سول او تر زوال وروسته ئې د امام په نزد د مياشتي د ليدلو شاهدي اداء کړل د اختر لمونځ به کله کوي ؟

ج : په راتلونکي ورځ به ئې کوي .

س : که يو عذر پېښ سو چي د هغه له کبله خلګو په دوهمه ورځ لمونځ نه سوای کولای نو به کله لمونځ کوي ؟

ج : تر دوهمي ورځي وروسته دي ئې نه کوي .

س : که د لوی اختر په ورځ د لمانځه لپاره عذر پيښ سو کله به ئې کوي ؟

ج : په صبا يا بل صبا به ئې کوي ، تر هغه وروسته دي ئې نه کوي .

س : د تشريق تکبير څه شی دی ؟

ج : هغه دادی چي تر هر فرضي لمانځه وروسته ووايي (۱) " الله أكبر الله أكبر ، لا إله إلا الله والله أكبر ، الله أكبر و لله الحمد " .

س : دغه تکبير کله شروع کيږي او کله ختميږي ؟

---

(۱) تر اختر وروسته ويل ئې پروا نه لري څکه مسلمانانو ته يو له بل څخه په ميراث پاته سوی دی ، نو متابعت ئې واجب دی او بلخي علماء پر دغه دي " الدر المختار " ، ددې قول (پروا نه لري) معنی داده چي مستحب دی " الدر المختار ١-٥٦٤ "

ج : د عرفات د ورځي د سهار د لمانځه څخه وروسته شروع کيږي او د اختر د ورځي د ماځديګر تر لمانځه وروسته ختميږي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد او ملګرو رح ئې ويلي دي د تشريق د آخري ورځي د ماځديګر تر لمانځه وروسته ختميږي . فتوی د دوی پر قول ده (١) .

س : دغه تکبير په زوره ويل کيږي که کرار ؟

ج : امام او مقتدي دي ئې په زوره وايي مګر ښځه دي ئې په زوره نه وايي .

س : که د امام د تشريق تکبير هېر سو مقتدي به ئې وايي ؟

ج : هو که څه هم د امام هېر سي مقتدي به ئې وايي .

س : د دغه تکبېر څه حکم دی ؟

ج : پر هر هغه چا چي له پنځو فرضي لمونځو څخه يو لمونځ يا د جمعې لمونځ وکي واجب دی ، تر سلام وروسته به ئې فورا وايي (٢) .

د ترندي لمونځ

س : د لمر د ترندي په وخت کي مسلمانان په څه شي سره امر سوي دي ؟

ج : کله چي لمر ترنده ونيسي امام دي خلګو ته دوه رکعاته لمونځ ببله اذان او اقامت ورکي او د نفلي لمانځه په شان دي ئې کوي ، په هر رکعت کي به يوه رکوع او دوې سجدې کوي قرائت به اوږدوي بيا به الله ﷻ ته دعاء کوي تر څو چي لمر روښانه کيږي

س : قرائت به په زوره وايي که کرار ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد به ئې کرار وايي ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : په زوره دي ئې وايي .

س : کوم امام به دغه لمونځ خلګو ته ورکوي ؟

ج : دغه لمونځ به هغه امام ورکوي کوم چي د جمعې لمونځ ورکوي .

---

(١) " البحر الرائق ٣-١٧٨ " وګوره .

(٢) د فورا معنی داده چي په منځ کي به ئې داسي کار نه کوي چي لمونځ فاسدوي نو که له مسجد څخه ووتی يا ئې په قصد يا هېره خبري وکړې يا ئې قصدا ځان بې اودسه کی تکبير څني ساقطيږي . که قبلې ته شا ور وګرځوي په هغه کي دوه روايته دي ، که تر سلام وروسته په هېره بې اودسه سو صحيح قول دادی چي تکبير به وايي او د پاکي لپاره دي نه وزي " رد المحتار ١- ٥٦٢ " .

س : كه د جمعې د لمانځه امام نه وو حاضر ؟
ج : خلك دي يوازي يوازي دغه لمونځ وكي .
س : د ترندي په لمانځه كي خطبه سته ؟
ج : په هغه كي خطبه نسته .
س : كه سپوږمۍ ترندي ونيول مسلمانان به څه كوي ؟
ج : يوازي يوازي به لمونځ كوي .
س : د لمر او سپوږمۍ په ترنده كي بېله لمانځه بل كار سته ؟
ج : د عائشې ﷺ څخه روايت سوى دى چي نبي ﷺ وويل : لمر او سپوږمۍ د الله ﷻ له نښو څخه دوې نښې دي د چا د مرګ يا ژوند له امله ئې ترندي نه نيسي ، كله چي مو دغه وليدل الله ﷻ ته دعاء وكړئ ، لمونځ وكړئ او خيرات وكړئ (١) . اود اسماء ﷺ څخه روايت سوى دى دي وويل : نبي ﷺ د لمر په ترنده كي د ازادولو امر وكړى (٢) .

د استسقاء لمونځ

س : د استسقاء څه معنى ده ؟
ج : د هغه معنى د وچ كالي په وخت كي د باران غوښتنه ده .
س : د استسقاء په لمانځه كي څه كيږي ؟
ج : په هغه كي شرعي لمونځ سته مګر واجب نه دى ، كه ئې په دعا او بخښن غوښتنه سره كفايت وكى روا دى څكه نبي ﷺ كله د استسقاء لمونځ كړى دى او كله ئې الله ﷻ ته تر څيل منبر د جمعې په ورځ د باران لپاره دعاء كړې ده او لمونځ ئې نه دى كړى ، دغه ټوله د نبي ﷺ څخه ثابت دي .
س : د فقه په كتابو كي ذكر سوي دي : ابوحنيفه رح ويلي دي : په استسـقاء كي سنت لمونځ نسته نودده د قول څه مطلب دى ؟
ج : د امام ابوحنيفه رح د قول مطلب دادى چي په استسقاء كي لمونځ حتمي او لازمي نه دى او ټينګ سنت نه دى په دې توګه چي بېله هغه څخه استسقاء نه صحيح كيږي (١) .

(١) امام بخاري ئې روايت كړى دى او د هغه لپاره ئې " باب الصدقة في الكسوف " ليكلى دى .
(٢) امام بخاري ئې په " باب من احب العتاقة في كسوف الشمس " كي روايت كړى دى .

س : که امام وغوښتل چي په خلکو سره د استسقاء لمونځ وکي څه به کوي ؟

ج : امام اوخلګ به دښت ته پياده الله ﷻ لره عاجزي کونکي چي سرونه ئې کښته کړي وي ووزي ، امام دي دوه رکعاته لمونځ ورکي ، په هغه کي به قرائت په زوره وايي بيا به دوې خطبې وايي چي په هغو کي به خلګو ته مخ کوي او د خطبې په منځ کي به خپل پټو اړوي لوړ به ئې لاندي کوي او لاندي به ئې لوړوي او ښى څنډه به ئې پر چپه اوږه اچوي او چپه څنډه به ئې پر ښى اوږه اچوي ، مقتديان دي خپل پټوان نه اړوي ، تر خطبې وروسته دي قبلې ته مخ کوي او په دعاء دي مشغوله سي په داسي حال کي چي خلګ ناست وي مخونه ئې قبلې ته وي دعاء کونکي بخښن غوښتونکي توبه کونکي وي او په کار ده چي ضعيفه کسان ، سپين ږيري ، سپين سري او کوچنيان د ځان سره بوزي .

س : له دغو کارو پرته بل کار سته ؟

ج : هو ، تر لمانځه ته تللو مخکي دي خيرات وکي .

د رمضان د مياشتي ولاړه (لمونځ)

س : د رمضان په مياشت کي له فرضي لمونځ اومعلومو سنتو پرته بل زائد لمونځ سته ؟

ج : نبي ﷺ ويلي دي :څوك چي د رمضان د مياشتي روژه د ايمان له کبله او د ثواب په نيت ونيسي دده مخکنى ګناه وربخښل کيږي او څوك چي د رمضان په مياشت کي ودريږي د ايمان له کبله او د ثواب په نيت دده مخکنى ګناه بخښل کيږي (١) . نو له دغه حديث څخه څرګنده سول چي د رمضان په شپو کي ولاړه سته زائده پر هغه لمونځو چي دوى ئې په نورو مياشتو کي کوي .

س : د رمضان د مياشتي په شپو کي به خلګ څرنګه دريږي ؟

د ص ٨٦ پاته برخه : (١) د " الهداية " مصنف ويلي دي : نبي ﷺ کله کړى دى کله ئې پرايښى دى نو سنت نه دى اه ، شامي په " رد المحتار " کي ويلي دي : يعني سنت هغه دى چي دوام ئې پر کړى وي ، کوم کار چي ئې يو ځل کړى وى بل ځل ئې پر ايښى وي هغه مندوب دى ، فکر په کښي وکه اه ، زه وايم لمونځ له سره نفى کول د صحيح حديثو سره مخالف دي نو کوم قول چي له ابوحنيفه رح څخه نقل سوى دى بايد له هغه څخه دا مطلب واخستل سي چي سنت موکد نه دى نه دا چي له سره سنت نه دى .

(١) امام بخاري او امام مسلم ئې روايت کړى دى .

ج : امام به د خلګو سره د ماخستن تر لمانځه وروسته شل رکعاته کوي ، پر هرو دوو رکعاتو به سلام ګرځوي او پنځه ترویحې به ئې ګرځوي .

س : د پنځو ترویحو څه مطلب دی ؟

ج : هر څلور رکعاته یوه ترویحه ده ، له دې کبله ئې تراویح بولي نو امام دي تر هرې ترویحې وروسته د یوې ترویحې په اندازه کښېني د خلګو د استراحت لپاره .

س : دغه لمونځ د ښځو لپارهم سنت دی ؟

ج : هو د ماخستن تر لمانځه وروسته په رمضان کي د سړیانو او ښځو دواړو لپاره شل رکعاته ټینګ سنت دي ، سړیان به ئې په مسجدو کي په جماعت سره کوي او د ښځو لپاره ددوی کورونه بهتر دي .

س : د سړیانو لپاره په تراویحو کي جماعت څه حکم لري ؟

ج : هغه موکد سنت کفایي دی نو که د یوه مسجد خلګو پرېښوی ګناه کاره کیږي .

س : د رمضان په میاشت کي به وتر په جماعت سره کوي ؟

ج : هو کله چي امام د پنځو ترویحو څخه فارغه سي وتر به دوی ته په جماعت ورکوي ، په درو سره رکعاتو کي به قرائت په زوره وایي ، امام او مقتدیان به قنوت کرار وایي .

س : ایا بېله رمضان وتر په جماعت سره کیږي ؟

ج : بېله رمضان وتر په جماعت سره نه کیږي .

د بیري لمونځ

س :کله چي دښمن حمله وکي او بېره سخته سي امام به خلګو ته څرنګه لمونځ ورکوي ؟

ج : امام به خلګ دوې ډلي کوي یوه ډله به د دښمن مخ ته وي بله ډله دده شا ته ، دغه ډلي ته به یو پوره رکعت لمونځ ورکوي ، چي له دوهمي سجدي څخه ئې سر راپورته کي دغه ډله دي د دښمن مخ ته ولاړه سي او هغه بله ډله دي راسي او امام دي یو رکعت لمونځ ورکي ، امام دي تشهده ووایي او سلام دي وګرځوي دوی دي سلام نه ګرځوي ، کله چي امام سلام وګرځوي دوی دي د دښمن مخ ته ولاړ سي اوله ډله دي راسي هغه رکعت چي له دوی څخه پاته سوی دی بېله قرائت څخه دي ئې وکي ، تشهده دي ووایي او سلام دي وګرځوي او د دښمن مخ ته دي ولاړه سي ، هغه بله ډله دي راسي خپل پاته رکعت دي په قرائت سره وکي تشهده دي ووایي بیا دي سلام وګرځوي .

س : که امام مقیم وو څه به کوي ؟

ج : په څلور رکعتيز فرضي لمانځه کي به هري ډلي ته دوه رکعاته ورکوي .
س : د ماښام لمونځ به دوی ته څرنګه ورکوي ؟
ج : اولي ډلي ته به دوه رکعاته ورکوي او دوهمي ډلي ته يو رکعت .
س : که ډېره سخته سول چي دوی په جماعت لمونځ نه سوای کولای نه راکښته کېدلای سوای څه به کوي ؟
ج : يوازي يوازي دي د سپرتيا په حال کي لمونځ وکي رکوع اوسجده دي په اشاره کوي .
س : که ئې قبلې ته د مخامخ کېدلو قدرت نه درلودی ؟
ج : هر لوري ته چي کولای سي لمونځ دي وکي .
س : که ځيني پر مځکه وه څرنګه به لمونځ کوي ؟
ج : د لمانځه په وخت کي به تګ نه کوي او رکوع او سجده به کوي ، که ئې رکوع او سجده نه سوای کولای په اشاره به ئې کوي (۱) .
س : که جنګ ته مجبور سول دوی په لمانځه کي وه جنګ ئې کوی د لمانځه ئې څه حکم دی ؟
ج : که ئې په لمانځه کي جنګ وکی یا ئې تګ وکی لمونځ ئې باطلېږي ځکه دا عمل کثير (ډېر کار) دی .
س : که دښمن حمله وکړل دوی نه په رکوع او سجده سره نه په اشاره سره نه يوازي نه په امام پسي لمونځ کولای سوای څه به کوي ؟
ج : لمونځ به ځنډوي لکه چي نبي ﷺ د احزاب په غزا کي وځنډوی ، کله چي قدرت پيداکي قضاء دي ئې راوړي (۲) .

(۱) پياده سړي که پر رکوع او سجده قدرت نه درلودی په اشاره به ئې کوي ، دغه رنګه په " الفتاوی الهندية ۱-۱۵۶ " کي ذکر سوي دي .
(۲) بخاري د کتاب الاذان څخه مخکي له حضرت جابر ﷺ څخه روايت کړی دی چي عمربن الخطاب ﷺ د خندق په ورځ تر لمر لوېدلو وروسته راغلی د قريش کافرانو ته ئې ښکنځل کول ده وويل : يا رسول الله ما د ماخديګر لمونځ نه وکی تر څو چي لمر ولوېدی ، نبي ﷺ وويل ما هم نه دی کړی نو موږ بطحان ته ورغلو دلمانځه لپاره ئې اودس وکی موږ هم اودس وکی ، تر لمر لوېدو وروسته ئې د ماخديګر لمونځ وکی بيا ئې د ماښام لمونځ وکی .

په کعبه کي لمونځ

س : الله ﷻ کعبه چي بيت الله الحرام ورته ويل کيږي په لمونځو کي د مسلمانانو لپاره قبله ټاکلې ده نو که چا د ننه په کعبه کي لمونځ وکی لمونځ ئې صحيح کيږي ؟
ج : هو په کعبه کي فرضي او نفلي لمونځ صحيح کيږي .
س : که امام دننه په کعبه کي لمونځ وکړی او يو چا خپله شا د امام شا ته کړل ايا لمونځ ئي صحيح دی ؟
ج : هو لمونځ ئې صحيح دی .
س : که چا خپل مخ امام ته مخامخ کی لمونځ ئې صحيح کيږي ؟
ج : هو لمونځ ئې صحيح دی سره له مکروه والي .
س : که چا خپله شا د امام مخ ته کړل لمونځ ئې صحيح دی ؟
ج : دده لمونځ نه دی صحيح ځکه له امام څخه مخکي سو .
س : که امام له کعبې څخه دباندي په مسجد حرام کي لمونځ وکیاو خلګ د کعبې پر شاوخوا دائره سول په امام پسي ئې اقتداء کړې وه لمونځ ئې صحيح دی ؟
ج : هو لمونځ ئې صحيح دی .
س : دغه حکم د ټولو لپاره دی که ځيني مقتديان ځني وتلي دي ؟
ج : هغه څوك چي د امام په طرف کي وي او کعبې ته تر امام نژدې وي له دغه څخه وتلی دی دده اقتداء نه ده صحيح ځکه دی تر خپل امام مخکي سو ، هغه څوك چي په بل طرف کي کعبې ته تر امام نژدې وي د هغه لمونځ صحيح دی .
س : که چا د کعبې پر چت لمونځ وکی لمونځ ئې صحيح دی ؟
ج : هو لمونځ ئې صحيح دی مګر مکروه دی ځکه تعظيم د کعبې ئې پرېښوی .

د جنازې حکمونه

س : که د يو چا د مرګ وخت نژدې سو حاضر کسان به څه کوي ؟
ج : چي دمرګ وخت ئې نژدې سي پر ښی اړخ دي قبلې ته مخامخ سي اود کلمه شهادت تلقين دي ورته وسي (دده په غوږ کي دي ورته وويل سي) ، کله چي مړ سي زامي دې ئې وروتړي او سترګي دي ئې ورپټي کي ، د ښځي حکم هم دغسي دی .

د غسل بيان

س : چي څوك مړ سي څرنګه غسل ورکول کيږي ؟

ج : کله چي غسل ورکوي پر کټ دي ئې کښېږدي چي تاك واره (١) خوشبويه (٢) سوی وی ، پر عورت دي يو ټوکر ورواچوي ، کالي دي ځني وکاږي ، بېله خولي مينځلو او پزه مينځلو دي اودس وروکي ، سر او ږيره دي په ګل خطمي (٣) ور پريمنځي بيا دي ئې پر چپه اړخ پرېباسي او پرېدي ئې منځي تر څو چي اوبه ئې لاندي اړخ ته رسيږي بيا دي ئې کښېنوي او خپل ځان ته دي ئې تکيه کي او پر نس دي ئې کرار لاس تېر کي که يو شی ځني راووتی هغه دي پرېمنځي غسل دي له سره نه راګرځوي بيا دي ئې پر ښی اړخ پرېباسي او پرې دي ئې منځي هغه اوبه دي پر توی کي چي کافور په کښي وي ، درې ځله پوره سول (٤) .

---

(١) په " الدر المختار" کي ئې ويلي دي : پر کټ دي کښېښنول سي چپ تاك واره خوشبويه سوی وي صرف تر اوو وارو پوري لکه دده کفن او مړی خپله دمرګ په وخت کي نو درې ځايه دي اه ، شامي ويلي دي : کوم لوښی چي خوشبويي په کښي دوديږي يو يا درې يا پنځه يا اوه ځله دي دده پر کټ راوګرځول سي تر هغه دي ئې نه زياتوي لکه چي په " الفتح " ، " الکافي " او " النهاية " کي ذکر سوي دي ، په " التبيين " کي ذکر سوي دي : تر پنځه ځله دي نه زياتيږي ، د دغه قول (درې ځايه دي) په هکله ئې په " الفتح " کي ويلي دي : ټوټل مړی درې ځله خوشبويه کيږي کله چي روح ئې ووزي د بدبويي ورکولو لپاره د غسل په وخت کي او د کفن ورکولو په وخت کي اه (١-٥٧٤) .

(٢) خوشبويي ورته دود سوې وي .

(٣) ګل خطمي يو خوشبويه بوټی دی .

(٤) دغه دريم ځل پرېمنځل دي ددې لپاره چي سنت حاصل سي ، په هر ځل پرې استلو کي دي درې ځله اوبه پر واچول سي لکه چي په " الدر المختار" کي ذکر سوي دي ، دريم ځل پرېمنځل نه قدوري نه د " الهداية " مصنف نه د " الکنز" مصنف ذکر کړي دي ، د " البحر" مصنف ويلي دي : چا چي ويلي دي د "الکنز" مصنف دريم ځل ذکر کړی دی په دې قول کي (داسي اوبه دي پر توی کي چي په سدر کي ايشول سوي وي) دا خبره صحيح نه ده ځکه دا دريم ځل پرېمنځل نه دي ځکه ده وروسته ويلي دي : (او سر او ږيره دي ئې په ګل خطمي سره وروپرېمنځي) ځکه سنت دادی چي سر او ږيره ئې تر لمړي ځل مخکي پرېمنځل کيږي بلکه دا د اوبو يو اجمالي بيان دی ، خلاصه داده چي سنت دادی چي کله له اودس څخه فارغه سي سراوږيره دي ئې په ګل خطمي سره وروپرېمنځي بېله ږمونځولو بيا دي ئې پرچپه اړخ پرېباسي

س : له اوبو څخه پرته بل شی د پاکوالي لپاره استعمالیږي ؟

ج : هو اوبه دي په سدر (۱) او بروځه (۲) سره ایشوي په هغه سره دي ئې مینځي ، که ئې صابون استعمال کی روا دی .

س : که دغه شیان نه سول پیدا ؟

ج : په خالصو اوبو (۳) سره دي ئې مینځي .

د کفن بیان

س : د کفنو شمېر او د سړي او ښځي د کفن ډول بیان کړئ .

ج : هغه په لاندي تفصیل سره دی :

۱ : د سړي سنت کفن ازار ، قمیص او لفافه ده ، کفایي کفن ازار او لفافه ده او د مجبوری کفن هغه دی چي موجود وي ، چي عذر نه وي پر یوه کالي کفایت کول مکروه دي .

۲ : ازار له سر څخه تر قدم پوري وي ، لفافه هم دغسي ده او قمیص له غاړي څخه تر قدم پوري دی بېله جیب ، ترخزي (٤) او لستوڼو (٥) څخه .

د ص ۹۱ پاته برخه : او پري دي ئې منځي دا اول ځل دی بیا دي ئې پر ښی اړخ پرېباسي په دغه ډول دا دوهم ځل دی بیا دي ئې کښېنوي او پر نس دي لاس ورتېر کيْ لکه چي تېر سو بیا دي ئې پر چپه اړخ پرېباسي اوبه دي پر توی کي دا دریم ځل دی اه . شیخ ابن الهمام په " فتح القدیر" کي هم دغه رنګه خبره کړې ده (باب الجنائز فصل في الغسل) وګوره .

(۱) ابن الهمام په " الفتح " کي ویلي دي : اولی دا دی : چي لمړي دوه ځله ئې په سدر سره پرېمنځي څرنګه چي په ښکاره توګه له " الهدایة " څخه معلومیږي ، ابو داود له محمدبن سیرین څخه روایت کړی دی چي ده غسل له ام عطیه څخه زده کوی ، ده دوه ځله په سدر سره پرېمنځی دریم ځل په اوبو او کافور سره ، سند ئې صحیح دی اه . سدر د کنار ونه ده .

(۲) بروځي ته اشنان هم ویل کیږي دا یو بوټی دی چي د پرېمنځلو لپاره استعمالیږي .

(۳) خالص اوبه یعني چي شی نه وي ورسره ګډ .

(٤) ترخزي د کالو د بغل ټکره ده .

(٥) یعني د کالي لستوڼي به نه وي .

۳ : د کفن طريقه داده چي تاك ځله دې خوشبويه سي بيا دي لفافه وغوړول سي بيا دي پر هغه ازار وغوړول سي بيا دي مړى وچ سي تر څو چي کفنونه لانده نه سي او پر ازار دي کښېښول سي ، حنوط (۱) دي پر سر او ږيري ولګول سي او کافور (۲) دي د سجدې پر ځايو يعني تندي ، پزه ، ورغوو ، ځنګنو او قدمو ورولګول سي ، اول دي قميص ورواغوستل سي (۳) بيا دي ازار له چپه اړخ څخه پر مړي راواړول سي بيا له ښى اړخ څخه دغه ډول لفافه تر څو چي ښى طرف پر چپه سربېره سي .

٤ : که د کفن خلاصېدو ېېره وه دواړه اړخه دي ئې په يو شي وتړل سي .

٥ : د ښځي سنت کفن درع ، ازار ، پوړنى ، لفافه او رښکى چي تي ئې په تړل کيږي دي ، د درع مطلب قميص دى ، او کفايي کفن ئې ازار ، لفافه او پوړنى دى او د مجبورى کفن ئې هغه دى چي موجود وي ، چي عذر نه وي پر دوو کاليو کفايت کول مکروه دي .

٦ : د ټوکر بر دا دى چي له تيو څخه تر ورنو پوري به وي .

٧ : پوړنى (٤) به د درو ګزو په اندازه وي .

٨ : د کفن ورکولو طريقه ئې داده چي کفنونه تاك ځله خوشبويه سي ، اول لفافه وغوړول سي بيا پر هغه ازار وغوړول سي بيا مړى پر ازار کښېښول سي او قميص په واغوستل سي ، وريښتان ئې دوې کوڅى سي پر قميص سربېره پر سينه ئې واچول سي بيا تر هغه وروسته پوړنى (٥) پر واچول سي بيا دي ټوکر تر قميص سربېره وتړل

---

(۱) د حاء په زور سره د څو خوشبويه شيانوڅخه مرکب عطر دى چي زعفران او ورس نه وي ورسره ګډ څکه هغه سړيانو لره مکروه دي " الدر المختار " .

(۲) کافور د مړو پرېمنځلو لپاره يو خوشبويه بوټى دى .

(۳) د قميص اغوستلو طريقه داده چي پر ازار نيم قميص وغوړول سي او نيم قميص ټول سي د سر خوا ته کښېښول سي ، کله چي مړى پر ازار پرې استل سي سر دې ئې د قميص په پرې ځاى کي ننه استل سي او د قميص لوړ نيمى دي پر مړي واچول سي .

(٤) پوړنى يو ټوکر دى چي سر په پټيږي .

(٥) پوړنى به له دواړو اړخو څخه پر سر او کوڅيو اچول کيږي او پر قميص سربېره ئې پر سينه اچول کيږي .

سي (۱) بيا دي ازار پر راواړول سي بيا لفافه او كه د خلاصېدو بېره وه دواړه اړخونه دې ئې وتړل سي .

س : د مړي ورېښتان ږمونځيږي ؟

ج : نه دي ئې سر ږمونځيږي نه ږيره ، نه دي ئې نوكان ورېږي كيږي نه ورېښتان .

د مړي د لمانځه بيان

س : د مړي د لمانځه ډول بيان كړئ .

ج : كله چي پر مړي لمونځ كوي امام دي ئې د سينې پر برابري ودريږي او خلګ دي دده شا ته ودريږي او درې صفه دي ئې كي (۲) امام او مقتديان دي تكبير ووايي ، د الله ﷻ ثنا او حمد دي ووايي ، كه ئې خوښه وي " سبحانك اللهم " دي تر پايه ووايي ، بيا دي دوهم تكبير ووايي او پر نبي ﷺ دي درود ووايي بيا دي دريم تكبير ووايي مړي ، ژوندي مسلمانانو او نورو مړو ته دي دعاء وكي بيا دي څلرم تكبير ووايي او تر هغه وروسته دي سلام وګرځوي (۳) .

س : د جنازې په لمانځه كي به كوچني ته كومه دعاء كوي ؟

ج : د هغه په دعاء كي به داسي وايي " اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ (٤) لَنَا فَرَطاً " تر پايه پوري .

---

(۱) ابن عابدين شامي په " رد المحتار ۱-۵۸۰ " كي له " الاختيار " څخه نقل كړی دی چي اول دي قميص په واغوستل سي بيا پوړنی پر هغه سربېره بيا ټوكر تر قميص سربېره او له فقهاوو څخه ئې يو بل قول هم نقل كړی دی هغه دا چي ټوكر تر كفنو سربېره تړل كيږي ، موږ د " الاختيار " قول غوره كوو ځكه ددې تاييد په حديثو سره سوی دی " إعلاء السنن " (باب تكفين المرأة ۸-۲۰۵) وګوره .

(۲) د مالك بن هبيره ﷺ څخه روايت سوی دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي (هر مسلمان چي مړ سي او د مسلمانانو درې صفه لمونځ پر وكي حتماً واجبيږي) يعني جنت ورته واجبږي ، نو مالك به د جنازې خللك درې صفه كول ددغه حديث له وجهي ، ابوداود ئې روايت كړی دی .

(۳) ابوبكر بن ابي شيبه روايت كړی دی چي ماته حفص بن غياث له اشعث څخه هغه له شعبي څخه روايت كړی دی چي هغه وويل : په اول تكبير كي به د الله ﷻ حمد او ثنا وايي په دوهم ركعت كي به پر نبي ﷺ درود وايي په دريم ركعت كي به مړي ته دعاء كوي اوڅلورم ركعت د سلام لپاره دی ، د جنازې په لمانځه كي د مړي لپاره په هند او پاكستان كي دغه دعاء مشهوره ده " اللهم اغفر لحينا و ميتنا " ترپايه پوري ، ترمذي ئې په " باب ما يقول في الصلاة على الميت " كي روايت كړی دی .

س : د جنازي د لمانځه په تکبيرو کي به لاسونه پورته کوي ؟
ج : بېله لمړي تکبېر څخه دي لاسونه نه پورته کوي .
س : د جنازي د لمانځه لپاره جماعت شرط دی ؟
ج : شرط نه دی نو که يو سړی يا ښځه پر مړي لمونځ وکي دغه لمونځ په اداء کيږي يعني فرض کفايي ئې اداء کيږي .
س : د جنازي د لمانځه فرضونه او شرطونه کوم دي ؟
ج : شرطونه ئې د لويي او کوچنۍ ناپاکي څخه پاکي ، د کالو پاکي او د ځای پاکي ده ، دغه رنګه د مړي پاکي او دهغه مخ ته ايښول هم شرط دي او فرضونه ئې دوه دي ولاړه او څلور تکبيرونه ، له دغو څخه پرته سنتونه دي .
س : ايا په هغه مسجد کي چي د پنځو لمونځو لپاره جوړسوی وي پرمړي لمونځ کيږي ؟
ج : په مسجد کي د جنازې لمونځ مکروه دی ځکه نبي ﷺ له مسجد څخه دباندي (۱) پر مړي لمونځ کوی او جنازې به له مسجد څخه دباندي ايښول کېدلې .

د ص ۹۴ پاته حاشيه : (٤) دغه رنګه په " الدر" او "الرد" (١-٥٨٧) " کي ذکر سوي دي ، بخاري په تعليقاتو کي ذکر کړي دي : حسن ويلي دي : د کوچني په جنازه کي دي د ثناء په توګه سورة الفاتحة وايي لکه چي د لوی په جنازه کي ويل کيږي او داسي دي وايي " اللهم اجعله لنا فرطا وسلفا و اجرا " دغه د کوچني لپاره هم دعاء ده چي د خير په کار مخ کي سي او د مور او پلار او لمونځ کونکو لپاره هم دعاء ده په الدر و الرد " کي ئې دغه خبره ذکر کړې ده .

(۱) بخاري له ابوهريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ د نجاشي د مرګ خبر خلګو ته په هغه ورځ چي دی مړ سوی وو ورکی او دوی ئې عيدګاه ته وايستل ، صفونه ئې کړل او څلور تکبيرونه ئې وويل . دغه رنګه له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت سوی دی چي يهودو نبي ﷺ ته يو سړی او يوه ښځه راوستل چي زنا ئې کړې وه ، نبي ﷺ امر وکړی او دواړه د جنازې له ځای سره نژدې د مسجد سره سنګسار سول ، په لمړي حديث کي په ښکاره توګه ذکر سوي دي چي نبي ﷺ د جنازي د لمانځه لپاره عيدګاه ته ووتی سره له دې چي مړی موجود نه وو او په دوهم حديث کي په ښکاره توګه ذکر سوي دي چي جنازې مسجد ته نژدې ايښول کېدې ، او محمد بن عبدالله بن جحش ﷺ روايت کړی دی چي موږ د مسجد مخ ته په هغه ځای کي چي جنازې ايښول کېدلې ناست وو او رسول الله ﷺ هم په موږ کي ناست وو ، حديث تر پايه پوري ، روايت ئې احمد کړی دی لکه چي په " مشكاة المصابيح ، الفصل الثالث من باب الافلاس و الانظار " کي ذکر سوی دی ، په دغه کي په ښکاره توګه ذکر سوي دي چي د جنازو ځای

س : د جنازې په لمانځه کي د امامت حقداره څوك دی ؟

ج : تر ټولو حقداره پاچا دی که هغه حاضر وو که هغه نه وو حاضر د کلي امام دی بیا ولي (د مړي قریب) دی .

س : که د ولي او پاچا پرته بل چا لمونځ پر وکی ولي ته رواده چي لمونځ راوګرځوي ؟

ج : هو ، ده ته دا روا دی .

س : که ولي لمونځ پر وکی بل چا ته ئې راګرځول روا دي ؟

ج : که ولي لمونځ ورکی بل چا ته نه ده روا چي راوئې ګرځوي .

س : که ښځ سو او لمونځ نه پر وسو څه حکم ئې دی ؟

ج : تر درو ورځو پوري (۱) دي ئې پر قبر لمونځ وسي ، تر هغه وروسته دي نه کیږي .

مړی اخستل او ښخول

س : خلګ به ئې څرنګه اخلي او څرنګه به ئې وړي .

ج :کله چي ئې اخلي د کټ تر څلورو پښو دي ئې ونیسي او په تلوار دي ئې وړي نه په ځغستا سره ، څوك چي ئې اخلي د مخ ښی پښه دي پر خپله ښی اوږه کښېږدي بیا دي د شا ښی پښه پر خپله ښی اوږه کښېږدي بیا دي د مخ چپه پښه پر خپله چپه اوږه کښېږدي بیا دي د شا چپه پښه پر خپله چپه اوږه کښېږدي .

س : خلګ به په هدیره کي کښېني ؟

دص ۹۵ پاته برخه : د مسجد مخ ته وو ، ابن الهمام په " فتح القدير " کي ویلي دي : هغه حدیث چي په مسلم کي ذکر سوی دی چي کله سعد بن ابي وقاص ﷺ وفات سو عائشې ﷺ وویل : مسجد ته ئې ننه باسئ چي زه لمونځ پر وکم ، دوی دا خبره ناخوښه وګڼل ، دې وویل : په الله دي زما قسم وي چي نبي ﷺ د بیضاء پر زامنو سهل او دهغه ورور په مسجد کي لمونځ وکی ، په دغه کي اول موږ دا وایو چي دا یو پیښه ده د هر وخت لپاره نه ده کېدای سي چي دا په دې ضرورت سره وو چي نبي ﷺ په اعتکاف کي وو ، که دا ومنل سي چي ضرورت نه وو نو ددوی بد ګڼل حال دا چي دوی صحابه او تابعين وه پر دې دليل دی چي وروسته ددغه حکم پر پرېښولو اتفاق سوی دی اه .

(۱) دغه رنګه قدوري ذکر کړي دي ، په " الدر المختار" کي ذکر سوي دي : که ښځه لمانځه یا ښځه وي ښځه اندازه کولو دغه قول صحيح دی اه . څکه شوړېدل په وختو یخ او ګرمۍ او د مړي چاغوالي او دنګروالي او ځایو سره مختلف کیږي ، شامي له " البحر " څخه نقل کړی دی . غسل ښځ سو د استحسان په دليل دي تر هغو لمونځ پر وسي تر څو چي په غالب ګمان سره شوړېدلی نه

ج هو په هديره کي کښېنستل روا دي مګر مخ کي له دې څخه چي جنازه د خلګو له اوړو څخه کښته کېږي کښېنستل مکروه دي .

س : قبر به څرنګه وي ؟

ج : تر نيم قد يا سينې پوري قبر کندل کيږي ، که تر هغه زيات وو ښه دی ، په قبر کي دي لحد جوړ کړل سي دغه اولی او افضل دی ، که مځکه نرمه وه او خلګو شق (بېله لحد څخه مځکه غارول) خوښ کی روا دی .

س : مړی په قبر کي څرنګه داخليږي ؟

ج : د قبلې له اړخه دي قبر ته داخل کړل سي او څوک چي په لحد کي ئې اږدي داسي دي ووايي " بِسْمِ اللّٰهِ وَ عَلَی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ (۱) " او پر ښی اړخ دي ئې قبلې ته مخامخ کي لکه څوک چي پر اړخ پرېوزي او د کفن غوټې چي د کفن د خلاصېدو له بېري ئې تړلي وي خلاصي دي ئې کي ، اومې خښتي دي پر لحد کښېږدي بيا دي خاوري پر واچوي .

س : که ئې د لحد په برابرولو کي پخې خښتي ، لرګي او نلان استعمال کړل د هغه څه حکم دی ؟

ج : پخې خښتي او لرګي مکروه دي او نلان پروا نه لري .

س : تر خاورو پاشلو وروسته به قبر څرنګه جوړيږي ؟

ج : دبوك (۲) په شان دي جوړ کړل سي هوارېږي دي نه او تر يوه لوېشت دي نه لوړيږي .

س : د قبر ګچول او په ګچو او سميټو پوخ جوړول څه حکم لري ؟

ج : دا ټوله ګناه ده نبي ﷺ منع ځني کړې ده .

س : که يو هلك وزېږېدی استهلال ئې وکړی (۳) او مړ سو لمونځ ئې څه حکم لري ؟

---

(۱) له ابن عمر ؓ څخه روايت سوی دی چي کله به مړی قبر ته داخلېدی نبي ﷺ به ويل " بسم الله و على ملة رسول الله " او راوي يو ځل " بسم الله و بالله و على سنة رسول الله " ويلي دي ، ترمذي ئې روايت کړی دی او حسن ئې بللی دی .

(۲) يعني خاوري دي ئې داسي پورته سي لکه د اوښ بوك ، په " البحر " کي ئې ويلي دي : چا چي د نبي ﷺ قبر ليدلی دی هغه ويلي دي چي د بوك په شان دی ، بيا د " البحر " مصنف ويلي دي د يوې ورشتي په شان دي بوك سي ، داسي هم ويل سوي دي چي د څلورو ګوتو په اندازه اه (۲-۲۰۹) .

(۳) د کوچني استهلال دادی چي د زېږېدلو په وخت کي وژاړي چي اواز ئې واورېدل سي .

ج : کوم هلك چي تر زېږېدلو وروسته استهلال وکي يا بله د ژوند علامه پر ښکاره سي نوم دي پر کښېښنول سي غسل دي ورکړل سي او لمونځ دي پر وسي .
س: که ئې استهلال نه وکی او د ژوند علامه نه سول پر ښکاره ؟
ج : په ټوکره کي دي واچول سي او ښخ دي سي او لمونځ دي نه پر کيږي .

د شهيد حکمونه

س : په ځينو حکمو کي د شهيد حکم مختلف دی ؟
ج : هو په ځينو حکمو کي ئې حکم مختلف دی .
س : دغه حکمونه بيان کړئ .
ج : هغه مسلمان چي کافرانو وژلی وي يا د جنګ په ميدان کي ټپي پيدا سي له دغه ټپ څخه مړ سي يا ئې مسلمانان په ظلم سره مړ کي او په وژلو سره ئې ديت لازم نه سي کفن دي ورکړل سي لمونځ دي پر وسي او غسل دي نه ورکول کيږي .
س : که شهيد جنب وو غسل ورکول کيږي که نه ؟
ج : د ابوحنيفه رح په نزد غسل ورکول کيږي او ملګرو رح ئې ويلي دي : غسل نه ورکول کيږي دغه رنګه ئې د کوچنی شهيد په غسل کي اختلاف کړی دی ابوحنيفه رح ويلي دي غسل ورکول کيږي او ملګرو رح ئې ويلي دي غسل نه ورکول کيږي .
س : په دې خبره پوه سولو چي شهيد ته د نورو مړو په شان غسل نه ورکول کيږي وينې ئې پريمنځل کيږي او کالي ځني کښل کيږي ؟
ج : وينې ئې نه پرېمنځل کيږي او کالي نه ځني کښل کيږي مګر پوستين ، پالتو کالی موزه او سلاح ځني کښل کيږي .
س : څوك چي د جنګ په ميدان کي ټپي سي بيا خورك يا چښنګ وکي يا دواء په وسي وروسته مړ سي د شهيد حکم لري ؟
ج : هغه د الله ﷻ په نزد د شهيد حکم لري په دې توګه چي ان شاء الله د شهيد ثواب ورکول کيږي مګر د دنيا په حکمو کي چي د بندګانو سره اړه لري د هغه شهيد په حکم کي نه دی چي غسل نه ورکول کيږي ، دغه خورك ، چښنګ او دواء ارتثاث بلل کيږي .
س : څوك چي د جنګ په ميدان کي ټپي سي او ژوندی پاته سي تر څو چي د يوه لمانځه وخت پر تېر سي او دی په هوښ کي وي يا د جنګ له ميدان څخه ژوندی يووړل سي د هغه څه حکم دی ؟

ج : دا هم ارتثاث دی نو غسل دي ورکړل سي لکه نورو مړو ته .

س : څوك چي په حد يا قصاص کي ووژل سي د هغه څه حکم دی ؟

ج : غسل دي ورکړل سي او لمونځ دي پر وسي .

س : که باغيٰ (د حکومت پر خلاف بېله حق څخه جنګ کونکی) يا د لاري نيونکی غل ووژل سي لمونځ پر کيږي ؟

ج : لمونځ نه پر کيږي .

كتاب الزكوة

﴿ د زكات كتاب ﴾

س : د زكات لغوي او شرعي معنى څه شى ده ؟

ج : زكات په لغت كي پاكي او زياتوالي ته ويل كيږي (١) او په شريعت كي ئې معنى داده چي : د يو نصاب مالك د خپل مال يوه برخه چي شارع (الله ﷻ يا نبي ﷺ) دده په مال كي ټاكلې ده يو مسلمان فقير ته د الله ﷻ لپاره (٢) د ملكيت په توګه وركي سره له دې چي د هغه ګټه د مالك څخه په كامله توګه پرې سي .

س : په اسلام كي زكات څه حكم لري ؟

ج : زكات د الله ﷻ له فرضو او اسلام له ركنو څخه دى (٣) ، الله ﷻ په خپل كتاب كي په هغه سره امر كړى دى هغه ويلي دي : ﴿ وَ أَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ وَ أٰتُوْا الزَّكٰوةَ ﴾ ﴿ او لمونځ ودروئ او زكات وركئ ﴾ ، څوك چي ئې له فرضيت څخه منكر سي هغه كافر د اسلام له دين څخه وتلى دى .

هغه څوك چي زكات پر فرض دى

س : پر چا زكات فرض دى ؟

ج : هغه پر داسي چا فرض دى چي ازاد مسلمان بالغ عاقل وي او د يوه كامل نصاب په كامله توګه مالك سي او كال پر تېر سي .

س كامل نصاب څه ته وايي ؟

---

(١) د مال زكات له دې كبله زكات بلل كيږي چي هغه مال پاكوي ، داسي هم ويل سوي دي : له دې كبله زكات بلل كيږي چي په هغه سره مال زياتيږي له (البحر الرائق ٢-٢١٦) څخه .

(٢) يعني د الله ﷻ د امر وړلو او رضا غوښتلو لپاره .

(٣) اكثر فقهاوو د الله ﷻ دكتاب په متابعت سره زكات له روژې څخه مخكي ذكر كړى دى او له دې كبله هم چي له لمانځه څخه وروسته افضل عبادت دى ، الله ﷻ په خپل مقدس كتاب كي په دوديرش ځايه كي د لمانځه سره يو ځاى ذكر كړى دى ، له " رد المحتار " (د زكات كتاب لمړى برخه) څخه .

ج : هغه دادی چي د سپینو زرو دوه سوه درهمه یا د سرو زرو شل مثقاله یا له مروجه پیسو څخه په دغو دوو کي د یوه قیمت یا د تجارت له سامان څخه په دغو دوو کي د یوه قیمت ولري .

س : که یو سړی نصاب ولري او پور پر باندي وي زکات پر فرض دی ؟

ج : په دغه کي کتل کیږي که دومره پور پر باندي وو چي ټوله مال ئې په کښې تلی نو زکات پر ده نسته ، او که ئې مال تر پور زیات وو او هغه زیات مقدار ئې نصاب ته رسېدلی وو په هغه زیات مقدرار کي زکات سته .

س : د تجارت په سامان کي زکات سته ؟

ج : هو که د تجارت سامان له دغو دوو نصابو څخه یوه نصاب ته رسېدلی وو ، یعني د سپینو زرو دوه سوه درهمه یا د سرو زرو شل مثقاله ، زکات په کښې سته .

س : ستاسو ددې خبري (او کال پر تېر سوی وي) څه مطلب دی ؟

ج : ددې مطلب دادی که یو مسلمان ازاد بالغ چي د یوه نصاب یا له هغه څخه زیات مقدار مالك سي هغه وخت زکات پر لازمیږي چي یو کامل قمري (۱) کال پر تېر سي ، په دغه کي شمسي کال نه حسابل کیږي .

س : د اوسېدلو په ځایو ، د بدن کالو او د کور په سامان کي تاسي څه وایاست ؟

ج : د اوسېدلو په ځایو ، د بدن کالو ، د کور سامان ، د سپرتیا حیوانان ، د خدمت ...ریان او د استعمال په سلاح کي زکات نسته .

س : که دغه شیان د تجارت لپاره وه په هغه کي زکات سته ؟

ج : هو که نصاب ته ورسېدل زکات په کښې سته .

س : که پر چا په سرو زرو او سپینو زرو یا د تجارت په سامان کي زکات فرض سو او په ...کات کي ئې د هغه قیمت ورکړی دا جائز دی ؟

ج : هو په زکات کي د قیمت ورکول روا دي .

س : څوك چي ټوله مال خیرات کي او د زکات نیت نه په کښې وکي دهغه څه حکم دی ؟

ج : له هغه څخه فرضي زکات ساقطیږي .

---

(۱) په راتلونکي کلو کي هم چي کال پوره سي په هغه تاریخ کي چي لمړي ځل ده زکات ورکړی دی ...ت پر لازمیږي .

س : كه پر يو چا زكات فرض سو وروسته ئې ټوله مال هلاك سو څه به كوي ؟

ج : كه ئې د زكات تر فرضيت وروسته ټوله مال هلاك سو زكات څني ساقطيږي ، اداء كول ئې نه دي پر فرض ، كه ئې د مال يو حصه هلاك سول په هغه قدر زكات څني ساقطيږي ، دا هغه وخت كه ئې مال هلاك سو ، كه ئې قصدا هلاك كړى زكات ئې نه ساقطيږي .

د سرو زرو او سپينو زرو زكات

س : پر څومره مقدار سپينو زرو زكات فرضيږي ؟

ج : كه د دوو سوو درهمو سپينو زرو مالك سو او كال پر تېر سو زكات پر فرضيږي نو د خپل مال څلوېښتمه برخه به وركوي ، هغه په هرو دوو سوو درهمو كي پنځه درهمه دي .

س : كه ئې دراهم تر دوو سوو زيات سول د زيات مقدار زكات به څرنګه وركوي ؟

ج : ابوحنيفه رح ويلي دي : په زائد مقدار كي تر هغه وخت پوري زكات نسته تر څو چي څلوېښتو درهمو ته رسيږي ، كه زائد مقدار څلوېښت درهمو ته ورسېدى په هغه كي پر پنځه درهمه سربېره يو درهم بل سته بيا په هرو څلوېښتو درهمو كي يو درهم سته ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : تر دوو سوو په زائد مقدار كي كه ډېر وي كه لږ د هغه په حساب زكات سته .

س : په څومره مقدار سرو زرو كي زكات فرضيږي ؟

ج : كه د شلو مثقالو سرو زرو (١) مالك سو او كال پر تېرسو نيم مثقال سره زر دي اداء

---

(١) په " الدر المختار " كي ئې ويلي دي د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی او د سپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه دی چي د هرو لسو درهمو وزن يو مثقال وي ، دينار (يو مثقال) شل قيراطه دی او درهم څوارلس قيراطه دی او قيراط پنځه اوربشي دی نو شرعي درهم اويا اوربشي دی او مثقال سل اوربشي دی نو هغه يو درهم او درې اومي د درهم دي اه . او د بيان په اخر كي ئې ويلي دي : په " النهر " كي ئې له " السراج " څخه نقل كړی دی چي لويه ډله ، جمهور كسان او د پخوانيو او وروستنيو علماوو كتابونه پر دې دي چي درهم څوارلس قيراطه دی (٢-٣٠) ، د " الكفر " مصنف ويلي دي : د زكات په اداء كولو او فرضېدلو كي د دراهمو وزن معتبر دی هغه دا چي لس ئې د اوو مثقالو وزن ولري اه. د نوي وزن په لحاظ حساب پوهانو په هغه كي اختلاف كړی دی ، ځينو ويلي دي : شل مثقاله پنځه اتيا ګرامه دي ، ځينو ويلي دي اوه اتيا ګرامه دي او ځينو ويلي دي نوي ګرامه دي ، په سپېڅلي شريعت كي

کي ، هغه هم څلوښتمه برخه ده بیا په زائد مقدار کي په هرو څلورو مثقالو کي دوه قیراطه دي ، تر څلورو مثقالو په کم کي چي تر شلو مثقالو زیات سي زکات نسته . دا د ابوحنیفه رح په نزد ، او دده ملګرو ویلي دي : په شلو مثقالو کي نیم مثقال دی او تر شلو مثقالو په زائد مقدار کي د هغه په حساب زکات سته .

س : که له سرو یا سپینو زرو څخه زیورات یا لوښي جوړ سول زکات په کښي واجبیږي ؟

ج : په سرو زرو ، سپینو زرو او هر هغه شي کي چي له دوی څخه جوړ سوي وي چي د هغو خښتي ، زیورات او د هغو لوښي دي زکات فرض دی ، په هغه کي مستعمل او نوي برابر دي .

س : که د سرو یا سپینو زرو سره یو څه کوټ ګډ وه د هغه څه حکم دی ؟

ج : که ئې سپین زر زیات وه د هغه د سپینو زرو حکم دی او که ئې کوټ زیات وه د هغه د تجارت د سامان (۱) حکم دی ، که د سرو زرو سره کوټ ګډ وي د هغه حکم هم د سپینو زرو په شان دی په نومړو حکمو کي .

د ص ۱۰۲ پاته برخه : احتیاط په کار دی نو څوك چي د پنځه اتیا ګرامو یا له هغه څخه زیات سرو زرو یا د هغه قیمت مالك سي او کال پر تېر سو زکات دي ورکي ، د دوو سوو درهمو په حساب کي هم حساب پوهانو پر څو قولو اختلاف کړی دی اول : ۵۹۵ ګرامه ، دوهم : ۶۰۹ ګرامه ، دریم : ۶۱۲ ګرامه ، په دغه کي هم احتیاط دادی چي لږ مقدار نصاب وګرځول سي او هغه وخت زکات اداء کي چي د ۵۹۵ ګرامو یا له هغه زیات سپینو زرو یا له مروجه پیسو څخه د هغه قیمت مالك سي ، دغه خبره په یاد که .

(۱) دغه رنګه قدوري ذکر کړي دي مګر په هغه کي تفصیل سته ، په " الهندیة ۱-۱۷۹ " کي ذکر سوي دي : که کوټ پر غالبه وه د سپینو زرو حکم نه لري نو کتل کیږي که رواج وه یا ئې د تجارت نیت په کښي کړی وو قیمت ئې معتبریږي ، که تر ټولو ارزانه دراهمو چي زکات په کښي فرض وي (هغه دراهم چي سپین زر ئې غالب وي) قیمت ته ورسیږي نو په هغه کي زکات فرض دی که نه نه دی فرض او که نه رواج وې نه د تجارت نیت په کښي سوی وو نو په هغه کي زکات نسته مګر هغه وخت زکات په کښي سته که ئې یوازي سپین زر دوو سوو درهمو ته رسیدل په داسي ډول چي ډېر وه او له کوټ څخه سپین زر جلاکېدلای سوای ، که نه سوای جلاکېدلای زکات نسته په کښي ، دغه رنګه په ډېرو کتابو کي ذکر سوي دي ، که د سرو زرو سره کوټ ګډ وه د هغه حکم هغسي دی لکه د سپینو زرو سره چي کوټ ګډ سوي وي ، که سره برابر وه په هغه کي اختلاف دی ، په " الخانیة " او " الخلاصة " کي ئې د فرضیت قول غوره کړی دی ، دغه رنګه په " البحر الرائق " کي ذکر سوي دي ، د " الهندیة " خبره ختم سول .

س : كه د يو سړي سره سره زر يا سپين زر نه وه مګر داسي لوټونه ورسره وه چي حکومتي بينك ئې جاري کوي په هغه کي زکات سته ؟
ج : هو که له دغو دوو نصابو (د سرو زرو او سپينو زرو نصاب) څخه د يوه نصاب قيمت ته ورسېدل زکات پر فرضيږي ځکه هغه لکه مروجه پيسې هر شی په رانيول کيږي او تجارت په کيږي او حکومت د هغه چا لپاره چي دغه لوټونه بينك ته وروړي د هغو نقودو (سرو او سپينو زرو پيسو) ورکولو ضمانت کوي د کومو لپاره چي دغه لوټونه جاري سوي دي .

د تجارت د سامان زکات

س : د تجارت د سامان زکات څه حکم لري ؟
ج : د تجارت په سامان کي که ئې قيمت د سپينو يا سرو زرو نصاب ته ورسېدی زکات فرض دی ، له دغو دوو نصابو څخه به ئې په هغه نصاب قيمتوي چي په هغه سره نصاب ته رسيږي او د فقيرانو او مسکينانو ګټه وي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد ، ابو يوسف رح ويلي دي : په هغه نصاب به ئې قيمتوي په کوم چي ده رانيولی وي ، که ئې په سپينو زرو رانيولی وو په هغه به ئې قيمتوي او که ئې په سرو زرو رانيولی وو په هغه به ئې قيمتوي ، که ئې د سپينو او سرو زرو څخه پرته په بل شي رانيولی وو په هغه پيسو به ئې قيمتوي چي په ښار کي ډېر رواج وي ، محمد رح ويلي دي : په هر حال کي به ئې په هغه پيسو قيمتوي کوم چي په ښار کي زيات رواج دي .

د سپينو او سرو زرو پيسو او د تجارت د سامان زکات به څرنګه ورکوي

س : د خپل مال زکات به څرنګه ورکوي ؟
ج : هغه مقدار زکات چي الله ﷻ دده په مال کي فرض کړی دی (څلوېښتمه حصه) به داسي چا ته ورکوي چي هغه ته ئې ورکول جائز وي او د ورکولو په وخت کي يا د فرضي مقدار د جلاکولو په وخت کي به د زکات نيت کوي .
س : د فرضي مقدار د جلاکولو په وخت کي د زکات نيت کولو څه مطلب دی ؟
ج : که چا د کال په آخر کي حساب وکړی او فرضي مقدار ئې جلا کی او داسي نيت ئې وکی چي هر وخت دی د زکات مستحق پيدا کي دا به هغه ته ورکوي ، نو دغه نيت هم صحيح کيږي نو هر وخت چي فقير يا مسکين ورته راغلی او د جلاسوي مال څخه ئې

يوه برخه ورکړل زکات ئې اداء کيږي که څه هم مستحق ته ورکولو په وخت کي د زکات نيت نه وکي .

س : که يو سړی د نصاب مالك وي او د کال په منځ کي نور مال حاصل کي دهغه زکات به ورکوي ؟

ج : که يو چا د کال په منځ کي مال حاصل کی د خپل مال سره چي دغه جنس (۱) ئې وي به ئې يو ځای کوي او زکات به ئې ورکوي .

س : د کال تر پوره کېدلو مخکي زکات ورکول جائز دي ؟

ج : که د نصاب مالك د کال تر پوره کېدلو مخکي زکات ورکی دا روا دی او زکات ئې صحيح دی .

س : که يو سړی د نصاب مالك وو د کال په آخر کي ئې د خپل مال زکات ورکی مګر د راتلونکي کال په منځ کي ئې مال تر نصاب کم سو آيا زکات پر فرض دی ؟

ج : که ئې د کال تر پوره کېدلو مخکي نصاب پوره سو زکات پر فرض دی . که د کال په دوو طرفو کي نصاب پوره وي په منځ کي د کال نصاب کمېدل زکات نه ساقطوي .

س : که يو سړی د تجارت د سامان مالك وو چي په هغه سره ئې تجارت کوی او هغه نصاب ته نه رسېدی او دهغه سره ئې سره زر يا سپين زر هم درلودل زکات پر فرضيږي ؟

ج : د تجارت د سامان قيمت د سرو يا سپينو زرو يا دواړو سره يو ځای کيږي که په مجموعي توګه نصاب ته ورسېدل زکات پر فرضيږي .

س : که د يو سړي سره تر شلو مثقالو کم سره زر او تر دوو ســوو درهمو کم سپين زر وه زکات پر فرضيږي ؟

---

(۱) د يوځای کولو مطلب دادی چي کله کال پوره سي پر هغه مال چي د کال په منځ کي حاصل سوی وی هم زکات فرضيږي ، د يوه جنس خبره ددې لپاره ده که ئې د کال په منځ کي حاصل سوي مال جنس جلا وو لکه اوښان د پسو سره ، نه سره يو ځای کيږي ، حاصل سوی مال ئې عام ياد کړی نو هغه مال چي په ميراث يا بخښنه يا رانيولو يا وصيت سره حاصل سوی وي هم په کښي شامل دی ، دا خبره به وروسته راسي چي د سرو زرو او سپينو زرو پيسې يو له بله سره يو ځای کيږي او د تجارت سامان په هغو کي له يوه سره يو ځای کيږي ځکه د قيمت په اعتبار ئې جنس يو دی ، له " البحر الرائق ۲-۲۳۹ " څخه ، نو د سرو زرو او سپينو زرو پيسې او تجارت سامان يو جنس دی ، په دغو کي چي کو . کال په منځ کي حاصل سوی وي د هغه بل سره يو ځای کيږي .

ج : هو سره زر د سپينو زرو سره د قيمت په اعتبار يو ځاى كيږي تر څو چي نصاب پور كيږي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد ، دده ملګرو رح ويلي دي : له دغو دوو څخه يو له بل سره د قيمت په اعتبار نه يو ځاى كيږي بلكه د ټكړو په اعتبار يو ځاى كيږي .

س : داسي يو مثال بيان كړئ چي د اختلاف نتيجه په كښي ښكاره سي .

ج : كه د يو سړي سره سل درهمه سپين زر او پنځه مثقاله سره زر وه چي قيمت ئې سل درهمه كېدل د امام ابوحنيفه رح په نزد زكات پر فرض دى ، دده د ملګرو رح په نزد نه دى پر فرض ځكه دده په نزد د قيمت په اعتبار نصاب پوره دى او ددوى په نزد د ټكړو په اعتبار پوره نه دى او كه د يو سړي سره سل درهمه سپين زر او لس مثقاله سره زر وه چي قيمت ئې سل درهمه وو په اتفاق سره زكات پر فرض دى ځكه په دواړو اعتبارو سره نصاب پوره دى . (١)

د څړ كونكو حيوانانو زكات

س : پرته له سرو او سپينو زرو او د تجارت سامان څخه په بل شي كي زكات شته ؟

ج : هو په څړ كونكو حيوانانو كي زكات شته .

س : څړ كونكي حيوانان څه شي ته وايي ؟

ج : هغه حيوانان دي چي په صحراء كي څړ كوي لكه اوښان ، غوايي او پسونه ، د زكات د فرضيت لپاره دا شرط دى چي د كال په زياته برخه كي په څړ سره كفايت كوي ، كه ئې نيم كال يا له هغه څخه زيات په كور كي واښه وركړل په هغه كي زكات نشته .

س : په دغو اجناسو كي څه شى فرض دى ؟

ج : په هغو كي د فرضي زكات مقدار او د هغه جنس مقدار چي زكات په كښي فرض دى مختلف دى .

س : هغه حيوانان چي كار كوي ، بار وړي او په كور كي واښه وركول كيږي د هغو په زكات كي تاسي څه واياست ؟

ج : په كار كونكو ، بار وړونكو او هغه حيوانانو كي چي پر كور واښه وركول كيږي زكات نشته .

(١) په دغه سره د يوه بل ته په ټكړو يو ځاى كولو مطلب څرګند سو ځكه سل درهمه د سپينو زرو نيم نصاب دى او سل مثقاله د سرو زرو نيم نصاب دى ، پوه سه او فكر په كښي وكه .

د اوښانو زکات

س : په اوښانو کي د فرض زکات مقدار بيان کړئ .

ج : تر پنځو اوښانو په کم کي زکات نشته ، که پنځو څرکونکو اوښانو ته ورسېدل او کال پر تېر سو په هغو کي يو پسه دی تر نو پوري ، کله چي لس سي په هغو کي دوه پسونه دي تر څوارلسو پوري ، کله چي پنځلس سي په هغو کي درې پسونه دي تر نونسو پوري ، کله چي شل سي په هغو کي څلور پسونه دي تر څليرويشتو پوري ، کله چي پنځه ويشت سي په هغو کي بنت مخاض (۱) ده تر پنځه دېرشو پوري ، کله چي شپږدېرشو ته ورسيږي په هغو کي بنتِ لبون (۲) ده تر پنځه څلوېښتو پوري ، کله چي شپږ څلوېښتو ته ورسيږي په هغو کي حقه (۳) ده تر شپېتو پوري ، کله چي يو شپېتو ته ورسيږي په هغو کي جذعه (٤) ده تر پنځه اويا پوري ، کله چي شپږاويا ته ورسيږي په هغو کي دوې بنت لبون دي تر نوي پوري ، کله چي يو نوي ته ورسيږي په هغو کي دوې حقې دي تر يو سل او شلو پوري ، بيا فرضي زکات له سره راګرځي نو په پنځو کي د دوو حقو سره يو پسه دی او په لسو کي دوه پسونه دي او په پنځلسو کي درې پسونه دي او په شلو کي څلور پسونه دي او په پنځه ويشتو کي بنت مخاض ده تر يو سل او پنځوسو پوري ، په هغو کي درې حقې دي ، بيا فرضي زکات له سره راګرځي په پنځو کي يو پسه (٥) دی په لسو کي دوه پسونه دي په پنځلسو کي درې پسونه دي په شلو کي څلور پسونه دي په پنځه ويشتو کي بنت مخاض ده په شپږدېرشو کي بنت لبون ده ، کله چي يو سل او شپږ نوي ته ورسيږي په هغو کي څلور حقې دي تر دوو سوو پوري ، بيا په دائمي توګه فرضي زکات داسي له سره راګرځي څرنګه چي تر يوسل اوپنځوسو وروسته پنځوسو کي راګرځي .

---

(۱) هغه هغه ده چي په دوهم کال کي داخله سوې وي .

(۲) هغه هغه ده چي په دريم کال کي داخله سوې وي .

(۳) هغه هغه ده چي په څلرم کال کي داخله سوې وي .

(٤) هغه هغه ده چي په پنځم کال کي داخله سوې وي .

(٥) يعني سره له هغه فرضي زکات چي له دغه څخه مخکي فرض وي ، هغه درې حقې دي ، دغه رنګه په وروستو کي څرنګه چي په " الکفاية " کي ذکر سوی دی .

س : په بختي (۱) او عربي (۲) اوښانو کي د فرضي زکات حکم مختلف کيږي ؟
ج : په دغه کي بختي او عربي اوښان برابر دي .

د غوايانو زکات

س : په غوايانو کي د زکات مقدار بيان کړئ .
ج : تر دېرشو غوايانو په کم کي زکات نسته ، کله چي دېرش څرکونکو ته ورسيږي او کال پر تېر سي په هغو کي يو تبيع يا تبيعه (۳) ده ، په څلوېښتو کي يو مسن يا مسنه (٤) ده . کله چي تر څلوېښتو زيات سي په زيات کي د ابوحنيفه رح په نزد په دغه حساب سره زکات فرض دی تر شپېتو پوري ، نو په يوه کي د مسن څلوېښتمه حصه فرض ده ، په دوو کي د مسن شلمه حصه فرض ده او په درو کي د مسن درې څلوېښتمي حصې فرض دي ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : په زيات کي تر شپېتو پوري هيڅ شی نسته . کله چي شپېتو ته ورسيږي په هغو کي دوه تبيعه يا تبيعې (٥) دي ، په اويا کي يو مسن يو تبيع دی ، په اتيا کي دوه مسنه دي ، په نوي کي درې تبيعه دي او په سلو کي يو مسن او دوه تبيعه دي ، پر دغه ډول په هرو لسو کي فرض له تبيع څخه مسن ته تغير خوري .

س : د زکات په مقدار کي د ګاميښو څه حکم دی ؟
ج : په دغه حکم کي ګاميښي (٦) او غوايان برابر دي .

---

(۱) بختي بخت نصر ته منسوب دی ځکه هغه اول هغه څوك وو چي عربي او عجمي اوښ ئې سره يو
خای کړل . له هغو څخه چي جونګی پيدا سو بختي نوم پر کښېښول سو په " الدر المختار " کي ئې دغه
خبره ذکر کړې ده .
(۲) د عربي لفظ د حيوانانو لپاره استعماليږي او د انسانانو لپاره د عرب لفظ استعماليږي ، جمع ئې
هم سره جلا ده ، دغه رنګه ئې په " رد المحتار " کي د " البحر " څخه نقل کړی دی .
(۳) هغه هغه دی چي په دوهم کال کي داخل سوی وي .
(٤) هغه هغه دی چي په دريم کال کي داخل سوی وي .
(٥) تر څلوېښتو په کم کي يا په شپېتو يا تر شپېتو په زيات کي اختلاف نسته .
(٦) د هند او پاکستان په ژبه بهينس ورته وايي ، د " البحر الرائق " مصنف د " الکنز " د مصنف تر دې
قول لاندي (او ګاميښي لکه غواوي) ويلي دي : ځکه د بقر (غواوي) نوم دواړو ته شامل دی
ګاميښي د بقر يو قسم دی نو د بقر نصاب په هغو سره پوره کيږي او د بقـر زکات په دوی کي فـرض

د پسو زکات

س : د پسو د زکات تفصیل بیان کړئ .

ج : تر څلویښتو پسو په کم کي زکات نسته ، کله چي څوکونکو څلویښتو ته ورسیږي او کال پر تېر سي په هغو کي یو پسه دی تر یو سل او شلو پوري ، که تر دغه یو زیات سو په هغو کي دوه پسونه دي تر دوو سوو پوري ، که تر دغو یو زیات سو په هغو کي درې پسونه دي ، کله چي څلورو سوو ته ورسیږي په هغو کي څلور پسونه دي بیا په هرو سلو کي یو پسه دی .

س : د پسه او بزې (۱) حکم فرق لري ؟

ج : هغه دواړه برابر (۲) دي حکم ئې مختلف نه دی .

د اسانو زکات

س : په اسانو کي زکات سته ؟

ج : که اسان څړکونکي نر او ښځي وه او کال پر تېر سو نو ئې مالك اختیار لري که له هر آس څخه یو دینار ورکوي که ئې قیمتوي او له هرو دوو سوو درهمو څخه پنځه درهمه ورکوي په یوازي نرو (۳) کي د ابوحنیفه رح په نزد زکات نسته .

د ص ۱۰۸ پاته برخه : دی ، د ګډوالي په صورت کي له زیاتو څخه زکات اخستل کیږي که یو قسم تر
بل قسم زیات وو ، که سره برابر وه د کښته لوړ او د لوړ کښته اخستل کیږي (۲-۲۳۲) .
(۱) پسه هغه دی چي وړی ولري ، بزه هغه ده چي وریښتان ولري .
(۲) ځکه په حدیث کي د غنم او شاه لفظ ذکر سوی دی او هغه دواړو ته شامل دی " رد المحتار له النهر
څخه " ، په " الدر المختار " کي ئې ویلي دي : دواړه د نصاب په پوره کولو کي برابر دي اه . شامي ویلي
دي : که د پسو نصاب کم وو او دومره بزې ورسره وي چي د پسو سره ئې نصاب پوره کوی یا سر چپه
ددغه وو نو زکات په کښي فرض دی ، دغه رنګه که بزې یو پوره نصاب وو زکات په کښي فرض دی ؛
که نصاب د پسو وو زکات له پسو څخه اخستل کیږي ، که د بزو وو له بزو څخه اخستل کیږي او که له
دواړو څخه وو له زیات څخه اخستل کیږي که سره برابر وه له هر یوه څخه چي دده خوښه وي . دغه رنګه
په "الجوهرة" کي ذکر سوي دي ، یعني د کښته لوړ او د لوړ کښته ورکول کیږي "رد المحتار ۲-۱۹".
(۳) په " الهدایة " کي ئې ویلي دي : یوازي په نرو کي زکات نسته ځکه له هغو نسل نه کیږي ، دغه
رنګه په یوازي ښځو کي په یوه روایت کي زکات نسته ، له ده څخه په بل روایت کي دانقل سوي دي
چي زکات په کښي فرض دی ځکه د بل چا څخه په غوښتل سوي نر سره د هغو نسل کیږي ، په یو بل

س : د آسانو په زکات کي اختلاف سته ؟

ج : هو ابو يوسف رح او محمد رح په دغه کي د ابو حنيفه رح سره اختلاف کړی دی ، هغوی ويلي دي په آسانو کي زکات نسته .

س : په غاترو او خرو کي زکات سته ؟

ج : په غاتروا وخرو کي يوازي هغه وخت زکات سته چي دتجارت لپاره وي په دغه وخت کي دومره زکات په کښي واجب دی څومره چي د تجارت په سامان کي واجب دی .

متفرقي مسئلي

س : په جونګيانو او ګلګيانو کي د ابوحنيفه رح څه قول دی ؟

ج : د ابوحنيفه رح او محمد رح په نزد په جونګيانو ، وريانو يا مرغومو او ګلګيانو کي زکات نسته مګر هغه وخت سته که غټان ورسره وه ، ابويوسف رح ويلي دي : په هغو کي د هغو يو فرض دی (۱) .

س : که زکات ټولونکی د څرکونکو حيوانانو زکات اخستلو لپاره ولاړی او کوم شی چي پر هغو فرض وو د هغو سره نه وو څه به کوي ؟

ج : له هغه څخه کښته او فرق دي واخلي يا دي له هغه څخه لوړ واخلي فرق دي ورکي .

س : زکات ټولونکی به اعلی مال (تر ټولو ښه) اخلي که ادنی (تر ټولو کښته) ؟

ج : نه به دغه اخلي نه هغه بلکه ميانه به اخلي .

فائده : د اوښانو په زکات کي د نرو اوښانو اخستل نه دي روا مګر د ښځو اوښانو د قيمت په حساب سره روا دی ، په غوايو او پسو کي نر او ښځه (۲) اخستلای سي .

س : که د نصاب څخه زائد مقدار هلاك سو او اصل نصاب پاته سو په پاته کي ټوله زکات فرض دی که د هلاك سوي مال په حساب زکات کميږي ؟

د ص ۱۰۹ پاته برخه : روايت کي دا خبره نقل سوې ده چي په يوازي نرو کي هم زکات سته اه ، ابن
الهمام په " فتح القدير " کي ذکر کړي دي : په يوازي نرو کي هم او په يوازي ښځو کي هم دوه روايته دي
، قوي قول په نرو کي نه فرضيت او په ښځو کي فرضيت دی اه .
(۱) د ابويوسف رح په نزد په دغه کي تفصيل سته چي د " هدايې " مصنف ذکر کړی دی که غواړې هغه
وګوره .
(۲) " البحر الرائق ۲-۲۳۰ " وګوره .

ج : د ابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد قاعده دا ده چي په نصاب كي زكات فرض دى په زائد مقدار كي زكات نسته ، كله چي زائد مقدار هلاك سي او اصل نصاب پاته سي ددوى دوو په نزد ټوله زكات پاته دى ، محمد رح او زفر رح ويلي دي : د هلاك سوي مال په حساب زكات هلاكيږي .

س : په دغه اجمالي بيان سره د اختلاف نتيجه نه ده ښكاره سوې تشريح ئې وكړئ .

ج : موږ دې لره يو مثال اړدو نو ته په ظاهري او باطني توګه كامله توجه ورته ولره : كه د يو سړي سره نه اوښان وه او كال پر تېر سو وروسته څلور څني هلاك سول پر ده باندي په پاته اوښانو كي يو پوره پسه دى څرنګه چي په هغه صورت كي يو پوره پسه وو كه اوښان له سره څخه صرف پنځه واى ، هلاك سوي هغه اوښان ګڼل كيږي كوم چي تر نصاب يعني پنځو زائددي په كومو كي چي زكات نسته ترڅو چي لسو ته رسيږي ، دا دابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد ، د محمد رح او زفر رح په نزد په پاته اوښانو كي پر ده د يوه پسه پنځه نهمي اداء كول فرض دي ، دوى دوو زكات پر نو اوښانو وېشلى دى او هلاك سوي اوښان ئې له ټوله مال څخه ګڼلي دي او زكات ئې د هلاك سوو اوښانو په حساب سره كم كړى دى .

دوهم مثال : د يو سړي سره اتيا پسونه وه د كال تر پوره كېدلو وروسته څلوېښت هلاك سول په پاته پسو كي د ابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد پر ده پوره پسه دى او د دوى دوو په نزد نيم پسه دى ، كه شپېته پسونه هلاك سول د شيخينو رح په نزد پر ده نيم پسه دى او د دوى دوو په نزد د پسه څلورمه حصه (۱) ده نو فكر په كښني وكه .

د كښتو او مېوو زكات

س : په كښتواو مېوو كي زكات سته ؟

ج : هو په هغو كي زكات سته ، د هغه اوبو په اعتبار سره چي كښت په اوبه كيږي د حاصل سوي كښت او ميوې عشر (لسه) يا نيم عشر (شلمه حصه) به اداء كوي .

س : په دغه كي نصاب سته ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد په دغه كي نصاب نسته ، هر شى چي له مځكي څخه راووزي كه لږ وي كه ډېر زكات په كښني فرض دى بېله لرګو، نلانو او وښو څخه پـه هغـو كي

(۱) د " هدايې " شرحي " فتح القدير" او " العناية " او د " القدوري" شرح " الجوهرة النيرة " ...

دده رح په نزد زکات نسته ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي د مځکي له حاصلاتو څخه صرف په هغو شيانو کي زکات سته چي پاته کېدونکې مېوه ولري په دې شرط چي پنځه وسقو ته ورسيږي ، په سبزي جاتو کي زکات نسته .

س : وسق څه ته وايي ؟

ج : هغه د مدينې د خلگو پېمانه ده چي شپېته صاع (کاسې) ئې ځايولې .

س : د عشر او نيم عشر څه تفصيل دی ؟

ج : که مځکه په جاري اوبو يا د باران په اوبو اوبه سول په هغه کي عشر دی ، که په لويه سولاغه يا څرخ يا اوبنه سره اوبه سول په هغه کي پر دواړو قولو نيم عشر دی .

س که د مځکي حاصلات په وسق سره نه پېمانه کېدل لکه زعفران او پنبه په هغه صورت کي د زکات په فرضيت کي د ملگرو رح څه حکم دی .

ج ابويوسف رح ويلي دي که د هغه قيمت د تر ټولو ارزانه هغه حاصل چي په وسق اندازه کيږي قيمت ته ورسيږي ، عشر پر لازميږي او محمد رح ويلي دي که حاصل د خپلې تر ټولو لويي پېماني پنځه چنده ته ورسېدی زکات پر فرضيږي نو هغه په پنبه کي پنځه باره او په زعفران کي پنځه منا (۱) (يوه خاصه پيمانه ده) معتبر کړي دي .

س : په عسلو کي عشر لازميږي ؟

ج : که د عشري مځکي څخه عسل واخستل سي لږ وي که ډېر دابوحنيفه رح په نزد عشر په کښي لازميږي . ابويوسف رح ويلي دي تر څو چي لسو زقو ته رسيږي زکات نسته په کښي ، محمد رح ويلي دي تر څو چي پنځو فرقو ته رسيږي زکات نسته په کښي .

س : د فرق څومره مقدار دی ؟

ج : هغه شپږ دېرش عراقي رطله دی .

س که د خراجي مځکي څخه شی حاصل سي په هغه کي عشر لازميږي ؟

ج : په هغه کي عشر نه لازميږي بلکه خراج په هغه کي کفايت کوي .

س : د مځکي تکاليف لکه د مزدورانو مزدوري ، د غوايانو خرچه او نور د عشر يا نيم عشر اداء کولو څخه مخکي وزي ؟

---

(۱) منا مهموز اللام دی جمع ئې امناء ده ، په قاموس کي ذکر سوي دي : من لکه منا يو معلومه پېمانه وزن دی ، د من جمع امنان ده اه .

ج : د مخکي تکاليف (۱) مخکي نه وزي بلکه زکات اداء کول که عشر وي که نيم عشر له ټوله حاصلاتو څخه اداء لازم دي .

د زکات مصارف

س :د زکات مصارف بيان کړئ .

ج : الله ﷻ د هغه مصارف په خپل مقدس کتاب کي بيان کړي دي ، الله ﷻ ويلي دي : ﴿ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَ الْمَسَاكِيْنِ وَ الْعَامِلِيْنَ عَلَيْهَا وَ الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَ فِيْ الرِّقَابِ وَ الْغَارِمِيْنَ وَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ ﴾ ﴿ بېله شکه زکاتونه فقيرانو،مسکينانو ، پر هغو کار کونکو ،هغه کسانو چي زړونو ئې له اسلام سره مينه پيدا کړې وي.د مريانو په ازادولو کي،تاوانيانو، د الله ﷻ په لاره کي او مسافر لره دي ﴾ نو دغه اته قسمونه دي :

۱ : فقيران .

۲ : مسکينان .

۳ : پر هغو کار کونکي .

٤ : هغه کسان چي زړونو ئې له اسلام سره مينه نيولې وي .

٥ : مريان .

٦ : تاوانيان .

۷ : د الله ﷻ په لاره کي .

۸ : مسافر .

س : فقير څوك دى ؟

ج : هغه هغه دى چي لږ شى ولري او مال ئې نصاب ته نه رسيږي .

س : د مسکين تعريف څه دى ؟

ج : هغه هغه دى چي هيڅ شى نه لري .

س : د پر زکاتو باندي کار کونکو څه مطلب دى ؟

---

(۱) په " البحر الرائق ۲-۲٦٥ " کي ئې ويلي دي : يعني د مزدورانو مزدوري ، د غوايانو خرچه ، د ولو کارول ، د چوکيدار مزدوري او نور نه شمېرل کيږي ځکه نبي ﷺ د تکاليفو د بدلون له کبله د زکات په بدلون سره حکم کړى دى .

ج : هغه هغه کسان دي چي امام د هغه زکات چي الله ﷻ پر خلکو فرض کړی دی د ټولولو لپاره ټاکلي وي نو دوی هغوی ته ورځي زکاتونه حاصلوي او خپل وختونه په دغه کي صرفوي نو دوی ته امام د دوی د کار په اندازه د زکات له مالو څخه مال ورکوي .

س : د الله ﷻ ددې قول ﴿ وَ فِيْ الرِّقَابِ ﴾ څه مطلب دی ؟

ج : د هغه مطلب دادی چي د مکاتبو (۱) مريانو سره د دوی په ازادولو کي مرسته وسي .

س : تاواني څوك دی ؟

ج : هغه څوك دی چي پور پر واوړي او دده سره دومره مال نه وي چي پور په اداء کي .

س : د الله ﷻ ددې قول ﴿ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ څه مطلب دی ؟

ج : هغه له غازيانو څخه پاته سوي کسان دي يعني هغه کسان چي د الله ﷻ په لاره کي د جهاد لپاره وتلي وي او له خپلي ټولۍ څخه پاته سوي وي او خرڅې ته محتاجه وي .

س : مسافر څوك دی ؟

ج : هغه مسافر چي د سفر په وخت کي دده سره مال نه وي که څه هم په خپل وطن کي خان مال لرونکی وي .

س : هغه کسان چي زړونه ئې د اسلام سره مينه نيولې وي د هغو په هکله سوال پاته سو.

ج : هغوی هغه کسان دي چي نبي ﷺ دوی ته د زکات له مالو څخه يوه برخه ددې لپاره ورکول چي زړونه ئې د اسلام سره مينه پيدا کي ددې لپاره چي په اسلام کي داخل سي ، هغوی د ځينو قبيلو مشران وه او دا اميد وو چي دوی اسلام راوړي قومونه ئې هم اسلام راوړي ، کله چي الله ﷻ اسلام غالبه کړی او له دوی څخه ئې بې احتياجه کړی دوی ته ورکول ساقط سول نو د نبي ﷺ تر زمانې (۲) وروسته دوی ته زکات نه ورکول کيږي .

---

(۱) مکاتب هغه مريی دی چي بادار ئې يو مقدار مال ورته وټاکي او ورته ووايي که دي دغه مال ما ته راوګټی نو ته ازاد يې .

(۲) د " هدايې " مصنف ويلي دي : هغه کسان چي زړونو ئې د اسلام سره مينه نيولې وي د زکات له مصارفو څخه ساقط سوي دي ځکه چي الله ﷻ اسلام غالبه کړی او له دوی څخه ئې بې احتياجه کړی اه. ابن الهمام په (فتح القدير) کي ويلي دي : هغوی درې قسمه وه اول داسي خلګ چي کافران وه اونبي ﷺ دوی ته زکات ددې لپاره ورکوی چي زړونه ئي د اسلام سره مينه پيداکي دوهم داسي خلګ چي ددې لپاره ئې زکات ورکوی چي د هغوی شر له مسلمانانو څخه ليري کي دريم داسي خلګ چي اسلام ئې راوړی وو مګر کمزوري په کښې وه ، د اسلام سره ئې ددوی مينه پيدا کول چي پر اسلام ټينګ سي اه .

س : څرنګه چي تاسي بيان وکړئ اوه قسمه پاته سول چي زکات ورکول ورته جائز دي نو زکات ورکونکی به هر قسم ته زکات ورکوي که دا روا ده چي يوه قسم ته ئې ورکي ؟
ج : زکات ورکونکي ته دا هم روا ده چي پر يوه قسم اکتفاء وکي که يو شخص وي که ډېر دا هم روا ده چي دوو قسمو يا زياتو ته ئې ورکي .
س : دا روا ده چي د زکات مال مسکين يا فقير کافر ته ورکي ؟
ج : څوك چي له اسلام څخه وتلی وي هغه ته زکات ورکول روا نه دي که ذمي (هغه کافر چي په اسلامي هيواد کي اوسيږي او حکومت ته جزيه ورکوي) وي که بل کافر .
س : دا روا ده چي.د زکات په مال سره مړي ته کفن ورکول سي يا مسجد يا مدرسه يا پل يا دعامو خلګو د تېرېدو لپاره لاره په جوړه سي ؟
ج : دغه کارونه د زکات په مال کي روا نه دي ، که ئې په دغو شيانو کي زکات خرڅ کړي دوهم ځل دي زکات اداء کړي ، په دې کي دا قاعده ده چي د زکات په اداء کولو کي مستحق سړي ته مال په ملك ورکول ضروري دي ، د مړي په کفن ورکول او مسجد او نورو شيانو په جوړولو کي په ملك ورکول نسته .
س : که داسي چا ته زکات ورکي چي د مدرسې د کارو تصرف کوي هغه څه حکم لري ؟
ج : که د مدرسې متصرف ته زکات ورکي او هغه په دې سره وکيل کي چي پر فقيرانو او مسکينانو طالب العلمانو ئې خرڅ کي دا روا دی په دې شرط چي د مدرسې متصرف دوی ته مال په ملك ورکي نو په ډوډۍ وړاندي کولو ، د مدرسې ودانۍ جوړولو يا د زکاث مال د مدرسينو او کارکونکو په مياشتنۍ تنخواوو کي ورکولو سره د خلګو زکات نه اداء کيږي .
س : که د زکات په مال مريی رانيسی او ازاد ئې کي په هغه سره ئې زکات اداء کيږي ؟
ج : يا .
س : که زکات ورکونکی خپل زکات خپلو قريبانو ته چي فقيران وي ورکي دا روا دی ؟
ج : قريبان دوه قسمه دي ، يو هغه قسم قريبان دي چي د دوی او زکات ورکونکي په منځ کي د زېږېدو قرابت وي لکه مور او پلار ، نيکه ګان او اناګاني او اولاد او لمسيان ، بل هغه قسم قريبان دي چي د هغوی او زکات ورکونکي په منځ کي د زېږېدو قرابت نه وي لکه وروڼه او خوندي ، ترونه او تروريانی او ماما ګان او خاله ګاني او د هغو اولاد ، مړي قسم ته زکات ورکول روا نه دي نو که ئې خپل زکات زوی يا لمسي ته که نر وي

که ښځه که څه هم کښته وي ورکی یا ئې خپل پلار یا مور ته یا نیکه ګانو یا اناګانو ته ورکی زکات ئې نه صحیح کیږي ، دوهم قسم ته زکات ورکول روا دي ، هغوی ته زکات ورکول دوه ثوابه لري یو د زکات اداء کولو ثواب دوهم د قرابت پاللو ثواب .

س : که هغوی ته وویل سي چي دا د زکات مال دی نه ئې اخلي نو به څه ډول دوی ته زکات ورکوي ؟

ج : ددې ښکاره کولو ته ضرورت نسته بلکه چي ته د زکات نیت وکې او دوی ته دا ښکاره کې چي دا تحفه ده زکات په اداء کیږي په دې شرط چي دوی د زکات مستحق وي څرنګه چي د زکات په مصارفو کي ذکر سول او د بني هاشم څخه نه وي .

س : که یو چا خپل زکات خپلي ښځي ته ورکړی یا ښځي خپل مېړه ته ورکړی زکات ئې اداء کیږي ؟

ج : د ابوحنیفه رح په نزد ئې زکات نه اداء کیږي او ملګرو رح ئې ویلي دي که ښځي خپل مېړه ته زکات وکړی زکات ئې اداء کیږي .

س : که ئې خان یا د خان زوی ته زکات ورکی د هغه څه حکم دی ؟

ج : خان (یعني داسي څوك چي د یو داسي نصاب مالك (۱) وي چي دده د اصلي حاجتو څخه زائد وي له هر مال څخه چي وي) ته زکات ورکول جائز نه دي ، د خان زوی ته که کوچنی وي بالغ نه وي زکات ورکول روا نه دي ، که د خان زوی لوی وي او فقیر وي د نصاب مالك نه وي زکات ورکول ورته روا دي .

---

(۱) ابن الهمام په " فتح القدير ۲-۲۰۲ " کي ويلي دي : خلاصه داده چي نصابونه درې دي اول داسي نصاب دی چي پر مالك زکات لازموي ، هغه هغه نصاب دی چي په فطرتي توګه یا په تیارولو سره زیاتېدونکی وي او له پور څخه خلاص وي ، دوهم داسي نصاب دی چي زکات نه لازموي ، هغه هغه دی چي له دغو دوو قسمو څخه نه وي ، دغه قسم که د مالك په حاجتو کي ختمېدی ده ته د زکات اخستل روا دي لکه داسي کالي چي د یوه نصاب سره برابر وي او دی تېولو ته ضرورت نه لري یا د کور داسي سامان چي په کور کي د هغه تېولو استعمال ته ضرورت نه لري یا مریی یا آس چي د هغه خدمت او سپرتیا ته ضرورت نه لري یا داسي کور چي په هغه کي اوسېدو ته ضرورت نه لري ، که دغو شیانو ته په صحیح توګه ضرورت ولري نو دی فقیر دی زکات اخستل ورته روا دي او سوال کول پر حرام دي ، دریم داسي نصاب دی چي سوال کول حراموي هغه دادی چي د یوې ورځي قوت ولري یا هغه نه ولري مګر پر کسب او کار قدرت لري یا پنځوس درهمه ولري د هغه اختلاف پر بنسټ چي په دغه کي سته اه .

س : په فقيرانو او مسکينانو کي داسي څوك سته چي زکات ورکول نه وي ورته روا ؟
ج : هو بني هاشم ته که څه هم فقيران مسکينان وي زکات ورکول نه دي روا . هغوی د علي ﷺ آل اوعباس ﷺ آل اوجعفر ﷺ اوعقيل ﷺ آل او حارث ﷺ بن عبد المطلب آل دي .
س : که دغه کسان محتاجه وه څرنګه به څوك مرسته ورسره کوي ؟
ج : د زکات او فرضي خيراتو پرته نور خيرات به ورکوي .
س : که يو سړي يو چا ته په دې ګمان زکات ورکی چي د زکات مستحق دی وروسته ښکاره سو چي خان يا هاشمي يا کافر دی يا ئې په تاريکه کي فقير ته زکات ورکی وروسته ښکاره سو چي دده پلار يا زوی دی زکات ئې اداء کيږي ؟
ج : زکات ئې اداء کيږي او پر ده ئې راګرځول (١) نسته . دا د ابوحنيفه رح او محمد رح په نزد ، ابويوسف رح ويلي دي په دغو ټولو صورتو کي زکات راګرځول پر لازم دي .

د ص ١١٦ پاته برخه : د " البحر ٢-٢٦٣ " مصنف د " الکنز " د مصنف تر دې قول (او غني چي د نصاب مالك وي) لاندي ويلي دي : نصاب ئې عام ذکر کړی نو هغه نصاب ته چي زياتېدونکی له پوړ څخه خلاص له اصلي حاجتو څخه زيات او د هر مالي واجب لازمونکی وي او هغه نصاب ته چي زياتېدونکی نه وي او له نومړو شيانو څخه خلاص وي چي د درو شيانو واجبونکی دی سر سايه . قرباني او د قريب خرچه دغه دواړو نصابو ته شامل سو ځکه هر يو زکات اخستل حراموي اه نو په دغه ښکاره خبره سره دا معلومه سول چي خانوالی دوه قسمه دی ، لمړی هغه خانوالی چي پر مالك زکات فرضوي او زکات اخستل پر حراموي ، هغه هغه مال دی چي زياتېدونکی وي که څه هم په فرضي توګه سره او هغه مال چي د تجارت لپاره تيار سوی وي او قيمت ئې له دوو پيسو يعني سره زر او سپين زر څخه د يوه نصاب ته ورسيږي ، دوهم هغه خانوالی دی چي مالك ته ئې يو څوك زکات ورکي يا ئې دی له چا څخه واخلي دواړه حرام وي ، هغه هغه مال دی چي له اصلي حاجتو څخه خلاص او قيمت ئې نه دوو نصابو څخه يوه نصاب ته ورسيږي که څه هم دغه مال چي له اصلي حاجتو څخه خلاص دی د کور سامان وي يا کتابونه وي د داسي چا لپاره چي اهل ئې نه وي يا کور وي چي په هغه کي اوسېدلو ته ضرورت نه لري ، دا هغه خانی ده چي په هغه سره د سرسايې واجبېدل او قرباني واجبېدل اړه لري او الك ته ئې زکات اخستل نه دی روا او نه مال لرونکو خلګو ته دا روا دی چي ده ته دخپلو مالو زکات کي ، خلګ داسي ګمان کوي چي پر کوم چا زکات فرض نه وي هغه ته زکات اخستل روا دي . دا ره عامه نه ده ځکه کله يو څوك د داسي نصاب مالك نه وي چي زکات پر فرض وي ليکن داسي خان يا چي زکات اخستل ورته حرام وي ، پوه سه ځکه ډېر خلګ له دې څخه غافله دي .
) په " القهستاني " کي ئې له " الزاهدي " څخه نقل کړی دی : که دا ښکاره سول چي مريی يا حربي

س : که ئې یو چا ته په دې ګمان زکات ورکی چې د زکات مستحق دی وروسته خبر سو چې دده مریی یامکاتب دی زموږ درو امامانو رح په دې کي څه ویلي دي ؟
ج : که داسي پېښنه سول د درو سره وو په قول کي ئې زکات نه صحیح کیږي .
س : که یو سړی جوړ وي کار کولای سي دنصاب مالك نه وي زکات ورکول ورته روادي ؟
ج : هو روا دی .
س : که یو زکات ورکونکي د خپل مال زکات یو بل ښار ته نقل کړی دا روا دی ؟
ج : په دغه کي قاعده داده چي د هر قوم زکات په هغه قوم کي وېشل کیږي ، د خپل مال زکات دي بل ښار ته نه نقل کوي ، که ئې داسي وکړل مکروه دی مګر که ئې خپلو قریبانو یا داسي کسانو ته چي دېر محتاج وه نقل کړی روا دی .

سر سایه

س : د سر سایې څه حکم دی ؟
ج : هغه پر داسي چا واجب ده چي آزاد مسلمان او د داسي نصاب مالك وي چي دده د کور ،کالو ، د کور سامان ، آس او سلاح څخه اضافي وي له هر قسم مال څخه چي وي .
س : د چا له خوا څخه به سر سایه اداء کوي (۱) ؟
ج : له خپل ځان ،کوچني اولاد او دخدمت مریي څخه که څه هم کافروي به ئې اداء کوي .
س : د کوچني اولاد سر سایه به د هغه له مال څخه اداء کوي که له خپل مال څخه ؟
ج : که هغه مال درلودی د هغه له مال څخه به ئې اداء کوي که ئې نه درلودی له خپل مال څخه به ئې اداء کوي .
س : پر سړی لازمه ده چي د خپلي مایني او لوي اولاد څخه سر سایه اداء کي ؟
ج : د مایني اولوی اولاد له خوا څخه اداء کول نه دي واجب که څه هم نفقه ئې دی ورکوي څرنګه چي د هغو مریانو له خوا څخه چي د تجارت لپاره وي اداء کول واجب نه دي .

د ص ۱۱۷ پاته برخه : کافر دی بیرته دي ئې نه څني اخلي ، په هاشمي کي دوه روایته دي ، د ځان له زوی څخه دي ئې نه اخلي ، آیا هغه ته دا زکات ښه دی ؟ په دې کي اختلاف دی ، که ښه نه وي داسي ویل سوي دي خیرات دي ئې کي او داسي ویل سوي دي بیرته دي ئې ورکونکي ته ورکي اه . ابن عابدین شامي په " رد المحتار ۱-۱۶۸ " کي ذکر کړې ده .
(۱) سرسایه په هغه خاني سره واجبیږي په کوم سره چي دزکات مال حرامیږي ، هغه مو مخکي ذکر کړل

س : که يو مريی د دوو کسانو په منځ کې شريك وو سر سايه ئې پر چا واجب ده ؟
ج : پر يوه ئې هم سرسايه واجب نه ده .
س : په کوم وخت کې سرسايه واجبيږي ؟
ج : سرسايه د کوچني اختر د ورځې د دوهمې سپېدې په راختلو سره واجبيږي ، نو څوك چې له دغه وخت څخه مخکې مړ سي سرسايه نه ده پر لازمه ، دغه رنګه څوك چې د سپېدو راختلو وروسته مسلمان سي يا وزيږي نه پر ده واجب ده نه دده له خوا څخه .
س : د سرسايې لپاره مستحب وخت سته ؟
ج : هو مستحب دادی چې د اختر په ورځ عيدګاه ته تلو څخه مخکې ئې اداء کې .
س : که ئې د اختر له ورځې څخه مخکې اداء کړل څه حکم لري ؟
ج : که ئې د اختر له ورځې څخه مخکې اداء کړل روا ده .
س : که ئې د اختر له ورځې څخه وځنډول ؟
ج : که ئې وځنډول نه ځني ساقطيږي ، اداء کول ئې پر لازم دي .
س : د سرسايې مصرف څوك دی ؟
ج : هغه فقير او مسکين چې له هيڅ مال څخه نصاب نه لري (۱) .
س : د سرسايې د اداء کولو څه فائده ده ؟
ج : ابوداود د عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی ده وويل : رسول الله ﷺ سرسايه ددې لپاره فرض کړل چې روژه له لغو او فاحش خبرو څخه پاکه سي او مسکينانو لپاره خوراك سي (۲) .

---

(۱) دې خبرې ته اشاره ده چې داسې خان چې زکات اخستل ورته روا نه وي سرسايه هم نه ده ورته روا ، په " الدر المختار" کې ئې ويلي دي : سرسايه لکه زکات په مصارفو کې او په هر حال کې اه . شامي په خپله حاشيه کې ددې قول (په مصارفو کې) په متعلق ويلي دي : يعني کوم چې د زکات په آيت کې ذکر سوي دي ببله زکات ټولونکي غني څخه په ښکاره قول کې ، او داسې چا ته نه صحيح کيږي چې ددوی په منځ کې د زيږيدو قرابت وي يا ماينه اومېړه وي نه خان يا هاشمي يا د هغو په شان نور کسانو ته صحيح کيږي کوم چې د زکات د مصارفو په بيان کې تېر سول ، له دې قول (او په هر حال کې) څخه ټوله احوال مراد نه دي بلکه مستحقينو ته د ورکولو احوال مراد دي يعني نيت شرط دی او په ملك ورکول شرط دي صرف وراندې کول کفايت نه کوي څرنګه چې په " البدائع ۱-۹۷ " کې ذکر سوي دي .
(۲) ابوداود ئې په (باب زکوة الفطر) کې روايت کړی دی .

س : د سرسايې څومره مقدار دی ؟

ج : د سرسايې مقدار نيمه کاسه غنم يا يوه کاسه له خرما يا وڅکو يا اوربشو څخه ده .

س : که ئې له دغو شيانو څخه پرته په نورو شيانو لکه دراهم ، پيسې ، وريجې او جواري سره اداء کړل څه حکم ئې دی ؟

ج : دې ته په قيمت سره اداء کول ويل کيږي ، که ئې د غنمو ، خرما ، وڅکو يا اوربشو څخه پرته داسې شی اداء کړی چې قيمت ئې يوه ته د دغو شيانو رسيدی او د سرسايې نيت ئې کړی وو کفايت ورته کوي .

س : د کاسې څومره مقدار دی ؟

ج : د ابوحنيفه رح او محمد رح په نزد اته عراقي رطله (۱) ده او د ابويوسف رح په نزد پنځه رطله او د رطل يوه دريمه ده .

---

(۱) په " شرح الوقاية " کې ئې ويلي دي صاع (کاسه) يو پېمانه ده چې اته رطله ځايوي . اته رطله د ماش يا عدس څخه اندازه کيږي ځکه د هغو په دانو کې دلوی والي او کوچني والي ، تخته والي او نه تخته والي په اعتبار تفاوت ډېر کم دی ، په نورو دانو کې تفاوت ډېر زيات دی . وروسته ئې ويلي دي: بيا پوه سه چې دغه صاع عراقي صاع ده ، حجازي صاع پنځه رطله او يوه دريمه د رطل ده ، زموږ په نزد نيم صاع د عراق دوه منه ده او من څلوېښت استاره دی او استار څلورنيم مثقاله دی نو من يو سل او اتيا مثقاله دی اه . د نبي ﷺ په زمانه کې صاع يو لوښی وو چې شيان په پېمانه کېدل . کله چې اسلام د دنيا په گوښو کې خپور سو او مسلمانانو سرسايه اداء کول پېمانه ئې په وزن سره اندازه کړل ، څرنگه چې شيان د وزن په حيث مختلف کيږي نو له دې امله د علماوو په نزد حساب مختلف سو مفتيانو د خپلو رايو مطابق فتواوي ورکړې . په اوسنی زمانه کې په هره گوښه کې په بازارو او معاملو کې د وزن مقدار په کيلو گرام سره رواج دی . ما له علماوو څخه پوښتني وکړې او په دې هکله مې ددوی کتابونه ولوستل جوابونه ډېر مختلف سول ، زما په نزد دا ثابته سول چې څوك د غنمو دوه کيلو گرامه په سرسايه کې اداء کې د احنافو په نزد ئې سرسايه اداء سول ځکه نيم صاع تر دغه نه زياتيږي که صاع بغدادي اته رطله وي

كتاب الصوم

﴿ د روژې كتاب ﴾

س : د اسلام په دين كي د روژې څه حكم دى ؟

ج : د رمضان د مياشتې روژوه پر بالغ مسلمان كه نر وي كه ښځه فرض ده ، الله ﷻ ويلي دي ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِيْنَ أَمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ (۱) (اى مومنانو پر تاسو روژې فرض كړل سوي دي څرنګه چي پر هغو كسانو فرض كړل سوي وې چي ستاسو څخه مخكي وه تر څو تاسو پرهېزكونكي سئ) . د رمضان د مياشتي پرته په نورو ورځو كي روژه نفل ده كه ئې څوك ونيسي ثواب وركول كيږي لكه په نورو نفلي عبادتو كي مګر كه چا نذر كړل د نذر پوره كول پر واجب دي .

س : صوم (روژه) په لغت او شريعت كي څه ته وايي ؟

ج : صوم په عربي ژبه كي ځان بندولو ته وايي او په شريعت كي د دوهمي رڼا له راختلو څخه تر لمر لوېدلو پوري د نيته سره له خورك ، چښنګك او جماع څخه بندولو ته وايي .

س : كوم چا ته دا رخصت سته چي د رمضان په مياشت كي روژه نه ونيسي ؟

ج : هو كه څوك د لمانځه كمولو په مسافت سره مسافر وي يا داسي ناروغه وي كه روژه ونيسي ناروغي ئې زياتيږي ، دوى دوو ته روا ده چي د رمضان په مياشت كي روژه نه ونيسي وروسته به ئې قضاء راوړي مګر د مسافر لپاره كه روژې ضرر نه ورته رسوى روژه نيول افضل دي .

س : كه مسافر په سفر كي يا ناروغه د ناروغۍ له كبله روژه نه ونيول او د سفر او ناروغۍ په حالت كي مړه سول كوم شى پر لازم دى ؟

ج : هيڅ شى نه دى پر لازم .

س : كله چي ناروغه روغ سي يا مسافر مقيم سي قضاء د هغو ورځو پر لازمه ده ؟

ج : هو پر ناروغه دده د روغوالي د ورځو په قدر او پر مسافر دده د اقامت د ورځو په قدر قضاء لازمه ده كه په خپل اصلي وطن يا د اقامت په وطن (داسي ځـاى چي دى پـه

(۱) سورة البقرة أية ۱۸۳ .

هغه کي د پنځلو ورځو يا زياتو اوسېدلو نيت وکي) کي مقيم سي .

س : د مسافر او ناروغه څخه پرته بل څوك سته چي د رمضان په مياشت کي روژه نه نيول ورته روا وي ؟

ج : که حامله ښځه (کومه ښځه چي کوچنی ئې په نس وي) يا تی ورکونکې ښځه پر خپلو ځانو يا کوچنيانو له هلاکت څخه ببېرېدلې دا ورته روا ده چي په رمضان کي روژه نه ونيسي ، د پاته سوو ورځو قضاء پر لازمه ده .

س : داسي څوك سته چي د رمضان په مياشت کي روژه نه نيول پر لازم وي ؟

ج : هو پر حائضه ښځه او نفاسي ښځه (کومه ښځه چي د کوچني له زېږېدو څخه وروسته ئېويني راوزي) لازمه ده چي روژه به نه نيسي بلکه روژه نيول ورته روا نه دي ځکه حيض اونفاس د روژې ضد دي .

س : له رمضان څخه وروسته به د پاته سوو روژو قضاء راوړي ؟

ج : هو د هغو ورځو روژو قضاء راوړل پر لازم دي کومي چي ځني پاته سوي دي .

س : داسي څوك سته د روژې پرېښولو له وجهي قضاء نه وي پر لازمه فديه پر لازمه وي ؟

ج : فاني شيخ ته روا ده چي په رمضان کي روژه نه ونيسي او د هري وځي پر ځای فديه ورکي .

س : فاني شيخ څوك دی ؟

ج : هغه څوك چي نه په رمضان کي نه وروسته روژه نيولای سي او د ژوند تر پايه پوري د قضاء راوړلو قدرت نه لري .

س : فديه څه ته وايي ؟

ج : فديه داده چي د هري ورځي پر ځای مسکين ته داسي ډوډی ورکي لکه چي په کفارتو (۱) کي ورکول کيږي .

س : څوك چي د ناروغی يا سفر له وجهي روژه پرېږدي او د قضـاء لپاره نــوري ورځي

---

(۱) په " البحر الرائق " کي ئې ويلي دي : د تکليف له کبله روژه ماتول ورته روا دي او دده عذر نه ايسته کيږي چي قضاء پر لازمه سي نو فديه پر لازمه ده د هري ورځي لپاره نيمه کاسه غنم يا وڅکي يا يوه کاسه خرما يا اوربشي د سرسايې په شان مګر په دې ځای کي خوراك وړاندي کول صحيح کيږي دوه مړونکي خورکونه . په سرسايه کي څرنګه چي مخکي مو وويل نه صحيح کيږي دغه رنګه په " فتح القدير " او " فتاوی قاضي خان " کي ذکر سوي دي (البحر ۲-۳۰۸) وګوره .

وموني او اجل ئې حاضر سي څه به کوي ؟
ج : له الله ﷻ څخه به بخښن غواړي او توبه به کوي او داسي وصيت (۱) به کوي چي دده قريب دده له مال څخه د هري ورځي پر ځای يو مسکين ته نيمه کاسه غنم يا يوه کاسه خرما يا اوربشي ورکي .
س : که په رمضان کي په سهار کي کوچنی بالغ يا کافر مسلمان سي څه شی پر لازم دی؟
ج : پر دوی لازمه ده چي د روژې ماتونکو څخه د ورځي په پاته برخه کي ځان بند کي او د رمضان د مياشتي په راتلونکو ورځو کي روژه ونيسي .
س : د هغي ورځي روژه پر لازمه ده کومه چي دوی ئې يوه برخه نيولې ده ؟
ج : د دغي ورځي قضاء نه ده پر لازمه .
س : څوك چي د رمضان په مياشت کي بې هوښه سي د هغه څه حکم دی ؟
ج : څوك چي د رمضان په سهار کي بې هوښه سي او د روژې نيت ئې کړی وي د دغه ورځي روژه نه ده پر لازمه په کومه کي چي بې هوښي ورته پيښه سوې ده . تر دغه وروسته په نورو ورځو کي چي دی بې هوښه وي د هغو قضاء پر لازمه ده .
س : که په رمضان کي ليونی په هوښ کي راغلی څه حکم ئې دی ؟

(۱) په " الدر المختار " کي ئې ويلي دي : د مړي قريب دي کوم چي دده په مال کي تصرف کوي د مړي له خوا څخه حتما فديه ورکي ، مقدار ئې د سرسايې په شان دی ، دا په هغه صورت کي چي دی د قضاء قدرت پيدا کي او قضاء نه راوړي نو که له ده څخه لس ورځي روژې پاته سوې وي او د پنځو ورځو قضاء قدرت ئې پيدا کی د پنځو ورځو فديه به ورکوي ، فديه دده د وصيت پر بنسټ که ئې وارث درلودی له دريمي څخه ورکول کيږي که ئې وارث نه درلودی له ټوله مال څخه ورکول کيږي ، که ئې وصيت نه وکی او دده قريب له خپل طرف څخه فديه ورکړل روا ده ان شاء الله . شامي په خپله حاشيه کي ددې قول په اړه (حتماً) ويلي دي : يعني که ئې وصيت کړی وو پر قريب لازمه ده چي له دريمي څخه فديه ورکي . که ئې وصيت نه وو کړی نه ده پر لازمه بلکه جائز ده ، په " السراج " کي ئې ويلي دي : دغه رنګه پر وارث د زکات ورکول لازم نه دي مګر که ئې وصيت کړی وو پر لازم دي ، که ئې وصيت نه وو کړی وارث له خپل طرف څخه ورکړی صحيح دی ، دا خبره چي (کوم چي دده په مال کي تصرف کوي) دې ته اشاره ده چي په قريب کي وصي هم شامل دی لکه په " البحر " کي چي ئې ويلي دي ، دا خبره (مقدار ئې د سرسايې په شان دی) يعني يوازي په مقدار کي د سرسايې په شان ده ځکه په فديه کي په ملك ورکول شرط نه دي بلکه خورك وړاندي کول کفايت کوي ، سرسايه داسي نه ده ، د غه رنګه د جنس په اعتبار او د قيمت اداء کولو په اعتبار د سرسايې په شان ده (۲-۱۱۷) .

ج : د تیرو ورځو قضاء به راوړي او په راتونکو ورځو کي به روژه نیسي .
س : که مسافر له سفر څخه راغلی او د روژې نیت ئې نه وو کړی یا حائضه ښځه د ورځي په منځ کي پاکه سول دوی دوه به څه کوي ؟
ج : د ورځي په پاته برخه کي به د روژې د عزت لپاره د روژې ماتونکوڅخه ځان بندوي .

په کوم شي سره چي د رمضان میاشت ثابتیږي

س : د رمضان روژه کله لازمیږي او د رمضان میاشت څرنګه ثابتیږي ؟
ج : نبي ﷺ ویلي دي : د میاشتي په لیدلو سره روژه نیسئ او د هغې په لیدلو سره ئې ماتوئ ، که درباندي پټه سول د شعبان د میاشتي دېرش ورځي (۱) پوره کړئ ،
نو پر خلګو لازمه ده چي د شعبان پر نه ویشتمه په میاشت پسي وګوري که ئې ولیدل روژه دي ونیسي که پر پټه سول دشعبان دېرش ورځي دي پوره کي بیا دي روژه ونیسي .
س : که په اسمان کي وریځ یا بل داسي شی وو او یوه سړي شاهدي اداء کړل چي ده د شعبان پر نه ویشتمه میاشت ولیدل شاهدي ئې قبلیږي ؟
ج : په دغه وخت کي د رمضان د میاشتي په لیدلو کي د یوه عادل مسلمان شاهدي قبلیږي که نر وي که ښځه که ازاد وي که مریی .
س : که په اسمان کي وریځ یا بل داسي شی نه وو او یوه یا دوو سړیانو پر نه ویشتمه دمیاشتي د لیدلو شاهدي اداء کړل ددوی شاهدي څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي تر هغه وخت پوري شاهدي نه قبلیږي تر څو چي دومره ډېر کسان ئې ویني چي د هغو په خبر سره یقیني علم حاصلیږي .
س : دا خبري د رمضان د میاشتي په اړه وې د اختر د میاشتي په ثابتېدو کي تاسي څه وایاست ؟
ج : که په اسمان کي وریځ یا بل شی وو امام یا قاضي دي د اختر د میاشتي په لیدلو کي د دوو سړیانو یا یوه سړي او دوو ښځو شاهدي قبلوي ، که وریځ یا بل شی نه وو صرف د داسي ډلي شاهدي دي قبلوي چي د هغې په خبر سره یقیني علم پیدا کیږي .
س : که یو چا د رمضان یا اختر میاشت ولیدل او امام ئې شاهدي نه کړل قبوله څه به کوي ؟

---

(۱) بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی څرنګه چي په " المشکاة (باب رویة الهلال) " کي ذکر سوي دي .



ج : که دا د رمضان په میاشت کي پښبنه سول یوازي به روژه نیسي . که د اختر په میاشت کي پښبنه سول د خلګو سره به روژه نیسي په خپلو لیدلو به عمل نه کوي .

د نیت شرط والی

س : د روژې د تعریف کولو په وخت کي مو د نیت خبره زیاته کړل ، د نیت معنی او تفصیل څه دی ؟

ج : نیت په زړه سره عقیده کولو ته وایي چي زه د الله ﷻ لپاره فلانی روژه نیسم .

بیا روژه پر څو قسمه ده :

١ : فرضي روژه ، هغه د رمضان د میاشتي روژه ده .

٢ : د معین نذر روژه (١) .

٣ : د مطلق نذر روژه (٢) .

٤ : د رمضان د میاشتي قضایي روژه .

٥ : قضایي روژه چي د نفلي روژې د فاسدولو له کبله پر لازمه سوې وي .

٦ : د کفارتو روژه (٣) .

٧ : نفلي روژه .

د رمضان ، معین نذر او نفلي روژه د شپې په نیت سره صحیح کیږي مګر د شپې نیت شرط نه دی ، که ئې د شپې نیت نه وکی تر نیمي ورځي (٤) پوري نیت صحیح کیږي .

---

(١) لکه چي څوك نذر وکي چي دراتلونکي جمعې شپې په ورځ به روژه نیسي یا د فلاني تاریخ په ور
(٢) لکه چي څوك نذر وکي چي یو ورځ به روژه نیسي .
(٣) لکه د قسم کفارت ، د روژې فاسدولو کفارت ، د ظهار کفارت او د قتل کفارت .
(٤) د " هدایې " مصنف ویلي دي : په مختصر القدوري کي ئې ویلي دي چي تر زوال پوري ئې ن صحیح کیږي ، او په "الحامع الصغیر" کي ذکر سوي دي تر نیمي ورځي پوري صحیح کیږي ، دغه ق ډېر صحیح دی ځکه د ورځي په اکثره حصه کي نیت ضروري دی او نیمه ورځ د سپېدو راختلو څخ لوی څاښت پوري ده تر زوال پوري نه ده نو تر هغه مخکي نیت ضروري دی تر څو چي په اکثره حصه نیت پیدا سي اه . شامي په خپله حاشیه کي پر " الدر المختار " ددې قول (تر لوی څاښت پوري هکله ویلي دي : له دې څخه مراد شرعي نیمه ورځ ده او شرعي ورځ له هغه وخت څخه چي د مشرق افق کي رڼا خپره سي تر لمر لوېدو پوري ده لوی څاښت د نیت په وخت کي داخل نه دی ، تر څو لیـ وروسته ئې ویلي دي : په " السراج " کي ئې ویلي دي : کله چي د ورځي نیت کوي داسی نیت دی کـ

ج : د تيرو ورځو قضاء به راوړي او په راتونکو ورځو کي به روژه نيسي .
س : که مسافر له سفر څخه راغلی او د روژې نيت ئې نه وو کړی يا حائضه ښځه ورځي په منځ کي پاکه سول دوی دوه به څه کوي ؟
ج : د ورځي په پاته برخه کي به د روژې د عزت لپاره د روژې ماتونکوڅخه ځان بندوي .

په کوم شي سره چي د رمضان مياشت ثابتيږي

س : د رمضان روژه کله لازميږي او د رمضان مياشت څرنګه ثابتيږي ؟
ج : نبي ﷺ ويلي دي : د مياشتي په ليدلو سره روژه نيسئ او د هغې په ليدلو سره ئې ماتوئ ، که درباندي پټه سول د شعبان د مياشتي دېرش ورځي (١) پوره کړئ ،
نو پر خلګو لازمه ده چي د شعبان پر نه ويشتمه په مياشت پسي وګوري که ئې وليدل روژه دي ونيسي که پر پټه سول دشعبان دېرش ورځي دي پوره کي بيا دي روژه ونيسي .
س : که په اسمان کي وريځ يا بل داسي شی وو او يوه سړي شاهدي اداء کړل چي دہ د شعبان پر نه ويشتمه مياشت وليدل شاهدي ئې قبليږي ؟
ج : په دغه وخت کي د رمضان د مياشتي په ليدلو کي د يوه عادل مسلمان شاهدي قبليږي که نر وي که ښځه که ازاد وي که مريی .
س : که په اسمان کي وريځ يا بل داسي شی نه وو او يوه يا دوو سړيانو پر نه ويشتمه دمياشتي د ليدلو شاهدي اداء کړل ددوی شاهدي څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي تر هغه وخت پوري شاهدي نه قبليږي تر څو چي دومره ډېر کسان ئې ويني چي د هغو په خبر سره يقيني علم حاصليږي .
س : دا خبري د رمضان د مياشتي په اړه وې د اختر د مياشتي په ثابتېدو کي تاسي څه واياست ؟
ج : که په اسمان کي وريځ يا بل شی وو امام يا قاضي دي د اختر د مياشتي په ليدلو کي د دوو سړيانو يا يوه سړي او دوو ښځو شاهدي قبلوي ، که وريځ يا بل شی نه وو صرف د داسي ډلي شاهدي دي قبلوي چي د هغې په خبر سره يقيني علم پيدا کيږي .
س : که يو چا د رمضان يا اختر مياشت وليدل او امام ئې شاهدي نه کړل قبوله څه به کوي ؟

---

(١) بخاري او مسلم ئې روايت کړی دی څرنګه چي په " المشکاة (باب روية الهلال) " کي ذکر سوي دي .

ج : که دا د رمضان په مياشت کي پېښنه سول يوازي به روژه نيسي ، که د اختر په مياشت کي پېښنه سول د خلګو سره به روژه نيسي په خپلو ليدلو به عمل نه کوي .

د نيت شرط والی

س : د روژې د تعريف کولو په وخت کي مو د نيت خبره زياته کړل ، د نيت معنی او تفصيل څه دی ؟

ج : نيت په زړه سره عقيده کولو ته وايي چي زه د الله ﷻ لپاره فلانی روژه نيسم .

بيا روژه پر څو قسمه ده :

١ : فرضي روژه ، هغه د رمضان د مياشتي روژه ده .

٢ : د معين نذر روژه (١) .

٣ : د مطلق نذر روژه (٢) .

٤ : د رمضان د مياشتي قضايي روژه .

٥ : قضايي روژه چي د نفلي روژې د فاسدولو له کبله پر لازمه سوې وي .

٦ : د کفارتو روژه (٣) .

٧ : نفلي روژه .

د رمضان ، معين نذر او نفلي روژه د شپې په نيت سره صحيح کيږي مګر د شپې نيت شرط نه دی ، که ئې د شپې نيت نه وکی تر نيمي ورځي (٤) پوري نيت صحيح کيږي .

---

(١) لکه چي څوك نذر وکي چي دراتلونکي جمعې شپې په ورځ به روژه نيسي يا د فلاني تاريخ په ورځ .

(٢) لکه چي څوك نذر وکي چي يو ورځ به روژه نيسي .

(٣) لکه د قسم کفارت ، د روژې فاسدولو کفارت ، د ظهار کفارت او د قتل کفارت .

(٤) د " هدايې " مصنف ويلي دي : په مختصر القدوري کي ئې ويلي دي چي تر زوال پوري ئې نيت صحيح کيږي ، او په "الجامع الصغير" کي ذکر سوي دي تر نيمي ورځي پوري صحيح کيږي ، دغه قول ډېر صحيح دی ځکه د ورځي په اکثره حصه کي نيت ضروري دی او نيمه ورځ د سپېدو راختلو څخه تر لوی څاښت پوري ده تر زوال پوري نه ده نو تر هغه مخکي نيت ضروري دی تر څو چي په اکثره حصه کي نيت پيدا سي اه . شامي په خپله حاشيه کي پر " الدر المختار " ددې قول (تر لوی څاښت پوري) په هکله ويلي دي : له دې څخه مراد شرعي نيمه ورځ ده او شرعي ورځ له هغه وخت څخه چي د مشرق په افق کي رڼا خپره سي تر لمر لوېدو پوري ده لوی څاښت د نيت په وخت کي داخل نه دی ، تر څو ليکو وروسته ئې ويلي دي : په " السراج " کي ئې ويلي دي : کله چي د ورځي نيت کوي داسي نيت دي کوي

د رمضان د مياشتي په قضايي روژه ، دمطلق نذر روژه او د كفارتو په روژو كي د نفلي روژه په قضاء كي چي ده فاسده كړې وي د شپې نيت لازمي دی .

س : متمتع يا قارن (۱) چي پر قرباني قدرت نه لري د هغو د روژو د نيت څه حكم دی ؟

ج : د نورو كفارتو روژو په شان په هغو كي هم د شپې نيت ضروري دی .

س : ستاسي له خبرو څخه څرګنده سول چي كه نفلي روژه چا فاسده كړل قضاء ئې لازمه ده ، ددې خبري تشريح او وضاحت غواړو .

ج : ددې تشريح داده چي نفل كونكی له شروع څخه مخكي اختيار لري ، كله چي شروع په وكي پوره كول ئې پر لازم دي ، كه ئې دغه نفلي عبادت فاسد كړی قضاء ئې پر لازمه ده كه روژه وي كه لمونځ ، حج وي كه عمره .

هغه شيان چي روژه فاسدوي او يوازي قضاء لازموي يا قضاء او كفارت دواړه لازموي

س : د روژې فاسدونكي بيان كړئ .

ج : كه په مچه يا لاس وروړلو سره انزال سي يا شګه يا اوسپنه يا خرما مندكه تېره كي يا پرته له شا يا مخ فرج څخه جماع وكي او انزال سي يا ايماله وكي يا په پزه كي دواء واچوي يا په غوږ كي دواء څاڅكي كي يا د نس پر ټپ لنده دواء واچوي او هغه نس ته ورسيږي يا د سر پر ټپ لنده دواء واچوي او هغه دماغ ته ورسيږي يا په دې ګمان پېشلمی وكي چي سپېدې نه دي راختلي وروسته څرګنده سي چي راختلي دي يا په دې ګمان روژه ماته كي چي لمر لوېدلی دی وروسته څرګنده سي چي لمر نه دی لوېدلی په دغو ټولو صورتو كي ئې روژه ماتيږي قضاء ئې پر لازميږي مګر كفارت نه پر لازميږي .

س : كه نر په خپل ذكر كي دواء څاڅكي كړل روژه ئې ماتيږي ؟

ج : د ابوحنيفه رح او محمد رح په نزد ئې روژه نه ماتيږي ابويوسف رح ويلي دي ماتيږي .

س : كه يو چا بېله قصد څخه يا په قصد سره قئ ووهه روژه ئې ماتيږي ؟

ج : كه ئې بېله قصد څخه قئ وواهه روژه ئې نه ماتيږي ، كه ئې په قصد سره په ډكه

د ص ۱۲۵ پاته برخه : چي د ورځي له سره څخه روژه نيونكی دی ، كه ئې له زوال څخه مخكي داسي وكړی چي له اوس څخه روژه نيونكی دی روژه نيونكی نه كيږي (۲-۸۵) .

(۱) متمتع او قارن معنی به په كتاب الحج كي ان شاء الله وپېژنې .

خوله قئ ووهه قضاء پر لازميږي (۱) .

س : په كومو شيانو سره قضاء او كفارت دواړه لازميږي ؟

ج : ځوك چي قصدا په يوه كي د دوو لارو جماع وكي يا داسي شی وخوري يا وڅښي چي غذاء په اخستل كيږي يا دواء په كيږي روژه ئې ماتيږي او قضاء او كفارت دواړه پر لازميږي .

---

(۱) دغه رنګه قدوري ذكر كړي دي ، ابن الهمام په " فتح القدير" كي ويلي دي : خلاصه ئې دا ده چي يا به قئ بېله قصد څخه وهي يا به ئې په قصد سره وهي ، په هر صورت كي به يا په ډكه خوله وي يا به له هغه څخه كم وي ، په هر صورت كي به يا راوزي يا به بيرته تيريږي يا په ئې قصداً بيرته تېروي . كه ئې بېله قصد څخه قئ ووهه او راووتی روژه ئې نه ماتيږي كه لږ وي كه ډېر ځكه كوم حديث چي موږ ئې روايت وكړی عام دی ، كه بېله قصد څخه بيرته تېر سو او روژه ئې په ياد وه كه په ډكه خوله وو د ابويوسف رح په نزد ئې روژه ماتيږي ځكه دا په شرعي اعتبار سره راوتلی دی ځكه چي اودس په ماتيږي او بيرته ننوتی ، د محمد رح په نزد ئې روژه نه ماتيږي ، دغه قول صحيح دی ځكه نه په ظاهري توګه روژه ماته سوې ده چي تېرول دي نه په معنوي توګه ځكه چي غذاء په هغه سره نه اخستل كيږي نو د ابويوسف رح قاعده داده چي د بيرته تېرېدو يا بيرته تېرولو په صورت كي راوتل معتبر دي هغه په ډكه خوله سره كيږي د محمد رح قاعده داده چي په قصد سره بيرته تېرول معتبر دي كه لږ وي كه ډېر ، كه ئې په قصد سره بيرته تېر كی په اتفاق سره ئې روژه ماتيږي ، د ابويوسف رح په نزد ځكه ماتيږي چي په شرعي اعتبار سره راووتی بيرته ننوتی او د محمد رح په نزد ځكه چي قصدا ئې تېر كړی ، كه له ډكي خولي څخه كم وو او خپله بيرته تېر سو په اتفاق سره نه ماتيږي ، كه ئې قصدا بيرته تېر كی د ابويوسف رح په نزد نه ماتيږي ، دغه قول غوره دی ځكه په شرعي اعتبار نه دی راوتلی او د محمد رح په نزد ماتيږي ځكه قصدا ئې تېركړی دی ، كه ئې په قصد سره قئ ووهه او راووتی كه په ډكه خوله وو په اتفاق سره ئې روژه ماتيږي په دليل د هغه حديث چي موږ ئې روايت وكړی ، په دغه صورت كي د خپله تېرېدو يا په قصد سره تېرولو خبره نه راځي ځكه صرف په قئ وهلو سره ئې روژه ماتيږي ، كه له ډكي خولې څخه كم وو د محمد رح په نزد ماتيږي ځكه حديث عام دی ، دده په نزد په دغه صورت كي هم د خپله بيرته تېرېدو يا تېرولو خبره نه راځي ، د ابويوسف رح په نزد نه ماتيږي ، ځينو علماوو دغه قول غوره كړی دی مګر ظاهر روايت د محمد رح د قول په شان دی ، په " الكافي " كي ئې دغه خبره ذكر كړې ده ، په دغه صورت كي كه خپله بيرته تېر سو د ابويوسف رح په نزد ئې روژه نه ماتيږي ځكه له سره راوتلی نه دی نو ننوتلی هم نه دی او كه ئې قصدا بيرته تېر كی له ده څخه دوه روايته دي په يوه روايت كي ئې نه ماتوي ځكه راوتلی نه دی په بل روايت كي ئې ماتوي ځكه ډېر عمل ئې وكی ، زفر رح د محمد رح سره په دې خبره كي چي لږ روژه ماتوي ځكه دده په نزد په لږ قئ سره اودس ماتيږي له " فتح القدير ۲-۲۵۹-۲۶۰ "

س : كفارت څه ته وايي ؟

ج : هغه دادی چي يو مريی ازاد كي ، كه ئې پر هغه قدرت نه درلودی دوې مياشتې پرله پسې دي روژه ونيسي چي په هغو كي به د رمضان مياشت يا هغه ورځي چي په هغو كي له روژې څخه منع راغلې ده نه وي هغه ورځي به وروسته وپيژنې ان شاء الله ﷻ كه ئې د هغه قدرت نه درلودی شپېتو مسكينانو ته به ډوډۍ وركوي .

س : د رمضان د مياشتي پرته د بلي روژې په ماتولو سره كفارت لازميږي ؟

ج : د رمضان د مياشتي پرته د بلي روژې په ماتولو سره كفارت نه لازميږي كه څه هم د رمضان قضاء وي .

هغه شيان چي روژه نه ماتوي

س : هغه شيان بيان كړئ چي روژه نيونكي ته كله كله پېښيږي او روژه نه ماتوي .

ج : كه روژه نيونكي په هېره سره خورك يا څښتنګ يا جماع وكړل روژه ئې نه ماتيږي دغه رنګه كه بيده سو او احتلام ورته پيښ سو يا ئې ښځي ته وكتل انزال سو يا ئې بدن غوړ كی يا ئې ويني وكښلې يا ئې سترګي توري كړې يا ئې مچه واخستل او انزال نه سو په دغو ټولو صورتو كي ئې روژه نه مايتږي .

هغه شيان چي روژه نيونكي ته مكروه دي

س : د روژې مكروهات بيان كړئ .

ج : روژه نيونكي ته مچه مكروه ده كه ئې په خپل ځان باور نه وو ، كه ئې په خپل ځان باور وو پروا نه لري دغه رنګه په خوله سره د يو شي خوند كتل او ژاولي ژوول او پرته له مسواك څخه په بل شي لكه پاوډر يا داسي نور غاښونه پاكول ، ښځي ته د كوچني لپاره خورك ژوول مكروه دي كه ئې چاره درلودله ، كه ئې چاره نه درلودله پروا نه لري .

د روژې قضاء راوړل

س : د رمضان د مياشتي په قضاء كي پرله پسې والی شرط دی ؟

ج : په هغه كي دا نه دی شرط كه ئې جلا جلا قضاء راوړي كه پرله پسې .

س : كه ئې قضاء دومره وځنډول چي بله مياشت د رمضان داخله سول څه به كوي ؟

ج : اول به د حاضري رمضان مياشتي روژه نيسي بيا به د تيري رمضان مياشتي روژه نيسي ، فديه نه ده پر لازم .

س : که يو سړی مړ سو او د رمضان د مياشتي قضاء پر پاته وه او وصيت ئې وکی چي زما له مال څخه دي فديه ورکول سي پر قريب ئې څه شی لازم دی ؟

ج : دغه وصيت د مړي د مال په دريمه کي چليږي نو که مړي د رمضان د مياشتي د قضاء پر ځای د فديې وصيت وکی قريب به ئې د هري ورځي پر ځای يوه مسکين ته نيمه کاسه غنم يا يوه کاسه اوربشي يا يوه کاسه خرما ورکوي .

نفلي روژه

س : پرته د رمضان له مياشتي څخه په شريعت کي بله روژه سته ؟

ج : د رمضان د مياشتي روژه فرض ده د هغه څخه پرته نوري روژې نفل دي ، که څوك نوري روژې ونيسي ثواب ورکول کيږي ان شاء الله ﷻ .

س : په ځينو ورځو کي د نفلي روژو څخه منع راغلې ده ؟

ج : هو په کال کي پنځه ورځي دي چي په هغو کي له روژې څخه منع راغلې ده هغه په لاندي ډول دي :

١ : د کوچني اختر د ورځي روژه .

٢ : د لوی اختر د ورځي روژه .

٣ ، ٤ ، ٥ :دلوی اختر څخه وروسته دري ورځي هغو ته ايام التشريق ويل کيږي .

س : ځينو روژې پر ځينو نورو فضيلت لري ؟

ج : هو په ځينو حديثو کي د ځينو روژو فضيلت راغلی دی :

عائشي ؓ روايت کړی دی چي نبي ﷺ د دوشنبې او جمعې د شپې (١) روژه نيول .

ابوهريره ؓ روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل : عملونه په دوشنبې او جمعې په شپه وړاندي کيږي نو زما دا خوښه ده چي زما عمل په داسي حال کي وړاندي سي چي زه روژه نيونکی يم (٢) ،

له ابوهريره ؓ څخه روايت سوی دی چي نبي ﷺ په ايام البيض کي نه په کور کي روژه ماتول نه په سفر کي (٣) ،

---

(١) ترمذي ئې روايت کړی دي لکه چي په " المشکاة " کي ذکر سوي دي . (٢) تېر کتاب .

(٣) نسائي ئې روايت کړی دی لکه چي په " المشکاة " کي راغلي دي ، د ترمذي او نسائي په روايت کي راغلي دي چي هغه د مياشتي ديارلسمه ، څوارلسمه او پنځلسمه دي .

ابوقتاده ﷺ روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل : د عرفات (١) د ورځي روژه زه پر الله ﷻ ګمان کوم چي د يوه تېر کال او يوه راتلونکي کال ګناه رژوي او د عاشوراء د ورځي روژه زه پر الله ﷻ ګمان کوم چي د تېر کال ګناه رژوي ،

د ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت سوی دی چي نبي ﷺ وويل : څوک چي د رمضان د مياشتي روژه ونيسي بيا په هغه پسي د شوال د مياشتي شپږ ورځي روژه ونيسي داسي ده لکه د ټوله عمر روژه (٢) .

اعتکاف

س : اعتکاف څه ته وايي او څه حکم ئې دی ؟

ج : اعتکاف په نيت سره (٣) په مسجد کي اوسېدلو ته ويل کيږي او هغه د رمضان د مياشتي په آخري لسو ورځو کي کفايي مؤکد سنت دی ، که د محلې يوه سړي اعتکاف وکړی له نورو څخه ساقطيږي ، که يوه هم نه وکړی ټوله د سنت پرېښونکي کيږي .

س : د دغه اعتکاف څخه پرته په شريعت کي بل اعتکاف سته ؟

ج : هو له دغه څخه پرته مستحب او واجب اعتکاف سته ، د مستحب کمه اندازه يو ګړی دی ، هر وخت چي انسان مسجد ته داخل سي او د اعتکاف نيت وکي معتکف کيږي تر څو چي له مسجد څخه راوزي .

س : څه وخت اعتکاف واجبيږي ؟

ج : څوک چي اعتکاف نذر کي اعتکاف پر واجبيږي څرنګه چي ده نذر کړی او پر ځان ئې واجب کړی وي .

س : که يو چا د ورځو اعتکاف نذر کی د شپو اعتکاف هم پر واجبيږي ؟

ج : هو د ورځو اعتکاف د شپو سره پر لازميږي او دا پر لازمه ده چي پرله پسي به وي که څه هم پرله پسې والی ئې نه وي شرط کړی .

س : په نذر سوي اعتکاف کي روژه شرط ده ؟

---

(١) يعني د ذوالحجې د مياشتي نهمه .

(٢) د ابو قتاده او ابو ايوب د حديثو روايت مسلم کړی دی .

(٣) يعني د اسي نيت وکي چي دلته اوسېږم ، دغه اوسېدلو ته اعتکاف ويل کيږي دغه رنګه په ٠ البحر الرائق ٢-٣٢٢٠ کي ذکر سوي دي .

هو روژه په کښې شرط ده (۱) .

س : پر اعتکاف کونکي څه شی حرام دی ؟

ج : پر اعتکاف کونکي جماع او د هغه اسباب لکه لاس وروړل او مچه حرام دي نو که ئې په شپه يا ورځ کي په هېره يا په قصد سره جماع وکړل يا په مچه يا لاس وروړلو انزال سو اعتکاف ئې فاسديږي او قضاء ئې پر لازمه ده .

س : معتکف ته له مسجد څخه وتل روا دي ؟

ج : د انساني ضرورت څخه پرته لکه بيت الخلاء ته تلل به له مسجد څخه نه وزي نو که بېله عذر څخه د يوه ګړي لپاره ووتی د ابوحنيفه رح په نزد ئې اعتکاف فاسديږي ، صاحبينو رح ويلي دي تر څو له نيمي ورځي څخه زيات نه وي وتلی نه فاسديږي .

س : که ئې په داسي مسجد کي اعتکاف وکی چي د جمعې لمونځ نه په کښې کېدی د جمعې لمونځ به څرنګه اداء کوي ؟

ج : جامع مسجد ته دي ځي ، چي لمونځ اداء کی بيرته دي د اعتکاف ځای ته راځي .

س : معتکف ته څه شی روا دی ؟

ج : په مسجد کي خورك ، څښنګ او خوب ورته روا دی ، په مسجد خرڅول او رانيول بېله سامان حاضرولو ورته روا دي .

س : موږ معتکفان وينو خبري نه کوي او داسي ګمان کوي چي خبري د اعتکاف سره ضد دي ، فقهاء په دغه کي څه وايي ؟

ج : خبري د اعتکاف سره ضد نه دي مګر د خير څخه پرته نوري خبري دي نه کوي ، بدي خبري په هر وخت کي ممنوع دي ، په دې عقيده چيوالی چي د اعتکاف برخه ده مکروه دی .

(۱) که يو چا وويل د الله ﷻ لپاره پر ما بېله روژې يوه مياشت اعتکاف لازم دی پر ده اعتکاف او روژه دواړه لازم دي دغه رنګه په " الظهيرية " کي ذکر سوي دي ، صرف روژه شرط ده د اعتکاف په وجه روژه شرط نه ده نو که چا دا نذر کړل چي په رمضان کي به اعتکاف کوي نذر ئې صحيح کيږي دغه رنګه په " الذخيرة " کي راغلي دي (الفتاوی الهندية ۱-۲۱۱) .

كتاب الحج
﴿ د حج كتاب ﴾

س : حج په عربي ژبه او شريعت كي څه ته وايي ؟
ج : د هغه په عربي ژبه كي معنى داده : د عزت ښتن شي ته قصد كول او په شريع كي د يو خاص ځای په خاص وخت كي په خاص عمل سره زيارت كولو ته ويل كيږي دغه ټوله به ته په مفصله توګه ان شاء الله ﷻ وپيژني (١) .
س : په اسلام كي حج څه حكم لري ؟
ج : هغه د اسلام له اركانو څخه يو ركن دی ، ځوك چي ئې له فرضيت څخه منكر سي اسلام له دين څخه وزي ، الله ﷻ ويلي دي ﴿ وَ لِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلاً ﴾ ﴿ او الله لره پر خلكو د كعبې زيارت كول لازم دي ځوك چي هغې ته د تلو توا ولري ﴾ .
س : پر چا حج فرض دی ؟
ج : حج پر هغو كسانو فرض دی چي ازاد ، مسلمانان ، بالغان ، عاقلان او روغ وي په دې شرط چي په لاره كي امن وي او د سفر توښه او د سپرتيا حيوان د ملكيت په توګه يا په كرايه سره ولري ، او دا شرط دی چي دغه مال دده له كور او نورو ضرورياتو او دده تر بيرته راتلو پوري د عيال نفقې څخه اضافي وي .
س : آيا د ښځي لپاره حج ته تلو لره تر نومړو شرطو كوم زيات شرط سته ؟
ج : هو ددې لپاره دا شرط دی چي محرم يا مېړه به ورسره وي ، د دغو دوو پرته تګ ورته روا نه دی كه ددې او د مكې تر منځ دومره مسافت وو چي لمونځ په كښي كميږي يا له هغه څخه زيات مسافت وو .

---

(١) د خاص ځای څخه مراد د عزت ښتنه خونه يعني كعبه شريفه او د عرفات ساحه ده او د خاص وخت څخه مراد د طواف او عرفات درېدلو خاص وختونه دي او دخاص عمل څخه مراد دادی چي له عرفات درېدلو او طواف څخه مخكي د حج نيت وكي او احرام وتړي .

د حج فرضونه ، واجبات او سنتونه

س : د حج فرضونه څو دي او کوم دي ؟

ج : فرضونه ئې دري دي .

۱ : احرام .

۲ : پر عرفات درېدل .

۳ : د زيارت طواف (هغه طواف چي د عرفات درېدلو څخه وروسته کيږي) .

س : واجبات ئې کوم دي ؟

ج : هغه په لاندي توګه دي :

۱ : د لوی اختر د ورځي د سپېدو راختلو څخه وروسته پر مزدلفه درېدل .

۲ : د صفا او مروه په منځ کي سعی (ځغستل) .

۳ : د ځلو ويشتل .

٤ : هغه څوک چي د مکې نه وي د هغه لپاره د صدر طواف (هغه طواف چي له مکي څخه د تلو په وخت کي کيږي) .

۵ : د سر وربښتان خرول يا غڅي کول .

٦ : د عرفات درېدل تر لمر لوېدو پوري اوږدول .

۷ : د قارن (د قران حج کونکی چي تفسير به ئې وروسته راسي) او متمتع (د تمتع حج کونکی چي تفسير به ئې وروسته راسي) لپاره د هدی (هغه قرباني چي په حرم کي کيږي) ذبح کول .

۸ : د مفرد (بېله عمرې څخه يوازي حج کونکی) لپاره ځلي ويشتل او سر خرول د متمتع او قارن لپاره ځلي ويشتل ، ذبح کول او سر خرول په ترتيب سره کول .

۹ : د زيارت طواف د لوی اختر له درو ورځو څخه په يوه ورځ کي کول .

۱۰ : سر خرول يا وربښتان غڅي کول په حرم کي کول .

۱۱ : او د لوی اختر له درو ورځو څخه په يوه ورځ کي کول .

س : سنتونه ئې کوم دي ؟

۱ : د مفرد يا قارن لپاره چي له مکې څخه دباندي اوسي د قدوم طواف (هغه طواف چي مکې ته د تلو په وخت کي کيږي) کول .

۲ : په داسي طواف کي چي تر هغه وروسته د صفا او مروه په منځ کي د سع
کولو اراده لري رمل او اضطباع کول .
۳ : د ذوالحجې په اتمه منی ته تلل او راتلونکې شپه هلته تېرول .
٤ : د عرفات په ورځ تر لمر راپورته کېدلو وروسته له منی څخه عرفات ته تلل .
٥ : د لوی اختر د لمړۍ ورځي شپه په مزدلفه کي تېرول (کومه شپه چي وروسته
ئې د لوی اختر لمړۍ ورځ وي) .
٦ : په عرفات کي غسل کول .
۷ : د لوی اختر په ورځو کي په منی کي شپې کول .

میقاتونه او احرام

س : هغه میقاتونه بیان کړئ چي بېله احرامه له هغو څخه تېرېدل روا نه دي .
ج : هغه پنځه میقاته دي چي نبي ﷺ ټاکلي دي :
د مدینې خلکو لره ذوالحلیفه ده ، د عراق خلکو لره ذات عرق دی ، د شام خلکو لره جحفه ده ، د نجد خلکو لره قرن دی او د یمن خلکو لره یلملم دی ، دغه میقاتونه د دغو منطقو اوسېدونکو لپاره او هغو کسانو لپاره دي چي پر هغو راتېرېږي (۱) .

(۱) دغه میقاتونه چي نبي ﷺ بیان کړي او ټاکلي دي په لاندي ډول دي :
اول : ذوالحلیفه ده ، هغه اوس د ابیار علی په نامه یادېږي او له مدینې څخه تقریبا پر څوارلس کیلو متره دی پر کومه لار چي ته مکي ته روان یې .
دوهم : ذات عرق دی د عراق د خلکو لپاره ، د هغه ځای اوس معلوم نه دی ، د عراق خلک اوس پر مدینه راتیرېږي نو له ذوالحلیفه څخه احرام تړي .
دریم : جحفه ده ، هغه د نبي ﷺ په زمانه کي یو لوی کلی وو د رابغ څخه تقریبا پر څلور میله ، چي څوك مکې ته روان وي پر چپ لاس مگر هغه اوس له منځه تللی دی ، پر کومه لاره چي حاجیان ځي هغه په دې کلي کي نه تیرېږي ، د شام خلك ټوله له ذوالحلیفې څخه احرام تړي ځکه دوی پر هغه تیرېږي .
څلرم : قرن دی ، هغه د نجد د خلکو لپاره او د مشرق خلکو لپاره چي له دغه طرف څخه مکې ته راځي ، هغوی به له دغه ځای څخه یا د هغه برابر ځای څخه احرام تړي .
پنځم : یلملم دی ، هغه په اوس وخت کي (سعدیه) بلل کیږي او یو غر دی چي د یمن خلك پر راتیرېږي کله چي دوی مکې ته ځي .

س: دغه میقاتونه د هغو کسانو لپاره تاکل سوي دي چي له هغو څخه دباندي اوسیږي او پر هغو راتیریږي ، د هغو کسانو په هکله پوښتنه پاته سول کوم چي خپله په میقاتو کي اوسي یا د میقاتو او حرم په منځ کي اوسي یا خپله په حرم کي اوسي .

ج: څوك چي په میقاتو کي اوسیږي له هغو څخه به احرام تړي ، څوك چي د میقاتو او حرم په منځ کي اوسیږي د هغو میقات حل دی ، حل هغه ځای دی چي د میقاتو او حرم په منځ کي دی (د حرم څخه پرته نور ځایونه حل بلل کیږي) ، څوك چي په حرم کي وي د هغومیقات په حج کي حرم دی او په عمره کي حل دی .

س: له دغو میقاتو څخه مخکي احرام تړل روا دي ؟

ج: هو روا دي بلکه که د حج په میاشتو کي احرام و تړي او د حج له ممنوعاتو څخه په ځان ژغورلو باور ولري مخکي احرام تړل افضل دي .

س: که ئې له میقاتوڅخه احرام وځنډوی ؟

ج: دا نه دی روا نو که تر میقات تیر سو وروسته ئې احرام وتړی قرباني پر لازمیږي .

س: که یو څوك مکې ته سفر کوي او دده په لاره کي د نومړو میقاتو څخه یو میقات نه وي له کوم ځای څخه به احرام تړي ؟

ج: له داسي ځای څخه به احرام تړي چي د هغه میقات پر برابري وي له کوم سره چي دی تیریږي .

س: احرام څه ته وایي ؟

ج: هغه دادی چي د حج او عمري نیت وکي او تلبیه ووایي (۱) .

س: احرام لره سنت طریقه سته ؟

ج: هو ، کله چي د احرام تړلو اراده وکي غسل یا اودس دي وکي او غسل افضل دی ، دوه نوي یا پریولي کالي دي واغوندي چي گنډل سوي نه وي ، یو دي ازار (لنگ) کي بل دي رداء (پټو) کي ، خوشبویي دي ولگوي که ورسره وه ، دوه رکعاته لمونځ دي په پټ سر وکي ، وروسته دي سر لڅ کي او د حج نیت دي وکي داسي دي ووایي : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ

---

(۱) خاص د تلبیې سره د نیت یو ځای والی شرط نه دی بلکه سنت دی ، شرط دادی چي د یو ذکر سره نیت یو ځای وي هر ذکر چي وي ، که ئې تلبیه ویل نو دا ضروري ده چي په ژبه به وي ، که ئې په زړه کي وویل اعتبار نه لري " رد المحتار ۲-۱۵۸ " .

أُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَ تَقَبَّلْهُ مِنِّيْ (اى الله زه د حج كولو اراده لرم نو راته آسانه ئې كه او راځنه قبول ئې كه) بيا دي تلبيه ووايي : لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ (ستا د عبادت لپاره حاضر يم اى الله ستا د عبادت لپاره حاضر يم ، ستا د عبادت لپاره حاضر يم تا لره شريك نسته ستا د عبادت لپاره حاضر يم ستاينه او احسان تا لره دي او پاچهي ، تا لره شريك نسته) . له دغو كلمو څخه دي شى نه كموي ، كه ئې شى په كښي زيات كى روا دى ، كله چي تلبيه ئې وويل محرم سو نو د احرام له ممنوعاتو څخه دي پرهېز وكي .

س : كه ښځه حائضه يا نفاسي وه د حج احرام به تړي كه به د وينو بندېدو انتظار كوي ؟

ج : د وينو بندېدو انتظار دي نه كوي بلكه د نظافت لپاره دي غسل وكي كه دغسل ځاى وو ، سر دي ږمونځ كي بيادي بېله دوو ركعاتو لمونځ كولو احرام وتړي ، د حج يا عمرې نيت دي وتړي او تلبيه دي ووايي ، كله چي نيت ئې وكړى او تلبيه ئې وويل محرمه سول ، كله چي مكې ته داخله سي د وينو بندېدو انتظار دي وكي ، كله چي پاكه سي غسل دي وكي او طواف دي وكي .

د احرام ممنوعات

س : د احرام ممنوعات كوم شيان دي ؟

ج : هغه په لاندي ډول دي :

١ : فاحشي خبري كول .

٢ : ګناه كول .

٣ : جګړه كول .

٤ : د وچي ښكار كول .

٥ : ښكار ته اشاره كول .

٦ : د ښكار لپاره لارښوونه كول .

٧ : د قميص ، پرتوګ ، كوټ ، چپنه ، او هر هغه شي اغوستل چي دبدن د اندامو پرشكل ګنډلى يا اودلى يا جوړ سوى وي .

٨ : لاس پوښونه په لاس كول او موزې په پښو كول مګر كه ئې چوټي نه درلودلې موزې دي تر بجلكو لاندي پرې كي .

۹ : سر يا مخ پټول ، نو ټوپۍ دي نه پر سر کوي نه دي لنګوټه تړي .
۱۰ : خوشبويي لګول .
۱۱ : سرخرول کول يا سر يا ږيره غڅي کول يا دبدن دبل ځای ورېښتان ليري کول.
۱۲ : نوکان غڅي کول .
۱۳ : داسي کالی اغوستل چي په ورس يا زعفران يا عصفر سره رنګ سوی وي مګر که پريمنځل سوی وو او خوشبويي نه ځني ولاړېدل پروا نه لري .
س : دغه د حج ممنوعات دي که د عمرې ؟
ج : دغه د دواړو احرامو ممنوعات دي .
س : د نر او ښځي حکمونه په دغه کي يوشی دي که په ځينو شيانو کي مختلف دي ؟
ج : دغه منوعات د نر محرم او ښځي محرمي دواړو لپاره دي مګر ښځي لره ګنډل کالي روا دي ځرنګه چي له احرام څخه مخکي ورته روا وه ، سر به پټوي مخ به نه پټوي
س : محرم لره غسل کول روا دي ؟
ج : هوده لره دا روا دي مګر داسي شی به نه استعمالوي چي خوشبويي په کښي وي خيري به نه ليري کوي او سر يا ږيره به په ګل خطمي يا صابون سره نه مينځي .
س : که محرم په خونه ، کجاوه ، موټر يا خيمه کي سايې ته کښيني دا څه حکم لري ؟
ج : دا ټوله روا دي .
س : تلبيه ډېره ويل څه حکم لري ؟
ج : تلبيه ډېره ويل مندوب او مستحب دي ، تر لمونځو وروسته په پېشلميانود حالاتو بدلون کي کله چي سهار يا ماښام سي يا يو لوړ ځای ته پورته سي يا شيلې ته کښته سي يا د سپرو سره مخامخ سي په دغو ټولو صورتو کي تلبيه ويل ټينګک مستحب دي .

مکې ته داخلېدل او د قدوم طواف

س : کله چي مفرد مکې ته داخلېږي په څه شي به شروع کوي ؟
ج : کله چي مکې ته داخلېږي اودس به ئې کړی وي په مسجد حرام دي شروع وکي ، ک چي ئې کعبه وليدل تکبير دي ووايي او لا اله الا الله دي ووايي بيا دي پر کعبه طوا وکي ، دا د مفرد لپاره اول طواف دی او د هغه چا لپاره چي د مکې اوسېدونکی نه و او د ميقاتو څخه په دې خوا اوسيږي سنت دی دغه د قدوم طواف بلل کيږي او د مکې

پر خلکو او کوم کسان چي د ميقات او مکې تر منځ په حل کي اوسيږي نسته (۱) .
س : د طواف طريقه او دا چي څرنګه شروع کيږي او څرنګه ختميږي بيان کړئ .
ج : کله چي د طواف کولو اراده وکړي په حجر اسود سره دي شروع وکړي ، هغه ته دي مخ کړي ، تکبير دي ووايي ، لا اله الا الله دي ووايي ، د تکبير سره دي لاسونه پورته کړي ، استلام (لاس وروړل او بيا لاس مچول) دي وکي ، مچ دي ئې کي که ئې کولای سوای ښېله دې چي يو مسلمان ته ضرر ورسوي ، که ئې ښيله ضرر رسولو نه سوای مچولای ورغوي دي پر کښيږدي بيا دي هغه مچ کي يا دي يو لاس پر کښيږدي ، افضل دادی چي ښی لاس پر کښيږدي بيا هغه مچ کړي ، که ئې دا هم نه سوای کولای دبره دي په يو شي چي دده په لاس کي وي لکه لکړه يا بل شي مسه کي بيا دي هغه شی مچ کي ، که ئې دا هم نه سوای کولای د حجر اسود پر برابري دي هغه ته مخامخ ودريږي او د تکبير په وخت کي دي لاسونه تر غوږو پوري پورته کي ، د لاسو شا دي د خپل مخ خوا ته کي او د لاسو مخ دي د حجر اسود خوا ته کي په لاسو دي هغې ته داسي اشاره کوي لکه چي لاسونه ئې پر ايښي وي او تر اشارې وروسته دي لاسونه مچ کي ، بيا دي خپل ښي لوري ته روان سي کوم چي د دروازې خوا ته دی او کعبه دي خپل چپه طرف ته کي او د حطيم په هغه خوا دي تېر سي ، کله چي پر رکن يماني (يماني کنج) تيريږي د هغه استلام دي کوي ، کله چي پر حجر اسود راسي د هغه استلام دي وکي او مچ دي ئې کي ، دا يو شوط (يو ځل طواف) سو ، په دغه ډول دي اوه شوطه طواف کوي په هر ځل کي دي د حجر اسود داسي استلام کوي څرنګه چي موږ ذکر کړی ، طواف دي د حجر اسود په استلام سره شروع کوي او په هغه سره دي ئې ختموي .

رمل او اضطباع

س : موږ ځيني طواف کونکي وينو چي رمل او اضطباع کوي ، د هغه څه حکم دی ؟

---

(۱) په " غنية الناسك " کي ئې ويلي دي : هغه د آفاقي لپاره چي د افراد يا قران حج کوي سنت دی که څه هم د حج له مياشتو څخه مخکي مکې ته داخل سي نو د عمرې کونکي ، د تمتع حج کونکي او مکي سړي لره او هغه څوک چي په ميقاتو کي اوسيږي يا د ميقاتو او مکې په منځ کي اوسيږي سنت نه دی ، دغه رنګه په " السراج " او نورو کتابو کي ذکر سوي دي ، په " الفتح " کي ذکر سوي دي هغه صرف د افاقي (څوک چي له ميقات څخه مخکي اوسيږي) لپاره سنت دی اه .

ج : هغه ځوك چي له طواف څخه وروسته د صفا او مروه تر منځ سعى كوي د هغه لپار
په طواف كي رمل او اضطباع سنت دي ، رمل د طواف په اولو درو شوطو كي سنت دي
او اضطباع په ټولو شوطو كي سنت ده نو ځوك چي د قدوم طواف كوي او له هغه څخ
وروسته د صفا او مروه ترمنځ سعى كولواراده لري په طواف كي به رمل اواضطباع كوي
كه ئې د سعى اراده نه وه نه به ئې كوي ، عمره كونكى به په طواف كي رمل او اضطباع
كوي ځكه هغه د عمرې له طواف څخه وروسته د صفا او مروه تر منځ سعى كوي .

س : د سنت رمل طريقه بيان كړئ .

ج : هغه دادى چي په تګ كي اوږې ښوروي لكه چي مبارز (ځوك چي د جنګ له شروع
څخه مخكي د دښمن د يو شخص سره جنګيږي) فخر كوي او تېز تګ كوي .

س : د اضطباع څه طريقه ده ؟

ج : هغه داده چي د پټو يو څنډه تر ښى بغل راوباسي او دواړه څنډې ئې پر چپه اوږ
واچوي او ښى اوږه ئې لڅه وي .

د طواف دوه ركعاته لمونځ

س : پر طواف كونكي وروسته له طواف څخه كوم شى واجب دى ؟

ج : هو پر هر طواف كونكي وروسته له طواف څخه دوه ركعاته لمونځ واجب دى .

س : دغه لمونځ به چيري كوي ؟

ج : افضل دادى چي د مقام ابراهيم سره ئې وكي په داسي ډول چي مقام ابراهيم دده او
كعبې په منځ كي راولي ، كه ئې بل ځاى په مسجد حرام كي وكړل روا دي .

س : په دغو دوو ركعاتو كي د ځينو سورتو ويل سنت دي ؟

ج : امام مسلم (۱) له جابر ﷺ څخه روايت كړى دى چي نبي ﷺ په هغو كي (سور
الكافرون) او (سورة الاخلاص) وويل .

د صفا او مروه په منځ كي سعى

س : د صفا او مروه په منځ كي د سعى (تېز تګ) طريقه بيان كړئ .

ج :كله چي حج كونكى يا عمره كونكى د صفا او مروه تر منځ د سعى اراده وكړي نو كله

(۱) امام مسلم ئې د حجة الوداع په قصه كي روايت كړى دى .

چي د طواف د دوو رکعاتو څخه فارغه سي حجر اسود ته دي مخ کړي او استلام دي ئې وکړي بیا دي صفا ته ورووزي ، لږ دي وروخیژي اودي وایي ﴿ إِنَّ الصَّفَا وَ الْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّه ﴾ ﴿ یقینا صفا او مروه د الله (د عبادت) له نښو څخه دي ﴾، مخ دي قبلې ته کړي ، تکبیر دي ووایي ، لا اله الا الله دي ووایي ، پر نبي ﷺ دي درود ووایي او د خپل حاجت لپاره دي الله ﷻ ته دعاء وکړي ، دا سنت دی چي درې ځله ﴿ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَ نَصَرَ عَبْدَهُ وَ هَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ﴾ (١) ووایي ﴿ نسته د عبادت لائق بېله الله څخه یوازي دی هیڅ شریك نسته ده لره ، ده لره پاچهي ده او ده لره ستاینه ده او دی پر هر شي قادر دی ، الله خپله وعده رښتیني کړل او د خپل بنده سره ئې مرسته وکړل او لښکرونه ئې یوازي مات کړل ﴾ ، بیا دي د مروه لوري ته کښته سي ، په خپل عادي تګ سره دي ځي کله چي زرغونه ستون ته ورسیږي تر بل زرغون ستون پوري دي ځغلي او داسي دي وایي ﴿ رَبِّ اغْفِرْ وَ ارْحَمْ وَ أَنْتَ الْأَعَزُّ الْأَكْرَمُ وَ تَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمْ ﴾ (٢) ﴿ ای ربه ومي بخښه او مهرباني راباندي وکه او ته غالبه او د عزت څښتن یې او تېرې وکه (زما) له هغه (ګناهو) څخه چي ته علم پر لرې ﴾ ، کله چي تر دوهم ستون تیر سي په خپل عادي تګ دي ځي تر څو چي مروه ته رسیږي ، هغه ته دي وروخیژي او داسي عمل دي وکي څرنګه چي ئې پر صفا کړی وو دا یو شوط دی اوه شوطه دي سعی کوي له صفا څخه دي ئې شروع کوي او پر مروه دي ئې ختموي او د سعی په دوران کي دي ټوله وخت د الله ﷻ ذکر کوي ، هر کله چي زرغونو ستونو ته ورسیږي په تګ او راتګ کي دي ځغلي ، ښځه دي د ستونو تر منځ نه ځغلي بلکه د سعی په ټوله دوران کي دي خپل عادي تګ کوي .

منی ته تګ بیا له هغه ځای څخه عرفات تګ

س : کله چي حج کونکی د قدوم له طواف او صفا او مروه تر منځ سعی څخه فارغه سي او د حج لپاره څو ورځي لږ یا ډیري پاته سي څه به کوي ؟

ج : په مکه کي دي محرم اوسي کله چي ئې خوښه سي طواف دي کوي د پنځو لمونځو

---

(١) امام مسلم ئې د حجة الوداع په قصه کي روایت کړی دی .

(٢) طبراني ئې له ابن مسعود ؓ څخه مرفوع روایت کړی دی لکه چي په " جمع الفوائد " کي راغلي دي .

لپاره دي مسجد حرام ته حاضرېږي ، د جماعت لمونځ دي نه پرېږدي ځکه په مسجد حرام کي يو لمونځ د بل ځای تر سلو زرو لمونځو زيات ثواب لري . کله چي د ذوالحجې اتمه سي منی ته دي ووزي .

س : کله چي منی ته ورسيږي څه به کوي ؟

ج : د عرفات د ورځي تر لمر ختو پوري به هلته اوسيږي ، پنځه لمونځونه به په منی کي کوي او دجماعت لمونځ دي نه پرېږدي .

س : کله چي د عرفات د ورځي لمر راوخيژي څه به کوي ؟

ج : کله چي د عرفات د ورځي لمر راوخيژي او پر ثبير (په منی کي يو غر دی) وځليږي امام دي عرفات ته ولاړ سي او تر لمر لوېدو پوري دي هلته اوسيږي ، کله چي لمر زوال وکي امام دي خلګو ته د ماپښين او ماځديګر لمونځ ورکي ، د لمانځه څخه مخکي دي دوې خطبې وايي په هغو کي دي خلګو ته لمونځ ، د عرفات درېدل ، د مزدلفې درېدل ، د خلو ويشتل ، هدی ذبح کول ، سر خرول او د زيارت طواف ورښوي او د ماپښين او ماځديګر لمونځونه دي د ماپښين په وخت کي په يوه اذان او دوو اقامتو سره خلګو ته ورکوي ، دې ته د تقديم جمع (د اول لمانځه په وخت کي دوه لمونځونه يو ځای کول) وايي د دغه جمع لپاره د مسلمانانو امام يا د هغه نائب ، د حج احرام او د ماپښين وخت شرط دي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد نو که چا د ماپښين لمونځ په خپله خيمه کي يوازي کوی يا ئې په جماعت سره پرته د حج له امام څخه په بل امام پسي کوی هر يو د ماپښين او ماځديګر لمونځ دي جلا جلا په خپل وخت کي کوي ، ابويوسف رح ويلي دي : يوازي لمونځ کونکی دي هم جمع کوي .

س : له لمانځه څخه وروسته به په څه شي سره مشغوله کيږي ؟

ج : بيا دي وروسته له لمانځه څخه موقف (د درېدو ځای) ته ولاړ سي ، عرفات ټوله موقف دی بېله بطن عرنه (د يوې شېلې نوم دی) څخه ، دا مستحب دی چي غسل وکي او تر لمر لوېدو پوري په دعاء کي کوښښ وکي ، که ئې د ماځديګر لمونځ د حج د امام سره نه وو کړی په دغه وخت کي دي د ماځديګر لمونځ وکي ، دا مستحب دی چي جبل الرحمه ته نژدې ودريږي او تر څو چي کولای سي په ولاړې دي دعاء وکي ، که په خيمه کي دعاء کوي هم روا دی ، د حج د امام لپاره دا مستحب دی چي په عرفات کي پر اوښه سپور وي دعاء کوي او خلګو ته د حج مناسك ورښوي .

چې د طواف د دوو رکعاتو څخه فارغه سي حجر اسود ته دي مخ کړي او استلام دې ئې وکړي بيا دي صفا ته ورووزي ، لږ دي وروخيژي اودي وايي ﴿ إِنَّ الصَّفَا وَ الْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ﴾ ﴿ يقينا صفا او مروه د الله (د عبادت) له نښو څخه دي ﴾، مخ دي قبلې ته کړي ، تکبير دي ووايي ، لا اله الا الله دي ووايي ، پر نبي ﷺ دي درود ووايي او د خپل حاجت لپاره دي الله ﷻ ته دعاء وکړي ، دا سنت دی چې درې ځله ﴿ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَ نَصَرَ عَبْدَهُ وَ هَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ﴾ (١) ووايي ﴿ نسته د عبادت لائق بېله الله څخه يوازي دی هيڅ شريك نسته ده لره ، ده لره پاچهي ده او ده لره ستاينه ده او دی پر هر شي قادر دی ، الله خپله وعده رښتيني کړل او د خپل بنده سره ئې مرسته وکړل او لښکرونه ئې يوازي مات کړل ﴾ . بيا دي د مروه لوري ته کښته سي ، په خپل عادي تګ سره دي ځي کله چې زرغونه ستون ته ورسيږي تر بل زرغون ستون پوري دي ځغلي او داسي دي وايي ﴿ رَبِّ اغْفِرْ وَ ارْحَمْ وَ أَنْتَ الْأَعَزُّ الْأَكْرَمُ وَ تَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمْ ﴾ (٢) ﴿ ای ربه ومي بخښه او مهرباني راباندي وکه او ته غالبه او د عزت څښتن يې او تېرى وکه (زما) له هغه (ګناهو) څخه چې ته علم پر لرې ﴾ ، کله چې تر دوهم ستون تير سي په خپل عادي تګ دي ځي تر څو چې مروه ته رسيږي ، هغه ته دي وروخيژي او داسي عمل دي وکي څرنګه چې ئې پر صفا کړی وو دا يو شوط دی اوه شوطه دي سعی کوي له صفا څخه دي ئې شروع کوي او پر مروه دي ئې ختموي او د سعی په دوران کي دي ټوله وخت د الله ﷻ ذکر کوي ، هر کله چې زرغونو ستونو ته ورسيږي په تګ او راتګ کي دي ځغلي ، ښځه دي د ستونو تر منځ نه ځغلي بلکه د سعی په ټوله دوران کي دي خپل عادي تګ کوي .

منی ته تګ بيا له هغه ځای څخه عرفات تګ

س : کله چې حج کونکی د قدوم له طواف او صفا او مروه تر منځ سعی څخه فارغه سي او د حج لپاره څو ورځي لږ يا ډيري پاته سي څه به کوي ؟

ج : په مکه کي دي محرم اوسي کله چې ئې خوښه سي طواف دي کوي د پنځو لمونځو

---

(١) امام مسلم ئې د حجة الوداع په قصه کي روايت کړی دی .

(٢) طبراني ئې له ابن مسعود ؓ څخه مرفوع روايت کړی دی لکه چې په " جمع الفوائد " کي راغلي دي .

لپاره دي مسجد حرام ته حاضرېږي ، د جماعت لمونځ دي نه پرېږدي ځکه په مسجد حرام کي يو لمونځ د بل ځاى تر سلو زرو لمونځو زيات ثواب لري . کله چي د ذوالحجې اتمه سي منی ته دي ووزي .

س : کله چي منی ته ورسيږي څه به کوي ؟

ج : د عرفات د ورځي تر لمر ختو پوري به هلته اوسيږي ، پنځه لمونځونه به په منی کي کوي او دجماعت لمونځ دي نه پرېږدي .

س : کله چي د عرفات د ورځي لمر راوخيژي څه به کوي ؟

ج : کله چي د عرفات د ورځي لمر راوخيژي او پر ثبير (په منی کي يو غر دی) وځليږي امام دي عرفات ته ولاړ سي او تر لمر لوېدو پوري دي هلته اوسيږي ، کله چي لمر زوال وکي امام دي خلګو ته د ماپښين او ماخديګر لمونځ ورکي ، د لمانځه څخه مخکي دي دوې خطبې وايي په هغو کي دي خلګو ته لمونځ ، د عرفات درېدل ، د مزدلفې درېدل ، د ځلو ويشتل ، هدی ذبح کول ، سر خرول او د زيارت طواف وربنوي او د ماپښين او ماخديګر لمونځونه دي د ماپښين په وخت کي په يوه اذان او دوو اقامتو سره خلګو ته ورکوي ، دې ته د تقديم جمع (د اول لمانځه په وخت کي دوه لمونځونه يو ځاى کول) وايي د دغه جمع لپاره د مسلمانانو امام يا د هغه نائب ، د حج احرام او د ماپښين وخت شرط دي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد نو که چا د ماپښين لمونځ په خپله خيمه کي يوازي کوی يا ئې په جماعت سره پرته د حج له امام څخه په بل امام پسي کوی هر يو د ماپښين او ماخديګر لمونځ دي جلا جلا په خپل وخت کي کوي ، ابويوسف رح ويلي دي : يوازي لمونځ کونکی دي هم جمع کوي .

س : له لمانځه څخه وروسته به په څه شي سره مشغوله کيږي ؟

ج : بيا دي وروسته له لمانځه څخه موقف (د درېدو ځاى) ته ولاړ سي ، عرفات ټوله موقف دی بېله بطن عرنه (د يوي شېلې نوم دی) څخه ، دا مستحب دی چي غسل وکي او تر لمر لوېدو پوري په دعاء کي کوښښ وکي ، که ئې د ماخدېګر لمونځ د حج د امام سره نه وو کړی په دغه وخت کي دي د ماخديګر لمونځ وکي ، دا مستحب دی چي جبل الرحمه ته نژدې ودرېږي او تر څو چي کولای سي په ولاړي دي دعاء وکي ، که په خيمه کي دعاء کوي هم روا دی ، د حج د امام لپاره دا مستحب دی چي په عرفات کي پر اوښه سپور وي دعاء کوي او خلګو ته د حج مناسك وربنوي .

مزدلفې ته تګ او پر هغه درېدل

س : د عرفات د ورځي تر لمر لوېدو وروسته به حج کونکی څه کوي ؟
ج : کله چي لمر ولوېږي له عرفات څخه دي وزي او د مزدلفې لوري ته دي روانيږي ، د ماښام لمونځ دي په عرفات کي نه کوي نه دي ئې د مزدلفې په لاره کي کوي ، کله چي مزدلفې ته ورسيږي د ماښام او ماخستن لمونځونه دي په يوه اذان او اقامت سره د حج په امير يا بل چا پسي يو ځای وکي ، دغه ته د تاخير جمع (چي دوه لمونځونه د وروستني لمانځه په وخت کي يو ځای وکي) وايي .
س : که چا يوازي لمونځ کوی دغه دوه لمونځونه به سره يو ځای کوي ؟
ج : هو ځکه چي دغه لمانځه لره جماعت شرط نه دی .
س : که ئې د ماښام لمونځ په عرفات کي يا د مزدلفې په لاره کي وکی څه حکم ئې دی ؟
ج : هغه نه صحيح کيږي ، بېرته به ئې راګرځوي .
س : تر لمونځو وروسته به څه کوي ؟
ج : د دوهمي سپېدو تر راختلو پوري به په مزدلفه کي شپه تېروي ، کله چي دوهمي سپېدې راوخيژي د سهار لمونځ دي په تاريکه کي په جماعت سره وکي بيا دي ودريږي د لمر راختلو څخه لږ مخکي پوري دي الله ﷻ ته دعاء او ذکر کوي ، مزدلفه ټوله موقف (د درېدو ځای) دی بېله بطن محسر (د يوې شېلې نوم دی) څخه .

منی ته تګ ، وروستنی څلی ويشتل ، ذبح کول او سر خرول

س : تر مزدلفې درېدو وروسته به حج کونکی څه کوي ؟
ج : کله چي لمر ختو ته لږ وخت پاته سي منی ته دي ولاړ سي ، چي هلته ورسيږي د وروستني څلي په ويشتلو دي شروع وکي هغه دي په اوو دومره قدر شګو ولي چي په ګوتو ويشتل کيږي ، د هري شګي سره دي تکبير وايي او داسي دي وايي ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ رِضىً لِلرَّحْمَنِ وَ رَغْماً لِلشَّيْطَانِ ﴾ ﴿ د الله په نامه سره د رحمن د رضا لپاره او د شيطان د ذلت لپاره ﴾ ، تر ويشتلو وروسته دي د هغه سره نه دريږي او د اولي شګي سره دي تلبيه پريږدي .
س : ذبح کول پر لازم دي ؟
ج : د افراد پر حج کونکي ذبح کول لازم نه دي بلکه مستحب دي .

س: بيا به څه کوي ؟
ج: هغه څوك چي د افراد حج کونکی وي کله چي د لوی اختر په لمړۍ ورځ وروستنی ځلي وولي سر به خروي يا به ئې غڅي کوي ، خرول ئې افضل دي ، کله چي سر ئې وخروی يا ئې غڅي کی له احرام څخه ووتی او بېله ښځي څخه هر شی ورته رواسو . نو ګنډلي کالي قميص ، پرتوګ او نور دي اغوندی ، کالي او بدن دي خوشبويه کوي ، وربښتان دي خروي او نوکان دي غڅي کوي ، د تمتع او قران حج کونکی به د وروستني ځلي ويشتلو څخه وروسته هدی ذبح کوي بيا به سر خروي يا غڅي کوي .
س: که د افراد حج کونکي غوښتل چي ذبح وکي نو تر ذبح وروسته به سر خروي يا غڅي کوي که له هغه څخه مخکي ؟
ج: دواړه ورته روا دي مګر تر ذبح وروسته سر خرول افضل دي .
س: چيري به سر خروي يا غڅي کوي ؟
ج: د حرم په حدودو کي به سر خروي يا غڅي کوي ، که ئې د حرم څخه دباندي سر وخروی يا ئې غڅي کی قرباني پر لازميږي .

د زيارت طواف

س: د اختر د لمړۍ ورځي له مناسکو څخه تر سر خرولو وروسته کوم شی پاته سو ؟
ج: هو د زيارت طواف پاته دی او هغه فرض طواف دی ، وخت ئې درې ورځي دی د اختر د لمړۍ ورځي د لمر ختلو څخه د ذوالحجې د دوولسمي ورځي تر لمر لوېدو پوري مګر د اختر په لمړۍ ورځ افضل دی ، کله چي سر وخروي يا ئې غڅي کي مکې ته دي ولاړ سي او اوه شوطه داسي طواف دي وکي لکه د قدوم طواف چي موږ ذکر کی ، کله چي د زيارت طواف وکي ښځي هم ورته روا کيږي .
س: په دغه طواف کي به رمل او اضطباع کوي ؟
ج: که ئې د قدوم له طواف څخه وروسته د صفا او مروه تر منځ سعی نه وه کړې د زيارت تر طواف وروسته به د صفا او مروه تر منځ سعی کوي نو په دغه صورت کي به دزيارت په طواف کي په اولو درو شوطو کي رمل کوي ، د اضطباع لپاره ځای نه سو پاته ځکه تر سر خرولو وروسته ئې ګنډلي کالي واغوستل .
س: که ئې د زيارت طواف تر درو ورځو وځنډوی کوم چي تاسي ذکر کړې ؟

ج : كه ئې د ذوالحجې د دوولسمي ورځي تر لمر لوېدو وروسته د زيارت طواف وكی د
ابوحنيفه رح په نزد قرباني پر لازمېږي او صاحبينو رح ويلي دي د ځنډولو له كبله شی ند
پر لازمېږي .

په درو ورځو كي د درو ځلو ويشتل

س : كله چي د زيارت طواف وكي څه به كوي ؟

ج : بيرته به منی ته ځي هلته به اوسي او د ذوالحجې په يوولسمه او دوولسمه به درې
ځلي ولي په هره ورځ كي د لمر تر زوال وروسته ، لمړى دي كوچنی ځلی ولي كوم چي
مسجد الخيف ته نژدې دی بيا دي ميانه ځلی ولي وروسته دي لوی ځلی ولي ، هغه
وروستنی ځلی دی ، هر ځلی دي په اوو شګو ولي او د هري شګي سره دي تكبير او
لا اله الا الله وايي ، تر دوو اولو ځلو وروسته دي د ويشتلو ځای څخه لږ بنی طرف ته
ځكيږي او د دعاء لپاره دريږي ، تر لوی ځلي وروسته دي نه دريږي بلكه د هغه له
ويشتلو څخه وروسته دي په تګ كي دعاء كوي .

س : كه ئې په دغو دوو ورځو كي له زوال څخه مخكي ځلي وويشتل صحيح كيږي ؟

ج : په دغو دوو ورځو كي د ويشتلو وخت له زوال څخه د دوهمي سپيدو تر راختلو پوري
دی نو څوك چي تلوار وكي او مخكي تر زوال ئې وولي بيرته راګرځول پر لازم دي .

س : چي ددغو دوو ورځو دځلو ويشتلو څخه فارغه سي څه به كوي ؟

ج : دا ورته روا ده چي بيرته مكې ته ولاړ سي يا په منی كي واوسي ددې لپاره چي د
ذوالحجې په ديارلسمه هم درې ځلي وولي ، الله ﷻ ويلي دي : ﴿ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ
فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَ مَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقٰى ﴾ ﴿ نو څوك چي په دوو ورځو كي تلوار
وكي ګناه نسته پر هغه او څوك چي ځنډ وي ګناه نسته پر هغه د هغه چا لپاره چي پرهېز
وكي ﴾ مګر كه د دوولسمي ورځي لمر ولوېدی او دی په منی كي وو نو د ديارلسمي
ورځي د ويشتلو څخه مخكي وتل ورته مكروه دي ، كه د ديارلسمي ورځي سپېدې
راوختلې او دی په منی كي وو ددغي ورځي ويشتل هم پر واجب سول .

س : څوك چي په منی كي پاته سي او دا غواړي چي په ديارلسمه ورځ هم ځلي وولي څه
وخت به ئې ولي ؟

ج : سنت دادی چي تر زوال وروسته ئې وولي او په دغه ورځ د ويشتلو وخت صرف تر لمر لوېدو پوري دی ، تر لمر لوېدو وروسته نه صحيح کيږي ، که ئې تر زوال مخکي وويشتل د ابوحنيفه رح په نزد صحيح دي مګر مکروه دي ځکه دسنت څخه مخالف دي او صاحبينو رح ويلي دي : په دغه ورځ کي هم تر زوال مخکي نه صحيح کيږي .

س : که يو سړي په دغو ورځو کي د ويشتلو لپاره په منی کي اوسېدی دا ورته روا ده چي خپل سامان مکې ته يوسي ؟

ج : دا مکروه دی چي سامان مکې ته يوسي او دی په منی کي اوسي .

د وداع طواف

س : که څوك په لمړي تګ (په دوولسمه) يا دوهم تګ (په ديارلسمه) کي مکې ته ورسيږي څه به کوي ؟

ج : د ځلو ويشتلو څخه وروسته د حج له مناسکو څخه صرف د وداع طواف پاته سو ، هغه ته د صدر طواف هم ويل کيږي ، هغه پر دباندني سړي واجب دی نو کله چي مکې ته ولاړ سي ورته روا ده چي د وداع طواف وکي او خپل وطن ته ولاړ سي ، که د ځينو خپلو کارو له کبله نه سوای تلای څومره چي ئې خوښه وي په مکه کي دي پاته سي .

س : کله چي له منی څخه راسي د وداع طواف به کوي که به ئې تر هغه وخت پوري ځنډوي چي له مکې مکرمې څخه وزي ؟

ج : که حج کونکی د زيارت له طواف څخه وروسته طواف وکي که څه هم د نفلي طواف په نيت سره وي هغه د وداع په طواف کي شمېرل کيږي مګر مستحب دادی چي د وداع طواف دمکې څخه وتلو پوري کوم وخت چي خپل وطن ته سفر کوي وځنډوي .

س : د صدر په طواف کي رمل او اضطباع سته ؟

ج : په هغه کي رمل او اضطباع نسته ځکه تر هغه وروسته سعی نسته .

متفرقي مسئلې

س : که يو سړي له ميقات څخه احرام و تړی ، مکې ته داخل سو، عرفات ته روان سو ، پر عرفات ودرېدی او د قدوم طواف ئې نه وکړی څه شی پر لازميږي ؟

ج : د قدوم طواف ځني ساقطيږي ، د هغه په پرېښولو شی نه پر لازميږي .

س : که يو سړی د عرفات د ورځي تر لمر لوېدو وروسته عرفات ته ورسيدی حج ئې

صحيح دی ؟

ج : څوك چي دعرفات د ورځي له زوال څخه د اختر د ورځي تر لمر ختو پوري پر عرفات ودرېږي كه څه هم لږ ګړی وي حج ئې صحيح كيږي .

س : د حج صحيح كېدو لپاره په عرفات كي دعاء شرط ده ؟

ج : دعاء سنت ده ، څوك چي پر عرفات تير سي كه څه هم د لږ وخت لپاره وي كه بيده وي كه ويښ وي كه بې هوښه په دې شرط چي محرم وي حج ئې صحيح كيږي ، كه څوك په دې نه پوهېدی چي دا عرفات دی هم ئې درېدل صحيح كيږي .

س : دغه ټوله يوازي د سړي د حج لپاره دي كه د سړي او ښځي دواړو لپاره دي ؟

ج : په دغو ټولو شيانو كي ښځه د سړي په شان ده مګر خپل سر به په احرام كي نه پټوي نه به پټو يا نقاب پر مخ را ايله كوي نه به په تلبيه سره اواز پورته كوي نه به په طواف كي رمل كوي نه به د دوو زرغونو ستونو تر منځ ځغلي نه به سر خروي بلكه غڅي كوي به ئې ، كه دا حائضه يا نفاسي وه او د حج احرام ئې تړلی وو يا تر احرام وروسته حائضه يا نفاسي سول او د ذوالحجې تر اتمي پوري پاكه نه سول د قدوم طواف دي پرېږدي او منی ته دي ولاړه سي او د حج ټوله مناسك دي اداء كړي مګر د زيارت طواف دي نه كوي تر څو چي پاكيږي ، كه د زيارت تر طواف وروسته حائضه يا نفاسي سول او د سفر وخت ئې راغلی د وداع د طواف پرېښول ورته روا دي د هغه په پرېښولو كي شی پر دې نسته .

عمره

س : د عمرې لغوي او شرعي معنی ، د هغې فرضونه ، واجبات او د اداء كولو طريقه بيان كړئ .

ج : عمره په عربي ژبه كي زيارت ته ويل كيږي او په شريعت كي د څلورو شيانو مجموعې ته ويل كيږي :

١ : احرام .

٢ : پر كعبه طواف .

٣ : د صفا او مروه تر منځ سعی .

٤ : سر خرول يا غڅي كول .

فرضونه ئې دوه دي : احرام او طواف ، واجبات ئې هم دوه دي : د صفا او مروه تر منځ سعی او سرخرول یاغچي کول ، کله چي څوك عمره کول وغواړي له میقات څخه دي احرام وتړي ، غسل یا اودس دي وکي او دوه رکعاته لمونځ دي وکي بیا دي د عمرې نیت وکي او داسي دي ووایي ﴿ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّيْ ﴾ ﴿ ای الله زه د عمرې اراده لرم نو ما ته ئې اسانه که او را څخه قبوله ئې که ﴾ بیا دي تلبیه ووایي څرنګه چي مو د حج په احرام کي ذکر کړل ، کله چي تلبیه ووایي محرم سو ، چي مکې ته داخل سي د عمرې لپاره دي اوه شوطه طواف وکي بیا دي د صفا او مروه تر منځ اوه ځله سعی وکي څرنګه چي په حج کي ئې بیان تېر سو ، کله چي سعی ئې پر مروه ختم کړل سر دي وخروي یا دي ئې غچي کي ، چي دغه کارونه ئې وکړل عمره ئې پوره سول او د هغې له احرام څخه ووتی .

س : د عمرې په احرام کي ممنوعات سته ؟

ج : هو د عمرې د احرام ممنوعات د حج د احرام ممنوعات دي نو له فاحشو خبرو ، ګناه او جګړې څخه به پرهیز کوي ، ګنډلي کالي به نه اغوندي ، وریښتان به نه خروي نه به ئې غچي کوي ، خوشبويي به نه لګوي ، سر یا مخ به نه پټوي ، نکان به نه پرې کوي ، ښکار به نه کوي او چا ته به د ښکار لارښوونه نه کوي نه به ښکار ته اشاره کوي .

س : د عمرې د احرام میقاتونه بیان کړئ .

ج : د هغه چا لپاره چي له میقاتو څخه دباندي اوسي د عمرې د احرام میقاتونه د حج د احرام میقاتونه دي کوم سړی چي د میقات څخه دننه په حل کي اوسي هغه دي له حل څخه احرام تړي اوڅوك چي په حرم کي وي هغه دي د عمرې داحرام لپاره حل ته وزي (١).

س : په اسلام کي د عمرې څه حکم دی ؟

ج : هغه په عمر کي یو ځل موکد سنت ده د هغه چا لپاره چي مکې ته رسېدلای سي او ډېر فضیلت لري (٢) .

---

(١) له حل څخه مراد هغه ځای دی چي د میقات او حرم تر منځ دی .

(٢) له ابو هریره ﷺ څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ وویل : یوه عمره تر بلي عمرې پوري د هغو ګناه وو پاکېدنکې ده چي د دوی په منځ کي ئې څوك وکي او د قبول سوي حج جزاء جنت دی ، بخاري او مسلم روایت کړی دی .

س : د عمرې په احرام کي تلبيه څه حکم لري ؟
ج : داحرام په وخت کي تلبيه شرط (۱) ده ، له هغه څخه وروسته ئې ډېرويل مستحب دي
لکه د حج په احرام کي ، کله چي د عمرې د طواف اول شوط شروع کي تلبيه به پرېږدي.
س : د عمرې لپاره د قدوم طواف او د وداع طواف په شريعت کي سته ؟
ج : د هغې لپاره د قدوم طواف او د وداع طواف نسته ، د عمرې تر احرام وروسته چي
هر طواف انسان کوي هغه د عمري طواف ګڼل کيږي .
س : عمرې لره کوم خاص وخت سته لکه حج لره ؟
ج : د هغې لپاره ورځ يا مياشت نه ده خاصه په ټوله کال کي چي کله ئې خوښه سي عمره
دي کوي مګر د ذوالحجې له نهمي څخه د ايام التشريق تر آخري ورځي پوري تحريمي
مکروه ده او په رمضان کي عمره ډېر فضيلت لري ځکه په رمضان کي ئې ثواب د حج په
شان دی (۲) .
س : عمره د حج سره اداء کيږي ؟
ج : هو د حج سره اداء کيږي څرنګه چي د قران حج او تمتع حج په بيان کي به ئې وبيژنې
ان شاء الله .

قران

س : د حج او عمرې د احرامو په منځ کي جمع روا ده ؟
ج : هو صحيح کيږي اوهغه تر افراداو تمتع افضل ده او تمتع تر افراد افضل ده ، څوک
چي حج او عمره يو ځای وکي قارن بلل کيږي او دغه يو ځای والي ته قران ويل کيږي .
س : د قران طريقه بيان کړئ .
ج : د قران طريقه داده چي له ميقات څخه د عمرې اوحج دواړو احرام وتړي او د احرام تر
دوو رکعاتو وروستــه ووايي ﴿أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْحَجَّ وَ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ﴾

(۱) د ص ۱۳۵ حاشيه وګوره .
(۲) له ابن عباس ﷺ څخه روايت سوی دی چي نبي ﷺ وويل : په رمضان کي يوه عمره د حج سره برابره
ده ، مسلم ئې روايت کړی دی ، د بخاري په روايت کي راغلي دي : په رمضان کي عمره حج دی يا د حج
په مثل قول ، د مسلم په يوه روايت کي راغلي دي : په رمضان کي يوه عمره د حج کولو يا زما سره د حج
کولو سره برابره ده .

(ای الله زه د حج او عمرې اراده لرم نو راته اسانه ئې که او راځخه قبول ئې که ﴾ بیا دي تلبیه وایي ، کله چي ئې تلبیه وویل په دواړو سره محرم سو نو کله چي مکې ته داخل سي په طواف دي شروع وکي ، د عمرې لپاره دي پر کعبه اوه شوطه طواف وکي ، په طواف کي دي اضطباع وکي او په اولو درو شوطو کي دي رمل کوي په نورو شوطو کي دي خپل عادي تګ کوي بیا دي د صفا ا و مروه تر منځ سعی وکي ، دغه د عمرې افعال دي ، دعمرې تر سعی وروسته دي د قدوم طواف کوي او د حج لپاره دي د صفا او مروه تر منځ سعی کوي څرنګه چي موږ د افراد حج په بیان کي ذکر کړل بیا دي په احرام کي وي تر څو چي د ذوالحجې په اتمه منی ته وزي او هغه افعال دي کوي څرنګه چي د افراد حج کونکی ئې کوي چي په منی کي اوسېدل ، بیا پر عرفات درېدل ، بیا پر مزدلفه درېدل ، بیا د لوی ځلي (وروستنی ځلی) د لوی اختر په لمړۍ ورځ ویشتل دي ، په منی کي دي شپې تېروي او دویشتلو په ورځو کي دي درې ځلي ولي او اختر په ورځوکي دي د زیارت طواف کوي .

س : پر قارن کوم اضافي شی لازم دی چي پر یوازي حج کونکي نه دی لازم ؟

ج : هو پر ده واجب دی چي د اختر په لمړۍ ورځ د لوی ځلي تر ویشتلو وروسته د الله ﷻ د شکر لپاره هدی ذبح کي ځکه چي دوه عبادتونه ئې یو ځای وکړل یو پسه به ذبح کوي یا د غوایي یا اوښ اومه حصه ، بیا به سر خروي یا غچي کوي نو له دواړو احرامو ځخه ووتی څرنګه چي په دواړو کي یو ځای داخل سوی وو ، سر خرول یا غچي کول د ذبح ځخه مخکي نه دي ورته روا او بېله ښځو هر شی ورته روا سو، ښځي د زیارت تر طواف وروسته ورته روا کیږي .

س : که ئې د هدی رانیولو پیسي نه درلودې څه به کوي ؟

ج : درې ورځي به په حج کي روژې نیسي چي آخري ورځ ئې د عرفات ورځ وي ، کله چي کورته راسي اوه ورځي روژه دي نیسي نو دا پوره لس ورځي کیږي .

س : که ئې درې ورځي روژه نه ونیول تر څو چي داختر ورځ داخله سول څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه وخت کي ببله هدی بل شی کفایت نه ورته کوي .

س : څوک چي پاته اوه ورځي روژه له حج ځخه وروسته د کور ته راتلو ځخه مخکي په مکه کي ونیسي دا ورته روا ده ؟

ج : هو دا روا ده .

س : که یو سړي د حج او عمرې دواړو احرام وتړی مګر مکې ته نه سو داخل عرفات
ولاړی څه حکم ئي دی .
ج : کله چي پر عرفات ودرېدی نو عمره ئې پرېښوله او د قران هدی څني ساقطه سول
د عمرې د پرېښولو له کبله قرباني او د عمرې قضاء پر لازمه ده .

تمتع

س : تمتع څه ته وایي ؟
ج : تمتع داده چي له میقات څخه د عمرې احرام وتړي ، مکې ته داخل سي او د حج
میاشتو کي عمره وکي ، پر کعبې طواف وکي او د صفا او مروه تر منځ سعی وکي او س
وخروي یا ئې غچي کي ، کله چي طواف شروع کي تلبیه دي بنده کي ، کله چي سر ئې
وخروی یا ئې غچي کی له عمرې څخه حلال سو ، بیا دي په مکه کي حلال اوسي هر
وخت چي ئې خوښه سول طواف دي کوي د پنځو لمونځو لپاره دي مسجد حرام ته
حاضرېږي ، د ذوالحجي په اتمه دي له حرم څخه د حج احرام وتړي او هغه افعال دي
وکي چي د افراد حج کونکی ئې کوي ، کله چي د اختر په ورځ ئې لوی شلی وویشتی د
الله ﷻ د شکر لپاره دي قرباني ذبح کي ځکه چي دوه عبادتونه ئې یو ځای وکړل ، که
ئې قرباني نه سوای موندلای درې ورځي دي په حج کي روژه ونیسي چي آخري ورځ ئې
دعرفات ورځ (۱) وي او اوه ورځي چي کله خپل کورته ولاړ سي ، سر دي تر هغه وخته
پوري نه خروي تر څو چي ذبح کوي ددغه روژو ځیني حکمونه مو په قران کي بیان کړل .
س : په هغه چا کي چي د عمرې احرام ئې تړلی وي او هدی (د حرم لپاره قرباني) ئې د

(۱) که مسکین وو د قرباني پیسې ئې نه درلودې درې ورځي دي په حج کي روژه ونیسي ، دغه درې
ورځي د عمرې له احرام څخه وروسته د عرفات تر ورځي پوره صحیح کیږي دهغه څخه مخکي یا د
عرفات له ورځي څخه وروسته نه صحیح کیږي ، افضل دادی چي د ذوالحجې پر اومه ، اتمه او د
عرفات په ورځ دغه روژې ونیسي تر څو آخري ورځ ئې دعرفات ورځ سي ، دغه رنګه په " الظهیریة "
کي ذکر سوي دي ، د دغو روژو لپاره د نورو کفارتي روژو په شان د شپې نیت ضروري دی او ده ته
اختیار سته که ئې پرله پسې نیسي که ئې جلا جلا نیسي ، دغه رنګه په " الجوهرة النیرة " کي ذکر
سوي دي . که ئې دغه درې روژې د اختر تر ورځي پوري نه ونیولې وروسته نه صحیح کیږي او قرباني
پر لازمیږي د قارن حکم د قرباني په واجبېدو کي که ئې کولای سوای او د روژو په واجبېدو کي که ئې نه
سوای کولای دمتمتع په شان دی دغه رنګه په " الظهیریة " کي ذکر سوي دي " الفتاوی الهندیة ۱-۲۳۹ ".

ځان سره بېولې وي تاسي څخه واياست ؟

ج : تمتع کونکی پر دوه قسمه دی : لمړی هغه تمتع کونکی چي هدی ئې دځان سره وي بېولې د هغه د تمتع طريقه مو مخکي بيان کړل ، دوهم هغه تمتع کونکی چي د ځ سره هدی بيايي ، د هغه د تمتع طريقه داده چي له ميقات څخه به يوازي د عمرې احرام تړي ، مکې ته به ځي او له ځان سره به هدی بيايي ، که غوا وه چوتېه يا توبنه دان دي په غاړ وروځړوي او د ابويوسف رح او محمد رح په نزد دي د اوښي اشعار وکي ، د ابوحنيفه رح څخه مشهور قول دادی چي اشعار دي نه کوي (۱) ، اشعار دادی چي بوك ئې له ښی طرف څخه په نيزه يا بل داسي شي سره وينې کي ، کله چي مکې ته داخل سي د عمرې لپاره دي طواف او سعی وکي او ځان دي نه حلالوي بلکه محرم به پاته وي تر څو چي د ذوالحجې اتمه سي د حج احرام دي و تړي او هغه افعال دي وکي کوم چي د افراد حج کونکی ئې کوي ، د لوی ځلي تر ويشتلو وروسته دي ذبح وکي بيا دي سر وخروي يا دي ئې غچي کي ، کله چي سر وخروي له دواړو احرامو څخه حلالېږي .

س : که متمتع د ذوالحجې له اتمي څخه مخکي د حج احرام وتړی دا روا دی ؟

ج : هو دا روا دی او په دغه صورت کي هم تمتع کونکی بللل کيږي (۲) .

د حج مياشتي

س : د حج مياشتي کومي دي ؟

ج : هغه شوال ، ذوالقعده او د ذوالحجې لس ورځي دي .

س : د حج افعال په پنځو ورځو کي اداء کيږي نو شوال او ذوالقعده ولي د حج په مياشتو کي وشمېرل سوي ؟

ج : ځکه په دې سره ځيني حکمونه اړه لري ، يو دا که چا د شوال له مياشتي څخه مخکي دعمرې احرام وتړی‌اود طواف اکثره شوطونه ئې د شوال له مياشتي څخه مخکي

(۱) طحاوي ويلي دي : کله چي ابوحنيفه رح خلك وليدل چي په اشعار کي ئې له حد څخه تېری کوی په داسي توګه چي د اوښ د هلاکت بېره به وه نو هغه ئې مکروه وبللی ، الله ﷻ په حق ډېر ښه خبر دی .

(۲) که ئې د ذوالحجې له اتمې څخه مخکي احرام وتړی روا دی او دغه افضل دی ، دغه رنګه په " التبيين " کي ذکر سوي دي ، څومره چي ژر احرام تړي هغه افضل دی ، دغه رنګه په " الجوهرة النيرة " کي ذکر سوي دي " الفتاوی الهندية ۱-۲۳۹ " .

ل متمتع نه بلل کيږي بل دا که دحج احرام دشوال له مياشتي څخه مخکي وتړي
کړوه دی .

س : که يو چا د مثال په توګه په شوال يا ذوالقعده کي د عمرې احرام وتړی ، د عمرې افعال ئې وکړل بيا خپل وطن ته ولاړی اوبيرته دحج لپاره راغلی تمتع ئې څه حکم لری ؟

ج : په دغه صورت کي که ئې هدی د ځان سره نه وه بېولې تمتع کونکی نه دی او د تمتع قرباني نه ده پر لازمه ځکه تمتع داده چي دوه عبادتونه په يوه سفر کي اداء کي نو کله چي له عمرې څخه وروسته خپل وطن ته ولاړی او بيرته راغلی په يوه سفر کي ئې دواړه عبادتونه نه وکړل .

هغه څوك چي د حج او عمرې يو ځای اداء کول ورته روا نه دي

س : د مکې خلګو ته قران او تمتع روا دي ؟

ج : د مکې خلګو ، د حرم خلګو او دحل خلګو لره کوم چي له ميقاتو څخه دننه اوسيږي قران او تمتع نه دي جائز ، دوی لره يوازي د افراد حج دی .

جنايتونه او د هغو جزاوي

س : په حج او عمره کي جنايت څه ته وايي ؟

ج : په حج او عمره کي جنايت دوه قسمه دی :

١ : د احرام جنايت يعني د احرام له ممنوعاتو څخه کوم کار کول .

٢ : د حج او عمرې په افعالو کي جنايت لکه واجب پرېښول ، افعال بې ترتيبه کول او فرض يا واجب له خپل وخت څخه ځنډول .

س : د احرام جنايتونه بيان کړئ .

ج : هغه اته دي :

١ : د سړيانو لپاره ګنډلي کالي اغوستل .

٢ : د دوی لپاره سر پټول ،

٣ : د سړيانو او ښځو دواړو لپاره مخ پټول .

٤ : پر بدن ، د احرام پر کالو يا بستر خوشبويي لګول .

٥ : وريښتان خرول يا غوچي کول د هر ځای چي وي .

٦ : نوکان پرې کول .

۷ : د وچي ښکار کول ، دغه رنګه پر هغه ښوونه کول یا اشاره ورته کول .
۸ : جماع او د هغه اسباب یعني مچه او په شهوت لاس وروړل .

ګنډلي کالي اغوستل

س : د ګنډلو کالو اغوستلو جنایت او د هغه جزاء په تفصیل سره بیان کړئ .
ج : که محرم ګنډلي کالي واغوندي یعني داسي کالی چي اغوستل کیږي او د بدن یا یو اندام پر شکل جوړ سوی وي په هیره وي ، په قصد یا په خطا ، بل چا مجبور کړی وي یا په خپل اختیار سره ، په عذر سره یا بېله عذر څخه په ټولو صورته کي جزاء پر لازمه ده .
س : د دغه جزاء تفصیل څه دی ؟
ج : که ګنډلی کالی واغوندي او یوه ورځ یا شپه یا د یوې ورځي یا شپې په قدر دوام پر وکي قرباني (۱) پر لازمیږي یعني په حرم کي د پسه ذبح کول .
س : که ئې تر یوې شپې یا ورځي لږ وخت واغوستی څه جزاء ئې ده ؟
ج : که ئې تر یوه ګړي زیات وخت واغوستی د سرسایې په شان د غنمو یا بل شي خیرات پر لازم دی ، که ئې تر یوه ګړي لږ وخت واغوستی یو مټ غنم دي خیرات کي .
س :که ئې څو ورځي او شپې واغوستی د هري ورځي لپاره بېل جزاء ده ؟
ج : په دغه صورت کي یوه قرباني کفایت ورته کوي مګر که ئې د یوې [illegible] دوو ورځو لپاره قرباني وکړل تر هغه وروسته ئې کالی واغوستی یا ئې تر قربانی وروسته پر اغوستلو دوام وکی دوهمه جزاء پر لازمیږي .
س :که ئې څو قسمه ګنډلي کالي په یوه ورځ کي واغوستل د مثال په توګه قمیص او پرتوګ ئې واغوستل او یوه ورځ یا د هغه په قدر وخت ئې دوام پر وکی جزاء ډېریږي ؟
ج : جزاء نه زیاتیږي بلکه په دغو ټولو کي یوه جزاء لازمیږي .
س : که ئې قمیص د پټو یا لنګ په توګه یا پرتوګ دلونګ په توګه استعمال کی څه جزاء ئې ده ؟

---

(۱) په کوم ځای کي چي د احرام په جنایاتو کي قرباني عامه ذکر سي له هغه څخه مراد ثني پسه دی او دا شرط دی چي له عیبو څخه سالم وي او په حرم کي ذبح سي (د ثني معنی او د ځینو مسئلو تفصیل د هدی په باب کي وګوره) ، کله چي خیرات د احرام په جنایاتو کي عام ذکر سي له هغه څخه مراد د غنمو نیمه کاسه یا د اوربشو یا خرما یا وڅکو یوه کاسه یا په دغو کي د یوه قیمت دی .

ج : په دغه صورت کي جزاء پر ده نسته ځکه ممنوع دا دی چي ګنډلي پر هغه طريقه واغوندي چي په عادت کي اغوستل کيږي .

س : که ئې داسي پټو واغوستی چي منځ ئې ګنډل سوی وو يا ئې څنډې ګنډل سوي وي يا ئې داسي لنګ واغوستی چي څنډې ئې سره ګنډل سوي وې جزاء پر لازميږي ؟

ج : په دغه کي جزاء نه پر لازميږي ځکه د بدن يا يو اندام پر شکل نه دی جوړ سوی مګر افضل دادی چي پټو او لنګ ونه ګنډل سي .

س : که يوه ورځ يا د هغه په قدر يو داسي ګنډلی کالی واغوندی چي خوشبويه سوی وي څه شی پر لازميږي ؟

ج : دوې قربانۍ پر لازميږي يوه د ګنډلي کالي اغوستلو له کبله بله د خوشبويي له کبله .

س : که ئې موزې يا جراپي يا بوټونه په پښو کړل شی پر لازميږي ؟

ج : په دغه صورت کي که ئې يوه ورځ يا شپه يا د هغو په قدر اغوستي وه قرباني پر لازميږي ، تر هغه په کم کي خيرات لازميږي په دې شرط چي بجلکي ئې پټي کړي وي کومي چي د قدمو په منځ کي دي (۱) .

د سر او مخ پټول

س : د سر او مخ پټولو جزاء بيان کړئ .

ج :که محرم سړي يوه ورځ يا شپه يا د هغو په قدر وخت ټوله سر يا څلرمه يا ټوله مخ يا څلرمه يا محرمي ښځي ټوله مخ يا څلرمه يوه ورځ يا شپه يا د هغو په قدر وخت پټه کړل ناخبره وي يا خبر په خپل اختيار سره يا په مجبوري سره په خطا سره يا په هيره يا په قصد په خوب کي يا په ويښه په عذر يا بېله عذر څخه وي په ټولو صورتو کي قرباني پر لازميږي ، که وخت تر يوې شپې يا ورځي کم وو يا د سر يا مخ تر څلرمي کمه حصه وه خيرات پر لازميږي .

س : که محرم غوږونه يا څټ يا د ږيري هغه حصه پټه کي چي تر زني لاندي وي څه شی

---

(۱) په " الدر المختار " کي ذکر سوي دي مګر نه که ئې موزې نه درلودې نو تر بجلکو لاندي د چوټي د تسمي د ځای سره دي ئې پرې کي اه . شامي (۲-۱۶۳) ويلي دي : په داسي توګه دي ئې پرې کي چي بجلکي او د هغو څخه لوړ پنډۍ لڅي سي ، دا مطلب نه دی چي د بجلکو ځای دي پرې کي څرنګه چي دا خبره پټه نه ده .

پر لازمیږي ؟

ج : هیڅ شی نه پر لازمیږي .

س : که ئې په تش یاډبره یا ټوکرۍ یالرګي سره سر پټ کړی څه شی پر لازمیږي ؟

ج : په دغه کي هیڅ شی نه پر لازمیږي ځکه په داسي شي سره پټول ممنوع دي چي په عادت کي ئې خلګ په هغه سره پټوي لکه پټو ، خولۍ ، لنګوټه او لاس ټوکر .

س : که محرم خپل سر د کعبې تر پردو لاندي داخل کی کوم شی پر لازمیږي ؟

ج : هیڅ شی نه پر لازمیږي مګر که ئې پرده د مخ یا سر سره ومښتل مکروه دی .

پر بدن یا کالو خوشبویي لګول

س : که محرم یا محرمي ښځي پر بدن خوشبویي ولګول څه شی لازمیږي ؟

ج : که محرم یو پوره اندام یا له هغه څخه زیات خوشبویه کی قرباني پر لازمیږي ، که تر پوره اندام کم وو خیرات پر لازمیږي ، اندام لکه سر ، ورون ، ، پنډۍ ، لاس او بازو ، دا که خوشبويي لږ وه ، که خوشبويي ډېره وه که څه هم تر اندام کم وي قرباني پر لازمیږي ، لږ او ډېر په عرف سره معلومیږي ، که ئې تر اندام پر کم لږه خوشبويي ولګول خیرات پر لازم دی ، دا په هغه صورت کي که ئې لوی اندام څرنګه چي موږ ذکر کړی خوشبویه کی او که ئې کوچنی اندام لکه پزه ، غوږ ، سترګه او ګوته خوشبویه کړل هغه د لوی اندام د نامکمله حصې حکم لري په قرباني او خیرات کي .

س : که ئې ټوله بدن خوشبویه کی د اندامو په ډېروالي سره جزاوي ډېریږي ؟

ج : که په یوه مجلس کي وه جزاوي نه ډېریږي ، که ئې په ډېرو مجلسو کي خوشبویه کړل د مجلسو د ډېروالي په شمېر جزاوي ډېریږي .

س : که ښځي خپل لاس په نکرځو رنګک کی څه حکم لري ؟

ج : په دغه کي هم قرباني لازمیږي .

تنبیه : په خوشبويي کي د جزاء لپاره د وخت اوږدوالی شرط نه دی نو که ئې خوشبويي ولګول او په داغه ګړي کي ئې پرېولل قرباني یا خیرات پر لازمیږي څرنګه چي موږ ذکر کړل ، کالی له دې څخه مختلف دی ځکه په هغه کي د قربانی د لازمېدو لپاره یوه ورځ یا یوه شپه اغوستل لازمي دي

س : که محرم خپل کالی خوشبویه کی څه شی پر لازمیږي ؟

ج : که محرم خپل کالي خوشبويه کي کوم چي ده اغوستی وي يا ئې مخکي خوشبويه کي وروسته ئې واغوستي او د کالي ځای چي خوشبويه سوی دی تر يوه لويشت په يوه لويشت کي زيات وو او يوه پوره ورځ يا يوه پوره شپه ئې واغوستی قرباني پر لازميږي او که يوه لويشت په يوه لويشت کي وو او يوه ورځ يا يوه شپه ئې دوام پر وکی خيرات پر لازم دی ، که تر دغه کم وو يو مټ خيرات پر لازم دی ، دا په هغه وخت کي که خوشبويي لږ وه ، که خوشبويي ډېره وه قرباني پر لازميږي که څه هم خوشبويه سوی ځای تر لويشتي کم وي (١) .

س : که ئې داسي غوړي ولګول چي خوشبويي ورسره ګډه وه څه جزاء ئې ده ؟

ج : هغه غوړي چي خوشبويي ورسره ګډه وي د خوشبويي حکم لری نو که ئې سر په داسي غوړو غوړ کی چي خوشبويي ورسره ګډه وه قرباني پر لازميږي .

د نوکانو پرې کول

س : د محرم لپاره د نوکانو پرې کول څه حکم لري ؟

ج : که ئې د دوارو لاسو او پښو نوکان يا يوه لاس يا يوې پښې نوکان په يوه مجلس کي پرې کړل قرباني پر لازميږي ، که ئې د هر لاس او هري پښې نوکان په مختلفو مجلسو ئې پرې کړل نو مجلسو د ډېروالي په شمېر جزاوي ډېريږي .

س : که ئې تر پنځو نوکانو کم پرې کړل څه حکم لري ؟

ج :که ئې له پنځو نوکانوڅخه کم له يوه اندام څخه پرې کړل خيرات پر لازميږي (٢) .

س : که ئې پنځه نوکان له يوه څخه زيات اندامو څخه پرې کړل د مثال په توګه دوه نوکه ئې له يوه لاس څخه دوه نوکه له بل لاس څخه او يو نوک له پښې څخه څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه صورت کي هم د ابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد خيرات پر لازميږي (٣) .

د وريښتانو خرول

س : که محرم د بدن وريښتان وخرول څه شی پر لازميږي ؟

---

(١) " رد المحتار ٢-٢٠١ " وګوره .

(٢) د " هدايې " مصنف ويلي دي : معنی ئې داده چي پر هر نوک يو خيرات پر لازميږي .

(٣) د " هدايې " مصنف ويلي دي : دغه رنګه که ئې تر پنځو نوکانو زيات متفرق پرې کړل مګر که د هغو قيمت قرباني ته ورسېدی په دغه وخت کي دي خومره چي دده خوښه وي څني کم دي يې کي .

ج : كه محرم سر يا د هغه څلرمه يا ږيره يا د هغه څلرمه وخرول قرباني پر لازميږي ، كه ئې د څلرمي كمه حصه وخرول خيرات پر لازميږي ، كه ئې بغل يا د نو لاندي وريښتان وخرول قرباني پر لازميږي ، غچي كول د خرولو حكم لري د قرباني او خيرات په لازمېدو كي ، كه ئې په يو بل شي وريښتان پاك كړل يا ئې وكښل يا ئې په غاښ وكښل هغه هم د خرولو حكم لري .

س : كه ئې په غاړه كي د ويني كښلو ځاى وخروى څه شى پر لازميږي ؟

ج : كه ئې په غاړه كي د ويني كښلو ځاى وخروى د ابوحنيفه رح په نزد قرباني پر لازميږي ، صاحبينو رح ويلي دي : خيرات پر لازميږي .

س : په دغه كي د ښځي څه حكم دى ؟

ج : د جزاء په واجبېدو كي ښځه د سړي په شان ده نو كه ئې بغل يا د نو لاندي ځاى وخروى يا ئې د سر څلرمه يا له هغه څخه زياته حصه د ګوتي د سر په اندازه د حلالېدو څخه مخكي غچي كړل قرباني پر لازميږي ، كه ئې تر څلرمي كمه حصه غچي كړل خيرات پر لازميږي .

فائده : دجزاء په لازمېدو كي فرق نه لري كه ئې خپله وخروي يا ئې بل څوك دده په امر يا بېله امر څخه دده وروخروي په خپل اختيار سره يا په مجبوري سره په ناخبرتيا كي يا په خطا سره يا په قصد سره يا په هېره سره .

د دغه ممنوعاتو په كولو كي د معذور حكم

س : كه محرم په عذر سره ګنډلي كالي واغوستل يا ئې خوشبويي ولګول يا ئې سر يا مخ پټ كى يا ئې وريښتان وخرول يا نوكان پرې كړل څه حكم لري ؟

ج : كه محرم يو له دغو ممنوعاتو څخه په عذر سره وكى لكه تبه يا ډېره ګرمي يا يخ يا د سر درد يا د مثال په توګه ډېري سپږي ، په كوم ځاى كي چي قرباني پر لازميږي ده لره اختيار سته كه په حرم كي پسه ذبح كوي كه درې كاسې غنم يا شپږ كاسې وڅكي يا خرما يا اوربشي پرشپږو مسكينانو خيراتوي هر مسكين ته به نيمه كاسه غنم يا يوه كاسه د بل شي وركوي يا درې روژې نيسي ، په دغه حكم كي خان او فقير برابر دي او كه ئې په عذر سره داسي ممنوع كار وكى چي خيرات پر لازمېدى ده لره اختيار سته كه نيمه كاسه غنم خيراتوي كه يوه ورځ روژه نيسي .

جماع او د هغه اسباب

س : په احرام کي د جماع او د هغه د اسبابو جنايتونه بيان کړئ .
ج : هغه په لاندي ډول دي :
۱ : که په حج يا عمره سره محرم ښځه يا لغړزنی مچ کی يا ئې په شهوت سره لاس وروړی قرباني پر لازميږي که انزال سي که نه .
۲ : که په حج سره محرم د عرفات تر درېدو مخکي په يوه کي د دوو لارو جماع وکړل حج ئې فاسد سو ، پسه پر لازميږي او حج دي داسي پوره کي لکه چي نه وي فاسد سوی ، تر دې کال وروسته ئې قضاء پر لازمه ده .
۳ : که حج کونکي د عرفات تر درېدو وروسته د زيارت تر طواف او سر خرولو مخکي جماع وکړل بدنه (غويی يا اوښ) پر لازميږي .
٤ : که ئې تر سر خرولو وروسته او د زيارت تر طواف مخکي يا د زيارت تر طواف وروسته تر سر خرولو مخکي جماع وکړل پسه پر لازميږي .
٥ : که په عمره سره محرم مخکي له دې څخه چي څلور شوطه طواف وکي جماع وکړل عمره ئې فاسده سول ، هغه دي پوره کي ، قضاء دي ئې راوړي او پسه پر لازم دی .
٦ : که عمره کونکي وروسته تر دې چي څلور شوطه وکي جماع وکي عمره ئې نه فاسديږي ، پسه پر لازميږي او قضاء نه ده پر لازمه .
س : په هېره سره جماع کونکی او په قصد سره جماع کونکی په حکم کي فرق لري ؟
ج : فرق نه لري ، حکم ئې يو دی .
س : که حج کونکی د هغه حج د قضاء لپاره چي ده فاسد کړی وي په سفر ووزي پر ده لازمه ده چي له خپلي ښځي څخه جلا سي ؟
ج : نه ده پر لازمه .

د حج په افعالو کي ممنوعات

س : هغه جنايتونه بيان کړئ چي حج کونکی ئې د حج په افعالو کي کله کله کوي .
ج : د حج په افعالو کي جنايتونه څو قسمه دي ، بېله پاکي طواف کول ، د واجب پرېښول ، ترتيب بدلول او رکن يا واجب له خپل وخت څخه ځنډول ، تفصيل ئې په لاندي توګه دی :

په بې اودسي يا جنابت كي طواف كول

س: كه حج كونكي په جنابت يا بې اودسي كي طواف وكى څه حكم لري ؟

ج: ۱: كه حج كوني د قدوم طواف يا د وداع طواف په بې اودسي كي وكى خيرات پر لازم دى د هر شوط لپاره نيمه كاسه غنم ، دغه رنګه هر طواف چي نفلي وي .

۲: كه ئې د قدوم طواف يا وداع طواف په جنابت كي وكى پسه پر لازم دى ، دغه رنګه كه ښځه د قدوم طواف يا وداع طواف په حيض يا نفاس كي وكي .

۳: كه ئې د زيارت طواف په بې اودسي كي وكى پسه پر لازميږي .

٤: كه ئې د زيارت طواف په جنابت كي وكى غويې يا اوښ پر لازم دى ، دغه رنګه كه ښځي د زيارت طواف په حيض يا نفاس كي وكى .

فائده : كه ئې په بې اودسي كي يا جنابت كي طواف وكى بيرته ئې په پاكي كي راوګرځوى جزاء ځني ساقطيږي .

د حج په افعالو كي واجب پرېښول

س: كه يو چا د حج له واجباتو څخه يو واجب پرېښوى څه شى پر لازميږي ؟

ج: جزاء ئې په لاندي ډول ده :

۱: كه چا تر سپېدو راختلو وروسته پر مزدلفه درېدل پرېښول قرباني پر لازميږي .

۲: كه چا د صفا او مروه تر منځ سعى پرېښول قرباني پر لازميږي .

۳: كه چا په ټولو ورځو كي د ځلو ويشتل يا د اختر په ورځ د وروستني ځلي ويشتل يا د ځلي ويشتلو په يوه ورځ د اكثرو شګو ويشتل پرېښول په هر صورت كي قرباني پر لازميږي، كه ئې په يوه ورځ كي د يوه ځلي ويشتل پرېښول خيرات پر لازميږي .

٤: څوك چي له عرفات څخه تر لمر لوېدو مخكي راووزي قرباني پر لازميږي مګر كه تر لمر لوېدو مخكي بيرته ورغلى ځني ساقطيږي .

۵: كه چا د وداع طواف يا د هغه څلور شوطه پرېښول قرباني پر لازميږي او كه ئې درې شوطه پرېښول خيرات پر لازميږي ، كه بيرته مكې ته راغلى او طواف ئې وكى جزاء ځني ساقطيږي .

ترتيب بدلول

س: كه محرم واجب ترتيب بدل كى په څه شي سره امر كيږي ؟

ج : ۱ : كه د تمتع يا قران حج كونكي د وروستني ځلي ويشتلو څخه مخكي ذبح وكړل يا ئې تر ذبح مخكي سر وخروى قرباني پر واجبيږي .

۲ : كه د افراد حج كونكي د وروستني ځلي ويشتلو څخه مخكي سر وخروى قرباني پر واجبيږي .

ځنډول

س : كوم ځنډول جزاء واجبوي ؟

ج : د هغه تفصيل په لاندي توګه دى :

۱ : كه د تمتع يا قران حج كونكي د هدى ذبح د اختر تر درو ورځو وځنډول قرباني پر واجبيږي .

۲ : كه حج كونكي سر خرول يا غڅي كول تر نومړو ورځو وځنډول قرباني پر واجبيږي .

تنبيه: حج كونكي ته هيڅ كله ښځي نه رواكيږي ترڅو دزيارت طواف ټول يا اكثره كوي .

د عمرې جنايتونه

س : د عمرې جنايتونه او د هغو جزاوي بيان كړئ .

ج : هغه په لاندي توګه دي :

۱ : كه ئې احرام تر ميقات وځنډوى قرباني پر لازميږي .

۲ : كه ئې په بې اودسي يا جنابت كي يا ښځي په حيض يا نفاس كي د عمرې طواف وكى قرباني پر واجبيږي ، په دغه كي لږ او ډېر او جنب او بې اودسه فرق نه لري ، كه ئې د عمرې لپاره يو شوط طواف په ناپاكي كي وكى قرباني پر واجبيږي .

۳ : كه عمره كونكي له سعى څخه مخكي سر وخروى قرباني پر واجبيږي .

٤ : كه عمره كونكي له حرم څخه دباندي سر وخروى قرباني پر واجبيږي .

فائده : كه عمره كونكى د احرام له ممنوعاتو څخه يو ممنوع كار وكي د هغه جزاء د هغه سړي د جزاء په شان ده چي له دغو كارو څخه يو كار د حج په احرام كي وكي چي قرباني يا خيرات دى .

په احرام كي ښكار كول

س : كه په حج يا عمرې سره محرم يو ښكار ووژى په هغه كي جزاء سته ؟

ج: که محرم ښکار ووژی يا ئې وژونکي ته لار ښوونه وکړل يا ئې اشاره ورته وکړل جزاء پر لازميږي ، هېره او قصد ، اول ځل کونکی او بيا کونکی په دې کي برابر دي .

س: جزاء ئې څه شی ده ؟

ج: د ابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد ئې جزاء دا ده چي ښکار په هغه ځای کي چي وژلی ئې وي قيمت کي يا په داسي ځای کي چي د وژلو ځای ته نژدې وي که ئې په دښت کي وژلی وو ، دوه عادلان سړيان به ئې قيمتوي ، بيا ښکار وژونکی اختيار لري که د هغه په قيمت سره هدی رانيسي او په حرم کي ئې ذبح کوي يا په هغه سره خوراکي شی رانيسي او پر مسکينانو ئې تقسيموي ، هر مسکين ته دي نيمه کاسه غنم يا يوه کاسه خرما يا اوربشي ورکوي يا دي د هري نيمي کاسې غنمو يا يوې کاسې اوربشو پر ځای يوه ورځ روژه نيسي ، که له خورکي شي څخه تر نيمي کاسې کم پاته سو ده ته اختيار دی که ئې خيراتوي که د هغه پر ځای يوه پوره ورځ روژه نيسي ، دغه رنګه حکم په هغه ښکار کي دی چي کوچنی وي قيمت ئې يو هدی ته نه رسيږي .

س: د شيخينو او محمد بن الحسن په منځ کي په دغه هکله اختلاف سته ؟

ج: هو په دغه کي اختلافِ سته ، هغه دا چي شيخين په هر ښکار کي قيمت واجبوي ، بيا په قيمت کي اختيار سته څرنګه چي مو ذکر کی او محمد بن الحسن په هغو حيوانانو کي چي مثل ولري د هغه مثل واجبوي نو دده په نزد په هوسۍ او کوږ کي پسه لازميږي او په سوی کي سېرلۍ لازميږي او په شترمرغ کي غويی يا اوښ لازميږي او په ځنګلي موږك کي وری لازميږي او هغه حيوان چي مثل نه لري په هغه کي دده قول د شيخينو د قول په شان دی .

س: که محرم يو ښکار ټپي کي يا ئې وريښتان وروکاږي يا ئې يو اندام وريږې کي څه حکم لري ؟

ج: څومره چي ئې قيمت کم سوی وي هغومره تاوان پر لازميږي .

س: که ئې د مرغه ښکه وکښل يا ئې د ښکار پښې وريږې کړې څه حکم لري ؟

ج: که داسي وکي او ښکار داسي سي چي ځان له چا څخه نه سي ساتلای پوره قيمت پر لازميږي .

س: که ئې د ښکار هګۍ ما ته کړل څه شي پر لازميږي ؟

ج : كه له هګۍ څخه مرچچي راووتی پوره داسي قيمت ئې پر لازميږي لكه چي هغه ژوندی وي ، كه چچی نه وو په كښې د هګۍ قيمت پر لازميږي .
س : كه چا شپږه مړه كړل يا ئې ملخ مړ كی څه حكم لري ؟
ج : څومره چي ئې خوښه وي خيرات دي وكي ، يوه خرما تر ملخ ښه ده .
س : كه چا داسي حيوان ووژی چي غوښې ئې نه خوړل كيږي لكه څېرونكي حيوانان او دهغه په مثل څه حكم لري ؟
ج : جزاء پر لازمه ده مګر د هغه قيمت به تر پسه نه زياتيږي .
س : كه څيرونكي حيوان پر محرم حمله وكړل او ده ووژی څه حكم لري ؟
ج : په دغه وخت كي هيڅ شی نه پر لازميږي.
س : داسي حيوان يا مرغه سته چي محرم ته ئې وژل روا دي ؟
ج : هو محرم ته د كارګه ، تپوس ، شرمښ ، مار ، لړم ، موږك او خوړي سپي وژل روا دي .
س : كه محرم غوماشه يا كيكه يا منګړ ووژی څه شی پر لازميږي ؟
ج : هيڅ شی نه پر لازميږي .
س : كه محرم د ښكار د غوښو خوړلو ته مجبور سو او هغه ئې ووژی جزاء پر لازميږي ؟
ج : هو جزاء پر لازميږي .
س : په هغه كوتره كي چي پښې ئې ښكي لري او اموخته هوسۍ كي څه واياست ؟
ج : د هغو په وژلو كي جزاء سته .
س : كه محرم ښكار ذبح كی داسي چا ته ئې خورك روا دی چي محرم نه وي .
ج : خورك ئې نه محرم ته روا دی نه داسي چا ته چي محرم نه وي ځكه محرم چي ښكار ذبح كي هغه حيوان د مړه سوي حيوان په شان دی .
س :كه محرم داسي حيوان ذبح كی چي په عادت كي ئې خلګ غوښې خوري داروادی ؟
ج : هو محرم ته پسه ، غوا ، چرګه او هيلۍ ذبح كول روا دي ، تر ذبح كولو وروسته ده ته هم بل چا ته هم د هغه خورك روا دی .
س : كه يو حلال سړي ښكار وكی او ذبح ئې كی محرم ته ئې خورك روا دی ؟
ج : كه محرم د ښكار ښوونه نه وه ورته كړې نه ئې امر په كړی وو خورك ئې ورته روادی
س : كه دوه محرمان د يوه ښكار په وژلو كي شريكان سول څه شی پر لازميږي ؟

پر هر يوه پوره جزاء ستته .

س : که محرم يو ښکار ووژی او د احرام په حال کي ئې خرڅ کی يا ئې له محرم يا حلال څخه رانيوی څه حکم لري ؟

ج : د ښکار خرڅول او رانيول ئې دواړه باطل دي .

د ممنوعاتو په کولو کي د قران حج کونکي حکم

س : که قران کونکي د احرام له ممنوعاتو څخه يو ممنوع کار وکی څه حکم لري ؟

ج : د ممنوع کار په کولو کي پر قران کونکي دوې قربانۍ لازميږي ، يوه قرباني د حج لپاره يوه دعمرې لپاره مګر يوازي په هغه صورت کي چي له ميقات څخه بېله احرامه تېر سي وروسته د عمرې اوحج احرام وتړي په دغه صورت کي يوه قرباني پرلازميږي (۱).

له ميقات څخه بېله احرام څخه تېرېدل

س : څوك چي له ميقات څخه احرام نه وتړي او د مکې داخلېدو اراده لري څه حکم ئې دی ؟

ج : که دباندنی سړی چي مسلمان او مکلف وي دمکې يا حرم داخلېدواراده وکي که څه هم د تجارت يا سياحت لپاره وي او تر ميقات بېله احرام څخه تېر سي که پر وچه وي که

---

(۱) په " الدر المختار " کي ئې ويلي دي : (هر هغه شی چي په هغه سره د افراد پر حج کونکي د احرام د جنايت له کبله قرباني لازميږي) يعني داسي کار وکي چي د احرام له ممنوعاتو څخه وي نه هر ممنوع ځکه که ئې د حج يو واجب پرېښوی يا ئې د حرم وابنه پرې کی جزاء ئې نه دوه برابرېږي ځکه دا پر احرام جنايت نه دی (پر قران حج کونکي) دغه رنګه هغه تمتع حج کونکی چي هدی ئې له ځان سره بېولې وي (دوې قربانۍ لازميږي) دغه رنګه خيرات دوه چنده کيږي ځکه پر دوو احرامو ئې جنايت وکی (مګر صرف په هغه صورت کي که له ميقات څخه بېله احرامه تېر سو يوه قرباني لازميږي) ځکه دی په دغه وخت کي قران کونکی نه دی اه . شامي په خپله حاشيه کي ويلي دي : او هغه صورت هم ووتی که ئې د حرم کوم وابنه پرې کی هلته هم پر قران حج کونکي جزاء نه دوه برابرېږي ، په " البحر " کي ئې ويلي دي : ځکه دا د تاوان له قسمه څخه دی په احرام پوري کومه اړه نه لري ، د حرم ښکار له هغه څخه جلا دی که قران حج کونکي ووژی دوه قيمته ئې پر لازميږي ځکه دا پر احرام جنايت دی او احرامونه دوه دي ، دې ته نه کتل کيږي چي دا د حرم جنايت هم دی ځکه کوچنی احترام د لوی تابع ګرځي او د احرام احترام د حرم تر احترام زورور دی نو د قيمت واجبېدل د احرام له کبله کيږي نه د حرم له کبله ، حرم ته هغه وخت کتل کيږي که وژونکی حلال وي اه (۲-۲۲۳).

په درياب کي که په هوا کي وروسته ئې احرام وتړی يا ئې نه وتړی ګناه کونکی کيږي او
قرباني پر لازميږي (۱) .

---

(۱) امام بخاري د (بيله احرام څخه حرم ته داخلېدل) په نوم سره باب ذکر کړی دی بيا ئې ويلي دي
ابن عمر حلال مکې ته داخل سو ، نبي ﷺ صرف هغه څوك په احرام امر کړی دی چي د حج يا عمرې اراده
لري ، د لرګي کونکو او نورو کسانو لپاره نه دی اه . حافظ په " فتح الباري " کي ويلي دي د ابن عمر
اثر امام مالك په " الموطا " کي له نافع څخه موصول ذکر کړی دی ، هغه ويلي دي : ابن عمر له مکې
څخه راروان سو کله چي قديد ته راورسېدی دجګړې خبر وروړسېدی ، بيرته وګرځېدی او مکې ته بيله
احرام څخه داخل سو ، دا خبره چي د لرګي کونکو او نورو کسانو لپاره نه دی د مصنف خبره ده ،
خلاصه ئې داده چي احرام ئې د هغه چا لپاره خاص کړی دی چي د حج يا عمرې اراده ولري او دليل ئې
هغه خبره نيولې ده چي د ابن عباس ﷺ له خبري (څوك چي د حج او عمرې اراده وکي) څخه فهميږي ،
د هغه له خبري څخه دا فهميږي چي څوك د حج يا عمرې اراده نه لري او مکې ته ځي احرام نه پر
لازميږي ، علماوو په دې کي اختلاف کړی دی ، د شافعي رح مشهور مذهب دا دی چي په هيڅ صورت
کي نه واجبيږي ، يو قول ئې دا دی چي په هر صورت کي واجبيږي ، په هغه چا کي چي مکرر خله
داخليږي په دغه ترتيب خلاف دی او هغه په نه واجبوالي سره اولی دی او د درو امامانو څخه مشهور
قول واجبوالی دی ، له هر يوه څخه يو روايت داسي هم سوی دی چي نه دی واجب او دغه د ابن عمر ،
زهري ، حسن او اهل ظاهر قول دی ، حنبليانو هغ کسان چي په مکرر څله حاجتونه لري په يقيني توګه
له دغه حکم څخه استلي دي ، حنفيانو هغه کسان استلي دي چي له ميقاتو څخه دننه اوسيږي ، ابن
عبدالبررح ويلي دي اکثره صحابه او تابعينو په وجوب سره قول کړی دی اه . ابن قدامه په (المغني) کي
ويلي دي : مکلف چي بېله جنګ او مکرر حاجت څخه مکې ته داخليږي له ميقات څخه بېله احرام څخه
تېربدل ورته روا نه دي ، ابوحنيفه رح او د شافعي رح ځيني ملګرو هم دغه قول کړی دی او ځينو ملګرو
ئې ويلي دي احرام نه دی پر واجب له امام احمد څخه هم داسي خبره نقل سوې ده چي دغه ځني فهميږي
له ابن عمر ﷺ څخه روايت سوی دی چي دی بېله احرام څخه ور داخل سو ، تر څو چي وروسته ئې ويلي
دي : نو کله چي دغه مکلف کوم چي بېله جنګ او مکرر حاجت څخه مکې ته داخليږي د ميقات تر
تېرېدو وروسته د احرام اراده وکي بيرته دي راوګرځي له ميقات څخه دي احرام وتړي ، که ئې د ميقات
په هغه خوا احرام وتړی قرباني پر لازميږي څرنګه چي پر هغه چا لازميږي چي د حج يا عمرې اراده لري او
زه وايم : څرنګه چي د ابوحنيفه رح ، مالك رح او احمد رح دا مذهب دی چي پر هغه چا چي د مکې د
داخلېدو اراده وکي که څه هم د حج يا عمرې اراده نه لري احرام لازم دی او د شافعي رح څخه هم دغه يو
روايت دی او داکثرو صحابه ﷺ وو او تابعينو ﷺ مذهب دی څرنګه چي ابن عبد البر ويلي دي نو هر
څوك چي د مکې يا حرم داخلېدو اراده ولري پر هغه لازمه ده چي د حج يا عمرې احرام وتړي په خاصه
توګه په عمره سره که د حج موسم نه وو هو که د هغه چا لپاره معافي وسي چي د عيال د نفقې ګټلو په

س: د گناه او قرباني ساقطېدلو لپاره کومه لاره سته ؟
ج: که له ميقات څخه بېله احرامه تير سي بيرته هغه ميقات ته چي ځني تيرسوی دی يا هر ميقات چي ورنژدې وي يا ليري وي راګرځېدل پر واجب دي ، افضل دادی چي هغه

دص ١٦٤ پاته برخه : نيت دکار کولو لپاره په مکرره توګه داخلېدو ته ضرورت لري لکه هغه کسان چي په بازار کي سودا ګري کوي او پر لرګي کونکو ئې قياس وسي ، دا خبره به وجه ولري ، هغه کسان چي په مکرره توګه نه داخليږي او هغه کسان چي له مکې څخه د ميقاتو دباندي وزي او بيرته راځي پر هغو لازمه ده چي مکې ته په احرام سره داخل سي ځکه دوی د لرګي کونکو په شان نه دي . د نبي ﷺ په دې قول (څوک چي د حج يا عمرې اراده لري) دليل ويل د هغه چا په نزد چي مفهوم مخالف دليل نه بولي صحيح نه دی ، بيا ددغه حديث روايت ابن عباس ﷺ کړی دی او هغه دا فتوی ورکړې ده چي سوداګر او څوک چي د يو کار لپاره داخليږي هغه دي بېله احرام څخه نه داخليږي څرنګه چي طحاوي ئې په (باب دخول الحرم هل يصلح بغير احرام) کي روايت کړی دی او د نبي ﷺ سره د مکې په فتح کي سل زره يا زيات صحابه ﷺ وه څرنګه چي بيهقي او نورو ئې روايت کړی دی ، (د امام مالك د موطا شرح اوجز المسالك وګوره) . او د اکثرو صحابه وو ﷺ مذهب دادی چي مکې ته بېله احرام څخه داخلېدل روا نه دي نو له دې څخه څرګنده سول چي دوی د مکې د فتح په ورځ د نبي ﷺ بېله احرام څخه داخلېدل دليل نه دی ګڼلی ځکه دوی پوه وه چي ضرورت او نه ضرورت فرق لري . د فتح په ورځ د نبي ﷺ پر بېله احرام څخه داخلېدلو نور حالتونه نه قياسيږي ځکه نبي ﷺ ته په دغه ورځ جنګ روا سو او د جنګ رواوالی ددې غوښتنه کوي چي بېله احرام څخه ور داخل سي ځکه محرم د مخ او سر په لڅولو امر سوی دی او جنګ کونکی د زغرو اغوستلو ، سر پټولو او نورو شيانو ته ضرورت لري نو کله چي الله ﷻ نبي ﷺ او صحابه وو ﷺ ته د ورځي په يو ګړي کي جنګ روا کی بېله احرام څخه تر ميقات تېرېدل ئې هم ورته روا کړل ، په صحيح البخاري کي ثابت سوي دي چي نبي ﷺ وويل : که يو څوک د نبي ﷺ د جنګ له وجهي نان ته رخصت پيدا کوي هغه ته ووایاست چي الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته اجازه کړې ده او تاسي ته ئې جازه نه ده کړې او ما ته ئې صرف د ورځي په يوه ګړي کي اجازه وکړل . نو څرنګه چي ابن قدامه په المغني كي ويلي دي : بېله هغه چا چي د روا جنګ اراده لري بل چا ته بېله احرام څخه داخلېدل روا دی او ابن عمر ﷺ چي بېله احرام څخه داخل سوی وو هغه له دې کبله چي هغه له حل څخه بيرته ګرځېدلی وو تر ميقات نه وو تېر سوی نو ده ته بېله احرام څخه مکې ته داخلېدل روا وه . ځيني خلګ داسي چا چي له مکې مکرمې څخه مدينې منورې يا له ميقات څخه دباندي بل ځای ته ووزي او رته مکې ته په احرام سره راځي اعتراض کوي ، له دغو کسانو څخه دا عجيبه خبره ده ځکه څوک چي حج يا عمرې اراده لري هغه ته په اجماع سره بېله احرام څخه داخلېدل روا نه دي ، په صحيح صريح رفوع حديث کي له ډيرو عمرو کولو څخه منع نه ده راغلې نو څوک چي له اطرافو څخه مکې ته راځي مره کوي هغه له عمرې څخه منع کول له خيرڅخه منع کول دي الله ﷻ هرخير لره توفيق ورکونکی دی .

میقات ته راوګرځي له کوم ځخه چي تیر سوی دی ، کله چي بیرته میقات ته راوګرځي ا
د حج یا عمرې احرام وتړي ګناه او قرباني ځني ساقطیږي .

س : که میقات ته بیرته نه راوګرځېدی او له حل یا حرم ځخه ئې د حج یا عمرې احرا
وتړی څه شی پر لازمیږي ؟

ج : که ئې له میقات ځخه وروسته احرام وتړی او بیرته نه راوګرځېدی ، د کوم شي احرا
چي ئې تړلی وي هغه پوره کي ګناه او قرباني نه ځني ساقطیږي ، د الله ﷻ ځخه با
بخښنه غواړي او توبه به کاږي او د قرباني د واجبېدو له کبله به په حرم کي یو پسه ذبح
کوي ، که تر احرام وروسته او حج یا عمرې شروع کولو مخکي بیرته میقات ته
راوګرځېدی او له میقات ځخه ئې تلبیه وویل قرباني او ګناه ځني ساقطیږي .

س : که یو سړی له میقات ځخه بېله احرامه تېر سو وروسته ئې د حج احرام وتړی او له
دې ځخه بېرېدی که میقات ته راوګرځي حج ځني تېرېږي څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه وخت کي دي نه راګرځي بلکه د جنایت له وجهي (له میقات ځخه بېله
احرامه تېرېدل) دي پسه ذبح کي ، دالله ﷻ ځخه دي بخښنه وغواړي اوتوبه دي وکاږي.

س : ځوك چي له میقات ځخه تېر سي وروسته د عمرې احرام وتړي اوکه میقات ته
راوګرځي پر ځان یا مال بېرېږي څه به کوي ؟

ج : د راګرځېدلو واجبوالی ځني ساقطیږي ، په حرم کي پسه ذبح کول کفایت ورته کوي.

س : که یو سړی مکې یا حرم ته بېله احرامه داخل سو او دا کار ئې ځو ځله وکی څه حکم
ئې دی ؟

ج : که مکې یا حرم ته بېله احرامه داخل سو پر هر ځل داخلېدو حج یا عمره پر لازمیږي ،
که ئې په دغه کال د فرضي حج یا نذر سوي حج یا قضایي حج یا نذرسوي عمرې یا
قضایي عمرې یا سنت عمرې یا مستحب عمرې احرام وتړی دغه احرام د هغه حج او
عمرې ځخه کفایت کوي کوم چي د مکې د داخلېدو له وجهي پر لازم سوي وه که څه هم
د هغه نیت نه وکي (دا په هغه صورت کي چي بېله احرامه داخلېدل ئې لمړی ځل وي یا
که مکرر ځله داخل سوی وو احرام وخنډوي) که کال تېرسو دغه احرام کفایت نه ورته
کوي . صرف په هغه صورت کي احرام کفایت ورته کوي که دی په احرام سره د هغه حج
یا عمرې نیت وکي کوم چي پر ده د دمکې د داخلېدو له کبله لازم سوي وه ، که ئې د
بېله احرامه داخلېدو په شمېر د حج یا عمرې احرام وتړی او د هغه حج او عمرې نیت ئې

هغه قرباني ځني ورکی کوم چي پر ده د مکې د داخلېدو له وجهي لازم سوي وه نو پر لازمه سوې وه .

ساقطیږي چي په هر ځل کي پر هغه قرباني لازمه سوې وه . نه ئې د حج یا عمرې اراده درلوده نه د حرم یا مکې داخلېدو څه حکم ئې دی .

س : که یو دباندني سړی تر میقات تېر سو او صرف جدې ته ولاړی ، نه ئې د حج یا عمرې اراده درلوده نه د حرم یا مکې داخلېدو څه حکم ئې دی .

ج : په دغه سره نه ګناه کاره کیږي او شی نه پر لازمیږي .

س : که جدې ته پر دغه ډول راغلی کوم چي موږ په سوال کي بیان کړی ، له هغه وروسته ئې د حرم یا مکې داخلېدو اراده وکړل څه به کوي ؟

ج : په دغه صورت کي بېله احرامه د حرم یا مکې داخلېدل ورته روا دي ، که ئې وروسته تر دې چي جدې ته ورسېدی د حج یا عمرې اراده وکړل ، له جدې څخه یا د حل څخه کوم ځای چي دده خوښ وي احرام دي وتړي .

س : د میقاتو اوسېدونکو یا د حل اوسېدونکو ته روا ده چي حرم یا مکې ته بېله احرامه داخل سي ؟

ج : که ئې د حج یا عمرې اراده نه وه کړې د حرم او مکې داخلېدل بېله احرامه ورته روا دي ، که ئې د حج یا عمرې اراده کړې وه او حرم یا مکې ته بېله احرامه داخل سول قرباني پر لازمیږي او دا پر لازمه ده چي حل ته بیرته راوګرځي ځکه د دوی میقات حل دی ، که ئې له حرم څخه د عمرې یا حج احرام وتړی او حل ته بېرته نه راوګرځېدل یا راوګرځېدل او تلبیه ئې تر دې وروسته چي په طواف کي ئې شروع کړې وه وویل ، ګناه کاره دي او قرباني نه ځني ساقطیږي .

س : که د حرم اوسېدونکي په مکه یا حرم کي د عمرې احرام وتړی دا روا دی ؟

ج : دا نه دی روا ځکه د حرم اوسېدونکو لره د حج لپاره میقات حرم دی او د عمرې لپاره حل دی ، که بېله میقات څخه بل ځای احرام وتړي ګناه او قرباني پر لازمیږي .

د حرم جنایتونه

س : د حرم جنایتونه بیان کړئ .

ج : په حرم پوري دوه جنایته اړه لري :

۱ : د حرم ښکار وژل .

۲ : د حرم ونه یا واښه پرې کول .

س : ځوك چي په حرم كي ښكار ووژني څه جزاء ئې ده ؟

ج : د هغه قيمت به پر فقيرانو خيراتوي ، روژه په هغه كي كفايت نه كوي .

س : كه د حرم د ښكار په وژلو كي دوه حلال كسان شريك سول څه شی پر لازميږي ؟

ج : پر دواړو يوه جزاء لازميږي .

س : كه يوه محرم د حرم ښكار ووژی جزاء ئې ډېريږي ؟

ج : جزاء ئې نه ډېريږي بلكه دواړي جزاوي سره داخليږي ، د يوه قيمت خيراتول كفايت ورته كوي (۱) .

س : كه محرم يا حلال سړي دحرم وابنه يا ونه پرې كړل يا ئې وكښل څه شی پرلازميږي ؟

ج : په دغه كي پر محرم او حلال سړي د وني قيمت خيراتول لازم دي كه ونه د چا ملك نه وه او داسي قسم وه چي خلگو نه شنه كول .

س : كه دغه ونه چي پرې سوې يا كښل سوې وه د يو چا ملك وه څه حكم دی ؟

ج : په دغه كي پر كښونكي يا پرې كونكي دوه قيمته لازميږي يو د شريعت لپاره چي هغه به خيراتوي او يو د بنده لپاره چي د هغې مالك ته به ئې وركوي ، دا كه ونه وچه نه وه ، كه وچه وه صرف مالك ته ئې قيمت اداء كول پر لازم دي د شريعت لپاره كوم شی نه دی پر لازم .

س : له دغو ونو يا وښو څخه كوم قسم وتلی دی ؟

ج : هو د اذخر (يو قسم وابنه دی) پرې كول روا دي دغه رنگه هغه ونه يا وابنه چي وچ سوي وي .

س : كوم احكام چي ذكر سول د حلال سړي لپاره دي كه د محرم لپاره ؟

ج : په دغه كي محرم او حلال سړی برابر دي څكه د وښو او وني پرې كول د حرم له وجهي حرام دي نه د احرام له وجهي .

س : كه دوو محرمانو په حرم كي يوه ونه پرې كړل او هغه داسي ونه وه چي په پرې كولو ئې جزاء لازمېدل څه حكم ئې دی ؟

---

(۱) دغه رنگه ئې په "العناية "او" الكفاية " كي تحقيق كړی دی ، د هغو د بيان خلاصه داده چي د قياس پر بنسټ دوه كفارته لازميږي او په استحسان كي سره داخل سول ، د استحسان وجه داده چي د احرام احترام قوي دی څكه پر محرم په حل او حرم دواړو كي ښكار كول حرام دي نو كمزوره د زورور تابع سو .

پر دواړو يو قيمت لازم دى .

س : د حرم له ونو څخه مسواك جوړول روا دى ؟

ج : دا صرف په هغه صورت کي روا دى چي وچه ونه وي .

بند ېدل

س : که محرم بند سو څه به کوي ؟

ج : که محرم د دښمن له وجهي بند سو يا داسي ناروغي ورپېښه سول چي نه سواى تلاى نو دا روا ده چي ځان حلال کي او له احرام څخه ووزي .

س : څرنګه به ځان حلالوي ؟

ج : که په حرم کي وو پسه به ذبح کوي بيا به سر خروي يا غڅي کوي ، که حرم ته نه وو رسېدلى پسه يا د هغه قيمت دي واستوي او يو سړى دي وکيل کي چي په حرم کي ئې دده له خوا څخه ذبح کي ، د هغه سره دي يوه ورځ وټاکي چي په هغه ورځ ئې ذبح کوي ، کله چي هغه ئې ذبح کى دى حلالېږي .

س : که بند سوى سړى د قران حج کونکى وو څه به کوي ؟

ج : که په حرم کي وو دوې قربانۍ به کوي ، که په حرم کي نه وو دوې قربانۍ به حرم ته لېږي چي هلته دده له خوا څخه ذبح سي ، تر ذبح کولو وروسته له دواړو احرامو څخه وزي .

س : ولي به پسه حرم ته لېږي ؟ په کوم ځاى کي چي دى وي هلته ئې ذبح کي نه حلالېږي ؟

ج : که دى له حرم څخه دباندي وو نه به ئې ذبح کوي ځکه د بندېدو د قربانۍ ذبح کول بېله حرم څخه نه ده روا .

س : د بندېدو دقربانۍ ذبح د اختر تر ورځي مخکي روا ده ؟

ج : هو د ابوحنيفه رح په نزد د اختر تر ورځي مخکي روا ده صاحبينو رح ويلي دي څوک چي له حج څخه بند سوى وي بېله اختر د ورځي د هغه قرباني ذبح کول روا نه دي .

س : که عمره کونکى بند سو کله به قرباني ذبح کوي ؟

ج : کله چي ئې خوښه وي ذبح دي ئې کي په دې شرط چي ذبح په حرم کي وي ، دا په اجماع سره .

س : کله چي بند سوى سړى په ذبح کولو سره حلال سي کوم بل شي پر ده سته ؟

ج : هو که بند سوی حج کونکی حلال سي حج او عمره پر لازمه ده ، که بند سوی عمره کونکی حلال سي د عمرې قضاء پر لازمه ده .

س : که بند سوی د قران حج کونکی وي کله چي حلال سي څه شی پر لازمیږي ؟

ج : یو حج او دوې عمرې پر لازمیږي .

س : که د حج احرام تړونکی بند سو ، پسه ئې واستوی او څوك چي ئې بیایې د هغه سره ئې د ذبح کولو لپاره معلومه ورځ وټاکل وروسته بندوالی ختم سو څه به کوي ؟

ج : که ئې قرباني راګرځولای سوای او حج ئې نیولای سوای حلالېدل ورته روا نه دي او دا پر لازمه ده چي د حج افعال پوره کي ، که ئې قرباني راګرځولای سوای او حج ئې نه سوای نیولای ځان دي حلال کي او که ئې حج نیولای سوای قرباني ئې نه سوای راګرځولای د استحسان په دلیل سره حلالېدل ورته روا دي مګر افضل دا دی چي حج پوره کي (۱) .

س : که یو سړي د حج احرام وتړی ، مکې ته ورسېدی مګر د عرفات له درېدو او د زیارت له طواف دواړو څخه بند کړل سو محصر (بند کړل سوی) بلل کیږي ؟

ج : هو محصر بلل کیږي .

س : که څوك په مکه کي وو صرف د عرفات له درېدو یا صرف د زیارت له طواف څخه بند سو محصر بلل کیږي ؟

ج : هغه محصر نه دی ، مطلب دا دی چي د احصار (بندېدو) احکام نه پر جاري کیږي ځکه که ئې د عرفات پر درېدو قدرت درلودی پر عرفات دي ودریږي ، کله چي احصار ئې ختم سي د زیارت طواف دي وکي او که د عرفات له درېدو څخه بند کړل سو فائت الحج (څوك چي حج ځني پاته سوی وي) بلل کیږي نو هغه افعال دي وکي کوم چي هغه څوك ئې کوي چي حج ځني پاته سوی وي .

س : کله چي قرباني ذبح کړل سي د حلالېدو لپاره هغه کفایت کوي که به سر خروي یا غنچي کوي وروسته حلالیږي ؟

ج : کله چي په حرم کي قرباني دده له خوا ذبح سي دی حلال سواوله احرام څخه ووتی دا دابوحنیفه رح اومحمدرح په نزد ابویوسف رح ویلي دي دحلالېدو لپاره سرخرول پرلازم دي.

---

(۱) دغه رنګه په " البحر الرائق ۳-۶۰ " او " رد المحتار ۲-۳۳۵ " کي ذکر سوي دي.

د حج پاته کېدل

س: که يو سړي د حج احرام وتړی او د عرفات درېدل څني پاته سول تر څو چي د اختر د ورځي سپېدې راوختلي څه حکم ئې دی ؟

ج: له دغه محرم څخه حج پاته سو ، د عمرې افعال به کوي او ځان به حلالوي ، پر کعبه به طواف کوي ، د صفا او مروه تر منځ به سعی کوي او سر به خروي يا غچي کوي .

س: تر دې وروسته کوم شی پر واجب دی ؟

ج: هو دا پر واجب ده چي په راتلونکي کال کي به د حج قضاء راوړي .

س: قرباني پر لازمه ده ؟

ج: قرباني نه ده پر لازمه .

س: په عمره کي پاته کېدل سته ؟

ج: عمره نه پاته کېږي ځکه د هغه لپاره کوم خاص وخت نه دی ټاکل سوی ، په ټوله کال کي روا ده ، صرف په پنځو ورځو کي مکروه ده کومي چي مخکي مو ذکر کړې .

هدی (قرباني)

س: هدی څه شي ته وايي ؟

ج: هغه قرباني ده چي په حج او عمره کي ذبح کېږي يا ددې لپاره چي له احرام څخه ووزي ، دا د محصر لپاره يا د الله ﷻ د شکر لپاره کله چي حج او عمره دواړه په يوه سفر کي اداء کي ، دا د تمتع يا قران حج کونکي لپاره يا د جنايتو د رژولو لپاره ، دا د هغه چا لپاره چي پر خپل احرام ئې جنايت کړی وي يا ئې د حج يا عمرې له واجباتو څخه يو واجب پرايښی وي يا نفلي قرباني ،دا د هغه چا لپاره چي په نفلي توګه ئې ذبح کوي .

س: هدی له کوم حيوان څخه وي ؟

ج: هغه صرف له اوښانو ، غوايو او پسو څخه وي ، د بل حيوان څخه کفايت نه کوي ، په دې کي نر او ښځي برابر دي .

س: په دغو درو قسمو کي چي ئې هر حيوان خوښ سي ذبح کول ئې روا دي که په دې کي کوم شرط سته ؟

ج: هو په دې کي دوه شرطه سته : اول دا چي ثني يا تر هغه لوی به وي ، دوهم دا چي له نيمګړتيا او عيب څخه به سالم وي .

س : ثني څه معنى لري ؟

ج : له پسو او بزو څخه ثني هغه دی چي يو کال ئې پوره سوی او په دوهم کي داخل سوی وی ، له غوايو څخه هغه دی چي دوه کاله ئې پوره سوي او په دريم کي داخل سوی وی او له اوښانو څخه هغه دی چي پنځه کاله ئې پوره سوي او په شپږم کي داخل سوی وي.

س : له پسو څخه بېله ثني بل يو روا دی ؟

ج : هو له پسو څخه جذع روا دی ، هغه هغه دی چي شپږ مياشتي ئې پوره سوي وي که په داسي ډول وو چي د ثني پسو سره ګډ سي له کتونکي څخه ورکيږي او د ثني ګمان پر کوي (١) .

س : ددې څه مطلب دی چي له عيب څخه به سالم وي ؟

ج : معنى ئې داده چي اندامو ئې سالم وي نو که ئې لاس يا پښه يا غوږ يا لکۍ پرې وي يا ئې سترګه تللې وي يا داسي ډنګره وي چي ماغزه ئې تللي وي يا ګډه وي چي د ذبح کېدو ځای ته نه سي تلای په هدی کي نه صحيح کيږي .

س : که د يو حيوان يو څه غوږ يا لکۍ پرې وه په هدی کي ئې ذبح کول روا دي ؟

ج : که ئې د غوږ يا لکۍ اکثره برخه پرې وه په هدی کي ئې ذبح کول روا نه دي ؟

س : د هدی ذبح کول کوم ځای چي ئې خوښ سي روا دي ؟

ج : د هدی ذبح کول پرته له حرم څخه بل ځای نه دي روا .

س : په کوم ځای کي د اوښ يا غوايي ذبح کول تاکل سوي دي ؟

ج : د پوره اوښ يا پوره غوايي ذبح کول د هغه چا په کفارت کي تاکل سوي دي چي د زيارت طواف په جنابت سره وکي او بيرته ئې نه راوګرځوي ، دغه رنګه د هغه چا په کفارت کي چي د عرفات تر درېدو وروسته او د سر خرولو او د زيارت طواف دواړو مخکي جماع وکي ، په دغه دواړو صورتو کي بېله اوښ او غوايي څخه بل حيوان نه صحيح کيږي ، له دغو صورتو څخه پرته پسه يا بزه صحيح کيږي د حج څخه بندېدو

(١) په " الجوهرة النيرة " کي ئې ويلي دي . په پسو او بزو کي جذع هغه دی چي شپږ مياشتي ئې پوره سوي وي ، داسي هم ويل سوي دي : هغه دی چي د کال اکثره حصه ئې پوره سوي وي . د پسو جذع هغه وخت صحيح کيږي چي په داسي ډول وي که د ثني پسو سره ګډ سي کتونکي د ثني ګمان پر کوي (ص ٢٢١) او " البحر الرائق ٣-٧٥ " وګوره .

قرباني وي ، دتمتع يا قران حج قرباني وي ،د جنايت قرباني وي که نفلي قرباني وي .

س : د ځينو هديو په ذبح کولو کي دوه يا زيات کسان شريکېدلای سي ؟

ج : هو په اوښ يا غوايي کي اوه کسان شريکېدلای سي که هر شريك د عبادت نيت کړی وي .

س : که اوه کسان د اوښ يا غوايي په ذبح کېدو کي شريکان سول او له هغو څخه ځينو د غوښو نيت کړی وو څه حکم ئې دی ؟

ج : که داسي وو د نورو قرباني هم نه صحيح کيږي .

س : د هدی له غوښو څخه خورك روا دی ؟

ج : د هدی ښتن ته د نفلي هدی او د تمتع حج يا قران حج د هدی څخه خورك روا دی ، د حج بندېدو يا جنايتو له هدی څخه خورك نه دی ورته روا .

س : د هدی د ذبح کولو لپاره کوم ورځ يا وخت ټاکل سوی دی ؟

ج : د تمتع حج او قران حج د هدی ذبح کول د اختر له ورځي څخه مخکي نه دی روا بلکه د اختر په ورځ يا له هغه څخه وروسته دوو ورځو (۱) کي به ئې ذبح کوي ، دغه هدی دي د ذوالحجې تر دوولسمي نه ځنډوي ، دغه رنګه دي ئې د وروستني ځلي تر ويشتلو کوم چي د اختر په ورځ ويشتل کيږي مخکي نه ذبح کوي ، د حج څخه بندېدو او جنايتو هدی ذبح کول په کوم وخت کي چي دده خوښه سي روا دي .

س : که د تمتع يا قران حج د هدی ذبح کول د اختر تر ورځو وځنډوي څه حکم ئې دی ؟

ج : له دغه هدی پرته بل هدی د خپل وخت څخه ځنډولو له کبله پر واجبيږي (۲) .

س : دا واجب دی چي د هدی غوښي به د حرم پر مسکينانو خيراتوي ؟

---

(۱) قدوري ويلي دي : د نفلي هدی او تمتع يا قران حج هدی ذبح کول پرته د اختر له ورځي بله ورځ نه دي روا اه . ده نفلي هدی د تمتع او قران حج په شان وګرځوی ، د " هدايې " مصنف ويلي دي : په اصل کي ذکر سوي دي د نفلي هدی ذبح کول د اختر تر ورځې مخکي روا دي او د اختر په ورځ ئې ذبح کول افضل دي ، دغه قول صحيح دی اه . وروسته دا خبره ده چي د اختر له ورځ څخه مراد د اختر ورځي دي ځکه د تمتع او قران د حج هدی ذبح کول د ذوالحجې د دوولسمي ورځي تر لمر لوېدو پوري روا دي څرنګه چي په څرګنده توګه ئې په " البحر ۳-۷۷ " کي ذکر کړي دي .

(۲) که ئې تر ذبح کولو مخکي سر وخروی او نوره مسئله پر دغه ډول وه دريمه قرباني هم پر لازميږي ځکه چي سر خرول ئې ترذبح مخکي کړل ، په " غنية الناسك ۱۵۰ " کي ئې دغه خبره ذکر کړې ده .

ج : په دې کي د حرم مسکینان نه دي خاص کړل سوي بلکه پر دوی او نورو مسکین
ئې خیراتول روا دي .
س : دا واجب دی چي هدی به عرفات ته بیایي ؟
ج : دا نه دی واجب .
س : د نحر او ذبح څه تفصیل دی ؟
ج : په اوښانو کي نحر سنت دی او غوایو ، پسو او بزو کي ذبح کول سنت دي ، که ئې
دې چپه (د اوښ ذبح کول او دغوایې ، پسه یا بزې نحر) عمل وکی روا او مکروه دي .
س : ایا دا واجب دی چي خپله به ذبح او نحر کوي ؟
ج : دا نه دی واجب ، که ئې بل څوك امر کی هغه هدی ذبح کړل روا دی مګر افضل
دادی چي ذبح او نحر خپله وکي که ئې زده وه .
س : که یو سړي اوښ دځان سره بېوی او دهغه سپرېدو ته محتاجه سو سپرېدل ئې ورته
روا دي ؟
ج : که ئې سپرېدو ته مجبور سو پر سپور دي سي که نه وو محتاج نه دي پر سپرېږي .
س : که ئې اوښه یا مېږه د ځان سره بېول او هغه شیدې درلودې لوشي به ئې ؟
ج : نه به ئې لوشي مګر پرغلانځه دي ئې یخي اوبه وروڅځوي چي شیدې ئې بندي سي .
س : که هدی پر لاري هلاك سول څرنګه به کوي ؟
ج : که نفلي هدی وه بل شی نه دی پر لازم ، که واجب هدی وه بله به ئې پر ځای اخلي .
س : که هدی ته داسي عیب وررسېدی چي د هغه له وجهي ئې ذبح کول نه وه روا څه
حکم ئې دی ؟
ج : د هغه پر ځای به بله دروي او په عیبجنه چي ئې څه خوښ وي هغه دي وکي ، دا هغه
وخت که واجب هدی وه ، که نفلي وه د عیب سره دي ئې ذبح کي .
س : که ئې اوښ د ځان سره بېوی اوپر لاري هلاکت ته نژدې سو څه به په کوي ؟
ج : که نفلي هدی وه نحر دي ئې وکي او په غاړه کي چي ئې کومه چوټه ځړېږي هغه دي
ئې په وینو ولړي ، د هغه د بوك یو طرف دي په هغه سره ووهي او د فقیرانو لپاره دي ئې
پرېږدي ، نه دي خپله خورك ځني کوي نه نور خانان او که واجب وه بله دي ئې پر ځای
ودروي ، په هغه سره چي ئې څه خوښه وي هغه دي وکي .
س : د هدی په غاړه چوټي ځړولو څه حکم دی ؟

ج : د نفلي هدی او تمتع او قران د حج هدی په غاړه چوټه ځړول مستحب دي د حج څخه بندېدو او جنايتو هدی په غاړه دي چوټه نه ځړوي .

س : د هغه په ځلو او پېزوانو به څه کوي ؟

ج : هغه دي خيرات کي .

س : د قصاب مزدوري د هغه څخه ورکولای سي ؟

ج : له هغه څخه دي مزدوري نه ورکوي بلکه له خپل ځان څخه دي ئې ورکي (١) .

(١) د علي ﷺ څخه روايت سوی دی چي نبي ﷺ زه امر کړم چي دده پر اوښانو ودرېږم او غوښي او پوستونه او ځلان ئې خيرات کم او قصاب ته له هغه څخه شی ور نه کم ، هغه ﷺ وويل : موږ له خپل ځان څخه مزدوري ورکوو ، امام بخاري او امام مسلم ئې روايت کړی دی .

كتاب البيوع

﴿ د خرڅولو كتاب ﴾

س : بيع (خرڅول) څه ته وايي ؟

ج : بيع (خرڅول) د خرڅونكي او رانيونكي په رضا مال په مال سره بدلولو ته ويل كيږي .

س : بيع (خرڅول) څرنګه كيږي ؟

ج : بيع په ايجاب (د خرڅونكي يا رانيونكي لمړۍ خبره) او قبول (د خرڅونكي يا رانيونكي دوهمه خبره) سره كيږي چي د ماضي په صيغو سره وي لكه چي يو ووايي : درباندي خرڅ مي كی او بل ووايي : رامي نيوی .

س : كه د خرڅونكي او رانيونكي څخه يوه ايجاب وكی پر هغه بل بيع لازميږي ؟

ج : په يوازي ايجاب سره بيع نه لازميږي ، كله چي ايجاب او قبول دواړه وسي بيع لازميږي ، كله چي يو ايجاب وكي هغه بل ته اختيار سته كه ئې خوښه وي په داغه مجلس كي دي ئې قبول وكي او كه ئې خوښه وي بيع دي رد كي ، كه ئې قبول كی پر دواړو بيع لازمه سول ، په دې وخت كي يوه لره اختيار نسته .

س : ولي مو قبول په داغه مجلس پوري خاص كی ؟

ج : ځكه كه د خرڅونكي او رانيونكي څخه يوه ايجاب وكی وروسته دی يا دده ملګری له مجلس څخه ولاړ سو ايجاب باطليږي .

س : كه بيع پوره سول رانيونكي ته په يو وجه سره اختيار سته ؟

ج : هو كه په رانيول سوي شي كي كوم عيب ښكاره سو ده لره اختيار سته كه ئې ردوي كه ئې اخلي ، دغه رنګه رانيونكي لره اختيار سته كه ئې داسي شی رانيوی چي نه ئې وو ليدلی .

س : په پور بيع روا ده ؟

ج : هو په نقدو پيسو او په پور بيع روا ده كه د پور وخت معلوم وو .

س: که يو چا يو شی خرڅ کی ، اشاره ئې ورته وکړل ، د هغه وزن يا پيمانه ئې نه کړل معلومه يا دوو سړيانو يو شی په بل شی خرڅ کی ، دهغو مقدار ئې نه کړی معلوم صرف اشاره ئې ورته وکړل په دغو دوو صورتو کي بيع روا ده ؟
ج: په دواړو صورتو کي بيع روا ده ځکه که خرڅ سوي شي يا پيسو ته اشاره وسي د هغو مقدار معلومولو ته ضرورت نسته ځکه په اشاره سره شی په ښه توګه معلوميږي.
س: که ئې قيمت عام ياد کړی، مقدار او صفت ئې نه کړی بيان دغه بيع څه حکم لري ؟
ج: که ئې قيمت عام ياد کړی د مثال په توګه داسي ئې وويل : دغه شی مي ستا څخه په سپينو زرو يا سرو زرو يا دينارو يا درهمو يا غنمو رانيولی دی ، مقدار او صفت ئې نه کړی بيان بيع نه ده صحيح ، د بيع د صحت لپاره دا ضروري ده چي مقدار به ئې معلوموي ، د مثال په توګه چي داسي ووايي : دغه شی مي په دومره درهمو رانيولی دی او صفت به ئې معلوموي د مثال په توګه چي ووايي : مصري يا شامي يا ښه يا بې کاره.
س: که ئې پيسې عامي ذکر کړی (د هغه صفت ئې نه کړی معلوم) د مثال په توګه داسي ئې وويل : لس درهمه مي دربانديي خرڅ کړل او په دغه ښار کي داسي درهمونه وه چي د صفت په اعتبار مختلف وه مګر د قيمت په اعتبار سره برابر وه ، په دغه صورت کي که رانيونکي قبوله کړل بيع صحيح ده ؟
ج: که داسي وو بيع صحيح ده او هغه درهمونه به ورکوي په کومو سره چي په دغه ښار کي خلګ ډېر کار وبار کوي .
س: که ئې درهمونه عام ذکر کړل او هغه په قيمت کي يو له بل سره مختلف وه په دغه صورت کي بيع صحيح ده ؟
ج: که د پيسو قيمتونه مختلف وه بيع فاسده ده مګر نه په هغه صورت کي چي يو قسم او د هغه مقدار معلوم کي .
س: د خوړکي شيانو او دانو (غنم ، اوربشي او نور) په پيمانه او اټکل سره بيع روا ده ؟
ج: د هغو بيع په درهمو ، دينارو ، نورو پيسو او دانو سره روا ده مګر که ئې خوړکي شی په بل خوړکي شی سره چي جنس ئې يو وو په اټکل سره خرڅ کی دا نه دی روا ځکه په دي کي امکان د کمي (سود) سته .

س : که یو سړي بل ته وویل : په دومره پیسو مي دومره غنم دربانديخرڅ کړل چي دا پر لوښی ډکوي ، رانیونکي قبوله کړل او هغه ته نه وي معلوم چي په دغه لوښي کي څومره قدر غنم ځاییږي بیع صحیح ده ؟
ج : که په بیع کي یو معلوم لوښی یادکي چي دغه در ډکوم که څه هم دهغه مقدار معلوم نه وي چي څومره غنم ځایوي بیع صحیح ده .
س : که ئې داسي بیع وکړل چي په دغه ډبره ئې درتلم او د هغه مقدار معلوم نه وو څه حکم ئې دی ؟
ج : دا بیع هم صحیح ده .
س : که یو سړي د خورکي شي یوه کوټه خرڅه کړل هر قفیز (یو پیمانه ده) په یوه درهم دغه بیع صحیح ده ؟
ج : په دغه صورت کي بیع په یوه قفیز کي صحیح ده په نوروکي باطله ده مګر که ئې ټوټل قفیزونه یاد کړل بیع صحیح کیږي ، دا د ابوحنیفه رح په نزد ، صاحبینو رح ویلي دي په دواړو صورتو کي بیع صحیح ده که ټوله قفیزونه یاد کي که نه .
س : که ئې د پسو یا بزو یوه رمه خرڅه کړل هر پسه په یوه درهم ابوحنیفه رح په دې کي څه وایي ؟
ج : دده رح په نزد په ټولو کي بیع فاسده ده صاحبینو رح ویلي دي په ټولو کي صحیح ده .
س : که یو چا یو کالی په ګزانه خرڅ کی هر ګز په یوه درهم او ټوټل ګزونه ئې نه کړل یاد ابوحنیفه رح په دغه کي څه وایي ؟
ج : دغه بیع نه په یوه ګز کي صحیح کیږي نه په ټولو ګزو کي .
س : که یو چا د خورکي شي یوه کوټه په دې توګه خرڅه کړل چي سل قفیزه ده په سل درهمه . رانیونکي چي وکتل تر سل کمه وه ، په دې کي تاسي څه وایاست ؟
ج : رانیونکي ته اختیار سته که دغه مقدار د پیسو په هغه حصه اخلي چي ددغه مقدار کیږي که بیع فسخ کوي .
س : که تر سلو زیات وه ؟
ج : زائد مقدار د خرڅونکي دی .

س: که يو سړي کالی په دې توګه رانيوی چي لس ګزه دی په لسو درهمه يا ئې مخکه رانيول چي سل ګزه ده په سل درهمه او کالی يا مځکه تر هغه مقدار کمه وه کوم چي خرڅونکي ياد کړی دی دغه بيع څه حکم لري ؟

ج: په دغه صورت کي رانيونکي ته اختيار سته که ټوله په ټوله قيمت سره اخلي که ئې پرېږدي.

س: که تر هغه مقدار زيات وو کوم چي خرڅونکي يادکړی وو څه حکم ئې دی ؟

ج: خرڅ سوی ټوکر په هغه پيسو د رانيونکي دی پر کومو چي ئې سودا کړې ده . رانيونکي لره اختيار نسته په دغه صورت کي ، مځکه هم دغه حکم لري .

س: که خرڅونکي وويل : سل ګزه ده په سل درهمه مي درباندي خرڅه کړې ده هر ګز په يوه درهم ، رانيونکي چي وکتل کمه يا زياته وه تاسي په دې کي څه واياست ؟

ج: که کمه وه رانيونکي لره اختيار سته که ئې د پيسو په هغه برخه اخلي چي د دغه مقدار کيږي که ئې پرېږدي ، که زياته وه ده لره اختيار دی که ټوله په دې ډول اخلي چي هر ګز په يوه درهم که بيع فسخ کوي .

س: که خرڅونکي وويل :دغه بنډل مي درباندي خرڅ کی لس کاليه دی هر کالی په لس درهمه ، کله چي ئې وکتل کم يا زيات وه څه حکم ئې دی ؟

ج: که کم وه بيع د هغو کالو په مقدار کي صحيح ده که زيات وه بيع فاسده ده .

س: که يو سړي کور خرڅ کی او صرف کور ئې ياد کی په هغه کي کوم شيان داخليږي ؟

ج: که ئې کور خرڅ کی په هغه کي ئې صحن ، وداني او د قلفو کلياني داخليږي که څه هم دغه شيان ياد نه کي .

س: که يو سړي مځکه خرڅه کړل ، په هغه کي د خرما او نورو مېوو وني وې تاسي څه په کښي واياست ؟

ج: د مځکي په خرڅولو کي د خرما او نورو مېوو وني داخليږي يادې ئې کي که نه .

س: که په مځکه کي کښت وو او خرڅه ئې کړل کښت ئې نه کړی ياد څه حکم لري ؟

ج: د مځکي په خرڅولو کي کښت نه داخليږي مګر که ئې ياد کی داخليږي .

س: که ئې د خرما ونه يا بله ونه خرڅه کړل او په هغه کي مېوه وه هغه د چا کيږي ؟

ج: مېوه ئې د خرڅونکي کيږي مګر نه که رانيونکي ميوه د ځان لپاره شرط کړل ، او خرڅونکي ته ويل کيږي خپله مېوه دي پرې که او خرڅه سوې ونه رانيونکي ته وسپاره

س :که یو سړی پر ونه داسي مېوه خرڅه کي چي داستفادې قابله سوې نه وي دا روا ده؟

ج : د مېوې خرڅول چي پر ونه وي روا دي که د استعمال قابله سوې وي که نه ، پر رانیونکي لازمه ده چي په داغه وخت کي ئې پرې کي .

س : که ئې دا شرط کړل چي مېوه به پر ونه پاتیږي څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه صورت کي بیع فاسدیږي .

س : که یو چا د ونو پر سرو مېوه خرڅه کړل او یو څو معلوم رطله (یو خاص وزن دی) ئې څني استثناء کړل (د ځان لپاره ئې خاص کړل) دغه بیع روا ده ؟

ج : نه ده روا (۱) .

س : د غنمو خرڅول په وږو کي او د باغلیو خرڅول په پوستکو کي روا دي ؟

ج : که ئې د خپل جنس مخالف په بل جنس خرڅ کړل روا ده او که ئې په خپل جنس خرڅ کړل نه ده روا ځکه امکان د ګټي سته .

س : که چا د تول یا پیمانې شی خرڅ کی او هغه دومره ډېر وو چي پیمانه کونکي او تلونکي ته ئې ضرورت درلودی د هغه د تللو او پیمانه کولو مزدوري پر چا ده ؟

ج : د هغه مزدوري پر خرڅونکي ده (۲) .

س : که یو چا په دینارو او درهمو شی رانیوی او خرڅونکي د هغه د سمو او کوټه وو معلومولو ته ضرورت درلودی ، یو ناقد (د سمو او کوټه پیسو معلومونکی) په مزدوري سره هغه معلوم کړل د هغه مزدوري پر چا ده ؟

ج : دغه مزدوري هم پر خرڅونکي ده (۳) .

س : که درهمونه او دینارونه ډېر وه چي تللو ته ئې ضرورت وو ، یو تلونکي په مزدوري وتلل ، دغه مزدوري ئې پر چا ده ؟

ج : پر رانیونکي ده .

---

(۱) د " هدایې " مصنف ویلي دي : دا د حسن روایت دی او دغه د طحاوي قول دی ، پر ظاهر روایت په کار ده چي روا سي اه . د " عنایې " مصنف ویلي دي : دده مطلب پر ظاهر روایت قیاسول دي ځکه ددې مسئلې حکم په ظاهر روایت کي نه دی ذکر سوی ، له دې کبله ئې داسي وویل : په کار ده اه . او له دغه کبله د " الکنز " مصنف رواوالی غوره کړی ، " البحر ٥-٣٢٧ " وګوره .

(۲) دغه رنګه د ګزونکي او شمېرونکي مزدوري ، له " هدایې " څخه .

(۳) د ابن سماعه په روایت کي له محمد رح څخه هغه پر رانیونکي ده ، له " هدایې " څخه .

س : د خرڅ سوي شي تسليمول مخکي لازم دي که پر رانيونکي د پيسو تسليمول مخکي لازم دي ؟

ج : په هغه کي تفصيل دی ، که ئې سامان په پيسو خرڅ کی رانيونکي ته ويل کيږي : اول پيسې ورکه ، کله چي هغه پيسې ورکي خرڅونکي ته ويل کيږي سامان ورتسليم که او که ئې سامان په سامان يا پيسې په پيسو خرڅي کړې دوی ته ويل کيږي يو ځای ئې سره وسپاريئ .

د شرط خيار (کوم اختيار چي په شرطولو سره پيدا کيږي)

س : د خرڅونکي او رانيونکي لپاره د شرط خيار څه حکم لري ؟

ج : د شرط خيار خرڅونکي او رانيونکي لپاره روا دی .

س : په دغه کي کوم وخت ټاکل سوی دی ؟

ج : د شرط د خيار مده درې ورځي يا تر هغه کمه ده ، د ابوحنيفه رح په نزد تر هغه زيات نه دی روا ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : درې ورځي هم او تر هغه زيات هم روا دی که د خيار څښتن معلوم وخت ياد کړی او ملګری ئې په راضي سو .

س : که دوو سړيانو سودا سره وکړل او خرڅونکي خپل ځان لره خيار کښېښوی ، رانيونکي سامان قبض کړی اود خيار په مده کي دده په لاس کي هلاك سو څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه مسئله کي قاعده دا ده چي د خرڅونکي د خيار له کبله سامان دده له ملکيت څخه نه وزي ، کله چي رانيونکی ئې قبض کي د خرڅونکي ملکيت ئې قبض کړی نو کله چي د خيار په مده کي دده په لاس کي هلاك سي که مثلي (کوم شی چي مثل لري) وو په مثل به ئې تاوان ورکوي اوکه مثلي نه وو په قيمت به ئې تاوان ورکوي .

س : که رانيونکي خپل ځان لره خيار کښېښوی سامان د خرڅونکي له ملکيت څخه وزي ؟

ج : د رانيونکي خيار د خرڅونکي له ملکيت څخه د سامان وتل نه راګرځوي مګر د ابوحنيفه رح په نزد ئې رانيونکی نه مالك کيږي ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : مالك کيږي ئې .

س : که سامان د رانيونکي په لاس کي هلاك سو او هغه خپل ځان لره خيار ايښی وو د هغه تاوان پر چا کيږي ؟

ج : پر رانيونكي كيږي او په هغه قيمت سره هلاكيږي كوم چي دوى سره تاكلى وو ، يعني رانيونكى به هغه قيمت وركوي په كوم چي ئې سامان رانيولى وو (١) .

س : كه رانيونكي ځان لره خيار اينبى وو اوسامان ته عيب ورسېدى څه حكم ئې دى ؟

ج : كه داسي عيب وو چي نه ايسته كېدى لكه چي د مريي لاس پرې سي هغه داسي دى لكه چي هلاك سي او پر رانيونكي ئې هغه قيمت لازميږي كوم چي دوى په سودا كي سره تاكلى وي او كه عيب عارضي وو لكه چي مريى ناروغه سي نو ده لره په دغه مده كي خيار سته ، كله چي مده تېره سي او عيب نه وي ايسته سوى سودا لازميږي ځكه بيرته وركول نا ممكنه دي .

س : د خيار څښتن لره خيار څه فائده لري ؟

ج : ده لره په دغه مده كي دا اختيار سته چي بيع فسخ كي يا ئې وچلوي .

س :د خيار پر څښتن دا لازمه ده چي د بيع ماتول يا چلول به د خپل ملګري په مخ كي كوي ؟

ج : كه ئې ملګرى حاضر نه وو او بيع ئې وچلول صحيح كيږي او ماتول ئې بېله ملګري د حضور څخه نه صحيح كيږي ؟

س : كه يو چا مريى خرڅ كى او دا ئې ورته وويل چي ډوډۍ پخونكى يا ليكونكى دى ، رانيونكي چي وكتى داسي نه وو څه به كوي ؟

ج : رانيونكي ته اختيار سته كه ئې په ټوله قيمت چي دوى سره ټاكلى وي اخلي كه سودا ماتوي او مريى بيرته وركوي .

س : كه په خرڅونكي او رانيونكي كي يوه لره خيار وو د سودا تر چلولو او مدې پوره كېدلو مخكي د خيار څښتن مړ سو خيار ئې ورثه وو ته نقل كيږي ؟

ج : په دغه صورت كي ئې خيار باطليږي وارثانو ته نه نقل كيږي سودا پوره كيږي (٢) .

---

(١) يعني په دغه صورت كي پر رانيونكي سودا لازميږي او كوم قيمت چي دوى سره ټاكلى وو خرڅونكي ته به ئې اداء كوي .

(٢) د " الكنز " مصنف ويلي دي : د هغه (د خيار څښتن) په مرګ ، مدې تېرېدلو او آزادلو سره سودا پوره كېږي اه . د " البحر " مصنف ويلي دي : مرګ د مړي خيار باطلوي كه خرڅونكى وي كه رانيونكى ، زموږ په نزد هغه د ليدلو د خيار په شان په ميراث نه وړل كيږي ځكه دا صرف يو اراده او غوښتنه ده او د هغه نقل كېدل نه سي كېدلاى ، تر پايه پوري .

د لیدلو خیار

س: که یو سړي داسي مال (کوم شی چي قیمت ولري) رانیوی چي لیدلی ئې نه وو دغه سودا روا ده که نه؟

ج: په دغه صورت کي سودا صحیح ده مګر رانیونکي لره چي کله ئې ووینی اختیـــار شته چي اخلي ئې یا ئې بیرته ورکوي (۱).

س: په دغه خیار کي کوم وخت تپاکل سوی دی؟

ج: په دغه کي مده نه ده تپاکل سوې نو تر څو چي باطلونکی ئې نه وي پیدا سوی نه ساقطیږي، باطلونکی ئې رضا ده (۲).

س: که یو چا داسي شی خرڅ کی چي ده نه وو لیدلی د هغه په خیار کي څه وایاست؟

ج: هغه لره خیار نسته.

س: که رانیونکي د کوټي مخ ته وکتل یا ئې د کالي سربېره حصې ته وکتل او هغه پېچلی وو یا ئې د مینځي مخ ته وکتل یا ئې د حیوان مخ او کناټې ته وکتل په دغه لیدلو سره د لیدلو خیار باطلیږي؟

ج: دغه لیدل اعتبار لري او تر هغه وروسته ده لره خیار نسته.

س: که ئې د کور صحن ولیدی او خوني ئې نه وې لیدلي دغه لیدل اعتبار لري؟

ج: دغه لیدل معتبردي څرنګه چي دمختصروکتابومصنفینوذکرکړی دي په دغه صورت کي ده لره خیار نسته دا فتوی پر دې بنسټ ده چي د کوفې کورو فرق درلودی فتوی د زفر رح پرقول ده هغه ویلي دي دکورودننه لیدل حتمي دي ځکه کورونه مختلف دي (۳).

---

(۱) په "الدر المختار" کي ذکر سوي دي: کله چي ئې ووینی ردولای ئې سي که څه هم مخکي تر لیدلو راضي سوی وي، که ئې تر لیدلو مخکي سودا ماته کړل ډېر صحیح قول دادی چي صحیح کیږي ځکه د مال د نا معلوموالي له کبله سودا نه ده لازمه سوې نو حتمي سودا نه ده سوې اه.

(۲) "البحر الرائق" او "الدر المختار" د "رد المحتار" سره وګوره.

(۳) د "هدایې" مصنف ویلي دي: د زفر رح پر قول دننه کورو ته ننوتل ضروري دي، ډېر صحیح قول دادی چي د کتاب فتوی په کورو کي د دوی دعادت پر بنسټ ده ځکه په دغه وخت کي کورونه مختلف نه وه، نن ورځ دننه کورو ته ننوتل ضروري دي ځکه فرق لري، په دباندي کتلو سره پر دننه علم نه حاصلیږي اه. د "البحر ۶-۳۲" مصنف ویلي دي: په "جامع الفصولین" کي ذکر سوي دي: په دغه سره فتوی کیږي اه.

س : که ړوند سړي شی خرڅ کی یا ئې رانیوی څه حکم لري ؟
ج : خرڅول او رانیول ئې صحیح دي او ده لره که کوم شی رانیسي د لیدلو خیار سته.
س : څرنګه به ئې ویني چي دی شی نه سي لیدلای ؟
ج : په لاس کتل که خرڅ سوی شی د لاس په کتلو معلومېدی ، بویول که په بویول معلومیدی او خوند ئې کتل که په خوند کتلو معلومېدی د لیدلو پر ځای درېږي .
س : که یو سړي لیدل نه سوای کولای او مځکه ئې رانیول څرنګه به ئې پیژني ؟
ج : د مځکي په رانیولو کي د صفت په بیانولو سره کفایت کیږي ځکه بېله دغه بله لاره نسته نو کله چي صفت ئې ورته بیان سي اودی په رانیولو راضي سي خیارئې ساقطیږي.
س : که یو سړي د بل چا ملکیت بېله امر دهغه خرڅ کی څه حکم ئې دی ؟
ج : په دغه صورت کي مالك ته اختیار سته که سودا چلوي که ئې ماتوي ، د چلولو اختیار ده لره تر هغه وخت پوري سته چي پر کوم شي سودا سوې وي هغه پاته وي او خرڅونکی او رانیونکی پر خپل حال وي (۱) .
س : که ئې دوه کالیه په یوه سودا رانیول یو ئې لیدلی وو وروسته ئې بل ولیدی د دواړو ردول ورته روا دي ؟
ج : هو ورته روا دي .
س : که یو چا شی لیدلی وو ، تر څو مدې وروسته ئې رانیوی د لیدلو خیار ورته سته ؟
ج : که دغه شی پر هغه صفت پاته وو پر کوم چي ده مخکي لیدلی وو ده لره خیار نسته

---

(۱) په " الجوهرة النيرة " کي ئې ویلي دي : پوسه چي د څلورو شیانو پاته والی د سودا چلولو لپاره
شرط دی ، خرڅونکی ، رانیونکی ، مالك او خرڅ سوی شی ، که دغه څلور شیان پاته وه او مالك سودا
وچلول صحیح کیږي (تر څو چي بیا ئې ویلي دي) او که مالك سودا نه وه چلول ، ماته ئې کړل ماتیږي
او رانیونکی به له خرڅونکي څخه بیرته خپلي پیسې غواړي ، که تر سودا چلولو مخکي مالك مړ سو
سودا ماتیږي د وارثانو په چلولو نه چلیږي .
دا قول (که خرڅ سوی شی پاته وو او خرڅونکی او رانیونکی پر خپل حال وه) ، او که د خرڅ سوي شي
حال نه وو معلوم چي پاته دی که هلاك سوی دی چلول ئې صحیح کیږي ځکه اصل پاته والی دی ،
محمد رح قول دی ، ابویوسف رح ویلي دي : تر څو چي پاته والی ئې د سودا چلولو په وخت کي نه وي
معلوم سودا چلول نه صحیح کیږي ځکه د چلولو په شرط کي شك پیدا سو نو په شك سره نه ثابتیږي اه
. دغه مسئله د بېګانه په سودا پوري اړه لري مګر قدوري دلته ذکر کړل موږ ئې متابعت وکړی .

او که بدل سوی وو ده لره خيار سته .

س : که رانيونکي مړ سو او ده لره د ليدلو خيار وو دده تر مرګ وروسته د خيار څه حکم دی ؟

ج : سودا پوره سول او خيار باطل سو ، دده وارثانو ته نه نقل کيږي .

د عيب خيار

س : که يو سړي يو شی رانيوی وروسته ئې يو عيب ورته معلوم سو چي د خرڅونکي په نزد په کښې وو دی دغه شی بيرته ردولای سي ؟

ج : که رانيونکي دغه عيب د رانيولو يا د قبض کولو په وخت کي نه وو ليدلی او خرڅونکي نه کړی ورته بيان ده لره خيار سته که ئې په ټوله قيمت چي سره ټاکلی ئې دی اخلي که ئې بيرته ورکوي .

س : رانيونکي لره دا اختيار نسته چي هغه شی د ځان سره وساتي او د کمي نقصان ځني واخلي ؟

ج : دا اختيار ده لره نسته .

س : په دغو مسئلو کي کوم عيب معتبر دی ؟

ج : هر عيب چي د سوداګرانو په نزد قيمت کموي هغه عيب دی .

س : ځيني عيبونه بيان کړئ چي رانيونکي ته د هغه له کبله د رانيول سوي شي بيرته ورکول روا وي .

ج : تښتنه ، په بستر کي بولي کول او غلا کول په کوچني کي عيب دي ، چي بالغ سو دغه شيان عيب نه دي (۱) ، د خولې بوی او د بغل بوی په نجلۍ کي عيب دي په هلك کي عيب نه دي مګر که د ناروغۍ له کبله وو په هلك کي هم عيب دي ، زنا کول يا دا چي له زنا څخه پيدا سوی وي په نجلۍ کي عيب دی نه په هلك کي .

---

(۱) د " هدايې " مصنف ويلي دي : يعني که دغه شيان د خرڅونکي په نزد په کوچني والي کي ښکاره سول بيا په کوچني والي کي د رانيونکي په نزد پيدا سول بيرته ئې ورکولای سي ځکه دا عين هغه دي او که د رانيونکي په نزد تر بلوغ وروسته پيدا سول بيرته دي ئې نه ورکوي ځکه دا عيبونه هغه عيبونه نه دي ځکه د دغو شيانو سببونه د کوچني والي او لوی والي له کبله مختلف کيږي ، د نالی بولي په کوچني والي کي د مثانې د کمزورۍ له کبله کيږي او په لوی والي کي د دننه ناروغي له کبله کيږي .

س : كه د رانيونكي په نزد عيب په كښي پيدا سو وروسته يو عيب ورته څرګنده سو چي د خرڅونكي په نزد وو اوس به څه كوي ؟
ج : ده لره دا سته چي د خرڅونكى د عيب تاوان ځني واخلي ، رانيول سوى شى دې بيرته نه وركوي مګر كه خرڅونكي په دې راضي سو چي د هغه عيب سره ئې واخلي كوم چي د رانيونكي په نزد پيدا سوى دى په دغه صورت كي رد بدلاى سي .
س : كه چا يو كالى رانيوى ، پرې ئې كى او وئې ګنډى يا ئې رنګه كى يا ئې اوړه رانيول د غوړو سره ئې ګډ كړل ، وروسته يو عيب ورته څرګند سو چي د خرڅونكي په نزد وو څه حكم ئې دى ؟
ج : د هغه د نقصان تاوان دي ځني واخلي، خرڅونكي لره دا نسته چي خپله هغه واخلي.
س : په هغه چا كي تاسي څه واياست چي مريى رانيسي او ازاد ئې كي يا دده سره مړسي وروسته يو عيب ورته څرګند سي چي د خرڅونكي په نزد په وو ؟
ج : د هغه د نقصان تاوان دي ځني واخلي ، بيرته دي ئې نه وركوي ځكه د بيرته وركولو شى نه سو پاته .
س : كه رانيونكي مريى ووژى يا رانيول سوى خوركي شى وو وئې خوړى وروسته يو عيب ورته څرګند سو چي د خرڅونكي په نزد وو څه تاوان به ځني اخلي ؟
ج : د ابوحنيفه رح په نزد به هيڅ تاوان نه ځني اخلي ، صاحبينو رح ويلي دي د عيب د

د ص ١٨٥ پاته برخه : تښتنه په كوچني كي د لوبو د شوق له كبله وي او غلا د نه پروايي له كبله وي او دغه دواړه تر لوى والي وروسته د دننه بدى له سببه وي ، له كوچني څخه مطلب هغه كوچنى دى چي پوهيږي ، هغه كوچنى چي نه پوهيږي ورك بلل كيږي تښتېدلى نه بلل كيږي نو هغه عيب نه دى ، (البحر ٦-٤٣) مصنف ويلي دي : كه ئې په كوچني والي كي د خرڅونكي په نزد بولي وكړي بيا ئې تر بلوغ وروسته د رانيونكي په نزد بولي وكړي بيرته دي ئې نه وركوي او كه ئې د دواړو په نزد په كوچني والي يا لوى والي كي بولي وكړي بيرته ئې وركولاى سي ځكه سبب ئې يو دى ، د غلا په هكله(٦-٤٤) ئې ويلي دي : دا ضروري ده چي د رانيونكي په نزد ئې په هغه حال كي دوهم ځل وكي يعني د دواړو په نزد ئې په كوچني والي يا لوى والي كي وكي ، كه ئې د خرڅونكي په نزد په كوچني والي كي غلا وكړه بيا د رانيونكي په نزد په لوى والي كي وكړل بيرته ئې نه سي وركولاى ځكه دا عيب نوى پيدا سوى دى ځكه غلا په كوچني والي كي د نه پروايي له كبله وي او په لوى والي كي د دننه بدى له كبله وي اه .

نقصان تاوان څني اخستلای سي .

س : كه يو چا مريي خرڅ كی ، بيا رانيونكي خرڅ كي وروسته رانيونكي ته بيرته راوګرځول سو ، هغه ئې اول خرڅونكي ته بيرته وركولای سي ؟

ج : كه دوهم خرڅونكي چي اول رانيونكی دی د قاضي په قضاء سره قبول كی دی ئې خپل خرڅونكي ته بيرته وركولای سي او كه ئې بېله قضاء د قاضي قبـــول كی بيـــرته ئې اول خرڅونكي ته نه سي وركولای .

س : كه يو سړي مريی رانيوی او خرڅونكي وويل زه له هره عيب څخه بېزاره يم وروسته رانيونكي ته يو عيب ښكاره سو دغه معيوب رانيول سوی شی بيرته وركولای سي ؟

ج : په دغه وخت كي ده لره دا نسته چي د عيب له كبله ئې بيرته وركي كه څه هم خرڅونكي ټوله عيبونه نه وي ياد كړي او نه ئې وي شمېرلي .

تنبيه : چم كول او د عيب پټول په سامان كي حرام دي (۱) .

فاسده ، باطله او مكروه بيع

س : د صحيح والي او فاسد والي په اعتبار د بيع قسمونه بيان كړی .

ج : بيع پر څلور قسمه ده (۲) .

---

(۱) امام مسلم له ابوهريره ﷺ څخه روايت كړی دی چي نبي ﷺ د خوركي شي پر يوه كوټه راتېرسو ، لاس ئې په ننه استی . ګوتي ئې لندې سوې نو وئې ويل : د خوراك ښتنته دا څه شی دی ؟ هغه وويل ای د الله ﷺ رسوله باران پر سوی دی ، ده ﷺ وويل : ولي دي هغه نه دي سربېره كړي چي خلګ ئې وويني څوك چي چم وكي هغه زما څخه نه دی ، او ابن ماجه د واثله بن الاسقع ﷺ څخه روايت كړی دی هغه وويل چي ما د نبي ﷺ څخه واورېدل چي ويل ئې : څوك چي يو عيبجن شی خرڅ كي ښكاره ئې نه كي ټوله عمر د الله ﷺ په غضب كي دی يا (ئې داسي وويل) ټوله عمر ملائكه لعنت پر وايي .

(۲) په " البحر الرائق ٦-٧٥ " كي ئې ويلي دي : كومي بيعي چي منع سوي دي درې قسمه دي : فاسده ، باطله او تحريمي مكروه ، فاسده موږ بيان كړل (هغه ده چي د خپل ذات په اعتبار شرعي وي مګر د صفت په اعتبار شرعي نه وي ، د ذات له شرعي والي څخه مطلب دادی چي خرڅ سوی شی داسي مال وي چي قيمت لري ، دا مطلب ئې نه دی چي روا ده يا صحيح ده ځكه كومه بيع چي فاسده وي صحيح كېدلای نه سي) ، دوهم هغه ده چي نه د ذات په اعتبار شرعي وي نه د صفت په اعتبار ، د هغه حكم دادی چي رانيونكي ته ملكيت نه حاصلېږي قبض ئې كي كه نه ، او دريم قسم يعني مكروه په لغت كي ناخوښه ته وايي او د فقه په اصطلاح كي هغه ده چي ديو منبتي سبب له كبله منع سوې وي لكه د جمعې د اذان په وخت كي بيع چي د لمانځه له وجهي منع سوې ده ، دغه قسم په اول قسم يعني فاسـده كي هم

۱ : صحیح : هغه ده چي د خپل ذات او صفت په اعتبار شرعي وي ، دغه بیع که کوم مانع نه وو خپله ملکیت پیدا کوي .

۲ : باطله : هغه ده چي په هیڅ اعتبار سره شرعي نه وي ، هغه په هیڅ حال کي ملکیت نه پیدا کوي .

۳ : فاسده : هغه ده چي د ذات په اعتبار شرعي وي د صفت په اعتبار شرعي نه وي ، که رانیونکي رانیول سوی شی قبض کړی هغه ملکیت پیدا کوي ، د فقه علماء کله کله باطله بیع د فاسدي په نوم یادوي (۱) .

٤ : موقوفه : لکه د بل چا ملکیت چي خرڅ کي ، هغه په موقوفه توګه ملکیت پیدا کوي ، که مالك اجازه وکړل چلیږي که نه باطلیږي .

د باطلي بیع مثالونه او د هغې حکم

س : په لنډه توګه د باطلي بیع ډول بیان کړئ .

ج : که په خرڅ سوي شي او پیسو کي یو یا دواړه حرام وه یا د دوی ملکیت نه وو بیع باطله ده .

س : د باطلي بیع ځیني مثالونه ذکر کړئ .

د ص ۱۸۷ پاته برخه : داخلېدلای سي که له فاسدي څخه عامه معنی واخستل سي یعني کومه بیع چي منع سوې وي ، په دغه معنی درې سره قسمونه په کښي داخلیږي ، په دغه معنی سره فاسدوالی په څو سببو سره پیدا کیږي ، یو له هغو څخه نامعلوموالی دی چي په خرڅ سوي شي یا پیسو کي د جګړې سبب ګرځي ، یو له بېله ضرره تسلیمولو څخه عاجزوالی دی ، یوغولول دي ، یو داسي شرط دی چي له شریعت څخه وتلی وي ، یو دادی چي خرڅ سوی شی مال نه وي یا قیمت نه لري ، یو دادی چي موجود نه وي ، یو دادی چي د تسلیمولو قدرت ئې نه وي ، روا بیع چي منع سوې نه وي درې قسمه ده : نافـــذه (چلېدلې) لازمـــه ، نافذه چي لازمه نه وي او موقوفه (ولاړه) ، اول قسم هغه ده چي د خپل ذات او صفت په اعتبار شرعي وي او نه د بل چا حق اړه په لري نه خیار په کښي وي ، دوهم هغه ده چي د بل چا حق اړه نه په لري او خیار په کښې وي او موقوف هغه ده چي د بل چا حق اړه په لري ، هغه دادی چي یا د بل چا ملکیت وي یا په خرڅ سوي شي پوري بېله مالك څخه د بل چا حق اړه ولري (په مختصره توګه ختم سو) .

(۱) لکه علامه قدوري چي داسي کړي دي ځکه هغه د (فاسدي بیع) په نوم باب ذکر کړی دی او په هغه کي ئې باطله بیع هم ذکر کړې ده .

ج: داسې شی چې موجود نه وي يا مال نه وي بيع ئې باطله ده لکه بهيدونکې وينه ، مړ حيوان چې ذبح سوی نه وي (١) ، ازاد انسان ، مضامين (کوم حيوانان چې د اوښانو په شاوو کې وي تر اوسه نه وي زېږېدلي) ، ملاقيح (کوم حيوانان چې د اوښانو په نسو کې وي تراوسه نه وي زېږېدلي) ، په نس کې چيچی (٢)، د چيچې چيچی ، کوم حيـوان چې د ذبح کولو په وخت کې په قصد سره د الله ﷻ نوم نه وي پر ياد سوی ، دغه رنګه د مړه حيوان د پوست خرڅول مخکې له وچولو څخه ، د ذبح سوي پسه د مړه پسه سره يو ځای خرڅول ، د انسان دوړېښتانو خرڅول د هغه د عزت له کبله ، د سرکوزي د وريښتانو خرڅول د مردارولي له کبله ، دغه رنګه د انسان د مرداري خرڅول چې خاوره پر ډېره نه وي (٣)، د هغه شی خرڅول چې دده په ملکيت کې نه وي مګر د سلم (٤) پر طريقه روا ده ، دغه رنګه د ماهي خرڅول چې تر اوسه ښکار سوی نه وي ، د مرغه خرڅول په هواء کې ، دغه رنګه په غلانځه کې د شيدو خرڅول ، په ګوجې کې ملغلره ، د پسه پر شا وړی ، دغه رنګه دشرابو او سرکوزي خرڅول ، مريی چې د ازاد انسان سره يو ځای سي او په کښت کې د وښو (٥) خرڅول .

---

(١) بيله ماهي او ملخ .

(٢) کوم چيچی چې په نس کې وي او د چيچې چيچې خرڅول باطل دي ، په " مصنف عبدالرزاق " کې ذکر سوي دي : د مضامين ، ملاقيح او د چيچې د چيچې خرڅول ممنوع دي ، مضامين د مضمونة جمع ده هغه چيچانو ته ويل کيږي چې د اوښانو په شاوو کې وي ، ملاقيح د ملقوح جمع ده هغه چيچانو ته ويل کيږي چې د هغو په نسو کې وي ، ځيني کسانو ويلي دي : معناوي ئې ددې چپه دي ، د چيچې چيچې څخه د اوښې د جونګې جونګی مراد دی ، په " السراج الوهاج " کې ذکر سوي دي : په نس کې د چيچې بوازي بېله مور څخه خرڅول روا نه دي نه ئې د مور خرڅول بېله چيچې څخه روا دي نو که ئې چيچی خرڅ کی او د دوی دوو د جلاکېد.و مخکې ئې وزېږوی او ورتسليم ئې کی بيع ئې نه ده صحيح ، له " البحر الرائق ٦-٨٠ " څخه .

(٣) که خاوره پر ډېره وه بيع ئې روا ده لکه خوشايي او پچي ، په " البحر" کې ئې صرف د خاورو په ګډوالي سره کفايت کړی دی ، له " الدر المختار " څخه .

(٤) د سلم معنی به وروسته ان شاء الله وبيژنې .

(٥) يعني د وښو خرڅول او په کرايه ورکول نه دي روا ، خرڅول په دې وجه چې د حديث په دليل په هغه کې خلک شريکان دي ، کرايه په دې وجه چې په دې کې يو مشترک شی هلاکيږي " البحر الرائق ٦-٨٣" په " الدر المختار ...

س : كه بادار ام الولد (هغه مينځه چي له بادار څخه ئې كوچنى پيدا سوى وي او بادار هغه د ځان زوى يا لور بللې وي) يا مدبر (هغه مريى چي بادار ورته ويلي وي زما تر مرګ وروسته ازاد يې) يا مكاتب (هغه مريى چي بادار ورته ويلي وي دومره مقدار پيسې ما ته راوګټه نو ته ازاد يې) خرڅ كى څه حكم ئې دى ؟

ج : دغه بيعي ټوله باطلي دي (۱) .

س : كه يو چا په اوبو كي جال واچوى چي مايان په ښكار كي او بل سړي ته ئې وويل : په دغه ځل چي هر ښكار په دغه جال كي ولوېږي په دومرو پيسو ستا دى د دغي بيع څخه حكم دى ؟

ج : دغه بيع باطله ده ځكه كوم مايان چي تر سودا وروسته ئې دى ښكار كوي د سودا په وخت كي دده ملكيت نه دى .

س : كه يو چا مريى او مدبر سره يو ځاى كړل يا ئې خپل مريى او دبل چـا مريى سره يو

د ص ۱۸۹ پاته برخه : روزلو سره راشنه كړي وه هغه ئې مالك كيږي او بيع ئې روا ده " عيني " ، او داسي ويل سوي دي : نه ، ابن عابدين ويلي دي : دا قول (او ويل سوي دي : نه) يعني نه ئې مالك كيږي دغه قول قدوري غوره كړى دى ځكه په هغه كي ټوله خلګ شريكان دي ، كله چي د ځان سره ئې محفوظ كي شراكت ختميږي او اوبه پر لګول حفاظت نه بلل كيږي ، اكثره مشايخ ئې جائز بولي او شهيد هم دغه قول غوره كړى دى ، ختم سو ، يعني اكثره مشايخو د هغه وښو چي چا اوبه كړي او د شنه كېدو لپاره ئې تيار كړي وي د هغه د خرڅولو د رواوالي فتوى وركړې ده .

(۱) په " البحر الرائق ٦-٧٨ " كي ئې ويلي دي : د مدبر او ام الولد په هكله ئې په " الهداية " كي په څرګنده توګه ويلي دي چي د هغو بيع باطله ده ، هغه ويلي دي : ځكه ام الولد د نبي ﷺ په حديث (خپل كوچني ازاده كړل) د ازادۍ مستحقه ده او د مدبر په هكله د ازادۍ سبب په داغه وخت كي پيدا دى خكه تر مرګ وروسته د انسان اهليت ختميږي او مكاتب په خپل ځان كي د ازادۍ مستحق دى چي د بادار په هغه كي اختيار ختم سوى دى نو كه د خرڅولو په ذريعه بل چا ته ملكيت پيدا سي دغه ټوله شيان باطليږي ، خكه نه ده روا ، كه مكاتب په خرڅولو راضي سو په هغه كي دوه روايته دي ، ښكاره قول رواوالى دى . له مدبر څخه مراد مطلق مدبر دى نه مقيد ځكه د هغه بيع روا ده اه . كه ئې مكاتب بېله د هغه د رضا خرڅ كړى وروسته هغه بيع وچلول په صحيح روايت كي نه چليږي ، عام مشايخ پر دغه قول دي ، دغه رنګه په " الخانية " كي ذكر سوي دي ، ختم سو . مطلق مدبر هغه دى چي بادار ئې ورته ووايي : ته زما تر مرګ وروسته ازاد يې ، مقيد هغه دى چي بادار ئې ورته ووايي : كه زه په دغه سفر كي مړ سوم ته ازاد يې يا داسي ورته ووايي : كه زه په دغه ناروغي كي مړ سوم ته ازاد يې .

ځای کړل په یوه بیع سره ئې خرڅ کړل څه په کښې وایاست ؟
ج : په هغه مریي کي چي دده ملکیت دی د هغه د حصي په پیسو سره صحیح کیږي ، په مدبر او د بل چا په مریي کي نه صحیح کیږي .
س : باطله بیع څه حکم لري ؟
ج : حکم ئې دادی چي بیع نه تړل کیږي او رانیونکی که څه هم رانیول سوی شی قبض کي دده ملکیت نه ګرځي .

د فاسدي بیع مثالونه او دهغه حکم

س : د فاسدي بیع ځیني مثالونه بیان کړئ .
ج : د مزابنې بیع ، د ملامسې بیع ، د منابذې بیع او د ډبري غورځولو بیع (۱) باطله ده ، دغه رنګه که ئې مینځه یا حیوان خرڅ کی او د هغه په نس کي چیچی (۲) ئې د ځان لپاره راوګرځوی یا ئې د کالي یو ګز (۳) یا د چت یو تیر یا له ددوو کالو څخه یو کالی

(۱) د مزابنې بیع داده چي پر وني خرما په پرې سوي خرما سره خرڅه کي او د هغې پیمانې ته اندازه ولګوي ، دغه رنګه پر تاکانو د انګورو خرڅول په وچکو سره ، د ملامسې بیع داده چي هر یو د رانیونکي او خرڅونکي ببله فکر کولو د خپل ملګري کالي ته لاس وروړي او په دې سره پر لاس وروړونکي بیع لازمه سي او ده لره د لیدلو په وخت کي خیار نه وي ، دا په داسي ډول وي چي دوی په تاریکه کي وي یا کالی لیدل کیږي مګر پېچلی وي داسي اتفاق سره وکي که ئې لاس وروړی بیع وسول ، ددې فساد له دې کبله دی چي ملکیت ئې په لاس وروړلو سره وتړی او د مجلس خیار ختم سو ، منابذه داده چي هر یو خپل کالی هغه بل ته وروغورځوي ، یو د بل کالي ته نه ګوري او دغه غورځول بیع وګڼي ، دا هغه بیعي وې چي د جاهلیت په زمانه کي دوی کولې ، د ډبري غورځولو بیع داده چي څو نکر کولو یا لیدلو او وروسته تر هغه خیار هم نه وي ، له هغه څخه مخکي به حتماً د رانیول سوي شی قیمت معلوموي او پر هغه به سره جوړیږي ، په دې کي فرق نه لري که رانیول سوی شی ټاکل سوی وي که نه ، دغه بیعي له دې کبله منع کړل سوي دي چي په دغو کي نامعلومتیا سته او ملکیت ئې د نامعلومه شي سره وتړی ځکه د هغه معنی داده چي که زما ډبره پر هر کالي ولوېدله هغه مي دربانديرنګه په خرڅ کی یا دي هغه په دومره پیسو راباندي خرڅ کی یا که مي دروغورځوی یا مي لاس وروړی ، دغه رنګه په " الفتح " کي ذکر سوي دي ، له " الدر المختار " او " رد المحتار " څخه . او نبي ﷺ له دغو ټولو بیعو څخه منع کړې ده " مشكاة المصابيح ، باب المنهي عنها من البيوع " وګوره .
(۲) " منحة الخالق على البحر الرائق ٦-٩٥ " وګوره

خرڅ کې (۱) .

س : په شرطو سره بيع فاسدېږي ؟

ج : هو داسي شرط ئې فاسدوي چي سودا ئې غوښتنه نه کوي او نه ورسره مناسب وي او په هغه کي د خرڅونکي يا رانيونکي فائده وي يا د خرڅ سوي شي فائده وي په داسي ډول چي هغه د مستحقوالي اهل وي او په عادت کي دغه شرط نه لګول کيږي او په شريعت کي د هغه رواوالی نه وي ثابت سوی (۲) .

س : ځني هغه شرطونه بيان کړئ چي بيع فاسدوي .

ج : که ئې په دې شرط مريی خرڅ کی چي رانيونکی به ئې ازادوي يابه ئې مدبر کوي يا به ئې مکاتب کوي يا به يوه مياشت د خرڅونکي خدمت کوي يا ئې مينځه په دې شرط

دص ۱۹۱پاته برخه : (۳) په " تنوير الابصار " کي ذکر سوي دي : د کالي يو ګز چي پرې کول ضرر ورته رسوي ، په " الدرالمختار " کي ئې ويلي دي : نو که ئې ورتسليم کی د رانيونکي تر بيع ماتولو مخکي ئې پرې کی بيع بيرته صحيح کيږي او که پرې کولو ضرر نه ورته رسوی لکه کرباس بيع صحيح ده ځکه مانع نسته اه . او په " الهداية " کي ذکر سوي دي : که خرڅونکي يو ګز پرې کی يا ئې تير وکښی مخکي له دې څخه چي رانيونکی بيع ماته کي بيرته صحيح کيږي ځکه فاسدونکی ختم سو اه .

(۱) بيع فاسده ده ځکه خرڅ سوی شی نا معلومه دی ، دغه رنګه بيع فاسده ده که ئې له دوو مريانوڅخه يو مريی خرڅ کی ځرنګه چي په " البحر ٦-٨٣" کي ئې ذکر کړي دي .

(۲) د " البحر ٦-٩٢" مصنف وروسته تر ذکر کولو د دغو شرطو ويلي دي : نو شرط هغه وخت بيع فاسدوي چي دغه پنځه شرطونه موجود وي ، که داسي شرط وو چي سودا ئې غوښتنه کول بيع نه فاسدوي لکه چي داسي شرط کښېږدي چي خرڅ سوی شی تر هغه وخت پوري نه ورتسليموي تر څو چي پيسې قبضوي يا بل داسي شرط ، که داسي شرط وو چي سودا ئې غوښتنه نه کول مګر د هغه صحيح والی په شريعت کي ثابت سوی وو نو هغه حتماً صحيح دی لکه په پيسو کي مده اېښول يا په خرڅ سوي شي کي يا د خيار شرط ، دغه شرطونه بيع نه فاسدوي ، که داسي شرط وو چي په عادت کي وو لکه چي چوټه رانيسي په دې شرط چي خرڅونکی به ئې وربرابروي يا به تسمه ورلګوي هغه روا دی ، که د سودا سره مناسب وو هم بيع نه فاسدوي لکه چي په پيسو کي د ضامن شرط ولګوي که هغه حاضر وو يا نه وو حاضر په دغه وخت کي حاضر سو او د دوی تر جلاکېدو مخکي هغه ضمانت قبول کی اه . ددغه قول (يا په دې کي د خرڅ سوي شی ګټه وي او د مستحق والي اهل وي) مطلب دادی چي انسان وي نو که ئې اهل نه وو لکه چي دا شرط کي چي پر خرڅ سوي حيوان به نه سپرېږي بيع نه فاسدوي ، له " الدر المختار " څخه .

پر خرڅه کړل چي رانيونکی به ئې ام ولد کوي يا ئې کور خرڅ کی په دې شرط چي يو ناکلې مده به خرڅونکی په کښې اوسيږي يا ئې يو شی په دې شرط خرڅ کی چي خرڅونکی به ئې تر يوې مياشتي پوري نه ورتسليموي يا به رانيونکی يو درهم ورکوي يا به يو تحفه ورکوي دغه ټوله شرطونه بيع فاسدوي .

س : په هغه سرې کي تاسي څه واياست چي په دې شرط کالی رانيسي چي خرڅونکی به ئې ورېرې کوي او قميص يا چپنه به ځني ورګنډي يا ئې چوټه په دې شرط رانيول چي خرڅونکی به ئې پر اندازه وربرابروي يا به تسمه پر ګنډي ؟

ج : دغه بيع په دغه صورتو کي فاسده ده (۱).

س : که دوو کسانو سودا سره وکړل او رانيونکي د پيسو لپاره د نوروز يا مهرجان نېټه وټاکل او خرڅونکي قبوله کړل يا ئې د نصاری وو تر روژې پوري نېټه وټاکل يا د يهودو تر روژې ختمولو پوري دغه بيع څه حکم لري ؟

ج : که خرڅونکي او رانيونکي دغه نېټې نه پيژندلې دغه بيع فاسده ده (۲) .

---

(۱) دا هغه قول دی چي قدوري غوره کړی دی ، د " الکنز " مصنف ويلي دي : په دې شرط د چوټي بيع چي خرڅونکی به ئې برابروي يا به تسمه پر ګنډي صحيح ده اه ، د " البحر " مصنف ويلي دي : د قياس په دليل فاسديږي ځکه په دې کي رانيونکي ته ګټه سته او سودا ئې غوښتنه نه کوي ، کومه خبره چي ده ذکر کړې ده د استحسان په دليل سره ده ځکه خلګ يوله بله دغه معامله کوي او له عادت څخه وتل ښکاره تکليف دی ، د کالي ګنډلو شرط له دې څخه جلا دی ځکه په هغه کي عادت نسته نو هغه د قياس پر دليل پاته دي ، د لرګي پر چوټه ميخ لګول داسي دی لکه پر چوټه تسمه لګول څرنګه چي په " فتح القدير " کي ذکر سوي دي ، په " البزازيه " کي ذکر سوي دي : که يو چا کالی يا زړه موزه په دې شرط رانيول چي خرڅونکی به پينه ورته لګوي يا به ئې ورګنډي وروسته به ئې رانيونکي ته ورسپاري صحيح کيږي ځکه په عادت کي دا سته (٦-٩٥) .

(۲) د " البحر " مصنف ويلي دي : يعني بيع نه ده روا ، فاسده ده ځکه نېټه نا معلومه ده او د هغه له کبله په بيع کي جګړه پيدا کيږي ځکه په بيع کي يو له بل سره سختي کيږي مګر که نېټه ورته معلومه وه بيع صحيح ده يا د نصاری تر روژې ماتولو نېټه هغه وخت وټاکل سول چي دوی په روژه شروع وکړل ځکه د ورځو په حساب د دوی روژه معلومه ده نو نامعلوموالی نسته ، نوروز د وړي لمرۍ ورځي ته ويل کيږي ، هغه لمرۍ هغه ورځ ده چي لمر وري ته راځي او مهرجان د ژمي لمرۍ ورځ ده ، هغه لمرۍ هغه ورځ ده چي لمر تلي ته راځي ، دغه رنګه په " السراج الوهاج " کي ذکر سوي دي ، وروسته ئې په " البحر " کي ويلي دي دنصاری وو ئې روژه ذکر کړل او ديهودو ئې دروژې ختمول ذکر ځکه د نصاری وو

س : که ئې د پیسو د اداء کولو نېټه حصاد (لو) (۱) یا دیاس (غوبل) یا قطاف (مېوې پرې کول) یا د حاجیانو راتګ وګرځول بیع صحیح کیږي ؟
ج : په دغه صورتو کي بیع فاسده ده .
س : که ئې دغه نېټې په خپل منځ کي وټاکلې ، وروسته ئې د هغو تر راتلو مخکي ساقطي کړې په دغه صورت کي سودا بیرته صحیح کیږي ؟
ج : هو بیرته صحیح کیږي .
س : د سپي او فهد (د سپي او پړانګ تر منځ یو حیوان دی چي پر بدن ټکي لري) او ځیرونکو حیوانانو بیع روا ده ؟
ج : هو روا ده .
س : د وریښمو د چینجي او عسلو مچمچۍ بیع څه حکم لري ؟
ج : بېله قز (وریښم) څخه د وریښمو د چینجیانو (۲) بیع نه ده روا ، دغه رنګه بېـــله

د ص ۱۹۳ پاته برخه : روژه نامعلومه ده او ختمول ئې معلوم دي او یهود د هغه په عکس سره دي سره له دې که چا د یهودو تر روژې پوري سودا وکړل حکم دغسي دی فرق نه لري نو معنی دده د کلام داسي ده : د نصاری وو تر روژې او روژې ختمېدو پوري او د یهودو تر روژې ختمېدو او روژې پوري ، د یوه په ذکر کولو سره ئې کفایت وکړی اه (٦-٩٦) . شامي په " رد المحتار " کي ویلي دي : په اصل کي نوروز وو عربي سو ، عمر ﷺ دغه کلمه استعمال کړې ده ، کله چي کافرانو د نوروز په ورځ خوشحالي کول هغه وویل : هره ورځ زموږ نوروز دی او مهرجان د میم په زبر او هاء په سکون سره دی په " القهستاني " کي ذکر سوي : هغه دوه قسمه دی یوم عام دی هغه د مني لمړۍ ورځ ده یعني د مهر دمیاشتي شپاړسمه بل خاص دی هغه د هغه میاشتي شپږویشتمه ده اه . زه وایم دغه خبره چي له عمر ﷺ څخه ئې روایت سوی دی علي ﷺ هم ویلې ده ، خطیب په " تاریخ بغداد ۱۳-۳۲٦" کي ذکر کړي دي : نعمان د مرزبان زوی د ثابت پلار د ابوحنیفه رح نیکه علي ﷺ ته د نوروز په ورځ فالوده تحفه کړل ، هغه وویل زموږ هره ورځ نوروز دی او ویل سوي دي چي دغه د مهرجان په ورځ وه هغه وویل : زموږ هره ورځ مهرجان دی .

(۱) حصاد د حاء په زیر یا زور سره د کښت پرې کولو ته ویل کیږي او دیاس دادی چي حیوانان پر وخیژول سي تر څو پروړ سي او دانې څني جلا سي ، قطاف انګور له تاکانو څخه پرې کولو ته ویل کیږي ، المطرزي په " المغرب " کي ویلي دي : دیاس د توري صفا کولو او زنګ لیري کولو ته ویل کیږي ، د فقه علماء چي ئې د دیاسه په معنی کي استعمالوي صحیح دی اه . تر دغو نېټو پوري بیع ځکه نه ده روا چي هغه مخکي او شا ته کیږي نو نېټه معلومه نه سول .

کوارو (د مچمچيانو لپاره له خټو څخه جوړ سوي کورونه چي په هغه کي عسل اچوي) د مچمچيانو (۱) خرڅول.

س: فاسده بيع څه حکم لري؟

ج: که ئې فاسده بيع وکړل او د سودا دواړه طرفونه مال وو او رانيونکي د خرڅونکي په امر سره خرڅ سوی شی قبض کړی رانيونکی د رانيول سوي شي مالك کيږي او د هغه قيمت (چي په بازار کي ئې کوم قيمت دی) پر لازميږي مګر پر هر يوه د شريعت د امر ورلو (۲) لپاره د دغې بيع ماتول واجب دي.

س: پر دوی لازمه وه چي ماته ئې کي مګر نه ئې کړل ماته او رانيونکي دغه مال خرڅ کی بيع ئې چليږي؟

ج: هو بيع ئې چليږي (۳).

س: که يو چا هغه شی چي په فاسده سودا سره ئې رانيولی وو خرڅ کیاو ګټه ئې په کښي وکړل دغه ګټه څه حکم لري؟

ج: دغه ګټه نه ده ورته ښه خيراتول ئې پر لازم دي (٤).

د ص ١٩٤پاته برخه: (۲) د چينجي بيع د ابوحنيفه رح په نزد نه ده روا ځکه هغه له خزندو څخه دی، د ابويوسف رح په نزد که ورېښم په کښي ښکاره سول د هغه په ترځ کي ئې بيع روا ده، د محمد رح په نزد هر رنګه چي وي روا ده ځکه ګټه ځني اخستل کيږي او فتوی د محمد پر قول ده، په "المصباح" کي ذکر سوي دي قز عربي سوې کلمه ده، ليث ويلي دي: هغه ته ويل کيږي چي ابريسم (ورېښم) ځني جوړيږي، له دې کبله ځينو ويلي دي قز او ابريسم داسي دي لکه غنم او اوړه، له "البحر الرائق ٦-٨٥" څخه.

(۱) د ابوحنيفه رح او ابويوسف رح په نزد د مچمچی خرڅول نه دي روا، محمد رح ويلي دي: که محفوظه سوي وي بيع ئې روا ده که څه هم نه خوړل کيږي لکه غاتره او خر، قدوري ذکر کړي دي: کواره چي عسل په کښې وي بيع ئې روا ده، کواره د کاف په پيښ او واو په شد سره د مچمچيانو د عسلو ځای چي له خټو څخه جوړ سوی وي، په "المصباح" کي ذکر سوي دي: کواره په پيښ او بېله شد سره، شد يوه لهجه ده د عسلو ځای په شمع کي، داسي هم ويل سوي دي د مچمچی کور چي عسل په کښې وي، له "البحر الرائق ٦-٨٤" څخه.

(۲) پر هر يوه مخکي له قبض څخه او وروسته تر قبض تر څو چي رانيول سوی شی پر خپل حال د رانيونکي په لاس کي وي د بيع ماتول واجب دي ددې لپاره چي فاسدوالی ختم سي ځکه هغه ګناه ده نو کار ده چي هغه ختمه سي، له "الدر المختار" څخه.

متفرقي مسئلې

س : د " من يزيد بيع " (هغه بيع چې خرڅونكى كوم شى چې دى ئې خرڅوي په يو نرخ سره خلګو ته وړاندې كې كه د هغه رانيونكى پيدا سي بيا ووايي تر دغه په زياتو پيسو ئې څوك غواړي او دغه رنګه) څه حكم لري ؟

ج : د من يزيد بيع پروا نه لري ځكه نبي ﷺ يوه كاسه او شړۍ په دغه توګه خرڅ كړل (۱).

س : پر خرڅونكي لازمه ده چې د من يزيد په بيع كې به هغه شى په آخري نرخ سره خرڅوي ؟

ج : دا نه ده پر لازمه بلكه دى اختيار لري مجبوره نه دى .

س : پر ذميانو (هغه كافران چې په اسلامي هيواد كې د پاچا په اجازه اوسيږي) په سوداوو كې د صحيح والي او فاسدوالي په اعتبار د اسلامي احكامو پاملرنه لازمه ده ؟

ج : دوى په دغه كې د مسلمانانو په شان دي بېله شرابو او سركوزي په خاصه توګه ځكه د دوى دشرابو سودا د مسلمان د انګورو د اوبو د سودا په شان ده او د دوى د سركوزي سودا د مسلمان د پسه د سودا په شان ده .

دص ۱۹۵ پاته برخه : (۳) كه رانيونكي په فاسده بيع سره رانيول سوى شى له خرڅونكي څخه پرته پر بل چا په صحيح پوره بيع سره خرڅ كى يا ئې چا ته وروبخښى او ورتسليم ئې كى يا (هغه مريى وو) ازاد ئې كى يا ئې مكاتب كى يا ئې په صحيح وقف سره وقف كى او له خپل ملكيت څخه ئې وايستى يا ئې ګرو كى يا ئې وصيت په وكى او بيا دى مړ سو په دغو ټولو صورتو كې دغه فاسده بيع وچلېدل او ماتول ئې ممنوع دي ځكه د بنده حق اړه پوري ونيول ، له " الدر المختار " څخه .

(٤) خرڅونكى چې د فاسدې سودا په پيسو كې ګټه وكې هغه ورته ښه ده ، رانيونكي ته د رانيول سوي شي ګټه نه ده ښه نوخرڅونكى دي ئې نه خيراتوي او رانيونكى دي ئې خيراتوي له "البحر الرائق " څخه.

(۱) ابوداود د (كوم شيان چې سوال په كښې روا دى) په باب كې له انس ﷺ څخه روايت كړى دى چې د انصارو يو سړى نبي ﷺ ته راغلى سوال ئې ځني كوى ، نبي ﷺ ورته وويل : ستا په كور كې شى نسته؟ هغه وويل : سته يو شړۍ ده چې د هغه يوه برخه موږ پر خان اچوو يوه ئې غوړوو او يوه كاسه ده چې اوبه په كښې چښو ، نبي ﷺ وويل : دواړه راوړه ، هغه راوړل ، نبي ﷺ په خپل لاس راواخستل او وئې ويل دغه دوه څوك رانيسي ؟ يوه سړي وويل : زه ئې په يوه درهم رانيسم ، نبي ﷺ وويل : تر يوه درهم؟ زيات ئې څوك غواړي ؟ دوه يا درې خله ئې وويل ، يو بل سړي وويل : زه ئې په دوه درهمه اخلم ، هغه ته ئې ورکړل او دوه درهمه ئې واخستل انصاري ته ئې ورکړل (حديث تر پايه پوري) .

مکروه بیعي

الله ﷻ ويلي دي: ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِيْنَ ءَامَنُوْا إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَ ذَرُوْا الْبَيْعَ ﴾ ﴿ ای هغه کسانو چي ایمان مو راوړی دی کله چي د جمعې د ورځي د لمانځه لپاره ناره وسي نو په تلوار سره د الله ذکر ته ولاړ سئ او سودا پرېږدئ ﴾ .

نو دجمعې دلمانځه داذان په وخت کي اوترهغه وروسته بیع ممنوع ده (۱) ترڅـــو چي د

(۱) په مکروه سودا وو کي ئې شروع وکړل ، څرنګه چي مکروه سودا تر فاسدي کښته وه نو وروسته ئې کړل ، د کښته والي څخه مطلب د شرعي منع په اعتبار کښته والی نه دی بلکه په دې کي دی چي سودا نه فاسدېږي ، که نه دا ټوله تحریمي مکروه دي موږ نه پوهیږو چي په ګناه کي به فرق لري ، دغه رنګه په " فتح القدير " کي ذکر سوي دي او په اصل کي ثابته سوې ده چي هر منع کړل سوی شی بد دی .
نجش د نون او جیم په فتحه سره ، د جیم په سکون سره ئې هم روایت سوی دی دادی چي یو شی د هغه له نرخ څخه په زیات سره بیه کې او له خرڅونکي څخه ئې وغواړې مګرته ئې د رانیولو اراده نه لري ددې لپاره چي بل یو تا ووینې او هغه په کښي اخته سي ، په اصل کي د نجش لفظ د ښکار لپاره استعمالیږي یعني هغه له خپل ځای څخه شړل ، د نجش د منع حدیث په صحیحینو کي ذکر سوی دی : نجش مه کوئ ، زموږ ملګرو په هغه کي دا شرط لګولی دی چي هغه شی خپل قیمت ته رسېدلی وي ، که نه وو رسېدلی ممنوع نه دی ځکه د یو مسلمان لپاره ګټه ده او چا ته ضرر نه دی .
دغه خبره (د بل چا پر بیه کولو بیه کول) د حدیث په دلیل سره ده (سړی دي د خپل ورور پر بیه کولو بیه نه کوي او د خپل ورور پر مرکه دي مرکه نه کوي) او له دې کبله هم چي په دغه کي ضرر رسول او خوابدی کول سته ، دا هغه وخت که خرڅونکی او رانیونکی پر یو نرخ سره راضي سوي وه ، که یو بل ته نژدې سوي نه وه پروا نه لري . دغه خبره (د راوړل سوي مال مخ ته وروتل) د هغه حدیث په دلیل سره چي په صحیحینو کي ئې له ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده چي د سپرو کوم چي له بل ځای څخه ښار ته سامان راوړي مخ ته ځوك ورووزي او دا چي ښاري سړی د دباندني لپاره شی خرڅ کي ، د سپرو مخ ته وروتل دوه صورته لري یو دا چي د خوړکي شي رانیونکي د هغه څخه ئې د ښار تر نرخ په کم نرخ سره رانیسي او هغه په نرخ نه وي خبر ، د منع څخه مراد هغه حالت دی چي که ئې ښار والا وو ته ضرر رسوی یا ئې نرخ پر پټ کی ، که دغه دوه شیان نه وه پروا نه لري . په " المغرب " کي ذکر سوي دي : جلب الشئ معنی له یوه ښار څخه ئې بل ښار ته د تجارت لپاره شی راوړی . دغه قول (د ښاري سړي بیع د دباندني لپاره) په دلیل د هغه منع چي مخ کي ذکر سول . څرنګه چي په " الهدایه " کي ذکر سوي دي په دې کي دا شرط دی که د ښار خلك په قحطي کي وه او ده پر دباندني خلکو په ګران قیمت خرڅوی ځکه په دې کي دوی ته ضرر دی ، په " الاختیار " کي ئې داسـي

جمعي د لمانځه څخه فارغه کيږي ، او نبي ﷺ د نجش (د مالك څخه يو شی په زيات قيمت سره غوښتل چي په حقيقت کي ئې دی نه رانيسي ددې لپاره چي بل څوك وغولوي) ، او د بل چا پر بيه بيه کولو او د جلب (کوم سامان چي له دباندي څخه ښار ته راوړل کيږي) مخ ته ورتلو اوددباندني سړي لپاره دښاري سړي خرڅولو څخه منع کړې ده .

فائده

څوك چي د دوو کوچني مريانو مالك سي او يو د بل لپاره محرم قريب (داسي قريب که يو نر بله ښځه وي نکاح ئې سره نا روا وي) وي د خرڅولو په ذريعه ئې جلا کول نه دي روا په دې توګه چي يو پر يوه سړي خرڅ کي بل پر بل ، دغه رنګه که يولوی بل کوچنی وو ، که ئې سره جلا کړل مکروه دي او بيع صحيح ده او که دواړه لوی وه جلا کول ئې پروا نه لري (١) .

د ص ١٩٧ پاته برخه : ترجمه کړې ده چي دباندنی سړی سامان راوړي ، ښاري سړی ئي د هغه څخه ددې لپاره واخلي چي د هغه لپاره ئې تر موجوده نرخ په زيات نرخ خرڅ کي ، پر لمړۍ ترجمه ښاري سړی مالك او خرڅونکی دی او دباندنی سړی رانيونکی دی او پر دوهمه ترجمه ښاري سړی رانيونکی دی او دباندنی سړی د سامان مالك دی ، پر دوهمي ترجمې د حديث آخره حصه ښوونه کوي (خلګ پرېږدئ چي الله ﷻ ځينو ته له نورو څخه رزق ورکي ، له دغه کبله ئې په " المجتبی " کي ويلي دي : دغه ترجمه ډېره صحيح ده ، په " زاد الفقهاء " کي ئې دغه ترجمه ذکر کړې ده ځکه دا د حديث سره ډېره برابره ده ، له " البحر الرائق ٦-١٠٧ " څخه په لنډه توګه ، په " الدرالمختار " کي ئې ويلي دي : نجش په دوو فتحو سره او جيم ساکن کيږي هم دا دی چي نرخ زيات کي او د رانيولو اراده نه لري يا ئې په داسي صفت سره ستايي چي په هغه کي نه وي ددې لپاره چي رواج ئې کي (٤-١٣٢) د شامي پر حاشيه باندي .

(١) په دليل د نبي ﷺ د قول : څوك چي د مور او زوی يا لور په منځ کي جلاوالی وکي الله ﷻ به دده او د خپلو محبوبانو په منځ کي د قيامت په ورځ جلاوالی وکي ، نبي ﷺ علي ﷺ ته دوه مريان وروبخښل چي کوچني او سره وروڼه وه ، بل وخت ئې ورته وويل : مريان څرنګه دي ، هغه وويل : يو مي خرڅ کی ، نبي ﷺ وويل : وئې نيسه وئې نيسه ، په يوه روايت کي راغلي دي : راوئې ګرځوه ، راوئې ګرځوه ، او له دې کبله چي کوچنی د کوچني سره او د لوی سره الفت کوي او لوی فکر پر کوي نو چي يو خرڅ سي د دوی په منځ کي الفت پرې کيږي او د فکر کولو څخه راګرځي او پر کوچني مهرباني پاته کيږي او نبي ﷺ د هغه په هکله د سزا وعده کړې ده ، وروسته وايو چي منع په هغه صورت کي ده چي داسي قرابت وي چي نکاح حراموي نو داسي څوك چي محرم وي او قريب ئې نه وي يا ئې قريب وي او محرم نه وي په دغه

اقاله (بيع ماتول)

س: اقاله څه شی ده او په سپيڅلي شريعت کي ئې څه حکم دی ؟

ج: اقاله د هغه سودا چي خرڅونکي او رانيونکي په خپل منځ کي سره پوره کړې وي ماتولو ته ويل کيږي ، هغه د دوی په رضا سره په لمړني نرخ سره روا ده .

س: که يوه په دوی کي تر لمړي نرخ زيات يا کم شرط کښيښنوی څه حکم لري ؟

ج: دغه شرط باطل دي او د په لمړي نرخ سره سودا ماتيږي .

س: اقاله د لمړي بيع ماتول دي که نوې بيع ده ؟

ج: هغه د ابو حنيفه رح په قول کي د خرڅونکي او رانيونکي په هکله سودا ماتول دي او د نورو په هکله نوې بيع ده (۱) .

س: که پيسې يا خرڅ سوی شی هلاك سو اقاله څه حکم لري ؟

ج: د پيسو هلاکېدل اقاله نه بندوي او د خرڅ سوي شی هلاکېدل اقاله بندوي .

د ص ۱۹۸ پاته برخه : حکم کي نه داخليږي ، له دې کبله ئې د محرم قريب لفظ استعمال کی يعني چي د قرابت په وجه ئې نکاح حرامه وي ، که ئې داسي ترجمه ونه سي د تره زوی چي رضعي ورور ئې وي به کښي داخليږي ځکه هغه قريب دی او محرم دی مګر هغه لره دغه حکم نسته او عام ئې ذکر کړی نو کوچني او لوی دواړه په کښي داخل سول او دا ضروري ده چي دواړه دده په ملکيت کي سره يو ځای وي نو که يو د يوه سړي په ملکيت کي بل د بل سړي په ملکيت کي وو د يوه خرڅول روا دي ' البحر الرائق ۶-۱۰۸' .

(۱) ددې خبري چي د نورو په هکله نوې بيع ده نتيجه په هغه وخت کي ښکاره کيږي که خرڅ سوی شی مځکه وي او شفيع په اصلي بيع کي شفع پرېږدي وروسته خرڅونکی او رانيونکی اقاله وکي او خرڅ سوی شی بيرته د خرڅونکي ملکيت ته راوګرځي شفيع لره د شفع غوښتنه روا ده ځکه دا د نورو کسانو لپاره نوې بيع ده . قدوري د امام رح پر قول اکتفاء وکړل ، د ' البحر ' مصنف د صاحبينو رح قول هم ذکر کړی دی هغه ويلي دي : ابويوسف رح ويلي دي : هغه بيع ده مګر نه که نامکنه وه لکه چي مخ کي تر قبض وي نو فسخ (ماتول) ده مګر نه که نامکنه وه نو باطليږي لکه بيع مځکي تر قبض په منقول شي کي (داسي شی چي له يوه ځای څخه بل ځای ته وړل کيږي) په زيات تر لمړي قيمت يا تر هغه په کم يا په بل جنس سره يا د خرڅ سوي شي تر هلاك وروسته ، محمد رح ويلي دي : هغه فسخ ده مګر نه که نامکنه وه په دې توګه چي مځکي تر قبض په زيات تر لمړي قيمت وي نو باطليږي ، دغه اختلاف په هغه صورت کي دی چي د اقالې په لفظ وسي که د فسخ يا بيرته ورکولو يا پرېښولو په لفظ وسول بيع نه بلل کيږي په ' السراج الوهاج ' کي ذکر سوي دي که د بيع په لفظ وه په اتفاق سره بيع ده (۶-۱۱۲) .

س :كه د خرڅ سوي شي يوه برخه هلاك سول په پاته كي اقاله څه حكم لري ؟
ج : په پاته كي اقاله روا ده .

فائده

كه له سودا كونكو څخه يو پر خپله سودا پښېمانه سو او د خپل ملګري څخه ئې د بيع فسخ كول وغوښتل فسخ كول ئې مستحب دي او په دي كي ډېر ثواب دي (١) .

مرابحه او توليه

س : د فقه د علماوو په اصطلاح كي مرابحه او توليه څه ته وايي ؟
ج : مرابحه د هغه مال چي څوك ئې په اوله سودا مالك سوى وي په لمړي قيمت د ګټي سره خرڅولو ته ويل كيږي او توليه د هغه مال چي څوك ئې په اوله سودا مالك سوى وي په لمړي قيمت بېله ګټي خرڅولو ته ويل كيږي .
س : د مرابحې او توليې د صحيح والي لپاره كوم شرط سته ؟
ج : مرابحه او توليه يوازي په هغه وخت كي صحيح كيږي چي داسي مال وي چي مثل ولري لكه د پېمانې يا تول شى .
س : كه يو سړي د مثال په توګه كالى رانيوى او پرې ئې مينځى خيره ئې ځني ليري كړل يا ئې رنګ وركى يا ئې ګل كاري پر وكړل او په هغه سره د كالي قيمت زيات سو يا ئې خوركي شى رانيوى تر كور پوري ئې په مزدوري بار كى او د بار وړونكي مزدوري ئې وركړل يا ئې د كالي ځنډي په وربښمو يا بل شي واودلې په دغو صورتو كي د مرابحې څه طريقه ده ؟
ج : په دغو صورتو كي مرابحه روا ده مګر داسي به نه وايي چي په دومره مي رانيولى دى بلكه داسي به وايي په دومره راباندي درېدلى دى .
س : كه يو سړي خپل مال په مرابحه سره خرڅ كى او رانيونكي د رشتياويونكي ګمان پر وكى ، وروسته د هغه خيانت ورته څرګند سو څه حكم ئې دى ؟

---

(١) په دليل د هغه حديث چي ابو شريح ﷺ ئې روايت كړى دى چي نبي ﷺ وويل : څوك چي د خپل ورور بيع ور اقاله كي الله ﷻ به د قيامت په ورځ دده خطاوي وروزړوي ، طبراني ئې په " الاوسط " كي روايت كړى دى او راويان ئې ثقات (داسي كسان چي عادلان وي او ياد ئې ټينګ وي) دي " الترغيب د الترهيب ٢-٥٦٧ " .

ج : كه رانيونكي ته د مرابحې په صورت كې خيانت څرګند سو د ابوحنيفه رح په نزد ده لره اختيار سته په ټوله قيمت سره ئې اخلي كه ئې بيرته وركوي .

س : كه د توليې په صورت كې خيانت ورته څرګند سو څه به كوي ؟

ج : د قيمت څخه به هغه قدر كموي څومره چې ده په دې ګمان چې ملګرى مې رښتينى دى زيات وركړى وي .

س : په دغه كې د ابوحنيفه رح او صاحبينو رح په منځ كې اختلاف سته ؟

ج : هو دوى دوه په دغه كې اختلاف لري ، ابويوسف رح ويلي دي : د مرابحې او توليې په صورت كې به د قيمت څخه هغه قدر كموي څومره چې ده زيات وركړى وي په دې ګمان چې ملګرى مې رښتينى دى او د فسخ كولو اختيار نه لري ، محمد رح ويلي دي په دواړو صورتو كې به قيمت نه كموي مګر په دواړو صورتو كې اختيار لري (١) .

متفرقي مسئلې

س : كه يو سړى يو شى رانيوى د هغه تر قبض كولو مخكې ئې خرڅول روا دي ؟

ج : كه ئې داسې شى رانيوى چې نقل كيږي او له يوه ځاى څخه بل ځاى ته وړل كيږي تر قبض كولو مخكې ئې خرڅول نه دي روا ، هغه شى چې نه نقل كيږي ـ هغه مځكه ده ـ د شيخينو رح په نزد ئې رانيونكى مخكې تر قبض خرڅولاى سي ، محمد رح ويلي دي : په مځكه كې هم تر قبض مخ كې خرڅول نه دي روا .

س : تر قبض كولو وروسته پر رانيونكي دوهم ځل پيمانه كول او تلل لازم دي ؟

ج : كه ئې د پيمانې شى په پيمانه سره يا د تول شى په تللو سره رانيوى خرڅول او خوړل ئې تر هغه وخت پورې حرام دي تر څو د پيمانې شي دوهم ځل پيمانه كوي او د تللو شي دوهم ځل تلي (٢) .

---

(١) كه ئې په ټوله قيمت اخلي كه ئې بيرته وركوي .

(٢) په " الدر المختار " كې ئې ويلي دي : كه ئې د پيمانې شى په پيمانه سره رانيوى خرڅول او خوړل ئې حرام دي يعني تحريمي مكروه دي تر څو چې پيمانه كوي ئې ، دوى د هغه فساد په څرګنده توګه ذكر كړى دى ، دغه رنګه د تللو شى په تول سره او د شمېرلو شى په شمېر سره ځكه د زياتوالي امكان سته او هغه د خرڅونكي دى ، په اټكل سره خرڅول ددغه څخه جلا دي ځكه هغه ټوله د رانيونكي دي ، كه خرڅونكي د رانيونكي په حضور كې تر بيع وروسته پيمانه كې هغه كفايت كوي ، تر بيع مخ كې هيڅ كله كفايت نه كوي او تر بيع وروسته چې رانيونكى حاضر نه وي هم كفايت نه كوي نو كه يو شى د يــو

س : که يو سړي يو مال خرڅ کی او پيسې ئې نه کړې قبض ، په پيسو کي تر قبض کولو

د ص ۲۰۱ پاته برخه : سړي په حضور پيمانه سو وروسته ئې رانيوی ، بيا ئې تر پيمانه کولو مخ کي خرڅ کی نه دی روا که څه هم ئې دوهم رانيونکی پيمانه کي ځکه اول رانيونکي نه دی پيمانه کړی نو قبض نه سو حاصل ، که د پيمانې شی يا تللو شی پيسې وې په هغه کي تر قبض کولو مخ کي تصرف روا دی نو تر پيمانه کولو مخ کي په اولی طريقه سره روا دی ، ابن عابدين په خپله حاشيه کي ويلي دي: د رانيولو شرط ئې ورسره کښېښوی ځکه که ئې په بخښنه يا ميراث يا وصيت سره مالك سو تر پيمانه کولو مخ کي تصرف په کښي روا دی . د دغه قول (يعني تحريمي مکروه دی) په هکله داسي وايو : حراموالی ئې په دغه سره ترجمه کی ځکه د منع په هکله حديثونه د اخبار آحاد له قسم څخه دي قطعي حراموالی په هغه سره نه ثابتيږي ، هغه هغه حديث دی چي ابن ماجه ئې د جابر ﷺ څخه روايت کړی دی چي نبي ﷺ د خورکي شي د خرڅولو څخه منع وکړل تر څو چي دوې کاسې په کښي چليږي يوه د خرڅونکي يوه د رانيونکي ، زموږ په قول سره امام مالك او شافعي او احمد قول کړی دی ، کله چي د فقه علماوو د پيمانې شرط په دې وجه سبب وګڼی چي په هغه سره قبض کول پوره کيږي تر پيمانه کولو او تللو مخ کي خورك ته ئې هم د خرڅولو حکم ورکړی ،په دې خبره کي اختلاف نسته چي له حديث څخه هغه صورت مراد دی که سودا په پيمانه کولو سره سوې وه ، که ئې په اټکل سره رانيولی وو تر پيمانه کولو مخ کي تصرف په کښي کولای سي (تر څو چي تر يوې صفحې وروسته ئې بيا ووېل) : ددغـه قول (د خرڅونکي له طرف څخه دده په حضورکي پيمانه کول کفايت کوي) په هکله وايم : په " الخانيه " کي ئې ويلي دي : که ئې د پيمانې شی په پيمانه سره يا د تللو شی په تول سره رانيوی او خرڅونکي د رانيونکي په حضور کي پيمانه کړی امام ابن الفضل ويلي دي : د خرڅونکي پيمانه کول کفايت ورته کوي او مخ کي تر پيمانه کولو تصرف کول ورته روا دي . ددې قول (تر هغه مخ کي هيڅ کله نه اه .) په هکله وايم : يعني که خرڅونکي تر خرڅولو مخ کي پيمانه کی هغه هيڅ کله کفايت نه کوي که څه هم د رانيونکي په حضور سره وي ، دغه رنګه تر خرڅولو وروسته چي رانيونکی حاضر نه وي ځکه تا ته معلومه سول چي پيمانه کول د تسليمولو پوره کول دي او چي رانيونکی حاضر نه وي تسليمېدل نه سي کېدلای . د " الفتح " الفاظ داسي دي : له دغه ځای څخه يوه مسئله پيدا کيږي هغه دا که يو خورکي شی د يو چا په حضور کي پيمانه کړل سو ، وروسته ئې په دغه مجلس کي رانيوی ، بيا ئې په پيمانه سره مخ کي له دې څخه چي دی ئې تر رانيولو وروسته پيمانه کي خرڅ کی دغه بيع نه ده روا که ئې دهغه چا لپاره چي دده څخه ئې رانيولی وي پيمانه کي که نه ځکه کله چي ده وروسته تر رانيولو پيمانه نه کړی قبض ئې نه وکړی نو دغه بيع د داسي شي بيع ده چي ده قبض کړی نه دی نو نه ده روا (٤-١٦٣) ، د " البحر " مصنف د " فتح القدير " څخه نقل کړی دی : په کار ده چي د شمېرلو شي ته چي تفاوت نه لري لکه جوز او هګی چي په شمېر ئې رانيسي هم دغه حکم ورکړل سي ، ابوحنيفه رح په ښکاره روايت کي دغه قول کړی دی نو تر شمېرلو مخ کي ئې بيع فاسده ګڼلې ده (٦-١٢٨) .

مخ کي تصرف ورته روا دی ؟

ج: دغه روا دی .

س: په پيسو يا خرڅ سوي شی کي د بيع تر پوره کېدلو وروسته زياتول روا دي ؟

ج: رانيونکي ته روا ده چي خرڅونکي ته پيسې زياتي کړي لکه چي خرڅونکي ته روا ده چي رانيونکي ته رانيول سوي شي زيات کړي .

س: که خرڅونکي پيسې کمي کړې څه حکم لري ؟

ج: هغه هم روا دی .

س: که رانيونکي پيسې زياتي کړې يا خرڅونکي مال زيات کړی يا ئې پيسې کمي کړې رانيونکی يا خرڅونکی د تېوله مستحق ګرځي ؟

ج: هو د تېوله مستحق ګرځي (۱) .

س: که يو چا په نقدو پيسو شی خرڅ کړی وروسته ئې معلومه نېټه ورته کښېښول څه حکم ئې دی ؟

ج: د هغه په نېټه اېښولو نېټه اېښول صحيح کيږي ، دغه رنګه هر پور چي په حال کي لازم وي که ئې څښتن (۲) نېټه ورته کښېږدي نېټه ئې صحيح کيږي بېله قرض څخه ځکه په هغه کي نېټه اېښول نه صحيح کيږي .

---

(۱) يعني پر کوم چي سودا سوې ده د زيات سوې مقدار سره نو رانيونکی تر هغه وخت پوري د رانيول سوي شي مطالبه نه کوي تر څو زياتي سوي پيسې هم نه کوي او خرڅونکي ته دا سته چي تر څو تېوله پيسې ئې نه وي قبض کړي خرڅ سوی شی د ځان سره وساتي . که د خرڅ سوي شي بل مالك پيدا سو رانيونکي دي له خرڅونکي څخه تېوله مقدار واخلي ، که هغه بل مالك د سودا اجازه وکړل رانيونکی د تېوله مالك ګرځي ، که رانيول سوی شی د عيب يا شرط خيار يا ليدلو خيار له کبله بېرته خرڅونکي ته ورګرځول سو رانيونکی دي له خرڅونکي څخه تېوله واخلي ، په " فتاوی قاضي خان " د شفعې په بيان کي ذکر سوي دي : د خرڅولو وکيل که کور په زر خرڅ کړی وروسته وکيل رانيونکي ته سل ورېرېښولې اېښول ئې صحيح کيږي او کوم مقدار چي ده وربرابښی دی هغه به له خپل طرف څخه هغه چا ته ورکوي چي د خرڅولو امر ئې ورته کړی وي او رانيونکی له سلو څخه خلاصيږي ، په شفع غوښتونکي کور په تېوله پيسو اخلي ځکه د وکيل کمول په اصل سودا پوري نه منښلي اه " البحر الرائق ٦-١٣٢" .

(۲) ځکه پور دده حق دی نو دی ئې ځنډولای سي که د خرڅ سوي شي قيمت وي که بل پور وي د پوروړي اسانی لپاره ته نه ګوري چي له سره ئې ورېرېښولای سي نو تر يو نېټې پوري ئې هم ورېرېښولای سي . لم څوك چي پور پر باندي دی د هغه قبلول ضروري دي نو که هغه نه کړی قبول ځنډول ئې باطليږي پـه

د ربا (يو خاص قسم گټه چي په شريعت كي ممنوع ده) باب

س : ربا په عربي ژبه او شريعت كي څه ته وايي ؟

ج : ربا په عربي ژبه كي عام زياتوالي ته وايي او په سپيڅلي شريعت كي دوو قسمونه وېشل كيږي :

۱ : د بيع ربا .

۲ : د پور ربا ، دواړه حرام دي او د اخستونكي او وركونكي په هكله د عذاب سخته وعده راغلې ده (۱) .

د ص ۲۰۳ پاته برخه : حال كي به ئې وركوي ، دغه رنگه الاسبيجابي ذكر كړي دي ، څنډول په شرط پوري تړل هم صحيح كيږي نو كه د پور څښتن يو چا ته چي زر پور ئې باندي وي ووايي : كه دي صبا پنځه سوه راكړې نوري پنځه سوه تر يوه كاله پوري ستا څخه څنډېدلي دي دغه صحيح كيږي . دغه رنگه په " الذخيره " كي ذكر سوي دي ، د قرض څنډول ځكه نه صحيح كيږي چي هغه په سركي اعاره (د څه وخت لپاره بېله عوض څخه يو شى وركول) او مرسته ده تر داسي چي د اعارې په لفظ سره صحيح كيږي او څوك چي د خيرات اختيار نه لري د هغه قرض نه صحيح كيږي لكه كوچنى يا وصي او په پاى كي په عوض وركول دي نو كه سر ته وكتل سي نېټه وركول ئي لازمي نه دي لكه په اعاره كي ځكه په خيرات كي مجبوريت نسته او كه آخر ته وكتل سي نه صحيح كيږي ځكه د درهمو په درهمو سره په پور سودا ځني جوړيږي او هغه سود دى ، د نيټه وركولو د صحيح والي څخه مطلب لازموالى دى او د نه صحيح والي څخه په قرض كي مطلب نه لازموالى دى " البحر الرائق ٦-١٣٢" .

(۱) الله ﷻ ويـلي دي : ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِيْنَ أَمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا الرِّبَوا أَضْعَافاً مُضَاعَفَةً وَ اتَّقُوْا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ " آل عمران " (اى هغه كسانو چي ايمان مو راوړى دى څو چنده ربا مه خورئ او د الله څخه وېرېږئ ښايي چي تاسي كاميابه سئ) او الله ﷻ ويلي دي ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِيْنَ أَمَنُوْا اتَّقُوْا اللّٰهَ وَ ذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ * فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ وَ إِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوْسُ أَمْوَالِكُمْ لَاتَظْلِمُوْنَ وَ لَاتُظْلَمُوْنَ ﴾ " البقره " (اى هغه كسانو چي ايمان مو راوړى دى د الله څخه وېرېږئ او پاته ربا پرېږدئ كه تاسي مومنان ياست كه مو داسي نه وكړل خبر سئ د الله او د هغه د رسول په جنگ او كه مو توبه وكړل تاسي ته د خپلو مالو سرونه دي نه ظلم كوئ او نه ظلم درباندي كيږي) او نبي ﷺ ويلي دي : د اوو هلاكونكو څخه ځان وساتئ ، دوى وويل : يا رسول الله هغه څه شي دي ؟ نبي ﷺ وويل : د الله ﷻ سره شريك نيول ، جادو ، د هغه انسان وژل چي الله ﷻ ئې وژل حرام كړي دي بېله حق څخه ، د ربا خوړل ، د يتيم د مال خوړل ، د كفارو سره د جنگ په وخت كي تښتېدل او پر پاكو مومنو غافلو ښځو د زنا تهمت ويل ، شيخينو ئې د ابوهريره ﷺ څخه روايت كړى دى او د جابر ﷺ څخه روايت سوى دى ده

س: د قرض ربا څه ته وايي ؟
ج: هغه دا ده چي يو سړی د مثال په توګه چا ته درهمونه يا دينارونه په قرض ورکي او پر قرض اخستونکي دا شرط کښيږدي چي تر هغه مقدار چي ده په قرض ورکړی دی به بيرته زيات ورکوي.
س: د بيع ربا څه ته وايي ؟
ج: هغه دا دی چي د پېمانې يا تللو شی په خپل جنس سره په زياتوب خرڅ کي يا د پېمانې يا تللو شی په خپل جنس يا په بل جنس سره په پور خرڅ کي.
س: په دغه کي د نبي ﷺ څخه کوم حديث سته ؟
ج: ابو سعيد الخدري ﷺ روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل: سره زر (١) په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، اوربشي په اوربشو، خرما په خرما او مالګه په مالګه برابر په برابر لاس په لاس خرڅ کړئ څوك چي زيات ورکي يا زيات وغواړي ربا ئې وکړل اخستونکی او ورکونکی په هغه کي برابر دي (٢). او عباده بن الصامت ﷺ روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل: سره زر په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، اوربشي په اوربشو، خرما په خرما او مالګه په مالګه مثل په مثل، برابر په برابر او لاس په لاس خرڅ کړئ، کله چي دغه قسمونه مختلف سي څرنګه چي مو خوښه وي خرڅ ئې کړئ که لاس په لاس وي (٣).

ص ٢٠٤ پاته برخه: وويل: نبي ﷺ د ربا پر خوړونکي او ورکونکي او ليکونکي او شاهدانو لعنت وواية اوونې ويل دوی برابر دي، (مسلم ئي روايت کړی دی). او عبدالله بن حنظله د ملائکو پرېمنځل سوي روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل د ربا يو درهم چي سړي ته معلوم وي تر شپږدېرش زناوو بد دی، (احمد او الدارقطني ئې روايت کړی دی). او ابوهريره ﷺ روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل: ربا اويا برخي ده اسانه ئې داده چي سړی د خپلي مور سره زنا وکي، (ابن ماجه ئې روايت کړی دی). او انس ﷺ د نبي ﷺ څخه روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل: که په تاسو کي يوه قرض ورکی وزوسته تحفه ورکړل سول يا ئې پر حيوان سپور کی نه دي پر سپريږي او نه دي ئې قبلوي مګر که ددوی په منځ کي دغه شيان مخ کي وه پروا نه لري، (ابن ماجه ئې روايت کړی دی). او امام بخاري د ابوبرده ﷺ څخه روايت کړی دی چي عبدالله بن سلام وويل: ته په داسي مځکه کي يې چي هلته ربا ډېره ده. که ستا پر يو سړي حق وو، د پروړو بار درته تحفه سو يا د اوربشو يا وښو مه ئې اخله ځکه دا ربا ده
(١) د امر لفظ حذف سوی دی يعني خرڅ کړئ سره زر (حديث تر پايه پوري)
(٢)(٣) مسلم ئې په خپل صحيح کي روايت کړی دی

پښتو

نبي ﷺ دغه شپږ شيان ذكر كړي دي او امر ئې كړى دى چي دغه شيان ځيني په ځ
سره په خپل جنس سره يوازي په هغه وخت كي خرڅوئ چي مثل په مثل برابر په برا
لاس په لاس وي او دا ئې بيان كړى چي زيات كه له هر طرف څخه وي ربا ده او دا
ويلي دي : اخستونكى او وركونكى دواړه په هغه كي برابر دي او د دغو شيانو بيع
يو په بل سره په مخالف جنس سره په برابري او په زياتوب روا كړې ده په دې شرط چ
لاس په لاس وي . ابوحنيفه رح د دغو شپږو شيانو له يادولو څخه دا خبره معلومه كړې د
چي د ربـا په پيداكېدو كي سبب پېمانه سره د جنس يا تول سره د جنس دى ځكه دغ
شيان يا د پېمانې شيان دي يا د تول شيان دي ، كه دپېمانې شى په خپل جنس سره يا
تول شى په خپل جنس سره كه څه هم له دغو شيانو پرته نور شيان وي برابر په برابر خر
سي بيع روا ده ، كه ئې له يوه طرف څخه زياتوب وكى نه ده روا او كه ئې جنس مختلف
وو زياتوب روا دى او پور نه دى روا ، كه له دواړو صفتو څخه ـــ يو جنس والى او
پېمانه كېدل يا تلل كېدل ـــ يو صفت هم نه وو زياتوالى او پور دواړه روادي (۱). ك
دواړه صفتونه موجود وه زياتوالى او پور دواړه حرام دي اوكه يو پيدا سو زياتوالى
حلال دى او پور حرام دى (۲) .

س : كه له يوه طرف څخه ښه غنم وه له بل طرف څخه بې كاره غنم وه زياتوب په كښې
روا دى ؟

ج : په دغه صورت كي زياتوب نه دى روا ځكه جنس ئې يو دى ، دغه رنګه حـكم دى د
پېمانې او تول په ټولو شيانو كي (۳) .

---

(۱) يعني كله چي له دغو دوو صفتو (يوجنس والى او پېمانه كېدل يا تلل كېدل) څخه يو هم نه وي
زياتوالى او پور دواړه روا دي نو د يوه هراتي كالي په دوو مروي كالو سره خرڅول په پور روا دي او جوز
په هګۍ سره په پور خرڅول روا دي ځكه د حراموالي سبب نسته " البحر الرائق ٦-١٤٠ " .
(۲) هغه دوه صورته لري يو دا چي غنم په اوربشو په زياتوالي خرڅ كي روا دي نه په پور سره ، دوهم دا
چي د مرو يو كالى د مرو په دوو كاليو په حضور سره خرڅ كي روا دي اوكه ئې يو مريى په دوو مريانو
په نېټه خرڅ كى نه دى روا ځكه جنس ئې يو دى " البحر الرائق ٦-١٣٩" ، او مسلم روايت كړى دى چي
نبي ﷺ يو مريى په دوو تورو مريانو رانيوى .
(۳) په دغه كي دليل هغه حديث دى چي ابوسعيد الخدري ﷺ ئې روايت كړى دى هغه وويـــل : بلال ﷺ

س : څرنګه معلومیږي چي دغه شی د پیمانې دی یا د تول دی ؟
ج : هر شی چي نبي ﷺ په پیمانه کولو کي د هغه زیاتوالی حرام کړی وي هغه تېوله عمر د پیمانې شی دی که څه هم خلګ په هغه کي پیمانه پرېږدي لکه غنم ، اوربشي ، خرما او مالګه او هر شی چي نبي ﷺ په تول کي د هغه زیاتوب حرام کړی وي هغه تېوله عمر د تول شی دی که څه هم خلګ په هغه کي تول پرېږدي لکه سره زر او سپین زر او کوم شی چي نبي ﷺ هغه نه وي ذکر کړی په هغه کي د خلګو عادت ته کتل کیږي نو کله چي سودا کوي عادت معتبریږي ، په کوم شي کي چي خلګ په تول سره سودا کوي هغه د تول شی دی او په کوم شی کي چي خلګ په پیمانه سره سودا کوي هغه د پیمانې شی دی او په کوم شی کي چي خلګ په شمېر سودا کوي هغه د شمېر شی دی .
س : په سودا وو کي تقابض (له دواړو طرفو څخه قبضول) څه حکم لري ؟
ج : که په پیسو یعني سرو زرو او سپینو زرو کي سودا وسول په داغه مجلس کي د دواړو عوضو قبض کول لازمي دي ، دغه ته د صرف بیع ویل کیږي . پرته له پیسو نور شیان چي ربا په کښي کیږي په هغو کي یوازي معلومول معتبر دي تقابض شرط نه دی .
س : د غنمو بیع د هغو په اوړو یا د هغو په سویق (میده اوړه) سره او د اوړو بیع په سویق سره رواده ؟
ج : دغه بیعي نه دي روا نه په زیاتوب سره نه په برابري سره .
س : د ابوحنیفه رح په نزد دغوښو خرڅول په حیوان سره څه حکم لري ؟
ج : دغه بیع روا ده .
س : صاحبین رح په دغه کي څه وایي ؟
ج : ابویوسف رح د خپل شیخ سره اتفاق کړی دی او محمد رح ویلي دي دغه بیع نه ده روا تر څو چي غوښي تر هغه غوښو ډېري وي چي په حیوان کي وي ددې لپاره چي غوښي د غوښو په مقابل کي سي او زیاتي غوښي د نورو شیانو په مقابل کي سي .

د ص ۲۰٦ پاته برخه : نبي ﷺ ته برني خرما راوړل ، نبي ﷺ ورته وویل : دا له کوم ځای څخه وه ؟ هغه وویل : زموږ سره بې کاره خرما وه د هغه دوې کاسې مي په یوه کاسه خرڅي کړې ، نبي ﷺ ورته وویل دا عین ربا ده داسي مه کوه مګر کله چي ته دغه خرما رانیول غواړې خرما په بله سودا خرڅه که وروسته دغه خرما په رانیسه ، (بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی) .

س : که رطب (تازه خرما) په تمر (وچه خرما) برابر په برابر خرڅه سي يا انګور په وشکو په دغه توګه خرڅ سي ابوحنيفه رح څه وايي ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد دغه دوړ بيعي روا دي ځکه جنس ئې يو دی او صاحبينو رح ويلي دي دغه نه دي روا .

س : که ئې زيتون د زيتون په غوړو خرڅ کړل يا ئې کنجتي د کنجتو په غوړو خرڅي کړې دغه بيع صحيح کيږي ؟

ج : دغه بيع نه ده روا مګر هغه وخت روا ده که د زيتون غوړي تر هغه غوړو ډېر وه چي په زيتون کي وي او د کنجتو غوړي تر هغه غوړو ډېر وه چي په کنجتو کي وي نو غوړي به د غوړو په مقابل کي سي او زياتوب به د تلپ په مقابل کي سي .

س : د مختلفو غوښو يو په بل سره په زياتوب سره خرڅول روا دي ؟

ج : هو دغه روا دي .

س : که ئې د اوښي او غوا او ميږي يا بزې شيدي ځيني په ځينو سره په زياتوب سره خرڅي کړې څه حکم لري ؟

ج : دا هم روا دي (۱) .

س : که ئې د دقل (يو بې کاره قسم خرما ده) سرکه د انګورو په سرکه سره په زياتوب خرڅه کړل څه حکم لري ؟

ج : دا هم روا ده .

س : که څوك د غنمو ډوډۍ په غنمو يا په اوړو په زياتوب خرڅه کي څه حکم لري ؟

ج : هغه هم روا ده .

س : که يو سړي خپل مريي ته د سوداګرۍ اجازه وکړل ، وروسته ئې له هغه څخه يو شی رانيوی او د ربا سودا ئې ورسره وکړل څه حکم لري ؟

ج : د بادار او مريي تر منځ ربا نسته نو دغه سودا روا ده ځکه مريی او کوم شيان چي دده په لاس کي وي د بادار ملکيت دی .

س : که يو مسلمان په کفري هيواد کي د حربي کافر (هغه کافر چي په کفري هيـواد کي

---

(۱) ځکه دا د داسي حيوانانو څخه حاصلي سوي دي چي هغه مختلف جنسونه دي نو دوی هم مختلف جنسـونه بلل کيږي . له " الجوهره النيره " څخه .

اوسيږي) سره د ربا سودا وکړل په هغه کي څه حکم دی ؟

ج: په کفري هيواد کي د مسلمان او حربي کافر تر منځ ربا نسته .

د صرف بيع

س: د صرف بيع څه ته وايي ؟

ج: که د بيع دواړه طرفونه د پيسو له جنس څخه وه يعني سره زر او سپين زر هغه ته د فقه علماوو په نزد د صرف بيع ويل کيږي .

س: د سپينو زرو په سپينو زرو او د سرو زرو خرڅول په سرو زرو څه حکم لري ؟

ج: دغه بيع يوازي په هغه وخت کي روا ده چي دواړه سره برابر او لاس په لاس وي څرنګه چي د ربا په بيان کي ئې ذکر وسو .

س: که دوه قسمه د سرو زرو يا دوه قسمه د سپينو زرو په ښه والي او جوړېدو کي سره مختلف وه يو په بل خرڅولو کي ئې زياتوالی روا دی ؟

ج: نه دی روا ځکه ښه والی او جوړ د صرف په بيع کي اعتبار نه لري .

س: که څوك سره زر په سپينو زرو يا سپين زر په سرو زرو خرڅ کي تاسي څه په کښي واياست ؟

ج: که جنسونه سره مختلف وه زياتوب په کښي روا دی او د سودا په مجلس کي تقابض واجب دی .

س: که د صرف په بيع کي د دواړو عوضو يا يوه عوض تر قبض کولو مخ کي خرڅونکی او رانيونکی سره جلا سول څه حکم ئې دی ؟

ج: په دغه صورت کي سودا باطليږي .

س: د صرف د بيع په پيسو کي تر قبض کولو مخ کي تصرف روا دی ؟

ج: نه دی روا .

س: که يو سړي سره زر په سپينو زرو په اټکل سره خرڅ کړل څه حکم لري ؟

ج: دغه بيع روا ده ځکه جنس ئې سره مختلف دی او برابري شرط نه ده مګر تر جلاکېدو مخ کي د دواړو عوضو قبض کول واجب دي .

س: که يو چا زيورناکه توره د سپينو زرو په سل درهمه خرڅه کړل او زيور ئې د سپينو زرو پنځوس درهمه وو ، د قيمت پنځوس درهمه ئې ورکړل او پاته ئې پور وګرځوی د دغه بيع څه حکم دی ؟

ج : دغه بيع روا ده ، قبض سوي پيسې د سپينو زرو عوض ګرځي كه څه هم بيان نې
كي او پاته پيسې تر هغه نښتې پوري كيږي كومه چي دوی سره تاكلې ده .
س : كه ئې ورته وويل : دتوري له قيمت څخه دغه پنځوس واخله څه حكم ئې دی ؟
ج : دغه هم روا ده .
س : كه تر قبض كولو مخ كي سره جلا سول تاسي څه په كښي واياست ؟
ج : كه زيور بېله نقصان څخه نه ځني جلا كېدی په توره او زيور دواړو كي سو
باطليږي او كه بېله نقصان څخه ځني جلا كېدلای سوای په توره كي بيع روا ده او
زيور كي باطله ده .
س : كه ئې د سپينو زرو لوښی په سپينو زرو يا سرو زرو خرڅ كی ، يو څه پيسې ئې
قبض كړې او سره جلا سول دغه بيع څه حكم لري ؟
ج : په هغه قدر كي چي نه ئې دي قبض كړي سودا باطليږي او په هغه قدر كي چي قبض
كړي ئې دي صحيح كيږي او لوښی د دوی په منځ كي مشترك كيږي .
س : كه دا څرګنده سول چي د لوښي يوه برخه د بل چا ده او د هغه يو څه پيسې ئې
وركړې وې رانيونكی به څه كوي ؟
ج : رانيونكي ته اختيار سته پاته برخه د هغه د قيمت په برخه اخلي كه بيع ماتوي .
س : كه ئې د سپينو زرو ټكړه خرڅه كړل ، د هغه د يوې برخي بل مالك پيدا سو په دغه
صورت كي هم رانيونكي ته اختيار سته ؟
ج : په دغه صورت كي اختيار نسته بلكه پاته برخه به د هغې دقيمت په حصه سره اخلي
س : كه دوه درهمه اويو دينار په دوو دينارو اويوه درهم خرڅ كي دغه بيع څه حكم لري ؟
ج : دغه بيع روا ده او هر جنس د هغه بل جنس عوض ګرځول كيږي .
س : كه ئې يوولس درهمه په لس درهمه او يوه دينار خرڅ كړل دغه بيع څه حكم لري ؟
ج : دغه هم روا ده او لس درهمه د لسو درهمو په مقابل كي او يو درهم د يوه دينار په
مقابل كي ګرځول كيږي .
س : كه ئې دوه صحيح درهمه او يو كوټه درهم په يوه صحيح درهم او دوو كوټه درهمو
خرڅ كړل دغه بيع صحيح كيږي ؟
ج : هو دغه بيع صحيح او روا ده .

س : كه د سپينو زرو په درهمو يا د سرو زرو په دينارو كي كوټ ګډ وه په خپل جنس سره ئې په زياتوالي خرخول څه حكم لري ؟

ج : كه په درهمو كي سپين زر ډېر وه هغه د سپينو زرو حكم لري او كه په دنانيرو كي سره زر ډېر وه هغه د سرو زرو حكم لري نو په هر يوه كي د زياتوب حراموالې د ښو درهمو او دينارو په شان دى او كه ئې كوټ ډېر وه د درهمو او دينارو حكم نه لري بلكه د سامان حكم لري نو كه په خپل جنس سره په زياتوب خرڅ سول بيع روا ده په دې توګه چي يو جنس د هغه د مخالف په مقابل كي ګرځول كيږي (١) .

س : كه يو سړي په داسي دينارو سره چي كوټ ورسره ګډ وه يا داسي درهمو سره چي كوټ ورسره ګډ وه سامان رانيوى ، مخ كي له دې څخه چي خرڅونكى پيسې قبض كړي هغه كوټه سوې خلګو په هغه سره سودا كول پرېښول څه حكم لري ؟

ج : په دغه صورت كي د ابوحنيفه رح په نزد بيع باطله ده ، ابويوسف رح ويلي دي : د بيع په ورځ چي هغو خومره قيمت درلودى پر رانيونكي هغه لازميږي . محمد رح ويلي دي : د چلېدو په آخري ورځ چي ئې خومره قيمت وي هغه پر لازميږي .

س : په فلوسو (ببله سپينو او سرو زرو نوري پيسې) سره ببله معلومولو بيع روا ده ؟

ج : په چلېدونكو فلوسو سره كه څه هم معلومي نه سي بيع روا ده ، كه كوټه وې تر څو چي معلومي ئې نه كي بيع نه ده په روا .

س : كه ئې په چلېدونكو فلوسو سره شى خرڅ كى وروسته مخ كي له دې څخه چي خرڅونكى ئې قبض كي كوټه سوې دغه بيع څه حكم لري ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد دغه بيع باطليږي ، د صاحبينو رح په دغه مسئله كي اختلاف داسي دى لكه په مخكنۍ مسئله كي اختلاف (٢) .

---

(١) په دې توګه چي د هريوه سپين زرد هغه بل د كوټ په مقابل كي ګرځول كيږي اوترجلاكېدو مخ كي تقابض شرط دى ځكه يوه برخه ئې صرف بيع ده ځكه په دواړوطرفو كي سپين زريا سره زرسته په كوټ كي هم تقابض شرط دى ځكه هغه ببله نقصان څخه نه ځني جلاكيږي "رد المحتار" له "البحر" څخه .

(٢) يعني په هغه صورت كي چي په داسي دينارو يا درهمو سودا وكي چي كوټ ورسره ګډ وي وروسته كوټه سي ، د ابويوسف رح په نزد پر رانيونكي د هغه.ورځي قيمت لازميږي چي دوى سودا كړې ده او د محمد رح په نزد د هغه ورځي قيمت پر لازميږي چي كوټه سوي دي ، شامي په " رد المحتار ٤-٢٤١" كي د "الذخيره" څخه نقل كړى دى چي فتوى د ابويوسف رح پر قول ده .

س : که يو چا يو شی په نيم درهم فلوسو (۱) رانيوی دغه بيع روا ده ؟

ج : دغه بيع روا ده او پر هغه دومره فلوس لازم دي چي په نيم درهم رانيول کيږي .

س : که يو چا صراف ته يو درهم ورکی او ورته وئې ويل : په نيم درهم فلوس راکه او په نيم درهم نيم درهم بېله يوې دانې څخه راکه دغه بيع څه حکم لري ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد دغه بيع په ټولو کي فاسده ده او صاحبينو رح ويلي دي : په فلوسو کي روا ده او په نور کي باطله ده .

س : که ئې داسي ورته وويل : نيم درهم فلوس او نيم درهم بېله يوې دانې څخه راکه څه حکم لري ؟

ج : دغه بيع روا ده (۲) .

س : که ئې داسي ورته وويل : يو کوچنی درهم راکه چي وزن ئې نيم درهم بېله يوې دانې وي او نور فلوس راکه دغه بيع روا ده ؟

ج : په دغه صورت کي هم بيع روا ده او نيم بېله يوې دانې د کوچني درهم په مقابل کي کيږي او نور د فلوسو په مقابل کي کيږي .

د سلم بيع

س : داسي بيع سته چي له دواړو طرفو څخه قبض کول په کښي شرط نه وي ؟

ج : هو د سلم بيع ده ، هغه په نقدو سره د پور سودا ده ، هغه روا ده سره له دې چي په هغه کي رانيونکی مال تر يوي ټاکل سوي نېټې وروسته قبض کوي .

س : يو عام قانون بيان کړئ چي د سلم د جواز او نه جواز صورتونه په څرګند سي .

ج : هر مال چي د صفت او مقدار معلومول ئې ممکن وي سلم په کښي روا دی او کوم مال چي د صفت يا مقدار معلومول ئې ممکن نه وي سلم نه دی په کښي روا .

س : هغه جنسونه بيان کړئ چي سلم په کښي روا دی .

ج : داسي شيان چي پېمانه کيږي يا تلل کيږي يا ګزيږي يا شمېرل کيږي په دې شرط چي دانې ئې يو له بل سره فرق نه ولري لکه جوز او هګۍ سلم په کښي روا دی ، نو په

---

(۱) يعني په دومرو فلوسو ئې شی رانيوی چي قيمت ئې نيم درهم وو .

(۲) ځکه يو درهم ئې په مقابل کي د دومرو فلوسو چي په نيم درهم رانيول کيږي او نيم درهم بېله يوې دانې وګرځوی نو نيم درهم بېله يوې دانې دځېل مثل په مقابل کي سو او نور د فلوسو په مقابل کي سو .

حیوان او د هغه په اندامو کي نه دی روا ، دغه رنګه په پوستو کي په شمېر سره ، په لړګو کي په پلنډو سره او په شپشتو کي په بنډلو سره روا نه دی (۱) .

س : ددغي بیع د صحت لپاره شرطونه سته ؟

ج : د هغه د صحت لپاره د ابو حنیفه رح په نزد اوه شرطونه سته چي په سودا کي یادیږي او هغه په لاندي توګه دي :

۱ : معلوم جنس .

۲ : معلوم قسم .

۳ : معلوم صفت .

٤ : معلوم مقدار .

٥ : د راس المال (هغه مال چي د سلم په سودا کي نقد ورکول کیږي) د مقدار معلومول که د هغه پر مقدارسودا سوې وه لکه د پېمانې یا تللو یا شمیرلو مال .

٦ : د ځای یادول په کوم کي چي مال ورسپاري که د بارولو او ستونځي مال وو .

۷ : یوازي په هغه صورت کي صحیح کیږي چي نښته ولري اونښته ئې معلومه وي.

س : د ابو حنیفه رح او صاحبینو رح په دغو مسئلو کي اختلاف سته ؟

ج : هو دوی په ځینو شرطو کي مخالفت ورسره کړی دی او دا ئې ویلي دي که راس المال معلوم وو یادولو ته ئې ضرورت نسته نه د تسلیمولو د ځای یادولو ته ضرورت سته ، د سودا په ځای کي به ئې ورتسلیموي .

س : په کالو کي سلم روا دی ؟

ج : هو روا دی چي طول ، عرض او پنډوالی (۲) ئې یاد کړل سي او صفت جنس او قسم ئې بیان سي .

س : په جواهرو او مریو کي سلم روا دی ؟

---

(۱) ځکه پلنډي او بنډلونه فرق سره لري مګر که معلوم وه په دې توګه چي کومه رسۍ چي پلنډه په تړي د هغه اوږدوالی بیان کړي چي یوه لویشت یا یو ګز ده او په دغه طریقه کي ئې تفاوت نه سره کوی سلم په کښې روا دی . له " هدایې " ځخه .

(۲) ځکه په دغه صورت کي له جګړې ځخه ساتل کیږي ، که د ورېښمو په کالي کي وو د وزن یادول ئې هم ضروري دي ځکه هغه په کښې مقصود دی . له " الجوهره النیره " ځخه .

ج : په هغو کي سلم نه دی روا .
س : د اومو خښتو او پخو خښتو په سلم کي تاسي څه واياست ؟
ج : كه معلوم قالب ياد کړل سو سلم په کښي روا دی .
س : خرڅونکی خو مسلم فيه (هغه مال چي د سلم په سودا کي په پور وي) د نېټې راتلو په وخت کي ورسپاري پيسې به کله اخلي ؟
ج : خرڅونکی به د سودا په مجلس کي د رانيونکي تر جلاکېدو مخ کي پيسې اخلي ، بېله دغه سلم نه صحيح کيږي .
س : كه ئې د سلم سودا سره وکړل ، وروسته خرڅونکي وغوښتل چي په راس المال کي تصرف وکي يا رانيونکي وغوښتل چي په مسلم فيه کي تصرف وکي څه حکم لري ؟
ج : نه په راس المال کي نه په مسلم فيه کي تر قبض کولو مخ کي تصرف روا دی ، له دې څخه دا مسئله هم راوزي چي د مسلم فيه تر قبض کولو مخ کي شراکت او د توليې سودا نه ده روا .
س : د دغي سودا لپاره څيني نور شرطونه پاته سول چي نه دي ذکر سوې ؟
ج : هو د فقه علماوو د نوموړو شرطونه څخه پرته يو بل زائد شرط هم ذکر کړی دی ، هغه دا دی چي مسلم فيه به د سودا له وخت څخه د نېټې تر راتلو پوري موجود وي (۱) .
س : که ئې د يو خاص سړي په پېمانه سره يا د يو خاص سړي په گز سره سلم وکړی دغه سلم صحيح کيږي ؟
ج : نه صحيح کيږي .
س : که ئې د يو خاص کلي په خوركي شي کي سلم وکی يا ئې د خرما د يوې خاصي ونې په مېوه کي سلم وکړی تاسي څه په کښي واياست ؟
ج : دا هم نه صحيح کيږي .

---

(۱) يعني له بازار څخه به نه ختميږي .

د رهن (ګروي) کتاب

رهن په عربي ژبه او اصطلاح کي څه ته وايي ؟
رهن په عربي ژبه کي د يو شی بندولو ته ويل کيږي په هر سبب چي وي او د شريعت
هغه په عربي ژبه اصطلاح کي په داسي حق سره د يو شي بندول چي اخيستل ئې له هغه څخه ممکن
وي.

رهن څرنګه کيږي او کله پوره کيږي ؟
رهن په ايجاب (د ګرو ورکونکي يا ګرو اخيستونکي د ګروي په هکله لمړی خبره)
او قبول (د ګرو ورکونکي يا ګرو اخيستونکي له خوا څخه د خپل ملګري خبره قبلول)
سره کيږي اودګرو اخيستونکی له خوا څخه د ګرو په قبض کولو رهن پوره کيږي . کله
چي ګرو اخيستونکی په داسي توګه ګرو قبض کړي چي دده په تصرف کي راسي . دده
لپاره فارغه او جلا سي سودا پوره کيږي .
که ايجاب او قبول وسي او ګرو اخيستونکی ګرو قبض نه کړي څه حکم ئې دی ؟
ترڅو چي ګرو اخيستونکی ګرو قبض نه کړي ګرو ورکونکي لره اختيار سته چي
تسليموي ئې يا له رهن څخه رجوع کوي ، کله چي ګرو ورکونکی ګرو ورتسليم کي او
واخيستونکی ئې قبض کړي د ګرو اخيستونکي په ضمان (تاوان) کي داخليږي .
رهن په شريعت کي د څه لپاره راغلی دی ؟
د ټينګوالي او پور اخيستلو لپاره راغلی دی تر څو چي د پور ورکونکي حق و نه
ځي نو رهن يوازي د داسي پور لپاره صحيح کيږي چي پر پوروړي ئې تاوان وي .
که ګرو اخيستونکي ګرو قبض کړی اودده په لاس کي هلاك سو تاوان ئې پرچا دی ؟
مورږ دا خبره بيان کړل چي کله ګرو اخيستونکی ګرو قبض کړي دده په تاوان کي
داخليږي او د فقه علماوو ذکر کړي دي چي د هغه له قيمت او پور څخه چي هر يو کم
وي د هغه تاوان پر لازميږي .
د ددې قول (د ګرو له قيمت او پور څخه چي کوم يو کم وي د هغه تاوان پر لازميږي)
مطلب دی ؟
د ددې معنی په لاندي تفصيل سره څرګنديږي :

که ګرو د ګرو اخیستونکي په لاس کي هلاك سو او دهغه قیمت او پور سره برابر وه د شریعت په حکم کي ګرو اخیستونکي ته خپل پور ورسېدی ، که ئې قیمت تر پور کم وو د هغه د قیمت په مقدار پور ساقط سو او زائد قدر یعني پاته پور دي ګرو اخیستونکی له ګرو ورکونکي څخه واخلي او که د ګرو قیمت له پور څخه زیات وو او د ګرو اخیستونکي په لاس کي هلاك سو له پور څخه زیات مقدار د امانت حکم لري او د امانتواحکام پر جاري کیږي نو کله چي دغه ګرو د ګرو اخیستونکي په لاس کي هلاك سي د زائد مقدار تاوان نه پر لازمیږي ځکه د امانتو تاوان نه لازمیږي ساقطیږي ځکه له ګرو څخه هغه مقدار چي د پور په مقابل کي دی د ګرو اخیستونکي په لاس کي هلاك سو .

س : تاسي دا خبره ذکر کړل چي رهن هغه وخت پوره کیږي چي ګرو اخیستونکی په داسي توګه ګرو قبض کي چي دده په تصرف کي سي او فارغه او جلا سي ، دغه تکي کومي فائدې لري ؟

ج : په دغه شرط سره هر هغه ګرو وزي چي داسي نه وي نو د داسي مال رهن چي د بل مال سره ګډ وي او بېله ونو د خرما د ونو پر سرو د خرما رهن او بېله مځکي د مځکي د کښت رهن او بېله مېوې د خرما د ونو رهن او بېله کښت د مځکي رهن دغه ټوله قسمونه د رهن نه دي روا .

س : په امانتو سره لکه ودیعت (هغه مال چي یو څوك ئې بل چا ته د ساتلو لپاره کښېږدي) او عاریت (هغه مال چي یو څوك ئې بل چا ته بېله عوض څخه د استفادې لپاره ورکي) ګرو صحیح کیږي ؟

ج : په دغو شیانو سره رهن نه صحیح کیږي ځکه په هلاك سره د هغو تاوان نه لازمیږي .

س : د مضاربتو او شراکتو په راس المال سره رهن صحیح کیږي ؟

ج : د مضاربت او شراکت په مال سره رهن نه صحیح کیږي .

س : د سلم په راس المال او صرف په پیسو او مسلم فیه سره رهن صحیح کیږي ؟

ج : په دغو عوضو سره رهن صحیح کیږي .

س : د سلم یا صرف سودا ئې سره وکړل او ګرو اخیستونکي ګرو قبض کړی او د سودا په مجلس کي هلاك سو څه حکم لري ؟

ج : صرف او سلم پوره سول او د شريعت په حكم كي ګرو اخيستونكي ته خپل حق ورسېدی .
س : پر ګرو ئي سودا سره وكړل او پر دې ئې اتفاق وكړی چي ګرو د يو عادل سړي سره كښېږدي دا پروا لري ؟
ج : پروا نه لري .
س : پر دې خبره سره راضي سول چي ګرو د يو عادل سړي سره كښېږدي له دوی دوو څخه يوه ته دا روا ده چي د هغه عادل څخه ئې واخلي ؟
ج : نه ګرو وركونكي ته دا روا ده نه ګرو اخيستونكي ته .
س : كه د عادل سړي په لاس كي ګرو هلاك سو تاوان پر چا كيږي ؟
ج : دغه تاوان پر ګرو اخيستونكي دی ځكه دده په تاوان كي هلاك سو او په دغه وخت كي ګرو اخيستونكي ته خپل حق ورسېدی ځرنګه چي ګرو خپله د ګرواخيستونكي سره وي .
س : د درهمو او دينارو او هغه شی چي پېمانه كيږي يا تلل كيږي په ګرو كي تاسي څه واياست ؟
ج : د دغو شيانو رهن روا دی ، كه په خپل جنس سره ګرو سوي وه هغه قدر پور ساقطيږي كه څه هم په ښه والي او جوړ كي سره مختلف وي .
س : كه د يو چا پر بل چا پور باندي وو ، په هغه مقدار سره ئې پيسې ځني واخستلې او خرڅي ئې كړې وروسته خبر سو چي كوټه وې څه حكم لري ؟
ج : د ابو حنيفه رح په نزد ده لره هيڅ شی نسته ، كومي پيسې چي ده واخستلې او خرڅي ئې كړي په هغه سره خپل حق وروړسېدی او صاحبينو رح ويلي دي : د هغه پيسو په برابر دي كوټه پيسې بيرته وركړي او صحيح پيسې دي ځني واخلي .
س : دوه مړيان ئې په زر ګرو كړل ، وروسته ئې د يوه د حصې پور اداء كړی دا ورته روا ده چي هغه مړيی قبض كړي د كوم چي ئې د پور حصه اداء كړې ده ؟
ج : دا نه ده ورته روا چي يو قبض كي تر څو چي پاته پور اداء كوي بيا دي دواړه يو ځای واخلي .
س : كه ګرو وركونكي ګرو اخيستونكی يا عادل سړی يا بل څوك په دې امر كی چي د پور د نېټې د راتلو په وخت كي ګرو خرڅ كي دغه وكالت څه حكم لري ؟
ج : دغه وكالت روا دی .

س : كه د رهن په سودا كي دغه وكالت شرط سو ګرو وركونكي ته د وكيل معزول كول (له وكالت څخه ايستل) روا دي ؟
ج : دا نه سي كولاى ، كه ئې معزول كى نه معزول كيږي .
س : كه د رهن په سودا كي وكالت شرط سوى وو او ګرو وركونكى مړ سو دده په مرګ سره وكيل معزول كيږي ؟
ج : نه معزول كيږي .
س : ګرو اخيستونكي چي ګرو قبض كړى وي د هغه سره دا ورته روا ده چي د ګرو وركونكي څخه د پور مطالبه وكي او په هغه سره ئې بند كي ؟
ج : دا ورته روا ده چي د پور مطالبه څني وكي او بند ئې كي ځكه ګرو دى له دې څخه نه راګرځوي .
س : ګرو اخيستونكي ګرو قبض كړى او ګرو وركونكى دا غواړي چي ګرو خرڅ كي ددې لپاره چي د هغه په پيسو سره پور اداء كي پر ګرو اخيستونكي لازمه چي د هغه پر خرڅولو قدرت وركي ؟
ج : پر ده دا نه ده لازمه ، ګرو وركونكي ته ويل كيږي پور اداء كه وروسته ګرو واخله ، كله چي پور اداء كي ګرو اخيستونكي ته ويل كيږي ګرو ورتسليم كه .
س : كه ګرو وركونكي بېله اجازې د ګرو اخيستونكي ګرو خرڅ كړى دغه بيع څه حكم لري ؟
ج : دغه بيع تر هغه وخت پوري موقوفه (ولاړه) ده تر څو چي ګرو اخيستونكى اجازه كوي يا ګرو وركونكى خپل پور اداء كوي .
س : كه يو چا مريى په ګرو وركى او ګرو اخيستونكي قبض كړى ، وروسته ګرو وركونكي بېله اجازې د ګرو اخيستونكي ازاد كى ازادول ئې چليږي ؟
ج : هو ازادول ئې چليږي .
س : چي ازادول ئې وچلېدل د ګرو اخيستونكي سره د ټينګوالي يا پور اخيستلو لپاره څه شى پاتيږي ؟
ج : كه ګرو وركونكى خان وو او د حال پور وو (د نېټې پور نه وو) د پور اداء كولو مطالبه څني كيږي او كه د نېټې پور وو د مريي قيمت څني اخيستل كيږي او د هغه پر ځاى د پور تر وخت پوري ګرو ګرځي او كه مسكين وو د مريي څخه د خپل قيمت د

کټلو غوښتنه کيږي او په هغه سره پور اداء کيږي . بيا دي مريي له خپل بادار څخه خپل قيمت واخلي .

س : مريي ولي له خپل بادار څخه خپل قيمت اخلي ؟

ج : څکه هغه بېله عوض څخه ازاد کړی وو او ده تر خپلو ازادولو وروسته د پور د اداء کولو لپاره پيسې ګټلې وې .

س : که ګرو ورکونکي ګرو هلاك کې او د ګرو اخيستونکي سره نه سو پاته اوس به څه کوي ؟

ج : د ګرو ورکونکي څخه د هغه ګرو چي ده هلاك کړی وي قيمت اخيستل کيږي او د غه قيمت د هغه پر ځای ګرو ګرځول کيږي .

س : که ګرو اخيستونکي ګرو قبض کړی او يو بېګانه سړي دده په لاس کي هلاك کې د هلاك کونکي څخه به څوك تاوان اخلي ؟ او د ګرو اخيستونکي سره به څه شی ګرو اېښول کيږي ؟

ج : ګرو اخيستونکی د هغه په تاوان اخيستلو کي خصم (دعوی کونکی يا هغه څوك چي دده پر خلاف دعوی کيږي) بلل کيږي نو دی به د دغه بېګانه سړي څخه قيمت اخلي او د خپل ځان سره به ئې ګرو ګرځوي .

س : که ګرو ورکونکي پر ګرو جنايت وکړی هغه څه حکم لري ؟

ج : که ګرو ورکونکی پر ګرو جنايت وکړي د هغه تاوان ورکول کيږي (۱) .

س : که ګرو اخيستونکی پر ګرو جنايت وکي تاسي څه په کښي واياست ؟

ج : پر ګرو باندي د هغه په جنايت سره د هغه په مقدار پور ساقطيږي او له هغه څخه چي زائد دی د هغه تاوان به ورکوي .

س : که ګرو پر ګرو ورکونکي يا ګرو اخيستونکي يا د دوی پر مالو جنايت وکړی پر چا تاوان کيږي ؟

ج : پر دوی او د دوی پر مالو د ګرو جنايت هدر (بې تاوانه) دی .

س : که ګرو اخيستونکی د ګرو د ساتلو لپاره يو کور ته ضرورت درلودی او دهغه لپاره

(۱) څکه يو د قدر ور لازم حق ئې له منځه يووړی (د ګرو اخيستونکي حق) او له دې کبله چي دغه حق په مال پوري اړه لري مالك د تاوان په هکله د بېګانه په شان بلل کيږي ، له " هدايې " څخه .

ئې يو كور په كرايه واخيستى د هغه كرايه به څوك اداء كوي ؟

ج : دغه كرايه پر ګرو اخيستونكي واجبيږي .

س : كه ګرو د مثال په توګه پسونه يا اوښان وه او يو چوپان ته ئې ضرورت درلودى چي و ئې پيايي د چوپان مزدوري پر چا كيږي ؟

ج : د چوپان مزدوري پر ګرو وركونكي ده .

س : د ګرو نفقه (خرڅه) پر چا ده ؟

ج : پر ګرو وركونكي واجب ده .

س : كله كله ګرو ګټه لري لكه شيدې او چيچى او وړى او خرما يا بلي وني ميوه د دغې ګټي مالك څوك دى ؟

ج :دګروګټه دګرو وركونكي ده مګرنه به ئې اخلي بلكه داصل سره به داهم ګرو وي (١) .

س : دا معلومه سول چي ګټه د اصل سره د ګرو اخيستونكي سره ايښول كيږي ، كه ګټه هلاك سول څه حكم لري ؟

ج : ګټه بېله كوم تاوانه هلاكيږي .

س : كه اصل هلاك سو او ګټه پاته سول څه حكم ئې دى ؟

ج : ګرو وركونكى هغه په خپله حصه سره خلاصولاى سي او پور دي د ګرو پر قيمت د قبض كولو په ورځ او د ګټي پر قيمت د خلاصولو په ورځ تقسيم كي كوم مقدار چي د اصل په مقابل كي وي په هغه مقدار سره پور ساقطيږي او كوم مقدار چي د ګټي په مقابل كي دى ګرو وركونكى دي ګټه په هغه مقدار سره خلاصه كړي (٢) .

---

(١) يعني ګرو اخيستونكي ته اختيار سته چي ګرو وركونكي ته ئې وركوي كه ئې خپله اخلي ، دغه رنګه په " الجوهره النيره " كي ذكر سوي دي .

(٢) د مسئلې صورت داسي دى : يو سړي يو پسه چي په لس ارزېدى په لس ګرو كى چيچى ئې پيدا سو وروسته هلاك سو پور د پسه پر قيمت د ګرو كولو په ورځ او د چيچي پر قيمت په اوس كي يعني د خلاصېدو په ورځ تقسيميږي ، كه ئې په اوس كي قيمت لس وو پسه د هغه په حصه سره هلاكيږي ، هغه نيم پور پنځه درهمه دى ، كه د مور تر هلاك وروسته د چيچي قيمت زيات سو تر څو چي شل سو هغه تقسيم باطليږي او دا څرګنديږي چي د مور حصه درې او يوه دريمه وه ، كه د چيچي قيمت دېرش سو دا څرګنديږي چي د مور حصه څلرمه وه او كه د چيچي قيمت ترديې وروسته كم سو تر څو پنځه ســـو دا

س : که ګرو اخيستونکي ګرو واخيستی وروسته ئې دا وغوښتل چې په هغه کې زياتوب وکي يا ګرو ورکونکي په پور کې زياتوب وغوښتی په سپيځلي شريعت کې د دغو دوو زياتوالو څه حکم دی ؟

ج : په ګرو کې زياتوب روا دی او په پور کې د ابو حنيفه رح او محمد رح په نزد نه دی روا نو ګرو ددواړو پورو لپاره ګرو نه ګرځي اوابو يوسف رح ويلي دي دواړه زياتوالي روادي .

س : که يو چا له دوو کسانو څخه پور واخيستی او يو شی ئې د هر يوه سره ګرو کښېښوی دغه رهن څه حکم لري ؟

ج : دغه ګرو ورکول او ګرو اخيستل روا دي او ټوله شی د دواړو سره ګرو دی .

س : که دغه ګرو هلاك سو تاوان ئې څه حکم لري ؟

ج : د هغه تاوان د هر يوه د پور په حصه پر دواړو دی .

س : که ئې يوه ته خپل پور وراداء کړی ګرو ورکونکی د ګرو نيمی يا يو برخه خلاصولای سي ؟

ج : نه ئې سي خلاصولای بلکه ټوله شی د هغه بل په لاس کې ګرو کيږي تر څو چې هغه خپل پور پوره اخلي .

س : که يو سړي مريی په دې شرط خرڅ کړی چې رانيونکي به د پيسو په مقابل کې يو شی په ګرو ورته اړدي ، رانيونکي د ګرو تسليمولو څخه ډډه وکړه دغه بيع او د ګرو سودا څه حکم لري ؟

ج : بيع صحيح ده مګر رانيونکی د ګرو پر تسليمولو نه مجبوره کيږي ، رانيونکي ته په دغه وخت کې اختيار سته چې ګرو پرېږدي که بيع فسخ کوي مګر نه که رانيونکي په هغه وخت کې پيسې ورکړې يا ئې دګرو قيمت خرڅونکي ته ورکی تر څو چې هغه دده سره د پيسو تر اخيستلو پوري ګرو سي .

س : ګرو اخيستونکي ته روا ده چې ګرو په خپلي ماينې او زوی يا لور سره وساتي ؟

ج : ګرو اخيستونکي ته روا ده چې خپله ئې وساتي يا ئې په خپله ماينه سره يا خپل زوی يا لور يا نوکر چې دده په عيال کې وي وساتي .

د ص ۲۲۰ پاته برخه : څرګنديږي چې د مور حصه د پور دوې دريمي وه ، هغه شپږ او دوې دريمي کيږي ، له "الجوهره النيره" څخه .

س : که ئې د هغه کسانو پرته چې دده په عيال کې وي په بل چا وساتی يا ئې د يو چا سره د امانت په توګه کښيښوی څه حکم لري ؟
ج : تاوان به ئې ورکوي ځکه دی په دغه سره تېری کونکي ګڼل کيږي .
س : که ګرو اخيستونکي په ګرو کې تېری وکی څرنګه تاوان ځني اخيستل کيږي ؟
ج : د غصب (د چا مال په زورسره اخيستل) په شان دټوله مال تاوان ځني اخيستل کيږي .
س : که ګرو اخيستونکي ګرو ګرو ورکونکي ته بيرته ورکی څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کې ګرو د ګرو اخيستونکي له تاوان څخه ووتی ، که د ګرو ورکونکي په لاس کې هلاك سو بېله تاوان څخه هلاك کيږي .
س : که ګرو اخيستونکي ګرو ګرو ورکونکي ته بيرته ورکی ، وروسته ئې وغوښتل چې له هغه څخه ئې بيرته واخلي دا کولای سي ؟
ج : دا ورته روا ده چې بيرته ئې ځني واخلي ، کله چې بيرته ئې ځني واخلي تاوان بيرته پر ده راګرځي .
س : که تر پور ورکولو مخ کې ګرو ورکونکی مړ سو ګرو اخيستونکی به څرنګه خپل پور اخلي ؟
ج : که ګرو ورکونکی مړ سو د هغه وصي دي ګرو خرڅ کې او پور دي په اداء کې ، که له هغه څخه شی زيات سو د ګرو ورکونکی د وارثانو لپاره ميراث کيږي .
س : که ئې وصي نه درلودی ګرو به څوك خرڅوي ؟
ج : قاضي به يو وصي ورته دروي او د هغه په خرڅولو او د ګرو اخيستونکي پور اداء کولو سره به ئې امر کوي .

د حجر (له تصرف څخه بندول) کتاب

س : په خلکو کي داسي څوك سته چي له تصرف (خرڅول . رانيول او داسي نور اعمال) څخه بنديږي ؟

ج : هو په سپېڅلي شريعت کي حجر سته او د هغه درې اسباب دي :

١ : کوچني والی .

٢ : مريی والی .

٣ : لېونتوب .

س : په دغه کي تفصيل بيان کړئ .

ج : د ولي د اجازې پرته د کوچني تصرف نه دی روا څرنګه چي د بادار د اجازې پرته د مريي تصرف نه دی روا اود ليوني تصرف چي عقل ئې کار نه کوي په هيڅ حال کي نه دی روا .

س : که يو سړی پر کوچني يا مريي يو شی خرڅ کي يا ئې څني رانيسي او هغه په سودا پوهيږي اوغواړي ئې (١) دغه سودا څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي ولي ته اختيار سته چي سودا چلوي که ئې ګټه په کښې وليدل يا ئې ماتوي .

س : دغه درې اسباب په قول او فعل دواړو کي حجر راولي يا يوازي په قول کي ؟

ج : د کوچني او ليوني په قول کي حجر سته په فعل کي نسته او د مريي په حجر کي تفصيل سته چي رابه سي ان شاء الله ﷻ .

س : که يو کوچني يا ليوني د يو چا مال ور هلاك کړی د دوی په مال کي تاوان لازميږي؟

ج : هو تاوان لازميږي ، د دوی د قول چي پر کوچني په فعلو کي حجر نسته دغه معنی ده . دا معنی ئې نه ده چي کوچنی د خلګو د مالو هلاکولو څخه نه منع کيږي .

س : په قولوکي د حجر څه نتيجه ده ؟

---

(١) په سودا پوهېدل ضروري دي ددې لپاره چي د سودا رکن پيدا سي نو په دغه وخت کي پر اجازې موقوفه سودا کيږي ، له " هدايې " څخه .

ج : د کوچني او ليوني نه سودا صحيح کيږي نه اقرار نه طلاق او نه ئې د مريي ازادول
چليږي .
س : د مريي د حجر څه تفصيل دی ؟
ج : د مريي قولونه دده په هکله چليږي ، د بادار په هکله ئې نه چليږي .
س : که يو مريي په مال سره پر خپل ځان اقرار وکړی دغه اقرار څه حکم لري ؟
ج : د کوم مال اقرار چي ئې پر خپل ځان کړی دی هغه پر لازميږي مگر له بادار څخه ئې
نه اخيستل کيږي بلکه کوم مال چي ئې په اقرار سره پر ځان لازم کړی دی تر ازادولو
وروسته به ئې وراداء کوي ، په داغه وخت کي نه پر لازميږي .
س : که مريي په حد يا قصاص سره اقرار وکی څه وخت پر جاري کيږي ؟
ج : حد او قصاص دده په اقرار سره په داغه وخت کي پر لازميږي ، د ازادۍ وخت ته نه
کتل کيږي .

س : د مريي ماينه دده په طلاق سره طلاقيږي که ئې د بادار په طلاق سره ؟
ج : د مريي طلاق پرخپله ماينه واقع کيږي ، د بادارطلاق دمريي پر ماينه نه واقع کيږي.
س : که يو سړی بالغ ازاد وو مگر ناپوه وو د هغه تصرف په خپل مال کي څه حکم لري ؟
ج : ابو حنيفه رح ويلي دي : ناپوه چي عاقل بالغ ازاد وي له تصرف څخه نه بنديږي او په
خپل مال کي ئې تصرف صحيح دی که څه هم اسراف کونکی فساد کونکی وي چي خپل
مال په داسي شيانو کي ضائع کوي چي ده ته کومه گټه نه لري لکه چي په درياب کي
ئې هلاك کي يا ئې په اور کي وسوځي .
س : د ابو حنيفه رح په نزد ناپوه ته د مال تسليمول کوم ټاکلی وخت لري ؟
ج : هو دده په نزد په هغه کي ټاکلی وخت سته ځکه هغه ويلي دي : کله چي هلك بالغ
سي او ناپوه وي مال ئې تر هغه وخت پوري نه ورسپارل کيږي تر څو پنځه ويشت کالو نه
رسيږي او که ئې په هغه کي تر دغه مخ کي تصرف وکی تصرف ئې چليږي ، کله چي ئې
عمر پنځه ويشت کالو ته ورسيږي مال دي ئې وروسپارل سي که څه هم پوهي نه وي ځني
محسوس سوې .
س : ابو يوسف رح او محمد رح د ناپوه د حجر په هکله څه وايي ؟
ج : دوی ويلي دي : پر ناپوه سړي حجر کيږي او په خپل مال کي له تصرف څخه بنديږي
، که ئې سودا وکړل په خپل مال کي ئې سودا نه چليږي ، که ئې گټه په کښې وه قاضي

دي ئې وچلوي او څوك چې په داسي حال كي بالغ سي چې ناپوه وي د دوى په نزد هيڅ كله خپل مال نه ورتسليمېږي تر څو چې پوهي څني ونه ليدل سي ، او تصرف ئې نه په كښي صحيح كيږي ، دده له مال څخه زكات اداء كيږي او مال ئې دده پر اولاد او ماينې خرڅيږي او پر هغه كسانو خرڅيږي چې پر ده ئې خرڅ واجب دى چې دده قريبان دي .

س : كه يو ناپوه خپل مريى ازاد كړى زموږ دريځ علماء رح په دغه كي څه وايي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد ئې ازادول چليږي ، دغه رنګه د صاحبينو رح په نزد مګر دوى وايي مريى به دده لره د خپل قيمت په ګټلو كي زيار باسي .

س : كه يو ناپوه سړي يوه ښځه په نكاح كړل نكاح ئې څه حكم لري ؟

ج : نكاح ئې صحيح ده او په مهر كي كتل كيږي كه ئې مهر يادكړى وو دمهر مثل (هغه مهر چي دغه رنګه ښځي ته وركول كيږي) مقدار ئې صحيح دى او زائد باطل دى .

س : كه يو ناپوه د فرضي حج اداء كولو اراده وكړل د هغه اجازه ورته كيږي ؟

ج : هو د فرضي حج اجازه ورته كيږي ، له هغه څخه نه منع كيږي ، قاضي دي نفقه ده ته نه سپاري بلكه يو اعتمادي حاجي ته دي ئې وسپاري چې هغه ئې د حج په مصارفو كي پر ده خرڅي كي .

س : كه يو ناپوه سړى ناروغه سو او په عبادتو او د ثواب په كارو كي ئې وصيتونه وكړل دغه وصيت څه حكم لري ؟

ج : دغه وصيت دده د مال له دريمي څخه چليږي .

س : مفلس چي پوررونه پر باندي سوي وي د هغه حجر څه حكم لري ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي : په پور كي زه پر مفلس سړي حجر نه راولم ، نو كه پر هغه پوررونه واوښتل او پوروړو ئې د بندولو او حجر غوښتنه وكړل حجر نه پر كيږي .

س : كه د مفلس سړي سره مال وو پوررونه ئې نه څني اداء كول د ابوحنيفه رح په نزد قاضي تصرف په كښي كولاى سي ؟

ج : هغه دي تصرف نه په كښي كوي بلكه تر هغه وخت پوري دي ئې بندي كي تر څو هغه مال په پور كي خرڅوي .

س : كه دا څرګنده سول چي مال لري او هغه درهمونه او دينارونه وه قاضي به له هغه څخه دده پور څرنګه اداء كوي ؟

ج : كه ئې مال درهمونه وه او پور ئې هم درهمونه وه يا ئې مال دينارونه وه او پور ئې هم دينارونه وه قاضي دې بېله دده د رضا له هغه څخه دده پور ور اداء كړي او كه ئې پور درهمونه وه او مال ئې ديناورنه وه يا ئې پور ديناورنه وه او مال ئې درهمونه وه قاضي دې ئې دده په پور كي خرڅ كي او پيسې دې پوروړو ته وركي .

س : د مفلس سړي په حجر كي صاحبين رح څه وايي ؟

ج : دوی ويلي دي : كه د هغه پوروړو دده حجر وغوښتی قاضي دې حجر پر وكي او له سودا او تصرف او اقرار څخه دې ئې بند كي تر څو چي پوروړو ته ضرر ونه رسوي ، كه دده خپله خپل مال نه خرڅوی قاضي دې ئې ورخرڅ كي او پر پوروړو دې ئې د دوی د پورو په اندازه ووېشي او قاضي دې دده له مال څخه دده پر مايته او كوچني اولاد او قريبانو خرڅ كوي .

س : كه يو مفلس سړي چي حجر پر سوی وو دده د حجر په وخت كي د يو چا لپاره په مال سره اقرار وكی څه حكم لري ؟

ج : دغه مال دده په اقرار پر لازمېږي او د لمړني پوروړو د پورو تر اداء كولو وروسته به دغه پور اداء كوي .

س : كه د مفلس سړي مال نه وو معلوم او پوروړو دا وغوښتل چي دی بندي سي او ده ويل زه مال نه لرم قاضي به څه كوي ؟

ج : كه داسې پور وي چي د يو داسې مال په عوض كي پر ده لازم سوی وي چي هغه دده لاس ته ورغلی وي لكه د رانيول سوي شي پيسې او د قرض عوض په هغه كي دې ئې قاضي بندي كي ، دغه رنگه په هر پور كي چي په عقد (سودا يا بل داسې تړون چي په ايجاب او قبول سره پيدا كيږي) سره لازميږي لكه مهر او ضمانت ، د هغه پرته په نورو پورو كي دې ئې نه بندي كوي لكه د غصب سوي مال عوض او د جنايتو تاوان مگر كه پر دې شاهدان ودرېدل چي دی مال لري په هر پور كي دې ئې بندي كي .

س : حاكم (د ښار مشر چي د والي امير يا داسې نورو نومو سره يادېږي) به ئې تر څو عمر بندي كوي كه يو ټاكلې مده لري ؟

ج : بندي كول مقصد نه دی بلكه مقصد دا دی چي خپل مال ښكاره كي كه ئې مال درلودی او پټوی ئې ، نو حاكم دې ئې دوې يا درې مياشتي بندي كي او له خلكو څخه

دي دده د حال او مال په هکله پوښتنه کوي ، که ئې مال ښکاره نه سو ايله دي ئې کي .
دغه رنگه که پر دې خبره شاهدان ودرېدل چي دی مال نه لري هم دي ئې ايله کي .
س : که وروسته له دې څخه چي دا ورته ښکاره سول چي مال نه لري حاکم ايله کی دده
ترايله کېدو وروسته به پوروړي له ده څخه بندوي ؟
ج : هغوی به له ده څخه نه بندوي ، دوی لره دا سته چي په پسې وي او دی به له تصرف
او سفر څخه نه بندوي ، دده له گټي څخه چي کوم قدر دده او دده د عيال تر نفقې زياته
سي هغه دي اخلي او ددوی په منځ کي د دوی د پورو په قدر وېشل کيږي .
س : صاحبين رح په دې کي اختلاف لري ؟
ج : هو دوی د ابو حنيفه رح سره په دغه کي اختلاف لري او وايي : که حاکم څوك چي پور
باندي وي مفلس وگڼي پوروړي دي له ده څخه بند کړي مگر نه هغه وخت که هغوی پر
دې شاهدان ودرول چي دی مال لري .
س : پر فاسق سړي حجر کيږي ؟
ج : که فاسق سړی د خپل مال گټه غوښتل حجر نه پر کيږي .
س : که يو سړی صالح وو وروسته فاسق سو دده حجر څه حکم لري ؟
ج : اصلي او عارضي فسق برابر دي .
س : که يو سړي يو شی رانيوی او قبض ئې کړی او د هغه قيمت ئې پر ځان پور وگرځوی
وررسته مفلس سو او له دغه پوروړي څخه مخ کي ئې نور پوروړي هم درلودل او د
رانيونکي سره هغه شی موجود وو ، د دغه شي څښتن به دغه شی يوازي د خپل ځان
لپاره اخلي ؟
ج : د دغه شی څښتن په دغه شي کي د نورو پوروړو سره برابر دی .

فائده

س : کوم عمر دی چي هلك يا نجلۍ هغه ته ورسيږي دوی بالغ بلل کيږي ؟
ج : د هلك بلوغ په احتلام ، انزال او احبال (ښځه حامله کول) سره که ئې جماع کول
کيږي ، که له دغو شيانو څخه يو نه سو پيدا تر څو چي اتلس کاله ئې پوره کيږي ، د
ښځي بلوغ په حيض ، احتلام اوحامله کېدو سره کيږي . که له دغو شيانو څخه يو نه
سو پيدا تر څو چي اولس کاله ئې پوره کيږي .
س : دا زموږ ددرو سره امامانو قول دی که د دوی په منځ کي اختلاف سته ؟

ج : په دغه مسئله کي د ابو حنيفه رح او صاحبينو رح په منځ کي اختلاف سته ، هغ وايي : کله چي د هلك او نجلۍ پنځلس کاله پوره سي بالغان بلل کيږي ، که په هلك احتلام يا انزال يا حامله کول پيدا سي يا په نجلۍ کي حيض يا احتلام يا حامله وا پيدا سي له دغه عمر څخه مخ کي هم بالغان بلل کيږي او فتوی د دوی پر قول ده .

س : کله چي هلك يا نجلۍ بلوغ ته نژدې سي او بلوغ او نه بلوغ ئې نه سي معلوم دوی ووايي موږ بالغان سوو ، د دوی په قول عمل کيږي ؟

ج : د دوی قول معتبر دی او د بالغانو احکام پر جاري کيږي .

د اقرار کتاب

پوښتنه: په سپیڅلي شریعت کي اقرار څه حکم لري ؟
ځواب: که یو ازاد بالغ عاقل په یو حق سره اقرار وکی هغه پر لازمیږي که هغه شی چي اقرار ئې په کړی وي معلوم وي که نامعلومه ، اقرار کونکی په خپل اقرار سره نیول کیږي .
پوښتنه: په نامعلوم شي سره څرنګه نیول کیږي ؟
ځواب: هغه ته ویل کیږي نامعلوم شی بیان کړه ، که ئې نه کړی بیان حاکم دي ئې پر بیانولو مجبور کړي .
پوښتنه: که یو چا وویل : د فلانکي پر ما یو شی سته ، خلګو پوښتنه ځني وکړل او حاکم مجبور کړی ، بیان ئې وکړی او داسي ئې وویل : پر ما ئې یو څاڅکی اوبه دي یا د مثال په توګه د غنمو یوه دانه ده څه حکم ئې دی ؟
ځواب: دغه قول ئې نه قبلیږي بلکه دا پر لازمه ده چي داسي شی بیان کي چي قیمت لري .
پوښتنه: که یو چا په یو معلوم یا نامعلومه شي سره اقرار وکی او د چا لپاره چي اقرار سوی دي هغه د زیات دعوی وکړل په څه شي سره فیصله کیږي ؟
ځواب: که یو چا په نامعلوم شي سره اقرار وکی یا ئې داسي وویل : دده پر ما یو مال سته د هغه په بیانولو کي ده ته رجوع کیږي او دده قول معتبر دی چي قسم ورسره وي ، په لږ او ډېر کي دده قول منل کیږي .
پوښتنه: که ئې داسي وویل : دده پر ما ډېر مال دی ، وروسته ئې بیان کړی او داسي ئې وویل: هغه لس درهمه دی ، په دغه کي ئې تصدیق کیږي ؟
ځواب: په دغه صورت کي ئې تر دوو سوو په کم کي تصدیق نه کیږي .
پوښتنه: که ئې وویل : دده پر ما ډېر درهمونه دي ، وروسته ئې بیان کړل او وئې ویل : دری درهمه دي د مثال په توګه ، په دغه کي ئې تصدیق کیږي ؟
ځواب: څرنګه چي ډېر درهمونه ئې یاد کړل تر لسو درهمو په کم کي ئې تصدیق نه کیږي .
پوښتنه: که ئې داسي وویل : دده پر ما درهمونه دي ، په څه شي نیول کیږي ؟
ځواب: په درو درهمو سره نیول کیږي ځکه هغه د جمع کم مقدار دی مګر که ئې زیات بیان کړي هغه پر لازمیږي .

س : كه ئې وويل : (لَهُ عَلَيَّ كَذَا كَذَا دِرْهَماً) (دده پر ما دومره دومره درهمه دي) يا ئې وويل :(لَهُ عَلَيَّ كَذَا وَ كَذَا دِرْهِماً) (دده پرما دومره اودومره درهمه دي) څه حكم ئې دی؟
ج : په اول صورت كي ئې تر يوولس درهمه په كم كي تصديق نه كيږي او په دوهم صورت كي ئې تر يو ويشت درهمه په كم كي تصديق نه كيږي (١).
س : كه ئې وويل : دده پر ما يا زما لوري ته ، څه حكم لري ؟
ج : دا په پور سره اقرار دی .
س : كه ئې وويل : دده زما په نزد يا زما سره ، له دغه اقرار څخه څه معنی اخستل كيږي ؟
ج : دا په دې سره اقرار دی چي دده په لاس كي امانت دی .
س : كه يو سړي پر بل سړي دعوی وكي او ووايي زما پر تا زر درهمه دي مخاطب ووايي در اداء مي كړل يا ئې ورته وويل وائې خله يا ئې وتله يا مهلت راكه ، څه حكم لري ؟
ج : دا اقرار گڼل كيږي .
س : يو چا د يو سړي لپاره د نښتې په پور سره اقرار وكی ، كوم څوك چي د هغه لپاره اقرار سوی وو هغه ئې په پور كي تصديق وكړی په نښته وركولو كي ئې درواغجن وبللی په نښته سره حكم كيږي كه ئې په هغه وخت كي اداء كول پر لازميږي ؟
ج : په هغه وخت كي ئې اداء كول پر لازميږي او كوم څوك چي د هغه لپاره اقرار سوی وي هغه ته په نښته كي قسم وركول كيږي .
س : يو چا په يو پور سره اقرار وكی او د اقرار سره يو ځای ئې يو څه قدر څني كم كي څه حكم لري ؟
ج : كمول ئې صحيح كيږي او پاته مقدار پر لازميږي لږ كمول او ډېر كمول په دغه كي برابر دي .

---

(١) دغه دوې جملې كه په عربي ژبه ووايي داسي جواب ئې دی ځرنگه چي په كتاب كي ذكر سوی دی ځكه په عربي ژبه كي له يوولسو څخه تر نولسو پوري (واو) چي په پښتو كي د (او) معنی لري نه استعماليږي او له شلو څخه لوړ په مركب عددو كي واو استعماليږي . مگر په پښتو كي له شلو څخه لوړ او ښكته له شلو څخه كم مركب عددو كي هم واو نه استعماليږي . ځكه ما په دغه مسئله كي عربي جملې ذكر كړې وروسته مي د هغه په پښتو ترجمه وكړل ،(ژباړونكی) .

که تړوله کم کي تاسي څه واياست ؟
کمول ئې باطلېږي او اقرار پر لازمېږي .
که داسي ووايي : دده پر ما سل درهمه دي بېله يوه دينار څخه يا بېله يوه قفيز
څخه څه حکم ئې دی ؟
سل درهمه پر لازمېږي او د يوه دينار يا يوه قفيز قيمت ځني کمېږي .
که داسي ووايي : دده پر ما سل او درهم دی د (او) لفظ ئې ذکر کړی او د سلو
معلومونکی لفظ ئې وغورځوی څه حکم لري ؟
سل درهمه او يو درهم پر لازمېږي او داسي ويل کېږي چي د سلو معلومونکی لفظ
ده غورځولی دی هغه درهم دی .
که داسي اقرار وکي چي پر ما ئې سل او يو کالی دی څه شی پر لازمېږي ؟
يو کالی پر لازمېږي او د سلو په معلومونکي لفظ کي له ده څخه پوښتنه کېږي .
که يو څوك يو سړي ته په يو حق سره اقرار وکي او د اقرار سره يو ځای ان شاء الله
ابي څه شی پر لازمېږي ؟
هيڅ شی نه پر لازمېږي ځکه داسي لفظ خبره له سره څخه ختموي او داسي ګڼل
کېږي چي خبره له سره څخه نه وه .
يو سړي د يو چا لپاره په يو حق سره اقرار وکی او دا ئې وويل زه تر درو ورځو پوري
شال په توګه خيار لرم څه حکم لري ؟
اقرار ئې پر لازم دی او خيار باطلېږي ځکه خيار د فسخ لپاره دی او اقرار فسخ نه
ي .
يو سړي د يو چا لپاره په کور سره اقرار وکی او ودانۍ ئې د خپل ځان لپاره کمه
څه پر لازمېږي ؟
کور او ودانۍ تړوله پر لازمېږي او کمول ئې اعتبار نه لري .
که داسي ووايي : د دغه کور ودانۍ زما ده او مځکه د فلانکي ده په دغه کي ئې
يق کېږي ؟
تصديق ئې کېږي .
که داسي اقرار وکي : دده پر ما په توکرۍ کي خرما ده څه شی پر لازمېږي؟
وکرۍ او خرما دواړه پر لازمېږي .

س : که داسي اقرار وکي : دده پر ما په تبيله کي يو حيوان دی په څه فيصله کيږي ؟
ج : يوازي په حيوان سره فيصله کيږي .
س : که داسي ووايي په ټوکره کي مي کالی غصب کړی (په زوره مي واخيستی) يا ئې داسي وويل : دده پر ما په کالو کي کالی دی په څه شي سره فيصله کيږي ؟
ج : په کالي او ټوکره دواړو سره فيصله کيږي ، دغه رنګه په دوهم صورت کي په دواړو کالو سره فيصله کيږي .
س : که داسي ووايي : دده پر ما په لسو کالو يو کالی دئ څه شی پر لازميږي ؟
ج : ابو يوسف رح ويلي دي : صرف يو کالی پر لازميږي او محمد رح ويلي دي : يوولس کاليه پر لازميږي .
س : که دا اقرار وکي چي د فلانکي څخه ئې يو کالی غصب کړی او يو عيبجن کالی راوړي او داسي ووايي هغه دغه دی دده قول معتبر دی ؟
ج : په دغه کي د قسم سره دده قول معتبر دی .
س : که په درهمو سره اقرار وکي او دا ووايي هغه کوټه دي څه شی پر لازميږي ؟
ج : په دغه کي هم د قسم سره دده قول معتبر دی .
س : که ئې داسي وويل : دده پر ما پنځه په پنځه کي دي ، مطلب ئې ضرب او حساب وو څه حکم ئې دی ؟
ج : پنځه پر لازميږي .
س : که ئې وويل : زما مطلب د پنځو سره پنځه وو څه شی پر لازميږي ؟
ج : لس پر لازميږي .
س : که داسي ووايي دده پر ما له يوه درهم څخه تر لسو پوري دي څه شی پر لازميږي ؟
ج : شروع او د هغه وروسته پر لازميږي او آخر ځني کميږي نو نه درهمه به ورکوي ، دا د ابو حنيفه رح په نزد ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : پوره لس پر لازميږي ځکه آخر هم په کښي داخليږي .
س : که ووايي : دده پر ما زر درهمه دي د مريي له قيمت څخه چي له ده څخه مي رانيوی او قبض کړی مي نه دی کوم شی پر لازميږي ؟

ج: که ئې يو معلوم مربی يادکړی چا ته چي اقرار سوی دی هغه ته ويل کيږي که دي ځوښه وي مربی ورتسليم که او زر واخله ، که نه هيڅ شی تا لره نسته او که ئې مربی ياد کړی او معلوم ئې نه کړی د ابوحنيفه رح په قول کي زر پر لازميږي (۱) .

س: که ووايي : دده پر ما زر درهمه دي د شرابو يا سرکوزي له قيمت څخه څه شی پر لازميږي ؟

ج: زر پر لازميږي او دده خبره نه منل کيږي چي هغه د شرابو يا سرکوزي قيمت دی .

س: که ووايي : دده پر ما زر دي د يو سامان د قيمت څخه او هغه کوټه دي او کوم څوک چي اقرار ورلره سوی وي دده خبره رد کړل او وئې ويل : هغه سمي دي څه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج: د ابو حنيفه رح په قول کي سمي پر لازميږي ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : که ئې دغه خبره د اقرار سره يو ځای وويل په کوټه والي کي ئې تصديق کيږي او که ئې له هغه څخه وروسته وويل تصديق ئې نه کيږي او سمي پر لازميږي .

س: يو چا د يو سړي لپاره په ګټمۍ يا توري سره اقرار وکی څه شی پر لازميږي ؟

ج: د غمي سره ګټمۍ او د پوښ او تسمو سره توره پر لازميږي .

س: په حجله (يو قسم خونه چي د ناوي لپاره به په تيرو زمانو کي تيارېدل) سره ئې اقرار وکی او لرګي او کالي ئې نه کړل ياد څه شی پر لازميږي ؟

ج: د لرګو او کالو سره حجله پر لازميږي .

س: که ئې وويل د فلانکۍ په نس کي کوچنی دی او د هغه پر ما زر درهمه دي دغه اقرار صحيح کيږي ؟

ج: په دغه کي کتل کيږي ، که ئې داسي وويل فلانکي وصيت ورته کړی دی يا ئې پلار مړ سوی دی او ده ميراث ځني وړی دی نو ئې اقرار صحيح دی او که ئې اقرار معلوم نه

---

(۱) په دې خبره کي ئې تصديق نه کيږي چي ما نه دی قبض کړی د اقرار سره يو ځای خبره وکي که ئې وروسته وکي ، ځکه دا له اقرار څخه بيرته ګرځېدل دي ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : که ئې د اقرار سره يو ځای دا خبره وکړل تصديق ئې کيږي او هيڅ شی نه پر لازميږي او که ئې له هغه څخه وروسته وکړل تصديق ئې نه کيږي که هغه څوک چي اقرار ورلره سوی دی له دې څخه منکر سو چي دا زر د خرڅ سوي شی قيمت دی ، له " الجوهره " څخه .

کي نه صحيح کيږي (۱) ، دا د ابو يوسف رح په نزد او محمد ويلي دي : بپله تفصيله
څخه ئې اقرار صحيح کيږي او د کوم شي اقرار چي ئې کړی وي هغه پر لازميږي (۲) .
س : د يو مينځي يا پسه په حمل (کوم ژوندی چي په نس کي وي) سره ئې د يو سړي
لپاره اقرار وکی دغه اقرار صحيح کيږي ؟
ج : دغه اقرار صحيح دی او د کوم شي اقرار چي ئې کړی دی هغه پر لازميږي .
س : يو ناروغه د خپل مرګ په ناروغي کي په پورو سره اقرار وکی او پر ده نور پوروند
وه چي دده په روغتيا کي پر لازم سوي وه او نور پوروونه وه چي په ناروغي کي په معلومو
سببو سره پر لازم سوي وه ، کوم پوروونه مخ کي کيږي ؟
ج : د روغتيا پور او د ناروغتيا هغه پور چي سببونه ئې معلوم وي له هغه پور څخه چي
د خپل مرګ په ناروغي کي ئې اقرار په کړی وي مخ کي کيږي .
س : که داسي پوروونه نه وه پر باندي چي د روغتيا په حالت کي پر لازم سوي وي ، هغه
پوروونه چي په ناروغي کي اقرار په وکي څه حکم لري ؟
ج : دغه اقرار ئې صحيح دی او کوم څوك چي اقرار ورته سوی دی له وارثانو څخه مخ
کي کيږی .
س : که ناروغه د ځينو وارثانو لپاره اقرار وکی څه حکم لري ؟
ج : د وارث لپاره ئې اقرار باطل دی مګر که ئې نورو وارثانو تصديق وکړی صحيح دی .
س : د يو بېګانه لپاره ئې د مرګ په ناروغي کي اقرار وکی وروسته ئې وويل هغه زما
زوی دی ، دغه دوه اقراره څه حکم لري ؟
ج : په نسب سره ئې اقرار صحيح دی نو د کوم چا لپاره چي ئې اقرار کړی دی دده زوی
کيږي او د مال اقرار ئې باطليږي .
س : د بېګانه ښځي لپاره ئې د مرګ په ناروغي کي په مال سره اقرار وکی وروسته ئې
په نکاح کړل ، اقرار ئې څه حکم لري ؟

---

(۱) نامعلومتيا داده چي داسي ووايي د فلانکي په نس کي چي څوك دی د هغه پر ما زر درهمه دي او
نوره خبره نه وکي ، له " الجوهره " څخه .
(۲) اودده خبره داسي ګڼل کيږي چي يو سړي وصيت په کړی دی يا هغه څوك چي دی ئې ميراث وړي مړ
سوی دی ، له " الجوهره " څخه .

په مال سره ئې اقرار صحيح دی او په نکاح سره نه باطليږي .

س : يو سړي خپله ښځه د مرګ په ناروغي کي په درې طلاقه طلاقه کړل ، وروسته ئې هغې ته په پور سره اقرار وکی او مړ سو ، دغه ښځه به دده له مال څخه څه شی اخلي ؟

ج : له پور او ميراث څخه چي کوم يو کم وي هغه به اخلي .

س : د يو هلك په هکله ئې دا اقرار وکی چي دده زوی دی او دومره هلك له دومره انسان څخه پيداکېدلای سوای څه حکم لري ؟

ج : که د دغه هلك نسب نه وو معلوم اوبه دغه اقرار کي ئې دده تصديق وکړی د اقرار کونکي څخه ئې نسب ثابتيږي .

س : که اقرار کونکی ناروغه وو او د هلك لپاره ئې دا اقرار وکی چي دده زوی دی او د هغه نسب له ده څخه ثابت سو وروسته اقرار کونکی مړ سو ، دغه هلك د اقرار کونکي د وارثانو سره په ميراث کي شريك کيږي ؟

ج : هو په ميراث کي ورسره شريك کيږي .

س : که يو سړی دا سي اقرار وکي چي فلانکی زما پلار دی او فلانکۍ زما مور ده او فلانکۍ زما مايىنه ده او فلانکی زما زوی يا مريی دی ، دغه اقرار صحيح کيږي ؟

ج : هو په دغو ټولو سره اقرار صحيح کيږي .

س : که ښځه په مور او پلار او مېړه او مريي سره اقرار وکي څه حکم لري ؟

ج : په دغو ټولو سره ددې اقرار صحيح دی .

س : که دا په زوی يا لور سره اقرار وکي څه حکم لري ؟

ج : که ئې مېړه تصديق نه وکی اقرار ئې نه منل کيږي ، که ئې مېړه تصديق وکی يا ئې قابلې په زېږېدلو شاهدي اداء کړل د مېړه څخه ئې نسب ثابتيږي .

س : که د مور او پلار او اولاد پرته بل څوك په نسب سره اقرار وکي لکه چي ووايي دا زما وروردی يا مي تره دی ، اقرار ئې قبليږي ؟

ج : د نسب په توګه نه قبليږي (۱) ، د ميراث په توګه کتل کيږي که اقرار کونکي يو معلوم وارث نژدې يا ليري درلودی هغه ډېر مستحق دی (۲) له هغه چا څخه چي اقـرار

---

(۱) ځکه په دې کي پر بل چا نسب ثابتول دي .

(۲) ځکه څرنګه چي له ده څخه ئې نسب نه سو ثابت د معلوم وارث سره مقابله نه سي کولای .

ورته سوی وي ، که ئې وارث نه درلودی کوم څوك چي اقرار ورته سوی وي هغه دده د میراث مستحق دی (١) .

س : که د یو سړی پلار مړ سو او د یو چا لپاره ئې په ورورولي سره اقرار وکړی نسب ئې څني ثابتيږي ؟

ج : نسب ئې نه څني ثابتيږي مګر څوك چي اقرار ورته سوی وي هغه د اقرار کوونکي سره په میراث کي شریك کیږي .

ځکه کله چي وارث نه وي دی په خپل مال کي د تصرف حق لري ، له " الهدایه " څخه .

د اجارې (کرايې) کتاب

س: اجاره څه ته وايي ؟
ج: هغه عقد (تړون) ته ويل کيږي چي په عوض سره د ګټو اخيستلو لپاره سوی وي.
س: د هغې د صحيح والي لپاره کوم شرطونه سته ؟
ج: هو د هغه لپاره دا شرط دی چي ګټي او مزدوري به معلومه وي.
س: په کوم عوض سره اجاره کيږي ؟
ج: په داسي عوض سره اجاره کيږي چي قدر ئې معلوم وي ، کوم شی چي په سودا کي ثمن (هغه پيسې چي د يو مال د رانيولو لپاره وټاکل سي) کېدای سي په اجاره کي مزدوري کېدای سي.
س: د عوض مقدار خو په شمېر يا تول سره معلوميږي ګټي څرنګه معلوميږي ؟
ج: ګټي کله په مده سره معلوميږي لکه د يوې مياشتي يا يوه کال اوسېدلو لپاره د کورو اجاره او د مثال په توګه د يوه يا دوو کالو کښت لپاره د مځکو اجاره ، نو داسي مده چي معلومه وي هره مده چي وي د اجارې عقد پر صحيح کيږي ، او کله په کار او يادولو سره معلوميږي لکه څوک چي د يوه کالي رنګولو يا يوه کالي ګنډلو لپاره يو سړی مزدور کي يا يو حيوان ددې لپاره کرايه کي چي يو معلوم مقدار تر يو معلوم ځای پوري پر بار کي يا تر يو معلوم مسافت پوري پر سپور سي او کله کله په معلومولو او اشاره سره معلوميږي لکه څوک چي يو سړی داسي مزدور کي چي دغه خورکي شی تر فلانکي ځای پوري راسره يو سه.

د کورو ، دکانو او مځکو کرايه کول

س: د کورو او دکانو کرايه کول څه حکم لري ؟
ج: د اوسېدو لپاره د کورو کرايه کول او د تجارت او کار کولو لپاره د دکانو کرايه کول روا دي.
س: کرايه کونکي لره روا ده چي څه ئې خوښه وي هغه په کښي وکي ؟
ج: هو چي څه ئې خوښه وي هغه کول په کښي روا دي بېله د اوسپني کار او دوبي توب او د اوړه کولو کار څکه دغه شيان بېله اجازې د کرايه کونکي نه دي روا.

س : د کښت لپاره د مځکو اجاره کول روا دي ؟

ج : د کښت لپاره ئې اجاره کول روا دي مګر تر څو چي هغه شی یاد نه کي چي په کښني کري ئې یا پر دې اتفاق ونه کي چي کوم شی دده خوښه وي کرلای ئې سي اجاره نه صحیح کیږي ، په اجاره کي اوبه او لاره هم داخلیږي که څه هم یاد ئې نه کي .

س : د مځکي اجاره ددې لپاره روا ده چي ودانۍ پر جوړه کي یا د خرما یا نوري ونې پر کښني شنې کي ؟

ج : د دغو شیانو لپاه ئې اجاره روا ده .

س : د ونې شنه کولو یا ودانۍ جوړولو لپاره ئې مځکه په اجاره واخستل او د اجارې مده ختمه سول مځکه به خپل څښتن ته څرنګه ورسپاري ؟

ج : پر اجاره اخیستونکي لازمه ده چي ودانۍ ونړوي او ونې وکاږي او خالي ئې څښتن ته ورتسلیمه کي مګر که د مځکي څښتن دا خوښه کړل چي هغه ته د نړېدلي ودانۍ او کښل سوي ونې قیمت ورکي ودانۍ او ونه دده کیږي او که په دې راضي سو چي پر داغه حال ئې پرېږدي ودانۍ او ونه د اجاره اخیستونکي او مځکه دخپل څښتن کیږي .

س : مځکه ئې په اجاره واخستل او په اجاره ورکونکي دا شرط کړل چي فلانکی به په کښني اوسیږي ، ده ته روا ده چي بل څوك په کښني واوسوي ؟

ج : په اجاره اخیستونکي ته روا ده چي بل څوك په کښني واوسوي ځکه د استعمالونکي په مختلف والي سره په مځکه کي کوم فرق نه راځي .

س : که د دکان څښتن په کرایه اخیستونکي ته وویل : که دي عطار په کښني واوسوی په یوه درهم دی او که دي د اوسپني کارکونکی په کښني واوسوی په دوه درهمه دی دغه عقد څه حکم لري ؟

ج : دغه اجاره روا ده ، کوم یو چي په کښني واوسوي د هغه مطابق به کرایه ورکوي ، دا د ابو حنیفه رح په نزد او صاحبینو رح ویلي دي : دغه اجاره فاسده ده .

س : که یو کور په دې ډول کرایه کړی چي هره میاشت د مثال په توګه په یوه درهم دغه اجاره څه حکم لري ؟

ج : دغه اجاره د یوې میاشتي لپاره صحیح ده او د نورو میاشتو لپاره فاسده ده مګر که ئې ټوټل میاشتي معلومي کړې روا ده ، که د دوهمي میاشتي یو ګړی په کښني

واوسېدی ښبنتن ته ئې د مياشتي تر ختمېدو پوري ايستل نه دي روا . دغه رنګه هره مياشت چي په اول کي ئې يوه ورځ يا يو ګړی واوسي .

س : يو کور ئې د يوه کال لپاره د مثال په توګه په لس درهمه کرايه کی . د هري مياشتي برخه ئې نه کړل معلومه څه حکم ئې دی ؟

ج : دغه روا دی پروا نه لري .

س : که په کرايه اخيستونکي کور قبض کړی او په کښي ونه اوسېدی څه حکم ئې دی ؟

ج : کرايه پر لازمه ده که څه هم په کښي ونه اوسيږي ځکه له هغه څخه پر ګټه اخيستلو قدرت ورکول سو .

س : يو کور ئې په کرايه واخيستی او يو سړي څني غصب کړی په دغه صورت کي کرايه څه حکم لري ؟

ج : که ئې تر اوسېدو مخ کي غصب کی کرايه ټوله ساقطيږي او که په کښي واوسېدی وروسته يو چا غصب کړی هغه قدر کرايه پر لازميږي چي دی په کښي اوسېدلی دی او نوره کرايه ساقطيږي .

س : يو کور ئې کرايه کړی او يو داسي عيب ئې په کښي پيدا کړی چي اوسېدو ته ئې ضرر رسوی څه به کوي ؟

ج : د فسخ کولو حق لري .

س : که کور وران سو يا د مځکي يا ژرندي اوبه بندي سوې څه حکم لري ؟

ج : اجاره بېله فسخ کولو فسخ کيږي .

س : د يو شي د ګډي برخي اجاره کول څه حکم لري ؟

ج : د ګډي برخي اجاره د ابو حنيفه رح په نزد نه ده روا او د صاحبينو رح په نزد روا ده .

د کالو کرايه کول

س : يو کالی ئې د اغوستلو لپاره کرايه کی او په هغه کي ئې کوم شرط نه کښېښنوی دا ورته روا ده چي بل چا ته ئې ورواغوندي ؟

ج : په دغه صورت کي دا ورته روا ده چي بل چا ته ئې ورواغوندي مګر که ئې ورته وويل : فلانکی دي ئې واغوندي او ده بل چا ته ورواغوستی که کالی خيري سو دی ئې ضامن کيږي .

دایي مزدورول

س : د اولاد د تی ورکولو لپاره د دايي مزدورول روا دي ؟
ج : هو په معلومه مزدوري سره ئې مزدورول روا دي ، دغه رنګه ئې ددې په خوړك او كالو سره د ابوحنيفه رح په نزد مزدورول روا دي ، او د كوچني خوړك تیارول پر دې لازم دي ځكه په عادت كي د دايي په خدمت كي دا شامل دي .
س : دايي ئې مزدوره كړل او هغې مېړه درلودی ، مزدورونكي سړي دا وغوښتل چي دی د هغې له جماع څخه بند كي ، دغه بندول څه حكم لري ؟
ج : ده لره ئې بندول نه دي روا مګر كه هغه حامله سول د كوچني قريبان كه ددې له شیدو څخه پر كوچني بېرېدل مزدوري فسخ كولای سي .
س : كه يو دايي په يو معلومه مده كي د كوچني د تی وركولو لپاره خپل ځان مزدور كړی او دې د پسه شیدې وركړې د مزدورۍ حق لري ؟
ج : حق نه لري ځكه پر دې چي كوم شی لازم وو هغه ئې نه وكړی .

د حيوانانو كرايه كول

س : د سپرتيا او بار وړلو لپاره د حيوانانو كرايه كول څه حكم لري ؟
ج : هغه روا دي .
س : يو اوښ ئې د يو معلوم مقدار توښې بارولو لپاره كرايه كی ، په سفر كي ئې هغه توښه خوړل او هغه كمه سول ، ده ته روا ده چي توښه زياته كړي او پر هغه ئې بار كي ؟
ج : هو كومه توښه چي هغه خوړلې وي د هغه په عوض كي نوره ورزياتول ورته روا دي .
س : يو حيوان ئې د سپرتيا لپاره كرايه كړی او بل څوك ئې پر سپور كی دا ورته روا ده ؟
ج : كه ئې سپرتيا ببله شرط څخه ذكر كړل څوك چي ئې خوښ وي پر سپرولای ئې سي ، كه ئې د كرايه كولو په وخت كي ورته وويل : فلانكی دي پر سپرېږي ، كرايه كونكي بل څوك پر سپور كی او حيوان هلاك سو تاوان ئې پر لازمېږي ، دغه رنګه هر شی چي د استعمالونكي په مختلف والي سره مختلف كيږي .
س : يو حيوان ئې په كرايه واخيستی او د كوم شي چي دی ئې پر باروي قسم او مقدار ئې بيان كړی ، د مثال په توګه داسي ئې وويل پنځه قفيزه (يوه پېمانه ده) غنم پر باروم دا ورته روا ده چي په دغه مقدار پرته له غنمو بل شی پر بار كي ؟

لكه داسي شی چي په ضرر كي د غنمو سره برابر يا كم وي د هغه بارول پر روا دي لكه وربشې او كنجتي او داسي شی نه سي پر بارولای چي ضرر ئې له غنمو څخه زيات وي لكه مالګه ، اوسپنه او ليډ ، څرنګه چي يو حيوان ددې لپاره كرايه كي چي پنبه پر بار كړي او مقدار ئې معلوم كی په هغه مقدار سره اوسپنه نه سي پر بارولای .

س : كه ئې ددې لپاره كرايه كی چي يو خاص مقدار غنم پر بار كړي ، تر هغه زيات ئې پر بار كړل او حيوان هلاك سو څه شی پر لازميږي ؟

ج : كه حيوان د زيات كړل سوي بار طاقت درلودی (۱) هغه قدر تاوان پر لازميږي او كه ئې د دومره بار طاقت نه درلودی څومره چي ده پر بار كړی وو ټوله قيمت ئې پرلازميږي .

س : كه ئې يو حيوان د سپرتيا لپاره كرايه كړی بل سړی ئې ورسره سپور كړی او حيوان هلاك سو څه شی پر لازميږي ؟

ج : كه حيوان د دواړو طاقت درلودی نيم قيمت ئې پر لازميږي (۲)، دروندوالي ته نه كتل كيږي .

س : كه ئې حيوان تر كيزه راكش كی يا ئې وواهه او هلاك سو څه شی پر لازميږي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد ئې ټوله قيمت پر لازميږي ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : كه ئې داسي كار وكی چي په عادت كي كېدی تاوان نه پر لازميږي .

س : كه ئې يو اوښ ددې لپاره كرايه كی چي يوه كجاوه او دوه كسان تر مكې پوري د مثال په توګه پر يو سي څه حكم لري ؟

ج : دا روا دی او كرايه كونكي لره دا سته چي دومره كجاوه پر بار كي چي په عادت كي پر وړل كيږي ، كه د اوښ څښتن كجاوه ووينې ډېر ښه دی .

---

(۱) څكه هغه په هغه بار چي اجازه ئې سوې ده او هغه چي اجازه ئې نه ده سوې دواړو سره هلاك سو او د هلاك والي سبب دروندوالی دی نو هغه پر دواړو تقسيميږي مګر كه دومره بار وو چي دغه رنګه حيوان ئې طاقت ئې نه درلودی په دغه وخت كي ټوله قيمت پر لازميږي څكه د هغه له سره اجازه نه ده سوې څكه د حيوان له طاقت څخه وتلی دی ، له " الجوهره النيره " څخه .

(۲) يعني د مزدورۍ سره ، دا هغه وخت كه حيوان د دواړو د سپرتيا طاقت درلودی ، كه ئې د دواړو د سپرتيا طاقت نه درلودی ټوله قيمت ئې پر لازميږي او دروندوالي ته اعتبار نسته څكه كله كله حيوان ته د سپك سړي سپرتيا ضرر رسوي او كله كله د دروند سړي سپرتيا اسانه وي څكه چي هغه د سپرتيا په طريقه پوه وي ، له " الجوهره النيره " څخه .

حمام يا د هغه په شان بل شی کرایه کول

س : د مینده (۱) غورځېدلو کرایه څه حکم لري ؟

ج : دغه کرایه نه ده روا .

س : د حمام مزدوري او ویني کښونکی مزدوري رواده ؟

ج : هو هغه روا ده .

د عبادتو او ګناهو لپاره مزدورول

س : د سندرو او مړي باندي ژړلو لپاره مزدورول څه حکم لري ؟

ج : نه د دغو شیانو لپاره مزدورول روا دي نه د بلي ګناه لپاره (۲) .

س : د اذان یا اقامت یا د قران د تعلیم یا حج لپاره مزدورول څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنیفه رح په نزد دغه ټوله ناروا دي (۳) .

---

(۱) یعني ددې لپاره مینده کرایه کي چي پر ښځه وغورځي ، له " الهدایه " څخه .

(۲) ځکه دا دګناه لپاره مزدورول دي اود تړون له کبله څوك دګناه مستحق نه کیږي ، له "الهدایه" څخه .

(۳) د " الهدایې " مصنف ویلي دي قاعده دا ده چي هر عبادت چي په مسلمان پوري خاص وي زموږ په نزد د هغه لپاره مزدورول نه دي روا او د شافعي رح په نزد په هر عبادت کي چي پر مزدور باندي ټاکلی نه وي مزدورول صحیح کیږي وروسته ئې د حنفیانو دلائل ذکر کړي دي او په آخر کي ئې ویلي دي زموږ ځینو مشایخو نن ورځ د قران د تعلیم لپاره مزدورول ښه ګڼلي دي ځکه په دیني کاروکي سستیا پیدا سوې ده نو که هغه منع کړل سي د قران کریم حفظ ضائع کیږي او فتوی پر دغه قول ده اه ، او د " الکنز " مصنف اول دا خبره ذکر کړې ده چي د اذان ، حج ، امامت او د قران او فقه د تعلیم لپاره مزدورول نه دي روا څرنګه چي د امام ابو حنیفه رح قاعده ده وروسته ئې ویلي دي نن ورځ فتوی پردې ده چي د قران کریم د تعلیم لپاره مزدورول روا دي ، زیلعي په خپله " شرح ٥-١٢٤" کي ویلي دي دا د وروستنیو علماوو مذهب دی چي د بلخ مشایخ دي ، دوی دا خبره ښه ګڼلې ده او هغوی ویلي دي زموږ مخکنیو ملګرو پر دې بنسټ فتوی ورکړې وه چي د قران کریم حافظان لږ وه او خلګو هغوی ته میل درلودی او داسي خواني او احسان تلاښوی چي د دوی سره په خپل ژوند کي مرسته وکي او دوی د قران کریم او د واجب کار د اداء کولو لپاره و دریږي نو د قران کریم حافظان به ډېر سي ، نن ورځ دغه خبري ټوله ولاړې او حافظان په خپل ژوند مشغول سول او داسي کسان ډېر کم دي چي د ثواب لپاره تعلیم ورکوي او د هغه لپاره ځان فارغه کوي هم نه ځکه د دوی حاجت دوی له دې څخه منع کوي نو که په مزدوري سره

د مزدور تاوان

س : د فقه علماوو مزدور د کار او مزدورۍ په اعتبار قسمو ته وېشلي دي ؟

د ص ۲۴۲ پاته برخه : د قران کريم د تعليم دروازه خلاصه نه سي قران کريم به هېر سي نو له دغه کبله دوی د هغه د رواوالي فتوی ورکړل او بيه ئې وګټل ، په " النهايه " کي ئې ويلي دي زموږ په زمانه کي په مزدوري سره د فقه دتعليم فتوی هم ورکول کيږي ، په " روضه الزندويسي " کي ذکر سوي دي زموږ شيخ ابو محمد عبدالله الخيزاخزي (ددواړو خاوو په زورخيزاخز ته نسبت دی چي د بخارۍ له کلو څخه يوکلی دی) ويل زموږ په زمانه کي امام ، موذن او معلم ته مزدوري اخيستل روادي هغه ويلي دي دغه رنګه ئې په " الذخيره " کي ويلي دي د قران کريم او فقه د کتابو کرايه کول نه دي روا ځکه ددې عادت نسته . په لنډ ډول ختم سو. زه وايم کله چي وروستني علماء مجبور سول ا ودا ئې وليدل چي په دغه کي د امت مصلحت دی دشافعي رح پر قول ئې فتوی ورکړل نو داسي څوك چي مزدوري اخلي د هغه لپاره په کار دي چي د خپلو ضرورتو د تر سره کولو لپاره ئې واخلي څرنګه چي ابو بکر او عمر د خلافت په دوره کي له بيت المال څخه اخيستل ځکه دوی د مسلمانانو په کارو مشغول وه . د مال جوړولو لپاره دي ئې نه اخلي بلکه په صبر او قناعت سره دي په لږ ګذاره کوي ځکه ضرورت د ضرورت په قدر اندازه کيږي . وروسته دا خبره ده چي دوی د قران او فقه پر تعليم او اذان او اقامت باندي مزدوري اخيستلو فتوی ورکړې ده د نورو عبادتو پر مزدوري اخيستلو ئې فتوی نه ده ورکړې . د شيخ المشايخ امام رباني په خپله زمانه کي د مفتيانو رئيس رشيد احمد ګنګوهي څخه په تراويحو کي د قران کريم پر اورولو مزدوري اخيستلو په هکله پوښتنه وسول ، هغه وويل پراورولو مزدوري اخيستل حرام دي . وروستنيو علماوواذان ، اقامت ، تعليم او وعظ د ضرورت له کبله له دغه حکم څخه ايستلي دي او په دغه اوريدو کي ضرورت نسته او پر اذان باندي ئې قياسول غلط دي ، له "الفتاوی الرشيديه " څخه . کله کله ويل کيږي که حافظان قران کريم په تراويحو کي نه واوروي هېريږي ئې ، موږ وايو دا ضروري نه ده چي ددغه ضرورت لپاره ئې په مزدوري سره واوروي ، که ئې بېله مزدوري څخه واوروي قران کريم محفوظ نه پاته کيږي ؟ حافظان چي د دنيوي مزدوري څخه ناامېده سي بېله مزدوري ئې د ثواب لپاره اوروي او دا د اوريدونکو مسلمانانو لپاره خير کيږي . له دې ځای څخه څرګنده سول چي کومه مزدوري چي خلګ ئې د ثواب رسولو لپاره د مړو له قريبانو څخه د قران کريم پر تلاوت اخلي پر دوی حرامه ده . د محققينو ستونکی محمد امين چي په ابن عابدين شامي سره مشهور دی په خپله رساله "شفاء العليل وبل الغليل في حکم الوصية بالختمات والتهاليل " له تقي الدين څخه نقل کړی دی چي د قرائت او د هغه ثواب مړو ته د رسېدلو لپاره مزدورول نه صحيح کيږي ځکه له هيڅ يوه امام څخه په هغه کي اجازه نه ده نقل سوې او علماوو ويلي دي که څوك د پيسو لپاره قران کريم ولولي هغه لره ثواب نسته نو مړي ته څه شی تحفه کوي ؟ مړي ته صالح عمل رسيږي صرف د تلاوت لپاره په مزدورولو سره هيڅ يوامام قول نه دی کړی د تعليم لپاره مزدورولو کي ئې اختلاف کړی دی ختم سو دده په الفاظو سره " رسائل ابن عابدين ۱۷۵"

ج : مزدور پر دوه قسمه دی : مشترك مزدور او خاص مزدور .

س : مشترك مزدور چا ته ویل کیږي ؟ .

ج : هغه څوك دی چي د هر هغه چا لپاره چي کار وروسپاري کار کوي او د یو معلوم چا لپاره خاص نه وي لکه کالي رنګونکی او دوبي ، مال دده په لاس کي امانت دی ، که ببله له حد تیري څخه هلاك سو دابو حنیفه رح په نزد ئې تاوان نه پر لازمیږي صاحبینو رح ویلي دي : تاوان ئې پر لازمیږي .

س : که دده په کار سره مال هلاك سو لکه چي د دوبي په ټکولو سره کالی څیري سي یا بار وړونکی و ښویږي او کومه رسۍ چي بار ئې په تړلی وي پرې سي یا د کښتۍ چلونکي له کشولو څخه هغه غرقه سي ، دغه هلاکېدل څه حکم لري ؟

ج : د دغه ټولو تاوان پر مزدور لازمیږي که هلاك سي مګر د کښتۍ د غرقېدو او حیوان غوځارېدو په صورت کي د انسان تاوان نه پر لازمیږي ، دغه رنګه پر ویني کښونکي او رګ خلاصونکي تاوان نه لازمیږي که په وینو کښلو او رګ خلاصولو کي تر هغه مقدار تېرې نه وي چي په عادت کي کیږي ، که ئې تېرې وکی تاوان پر لازمیږي .

س : خاص مزدور چا ته ویل کیږي ؟

ج : هغه چا ته ویل کیږي چي یو سړی ئې د یو ټاکلي مدې لپاره مزدوور کي تر څو دده سره کار وکي لکه چي یو څوك یو سړی د یوې میاشتي لپاره د مثال په توګه د خدمت یا پسو پوولو لپاره مزدور کي .

س : دده په کار سره چي یو شی هلاك سي د هغه د تاوان څه حکم دی ؟

ج : که دده په لاس کي یو شی هلاك سي یا دده په کار سره هلاك سي په دواړو صورتو کي پر ده تاوان نسته مګر که ئې تېرې وکی تاوان پر لازمیږي .

مزدور مریی په سفر بېول

س : یو مریی ئې د خدمت لپاره مزدور کی په سفر ئې بېولای سي ؟

ج : دا حق نه لري مګر که ئې په عقد کي شرط کړل بېولای ئې سي ځکه د سفر خدمت ډېر سخت دی .

کله د مزدورۍ مستحق کیږي

س : د مزدورۍ په مستحق والي کي څه تفصیل دی ؟

ج: مشترك مزدور تر هغه وخت پوري د مزدورۍ نه مستحق کيږي تر څو له خپل کار څخه فارغ کيږي او خاص مزدور چي د مزدورۍ په مده کي خپل ځان وروسپاري د مزدورۍ مستحق کيږي که څه هم ئې مزدورونکی په کار کي نه ولګوي.

س: غواړو چي د مزدورۍ د مستحق والي په هکله څه تفصيل راته معلوم سي ځکه کارونه ډېر دي او يو له بل سره فرق لري.

ج: يوازي په عقد سره مزدوري نه لازميږي، په يوه سره د درو شيانو ئې مزدور مستحق کيږي يا دا چي مخ کي ورکول ئې شرط کي يا ئې مزدورونکی بېله شرطولو څخه مخ کي ورکي (۱) يا دا چي پر کوم شي عقد سوي وي هغه پوره وروسپيږي. د هغه يو څه تفصيل په لاندي توګه دی:

۱: يو کور ئې په کرايه واخستی په کرايه ورکونکي ته دا حق سته چي د هري ورځي کرايه ځني وغواړي مګر نه که ئې د کرايه کولو په وخت کي بيان وکړي.

۲: يو حيوان ئې په کرايه واخستی د اوښ مالك د هري مرحلې (يوه اندازه مسافت دی) کرايه ځني غوښتلای سي.

۳: يو ډوډی پخونکی ئې مزدور کی چي په کور کي ډوډی وريخه کي د مثال په توګه هر قفيز په يوه درهم تر څو ډوډی له تنور څخه راوزي د مزدوري حق نه لري.

٤: يو سړی ئې ددې لپاره مزدور کی چي خښتي ورووهي هغه وخت د مزدورۍ مستحق کيږي چي خښتي و دروي، دا د ابو حنيفه رح په نزد، ابو يوسف رح او محمد رح وايي دي: تر څو تر وچېدو وروسته ئې ونه اوډي د مزدورۍ نه مستحق کيږي.

س: يو پخونکی ئې ددې لپاره مزدور کی چي د واده لپاره خوراك وريوخ کي، وريوخ کي څه وخت د مزدورۍ مستحق کيږي؟

ج: هغه وخت د مزدورۍ مستحق کيږي چي خوړونکو لره په کاسو کي ډوډی ورواچوي ځکه دا دده په کار کي داخل دي.

فائده: هر کار کونکی چي دده کار په شي کي اثر پيدا کوي لکه دوبي او کالو ګنډونکی کله چي له کار څخه فارغ سي تر څو مزدوري پوره اخلي هغه شي د ځان سره

(۱) يعني که په کرايه اخيستونکی مخ کي کرايه ورکي او کرايه ورکونکي ته ئې ورتسليم کي هغه ئې مالك کيږي لکه د نښتې پوړ چي مخ کي ئې ورکي، "الجوهرة النيرة" وګوره.

راګرځولای سي او هغه څوك چي دده كار په شي كي اثر نه پيدا كوي لكه بار وړونكی یا كښتی وان هغه شی د مزدورۍ لپاره نه سي راګرځولای .

ځيني شرطونه يادول او د مزدورونكي او مزدور تر منځ اختلاف

س : كه ئې پر كار كونكي دا شرط كړل چي خپله به كار كوي دا حق لري چي بل څوك پر ولګوي ؟

ج : دا حق نه لري .

س : كه ئې كار عام ياد كړی او دا ئې نه كړل شرط چي خپله به كار كوي ؟

ج : په دغه صورت كي كار كونكي ته روا ده چي بل څوك پر دغه كار ولګوي .

س : كه خياط ته ووايي : كه دې دغه كالی پر فارسي طرز راوګنډی يو درهم دركوم او كه دې پر رومي طرز راوګنډی دوه درهمه دركوم د غه مزدورول څه حكم لري ؟

ج : دا روا ده ، هر رنګه كار چي وكي د هغه ټاكلي مزدوري مستحق كيږي .

س : كه داسي ووايي : كه دې نن راو ګنډی په يوه درهم دی كه دې صبا راوګنډی په نيم درهم دی ، دغه څه حكم لري ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي : كه ئي په هغه ورځ وروګنډی يو درهم ئې حق كيږي ، كه ئې په صبا ورګنډی اجر مثل (دومره مزدوري چي دغه رنګه ګنډونكی ئې د دغسي كار لپاره اخلي) ئي حق كيږي او تر نيم درهم به زيات نه وي ، ابو يوسف رح او محمدرح ويلي دي دواړه شرطه روادي او د دوی دشرط او رضا مطابق دمزدورۍ مستحق كيږي .

س : يو چا خياط يا كالي رنګونكي ته ټوكر وركی ، خياط وروګنډی او رنګونكي وررنګ كی ، وروسته د ټوكره څښتن او كار كونكي اختلاف وكی ، د ټوكره څښتن وويل : ما درته ويلي وه چي چپنه راجوړه كه او تا قميص راجوړ كی ، خياط وويل : څرنګه چي تا ويلي وه هغسي مي دروګنډی يا د ټوكره څښتن رنګونكي ته وويل : ما درته ويلي وه سور رنګ وركه تا ژړ رنګ وركی ، د چا خبره منل كيږي ؟

ج : په دغه كي د قسم سره د ټوكره د څښتن خبره منل كيږي ، كه هغه قسم واخستی نو خياط او رنګونكی د مخالفت له كبله تاوان لازميږي ، د ټوكره څښتن ته اختيار سته چي د داسي كالي قيمت څني واخلي چي كار نه وي پر سوی او هغوی د مزدورۍ حق نه لري كه ټوكر اخلي اوهغوی ته اجر مثل وركوي چي تر يادي سوي مزدورۍ زيات نه وي .

س : كه د ټوكره څښتن وويل بېله مزدوري دي كړی كار كړی دی ، كار كونكي وويل په

مزدوري مي كړى دى څرنگه فيصله ئې كيږي ؟

ج: د ابو حنيفه رح په نزد په دغه صورت كي د قسم سره د ټوكره د ګنبتن خبره منل

كيږي ، ابو يوسف رح ويلي دي : كه د كالي د ګنبتن معامله دده سره په مزدوري وه نو

په لره مزدوري ستنه ، كه نه نستنه او محمد رح ويلي دي : كه كار كونكي دغسي كار په

مزدوري كوى د قسم سره دده خبره منل كيږي .

د اجارې فسخ كول (ماتول) او فسخ كېدل

س: كه د اجارې له عقد كونكو څخه يو مړ سو د اجارې عقد څرنګه چي وو هغسي

پاتيږي ؟

ج: په هغه كي كتل كيږي كه ئې د خپل ځان لپاره عقد كړى وو دده په مرګ سره اجاره

فسخ كيږي ، كه ئې د بل چا لپاره عقد كړى وو لكه وكيل د موكل (وكيل كونكي)

لپاره او ولي (سرپرست) د كوچني لپاره او پلار د خپل زوى لپاره نه فسخ كيږي .

س: په عذرو سره اجاره فسخ كيږي ؟

ج: هو په هغه سره اجاره فسخ كيږي لكه څوك چي په بازار كي دكان د تجارت لپاره

كرايه كي او مال ئې ولاړ سي يا څوك كور يا دكان په كرايه وركي وروسته مفلس سي او

ډېره پوروته پر واوړي چي پر اداء كولو ئې ددغه دكان يا كور د خرڅولو پرته قدرت نه

لري قاضي به د اجارې دغه عقد فسخ كوي او دغه كور او دكان به په پور كي خرڅوي .

س: يو چا يو حيوان ددې لپاره كرايه كى چي سفر پر وكړي ، وروسته ئې دا رايه سول

چي سفر ونه كي ، دغه د اجارې د فسخ كولو لپاره عذر كېداى سي ؟

ج: هو دا له هغو عذرو څخه دى چي د اجارې په فسخ كولو كي معتبريږي .

س: يو سړى خپل حيوانان مسافرينو ته په كرايه وركوي ، يو سړي ته ئې په كرايه وركى

چي هغه پر يو سي وروسته دسفر څخه عذر ورته پيدا سوداجارې عقد فسخ كولاى سي ؟

ج: دغه عذر د اجارې په فسخ كولو كي اعتبار نه لري ، پر ده لازمه ده چي حيوان د

نوكر سره واستوي يا خپله ورسره ولاړ سي .

په شرطو سره د اجارې فاسدېدل

س: اجاره په شرطو سره فاسديږي ؟

ج: هودبيع په شان په داسي شرطو سره فاسديږي چي داجارې عقد ئې غوښتنه نه كوي

س : کله چي اجاره فاسده سي او مزدور خپل کاروکي پر مزدورونکي څه فيصله کيږي ؟
ج : اجر مثل پر لازميږي چي تر ياد سوي مبلغ پيسو به زيات نه وي .

په اجاره کي د خيار شرط

س : په اجاره کي د خيار شرط صحيح کيږي ؟
ج : هو په هغه کي د خيار شرط صحيح کيږي څرنګه چي په بيع کي صحيح کيږي .

د شفعې كتاب

س: شفعه په عربي ژبه او شريعت كي څه ته وايي ؟
ج: دغه لفظ د " شفع " څخه جوړ سوى دى چي يو ځاى كولو (١) ته ويل كيږي ، او د فقه د علماوو په اصطلاح كي د ګاونډيتوب د ضرر د ليري كولو لپاه په كور او مځكه كي د ملكيت حاصلولو حق ته ويل كيږي ، د مثال په توګه يو سړي خپل كور يا مځكه خرڅه كي او شريك يا ګاونډى ئې په خبر سو هغه پر دغه بيع اعتراض كولاى سي او خرڅ سوى شى په هغه قيمت سره اخستلاى سي په كوم قيمت چي بل چا رانيولى وي ، دغه سړى چي د شفعې حق ورته ثابتيږي شفيع بلل كيږي .
س: د شفعې په ثابتوالي كي څه تفصيل دى ؟
ج: هغه هغه چا ته ثابته ده چي خپله په خرڅ سوي شي كي شريك وي بيا هغه چا لره چي د خرڅ سوي شي په حق كي شريك وي لكه اوبه او لاره وروسته ګاونډي لره ، كه په خرڅ سوي شي كي شريك موجود وي د اوبو او لاري شريك او ګاونډى د شفعې حق نه لري ، كه د خرڅ سوي شي شريك پرېښول د اوبو شريك يا د لاري شريك د شفعې حق لري ، كه هغه هم پرېښول ګاونډي لره شفعه ثابتيږي .
س: كله شفعه ثابتيږي او كله ټينګيږي او كله ملكيت ګرځي ؟
ج: د خرڅولو په سودا سره ثابتيږي او په شاهدانو نيولو سره ټينګيږي او اخيستلو سره چي كله ئې رانيونكى وروسپاري يا ئې حاكم فيصله وكي ملكيت ګرځي .
س: د شاهدانو نيولو طريقه بيان كړئ .
ج: كله چي شفيع په بيع خبر سي په دغه مجلس كي دي دوه كسان پر دې شاهدان كي چي دى شفعه غواړي ، دغه شاهدان نيولو ته (طلب المواثبه) ويل كيږي وروسته دي له مجلس څخه ولاړسي پرخرڅونكي دي شاهدان ونيسي كه خرڅ سوى شى دده په لاس كي

---

(١) څكه شفعه بلل كيږي چي په هغه كي رانيول سوې مځكه د شفيع د مځكي سره يو ځاى كيږي دغه رنګه د "الهدايې" مصنف ويلي دي ، عيني په "البنايه" كي د هدايې د مصنف د قول د تشريح لپاره ويلي دي څكه دى دخپل كور له وجهي دګاونډي ملكيت دخپل ځان سره يو ځاى كوي شفاعت هم له دې كبله شفاعت بلل كيږي څكه هغه كوم څوك چي شفاعت ئې كيږي دثواب ښتنتانو سره يوځاى كوي اه .

وو یا دي ئې پر رانیونکي ونیسي که ئې خرڅ سوی شی قبض کړی وو یا دي ئې د مځکي سره شاهدان ونیسي ، کله چي دغسي وکي شفعه ئې ټینګه سول او دغه ته (طلب التقریر) ویل کیږي .

س : که شفیع دغه ټوله وکړل وروسته ئي غوښتنه وځنډول او څو ورځي قاضي ته حاضر نه سو په ځنډولو سره ئې حق ساقطیږي ؟

ج : تر طلب المواثبه او طلب التقریر وروسته په ځنډولو سره د ابوحنیفه رح په نزد (۱) شفعه نه ساقطیږي او محمدرح ویلي دي : که ئې تر شاهدان نیولو وروسته بېله عذر څخه یوه میاشت پریږدي شفعه ئې باطلیږي (۲) .

س : په حمام او ژرنده کي شفعه څه حکم لري ؟

ج : شفعه په مځکه کي ثابتیږي که څه هم نه تقسیمیږي ، په دغه کي حمام او ژرنده او څاه او کوچني کورونه داخلیږي .

س : په ودانۍ او د خرما په ونه کي شفعه څه حکم لري ؟

ج : که ودانۍ او د خرما ونه بېله مځکې څخه خرڅ سي په هغو کي شفعه نسته .

س : په سامان او کښتیو کي شفعه سته ؟

ج : په هغو کي شفعه نسته .

س : په هغه کي مسلمان او ذمي فرق لري ؟

ج : مسلمان او ذمي د شفعې په حق کي برابر دي .

س : که د مثال په توګه په بخښنه سره د مځکي مالك سي په هغه کي شفعه سته ؟

ج : په دغه کي قاعده دا ده چي که د مال په عوض څوك د مځکي مالك سي شفعه ثابتیږي په رانیولو سره وي که د عوض په شرط بخښنه سره وي ، په خالص بخښنه سره چي عوض نه وي په کښې شفعه نه ثابتیږي ، پر دغه بنسټ فتوی راوزي په هغه کور کي

---

(۱) دغه د ابویوسف رح څخه هم یو روایت دی . له ده څخه یو روایت داسي راغلی دی که ئې د قاضي
په یو مجلس کي جګړه پرېښول شفعه ئې باطلیږي ، په " الهدایه " کي ئې دغه خبره ذکر کړې ده .
(۲) په " المستصفی " کي ئې ذکر کړي دي : فتوی د محمد رح پر قول ده ، په " الهدایه " کي ذکر سوي
دي د دوی دوو پر قول فتوی ده او دغه ظاهر مذهب دی ځکه کله چي حق ثابت او ټینګ سي په ښکاره
که ده د ساقطولو پرته نه ساقطیږي لکه په نورو حقوقو کي ، له " الجوهره النیره " څخه .

چي د هغه په عوض کي يوه ښځه په نکاح کي يا ښځه په هغه سره خلع وکي يا يو کور په کرايه کي يا د قصدا وژلو ځخه پر هغه باندي صلح وکي يا مريى پر ازاد کي يا د انکار او سکوت په صورت کي پر هغه صلح وکي ، په دغو ټولو صورتو کي شفعه نه ثابتيږي مګر که ئې د اقرار په صورت کي پر کور صلح وکړل شفعه په کښي ثابتيږي ځکه دغه صلح د بيع په شان ده .

س: تر طلب المواثبه او طلب التقرير وروسته به شفيع د شفعې حق ځرنګه حاصلوي ؟

ج: شفيع به قاضي ته مدعى عليه (کوم څوك چي دعوى پر سوې وي) چي د دغه کور او مځکي رانيونکى دى وړاندي کوي ، که هغه د مدعي (دعوى کونکى) چي شفيع دى په ملکيت په کوم سره چي هغه د شفع دعوى کوي اقرار وکى نو دي پر هغه فيصله وکي يعني رانيونکي ته دي امر وکي چي هغه کور يا مځکه شفيع ته وروسپاري او له هغه ځخه د هغه ثمن (هغه قدر پيسي چي سودا پرسوې وې) واخلي که رانيونکى دده د شفعې له حق ځخه منکر سو قاضي دي مدعي د شاهدانو په درولو سره امر کي ، که هغه له شاهدانو ځخه عاجز سو رانيونکي ته دي قسم کښېږدي ، داسي قسم دي واخلي چي په الله سره قسم زه نه يم خبر چي دى د هغه کور يا مځکي په کوم سره چي دى د شفع دعوى کوي مالك دى ، که ئې له قسم ځخه ډډه وکړل يا شفيع شاهدان ودرول قاضي دي پوښتنه ځني وکړي چي دغه مځکه يا کور ئې رانيولى دى ؟ که ئې د رانيولو ځخه انکار وکى قاضي دي شفيع ته ووايي شاهدان ودروه ، که هغه له شاهدانو ځخه عاجز سو رانيونکي ته دي قسم کښېږدي هغه دي داسي قسم واخلي په الله سره قسم چي نه مي دى رانيولى يا په الله سره قسم چي دغه مدعي په دغه کور کي له دغي وجهي ځخه چي ده ياده کړل د شفعې حق نه لري.

س: کله چي شفيع جګړې ته حاضر سي د قاضي مجلس ته د ثمن راوړل پر لازم دي ؟

ج: د قاضي تر قضاء مخ کي ئې حاضرول پر لازم نه دي ، کله چي قاضي ده لره د شفع فيصله وکي د ثمن حاضرول پر لازم دي .

س: شفيع کور په شفعه سره واخيستى وروسته ئې يو عيب ورته ځرګند سو يا ئې نه وو ليدلى د عيب په خيار يا ليدلو په خيار ئې بيرته ورکولاى سي ؟

ج: هو د عيب په خيار او ليدلو په خيار ئې بيرته ورکولاى سي .

س: شفيع د خرځونکي سره دعوى کولاى سي ؟

پښتو

ج : كه خرڅ سوی شی د خرڅونكي په لاس كي وو شفيع د هغه سره په شفعه كي دعوی كولای سي مګر قاضي به تر هغه وخت پوري له شاهدانو څخه شاهدي نه اوري تر څو رانیونکی حاضرېږي ، کله چي رانیونکی حاضر سي قاضي دي بیع دده په حضور کې فسخ كي او پر خرڅونكي دي د شفع فيصله وكي او د خرڅ سوي شی تسليمول او ثمن اخيستل دي دده پر غاړه واچوي .

س : كه شفيع كوم وخت چي په بيع خبر سي شاهدان نه ونيسي څه حكم لري ؟

ج : كه په هغه وخت كي چي په بيع خبر سي شاهدان نه ودروي او قدرت پر لري شفعه ئي باطليږي ، دغه رنګه ئې شفعه باطليږي كه ئې په مجلس كي شاهدان ودرول او نه ئې له سودا كونكو څخه پر يوه شاهدان ودرول نه پر مځكه .

س : كه يوڅوك له خپلي شفعي څخه پر يو عوض جوړه وكړي او هغه واخلي څه حكم لري ؟

ج : په دغه صورت كي ئې شفعه باطليږي او كوم عوض چي ئې اخيستی وي د هغه بيرته وركول پر لازم دي .

س : كه شفيع يا رانيونكی مړ سي شفعه ساقطيږي ؟

ج : كه شفيع مړ سي شفعه باطليږي ، كه رانيونكی مړ سي نه باطليږي .

س : كه شفيع كومه مځكه چي په هغه سره د شفعې حق غواړي خرڅه كي څه حكم لري؟

ج : كه شفيع مخ كي له دې څخه چي ده لره د شفعې فيصله كيږي خپل ملكيت په كوم سره چي د شفعي غوښتنه كوي خرڅ كی شفعه ئې باطليږي .

س : يو چا يو سړی د خپل كور د خرڅولو لپاره وكيل كړی ، وكيل هغه كور خرڅ كړی او د شفعې حق ئې درلودی ، د شفعي غوښتنه كولای سي ؟

ج : حق ئې ضائع سو او د شفعي حق نه لري .

س : كه د رانيونكي وكيل د خپل موكل لپاره مځكله رانيسي او د شفعي حق لري د شفعي څه حكم دی ؟

ج : هغه د شفعي حق لري د بل چا لپاره په رانيولو سره دده حق نه باطليږي .

س : يو سړی يو كور رانيول غواړي مګر په دغه معامله كي له تاوان څخه بيريږي ، يو سړي د خرڅونكي له خوا د هغه د ملكيت ضامن سو ، كله چي بيع پوره سول دغه سړي له دې كبله چي دی شفيع وو د شفعي غوښتنه وكړل ، د شفعي فيصله ده لره كيږي ؟

له خوا پوره سول .
ج : هغه لره د شفعي حق نه سو پاته ځکه سودا دده
س : يو چا د شرط په خيار سره مځکه خرڅه کړل شفيع د خپل حق غوښتنه کولای سي ؟
ج : په دغه صورت کي شفيع لره شفعه نسته ځکه د خرڅونکي د خيار له وجهي خرڅ سوی شی د هغه له ملکيت څخه نه وزي .
س : يو چا د خيار په شرط سره مځکه خرڅه کړل وروسته ئې خيار ساقط کړی ، شفيع د شفعي دعوی وکړل ، دعوی ئې څه حکم لري ؟
ج : کله چي خرڅونکي خيار ساقط کړی شفيع ئې غوښتنه کولای سي .
س : يو چا د شرط په خيار يو مځکه رانيول ، شفيع د خپل حق غوښتنه وکړل څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي د شفيع دعوی صحيح ده ځکه خرڅ سوی شی د خرڅونکي د ملکيت څخه ووتی .
س : يو چا يو کور په فاسده بيع سره رانيوی ، په هغه کي د شفعي څه حکم دی ؟
ج : که يو چا يو شی په فاسده بيع سره رانيوی په هغه کي شفعه نسته او له خرڅونکي او رانيونکي څخه هر يو د فسخ کولو حق لري ، کله چي فسخ ساقطه سي شفعه ثابتيږي .
س : که ذمي يو کور په شرابو يا سرکوزي سره رانيوی او شفيع ئې مسلمان يا بل ذمي وو خپل حق به څرنګه اخلي ؟
ج : ذمي به ئې د شرابو په مثل (دغه مقدار دغه قسم شراب) او د سرکوزي په قيمت سره اخلي او مسلمان به ئې دشرابو او سرکوزي په قيمت سره اخلي .
س : که شفيع او رانيونکي د قيمت په مقدار کي اختلاف وکړی د چا خبره منل کيږي ؟
ج : د قسم سره د رانيونکي خبره منل کيږي .
س : که له دوی څخه هر يوه شاهدان ودرول قاضي به څرنګه فيصله کوي ؟
ج : ابو حنيفه رح او محمد رح ويلي دي : د شفيع په شاهدانو سره دي فيصله کوي او ابو يوسف رح ويلي دي : د رانيونکی په شاهدانو سره دي فيصله کوي .
س : که رانيونکي او خرڅونکي اختلاف وکی رانيونکي له ثمن څخه زياته دعوی وکړل د کوم چي خرڅونکي دعوی کول ، شفيع به ئې په کوم ثمن سره اخلي ؟
ج : په هغه کي دوه صورته دي : که خرڅونکي قيمت قبض کړی وو شفيع دي خرڅ سوی شی په هغه ثمن اخلي کوم چي رانيونکي وايي ، د خرڅونکي خبري ته نه کتل کيږي

او که خرڅونکي ثمن نه وي قبض کړی په هغه ثمن دي ئي واخلي کوم چي خرڅونکي وايي او دغه د رانیونکي لپاره ثمن کمول بلل کیږي .

س کله کله خرڅونکی ثمن کموي یا تر سودا او لږ باندي راضي کېدو وروسته رانیونکی ثمن زیاتوي شفیع به په کوم ثمن سره خرڅ سوی شی اخلي ؟

ج : که خرڅونکي له رانیونکي څخه یو څه ثمن کم کړی د شفیع څخه هغه ساقطیږي. که ئې ټوله ثمن وربښوی د شفیع څخه نه ساقطیږي ځکه دغه پرېښول په اصل سودا کي نه ګڼل کیږي او که رانیونکي د خرڅونکي لپاره ثمن زیات کړی پر شفیع زیات مقدار نه لازمیږي .

س : یو سړي یو کور په نېټه والا ثمن سره رانیوی ، شفیع د شفعي دعوی وکړل او ده لره په هغه سره فیصله وسول ، شفیع پر دې مجبوره کیږي چي ثمن په هغه وخت کي اداء کي ؟

ج : په دغه کي شفیع اختیار لري په حالي ثمن سره ئې اخلي که انتظار کوي تر څو چي نېټه تېره سي وروسته دي ئي واخلي ، پر حالي ثمن نه مجبوره کیږي .

س : یو سړي یو کور د پېمانې یا تول په شي سره رانیوی ، شفیع وغوښتل چي دغه کور واخلي خرڅونکي یا رانیونکي ته به څه شی اداء کوي ؟

ج : هغه ته دي هغه رنګه د پېمانې یا تول شی ورکوي .

س : که یو کور په سامان سره خرڅ سو شفیع چي د هغه اخیستل وغواړي رانیونکي ته به څه شی اداء کوي ؟

ج : د سامان په ثمن سره به ئې اخلي .

س : که ئې مځکه په مځکه سره رانیول شفیع به ئې په څه شي سره اخلي ؟

ج : شفیع دي هره یوه د هغه بلي په ثمن سره اخلي .

س : یو کور خرڅ سو او یو سړي په هغه کي د شفعي حق درلودی ، شفیع ته دا خبر ورسېدی چي په زر خرڅ سو او ده شفعه پرېښول ، وروسته خبر سو چي تر هغه په کم سره خرڅ سوی دی یا په غنمو یا اوربشو سره خرڅ سوی دی چي ثمن ئې زر یا زیات وو د شفعي حق لري ؟

ج د شفعي پرېښول اعتبار نه لري ځکه هغه د خطا ایستلو خبر وو .

س : یو کور په زر درهمه خرڅ سو ، شفیع شفعه پرېښول وروسته څرګند سول چي په

دینارو خرڅ سوی وو چي قیمت ئې زر درهمه وودغه خطا ایستل بلل کیږي ؟
دغه خطا ایستل نه بلل کیږي او د شفعي تر پرېښولو وروسته ده لره حق نسته .
س : یو چا ته خبر ورسېدی چي فلانکي کور یا مځکه رانیول ، شفعه ئې پرېښول
وروسته خبر سو چي رانیونکی بل څوك وو د شفعي ساقطېدل څه حکم لري ؟
ج : په دغه سره ئې حق نه ساقطیږي او د شفعي حق لري .
س : یو چا یو سړی دیو کور د رانیولو لپاره وکیل کړی ، هغه ور رانیوی ، شفیع د خپل
حق اخیستلو دعوی وکړل په دغه کي خصم (څوك چي دعوی ورسره کیږي) څوك دی ؟
ج : په دغه کي وکیل خصم دی څوك چي سودا ئې کړې ده مګر که ئې موکل ته
ورسپارلی وو په هغه وخت کي موکل خصم دی .
س : یو سړي یو مځکه رانیول او په هغه کي ئې کور جوړ کړی یا ئې ونه په کښي شنه
کړل ، وروسته په هغه سره د شفیع لپاره فیصله وسول ، شفیع به په هغه ودانۍ یا ونه
سره څه کوي ؟
ج : شفیع لره اختیار سته چي د مځکي په ثمن او د ودانۍ او وني په داسي قیمت سره
ئې اخلي چي هغه نړېدلې او ختلې وي یا رانیونکی د هغه په نړولو او کښلو سره مجبوره
کوي .
س : شفیع یو کور واخیستی ودانۍ ئې په کښي جوړه کړل یا ئې ونه په کښي شنه کړل
وروسته څرګنده سول چي د کور مالك بل څوك دی او له هغه کبله بیع فسخ سول شفیع
به څه کوي ؟
ج : کوم ثمن چي ده اداء کړی دی هغه به بیرته ځني اخلي د ودانۍ او وني قیمت نه سي
ځني اخستلای .
س : که کور ونړېدی یا ئې ودانۍ وسوځل یا د باغ ونه پرته د یو چا له عمل څخه وچه
سول او شفیع لره د هغه فیصله وسول ، شفیع به ئې په څه شي سره اخلي ؟
ج : شفیع لره اختیار سته چي په ټوله ثمن سره ئې اخلي که ئې پرېږدي .
س : که رانیونکي ودانۍ ونړول او مځکه پاته سول شفیع به ئې په څو اخلي ؟
ج : هغه لره اختیار سته چي له ثمن څخه د هغه مځکي څومره برخه ده په هغه سره ئې
اخلي که شفعه پرېږدي ، نړېدلې ودانۍ نه سي اخیستلای .
س : یو چا یومځکه رانیول او په هغه کي د خرما وني او پرهغو میوه وه او د شفیع لپاره

ئې فيصله وسول ، په دغه وخت كې به خالي مځكه اخلي كه به ئې د ميوې سره اخلي ؟
ج : د ميوې سره به ئې اخلي (۱) .
س : كه ئې د خرما د ونې او مېوې سره مځكه رانيول ، وروسته ئې هغه پرې كړل او د شفيع لپاره ئې فيصله وسول ، په دغه صورت كې شفيع په څه شي سره امر كيږي ؟
ج : شفيع ته ويل كيږي دمېوې په قدر دمځكې ثمن كم كه اوياته په پاته قيمت واخله .
س : يو سړي كور رانيوى ، شفيع شفعه پرېښول وروسته رانيونكي د ليدلو يا شرط په خيار يا په عيب سره خرڅونكي ته واپس كړى شفيع ته د شفعې حق بيرته راگرځي ؟
ج : په دغه كې كتل كيږي كه رانيونكي د قاضي په قضاء سره واپس كى نو ده لره شفعه نسته او حق ئې نه راگرځي ، كه ئې د قاضي د قضاء پرته واپس كړى يا ئې بيع فسخ كړل نو شفيع لره د شفعې حق سته .
س : كه يو څو كسان په يوه مځكه كې سره شريكان وه او سره وئې وېشل گاونډي لره د شفعې حق سته ؟
ج : په دغه صورت كې گاونډي ته د شفعې حق نسته ځكه وېشل بيع نه ده بلكه هغه د حقوقو بېلول دي .
س : يو كور چې شفيعان ئې درلودل خرڅ سو او هر شفيع وغوښتل چې هغه واخلي دغه كور به په خپل منځ كې څرنگه سره ويشي ؟
ج : د سړو پر سر به ئې سره ويشي ، د ملكيتو اختلاف ته نه كتل كيږي .
س : ددې لپاره يو مثال بيان كړئ .
ج : يو كور د درو كسانو په منځ كې مشترك وو ، نيمى د يوه وو ، دريمه د بل وه او شپږمه د بل وه ، د نيمي څښتن خپله برخه خرڅه كړل ، هر شفيع دومره حق لري لكه دده ملگرى چې ئې لري دواړه سره برابر دي ، د شپږمي برخې د څښتن برخه نه كميږي .
س : يو چا يو كور په يو ثمن سره رانيوى ، وروسته رانيونكي خرڅونكي ته يو كالى وركى ، شفيع به كور په څه شي اخلي ؟
ج : د هغه په ثمن به ئې اخلي نه په كالي سره ځكه پر كالي سودا نه ده سوې ، په دوهمه سودا سره د هغه مالك سو .

---

(۱) يعني كه ئې مېوه په بيع كې ياده كړل ځكه بېله يادولو څخه نه داخليږي ، له " الهدايې " څخه .

س: د شفعي حق په څينو صورتو کي ساقطيږي ؟
ج: که يو چا يوکور خرڅ کی او دشفيع د برخي سره برابر په اوږدو ئې يو گز راوگرځوی په دغه سره د شفيع حق باطليږي ځکه د شفيع په ملکيت سره خرڅ سوی کور نه دی نښتی ، دغه حيله خلګ د شفعي د ساقطولو لپاره غوره کوي .
س: د دغه حيلې پرته بله حيله سته ؟
ج: د فقه علماوو د دغه پرته يوه بله حيله ذکر کړې ده ، هغه داده چي د يو کورڅخه يوه برخه په يو قيمت سره رانيسي وروسته ئې پاته برخه رانيسي نو د شفعي حق هغه چا ته سته چي په اوله برخه کي ورسره شريك وي نه گاونډي ته (۱) .
س: د شفعي په ساقطولو کي حيله مکروه ده ؟
ج: د ابو يوسف رح په نزد نه ده مکروه د محمد رح په نزد مکروه ده (۲) .

---

(۱) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : ځکه شفيع په دواړو کي گاونډی دی مګر رانيونکی په دوهمه حصه کي شريك دی نو دی پر هغه مخکي کيږي ، که ئې حيله کول يوه حصه دي د کور په قيمت ببله يوه درهم څخه د مثال په توګه رانيسي او پاته دي په پاته رانيسي اه . د " الجوهرې " مصنف ويلي دي : د فقه صورت دادی چي يو سړی يو کور لري چي په زر درهمه ارزي او دی غواړي چي په داسي ډول ئې خرڅ کي چي شفيع ئې نه واخلي د هغه لسمه حصه دي په نه سوه خرڅه کي وروسته دي د هغه نه لسمي په سل خرڅي کي نو شفعه يوازي په لسمه کي د هغې په قيمت ثابتيږي ، په نهو لسمو کي شفعه نه ثابتيږي ځکه کله چي رانيونکي نه لسمي رانيولې په هغه کي د لسمو په حساب سره شريك سو اه .
(۲) د محمد رح دليل دادی چي شفعه د ضرر د ليري کولو لپاره ثابته سوې ده نو که موږ حيله روا کو ضرر مو نه کی ليري ، د ابو يوسف دليل دادی چي هغه د حق ثابتولو څخه ځان ژغورل دي نو ضرر نه گڼل کيږي ، له " الهدايې " څخه .

د شراکت کتاب

س : شراکت څه ته وايي ؟

ج : هغه د دوو مالو داسي ګډېدلو ته ويل کيږي چي نه سره بېليږي ، هغه يا په دې توګه سره چي دواړه طرفونه ئې سره ګډ کي يا په دې توګه سره چي بېله ګډولو خپله وي لکه چي دوه کسان يو مال په ميراث يوسي يا ورته وبخښل سي يا د يوه مال سره بېله عمل څخه داسي سره ګډ سي چي نه سره بېليږي .

س : د شراکت قسمونه بيان کړئ .

ج : شراکت پر دوه قسمه دی د ملکيتو شراکت او د عقدو (تړونو) شراکت .

س : د ملکيتو شراکت څه ته وايي ؟

ج : د هغه صورت دا دی چي دوه کسان يو مال په ميراث يوسي يا ئې رانيسي نو د هغه په ملکيت کي سره شريکان دي .

س : دغه شراکت څه حکم لري ؟

ج : د هغه حکم دا دی چي يوه شريك لره نه ده روا چي د هغه بل په برخه کي د هغه اجازې پرته تصرف وکي او هر يو د خپل ملګري په برخه کي د بېګانه په شان دی .

س : د عقدو شراکت څه ته وايي ؟

ج : هغه پر څلور قسمه دی او هر يو خان ته احکام لري :

۱ : د مفاوضې شراکت .

۲ : د عنان شراکت .

۳ : د صنائع شراکت .

٤ : د وجوه شراکت .

س : د مفاوضې د شراکت تعريف او احکام بيان کړئ .

ج : د مفاوضې شراکت دا دی چي دوه سړيان په داسي ډول سره شريکان سي چي مال او تصرف او دين ئې سره برابر وي او هغه په وکالت او ضمانت سره کيږي ، نو هر يو چي کوم شی رانيسي هغه په شراکت سره دی بېله د خپلي کورنۍ ډوډۍ او کالي او پر هر يوه چي د داسي شي په عوض کي کوم پور اوړي چي په هغه کي شراکت صحيح کيږي

هغه بل د هغه لپاره ضامن دى ، دغه شراكت د داسي كسانو په منځ كي چي مسلمانان بالغان او عاقلان وي صحيح كيږي ، د ازاد او مريي يا كوچني او بالغ يا مسلمان او كافر په منځ كي نه صحيح كيږي .

س : كه دوو سړيانو د مفاوضې شراكت وكى وروسته يوه يو داسي مال په ميراث يووړى چي شراكت په كښي صحيح كيږي يا مال وروبخښل سو او دده لاس ته ورسېدى ، شراكت پر خپل حال پاته كيږي ؟

ج : په دغه سره د مفاوضې شراكت باطليږي او د عنان شراكت ګرځي .

س : دمفاوضې د شراكت د صحيح والي لپاره د دغو شيانو پرته چي تاسي ذكر كړل بل شرط سته ؟

ج : هو يو بل شرط هم سته ، هغه دا دى چي د مفاوضې شراكت بېله دراهمو او دنانيرواو چلېدونكي پيسو په بل شي كي نه صحيح كيږي ، مګر كه داسي شى وو چي خلګو په هغه سره معاملې كولي لكه د سرو زرو خښتي او سپين زر په هغه كي شراكت صحيح كيږي .

س : كه د دوو كسانو سره دراهم او دنانير نه وه ، سامان ورسره وو ، كه دوى دغه شراكت كول غواړي څه به كوي ؟

ج : يو دي خپل نيم مال د هغه بل په نيم مال سره خرڅ كي وروسته دي شراكت وكي .

س : د عنان شراكت څه ته وايي ؟

ج : هغه دا دى چي دوه كسان په يو خاص تجارت يا عامو تجارتو كي شريكان سي .

س : دغه شراكت څه حكم لري ؟

ج : دغه شراكت روا دى او په وكالت سره كيږي نه په ضمانت سره يعني په دوى كي هر يو چي د شراكت لپاره يو مال رانيسي قيمت ئې يوازي له هغه څخه غوښتل كيږي د هغه بل څخه نه غوښتل كيږي او د خپل شريك څخه به د هغه د برخي په اندازه قيمت اخلي ، پر هر يوه چي كوم پور باندي سي هغه بل ئې ضامن نه دى .

س : په دغه شراكت كي په مال كي يو پر بل زياتوب صحيح كيږي كه يو رنګه والى ضروري دى ؟

ج : په دغه كي په مال كي يو پر بل زياتوب صحيح كيږي څرنګه چي برابر والى صحيح كيږي ، سره له دې چي مالونه ئې سره برابر وي په ګټه كي هم زياتوب صحيح كيږي .

س : دا روا دی چي هر يو د خپل مال په يوه حصه کي دغه شراکت وکي ؟
ج : هو دا روا دی .
س : دغه شراکت په څه شي سره صحيح کيږي ؟
ج : په هغو شيانو کي کوم چي موږ د مفاوضې په شراکت کي بيان کړل صحيح کيږي يعني په درهمو ، دينارو او کومو شيانو کي چي خلک معاملې په کوي لکه د سرو زرو خښتي او سپين زر .
س : که د يوه دينارونه وه د بل درهمونه وه شراکت صحيح کيږي ؟
ج : په دغه صورت کي شراکت صحيح کيږي .
س : په هغه صورت کي تاسي څه واياست چي دواړه مالونه يا يو مال د يو شي تر رانيولو مخکي هلاك سي ؟
ج : شراکت باطليږي .
س : که يوه په خپل مال سره يو شی رانيوی او د هغه بل مال تر رانيولو مخکي هلاك سو ددوی په منځ کي څه فيصله کيږي ؟
ج : رانيول سوی شی ددوی په منځ پر هغه حصو دی چي دوی سره شرط کړي وي او کوم يو چي شی ئې رانيولی وي د خپل ملګري څخه دي د هغه د پيسو حصه واخلي .
س : که دوو سړيانو د عنان شرکت کول غوښتل او خپل مالونه ئې نه سره ګډول په دغه صورت کي دغه شراکت صحيح کيږي .
ج : هو صحيح کيږي ، د عنان په شراکت کي د مالو يو ځای کول ضروري نه دي .
س : که دوو کسانو د عنان شراکت وکی او يوه خپل ځان لره يو څو ياد سوي درهمونه وټاکل څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي شراکت نه صحيح کيږي ځکه کېدای سي چي د ياد سوو درهمو پرته نوره ګټه نه سي پيدا .
س : د مفاوضې او عنان شريکان په هغه مالو کي چي دوی په کښي شريکان دي د کومو شيانو اختيار لري ؟
ج : د مفاوضې او عنان شريکانو هر يوه ته دا روا ده چي مال د تجارت لپاره وټاکي او په مضاربت ئې ورکي او بل څوك د هغه د تصرف لپاره وکيل کي او يو چا ته ئې په ګرو

ورکي او يو شی په ګرو واخلي او يو ښېګانه سړی مزدور کي او په نقد او پور سره شي خرڅ کي ، د هر يوه لاس د امانت لاس دی .

س : د صنائعو شراکت څه رنګه دی ؟

ج : د هغه صورت دا دی چي دوه خياطان يا د تهوکر رنګونکي د مثال په توګه په دې ډول سره شريکان سي چي کارونه به نيسي او ګټه به ئې د دوی په منځ کي نيمی وي .

س : پر هر يوه څه شی لازم دی ؟

ج : کوم کار چي يو ئې نيسي پر ده او دده پر شريک لازميږي .

س : که يوه کار وکی هغه بل نه وکی هغه يو چي کار ئې کړی وي مستحق کيږي ؟

ج : يوازي هغه نه مستحق کيږي بلکه ګټه ددوی په منځ کي نيمی ده .

س : د وجوه شراکت څه ته وايي ؟

ج : هغه دا دی چي دوه کسان په دې ډول سره شريکان سي چي د خپل اعتبار په وجه به شيان رانيسي او خرڅوي به ئې ، مالونه نه ولري ، دغه شراکت روا دی او هر يو د هغه بل لپاره په رانيول سوي شي کي وکيل ګڼل کيږي .

س : په ګټه کي يو تر بل زياتوب روا دی ؟

ج : په دغه شراکت کي په ګټه کي يو تر بل زياتوب نه دی روا ، که ئې دا وټاکل چي رانيول سوی شی به د دواړو په منځ کي نيمی وي نو ګټه هم دغسي ده او که ئې دا وټاکل چي رانيول سوی شی به ددوی په منځ کي په دريمو سره وي نو ګټه هم دغسي ده .

س : په لرګو کولو ، وښو کولو او ښکار کولو کي شراکت څه حکم لري ؟

ج : دغه شراکت نه دی روا ، کوم ښکار يا لرګي يا واښه چي يو ئې وکي د هغه دي دده د ملکري نه دی ، نه په مال کي شراکت کيږي نه په ګټه کي .

س : که يوه سړي غاتره درلودل او بل ژی ، دواړو د اوبو په راکښلو او پر خلګو خرڅولو کي په دې ډول شراکت وکی چي ګټه ئې نيمی وي دغه شراکت صحيح کيږي ؟

ج : دغه شراکت نه صحيح کيږي .

س : که په دوی کي يوه په هغه سره اوبه راوکښلې په هغه ګټه کي څه فيصله کيږي ؟

ج : ګټه ټوله د هغه ده چي اوبه ئې راکښلي وي ، که د غاتري څښتن کار کړی وو د ژي څښتن ته دي د هغه کرايه ورکي او که د ژي څښتن راکښلي وي د غاتري اجر مثل دي ورکي (۱) .

س : که دوه کسان د فاسد شراکت عقد سره وکي او گټه پیدا سي گټه د دوی په منځ څرنگه وېشل کېږي ؟

ج : د راس المال څه د هر یوه د مال په قدر وېشل کېږي او د زیاتوب شرطول باطل دي .

س : یو شریك به د هغه بل زکات اداء کوي ؟

ج : یو به د بل زکات پرته د هغه د اجازې نه اداء کوي .

س : که هر یوه خپل ملگري ته د هغه د زکات اداء کولو اجازه وکړل ، هر یوه زکات اداء کړی تاوان لازمیږي ؟

ج : د ابو حنیفه رح په نزد دوهم به د هغه مال تاوان ورکوي چي ده خرڅ کړی وي که د اول په اداء کولو خبر وي که نه ، صاحبینو رح ویلي دي : که د اول په اداء کولو نه وو خبر تاوان نه پر لازمیږي (١) .

س : کله چي شراکت و سي د هغه د فسخ کولو پرته باطلیږي ؟

ج : کله چي یو شریك مړ سي یا مرتد سي (نعوذ بالله) او د کفر ښار ته ولاړ سي شراکت باطلیږي .

د ص ۲٦١ پاته برخه : (١) د شراکت فاسدوالی له دې کبله دی چي هغه د یو داسي شي په جمع کولو کي سوی دی چي هر چا ته ئې اخیستل روا دي یعني اوبه ، کرایه ددې وجهي څخه چي کله روا شی د جمع کونکي یعني اوبه راکښونکي ملکیت سو د بل یوه د ملکیت د گټو څخه ئې په فاسد عقد سره استفاده وکړل چي هغه غاتره یا ژی دی نو د هغه کرایه پر لازمیږي ، له " الهدایه " څخه .

(١) دا هغه وخت که دوی یو تر بل وروسته زکات اداء کی ، که دواړو یو ځای اداء کی پر هر یوه د خپل ملگري د حصې تاوان لازمیږي ، له " الهدایې " څخه .

د مضاربت کتاب

ن : مضاربت په لغت او شریعت کي څه ته وايي ؟

: مضاربت له ضرب څخه جوړ سوی دی یعني په مځکه کي تګ کول او په شریعت کي
اسي یو تړون دی چي دوه کسان په ګټه کي سره شریکان وي او مال د یوه شریك وي
ار د بل ، بېله هغه مال څخه چي په مخکني باب کي مو بیان کی په بل شي کي نه
حیح کیږي .

: د مضاربت د صحیح والي شرطونه سته ؟

: د هغه د صحیح والي لپاره دوه شرطونه دي :

۱ : مال به مضارب (هغه شریك چي کار کوي) ته سپارل سوی وي په داسي ډول
ي د رب المال (هغه شریك چي مال دده وي) تصرف به په هغه کي نه وي .

۲ : ګټه به د دوی په منځ کي په ګډه توګه وي په داسي ډول چي یو د یاد سوو
همو مستحق نه وګرځول سي .

: کله چي د عقد په اعتبار مضاربت صحیح سي کار کونکي لره کوم شیان روا دي ؟

: که مضاربت عام وو په یوه خاصه زمانه ، ځای یا سامان پوري نه وو خاص سوی
ارب چي کوم شی وغواړي خرڅولای او رانیولای ئې سي او سفر کولای سي او یو شی
جارت لپاره تاکلای سي او یو څوك وکیلولای سي ، که رب المال په یو خاص ښار یا
ص سامان پوري تصرف خاص کړی مضارب ته نه ده روا چي تر هغه تېری وکي .

: که د مال څښتن د وخت په اعتبار یو حد وټاکی یعني مضاربت ئې په یو معلومه
ه پوري خاص کی څه حکم لري ؟

: دا روا دی او پر مضارب لازمه ده چي تر هغه تېری ونه کي او د هغه په تېرېدو سره
د باطلیږي .

: مضارب ته دا روا ده چي بل چا ته مال په مضاربت ورکي ؟

ده ته دا نه ده روا مګر هغه وخت ورته روا ده چي د مال څښتن اجازه ورته وکي او
ه ووايي په خپله رایه سره کار وکه .

س : كه مضارب بل چا ته مال په مضاربت ورکی او د مال ښبنتن دهغه اجازه نه وه ورته کړې ، اول مضارب د رب المال د مال ضامن ګڼل کيږي ؟
ج : هغه ئې ضامن کيږي مګرنه صرف په عقدسره نه ددوهم مضارب په تصرف سره بلکه هغه وخت اول مضارب درب المال دمال ضامن کيږي کله چي دوهم مضارب ګټه وکړي کله چي دوهم مضارب ګټه وکي اول مضارب به رب المال ته د مال تاوان ورکوي (۱).
س : كه رب المال خپل مال مضارب ته په دې توګه ورکی چي ګټه به ددوی په منځ کې نيمی وي ، د هغه سره ئې دا اجازه ورته وکړل چي مال بل چا ته په مضاربت ورکي څه حکم ئې دی ؟
ج : دا روا دی .
س : د دغو درو په منځ کي ګټه څرنګه ويشل کيږي ؟
ج : په دغه کي کتل کيږي كه رب المال نيمه ګټه خپل ځان ته وټاکل او داسي ئې وويل : کومه ګټه چي الله ﷻ ئې پيدا کي هغه زموږ په منځ کي نيمی ده او اول مضارب دوهم مضارب ته په دې توګه مال ورکی چي د دوی په منځ کي به ګټه په دريمه سره وي يعني دوې دريمي به دده وي او يوه دريمه به د دوهم مضارب وي ، په دغه صورت کي چي کومه ګټه پيدا سي نيمی د رب المال کيږي ، يوه دريمه ئې د دوهم مضارب کيږي او يوه شپږمه ئې د اول مضارب کيږي ، او كه رب المال وويل : کومه ګټه چي الله ﷻ ئې نا ته درکي هغه زموږ په منځ کي نيمی ده او اول مضارب دوهم مضارب ته وويل : کومه ګټه چي ته وکې دوې دريمي ئي زما دي او يوه دريمه ئې ستا ده ، په دغه صورت کي يوه دريمه د دوهم مضارب کيږي او دوې دريمي د رب المال او اول مضارب په منځ کي نيمی کيږي .
س : كه رب المال نيمه ګټه د خپل ځان لپاره وټاکل او داسي ئې وويل : کومه ګټه چي الله ﷻ ئې پيدا کي نيمی ئې زما ده او اول مضارب مال په نيمي سره بل مضارب ته ورکی ګټه څرنګه ويشل کيږي ؟
ج : درب المال اودوهم مضارب په منځ کي ګټه په نيمي سره ويشل کيږي اواول مضارب

(۱) وروسته كه رب المال د اول مضارب څخه تاوان واخلي د اول مضارب او دوهم مضارب تر منځ مضاربت صحيح کيږي او ګټه ددوی په منځ کي ددوی د ټاکلو مطابق ويشل کيږي ، له "الهدايه" څخه.

هيڅ حق نه لري .

س : که په دغه صورت کې (۱) دوهم مضارب د خان لپاره دوې دريمې وټاکلې او اول مضارب په راضي سو رب المال او دوهم مضارب ته څومره ګټه رسيږي ؟

ج : رب المال به نيمه ګټه اخلي او دوهم مضارب به هم نيمه ګټه اخلي او اول مضارب به دوهم مضارب ته د ګټې د شپږمې حصې په قدر د خپل مال څخه تاوان ورکوي تر څو چې د هغه دوې دريمې پوره سي .

س : يو سړي مال درلودی يو بل چا ته ئې په مضاربت سره ورکی او مضارب د رب المال پلار يا زوی وليدی چې مريی وو په بازار کې خرڅېدی ، ده ته ئې رانيول روا دي ؟

ج : مضارب د رب المال پلار يا زوی نه سي رانيولای نه بل داسي څوك چې پر هغه ازاديږي .

س : كه ئې رانيوی په دغه صورت کې په څه شي سره فيصله کيږي ؟

ج : داسي فيصله کيږي چې هغه د خپل ځان لپاره رانيولی دی د مضاربت په مال کې نه شمېرل کيږي .

س : مضارب داسي کسان رانيولای سي چې پر ده ازاديږي ؟

ج : که مال ګټه کړې وه داسي کسان نه سي رانيولای چې پر ازاديږي ، که ئې رانيول د مضاربت د مال تاوان به ورکوي ، که مال ګټه نه وه کړې رانيول ئې ورته روا دي .

س : که تر رانيولو وروسته د هغو قيمت زيات سو او ګټه ښکاره سول په دغه صورت کې دده برخه ازاديږي او رب المال ته به تاوان ورکوي ؟

ج : دده برخه له هغو څخه ازاديږي او د رب المال هيڅ تاوان نه پر لازميږي مګر ازاد سوی به د رب المال لپاره د هغه د برخې د قيمت لپاره زيار باسي .

س : مضارب لره دا روا ده چې په پور شی خرڅ کې ؟

ج : په پور او نقد سره خرڅول ورته روا دي ځکه دا دتجارت له ضرورياتو څخه دي .

س : که مضارب مريی يا مينځه د مضاربت په مال رانيول دا ورته روا ده چې مريي يا مينځې ته نکاح وروکي ؟

ج : دا نه ده ورته روا .

(۱) يعني په هغه صورت کې چې رب المال نيمه ګټه د خپل ځان لپاره وټاکې .

س : كه رب المال مضارب له كار څخه وايستی ، تر هغه وروسته دمضارب له خوا د مضاربت په مال كي تصرف كول څه حكم لري ؟

ج : كه رب المال مضارب له كار څخه وايستی اوهغه نه وو په خبر يو شی ئې رانيوی يا ئې خرڅ كی تصرف ئې صحيح دی ، كه په ايستلو خبر وو او مال دده په لاس كي سامان وو هغه خرڅولای سي ، له كار څخه ايستل ئې له دغه سودا څخه نه سي راګرځولای ، تر هغه وروسته د هغه په قيمت سره بل شی نه سي رانيولای او كه ئې په داسي وخت كي وايستی چي راس المال دده په لاس كي نقد سوي (۱) درهمونه او دينارونه وه تصرف نه سي په كښي كولای .

س : كه رب المال او مضارب سره جلا سول اوپه مال كي پورونه وه څوك به ئې راباسي ؟

ج : كه په مال كي ګټه وه حاكم دي مضارب پر پور كښلو مجبور كي ، كه په مال كي ګټه نه وه د پورو كښل نه دي پر لازم او ده ته ويل كيږي چي رب المال د پور كښلو لپاره وكيل كه .

س : كه يو قدر مال هلاك سي د راس المال څخه ګڼل كيږي كه د ګټي څخه ؟

ج : د مضاربت له مال څخه چي يو څه قدر مال هلاك سي هغه له ګټي څخه ګڼل كيږي ، كه هلاك سوی مال تر ګټي زيات سو په هغه كي پر مضارب تاوان نسته .

س : كه دوی ګټه سره وېشل او مضاربت پر خپل حال وو ، وروسته ټوله يا يو څه مال هلاك سو څه به كوي ؟

ج : ګټه به بيرته راوړي تر څو رب المال راس المال پوره كوي ، كه يو شی زيات سو هغه ددوی په منځ كي وېشل كيږي ، كه د راس المال څخه يو څه قدر كم سو پر مضارب تاوان نه لازميږي .

س : كه ئې ګټه وېشلې وه او مضاربت ئې فسخ كړی وو بيا ئې دوهم ځل د مضاربت عقد وكړی او مال ټوله يا يو څه هلاك سو ، اوله ګټه به بيرته راوړي ؟

ج : په دغه صورت كي به اوله ګټه بيرته نه راوړي ځكه اوله ګټه د دوهم مضاربت سره كومه اړه نه لري .

س : په كوم صورت كي مضاربت باطليږي ؟

---

(۱) يعني سره او سپين زر سوي وه وروسته تر دې چي سامان وو .

ج : كه رب المال يا مضارب مرسي مضاربت باطليږي لكه په هغه صورت كي چي
باطليږي كه رب المال مرتد سي (نعوذ بالله) او د كفر هېواد ته ولاړ سي ، د مضاربت
عقد د مدې په تېرېدو سره هم باطليږي كه رب المال د هغه لپاره مده ټاكلې وه څرنګه
چي مو مخكي بيان كړل .

د وكالت كتاب

س : وكالت څه ته وايي ؟

ج : هغه په شريعت كي په يو تاكلي تصرف كي بل څوك د ځان پر ځاى درولو ته ويل كيږي ، هر عقد چي انسان ئې خپله كولاى سي د هغه لپاره بل څوك وكيل كولاى سي .

س : د څه شي لپاره وكالت په شريعت كي ثابت سو ؟

ج : ځكه انسان كله كله يو داسي چا ته ضرورت لري چي د خپلي كمزورۍ يا په خپل ځاى كي نشته والي له كبله هغه ته كار وروسپاري .

س : هغه عقدونه چي وكيلان ئې كوي څه تفصيل لري ؟

ج : دغه عقدونه دوه قسمونه لري :

اول : هغه چي خپل ځان ته ئې منسوبه كوي لكه خرڅول ، رانيول او اجاره ، ددغه عقد حقوق په وكيل پوري اړه لري نه په موكل (څوك چي بل يو د ځان لپاره وكيل كړي) پوري ، نو وكيل به خرڅ سوى شى ورتسليموي او د هغه ثمن به قبض كوي ، كله چي يو شى خرڅ كي د هغه د قيمت غوښتنه به كوي ، رانيول سوى شى به قبض كوي او كه ئې يو شى رانيوى او په هغه كي عيب وو په هغه كي به دعوى كوي .

دوهم : هغه چي وكيل ئې موكل ته منسوبه كوي لكه نكاح ، خلع او د قصدا قتل څخه صلح كول ، د دغه عقد حقوق په موكل پوري اړه لري نه په وكيل پوري ، نود مهړه له وكيل څخه د ولور پوښتنه نه كيږي او د ښځي پر وكيل د هغې تسليمول لاژم نه دي .

س : په ټولو حقوقو كي د دعوې او د هغو د ثابتولو لپاره وكيل درول روا دي ؟

ج : هو روا دي ، د مدعي وكيل به صحيح دعوى كوي او د مدعى عليه وكيل به د هغه صحيح جواب وركوي او داسي نور .

س : د خصم د رضا پرته د دعوې لپاره وكيل درول روا دي ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي : د خصم د رضا پرته د دعوې لپاره وكيل درول نه دي روا مګر كه موكل ناروغه وو يا د درو ورځو يا زيات په مسافت سره مسافر وو په هغه وخت كي ورته روا دي ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي : بېله رضا دخصم روا دي .

س : د حقوقو اخيستلو لپاره وكيل درول څه حكم لري ؟

ج : د حدودو او قصاص پرته په نورو شیانو کي دغه رنګه وکیل درول روا دي ، په دغه صورت کي چي موکل په مجلس کي نه وي د هغو اخیستل نه صحصح کیږي .
س : د صرف او سلم لپاره وکیل درول روا دي ؟
ج : هو هغه روا دي نو کله چي وکیل د خپل ملګري څخه له قبض مخکي جلا سي عقد باطلیږي د موکل جلا والي ته نه کتل کیږي .
س : د وکالت د صحیح والي لپاره ځیني شرطونه سته ؟
ج : هو د هغه د صحیح والي لپاره دا شرط دی چي موکل به د تصرف مالك وي او احکام به پر لازمیږي او وکیل به په خرڅولو او رانیولو پوهیږي او په خپله اراده سره به ئې کولای سي .
س : که ازاد بالغ د خپل ځان په شان یو څوك وکیل کړی یا اجازت کړل سوي مریې د خپل ځان په شان یو څوك وکیل کړی څه حکم لري ؟
ج : دغه دواړه قسمه وکیل درول روا دي .
س : که یو سړي یو کوچنی چي له تصرف څخه بند سوی وو او په خرڅولو او رانیولو پوهېدی یا یو مریی چي له تصرف څخه بند سوی وو وکیل کړی څه حکم لري ؟
ج : دغه وکیل درول صحیح دي مګر حقوق په وکیلو پوري اړه نه لري بلکه په هغه کسانو پوري اړه لري چي دوی ئې وکیلان کړي دي .
س : که یو سړي یو څوك د خرڅولو لپاره وکیل کی وکیل هغه شی ورخرڅ کی او موکل د هغه قیمت له رانیونکي څخه وغوښتی په دغه صورت کي به رانیونکی څه کوي ؟
ج : رانیونکي ته روا ده چي له هغه څخه ئې راوګرځوي ، که ئې ورکی صحیح دی او په دغه وخت کي وکیل ته نه ده روا چي دوهم ځل غوښتنه ځني وکي .
س : د رانیولو لپاره وکیل درول کوم شرط لري چي ضروري دی ؟
ج : هو د رانیول سوي شي جنس ، صفت او د هغه د ثمن مقداریادول ضروري دي مګر که موکل عام وکالت ورکي او ورته ووایي چي ستا خوښه وي یو شی را ته رانیسه په هغه صورت کي نه دی ضروري .
س : که وکیل یو سامان رانیوی او هغه ئې قبض کړی وروسته یو عیب ورته ښکند سو ، خرڅونکي ته ئې واپس کولای سي ؟
ج : تر څو چي رانیول سوی شي دده په لاس کي وي د عیب له وجهي ئې واپس کولای سي

که ئې موکل ته وروسپاري بېله د هغه د اجازې ئې نه سي واپس کولای .

س : که د رانيولو وکيل د شي ثمن له خپل مال څخه ورکی او رانيول سوی شی ئې قبض کړی د خپل مال کوم چي ده شی په رانيولی دی د حاصلولو لپاره به څه کوي .

ج : د هغه شي ثمن به د موکل څخه اخلي او تر څو چي ثمن ئې اخلي هغه شی د ځان سره بندولای سي .

س : که وکيل رانيول سوی شی قبض کړی او دده په لاس کي مخ کي له دې څخه چي د موکل څخه ئې بند کي هلاك سو څه حکم لري ؟

ج : د موکل له مال څخه هلاك سو او د هغه له ذمې څخه د هغه شي ثمن نه ساقطيږي.

س : که وکيل د هغه د ثمن اخيستلو لپاره د موکل څخه بند کی وروسته دده په لاس کي هلاك سو څه حکم لري ؟

ج : د هلاك سوي شي تاوان د ابو يوسف رح په نزد د گرو په شان گڼل کيږي او د محمدرح په نزد د رانيول سوي شي په شان گڼل کيږي (۱) .

س : که يو چا دوه سړيان وکيلان کړل دوکالت په کارکي پردواړو يوځای کېدل لازم دي ؟

ج : هو پر دواړو يوځاي کېدل لازم دي ، په کوم کار کي چي دوی وکيلان سوي دي يو به بېله هغه بل څخه تصرف نه کوي مگر که ئې په دعوی سره يا بېله عوض څخه د ماينې په طلاق سره يا په دغه توگه د مريي په ازادلو سره يا د وديعت په واپسولو سره چي دده سره وو يا دده د پور په اداء کولو سره وکيلان کړل يوازي يوه ته تصرف روا دی .

س : وکيل په کوم کار کي چي دی وکيل سوی وي بل څوك وکيل کولای سي ؟

ج : دا نه ده ورته روا مگر نه که وکيل اجازه ورته کړې وه يا ئې ورته ويلي وه په خپله رايه سره کار وکه .

س : که ئې د موکل د اجازې پرته بل څوك وکيل کی د دوهم وکيل عقد څه حکم لري ؟

ج : که دوهم وکيل د اول وکيل په حضور کي عقد وکی نو د اول موکل په حق کي صحيح کيږي ، دغه رنگه که اول وکيل حاضر نه وو عقد ئې وکی وروسته اول وکيل د هغه اجازه وکړل هم صحيح کيږي او که داسي هم نه وو نه صحيح کيږي .

س : د وکيل معاملې کوم خاص شرطونه لري ؟

---

(۱) د ابوحنيفه قول هم دغه دی لکه په " الجوهره النيره " کي چي ذکر سوي دي .

ج: هو د خرڅولو او رانيولو په وکالت کي د ابو حنيفه رح په نزد دا شرط دی چي د خپل پلار او نيکه او زوی او لمسي او ماينې او مربي او مکاتب سره به عقد نه کوي ، ابويوسف او محمد ويلي دي : بېله مربي او مکاتب څخه د نورو سره د بازار په نرخ سره عقد صحيح کيږي .

س: وکيل ته په لږ او ډېر سره خرڅول روا دي ؟

ج: دابو حنيفه رح په نزد په لږ او ډېر سره د هغه بيع صحيح کيږي او صاحبينو رح ويلي دي په دومره نقصان سره چي خلګ نه په کښي خطاوزي نه صحيح کيږي .

س: د رانيولو د وکيل د عقد څه حکم دی ؟

ج: د هغه عقد دهغه شي په قميت اوپه دومره زياتوب سره چي خلګ په کښي خطاوزي صحيح کيږي ، په دومره زياتوب سره چي خلګ نه په کښي خطاوزي نه صحيح کيږي .

س: د دومره خطاوتل چي خلګ نه په کښي خطاوزي څخه څه مطلب دی ؟

ج: هغه خطاوتل چي د قيمت کونکو تر قيمت نه لاندي کيږي .

س: که يو چا يو سړی د خپل مربي د خرڅولو لپاره وکيل کی هغه ئې نيمی خرڅ کی صحيح کيږي ؟

ج: د ابو حنيفه رح په نزد صحيح کيږي او صاحبينو رح ويلي دي که هغه بل نيمی خرڅ نه کي نه صحيح کيږي .

س: که ئې د يو مربي د رانيولو لپاره وکيل کی او د هغه نيمی ئې رانيوی دغه رانيول څه حکم لري ؟

ج: دغه رانيول موقوف دي که ئې پاته نيمی رانيوی پر موکل لازميږي .

س: که ئي يو سړی په دې سره وکيل کی چي لس رطله (يوه پېمانه ده) غوښه په يوه درهم رانيسي هغه داسي غوښه چي لس رطله په يوه درهم خرڅېدل شل رطله په يوه درهم رانيول پر موکل څه شی لازميږي ؟

ج: د ابو حنيفه رح په نزد لس رطله په نيم درهم پر لازميږي او د صاحبينو رح په نزد شل رطله په يوه درهم پر لازميږي .

س: که يو چا يو سړی د خاص شي د رانيولو لپاره وکيل کی د خپل ځان لپاره رانيول ورته روا دي ؟

ج: دا نه سي کولای ، که ئې د خپل ځان لپاره رانيوی د موکل لپاره ګڼل کيږي .

س : يو چا يو سړی د يو نا معلوم مريي د رانيولو لپاره وكيل كی او هغه يو مريی رانيوی ، دغه مريی د چا كيږي ؟

ج : هغه د وكيل كيږي مګر كه ئې وويل چي ما د موكل لپاره د رانيولو نيت كړی وو يا ئې د موكل په پيسو سره رانيوی د موكل كيږي .

س : د دعوې د وكيل لپاره د هغه مال قبض كول روا دي كوم چي په دعوی كي ګټل كيږي ؟

ج : د ابو حنيفه رح ، ابو يوسف رح او محمدرح په نزد د دعوې وكيل د قبض كولو لپاره هم وكيل دی او زفر رح ويلي دي د قبض كولو حق نه لري .

س : څوك چي د پور په قبض كولو سره وكيل وي دعوی كولای سي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد د پور د قبض كولو وكيل د دعوې لپاره هم وكيل دی د صاحبينو رح په نزد نه دی .

س : كه د دعوې وكيل د موكل پر خلاف اقرار وكي څه حكم لري ؟

ج : د ابو حنيفه رح او محمدرح په نزد د دعوې وكيل كه د قاضي په نزد د موكل پر خلاف اقرار وكي صحيح كيږي او د قاضي پرته د بل چا په نزد نه صحيح كيږي مګرپه دغه صورت كي هغه له دعوې څخه وزي ، ابو يوسف رح ويلي دي : د قاضي پرته د بل چا په نزد ئې هم اقرار صحيح كيږي .

س : كه يو سړي دعوی وكړل چي د موكل له خوا څخه چي هغه حاضر نه وي دی د پور د قبض كولو لپاره وكيل دی د پور په ورتسليمولو سره امر كيږي ؟

ج : كه ئې پوروړي تصديق وكی په ورتسليمولو سره امر كيږي .

س : كه قاضي د پوروړي د تصديق له كبله د پور په ورتسليمولو امر وكړی وروسته موكل حاضر سو ، وكيل چي پور ئې قبض كړی وي او پوروړی چي پور پر باندي وي په څه شي سره امر كيږي ؟

ج : كه موكل چي راسي دده تصديق وكي نو سوال او جواب نسته او كه ئې تصديق نه وكي پوروړی دي دوهم ځل پور وركي او د وكيل څخه دي ئې بيرته واخلي كه دهغه په لاس كي وو .

س: كه يو سړي هغه چا ته چي وديعت ورته ايښول سوى وو وويل : زه د دويعت د قبض كولو لپاره وكيل سوى يم او چا ته چي وديعت ايښول سوى وي هغه ئې تصديق وكى د وديعت په ورسپارلو سره امر كيږي ؟

ج: نه په امر كيږي .

س: كه د خرڅولو وكيل يو شى خرڅ كى ، وروسته د رانيونكي له خوا څخه د هغه شي د ثمن ضامن سو ، ضمانت ئې څه حكم لري ؟

ج: ضمانت ئې باطل دي (١) .

س: كه موكل خپل وكيل له وكالت څخه وايستى او تر هغه وروسته وكيل تصرف وكى څه حكم ئې دى ؟

ج: كه موكل له وكالت څخه وايستى او په هغه خبر سو تصرف ئي نه صحيح كيږي ، كه نه وو په خبر سوى وكالت ئې پاته دى او تصرف ئې صحيح دى او تصرف ئې د موكل له خوا ګڼل كيږي تر څو په دې خبريږي چي له وكالت څخه ايستل سوى يم .

س: هغه حالتونه بيان كړئ په كومو كي چي وكالت باطليږي .

ج: هغه په لاندي ډول دي :

١ : د موكل مرګ .

٢ : د هغه مكمل لېونتوب .

٣ : د هغه مرتد كېدل او د كفر هېواد ته نقل كېدل (٢) .

٤: د هغه دوو شريكانو يو له بل څخه بېلېدل كوم چي يو د بل لپاره وكيل وي .

٥: وروسته تر دى چي مكاتب يو څوك وكيل كي د كتابت د مال اداء كولو څخه عاجز سي .

٦: پر ماذون مريي چي وكيل سوى وي حجر راتِلل ، په دغو صورتو كه وكيل خبر سي كه نه وكالت باطليږي .

٧: د وكيل مرك .

---

(١) ددې لپاره چي غوښتونكى او څوك چي له هغه څخه غوښتنه كيږي سره يو نه سي .

(٢) كه مخكي له دې څخه چي دده د نقل كېدو حكم وسي مسلمان سي او د كفر له هېواد څخه راسي داسي ګڼل كيږي لكه چي نه وي تللى او وكيل پر خپل وكالت پاته دى ، له " الجوهره النيره " څخه .

۸: د هغه مكمل لېونتوب .

۹: د هغه مرتد كېدل او د كفر هېواد ته نقل كېدل مگر نه كه محكمې له دې څخه چې دده په نقل كېدو حكم كيږي مسلمان سي او بيرته راسي .

۱۰: د كوم كار لپاره چې يو چا وكيل درولی وي هغه خپله په هغه كار كې تصرف وكي .

د کفالت (ضمانت) کتاب

س: کفالت څه شي ته وايي ؟
ج: هغه په غوښتنه کي د يوې ذمې بلې ذمې ته يوځای کېدو ته ويل کيږي .
س: هغه څو قسمونه لري ؟
ج: کفالت دوه قسمه دی : د نفس (ځان) کفالت او د مال کفالت .
س: د نفس کفالت څرنګه کيږي ؟
ج: هغه په داسي ډول کيږي چي ووايي : د فلانکي د نفس کفالت مي کړی دی يا د هغه ...غاړي يا د هغه د روح يا د هغه د جسم يا د هغه د سر يا د هغه د نيمي يا د هغه د ...يمي يا داسي ووايي د هغه کفالت مي کړی دی يا هغه پر ما دی يا ماته دی يا ئې زه ...امن يم .
س: د نفس په کفالت کي پر کفيل څه شي لازميږي ؟
ج: د ضمانت کړل سوي حاضرول پر لازم دي ، که ئې په کفالت کي دا شرط کړل چي پر ...کلې نېټه به ئې حاضروي او د کوم چا لپاره چي کفالت سوی وي هغه ئې په هغه وخت ...ي غوښتنه ځني وکړل په هغه وخت کي ئې حاضرول پر لازم دي ، که ئې تر غوښتني ...وسته هم نه کړی حاضر حاکم دي ئې بندي کړي تر څو چي حاضروي ئې .
س: د نفس په کفالت کي د کفيل ذمه کله خلاصيږي ؟
ج: هغه وخت ئې ذمه خلاصيږي چي ضمانت کړل سوی په داسي ځای کي حاضر کي چي ...ه څوك چي کفالت ورلره کړل سوی وي د هغه سره دعوی کولای سي ، دغه رنګه د ...مانت کړل سوي په مرګ سره د هغه ذمه خلاصيږي .
س: که ئې داسي کفالت وکی چي د قاضي په مجلس کي به ئې ورتسليموي او په بازار ...دښت کي ئې وروسپاری له کفالت څخه خلاصيږي ؟
ج: که ئې په بازار کي وروسپاری ذمه ئې خلاصيږي ، که ئې په دښت کي وروسپاری نه ...

س : که ئې د يو چا د نفس داسي کفالت وکی که مي ضمانت کړل سوی نه کړی حاضر د هغه مال زه ضامن يم کوم چي پر ده باندي دی او په هغه وخت کي ئې نه کړی حاضر کوم چي تاکلی ئې وو څه حکم لري ؟

ج : هغه مال پر لازميږي او د نفس له کفالت څخه هم نه خلاصيږي .

س : په حدودو او قصاص کي د نفس کفالت څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد په حدودو او قصاص کي د نفس کفالت نه صحيح کيږي (۱) .

س : د مال کفالت څه ته وايي او څه حکم ئې دی ؟

ج : هغه دا دی چي يو انسان د يو سړي له خوا څه داسي کفالت وکي چي کوم مال پر هغه باندي دی د هغه مستحق ته ئې دی اداء کوي ، په شريعت کي دغه کفالت صحيح دی که ضمانت کړل سوی مال معلوم وي که نا معلوم په دې شرط چي پور صحيح وي (۲) .

س : د ضمانت کولو کوم الفاظ دي ؟

ج : هغه دا دي چي داسي ووايي د مثال په توګه : دده له خوا څه مي په زر درهمه کفالت کړی دی يا مي د کوم مال چي ستا پر ده سته يا په دغه سودا کي چي کوم مال پر تا اوړي د هغه ضمانت مي کړی دی .

س : کله چي يو سړی ضمانت وکي د هغه چا لپاره چي ضمانت ورلره سوی وي دا روا ده چي له هغه چا څخه غوښتنه وکي چي د هغه له خوا څخه ضمانت سوی وي .

---

(۱) په " الجوهره النيره " کي ئې له " الهدايې " څخه نقل کړی دی : يعني د ابو حنيفه رح په نزد پر کفالت نه مجبوره کيږي ، د صاحبينو رح په نزد د قذف په حد کي مجبوره کيږي ځکه په هغه کي د بنده حق سته او په قصاص کي هم مجبوره کيږي ځکه خالص د بنده حق دی نو د هغه سره ټينګول مناسب دي ، د الله ﷻ خالص حقوق له دې څخه مختلف دي اه . وروسته د " الجوهرې " مصنف ويلي دي : خپله د حدودو او قصاص کفالت د دوی درو سره وو په قول کي نه دی روا ځکه کفيل هغه نه سي اخيستلای .

(۲) دغه قول (که پور صحيح وي) : لکه د سوداوو ثمنونه او د جنايتو تاوانونه او د هلاک کړل سوو شيانو قيمتونه او پور او ولور ، په دغه قول سره ئې د مکاتب مريي د کتابت د عوض څخه ساتنه وکړل ځکه په هغه سره کفالت نه دی صحيح ځکه په دغه صورت کي دا لازميږي چي د ضامن په ذمه کي داسي مال ثابت سي چي د هغه مال څخه مختلف وي کوم چي پر هغه چا باندي دی چي د هغه له خوا څخه کفالت سوی وي ځکه مريی هغه مال بېله اداء کولو څخه په ځان عاجزه بللو سره د خپل ځان څخه ليري کولای سي او د ضامن ذمه بېله اداء کولو څخه نه خلاصيږي ، له " الجوهره النيره " څخه .

ج: کوم څوك چي د هغه له خوا څخه کفالت سوی وي هغه لره اختيار سته چي د پوروړي څخه غوښتنه کوي که له ضامن څخه.

س: په شرطو سره د کفالت تړل صحيح کيږي؟

ج: هو صحيح کيږي چي د مثال په توګه داسي ووايي: کومه سودا چي ته د فلانکي سره وکې هغه پر ما ده يا کوم مال چي ستا پر ده واوړي هغه پر ما دی يا فلانکی چي کوم مال ستا څخه په زور واخلي هغه پر ما دی.

س: که ئې داسي وويل: کوم مال چي ستا پر ده باندي دی د هغه کفالت مي کړی دی وروسته ضامن او هغه چا چي ضمانت ورلره سوی وي د پور په مقدار کي اختلاف وکړی په منځ کي ئې څرنګه فيصله کيږي؟

ج: په شاهدانو سره ئې فيصله کيږي، که د مثال په توګه پر هغه چا چي ضمانت ورلره سوي وي په زر سره شاهدان ودرېدل پر ضامن هغه لازميږي.

س: که شاهدان نه ودرېدل؟

ج: په دغه وخت کي د هغه مال په مقدار کي چي ضامن اقرار په کړی دی د قسم سره د ضامن قول منل کيږي.

س: که هغه چا چي کفالت ورلره سوی وي تر هغه مقدار په زيات سره اقرار وکی چي ضامن بيان کړی وي، تصديق ئې کيږي؟

ج: پر ځان باندي ئې خبره منل کيږي نه پر کفيل باندي.

س: کوم څوك چي د هغه له خوا کفالت کيږي بېله د هغه د امر څخه کفالت صحيح دي؟

ج: څوك چي د هغه له څوا څخه کفالت کيږي د هغه په امر سره او بېله هغه د امر څخه کفالت صحيح دی مګر که د هغه په امر سره کفالت وکي کوم مال چي دی ئې اداء کوي هغه بيرته د هغه څخه اخيستلای سي او که بېله هغه د امر څخه کفالت وکي بيرته شی نه سي ځني اخستلای.

س: کفيل د مال غوښتنه کولای سي؟

ج: تر اداء کولو مخکي ئې نه سي کولای، کله چي اداء ئې کي غوښتنه کولای سي.

س: که يو سړی د يو بل چا له خوا څخه کفالت وکی او پوروړی د خپل مال حاصلولو لپاره په کفيل پسې وو کفيل به څه کوي؟

ج : کوم څوك چي ده ئې کفالت کړی وي دی به په هغه پسې کيږي تر څو چي هغه ما
څني اخلي .
س : که پوروړي هغه چا ته چي د هغه له خوا څخه کفالت سوی وي پور ورپرېښوی يا ئې
خپل حق څني واخيستی پر کفيل کوم شی پاتيږي ؟
ج : په دغه صورت کي کفيل له کفالت څخه خلاص سو او هيڅ شی پر ده نه پاتيږي .
س : که پوروړي کفيل له پور څخه خلاص کی څه حکم لري ؟
ج : کفيل خلاصيږي او کوم څوك چي د هغه له خوا کفالت سوی وي نه خلاصيږي .
س : د کفالت څخه خلاصول په شرط پوري تړل صحيح کيږي (۱) ؟
ج : نه صحيح کيږي .
س : که يو سړی د رانيونکي يا خرڅونکي له خوا څخه کفالت وکي څه حکم لري ؟
ج : که د رانيونکي له خوا څخه د رانيول سوي شي د ثمن کفالت وکي صحيح کيږي او د
خرڅونکي له خوا څخه په خرڅ سوي شي کفالت نه صحيح کيږي .
س : که يو سړي يو حيوان د سپرتيا لپاره کرايه کی او يو سړي د سپرتيا (۲) کفالت وکی
دغه کفالت صحيح کيږي ؟
س : که حيوان ټاکل سوی وو دغه کفالت نه صحيح کيږي ، که ټاکل سوي نه وو صحيح
کيږي (۳) .

(۱) د " الکنز " مصنف ويلي دي : له کفالت څخه خلاصول په شرط پوري تړل باطل دي اه . د " البحر ٦-
٢٤٩" مصنف په خپله شرح کي اورد بيان کړی دی ، شامي په " منحة الخالق " کي ويلي دي : څرګنده
خبره دا ده چي د دغه خبري مطلب دا دی چي په شرط پوري تړل سوی کفالت باطل دی يعني په دغه
صورت کي اصل کفالت پاته کيږي نو غوښتونکی ئې غوښتنه کولای سي (تر پايه پوري) .
(۲) يعني يو سړي يو حيوان د سپرتيا لپاره کرايه کی د کرايه کونکي لپاره يو سړي دا ضمانت وکی چي
که دغه حيوان هلاك سي دی به ئې پر حيوان سپروي .
(۳) يعني که کرايه سوی حيوان يو معلوم حيوان وو نو دغه کفالت نه صحيح کيږي ځکه ده چي کوم شی
پر غاړه اخيستی دی د هغه د اداء کولو څخه عاجز دی ځکه د هغه په هلاکېدو سره عقد فسخ کيږي نو
داسي کرايه له منځ څخه ولاړل چي په دغه حيوان پوري اړه لري ، که حيوان معلوم کړل سوی نه وو
کفالت صحيح کيږي ځکه په هغه صورت کي چي د کرايه کونکي حيوانان هلاك سي دی ئې پر خپل
حيوان سپرولای سي .

س : د کفالت د صحيح والي لپاره د هغه چا قبلول شرط چي څوك چي کفالت ورلره سوى دى ؟

ج : كه هغه څوك چي كفالت ورلره كيږي په داغه مجلس كي كفالت قبول نه كړي كفالت نه صحيح كيږي ، يوازي په يوه مسئله كي صحيح كيږي چي ناروغه خپل وارث ته ووايي زما له خوا څخه په هغه پور ضمانت وكه چي پر ما باندي دى ، پوروړي حاضر نه وي او هغه ضمانت وكي ، دغه كفالت صحيح كيږي .

س : كه دوو سړيانو پور واخيستى او هر يو، د هغه بل له خوا څخه ضامن سو ، يوه پور اداء كى د خپل ملګري څخه هغه مال اخيستلاى سي كوم چي ده اداء كړى وي ؟

ج : تر څو چي كوم مال ده اداء كړى وي تر هغه پور نه وي زيات سوى چي پر ده باندي وي د خپل ملګري څخه ئې نه سي اخيستلاى .

س : كه دوو كسانو د يوه سړي له خوا په زر سره په دې توګه كفالت وكى چي هر يو د خپل ملګري لپاره ضامن دى ، يوه يوه حصه يا ټوله اداء كړل د خپل شريك څخه ئې اخيستلاى سي ؟

ج : هو د خپل شريك څخه د هغه مال چي ده اداء كړى وي نيمى اخيستلاى سي كه لږ وي كه ډېر .

س : د مريې د كتابت د مال كفالت صحيح كيږي ؟

ج : ازاد ئې كفالت وكي كه مريى نه صحيح كيږي ځكه هغه صحيح پور نه دى .

س : كه يو سړى مړ سو او پورونه پر باندي وه او شى ئې نه وو پرايښى ، يو سړى دده له خوا څخه د پوروړو كفالت وكى صحيح كيږي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد دغه كفالت نه صحيح كيږي او د صاحبينو رح په نزد صحيح كيږي .

د حوالې کتاب

س : حواله څه ته وايي ؟
ج : هغه له يوې ذمې څخه بلې ذمې ته پور نقلولو ته ويل کيږي او هغه په پورو کي صحيح کيږي نه په شيانو او حقوقو کي .
س : د هغه د صحيح توب لپاره د دواړو طرفو رضا شرط ده ؟
ج : په هغه کي د حواله ورکونکي (هغه څوك چي پور پر باندي وي) رضا ، حواله اخيستونکي (پوروړى) رضا او د هغه چا رضا چي د پور اداء کولو لپاره حواله پر کيږي د دغو ټولو رضا ضروري ده .
س : حواله اخيستونکى حواله ورکونکي ته بيرته ورتلاى سي ؟
ج : کله چي حواله پوره سي حواله ورکونکي له پور څخه خلاص سو او حواله اخيستونکى حواله ورکونکي ته بيرته نه سي ورتلاى مګر يوازي په هغه صورت کي چي پور ئې هلاك سي .
س : هلاك څرنګه پيدا کيږي ؟
ج : هغه د ابو حنيفه رح په نزد په يوه سره د دوو شيانو پيدا کيږي : اول هغه صورت چي پر کوم چا حواله سوې وي له حوالې څخه منکر سي او قسم واخلي او حواله اخيستونکى د هغه چا پر خلاف چي حواله پر سوې وي شاهدان نه لري ، دوهم هغه صورت چي کوم سړى چي حواله پر سوې وې مفلس مړ سي ، ابويوسف رح او محمدرح ويلي دي : هلاك په يوه د درو شيانو سره پيدا کيږي اول او دوهم هغه دي چي د ابو حنيفه رح په قول کي مو بيان کړل دريم دا دى چي د هغه په ژوند کي حاکم د هغه په مفلس والي سره فيصله وکي .
س : که هغه څوك چي حواله پر سوې وي د حواله کونکي څخه د حوالې د مال غوښتنه وکي او حواله ورکونکى ورته ووايي ستا پر ما هيڅ شى نسته ځکه ما د هغه پور حواله پر تا وکړل چي زما پر تا باندي وو ، دده قول منل کيږي ؟
ج : په دغه کي د حواله ورکونکي خبره نه منل کيږي او د هغه پور په قدر پر ده لازميږي .

س : که حواله ورکونکي له حواله اخیستونکي څخه د هغه مال غوښتنه وکړل چي ده حواله په کړې وه او دا ئې ورته وویل : ددې لپاره ما حواله درکړل چي هغه پور زما لپاره قبض کې او حواله اخیستونکی له دې څخه منکر سو او ورته وئې ویل : دداسي پور حواله دې راکړه چي پر تا مي باندي وو څرنګه فیصله ئې کیږي ؟

ج : په دغه کي د قسم سره د حواله ورکونکي خبره منل کیږي .

س : د فقهاوو په نزد سفاتج څه حکم لري ؟

ج : هغه ددوی په نزد مکروه ده .

س : د سفاتج لفظي او معنوي تشریح وکړئ .

ج : هغه په لغت کي د سفتجه (۱) جمع ده او د معنی په لحاظ هغه قرض ته ویل کیږي چي قرض ورکونکی په هغې سره د لارې له خطر څخه ځان خلاص کي .

---

(۱) سفاتج د سفتجه د سین په پیښس او تاء په زور جمع ده هغه د ورقي په معنی دی او صورت ئې داسي دی چي سوداګر ووایي : دغه درهمونه مي په قرض درکړي دي په دې شرط سره چي په فلانکي ښار کي ستا وکیل ته یو خط راولیکه او هغه دغسي وکي ، که ئې ببله شرط څخه ورکی او دغه غوښتنه ئې څني وکړل او هغه دغسي وکړل پروا نه لري ، هغه وخت مکروه دی چي د لارې امن په کښي شرط سوی وي ځکه دا یو قسم ګټه ده چي په قرض سره حاصله سول ، له " الجوهره النیره " څخه .

د صلح کتاب

س : صلح څه ته وايي ؟
ج : کله په حقوقو کي جګړه پيدا کيږي او دواړه طرفونه په دې توګه سره راضي کيږي د مثال په توګه چي يو څه قدر واخلي يو څه پريږدي او په دې سره جګړه له منځه ولاړه سي ، دغه ته صلح ويل کيږي او صلح ښه ده .
س : د صلح قسمونه بيان کړئ .
ج : صلح درې قسمونه لري : ۱ صلح د اقرار سره . ۲ صلح د سکوت سره . ۳ : صلح د انکار سره ، په سپيڅلي شريعت کي دغه ټوله روا دي .
س : د اقرار سره صلح څه معنی لري ؟
ج : معنی ئې داده چي مدعی عليه (کوم څوك چي دعوی په سوې وې) په دې اقرار کوي چي پر ما حق باندي دی او د مدعي (دعوی کونکي) سره پر يو شی صلح وکي .
س : د سکوت سره صلح څه معنی لري ؟
ج : هغه دا ده چي مدعي نه په دې اقرار کړی وي چي پر ما حق باندي دی نه ئې انکار کړی وي او په صلح سره راضي سي چي خپل ځان له جګړې څخه خلاص کي .
س : د انکار سره صلح څه ته وايي ؟
ج : هغه دا ده چي له دې څخه منکره وي چي د مدعي پر ما حق باندي دی او د هغه سره صلح کوي تر څو جګړه له منځه ولاړه سي .
س : د اقرار سره صلح څه حکم لري ؟
ج : که دغه صلح له مال څخه په مال سره سوې وه په هغه کي هغه شيان معتبريږي کوم چي په سودا وو کي معتبر دي او که د مال څخه په ګټو سره سوې وې هغه شيان په کښي معتبريږي کوم چي په اجاره کي معتبر دي .
س : د سکوت او انکار سره صلح څه حکم لري ؟
ج : د سکوت او انکار سره صلح د هغه چا په حق کي چي دعوی په سوې وې دقسم فديه (هغه مال چي د جګړې يا يو بل شي څخه دخلاصون لپاره ئې څوك ورکوي) او له جګړې څخه ځان خلاصول بلل کيږي (۱) اود دعوی کونکي په حق کي سودا ګڼل کيږي (۲).

س : که ئې له کور څخه يا پر کور صلح وکړل د شفعې څه حکم دی ؟
ج : که پر کور صلح وکي شفعه ثابتيږي او که له کور څخه صلح وکي نه ثابتيږي .
س : که صلح د اقرار سره وه او دا څرګنده سول چي کوم شی چي صلح پر سوې وه له هغه څخه يوه برخه د بل چا وه نو مدعی عليه به له دعوی کونکي څخه بيرته څه شی اخلي ؟
ج : هو د هغه په قدر سره عوض به بيرته ځني اخلي .
س : که د سکوت يا انکار سره صلح سوې وه او دا څرګنده سول چي په کوم شي کي جګړه ده د بل چا دی مدعي به څه کوي .
ج : دا پر لازمه ده چي کوم عوض ئې له مدعي عليه څخه اخيستی وي بيرته به ئې ورکوي او د مستحق (هغه څوك چي دا څرګنده سوې وي چي مال د هغه دی) سره به دعوی کوي او که دا څرګنده سي چي هغه مال چي په کښي دعوی وي له هغه څخه يوه برخه د بل چا ده د عوض څخه دي په هغه قدر برخه بيرته ورکي او د مستحق سره دي جګړه شروع کي .
س : که يو سړي په يو کور کي د حق دعوی وکړل او بيان ئې نه کړی او له هغه څخه پر يو شی صلح وسول وروسته د هغه د يو حصې بل مستحق څرګند سو کوم عوض چي ده اخيستی وي هغه به بيرته ورکوي ؟
ج : له هغه څخه دي هيڅ شی بيرته نه ورکوي (١) .
س : د مالو ، ګټيو ، په قصد او په خطا سره جنايت او حد له دعوو څخه صلح روا ده ؟
ج : له دغو ټولو دعوو څخه بېله د حد له دعوې څخه صلح روا ده .
س : که يو سړي پر يوه ښځه د نکاح دعوی وکړل او هغـه منـکره وه ، ددې لپـاره چـي

د ص ٢٨٢ پاته حاشيه : (١) يعني سودا نه بلل کيږي ځکه کوم څوك چي دعوی په سوې وي هغه دا ګمان کوي چي د کوم شي دعوی په سوې ده دده ملکيت دی نو کوم مال چي دی ئې ورکوي له هغه څخه عوض نه بلل کيږي او دعوی پر راغلې ده نو له هغه څخه فديه ورکول روا دي .
(٢) ځکه هغه ګمان کوي چي د کوم مال ده دعوی کړې ده هغه دده حق دی او کوم مال چي دی ئې اخلي هغه دده د حق عوض دی ، له "الجوهره" څخه .
(١) ځکه ممکنه ده چي دده دعوی په پاته برخه کي وي ، دا دهغه صورت سره مختلف دی چي د ټوله کور مستحق څرګند سي ځکه په هغه وخت کي کوم عوض چي ده اخيستی دی د هغه په مقابل کي کوم شی نه پاتيږي نو ټوله به بيرته ورکوي ، له "الجوهره النيره" څخه .

دعوی پرېږدي دده سره ئې پر يو مال صلح وکړل دغه صلح څه حکم لري ؟
ج : دغه صلح صحيح ده او د خلع حکم لري .
س : که يو ښځي پر يو سړي د نکاح دعوی وکړل او هغه منکره سو وروسته ئې هغې ته يو مال ورکی پر هغه ئې صلح ورسره وکړل دغه صلح صحيح ده ؟
ج : دغه صلح نه ده روا .
س : که يو سړي پر بل چا داسي دعوی وکړل چي دده مريی دی او هغه پر يو مال صلح ورسره وکړل تاسي څه په کښي واياست ؟
ج : دغه روا ده او د مدعي په هکله دغه صلح د مال په عوض کي د ازادولو حکم لري .
س : که يو چا يو سړی د صلح لپاره وکيل کی ، وکيل دده له خوا څخه صلح وکړل کوم شی چي وکيل پر هغه صلح کړې ده د هغه اداء کول پر وکيل لازم دي ؟
ج : کوم شی چي وکيل صلح پر کړې وي د هغه اداء کول پر وکيل يوازي هغه وخت لازم دي چي ده ئې ضمانت کړی وي ، پر موکل ئې اداء کول لازم دي .
س : که يو سړي ديو بل چا له خوا دهغه دامر پرته د هغه صلح وکړل مال پر چا لازميږي ؟
ج : دغه پر څلور قسمه دی ۱ : پر مال صلح ورسره وکي او ضامن ئې سي . ۲ : داسي ورته ووايي زما پر دغه زرو يا پر دغه مريي مي صلح درسره کړې ده په دغو دوو صورتو کي صلح پوره کيږي او کوم شی چي پر ځان ئې لازم کړی دی د هغه اداء کول پر لازم دي . ۳ : داسي ورته ووايي پر زرو مي صلح درسره کړې ده او ورتسليم ئې کي په دغه صورت کي هم صلح پوره کيږي او کوم مال چي ئې اداء کړی هغه به له هغه چا څخه نه اخلي د کوم چا له خوا څخه چي صلح سوې وي . ٤ : داسي ورته ووايي پر زرو مي صلح درسره کړې ده او ضمانت ئې نه وکي نه د مال نسبت خپل ځان ته وکي نه ئې خپله اداء کي دغه صلح د هغه چا پر اجازه موقوفه ده د کوم چا له خوا څخه چي ئې صلح کړې وي يعني مدعی عليه . که هغه ددغه مال چي زر دي اجازه وکړل پر لازميږي که ئې نه وکړل صلح باطليږي .
س : که ددو شريکانو پر يو سړي پور باندي وو ، يوه له خپلي برخي څخه پر يو کالي صلح وکړل هغه بل شريک به څه کوي ؟
ج : هغه بل شريک اختيار لري چي له هغه چا څخه چي پور پر باندي وي نيم پور اخلي که نيم کالی له خپل شريک څخه اخلي مګر که ئې شريک د پور د څلورمي ضمانت ورته

وکی نیم کالی نه سي ځني اخيستلای ، دغه رنګه که يوه شريك خپله حصه د پور نيمه برخه واخيستل شريك لره ئې دا سته چي په هغه کي ورسره شريك سي او وروسته دواړه له پوروړي څخه پاته پور واخلي .

س: په هغه صورت کي څه واياست که يوه شريك د پور په خپله برخه يو سامان رانيوی ؟

ج: په دغه صورت کي د هغه شريك ته روا ده چي دده څخه د پور څلورمه واخلي .

س: که دوه سړيان د سلم په بيع کي سره شريکان سول او په هغو کي يوه له خپلي حصې څخه چي په مسلم فيه کي ده پر راس المال باندي صلح وکړل دغه صلح څه حکم لري ؟

ج: د ابو حنيفه رح او محمدرح په نزد دغه صلح نه ده روا ، ابو يوسف رح ويلي روا ده .

س: که يو سړی مړ سو او وارثان ئې درلودل هغوی د يوه وارث سره پر يو مال صلح وکړل ، هغه ته ئې ورکړی او له ترکې څخه ئې وايستی دغه صلح روا ده ؟

ج: په دغه کي تفصيل دی نو خپل فکر راجمع که او واوره :

١ : که ترکه مځکه وه يا سامان وو دغه صلح روا ده لږ مال ورکي که ډېر .

٢ که ترکه سپين زر وه او دوی سره زر ورکړل يا سره زر وه او دوی سپين زر ورکړل هغه هم روا ده .

٣ : که ترکه سره زر او سپين زر او نور شيان وه او پر سرو زرو يا سپينو زرو ئې صلح ورسره وکړل نو دا ضروري ده چي کوم شي دوی ورکوي په دغه جنس کي چي دده کومه برخه ده تر هغه به دوی زيات ورکوي تر څو چي دده برخه ددغه شي په مقابل کي سي او زياتوب دده د ميراث د پاتي برخي په مقابل کي سي .

٤ : که ترکه پر خلګو پور وو د يوه سره ئې پر يو مال صلح وکړل تر څو چي هغه له خپلي برخي څخه په پور کي وباسي او پور ددوی سي ، دغه صلح باطله ده .

٥ : که ئې دا شرط کړل چي صلح کونکی پوروړو ته له پور څخه ابراء ورکي او هغه خپله برخه له هغو څخه نه واخلي نو صلح روا ده .

س: که د يوه سړي پر يو چا زر باندي وې چي اوس به ئې ورکوي او د هغه سره پر دې صلح وکي چي پر يو نېټه به ئې ورکوي دغه صلح څه حکم لري ؟

ج: دغه صلح روا ده او داسي ګڼل کيږي لکه چي دغه حق ته نېټه ورکي (١) .

(١) ځکه د درهمو په درهمو سره په پور سره سودا نه ده روا نو موږ ئې ځنډول ګڼو .

س : که د يو سړي پر بل چا داسي زر درهمونه باندي وي چي اوس به ئې ورکوي د هغه ځخه ئې پر داسي دنانيرو صلح وکړل چي يوه مياشت وروسته به ئې ورکوي څه حکم ئې دی ؟

ج : دغه نه ده روا ځکه دا دصرف بيع ده او په هغه کي نېته ورکول نه دي روا .

س : که د يو چا پر يو سړي داسي زر باندي وي چي په يو نېته کي به ئې ورکوي او د هغه سره ئې پر پنځه سوه صلح وکړل چي اوس به ئې ورکوي دغه صلح څه حکم لري ؟

ج : دغه صلح نه ده روا (۱) .

س : که د يو سړي پر بل چا زر تور درهمونه باندي وه او د هغه سره ئې پر پنځو سوو سپينو درهمو صلح وکړل دغه صلح څه حکم لري ؟

ج : دغه نه ده روا (۲) .

فائده : هر شی چي صلح پر وسي او يو سړی د پور د سودا (۳) په وجه د هغه مستحق وو هغه سودا(٤) نه ګڼل کيږي بلکه داسي ګڼل کيږي چي خپل يوڅه حق ئې واخيستی او پاته ئې پرېښوی لکه د يو چا چي پر يو سړي ښه زر درهمونه وي او له هغه ځخه پر پنځو سووکوټه باندي صلح ورسره وکي روا ده او داسي ګڼل کيږي چي يوڅه حق ئې پرېښوی .

---

(۱) ځکه اوسنی مال تر هغه مال ښه دی چي نېټه ولري او اوس دی د هغه مستحق نه دی نو اوس ورکول د هغه مال په مقابل کي کيږي چي ده پر اېښی دی او دا وخت خرڅول بلل کيږي او هغه حرام دی ، له "الجوهره النيره" ځخه .

(۲) ځکه د پور په وجه هغه د سپينو مستحق نه دی او سپينوالی يو زائد صفت دی نو په دې کي زر په پنځه سوه او يو اضافي صفت سره چي سپينوالی دی خرڅي سوې او هغه ربا ده دغه د هغه صورت سره مخالف دی چي که ئې د سپينو زرو ځخه پر تورو پنځو سوو صلح وکړل ځکه هغه روا ده ځکه په دغه صورت کي ئې خپل يو څه حق د اندازې او صفت په لحاظ ساقط کړی او د هغه صورت سره هم مختلف دی چي د پور پر اندازه صلح ورسره وکي چي هغه ښه وي ځکه په دغه صورت کي بدلول د مثل په مثل سره دي او صفت اعتبار نه لري مګر په داغه مجلس کي قبض کول شرط دي ، له "الهدايې" ځخه .

(۳) يعني په پور سره خرڅول يا رانيول ، دغه رنګه په "الجوهره النيره" کي راغلي دي .

(٤) ځکه په هغه کي ربا ده .

د هبې (بخښنې) كتاب

س: هبه څه ته وائي؟
ج: هغه يو شی چا ته بېله عوض څخه په ملكيت وركولو ته ويل كيږي .
س: د هغه ركنونه كوم شيان دي ؟
ج: ركنونه ئې ايجاب او قبول دي .
س: تر ايجاب او قبول وروسته د هغه د پوره كيدلو لپاره كوم بل شي ته ضرورت سته ؟
ج: د هغه د پوره كولو لپاره قبض كولو ته ضرورت سته كه موهوب له (هغه څوك چي هبه ورته سوې وي) هغه شی په هم دغه مجلس كي قبض كړي كه څه هم د واهب (بخښونكی) د اجازې بېله وي هبه پوره كيږي ، كه ئې كه تر جلا كيدلو وروسته قبض كړي نه صحيح كيږي ، مگر كه واهب د قبض كولو اجازه ورته وكړل صحيح كيږي .
س: كوم الفاظ دي چي د واهب له طرف څخه د هبې عقد په تړل كيږي ؟
ج: هبه په راتلونكو الفاظو سره كيږي : درته بخښلی مي دی ، دركړی مي دی ، دغه خوړك مي تاته دركړی دی ، دغه كالي مي تالره گرځولي دي ، دغه شی مي ستا تر عمر پوري تالره دركړی دی (١) ، او ته مي پر دغه حيوان سپور كړی ئې كه ئې په سپرولو سره د هبې نيت كړی وو .
س: هغه شی چي ويشل كيدای سي ، د هغه يوه برخه وروبخښني دغه هبه څه حكم لري؟
ج: هغه شی چي ويشل كيدای سي د هغه د يوې برخي بخښل يوازي په هه صورت كي صحيح كيږي چي دغه برخه له نورو برخو څخه بيل سوې وي .
س: د پاشلي برخي لكه نيمی ، دريمه ، څلورمه ، او داسي نور بخښل صحيح كيږي ؟
ج: په داسي شي كي چي نه ويشل كيږي لكه مريی ، حمام او ژرنده د پاشلي برخي بخښل صحيح كيږي .

---

(١) يعني تر څو چي ته ژوندی ئې دغه شی تالره دی ، كله چي ته مړ سې زما دی ، كه دغه سړی چي د عمر لپاره شی وركول سوی وي مړ سي هغه شی د هغه د وارثانو دی او د واهب شرط چي بيرته به هغه شی ده ته راگرځي باطل دی .

س : که ئې په داسي شي کي چي ويشل کيداى سواى پاشلې برخه وبخښل هغه هبه څه حکم لري ؟

ج : دغه هبه فاسده ده ، که ئې هغه شى وويشى او موهوب ته ئې هغه برخه وروسپارل کوم چي ې وربخښلې وه هبه صحيح کيږي .

س : که يو حـ د غنمو اوړه يا د کنجتو غوړي وبخښل دغه هبه څه حکم لري ؟

ج : دغه هبه د سده ده .

س : که ئې ٠ ـ : کړل او وروئې سپارل دغه هبه صحيح کيږي ؟

ج : بيله نوي حد حخه نه صحيح کيږي .

س : تاسي د د ـ ـ چي هبه په قبض سره پوره کيږي ، کله داسې وي چي هغه شى له هبې څخه مخکې : موهوب له په لاس کي وي اوس به څه کوي ؟

ج : مخکنى قبض کفايت کوي او يوازي په عقد سره ئې هغه ٠الك کيږي که څه هم په هغه کي نوى قبض نه وکي ، دغه رنګه که پلار خپل کوچني زوى ته بخښنه وکي يوازي په بخښنه سره د هغه شي مالك کيږي ځکه د ده پلار په قبض کي د ده نائب دى .

س : که يو بيګانه سړى کوچني ته يو شى هبه کړي دغه هبه څرنګه پوره کيږي ؟

ج : کله چي د هغه پلار ئې قبض کړي هبه پوره کيږي ځکه دى د هغه ولي دى ، که پلار مړ سوى وو او ولي ئې بل څوك وو او هغه دغه شى قبض کړي هبه صحيح کيږي .

س : که يو يتيم د مور په روزنه کي وو هغې دغه شى قبض کړى څه حکم لري ؟

ج : هغه صحيح ده بلکه که کوچنى د بيګانه سړي په روزنه کي وو هغه د ده لپاره قبض کړي هم صحيح کيږي .

س : که ئې کوچنى خپله قبض کړي هبه پوره کيږي ؟

ج : که ئې فهم درلودى او خپله ئې قبض کړي پوره کيږي او که ئې فهم نه درلودى د داسي چا قبض کول په کار دي چي د ده تربيت کوي څرنګه چي مخکي تير سول .

س که دوه سړيان يو کور يو چا ته وروبخښي يا يو سړى يو کور دوو سړيانو ته وروبخښي دغه هبه څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنيفهرح په نزد په اول صورت کي هبه صحيح کيږي او په دوهم صورت کي نه صحيح کيږي او صاحبينورح ولي دي په دوهم صورت کي هم صحيح کيږي .

س : په عوض سره هبه صحيح کيږي ؟

ج: په عوض سره هبه صحيح کیږي او د دواړو عوضو په هم هغه مجلس کي قبضول لازم دي، که دواړو په هغه مجلس کي هغه شی قبض کړی عقد صحیح کیږي او د بیع حکم لري، په عیب او د لیدلو په خیار سره بیرته ورکول کیدلای سي او شفعه پکښي ثابتیږي.

س: که یو چا یو سړي ته مینځه وروبخښل او د هغې د نس کوچنی ئې ځني استثناء کړی دغه استثناء څه حکم لري ؟

ج: په دغه صورت کي هبه صحیح کیږي او استثناء باطله ده .

س: په هبه کي رجوع کول څه حکم لري ؟

ج: که ئې بیگانه سړي ته یو شی وروبخښی په هغه کي رجوع کولای سي ، مگر که موهوب له د هغه عوض ورکړی یا ئې په هغه شي کي یو شی زیات کړی چي ځني بیلیدای نه سوای یا له دوی دوو څخه یو مړ سو یا هغه مال د موهوب له له ملکیت څخه ووتی رجوع نه صحیح کیږي ، که څه هم په دغه شرطو سره رجوع صحیح کیږي مگر تحریمي مکروه ده ځکه نبيﷺ ویلي دي (څوك چي په خپله هبه کي رجوع کوي د هغه سپي په شان دی چي خپل قی بیرته خوري ، زموږ لپاره بد مثال نسته (۱) .

س: ولي مو په دغه مسئله کي د بیگانه د بخښني تکی زیات کړی ، که موهوب له د بخښونکي د قریبانو څخه وو په هبه کي رجوع نه صحیح کیږي ؟

ج: که یو چا خپل داسي قریب ته بخښنه وکړل چي د ده محرم (هغه څوك چي نکاح ئې ورسره ناروا وي) وو په هغه کي رجوع نه صحیح کیږي ، دغه رنگه که مېړه او ماینې یو بل ته شی وبخښی .

س: تاسو ذکر کړل که موهوب له د بخښل سوي شي عوض بخښونکي ته ورکړي په هغه کي رجوع نه صحیح کیږي ، هغه ځرنگه عوض دی چي د هغه په سبب رجوع منع کیږي .

ج: د هغه دا صورت دی چي موهوب له بخښونکی ته ووائي : دغه شی ستا د بخښني د عوض کي واخله یا ستا د بخښني په بدله کي یا ستا د بخښني په مقابله کي کله چي عوض ورکړي او بخښونکی ئې قبض کړي رجوع له منځه ځي دغه رنگه که یو بیگانه سړی د موهوب له له طرف څخه په خپله خوښه عوض ورکي او بخښونکی ئې قبض کړي

(۱) امام بخاري ئې په خپل صحیح کي روایت کړی دی .

د رجوع حق له منځه ځي .
س : که موهوب له د بخښل سوي شي عوض ورکړي وروسته څرګنده سول چي د هغه نيمه برخه د بل چا ملکيت دی د عوض ښښتن بيرته کوم شی ځني اخيستلای سي ؟
ج : نيم عوض ځني اخيستلای سي .
س : که دا څرګنده سول چي نيم عوض د بل چا ملکيت دی بخښونکی په خپله هبه کي رجوع کولای سي ؟
ج : په دغه صورت کي بخښونکی په هيڅ برخه کي رجوع نه سي کولای ، مګر که د عوض پاته برخه بيرته ورکي بيا په ټوله بخښ کي رجوع کولای سي .
س : ايا د رجوع د صحت لپاره کوم شرطونه سته ؟
ج : په کومو صورتو کي چي رجوع صحيح کيږي په هغو کي صرف يا د بخښونکی او موهوب له د دواړو په رضا سره يا د حاکم په فيصله سره رجوع صحيح کيږي (۱) .
س : که شي چي هبه سوی وي هلاك سو وروسته د هغه مالك پيدا سو او موهوب له د هغه تاوان ورکړي هغه له بخښونکي څخه بيرته تاوان اخستلای سي ؟
ج : هيڅ شی نه سي ځني اخستلای .
س : په خيرات کي د فقير د ملکيت لپاره قبض شرط دی ؟
ج : خيرات لکه هبه بېله قبض کولو ئې فقير نه مالك کيږي او په داسي شي کي چي ويشل کيږي د پاشلي برخي خيرات نه صحيح کيږي .
س : که ئې دوو فقيرانو ته يو شی د خيرات په توګه ورکړي دغه صحيح کيږي ؟
ج : صحيح کيږي .
س : په خيرات کي رجوع صحيح کيږي ؟
ج : تر قبض کولو وروسته په خيرات کي رجوع نه صحيح کيږي .
س : عمری (يو چا ته يو مال په دې ډول ورکول چي تر څو ته ژوندی ئې ستا سره به وي که ته مړ سوې بيرته به زما وي) او رقبی (يو چا ته يو مال په دې توګه ورکول که نه مخکي مړ سوې بيرته به زما وي که زه مخکي مړ سوم ستا به وي) زموږ د درو امامانو

(۱) څکه چي د موهوب له ملکيت په هغه شي کي ثابت دی د هغه له ملکيت څخه بېله رضا يا قضاء (د قاضي فيصله) څخه نه وځي .

په نزد څه حکم لري ؟

ج : عمرى (۱) روا ده او هغه معمر له (کوم څوك چي هغه لره يو مال د عمرى په توګه وركول سوى وي) او تر هغه وروسته د هغه وارثانو لره كيږي او رقبى (۲) د ابو حنيفه رح او محمد رح په نزد باطله ده او ابو يوسف رح ويلي دي روا ده (۳) .

---

(۱) د عمري مطلب دا دي چي يو شى يو چا ته د هغه د عمر لپاره وركړي او دا ورته ووائي كه ته مخكي مړ سوې بيرته به زما وي ، په دغه صورت كي هغه شى د معمرله ملكيت كيږي او شرط ئې باطل دى ، موږ مخكي دا خبره بيان كړل چي هبه په فاسدو شرطو سره نه باطليږي ، له " الهدايي " څخه .

(۲) د رقبى لفظ دا دى چي ورته ووايي د مثال په توګه زما كور تالره رقبى دى .

(۳) څكه چي يو څوك يو چا ته ووايي (زما كور ستا دى) دغه لفظ په ملكيت وركول دى او د هغه سره د رقبى يا عمرى لفظ زياتول فاسد شرط دى ، د شيخينو رح دليل دا دى چي نبي ﷺ عمرى صحيح كړې ده او رقبى ئې باطله كړې ده ، بل دليل دا دى چي د دوى په نزد د (رقبى) مطلب دا دى كه زه مخكي مړ سوم دغه شى ستا دى او د مراقبه د لفظ معنى هم انتظار دى لكه چي دى د هغه مرګ ته انتظار كوي او په دې كي په ملكيت وركول په يو نا معلوم شي پوري وتړل سو نو باطليږي نو كله چي ملكيت نه سو صحيح ددوى رح په نزد عاريت ګرځي څكه په هغه كي د ګټي اخيستلو اجازه كړل سوې ده ، له " الهدايي " څخه .

د غصب (د بل چا مال په زور سره اخیستل) کتاب

س : غصب څه ته ویل کیږي ؟
ج : هغه په داسي مال کي چي قیمت ولري د قدر وړ وي او نقل کیدلای سي بېله اجازې د مالك د حق لرونکي لاس لیري کول او د باطل لاس ثابتولو ته ویل کیږي .
س : که یو چا یو شی غصب کړی اودا دعوه ئې وکړل چي هلاك سو څه فیصله پرکیږي ؟
ج : قانون دا دی چي غصب کونکی به غصب سوی شی خپله بیرته خپل مالك ته ورکوي ، که ئې د هلاك دعوی وکړل حاکم دي ئې بندي کړي تر څو چي دا ورته ښکاره کیږي چي که دده سره وای ښکاره کړی به ئې وای وروسته دي حاکم د هغه د عوض ورکولو فیصله پر وکړي .
س : عوض څه ته وايي ؟
ج : که ئې داسي شی غصب کړی چي مثل ئې درلودی لکه غنم او داسي نور او دده په لاس کي هلاك سو د هغه مثل (هغه رنګه هغه مقدار) به ورکوي او که داسي شی وو چي مثل ئې نه درلودی لکه داسي د شمېر شی چي یوله بل سره فرق لري د هغه شی قیمت به ورکوي .
س : د قصدا هلاکولو او خپله هلاکېدله په منځ کي کوم فرق سته ؟
ج : په هغه کي فرق نسته که غصب کونکی غصب کړل سوی شی قصدا خپله هلاك کړی که دده په لاس کي دده په عمل سره یا بېله دده د عمل څخه هلاك سي تاوان پر لازم دی.
س : د کمېدلو څه حکم دی ؟
ج : د غصب کړل سوي شي څخه چي څه قدر کم سي د کمېدلو تاوان پر لازمیږي .
س : که یو چا یو شی غصب کړي او غصب کړل سوی شی د غصب کونکي په عمل سره تغیر پیدا کړي تر داسي اندازې پوري چي د هغه نوم او لویې ګټې له منځه ولاړې سي ، د مثال په توګه یو سړی پسه غصب کړي او ذبح ئې کړي او کباب ئې کړي یا ئې پوخ کړي یا غنم غصب کړي اوړه ئې کړي یا اوسپنه غصب کړي توره څني جوړه کړي یا ژړ غصب کړي لوښی څني جوړ کړي ، څه حکم لري ؟

ج: په دغه صورت کي د مغصوب منه (هغه څوك چي شی څني غصب کړل سوی وي) ملکيت له منځه ځي او غصب کونکی د غصب کړل سوي شي مالك کيږي ، مګر ده ته له هغه څخه ګټه اخستل نه روا کيږي تر څو چي مالك ته ئې عوض ورکوي .

س: که يو چا کالی غصب کړی او سور رنګ ئې ورکړی يا ئې اوړه غصب کړل غوړي ئې ورسره ګډ کړل څه حکم لري ؟

ج: مالك اختيار لري که د غصب کونکي څخه په اول صورت کي د سپين کالي قيمت او په دوهم صورت کي د اوړو مثل اخلي او هغه دوه شيان غصب کونکي ته ورسپاري که هغه شيان اخلي او د رنګ د زياتوب او غوړو قيمت ورکوي .

س: که يو چا يو مځکه غصب کړل او ودانۍ ئې پر جوړه کړل څه حکم لري ؟

ج: د مالك ملکيت له منځه ځي او پر غصب کونکي ئې قيمت لازميږي .

س: که يو چا يو شی غصب کړی او پټ ئې کړی او مالك د هغه تاوان څني وغوښتی مګر دوی د هغه په قيمت کي اختلاف وکړی څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج: د هغه په قيمت کي د قسم سره د غصب کونکي قول معتبر دی مګر که مالك له هغه څخه پر زيات قيمت شاهدان ودرول په هغه صورت کي دده قول معتبر دی ، کله چي غصب کونکی قيمت اداء کړي د هغه شي مالك کيږي .

س: که غصب کونکي د مالك په قول سره يا د مالك په شاهدانو سره يا د غصب کونکي له قسم څخه ډډه کولو سره يا د غصب کونکي په قول سره د قسم سره د پټ کړل سوي مال تاوان مالك ته اداء کړی وروسته هغه شی ښکاره سو او قيمت ئې تر هغه زيات وچي ده اداء کړی وو ، په دغه صورت کي مالك ته دا حق سته چي اضافي قيمت له غصب کونکي څخه واخلي ؟

ج: که غصب کونکي د قسم سره په خپل قول سره تاوان ورکړی وو مالك ته اختيار سته چه هغه تاوان صحيح کوي که هغه شی اخلي او تاوان بير ته ورکوي ، که ئې د مالك په قول يا د هغه په شاهدانو سره يا دده له قسم څخه په ډډه سره تاوان ورکړی وو مالك ته اختيار نسته او شی د غصب کونکي دی .

س: که يو چا سپين زر يا سره زر غصب کړل او له هغه څخه ئې درهمونه او دينارونه جوړ کړل يا ئې لوښی څني جوړ کړی د مالك ملکيت له منځه ځي ؟

ج : په دغه صورت کي د ابوحنيفه رح په نزد د مالك ملكيت له منځه نه ځي ځکه هغ
شی په مکمله توګه پاته دی (۱) .
س : که يو چا د بل چا پسه پرته د هغه د اجازې ذبح کړی مالك به ئې څه کوي ؟
ج : مالك ته ئې اختيار سته که د هغه تاوان ځني اخلي او هغه پسه هغه سړي ته
ورسپاري او که د نقصان تاوان ځني اخلي .
س : که ئې د يو چا کالی ورخيري کړی څه حکم لري ؟
ج : که ئې لږ خيرلی وو تاوان دي ځني واخلي او که ئې ډېر خيرلی وو چي زياتي ګټي ئې
له منځه تللي وې مالك ته ئې دا حق سته چي د ټوله قيمت تاوان ځني واخلي .
س : تاسي د غصب په تعريف کي وويل چي غصب کړل سوی شی به مال وي قيمت به
لري د قدر وړ به وي د نقلولو قابل به وي ، دغه ټکي څه فائدې لري ؟
ج : د دغو ټکو فائدې په لاندي بيان کي څرګنديږي :

۱ : که يو مسلمان د يو بل مسلمان شراب يا سرکوزی هلاك کړی تاوان ئې نه پر لازميږي ځکه هغه د مسلمانانو په نزد د قدر وړ قيمت لرونکی مال نه دی مګر که مسلمان د ذمي (هغه کافر چي په اسلامي هيواد کي اوسيږي) شراب يا سرکوزی هلاك کړی تاوان ئې پر لازميږي ځکه د ذميانو په نزد هغه قيمت لري .

۲ : که يو چا ځمکه غصب کړل د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد هغه غصب نه ګڼل کيږي ځکه ځمکه نه نقل کيږي ، ددغه اختلاف نتيجه په هغه صورت کي څرګنديږي چي ځمکه غصب کړي او دده په لاس کي هلاك سي (۲) د دوی رح په نزد ئې تاوان نه پر لازميږي او د محمد رح په نزد ئې تاوان پر لازميږي .

س : دا خو څرګنده سول چي په ځمکه کي غصب نه پيدا کيږي مګر که يو چا پر بل
ځمکه قبضه وکړل اودده په عمل يا اوسېدو سره ئې کمی وکړی دهغه تاوان پرلازميږي ؟

(۱) ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : د سپينو زرو مثل پر لازميږي او غصب کونکی ئې مالك کيږي ځکه يو د اعتبار وړ عمل ئې په کښي وکړی ، که ئې سپين زر يا سره زر ويلي کړل او درهمونه او دينارونه ئې ځني جوړ نه کړل ، خښتي ئې ځني جوړي کړې په اجماع سره د مالك لاس نه ځني پرې کيږي . له " الجوهره النيره " څخه .

(۲) لکه چي په يو علاقه کي سيل راسي او د هغې علاقې ونې او خاوري له منځه يوسي .

هو د دوی درو سره وو رح په قول کي ئې تاوان پر لاژمیږي .

س : که یو چا مځکه غصب کړل په هغه کي ئې ونه شنه کړل یا ئې ودانۍ په کښې جوړه کړل څه حکم لري ؟

ج : غصب کونکي ته ویل کیږي ونه وکاږه او بناء ونړوه او مځکه خالي مالك ته بیرته ورکه ، که د ونې په کښلو یا ودانۍ په نړولو سره د مځکي قیمت کمېدی مالك ته دا حق سته چي د ودانۍ چي په مځکه کي نه وي او د ونې چي په مځکه کي شنه نه وي قیمت ورکي او هغه دواړه دده سي .

س : که غصب کړل سوي شي د غصب کونکي په لاس کي نماء (کوم شی چي له هغه څخه حاصلیږي لکه د حیوان چیچی یا د باغ مېوه) وکړل هغه څه حکم لري ؟

ج : د هغه نماء د غصب کونکي په لاس کي امانت ګڼل کیږي ، که دده په لاس کي هلاك سول تاوان ئې نه پر لاژمیږي مګر هغه وخت ئې تاوان پر لاژمیږي چي دی په هغه کي تېری وکړي یا ئې مالك څني وغواړي دی ئې څني منع کړي .

س : که یو چا یو مینڅه غصب کړل ، خپله ئې زنا ورسره وکړل یا بل چا زنا ورسره وکړل ، دهغې څخه کوچنی پیدا سو او قیمت ئې په زېږېدلو سره کم سو ددغه کمي تاوان به څوك ورکوي ؟

ج : غصب کونکی به ددغه کمی تاوان ورکوي ، که د کوچني په قیمت سره هغه کمی پوره کېدی په هغه سره دي پوره سي او د غصب کونکي څخه تاوان ساقطیږي او که نه په پوره کېدی د هغه د قیمت په مقدار ئې تاوان ساقطیږي او د پاته تاوان پر لاژمیږي .

س : که یو چا یو حیوان غصب کړی او پر سپور سو یا ئې کور غصب کړی او په کښې واوسېدی یا ئې مریی غصب کړی یوه میاشت ئې د مثال په توګه خدمت په وکړی د ګټو تاوان پر لاژمیږي ؟

ج : پر غصب کونکي د غصب کړل سوي شی د ګټو تاوان نه لاژمیږي مګر هغه وخت پر لاژمیږي چي دده په استعمال سره کمی وکړي (۱) .

---

(۱) یعني د قاضي په فیصله کي تاوان نه پر لاژمیږي ، د دین په لحاظ په ګناه کاره کیږي .

د ودیعت کتاب

س : ودیعت په عربي ژبه او شریعت کي څه ته ویل کیږي ؟

ج : هغه له " ودع " یعني پرېښول څخه جوړ سوی دی ، دا ئې لغوي معنی ده او په شریعت کي د یو مال د داسي چا په نزد ایښولو ته ویل کیږي چي هغه ئې د ساتلو اهل وي او په هغه شي کي د مالك ملکیت پاته وي (۱) .

س : ودیعت چي د مودَع (هغه څوك چي ودیعت ورته ایښول سوی وي) په لاس کي وي څه حکم لري ؟

ج : ودیعت د مودَع په لاس کي امانت دی ، که دده په لاس کي بېله تیري څخه هلاك سي تاوان ئې نه پر لازمیږي .

س : پر مودَع دا لازمه ده چي خپله به ئې ساتي ؟

ج : دا پر لازمه ده چي خپله به ئې ساتي یا به ئې په داسي چا سره ساتي چي دده په عیال کي وي . که ئې په بل چا سره وساتی یا ئې د بل چا سره د ودیعت په توګه کښېښوی تاوان ئې پر لازمیږي ، مګر هغه وخت ئې تاوان نه پر لازمیږي چي په کور کي ئې اور بل سي او هغه شی خپل ګاونډي ته وروسپاري یا دی په کښتی کي وي او د غرقېدو څخه بېرېږي بلي کښتی ته ئې وروغورځوي په دغه وخت کي تاوان نه پر لازمیږي ځکه دده دغه کار د ودیعت ایښونکي د خیر غوښتني له وجهي وکړی (۲) .

س : که د ودیعت څښتن مودَع ته وویل خپلي ماینې ته ئې مه و رسپاره او دده وروسپاری یا ئې ورته وویل په دغه خونه کي ئې وساته او دده د هغه کور په بله خونه کي وساتی او ودیعت هلاك سو پر مودع ئې تاوان لازمیږي ؟

ج : په دغو صورتو کي تاوان نه پر لازمیږي مګر که ئې په بل کور کي وساتی پر لازمیږي .

(۱) دغه خبره د " الجوهرې " مصنف ذکر کړې ده ، وروسته ئې ویلي دي چي د ودیعت او امانت فرق دادی چي ودیعت دا دی چي یو مال په قصد سره د ساتلو لپاره د یو چا سره کښېښول سي او امانت هغه مال ته ویل کیږي چي بېله قصد څخه دده په لاس کي راسي په دې توګه چي باد دده په نزد یو کالی ور واچوي ، خبره ئې پوره سول .

(۲) مګر بېله شاهدانو ئې تصدیق نه کیږي څرنګه چي د " الهدایې " مصنف ذکر کړي دي .

س: كه وديعت اېښودونكی د وديعت اخستلو لپاره راغلی او د هغه لپاره ئې مزدور ونيوی مزدوري ئې پر چا لاز مېږي ؟

ج: د وديعت د بېرته اخستلو مزدوري پر وديعت اېښودونكی لاز مېږي .

س: كه د وديعت مال د مودَع د مال سره ګډ سو يا ده خپله ګډ كړی د هغه د تاوان څه حكم دی ؟

ج: كه بېله دده د عمل د وديعت مال دده د مال سره ګډ سي د هغه د ښتن سره شريك كېږي ،كه ده ورسره ګډ كی په داسي توګه چي نه سره بېلېدی تاوان ئې پر لاز مېږي .

س: كه مودَع د وديعت له مال څخه خرڅ وكړی د هغه د تاوان څه حكم دی ؟

ج: كه مودَع د وديعت ټوله مال خرڅ كړی د ټوله تاوان پر لاز مېږي ، كه ئې يو څه خرڅ كړی او يو څه هلاك سو د خرڅ سوي مال په قدر تاوان پر لاز مېږي .

س: كه ئې يو څه قدر خرڅ كړی او د هغه مثل ئې بېرته راوړی د پاته برخي سره ئې ګډ كړی د ټوله تاوان پر لاز مېږي كه د يوي برخي تاوان پر لاز مېږي ؟

ج: د ټوله تاوان پر لاز مېږي .

س: كه وديعت اېښودونكی راغلی او خپل وديعت ئې غوښتی ، پر ورتسليمولو ئې قدرت درلودی مګر څني منع ئې كړی ، تر هغه وروسته بېله تېري څخه دده په لاس كي هلاك سو په دغه صورت كي د تاوان څه حكم دی ؟

ج: په دغه صورت كي تاوان پر لاز مېږي او دا نه ويل كېږي چي تېری ئې نه دی په كښېښي كړی ځكه تر غوښتلو وروسته دده منع كول سره له دې څخه چي پر تسليمولو ئې قدرت لري تېری ګڼل كېږي .

س: كه مودَع په وديعت كي تېری وكړی په دې توګه چي حيوان وو پر سپور سو يا كالی وو وائې غوستی يا مريی وو خدمت ئې په وكی يا ئې د بل چا سره د وديعت په توګه كښېښوی ، وروسته ئې خپل تېری له منځه يووړی او بېرته ئې خپل لاس ته راوړی ، د تاوان حكم پر خپل حال پاته دی ؟

ج: په دغه صورت كي تاوان له منځه ځي (١) .

---

(١) يعني تير سوی تېری له منځه ولاړی نو د تاوان حكم له منځه ځي ، كه ئې تر دغه وروسته تېری وكړی تاوان پر لاز مېږي .

س : که د ودیعت څښتن راغلی خپل ودیعت ئې وغوښتی مودَع انکار څني وکړی د هغه د تاوان څه حکم دی ؟

ج : پر مودَع نې په داسي توګه تاوان لازمیږي چي نه څني خلاصیږي ، تر داسي اندازې که نې بیرته اقرار وکړی له تاوان څخه نه خلاصیږي که څه هم بېله دده د عمل څخه هلاك سي ځکه انکار کول تېری دی .

س : مودَع ته روا ده چي په ودیعت سره سفر وکي ؟

ج : هو دا ورته روا ده که دودیعت څښتن منع کړی نه وو او (له ښار څخه) د هغه پر ایستلو نه بېرېدی (۱) .

س : که نې بار او تکلیف درلودی په سفر سره د هغه ایستل څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي نې هم په تېر شرط سره په سفر سره ایستل روا دي .

س : که دوو سړیانو یو چا ته یو مال په ودیعت کښېښوی ، وروسته یو حاضر سو خپله برخه نې غوښتل مودَع به خپله برخه ورکوي ؟

ج : هیڅ قدر به نه ورکوي تر څو چي هغه بل حاضریږي ، دا د ابوحنیفه رح په نزد ، ابویوسف رح او محمدرح ویلي دي : خپله برخه دي ورکوي .

س : که یو سړي ددو سړیانو سره یو مال کښېښوی ، له دوی دوو څخه یوه ته دا روا ده چي ټوله ودیعت هغه بل ته ورکړي .

ج : دا نه ده روا بلکه ودیعت به وېشي هر یو به خپله برخه ساتي ، دا په هغه شیانو کي چي وېشل کېدلای سي ، که داسي شی وو چي نه سوای وېشل کېدلای دا روا ده چي یو نې د هغه بل په اجازه سره وساتي .

س : که مودَع ودیعت د څښتن کورته واپس وروړی او ورونې نه سپاری او هلاك سو تاوان نې پر لازمیږي ؟

---

(۱) دا د ابوحنیفه رح په نزد او په دې کي دا شرط سته چي په لاره کي به امن وي او څښتن نې له ښار څخه د هغه له ایستلو څخه منع کړی نه وي ، که د هغه څښتن له ښار څخه د هغه له ایستلو څخه منع کړی وه او ده وایستی او هلاك سو تاوان نې پر لازمیږي ، دغه رنګه په « الهدایه » کي راغلي دي او په هغه کي دا خبره هم ذکر سوې ده چي صاحبینو رح ویلي دي : که بار او تکلیف والا شی وو په سفر سره نې نه سي ایستلای

ج : هو تاوان ئې پر لازميږي (١) .

س : کوم مال چي په وديعت ايښول سوی وي د هغه د واپس کولو مزدوري پر چا ده ؟

ج : پر هغه چا ده چي مال ئې په وديعت ايښی وي .

(١) ځکه هغه د بل چا په ساتنه راضي نه دی ځکه که راضي وای دده سره به ئي نه وای په وديعت ايښی .

د عاريت کتاب

س : عارت څه ته وايي ؟

ج : هغه بېله عوض څخه گټي چا ته ورکولو ته ويل کيږي .

س : په سپيڅلي شريعت کي هغه څه حکم لري ؟

ج : هغه روا دی .

س : د هغه کوم الفاظ دي ؟

ج : په هغه کي صريح الفاظ دا دي چي معير (په عاريت ورکونکی) ووايي : دغه شی مي په عاريت درکړی دی ، دغه مريی مي ستا د خدمت لپاره درکړی دی ، زما کور ستا د اوسېدلو لپاره دی ، زما کور ستا د عمر لپاره ستا د اوسېدلو لپاره دی ، او که ئې دا سي ورته وويل : دغه مځکه مي ستا د خوراك لپاره درکړې ده ، دغه کالی مي تا ته درکړی دی ، ته مي پر دغه حيوان سپور کړی يې په دغو صورتو کي ئې که د بخښني نيت نه وو کړی عاريت صحيح کيږي .

س : د مستعير (کوم څوك چي مال ئې په عاريت اخيستی وي) په لاس کي عاريت څه حکم لري ؟

ج : عاريت دده په لاس کي امانت دی ، که بېله تيري څخه دده په لاس کي هلاك سو تاوان ئې نه پر لازميږي .

س : مستعير ته دا روا ده چي کوم مال ده په عاريت اخيستی وي بل چا ته ئې په کرايه ورکړي ؟

ج : دا نه ده ورته روا ، که ئې په کرايه ورکړی او هلاك سو تاوان ئې پر لازميږي ځکه دا تېری دی .

س : مستعير ته دا روا ده چي بل چا ته ئې په عاريت ورکړي ؟

ج : هو دا ورته روا ده که په هغه شی کي د استعمالونکي په استعمال سره بدلون نه راتلی .

س : د درهمو ، دينارو ، د پېماني دشي او د تول د شي په عاريت سره ورکول روا دي ؟

ج : هو روا دي او هغه قرض گڼل کيږي که څه هم دوی دواړه ئې عاريت وبولي .

س: كه يو چا يو حيوان په عاريت واخيستى او د هغه د مالك اصطبل (د حيوانانو د روزني ځاى) ته ئې وروستى او هلاك سو تاوان ئې څه حكم لري ؟
ج: تاوان ئې نه پر لازميږي ځكه كوم سپارل چي په عادت كي كيږي هغه ئې وكړل دغه رنګه كه ئې يو مريى په عاريت واخستى او د مالك كور ته ئې بيرته وروستى او ورتسليم ئې نه كړى تاوان ئې نه پر لازميږي .
س: د عاريت د مال واپسولو مزدوري پر چا ده ؟
ج: هغه پر مستعير ده څرنګه چي د غصب كړل سوي شي واپسولو مزدوري پر غصب كونكي ده ، مګر هغه شى چي په كرايه اخيستل سوى وي د هغه د واپسولو مزدوري پر هغه چا ده چي په كرايه ئې وركړى وي .
س: معير په خپل عاريت كي رجوع كولاى سي ؟
ج: كوم وخت چي ئې خوښه وي رجوع كولاى سي .
س: كه يو چا مځكه ددې لپاره په عاريت واخستل چي وداني پر جوړه كي يا ونه په كښې شنه كي او معير دا وغوښتل چي بيرته ئې ځني واخلي په داسي حال كي چي په هغه كي ئې وداني جوړه كړې وي يا ئې ونه په كښې شنه كړې وي ، په ودانۍ او وني به څه كوي ؟
ج: په هغه كي دوه صورته دي : كه ئې د عاريت لپاره وخت ټاكلى وو او له وخت څخه مخكي ئې رجوع وكړل ، ودانۍ او ونه چي په نړولو او كښلو سره كوم نقصان كوي د هغه تاوان به مستعير ته وركوي (۱) او كه ئې د عاريت لپاره وخت نه وو ټاكلى دا ورته روا ده چي مستعير د ودانۍ په نړولو او وني په كښلو سره مجبور كړي او په دغه صورت كي هيڅ تاوان نه پر لازميږي .

(۱) دغه رنګه قدوري په خپل مختصر كي ذكر كړي دي او حاكم شهيد ذكر كړي دي چي د مځكي خښتن به مستعير ته د شنه كولو او وداني جوړولو قيمت وركوي او هغه دده كيږي مګر كه مستعير وغوښتل چي وني ئې كاږي او قيمت ئې له هغه څخه وانه خلي صحيح كيږي ځكه هغه دده ملكيت دى ، له " الهدايې " څخه ، او په " الكفايه " كي ذكر سوي دي كه د مثال په توګه د ودانۍ قيمت تر ټاكلي وخت پوري لس ديناره وو او كه ئې اوس ونړوي قيمت ئې دوه ديناره وي اته ديناره به وركوي اه .

د مزارعت کتاب

س : مزارعت په عربي ژبه او د فقه په اصطلاح کي څه ته وايي ؟

ج : مزارعت د زرع (کرل) څخه مشتق دی او د فقه په اصطلاح کي د هغه مطلب دادی چي د مځکي څښتن د یو سړي سره داسي معامله وکي چي هغه به ئې کړي او د هغه له حاصل څخه به ئې یوه پاشلې برخه لکه دریمه او څلورمه اخلي .

س : زموږ د درو امامانو رح په نزد مزارعت څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنیفه رح په نزد هغه باطل دی او د صاحبینو رح په نزد هغه څلور صورتونه لري چي د هغو څخه درې جائز دي او څلورم باطل دی . هغه څلور صورتونه په لاندي توګه دي :-

۱ :- دا چي مځکه او تخم د یوه وي او کار د بل وي .

۲ :- دا چي مځکه د یوه وي او کار ، غوایي او تخم د بل وي .

۳ :- دا چي مځکه او تخم او غوایي د یوه وي او کار د بل وي .

دغه درې صورتونه جائز دي .

۴ :- دا چي مځکه او غوایي دیوه وي او تخم او کار د بل وي دغه صورت باطل دي (۱).

س : د صاحبینو رح په نزد په جائزو صورتو کي د مزارعت د صحت لپاره کوم شرطونه دي ؟

ج : د هغه د صحت لپاره دوه شرطونه دي :

۱ :- دا چي مده به ئې معلومه وي .

۲ :- دا چي د حاصل برخه چي عقد پر کیږي هغه به پاشلې برخه وي (لکه دریمه ، څلورمه او داسي نور) .

---

(۱) څکه په دغه صورت کي غوایي د مځکي د حاصل د یوې برخي په مقابل کي په کرایه ورکول سول ، د هغه وجه دا ده چي هغه په دغه صورت کي د کار تابع نه سي کېدلای ، څکه هغه پر کار کونکي نه دي شرط سوي ، او د مځکي د حاصل د یوې برخي په مقابل کي غوایي په کرایه اخستـــل نه دي جـائز له څخه . الجوهره .

س : که دوو کسانو د مزارعت عقد وکړی او د يوه لپاره ئې يو څو ياد سوي قفيزه (يوه پيمانه چي تقريبا ۵ ، ۳۲ ليتره ده) وټاکل ، دغه مزارعت څه حکم لري ؟

ج : دغه مزارعت باطل دی .

س : که ئې د مزارعت عقد وکړی او د کښت کومه برخه چي د ولو يا لښتيانو پر غاړه راشنه سي هغه ئې يوه لره وټاکل ، دغه عقد څه حکم لري ؟

ج : دغه عقد هم باطليږي .

س : کله چي مزارعت صحيح سي د ځمکي حاصل څرنګه ويشل کيږي ؟

ج : د ځمکي حاصل به پر هغه ډول سره ويشي کوم چي دوی سره ټاکلی وي ، که له ځمکي څخه هيڅ حاصل نه وسو کار کونکي لره هيڅ شی نسته .

س : که د مزارعت عقد فاسد سو او کار کونکي کار په کښبي وکی او ځمکي کښت راشن کړی حاصل به څرنګه ويشل کيږي ؟

ج : په دغه صورت کي ويش نسته بلکه حاصل د تخم د څښتن دی که تخم د ځمکي د څښتن له خوا وو کار کونکي لره اجر مثل (دومره مزدوري چي دغه رنګه سړي ته په عادت کي ورکول کيږي) ورکول کيږي او هغه به تر هغه مقدار حاصل زيات نه وي کوم چي دوی سره ټاکلی وي ، محمد رح ويلي دي هغه ته اجر مثل ورکول کيږي هر څومره چي وي او که تخم د کار کونکي له خوا څخه وو د ځمکي څښتن ته د ځمکي اجر مثل (دومره کرايه چي په عادت ئې خلګ په هغه سره کرايه کوي) ورکول کيږي .

س : که د تخم څښتن د مزارعت تر عقد وروسته له کار کولو څخه ډډه وکړل پر کار کولو مجبور کيږي ؟

ج : نه پر مجبور کيږي .

س : که هغه کار کونکي چي تخم د هغه له خوا څخه نه وو له کار کولو څخه ډډه وکړل په دغه صورت کي څه فيصله کيږي ؟

ج : حاکم دي ئې پر کار کولو مجبور کړي .

س : که د مزارعت مده ختمه سول او کښت نه وو رسيدلی څه به کوي ؟

ج : کښت به تر هغه وخت پوري پريږدي تر څو چي رسيږي او کښت کونکی به د لو کولو تر وخت پوري د ده د برخي د ځمکي کرايه ورکوي او د کښت خرڅ به دواړه د دوی د برخو په مقدار سره ورکوي .

س : د لو ، غوبل ، د غوبل تر ځای پوري وړولو او بادولو مزدوري پر چا کیږي ؟

ج : دغه مزدوري پر دواړو د دوی د برخو په مقدار لازمیږي ، که ئې هغه پر کار کونکي شرط کړل فاسدیږي .

س : که له عقد کونکي څخه یو مړ سو عقد پر خپل حال پاتیږي ؟

ج : له دوی دوو څخه چي هر یو مړ سي مزارعت باطلیږي (۱) .

(۱) قدوري دغه خبره مطلق ذکر کړې ده د (الجوهره النیره) مصنف ویلي دي : یعني که تر کښت مځکي مړ سي ، که تر کښت وروسته مړ سي کتل کیږي ، که د مځکي څښتن مړ سو مځکه د کار کونکي په لاس کي پرېښول کیږي تر څو چي لو کیږي او په ټاکلي مقدار سره ویشل کیږي او که کار کونکی مړ سو او د هغه وارثانو وویل : د لو تر وخت پوري موږ په مځکه کي کار کوو او د مځکي څښتن دا خبره نه منل نو ده لره دا حق نسته ځکه پر ده کوم ضرر نسته ، بلکه د کښت په کښلو کي پر دوی ضرر سته نو په کار ده چي کښت پرېښول سي او دوی چي کوم کار کوي د هغه مزدوري دوی لره نسته او که دوی غوښتل چي کښت وکاږي پر کار کولو نه مجبوره کیږي او د مځکي څښتن ته ویل کیږي یا ئې وکاږه او وئې ویشه یا دوی ته د دوی د برخي قیمت ورکه او کښت تول ته واخله یا د کښت د روزلو لپاره خرڅ وکه وروسته د دوی د برخي په مقدار سره له دوی څخه خرڅ واخله ، ختم .

د مساقات کتاب

س: مساقات څه ته ویل کیږي ؟
ج: مساقات له سقي څخه مشتق سوی دی او د فقه په اصطلاح کي د هغه مطلب دا دی چي یو څوك میوه لرونکي وني یو کار کونکي ته په دې توګه ورکي چي هغه کار په کښي وکي او د میوې دریمه یا څلورمه د مثال په توګه د هغه وي .
س: دغه معامله څه حکم لري ؟
ج: د ابو حنیفه رح په نزد دغه معامله باطله ده ، ابو یوسف رح او محمد رح ویلي دي که هغوی یوه معلومه مده وټاکي او د میوې یوه پاشلې برخه یاده کړي مساقات جائز دی او فتوی د دوی پر قول ده .
س: په کومو ونو کي مساقات صحیح کیږي ؟
ج: د خرما په ونو او انګورو په تاکونو او نورو ونو او شپشتو او بانجنو په جړنګانو کي صحیح کیږي .
س: د هغه لپاره کوم شرط سته ؟
ج: که یو څوك د خرما یا نوري وني په داسي حالت کي په مساقات سره ورکي چي په کار کولو سره ئې میوه زیاتیږي نو مساقات جائز دی او که میوه پوره سوې وه او په کار کولو سره نه زیاتیدل د مساقات عقد باطل دی .
س: که د مساقات عقد فاسد سو کار کونکي ته څه شی ورکول کیږي؟
ج: هغه ته اجر مثل ورکول کیږي (دومره مزدوري چي دغه رنګه سړی ئې مستحق وي) .
س: د مساقات عقد په کوم صورت کي باطلیږي ؟
ج: هو له دوی دوو څخه د یوه په مرګ سره د مساقات عقد باطلیږي څرنګه چي په هغه سره مزارعت باطلیږي (۱) .

---

(۱) دغه رنګه قدوري دغه خبره مطلق ذکر کړې ده ، د " الهدایي " مصنف ویلي دي : او په مرګ سره مساقات باطلیږي څکه هغه د اجارې یو شی په کرایه ورکول) په شان دی ، نو که د مځکي څښتن مړ

س : په څينو حالاتو کي د مساقات عقد فسخ کيږي ؟
ج : په عذرو سره فسخ کيږي څرنګه چي اجاره په هغه سره فسخ کيږي .

د ص ۳۰۵ پاته برخه : سي او خرما بسر (هغه خرما چي پخه سوې نه وي) وه کار کونکي لره دا سته چي د هغه روزنه وکړي څرنګه چي مخکي نې روزنه کول تر څو چي خرما پخيږي که څه هم د مخکي د ښتن وارثان دا نه خوښوي ، دغه حکم د استحسان په دليل سره دی نو د مساقات عقد په دغه صورت کي پاته کيږي د دې لپاره چي کار کونکي ته ضرر نه ورسيږي او پر هغه بل طرف ضرر نسته، که کار کونکی ضرر قبول کړي د هغه بل طرف وارثان اختيار لري چي بسر د دوی د حصو په قدر ويشي يا ده ته د هغه د برخي د بسر قيمت ورکوي يا د بسر د روزني لپاره خرڅ کوي تر څو چي هغه رسيږي او وروسته د کار کونکي د حصې په مقدار له هغه څخه خرڅ اخلي . او که کار کونکی مړ سي د هغه وارثانو ته دا حق سته چي روزنه نې وکي که څه هم د مخکي ښتن دا نه کي خوښه څکه په دې کي د دواړو طرفو ګټه سته ، که هغوی دا وغوښتل چي بسر وشکوي د مخکي ښتن ته هم هغه درې اختيارات سته کوم چي مو بيان کړل او که دواړه مړه سول د کار کونکي وارثانو ته اختيار سته ځکه هغوی د ده پر ځای ولاړ دي که د کار کونکي وارثانو د ونو د روزني څخه ډډه وکړل د مځکي د ښتن وارثانو ته هم هغه دول اختيار سته څرنګه چي مو بيان کړی ، د هغه خبره په مختصره توګه ختمه سول

د موات (هغه مځکه چي د کښت قابله نه وي) ژوندي کولو (د کښت قابله ګرځولو) کتاب

س: موات څه ته وائي او د هغه د ژوندي کولو څه حکم دی ؟
ج: موات هغه مځکي ته ويل کيږي چي د اوبو د نه رسيدلو يا اوبو د ډيرښت يا د کښت له موانعو څخه کوم بل مانع له کبله ګټه نه ځني اخيستل کيږي ، هغه مځکه چي مالك نه لري يا د اسلام په دور کي په کوم وخت کي ئې مالك وو مګر مالك ئې معلوم نه وي او د کلي څخه دومره ليري وي چي د وداني مځکي په اخري برخه کي څوك ودريږي او ناره وکي د هغه اواز په دغه مځکه کي نه اوريدل کيږي ، د دغه رنګه مځکي ژوندي کول جائز دي .
س: د هغه لپاره د امام (پاچا) اجازه شرط ده ؟
ج: هو د هغه لپاره د امام اجازه شرط ده ، څوك چي ئې د امام په اجازه سره ژوندۍ کړي هغه ئې مالك کيږي او که ئې د هغه د اجازې څخه پرته ژوندۍ کړي د ابو حنيفه رح په نزد ئې نه مالك کيږي ، صاحبينو رح ويلي دي که څه هم بيله اجازې د امام ئې ژوندۍ کړي هم ئې دی مالك کيږي .
س: که ذمي موات ژوندۍ کړي د هغه څه حکم دی ؟
ج: د هغه ژوندي کول د مسلمان د ژوندي کولو په شان دي ، کله چي ئې ژوندۍ کړي مالك کيږي ئې .
س: د موات د ژوندي کولو مطلب څه دی ؟
ج: د هغه ژوندي کول دادي چي وائې ړوي او اوبه ئې کي يا واله په کښي وکني او اوبه په کښي رواني کي يا څاه په کښي وکني يا بند پر جوړ کړي تر څو چي اوبه وساتي يا تخم په کښي وپاشي يا وداني پر جوړه کړي يا ونه په کښي شنه کړي .
س: تاسو دا خبره ذکر کړل چي د موات ژوندي کول هغه وخت جائز دي که له کلي څخه ليري وي د دغه تکي څه فائده ده ؟

ج : د دې فائده دا ده چي هغه مځکه ځني ووزي چي وداني مځکي ته نژدې وي کوم
ته چي خلګ احتياج لري او هغه د دوی د کښتو يا حيوانانو د څړ لپاره پرېښول کيږي
د دغه رنګه مځکي ژوندي کول جائز نه دي .

س : تاسو دا خبره ذکر کړل چي د څاه په کندلو سره مځکي ژوندۍ کيږي ، که يو څوا
په هغه کي څاه وکني څومره موات مځکه د ده ملك کيږي ؟

ج : د هغه د حريم دی مالك کيږي (۱) .

س : د حريم څه تفصيل دی ؟

ج : که څاه د اوښانو د اوبولو لپاره وو د هغه حريم له هر لوري څخه څلوېښت ګزه دی . د
اوښانو د اوبولو لپاره مطلب دا دی چي هغه ته اوښان او نور حيوانان راولي او هلته ئې
اوبوي او اوبه په لاس راکاږي . او که څاه د ناضح اوښ لپاره وو د هغه حريم شپېته (۲)
ګزه دی . د اوبونکي اوښ لپاره مطلب دا دی چي د هغه اوبه په اوښ سره راکاږي او
خپل کښت په اوبوي .

س : که څاه چينه لرونکی وو چي په دننه کي ئې چينه بهيدل د هغه حريم څومره مقدار
دی .

ج : د هغه مقدار پنځه سوه ګزه دی .

س : د څاه کندونکي لپاره حريم ورکول څه فائده لري ؟

ج : د هغه فائده دا ده ي هيڅ چا ته اجازه نه ورکول کيږي چي د هغه په حريم کي بل څاه
وکني .

س : د هغه مځکي ژوندي کول جائز دي کومه چي د دجلي يا فرات رود پر اينبې وي او
اوبه ځني ګرځيدلي وي ؟

ج : که د دې امکان وو چي بيرته اوبه ورته راوګرځي ژوندي کول ئې جائز نه دي او که د

---

(۱) د بو ښي حريم هغه ځای ته ويل کيږي چي د هغه خواوشا کوم حقوق او د هغه د ګټي ځايونه وي
هغه ښکه حريم بلل کيږي ښکه هغه پرته له مالك څخه پر بل چا حرام دی ، دغه خبره شامي په (رد
المحتار) کي ذکر کړې ده .

(۲) ښکه هغه دې ته ضرورت لري چي خپل حيوان د اوبو راکښلو لپاره په کښي وګرځوي ، کله کله
رسی اوږده وي ، او د اوبولو څاه د دې لپاره دی چي په لاس سره اوبه ځني راوکاږي نو د هغه لپاره دلو
ځای ضرورت دی . له (الهدايه څخه) ناضح هغه اوښ ته ويل کيږي چي اوبه په راکښل کيږي .

اوبو بيرته راګرځيدلو امکان نه وو هغه داسي ګڼل کيږي لکه موات ، که د واني مځکي
حريم نه وه ژوندي کول ئې جائز دي نو څوك چي ئې په دغه شرط د امام په اجازه ژوندي
کړي هغه ئې مالك کيږي .

س: که يو سړي واله لرل چي د بل سړي د مځکي په منځ کي بهيدل هغه حريم لري ؟

ج: د ابو حنيفه رح په نزد هغه حريم نه لري مګر هغه وخت ئې لري که ئې د هغـه لپـاره
شاهدان درلودل ، او صاحبينو رح ويلي دي د ولې څنډه د ده حق ده چي دی پـر ځـي او
خټې پر اچوي .

س: که يو سړي مځکه په ډبرو ايښولو سره ننباني کړل او ودانه ئې نه کړل ، ورانه ئې
پرېښول حاکم به هغه ته مهلت ورکوي ؟

ج: درې کاله به مهلت ورکوي ، کله چي دغه مده تيره سي ځني وادي ئې خلي بل چا ته
دې ئې ورکړي (۱) .

---

(۱) مځکه اول ته ورکول د دې لپاره وه چي ودانه ئې کړي او مسلمانانو ته د هغه د عشر او خراج ګټه
ورسيږي . کله چي ګټه نه سي حاصله بل چا ته دي ئې ورکړي تر څو چي ګټه حاصله سي بل دا چي
پرېښول ژوندي کول نه دي چي دی ئې مالك سي ځکه ژوندي کول ودانولو ته ويل کيږي او ډبري
ايښول صرف د ننباني کولو لپاره دي ځکه خلګو د هغه د ننباني کولو لپاره د هغه پر شاوخوا ډبري
ايښې تر څو چي بل څوك د هغه د ژوندي کولو څخه منع کړي نو هغه مځکه خرنګه چي مخکي وه
هم د بل چا ملك نه ده دغه قول صحيح دی ، له " الهدايه " څخه .

د ماذون (هغه مريی چي بادار ئې د سواد ګري اجازه ورته کړې وي) کتاب

س ماذون چا ته ويل کيږي ؟
ج : ماذون د محجور ضد دی او د حجر په کتاب کي تا وپيژندل چي د حجر درې سببونه دي کوچنيوالی ، مريی توب او ليونتوب ، په دې ځای کي موږ د هغه مريي مسائل بيانوو کوم چي بادار ئې د خرڅولو او رانيولو اجازه ورته کړې وي ، له هغه څخه وروسته د هغه کوچني مسائل بيانوو کوم چي د سودا ګري اجازه ورته سوې وي .
س : کله چي بادار خپل مريي ته د سودا ګري اجازه وکړي د هغه تصرفات (خرڅول، رانيول او داسي نور) څه حکم لري ؟
ج : کله چي بادار خپل مريي ته عامه اجازه ورکړي په هر قسم تجارت کي ئې تصرف صحيح کيږي ، خرڅول ، رانيول ، په ګرو ورکول او په ګرو اخيستل کولای سي او که ئې يوازي په خاص قسم تجارت کي اجازه ورته وکړل هم هغه په ټولو قسمو تجارت کي اجازه ګڼل کيږي .
س : که ئې په يو خاص شي کي اجازه ورته وکړل د مثال په ټوګه دا چي د اغوستلو د کالي د رانيولو يا د کور لپاره د خوراك رانيولو امر ورته وکړي هغه څه حکم لري ؟
ج : دغه سوا ګري اجازه نه بلل کيږي ، دغه اجازه يوازي په هغه شي پوري محدوده ده کوم چي ئې امر ورته کړی وي او د ماذون احکام پر هغه نه جاري کيږي .
س : که ماذون په پورو يا غصبو يا وديعتو سره اقرار وکړی هغه څه حکم لري ؟
ج : دغه اقرار صحيح دی .
س : که عامه اجازه ورته وکړي نکاح کولای سي ؟
ج : نه خپله نکاح کول ورته جائز دي نه مريي يا منځي ته نکاح ورکولای سي کومي چي ده رانيولي وي .
س : کوم مريی چي دی ئې رانيسي د هغه سره د مکاتبت عقد کولای سي ، يا ئې د پيسو په مقابل کي آزادولای سي ؟
ج : دغه نه دي ورته جائز .
س : بخښنه يا صدقه کولای سي ؟

ج : نه په عوض سره نه بېله عوض څخه بخښنه ورته جائز ده مګر لږ خوراك تحفه كولای سي او يو څوك ميلمه كولای سي .

س : كه يو مريي ته بادار د سودا ګري اجازه وكړل او هغه په تجارت مشغول سو او پورونه پر واوښتل هغه پورونه به څوك اداء كوي ؟

ج : د هغه پورونه د ده په ځان پوري اړه لري د پوروړو لپاره دی په هغه كي خرڅيږي مګر هغه وخت نه خرڅيږي كه ئې بادار فديه اداء كول وغوښتل ، كله چي دی خرڅ كړل سي قيمت ئې پر پوروړو د دوی د حصو په قدر وېشل كيږي ، كه ئې يو څه پورونه پاته سول تر ازادېدو وروسته د هغه غوښتنه څني كيږي .

س : كه پر يو ماذون مريي دومره پورونه واوښتل چي د ده مال او ځان په كښي تلی بادار د هغه مال مالك بلل كيږي كوم چي د ده په لاس كي دی ؟

ج : بادار د هغه مالك نه دی ، له دغه مسئلې څخه دا مسئله راوزي كه بادار د خپل ماذون مريي مريان آزاد كړي هغه نه آزاديږي ، دغه د ابو حنيفه رح په نزداو صاحبينو رح ويلي دي : كه څه هم د ماذون مريي په پورو كي د ده مال او ځان ځي بادار د هغه مال مالك دی كوم چي د ده په لاس كي دی .

س : كه يو ماذون مريی پوروړی وي او بادار ئې آزاد كي د هغه څه حكم دی ؟

ج : كه ئې بادار آزاد كړي آزادول ئې چليږي او پر بادار د هغه د پوروړو لپاره د هغه قيمت لازميږي ، له هغه څخه چي پورونه زيات وي له آزاد كړل سوي مريي څخه اخيستل كيږي .

س : كه يو ماذون مريی پر خپل بادار يو شی خرڅ كړي څه حكم لري ؟

ج : كه ماذون مريی پر خپل بادار يو شی په خپل قيمت يا زيات سره خرڅ كړي روا دی او كه ئې په نقصان سره خرڅ كړي نه دی روا ، دا په هغه وخت كي كه پور پر باندي وو او كه پور نه وو پر باندي ددوی په منځ كي سودا كېدلای نه سي ځكه مريی او كوم مال چي دده په لاس كي وي ټوله د بادار ملكيت دی .

س : كه بادار پر خپل ماذون مريي يو شي خرڅ كي د هغه څه حكم دی ؟

ج : د هغه د ارزښت په قيمت سره يا له هغه څخه په كم قيمت سره خرڅول جائز دي ، له هغه څخه په زيات قيمت سره جائز نه دي ، دا په هغه صورت كي كه مريی پوروړی وي ،

که ئې بادار دثمن ترقبض کولو مخکې هغه شی مريي ته ورتسليم کړی ثمن ئې باطليږي (۱) .

س : که بادار هغه شی د ثمن ترقبض کولو پورې د ځان سره وساتي د هغه څه حکم دی ؟

ج : دا جائز دی .

س : که بادار خپل مريی له تصرف څخه بند کړي هغه بنديږي ؟

ج : د هغه په بندولو سره له تصرف څخه بنديږي په دې شرط چې بندول ئې د بازار خلکو ته ښکاره سي (۲) .

س : د ماذون مريي د حجر کوم بل صورت سته ؟

ج : که بادار مړ يا ليونی سي يادکفر هيواد ته کافرولاړ سي مريی له تصرف څخه بنديږي (۳) دغه رنګه که ماذون مريی وتښتېدی يا مينځي له بادار څخه کوچنی وزېږوی .

س : که يو ماذون مريی محجور کړل سي او وروسته په پورونو او غصبونو او امانتو سره اقرار وکي د هغه څه حکم دی (٤) ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد د هغه مال په هکله چې د ده په لاس کي وي د هغه ټوله اقرارونه صحيح کيږي (٥) او صاحبينو رح ويلي دي اقرار ئې نه صحيح کيږي .

---

(۱) ځکه کله چي خرڅ سوی شی د ثمن تر قبض کولو مخکي ور تسليم کي د هغه ثمن د بادار له خوا پر مريي پور کيږي او د بادار له خوا څخه پر مريي کوم پور نه سي کيدلای ، کله چي ثمن ئې باطل سو داسي سو لکه چي بيله ثمن څخه ئې خرڅ کی نو بيع نه صحيح کيږي ، د ثمن د باطليدو مطلب دا دی چي د هغه تسليمول او د هغه غوښتل باطليږي او بادار خرڅ سوی شی بيرته اخيستلای سي . له " الجوهره النيره " څخه .

(۲) ځکه هغوی ته دا علم پيدا سو چي د ده سره تصرف کول او په پور سودا کول جائز دي نو دغه علم بيله د هغه د مخالف علم څخه له منځه نه ځي ، د بازار د اکثرو خلکو علم شرط دی ، له "الجوهره النيره" څخه .

(۳) که مريی په کامله توګه ليونی سي له تصرف څخه بنديږي او که کافر سي او د کفر هيواد ته ولاړ سي د ابو حنيفه رح په قول کي د کفر په وخت کي له تصرف څخه بنديږي او د صاحبينو رح په نزد کله چي د کفر هيواد ته ولاړ سي . له " الجوهره النيره " څخه .

(٤) يعني داسي اقرار وکي چي کوم مال چي د ده په لاس کي دی د بل چا امانت دی يا ئې له هغه څخه غصب کړی دی يا داسي اقرار وکي چي پر ده پور باندي دی .

(٥) نو د ده رح په نزد د هغه په هغه مال سره اداء کيږي کوم چي د ده په لاس کي دی .

س : که د کوچني ولي (هغه قريب چي د ده روزنه کوي او د ده مال ورساتي) کوچني ته د تجارت اجازه وکړي د هغه څه حکم دی .

ج : دغه اجازه صحيح ده نو کله چي اجازه ورته وکړي هغه په خرڅولو او رانيولو کي داسي کيږي لکه ماذون مريی نو کله چي په خرڅولو او رانيولو پوهيدی تصرف ئې چليږي .

﴿ د وقف كتاب ﴾

س : وقف څه ته ويل كيږي ؟

ج : هغه په عربي ژبه كي بندولو ته ويل كيږي او په شريعت كي د هغه مطلب دا دى چي يو انسان يو شى په خپل ملك كي بند وساتي او د هغه ګټه خيرات كي (١) .

س : وقف په شريعت كي د څه لپاره دى ؟

ج : په شريعت كي وقف د دې لپاره دى چي يو شى پاته وي او حاجتمند خلګ (٢) له هغه څخه فائده واخلي او د دې لپاره چي دغه شى د وقف كونكي لپاره جاري صدقه سي نبي ﷺ ويلي دي (كله چي انسان مړ سي عمل ئې د ده څخه پرې كيږي بيله درو شيانو څخه جاري صدقه يا علم چي د هغه څخه ګټه اخيستل كيږي يا صالح اولاد چي دعاء ورته كوي) (٣) .

س : د وقف كړل سوي شي څخه د وقف كونكي ملكيت كوم وخت ختميږي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد له وقف كړل سوي شي څخه د وقف كونكي ملكيت يوازي هغه وخت ختميږي چي حاكم په هغه سره فيصله وكړي يا ئې په خپل مرګ سره وتړي ، داسي ووايي كه زه مړ سوم خپل كور مي د فلانكي شي لپاره وقف كړى دى . ابو يوسف رح ويلي دي : يوازي په خبره سره ئې ملكيت ختميږي او محمد رح ويلي دي : تر هغه پوري ئې ملكيت نه ختميږي تر څو چي وقف كړل سوې شي لره ولي (تصرف كونكى) ټاكي او هغه ته ئې ورسپاري (٤) .

---

(١) يعني د ابو حنيفه رح په نزد او د صاحبينو رح په نزد د هغه مطلب دا دى چي يو شى د الله په ملكيت كي بند كي ، په " فتح القدير " كي ئې د مصنف پر كلام دا خبره زياته كړې ده : يا ئې ګټه د هغه چا لپاره وګرځوي چي د ده خوښ وي ، له " البحر الرائق " څخه . دا خبره چي د ابو حنيفه رح په نزد وقف مال د مالك په ملكيت كي بندوي د هغه مطلب دا دى چي د حاكم تر حكم مخكي ، د حاكم تر حكم وروسته د ده په نزد هم د وقف كونكي ملكيت ختميږي .

(٢) عام لفظ ئې استعمال كړى تر څو مال لرونكي خلګ هم په كښې داخل سي كوم چي له وقف مال څخه ګټه اخلي لكه په مسجد كي لمونځ كول او په مسافر كورو كي اوسېدل .

(٣) مسلم ئې په خپل صحيح كي روايت كړى دى .

س : کله چي وقف کړل سوی شی د وقف کونکي له ملکيت څخه ووزي د هغه چا په ملک کي داخليږي د کوم لپاره چي وقف سوی وي ؟

ج : کله چي وقف صحيح سي پر هغه اختلاف کوم چي موږ ذکر کړی د وقف کونکي له ملکيت څخه وزي اوهغه چا په ملکيت کي نه داخليږي دکوم لپاره چي وقف سوی وي .

س : زموږ د درو علماوو رح په نزد د وقف د پوره کيدلو لپاره کوم شرطونه سته ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد تر هغه وخت پوري نه پوره کيږي تر څو د داسي چا لپاره ئې ګرځوي چي هغه هيڅ کله نه ختميږي (۱) او ابو يوسف رح ويلي دي که ئې داسي څوک ياد کړي چي ختميږي هم وقف صحيح کيږي او له هغه څخه وروسته د فقيرانو لپاره کيږي که څه هم ئې نه کړي ياد .

س : د پاشلي برخي وقف څه حکم لري ؟

ج : د ابو يوسف رح په نزد هغه جائز دی او محمد رح ويلي دي : نه دی جائز (۲) .

س : د مځکي وقف څه حکم لري ؟

ج : د مځکي وقف صحيح دی .

س : هغه شيان چي نقل کيږي اوديوه ځای څخه بل ځای ته وړل کيږي دهغه وقف څه حکم لري ؟

د ص ۳۱٤ پاته حاشيه :(٤) دابو حنيفه رح په نزد يوازي له دوو شيانو څخه په يوه سره وقف حتمي کيږي ، يا قاضي په هغه سره فيصله وکړي يا ئې د وصيت په توګه اداء کړي ، د صاحبينو رح په نزد د هغه پر ته حتمي کيږي ، دغه د عامو علماوو خبره ده او صحيح قول دی بيا ابو يوسف رح وايي يوازي په خبره سره هغه شی وقف ګرځي ځکه هغه د ده په نزد د آزادولو په شان دی او فتوی پر دغه قول ده " رد المحتار له الاسعاف څخه " د محمد رح په نزد متولي (تصرف کونکي) ته سپارل ضروروي دي ځکه دا د الله حق دی او هغه وخت ثابتيږي کله چي هغه شی بنده ته وسپارل سي په "الهدايه" کي ئې دا خبره ذکر کړې ده .

(۱) لکه چي ووايي د الله ﷻ لپاره مي د ټوله عمر لپاره وقف صدقه ګرځولې ده د فلانکي د اولاد لپاره تر څو چي هغه زيږي ، کله چي هغه ټوله ختم سي د هغه حاصل د مسکينانو لپاره ګرځي ځکه مسکينان هيڅ کله نه ختميږي ، له " الجوهره " څخه .

(۲) دغه اختلاف په هغه صورت کي دی چي ويشل کيدلای سي ، کوم شی چي نه سي ويشل کيدلای د محمد رح په نزد هم د پاشلي برخي وقف صحيح کيږي ځکه هغه ئې پر بخښنه او نافذ کړل سوي صدقه قياسوي بيله مسجد او هديرې څخه ځکه د ابو يوسف رح په نزد په هغه صورت کي چي نه ويشل کيږي هم د پاشلي برخي وقف کول جائز نه دي ، د " الهدايې " مصنف دغه خبره ذکر کړې ده .

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي كوم شيان چي نقل كيږي او له يوه ځاى څخه بل ځاى ته وړل كيږي د هغو وقف نه صحيح كيږي ، ابو يوسف رح ويلي دي : كه يو څوك مځكه د غوايو او بزګرانو سره وقف كړي او بزګران د ده مريان وي صحيح كيږي او محمد رح ويلي دي د آسانو ، غاترو ، خرو او اسلحې وقف كول صحيح كيږي .

س : د وقف كړل سوي مال خرڅول ، چاته په ملك وركول او ويشل څه حكم لري ؟

ج : د وقف خرڅول يا په ملك وركول جائز نه دي ، په هغه وقف كي چي ګډوي تقسيم صحيح كيږي كه شريك د ويشلو غوښتنه وكړل ، دا د ابو يوسف رح په نزد ځكه د ده په نزد د ګډي برخي وقف صحيح كيږي .

س : كه يو څوك مسجد جوړ كړي له هغه ځاى څخه د ده ملكيت كوم وخت ختميږي ؟

ج : تر هغه وخت پوري د ده ملكيت نه ختميږي تر څو د خپل ملك څخه ئې د لاري سره جلا كوي او خلګو ته د لمونځ كولو اجازه كوي ، د ابو حنيفه رح او محمد رح په نزد چي يو سړى لمونځ په كښي وكي د ده ملكيت ختميږي (١) او ابو يوسف رح ويلي دي د ده په خبره سره چي ووايي (مسجد مي ګرځولى دى) د ده ملكيت ختميږي .

س : د اوبو بند ، مسافر كور ، رباط (قلعه چي عسكر په هغه كي د هيواد د باړډ د ساتني لپاره اوسي) او هديره څه حكم لري ؟

ج : څوك چي د مسلمانانو لپاره د اوبو بند جوړ كړي يا د مسافرانو د اوسيدلو لپاره مسافركور جوړ كړي يا رباط جوړ كړي يا خپله مځكه هديره وګرځوي د ابو حنيفه رح په نزد ئې تر هغه وخت پوري ملكيت نه ختميږي تر څو چي حاكم په هغه سره فيصله كوي . ابو يوسف رح ويلي دي په خبره سره ئې ملكيت ختميږي او محمد رح ويلي دي كله چي خلګ له بند څخه اوبه واخلي او په مسافر كور او رباط كي واو سي او په هديره كي مړي ښخ كړي ملكيت ئې ختميږي .

---

(١) جلا كول له دې كبله ضروري دي چي بيله هغه څخه د الله لپاره خاص نه ګرځي او لمونځ له دې كبله چي د ابو حنيفه رح او محمد رح په نزد تسليم ضروري دى او تسليم ئې دا دى چي خلګو ته په هغه كي د لمونځ كولو اجازه وكړي نو دا داسي ګڼل كيږي لكه قبض كول كله چي دوى لمونځ په كښي وكي داسي ګڼل كيږي لكه چي قبض ئې كړى ، له محمد رح څخه روايت سوى دى چي په جماعت سره لمونځ كول په كښي شرط دي ځكه په ډيرو وختو كي مسجد د جماعت د لمانځه لپاره جوړيږي ، له " الجوهره " څخه .

س : که وقف سوي مال لره حاصل وو متولي به ئې څرنګه خرڅوي ؟
ج : پر هغه لازمه ده چي له حاصل څخه لومړی د وقف په جوړولو شروع وکړي که وقف کوونکي دغه خبره شرط کړې وي که نه (۱) .
س : که وقف کونکي يو کور د اوسيدلو لپاره وګرځوی څوك به ئې جوړوي او ساتنه به ئې کوي ؟
ج : د هغه جوړول او ساتنه پر هغه چا ده کوم چي په کښي اوسي که هغه له دې څخه ډډه وکړل يا غريب وو حاکم دي کور په کرايه ورکړي او د هغه په کرايه دي ئې جوړ کړي ، کله چي جوړ کړل سي بيرته دي ئې هغه چا ته ورکړي کوم چا لره چي ئې د اوسيدلو حق دی .
س : که وقف کړل سوی کور ونړيدی د هغه په سامان به څه کوي ؟ د وقف پر مستحقينو به ئې نه ويشي ؟
ج : که ئې د وقف جوړولو ته ضرورت درلودی حاکم به هغه د وقف په جوړولو کي خرڅوي او که ئې ضرورت نه ورته درلودی ودي ئې ساتي تر څو د هغه جوړولو ته ضرورت پيدا کوي بيا دي ئې په هغه کي خرڅ کي ، د وقف پر مستحقينو ئې ويشل جائز نه دي (۲) .
س : که يو سړي يو مال وقف کړی او د هغه ګټه ئې د خپل ځان لپاره وګرځول يا ئې تصرف د خپل ځان لپاره وګرځوي څه حکم لري ؟

---

(۱) ځکه د وقف کونکي مقصد دا دی چي حاصل د تل عمر لپاره پر هغه کسانو د کوم لپاره چي وقف سوي وي خرڅ سي او د تل عمر لپاره صرف په هغه صورت کي پاته کيدلای سي چي وقف مال جوړ کړل سي نو د جوړولو شرط خپله ثابت سو له "البحر الرائق ٥-٢٢٥" څخه
(۲) ځکه هغه د وقف مال څخه يوه برخه ده ، کوم کسان چي مال ورته وقف سوی دی خپله په وقف کي حق نه لري ، د هغو حق يوازي د هغه مال په ګټه کي دی ، وقف مال د الله ﷻ حق دی نو دوی ته دي پرته د دوی له حق څخه کوم بل زيات شی نه ورکوي ، مصنف د هغه د خرڅولو خبره نه کړل ذکر ، په "الهدايه" کي ئې ويلي دي : که خپله هغه سامان بيرته په خپل ځای کي نه سوای لګيدلای خرڅ دي سي او ثمن دي ئې په جوړولو کي خرڅ کي تر څو عوض د اصل شي په ځای کي ولګيدل سي آه ، له "البحر الرائق" څخه .

ج : د ابو يوسف رح (١) په نزد دا جائز دی او محمد رح ويلي دي دا جائز نه دی .

(١) د " البحر" مصنف ويلي دي : يعني که ئې د وقف کولو په وخت کي شرط کړل شرط ئې معتبرېږي .
اول شرط د ابو يوسف رح په نزد جائز دی او د محمد رح د قول په قياس کي نه دی جائز ځکه د ده په نزد
متولي ته تسليمول شرط دی ، ځينو علماوو ويلي دي : دغه اختلاف د دوی دوو پر دې خبره بناء دی
چي قبض کول او جلا کول شرط دی ، ځينو علماوو ويلي دي : دا له سره مسئله ده ، الصدر الشهيد
ويلي دي : د ابو يوسف رح پر قول فتوی ده ، موږ هم د ده په قول سره فتوی کوو د دې لپاره چي خلکو
ته د وقف رغبت پيدا سي د بلخ مشايخو هم دا خبره خوښه کړې ده ، له " الهدايي " څخه هم په ظاهره
توګه دغه خبره معلوميږي ځکه دغه ئې وروسته ذکر کړي دي او رد کړي ئې نه دي . د دوهم شرط يعني
د ځان لپاره ولايت شرطول په هکله چي کوم قول ذکر سوی دی هغه د ابو يوسف رح قول دی او همدغه د
هلال قول دی او ظاهر روايت دی او هلال په خپل وقف کي ذکر کړي دی (تر څو چي وروسته ئې ويلي
دي) او په " خلاصه " کي ذکر سوي دي : که وقف کونکي دا شرط کړل چي دی به متولي وي د ابو
يوسف رح په نزد وقف او شرط دواړه صحيح دي او د محمد رح او هلال په قول کي دواړه باطل دي آه . د
هلال څخه مختلف قولونه نقل سوي دي . پای ته ورسيدی .

دلقیط (کوچنی چي په یوځای کي وموندل سي قریب ئې معلوم نه وي) کتاب

س : که یو کوچنی هلك یا نجلۍ په یو ځای کي پروت وموندل سي ، یو څوك ئې پیدا کي څه به په کوي ؟

ج : له هغه ځای څخه به ئې رااخلي تر څو چي ضائع نه سي او له هلاکېدلو څخه وساتل سي او هغه په عربي ژبه کي لقیط بلل کیږي ځکه چي راپورته سوی دی .

س : کله چي یو څوك ئې ووېني او راوا ئې خلي څوك به خرڅ پر کوي ؟

ج : له بیت المال څخه به خرڅ پر کیږي .

س : که یو سړي را واخستی بل چا لره دا حق سته چي ځني وا ئې خلي ؟

ج : هغه لره دا نسته .

س : که یو چا دا دعوه وکړل چي دده زوی دی د هغه قول منل کیږي ؟

ج : هو د قسم سره د هغه قول منل کیږي .

س : که دوه سړیان راغلل هر یوه دا دعوه وکړل چي دده زوی دی څرنګه فیصله ئې په منځ کي کیږي ؟

ج : که له دوی دوو څخه یوه د هغه په بدن کي کومه علامه بیان کړل هغه ئې مستحق دی او که یوه هم علامه نه کړل بیان د دوارو زوی دی (۱) ، که په هغوی کي د یوه دعوی مخکي وه د هغه زوی بلل کیږي .

س : که یو کوچنی د مسلمانانو په یو ښار یا یو کلي کي وموندل سو او یو ذمي ئې دعوی وکړل چي دده زوی دی ، له هغه څخه ئې نسب ثابتیږي ؟

ج : له هغه څخه ئې نسب ثابتیږي مګر لقیط مسلمان ګڼل کیږي ځکه د مسلمانانو په هیواد کي وموندل سو .

س : که د ذمیانو په یو کلي یا یهودو یا نصاری وو په عبادت ځای کي وموندل سو څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي هغه ذمي ګڼل کیږي .

(۱) ځکه په سبب کي چي دعوی ده دواړه برابر دي ، له " الهدایه " څخه .

س : که يو سړی دعوی وکړل چي لقيط دده مريی يا مينځه ده ، قول ئې منل کيږي ؟

ج : د هغه قول نه منل کيږي ، هغه ازاد ګڼل کيږي .

س : که يو مريي دعوی وکړل چي دده زوی دی د هغه دعوی منل کيږي ؟

ج : د هغه قول منل کيږي مګر لقيط ازاد ګڼل کيږي .

س : که د لقيط سره مال پيدا سو چي د هغه سره تړلی وو ، هغه مال د چا کيږي ؟

ج : هغه د لقيط مال بلل کيږي ځکه دده په لاس کي دی او هغه د مالك والي قابل دی .

س : که يو سړی يو لقيط راواخستی ، وروسته ئې وغوښتل چي په نکاح ئې ورکړي يا ئې په مال کي تصرف وکي ، دغه کار کولای سي ؟

ج : لقيط اخيستونکي لره دا نسته چي په نکاح ئې ورکړي يا ئې په مال کي تصرف وروکړي مګر د هغه له مال څخه پر ده خرڅ کولای سي او داسي شی چي دده لپاره ضروري وي لکه خوراك او کالي وررانيولای سي .

س : که يو چا د لقيط لپاره يو شی ورو بخښی څوك به ئې قبض کوي ؟

ج : لقيط اخيستونکی به ئې قبض کوي .

س : لقيط اخيستونکي ته روا ده چي لقيط په يو کسب کي واچوي يا ئې په يو کار کي مزدور کي ؟

ج : دغه ورته روا ده (۱) .

(۱) دغه د قدوري روايت دی په خپل "مختصر" کي ، په "الجامع الصغير" کي ذکر سوي دي په مزدوري ورکول ئې روا نه دي ، د (الکراهيه) په باب کي ئې ذکر کړی ده او دغه قول ډېر صحيح دی ' له "الهدايې" څخه .

د لقطې کتاب

س : لقطه څه ته وايي ؟

ج : لقطه هغه مال ته ويل کيږي چې په يو ځاى کي لوېدلى وي ، هغه ته ځکه لقطه ويل کيږي چې څوك ئې ووينې ژر ئې را اخلي (لقطه په عربي ژبه کي اخيستل سوي شي ته ويل کيږي) .

س : څوك چې داسي مال ووينې را اخستل ئې ورته روا دي ؟

ج : که د هغه د ضائع کېدلو څخه بېرېدى را اخيستل ئې پر لازم دي ، که ئې د ضائع کېدلو څخه نه بېرېدى را اخيستل ئې پر لازم نه دي مګر جائز دي ، کله چې هغه را اخلي شاهدان دي ددې لپاره ودروي چې دى هغه شى ددې لپاره را اخلي چې وئې ساتي او خپل څښتن ته ئې بيرته ورکي ، کله چې ئې را واخلي دده په لاس کي امانت ګڼل کيږي .

س : کله چې راوائې خلي کوم کار پر لازم دى ؟

ج : که لقطه تر لس درهمه کمه وه څو ورځي دي د هغه لپاره اعلان وکړي او که لس درهمه يا تر هغه زياته وه يو کال دي ئې اعلان وکړي (۱) ، که ئې څښتن راغلى هغه ته دي ئې ورکړي که نه راغلى خيرات دي ئې کړي .

---

(۱) دا له ابوحنيفه رح څخه يو روايت دى ، د (څو ورځو) څخه مطلب دا دى چې امام څو ورځي مناسبي ګڼي ، امام محمد رح په " اصل " کي په يوه کال سره اندازه کړي دي بېله تفصيل څخه که لږ وي که ډېر ، دغه د مالك او شافعي قول دى ، داسي ويل سوي دي چې دغه اندازې لازمي نه دي ، د لقطه اخيستونکي رايي ته سپارل کيږي تر هغه وخت پوري دي ئې اعلان کوي تر څو چې غالب ګمان ئې کيږي چې څښتن ئې تر دې وروسته نه غواړي ، وروسته دي ئې خيرات کي ، که لقطه داسي شى وو چې خرابېدى تر هغه وخت پوري دي ئې اعلان وکړي تر څو چې د خرابېدلو څخه بېرېږي ، وروسته دي ئې خيرات کړي ، په کار دا ده چې په هغه ځاى کي ئې اعلان وکړي چيري چې ده پيدا کړى وي او په جامع مسجد کي ځکه په دغه توګه ئې څښتن پيدا کېدلاى سي ، که داسي شى وو چې دا معلومه وه چې څښتن ئې نه غواړي لکه د خرما مندکه او د انار پوستکي د هغه غورځول اجازه ګڼل کيږي نو بېله اعلانولو څخه ګټه په هغه سره اخستل جائز دي مګر د خپل مالك په ملکيت کي پاته ګڼل کيږي ځکه نامعلوم شخص ته په ملکيت ورکول نه صحيح کيږي ، له " الهدايه " څخه په مختصره توګه .

س : كه ئې تر خيراتولو وروسته څښتن راغلى څه به كوي ؟
ج : هغه لره اختيار سته كه هغه خيرات چلوي كه د لقطه اخيستونكي څخه تاوان اخلي.
س : د پسه ، غوا او اوښ اخيستل روا دي ؟
ج : هغه روا دي .
س : كه يو چا يو لقطه راواخيستل او له خپل ځان څخه ئې پر هغه خرڅ وكړى د دغه خرڅ تاوان پر چا دى ؟
ج : كه ئې د حاكم د اجازې پرته خرڅ پر وكړى هغه پر ده دى پر چا ئې تاوان لازم نه دى او كه ئې د حاكم په اجازه سره خرڅ پر وكړى هغه د هغه پر څښتن پور دى .
س : كه يو چا يو داسي حيوان راواخيستى كه دى خرڅ پر وكي قيمت ئې په هغه كي ځي څه به كوي ؟
ج : قاضي ته به ورځي او دغه حالت به ورته بيانوي ، كه د حيوان څخه كومه فائده اخيستل كېدلاى سواى حاكم دي ئې په كرايه وركړي او له هغه څخه دي خرڅ پر وكړي او كه كومه فائده نه سواى ځني اخيستل كېدلاى او له دې څخه بېرېدى چي قيمت به ئې په خرڅ كي ولاړ سي خرڅ دي ئې كي او د هغه د قيمت په ساتلو دي ئې امر كړي ، كه پر هغه باندي خرڅ كولو كي ګټه وه د خرڅ اجازه دي ورته وكړي او خرڅ دي پر مالك پور وګڼي .
س : كه ئې مالك راغلى او لقطه اخيستونكي د حاكم په اجازه سره پر هغه خرڅ كړى وو ، دا ورته روا ده چي د خرڅ اخيستلو تر وخت پوري ئې د مالك څخه منع كړي ؟
ج : هو دا ورته روا ده .
س : كه يو سړي يو لقطه راواخيستل او يو سړى راغلى دا دعوى ئې وكړل چي دى د دغه لقطې مالك دى ، لقطه اخيستونكى به دده پر دعوى اعتماد كوي او لقطه به وركوي ؟
ج : تر څو چي شاهدان ئې نه وي درولي نه به ئې وركوي .
س : كه د دعوى‌كونكي سره شاهدان نه وه او دهغه علامه ئې بيان كړل څه حكم ئې دى؟
ج : لقطه اخيستونكي ته دا روا ده چي ورئې كړي مګر د قاضي فيصله دا ده چي پر وركولو ئې مجبوره كيږي نه .

س: که لقطه اخیستونکي څو ورځي یا یو کال د لقطې اعلان وکړی ، وروسته تر دې چي د مالك پیداکولو څخه نااميده سو او دا ئې وغوښتل چي خیرات ئې کړي پر چا به ئې خیراتوي ؟

ج: پر فقیر به ئې خیراتوي او له خان څخه به ئې ژغوري .

س: لقطه اخیستونکي ته نه ده روا چي چي ګټه څني واخلي ؟

ج: که خان وو له هغه څخه ګټه اخیستل ورته روا نه دي او که فقیر وو ګټه اخیستل پروا نه لري .

س: که لقطه اخیستونکي له دې کبله چي خان وو دا وغوښتل چي خیرات ئې کړي او پر پل پلار یا مور یا بالغ څوی یا ماینې ئې چي هغوی فقیران وه خیرات کړل ، دغه روا ده ؟

ج: هو دغه روا ده .

س: د حرم (مکه او د هغه خوا و شا) او حل (ګوم ځای چي حرم نه وي) د لقطې فرق سته ؟

ج: فرق ئې نسته ، حکم ئې برابر دی .

د نرښځي کتاب

س : که کوچني د نر او ښځي شرمځای درلودی چي نر ښځی ورته ويل کيږي دهغه په هکله څه حکمونه دي ؟

ج : که ئې د نر د شرمځای څخه بولي کولې هلك بلل کيږي او ئې د ښځي له شرمځای څخه بولي کولې نجلی بلل کيږي .

س : که ئې له دواړو څخه بولي کولې څرنګه فيصله کيږي ؟

ج : له کوم يوه څخه چي مخکي بولي راوزي هغه ته منسوبه کيږي ، که له دواړو څخه په يوه وخت کي بولي راوتلې هغه يوه ته منسوبه کيږي له کوم څخه چي زياتي بولي راوځي ، دا د صاحبينورح قول دی ، ابوحنيفه رح ويلي دي دډېروالي ته اعتبار نسته .

س : کومه بله علامه سته چي په هغه سره دا معلومه سي چي نر دی که ښځه ؟

ج : که نر ښځی بالغ سو او ږيره ئې راشنه سول يا ئې د ښځي سره جماع وکړل هغه نر ګڼل کيږي او که ئې د ښځي په شان تی راپورته سو يا ئې په تي کي شيدې پيدا سوې يا حيض ورغلی يا ئې حمل په نس سو يا د ښځي د شرمځای څخه جماع ورسره کېدلای سوای هغه ښځه ګڼل کيږي .

س : که له دغو نښو څخه يوه نښه هم ښکاره نه سول څرنګه فيصله کيږي ؟

ج : د هغه نه په نروالي نه په ښځه والي سره فيصله کيږي بلکه ويل کيږي چي مشکل نرښځی دی .

س : که لمانځه ته ورغلی دغه مشکل نرښځی به په کوم صف کي دريږي ؟

ج : د نرو او ښځو د صفو تر منځ به دريږي او هلکان به دده په مخکي دريږي (۱) .

---

(۱) په مشکل نر ښځي کي قاعده دا ده چي د هغه په هکله هغه فيصله کيږي په کوم کي چي د دين په هکله احتياط وي او د کوم حکم په واقع کېدلو کي چي شك وي په هغه سره فيصله نه کيږي ، که ئې په امام پسي لمونځ کوي د نرو او ښځو د صفو په منځ کي به دريږي ځکه کيدای سي چي ښځه وي نو د نرو په منځ کي دي نه دريږي تر څو چي د هغوی لمونځ ورفاسد نه کړي ، نه دي د ښځو په صف کي دريږي ځکه کيدلای سي چي نر وي دده لمونځ به فاسد سي ، که د ښځو په صف کي ودرېدی ښه دا دی چي بيرته لمونځ راوګرځوي ځکه کيدای سي چي نر وي او که د نرو په صف کي ودرېدی دده لمونځ صحيح

س: مشکل نر ښځي ته د میراث څومره برخه رسیږي ؟

ج: د ابوحنیفه رح په نزد د میراث په اخیستلو کي هغه ښځه ګڼل کیږي لکه چي مړی یو زوی او یو مشکل نرښځی پرېږدي مال ددوی په منځ کي پر درو برخو ویشل کیږي دوې برخي د نر کیږي یوه برخه د نر ښځي کیږي مګر که بل شی ثابت سي په هغه عمل کیږي (۱) ، ابویوسف رح او محمدرح ویلي دي : نرښځي لره نیم د نر میراث او نیم د ښځي میراث ورکول کیږي ، او د شعبي هم دغه قول دی (۲).

د ص ۳۲٤ پاته حاشیه : دی او کوم سړی چي دده ښي یا چپ طرف ته وي یا دده په برابر کي دده شا ته وي احتیاطا دي هغه خپل لمونځ راوګرځوي ځکه کېدلای سي چي ښځه وي ، افضل دا دی چي په پوړني کي لمونځ وکړي ځکه کیدلای سي چي ښځه وي ، په لمانځه کي دي د ښځي په شان کښیني ځکه که نروي یو سنت ئې پرېښوی او هغه په ځینو حالاتو کي روا دی او که ښځه وي یو مکروه کار ئې وکړی ځکه څومره چي ممکن وي پر ښځي ستر لازم دی ، که ئې بېله پوړني لمونځ وکړی بیرته دي ئې راوګرځوي ځکه کیدای سي چي ښځه وي ، دغه راګرځول افضل دي که ئې نه راوګرځوي هغه لمونځ ئې کفایت کوي . د زیور او وریښمو اغوستل ورته مکروه دي دغه رنګه نرو او ښځو ته مخ ښکاره کول ورته مکروه دي ، دغه رنګه بېله محرم څخه د بل سړي یا ښځي سره خلوت کول او بېله محرم څخه سفر کول ورته مکروه دي تر څو د حرام څخه ځان ژغوري ، که بلوغ ته نژدې سوې وو او احرام ئې وتړی ، ابویوسف رح ویلي دي د هغه په کالو زه نه پوهیږم ځکه که نر وي د ګنډلي کالو اغوستل ورته مکروه دي او که ښځه وي د ګنډلو کالو پرېښول ورته مکروه دي ، محمد رح ویلي دي د ښځي کالي دي واغوندي ځکه که هغه ښځه وي او ګنډلي کالي نه واغوندي ډېر بد دي تر دې چي نر وي او ګنډلي کالي واغوندي ، کومه جزاء پر ده نسته ځکه تر اوسه بالغ سوی نه دی ، له " الهدایه " څخه .

(۱) ددې مطلب دا دی چي په ځینو وختو کي مشکل نر ښځي ته د نر برخه ورکول کیږيْ لکه چي یوه ښځه مړه سي او یو میړه ، مور او پلار او نرښځی هلك پرېږدي مال ددوی په منځ کي پر دوولسو برخو ویشل کیږي ، مېړه لره ئې درې برخي دي ، مور او پلار لره ئې څلور برخي دي او نرښځي لره پنځه برخي دي ځکه که ښځه وي ده لره شپږ برخي دي او د مسئلې دیارلسو ته عول کیږي ، او یو بل صورت دی ، هغه دا دی چي یوه ښځه مړه سي او مېړه او یو د مور له خوا ورو او د پلار او مور له خوا نرښځی پرېږدي مسئله له شپږو څخه جوړېږي ، مېړه لره ئې درې برخي دي او ورور لره ئې یوه برخه ده او پاته ئې د نرښځي ده چي هغه دوې برخي دي ، که ښځه وای د هغه درې بر خي کېدلې ، له " الجوهره " څخه .

(۲) د هغه نوم عامر بن شرحبیل الهمداني الکوفي الشعبي دی ،امام حافظ فقیه او یوه عالم وو ، د عمران بن حصین او جریر بن عبدالله او ابوهریره او ابن عباس او عائشه او عبدالله بن عمر او عدي بن حاتم او مغیره بن شعبه ﷺ څخه ئې روایت کړي دي او د ابو حنیفه رح ترټولولوی شیخ دی ابوبکر الهذلي

س : ابویوسف رح او محمدرح د شعبي رح په قول عمل کړی دی دده د قول په وضاحت کي ددوی په منځ کي اختلاف سته ؟

ج : هو دده د قول په وضاحت کي دوی اختلاف کړی دی ، ابویوسف رح ويلي دي : د زوی او نربنځي په منځ کي مال اوه برخي گرځول کیږي زوی لره څلور برخي دی او نربنځي لره دري برخي دي او محمد رح ويلي دي : ددوی په منځ کي مال دوولس برخي کیږي زوی لره اوه برخي او نربنځي لره پنځه برخي دي .

س : نربنځي به څوك سنتوي ؟

ج : دده په مال سره دي يو مينځه ورانيول سي چي دی سنت کړي ، که ئې مال نه درلودی امام دي د بيت المال څخه يوه مينځه ورانيسي ، کله چي دی سنت کي بيرته دي ئې خرڅه کي او قيمت دي ئې بيرته بيت المال ته ورکړي .

د التسهيل الضروري لمړۍ برخه پوره سول او تر هغه وروسته
ان شاء الله دوهمه برخه (كتاب النكاح) شروع کيږي ،
الله لره په سر کي او په پای کي ستاینه ده

د ص ۳۲۵ پاته برخه : ويلي دي : ماته ابن سيرين وويل : د شعبي سره يو ځای اوسه څکه صحابه دېر موجود وه او له ده څخه فتوی غوښتل کېدل ، د عمر بن الخطاب ﷺ په خلافت کي زېږېدلی وو ، د حافظ ذهبي له " تذکرة الحفاظ " څخه . حافظ په " تهذيب التهذيب ٥-٦٨ " کي ويلي دي : مشهورا خبره دا ده چي د حضرت عمر ﷺ د خلافت په دريم کال کي زېږېدلی دی ، ويل سوي دي په يو سل او لس سنه کي مړ سوی دی ، ددې څخه خلاف بل قول هم سته اه . حافظ سيوطي په " تبييض الصحيفة " کي ويلي دي چي شعبي هغه څوك وو چي ابوحنيفه رح ته ئې د علم زده کولو او د علماوو په مجلسو کي کښېنستلو لارښوونه کړې وه .

اَلتَّسْهِيْلُ الضَّرُوْرِيْ
لِمَسَائِلِ الْقُدُوْرِيْ

پښتو ترجمه

مَذهَب کی د امام ابُو حَنِیفه رحمه الله

جلد دوهم

تألیف

مُحَمَّد عَاشِق اِلٰهِی البرنی

مَکتَبَه عَرَبِیَّه

کاسی روډ، کوئټه فون

د نکاح کتاب

س : په سپېڅلي شريعت کي نکاح څه ته ويل کيږي ؟

ج : هغه يو عقد (تړون) دی چي مقصد ئې د متعې د ملکيت حاصلول دي . د متعې ملکيت د سړي پر ښځه په جماع ، لاس وروړلو او مچولو سره خوند اخيستلو ملکيت ته ويل کيږي .

س : تاسي دا تکی ولي زيات کړی چي مقصد ئې ملکيت وي ؟

ج : ځکه د متعې ملکيت کله د ځان د ملکيت په ترڅ کي حاصليږي لکه چي يوه مينځه رانيسي يا ئې په ميراث يوسي .

س : نکاح څرنګه تړل کيږي ؟

ج : په ايجاب (د نکاح د عقد تړونکو لمړي لفظ ته ايجاب او دوهم لفظ ته قبول ويل کيږي) او قبول په داسي دوو لفظو سره تړل کيږي چي دواړه د ماضي لپاره وي يا يو د ماضي لپاره وي يو د مستقبل لپاره ، اول لکه چي د ښځي ولي ووايي : ما په نکاح درکړې ده او په نکاح اخيستونکی ووايي ما قبوله کړې ده ، او دوهم لکه چي په نکاح اخيستونکی ووايي : ما ته فلانکۍ په نکاح راکړه او د هغې ولي ووايي : په نکاح مي درکړې ده دغه لفظ چي په نکاح ئې راکړه د امر صيغه ده چي د مستقبل لپاره استعمال سوې ده .

س : هغه الفاظ بيان کړئ په کومو سره چي نکاح تړل کيږي .

ج : د نکاح او تزوج (په نکاح اخيستل) په لفظو سره چي عقد کونکي ئې خپله ووايي تړل کيږي ، دغه رنګه د انکاح او تزويج (په نکاح ورکول) او په ملك ورکول او بخښل او صدقه کولو په لفظو سره چي ولي ئې ووايي او له هغه څخه وروسته ئې قبول وسي تړل کيږي .

س : که ولي وويل : د فلانکۍ اجازه مي درکړې ده يا مي په عاريت درکړې ده يا مي درته روا کړې ده څه حکم لري ؟

ج : په دغه الفاظو سره نکاح نه تړل کيږي .

س : د نکاح د تړلو لپاره ببله ايجاب او قبول څخه کوم بل شرط سته ؟

ج : هو د هغه لپاره د دوو ازادو بالغو عاقلانو مسلمانانو سړيانو يا يو سړي يوې ښځې شاهدانو حاضرېدل شرط دي (۱) ، د شاهدانو لپاره د ايجاب او قبول اورېدل ضروري دي . د دوو کڼو يا بېدو په حاضرېدلو سره نکاح نه تړل کيږي ، د دوو ړندو چې خبري اوري په حاضرېدلو سره صحيح کيږي .

س : که ايجاب او قبول د داسي شاهدانو په مخکي وسول چې عادلان نه وه په هغه سره نکاح تړل کيږي ؟

ج : هو تړل کيږي ځکه د شاهدانو عدالت د نکاح په تړلو کي شرط نه دی .

س : که د داسي دوو سړيانو په حضور کي چې د قذف حد (هغه حد چې يو چا ته بېله دليل څخه د زنا د نسبت له کبله جاري کيږي) پر جاري سوی وو ايجاب او قبول وسول په دغه صورت کي نکاح تړل کيږي ؟

ج : هو تړل کيږي .

س : که يو مسلمان يوه ذمي (هغه کافر چې د مسلمانانو په هيواد کي د جزيې ورکولو په مقابل کي اوسيږي) ښځه د دوو ذميانو په شاهدي سره په نکاح کړي نکاح ئې صحيح کيږي ؟

ج : د شيخينو په نزد صحيح کيږي او د محمد په نزد نه صحيح کيږي ، دده په نزد د دوو مسلمانانو شاهدانو درول په دغه صورت کي ضروري دي .

س : محرم سړي او محرمي ښځي لره نکاح کول روا دي ؟

ج : سړي او ښځي ته د احرام په وخت کي نکاح کول روا دي مګر جماع او د هغه بلونکي (مچه او لاس وروړل او داسي نور) روا نه دي .

س : په سپيڅلي شريعت کي د مابنو د شمېر لپاره کوم ټاکلی مقدار سته ؟

ج : هو په دغه کي ټاکلی مقدار سته ، ازاد سړي لره دا روا ده چې څلور ازادي يا مينځي ښځي په خپله نکاح کي جمع کړي ، په يوه وخت کي تر څلورو زياتي ښځي په نکاح کي يو ځای کول روا نه دي ، که ئې له څلورو څخه يوه طلاقه کړل او د هغې عده پوره سول يا له هغو څخه يوه مړه سول د بلي ښځي نکاح کول ورته روا دي تر څو مقدار پوره کړي ، مريي ته په يوه وخت کي تر دوو ښځـو زياتـو په نکاح کي يو ځای کول روا نه دي ،

(۱) يعني سړی او ښځي ټوله به ازاد بالغان عاقلان او مسلمانان وي .

د ښځي لپاره ښځه هغه مېړه ځخه د کوم چي دا په نکاح کي وي د بل چا سره نکاح کول روا نه دي تر څو چي هغه ئې طلاقوي یا هغه مړ کیږي او عده ئې تېرېږي . دا ځکه چي د ښځي لپاره په یوه وخت کي د دوو سړیانو سره نکاح کول روا نه دي .

س : که یو چا دوې ښځي په یوه عقد کي په نکاح کړې او له هغو څخه یوه ده ته روا نه وه ، دغه نکاح څه حکم لري ؟

ج : د هغې ښځي نکاح صحیح کیږي کومه چي ورته روا وي د هغه بلي نکاح باطله ده . یاد سوی ټوله مهر د هغې یوې دی د کومي چي نکاح روا وي (۱) .

س : که یو سړي خپله خور یا لور یو چا ته په دې شرط په نکاح ورکړل چي هغه خپله خور یا لور ده ته په نکاح ورکړي تر څو چي یو عقد د هغه بل په مقابل کي سي ، دغه څه حکم لري ؟

ج : دغه دواړه عقده جائز دي او هري یوې لره د هغې مهر مثل لازمیږي .

س : که یو سړي یو بل سړي ته د هغه د اجازې پرته نکاح وروکړل یا ئې یوه ښځه د هغې د اجازې پرته په نکاح ورکړل دغه څه حکم لري ؟

ج : دغه نکاح پر اجازه باندي ولاړه ده ، که هغه چا چي اجازه ئې نه ده غوښتل سوې اجازه وکړل نکاح صحیح کیږي ، که ئې رد کړل باطلیږي ، د فقهاوو په اصطلاح کي دغه نکاح ته د فضولي نکاح ویل کیږي .

س : موقته نکاح (۲) او متعه (۳) څه حکم لري ؟

ج : دغه دواړي نکاح وي باطلي دي .

د ښځو په منځ کي قسم (واری)

س : که یو سړي دوې ښځي یا زیاتي درلودې څرنګه به ګذاره ورسره کوي ؟

ج : د هري ښځي سره به په شرعي توګه ګذاره کوي ، د شرعي طریقو څخه یوه خبره داده چي په واري کي به عدل کوي .

---

(۱) دا د ابوحنیفه په نزد ، د صاحبینو په نزد د دوی پر مهر مثل ویشل کیږي .

(۲) لکه چي یو ښځه د دوو شاهدانو په حضور د لسو ورځو لپار ه په نکاح کړي .

(۳) هغه داسي ده چي یو ښځي ته ووایي : په تاسره د دومره وخت لپاره د دومره مال په مقابل کي خوند اخلم .

س : په واري کي عدل څرنګه دی ؟
ج : د هغوی سره شپه تېرول به ویشي ، د مثال په توګه چي یوه شپه د یوې سره تېروي یوه د بلي سره .
س : دا لازمه ده چي د کومي ښځي نوبت وي د هغې سره به جماع کوي او په دغه کي د دوی په منځ کي برابري کوي ؟
ج : په شپه تېرولو کي برابري پر لازمه ده ، په جماع کي پر لازمه نه ده ځکه جماع د زړه په غوښتنه پوري اړه لري او هره شپه د زړه غوښتنه نه وي .
س : په دغه کي د پېغلي او کونډي او زړې او نوي په منځ کي فرق سته ؟
ج : په هغه کي فرق نسته ، په واري کي به برابري کوي که دواړي پېغلي وي که دواړي کونډي وي او که یوه نوې وي یوه زړه .
س : که یوه ښځه ازاده وي یوه مینځه په هغه صورت کي برابري څه حکم لري ؟
ج : واري به د هغوی په منځ کي پر درو برخو ویشي ، د ازادي لپاره دوې شپې دي او د مینځي لپاره یوه شپه ده .
س : په سفر کي واري څه حکم لري ؟
ج : که مېړه سفر کوی ښځي ئې په واري کي حق نه لري ، کومه یوه چي دده خوښه وي هغه په سفر کي د ځان سره بېولای سي ، ښه دا دی چي له سفر څخه مخکي د هغوی په منځ کي قرعه اندازي وکي د چا نوم چي راوخیژي هغه دي د ځان سره بوزي تر څو چي د دوی زړه خوشحاله وي .
س : که په هغوی کي یوه په دې راضي سول چي خپل واري هغه بلي ته ورپرېږدي ، د هغه څه حکم دی ؟
ج : دغه روا دی او په دغه سره د هغې واري ساقطیږي مګر کوم وخت چي دا وغواړي رجوع کولای سي .

د محرماتو ښځو بیان

س : هغه ښځي بیان کړئ د کومو چي نکاح حرامه ده .
ج : حرامي ښځي پر څو قسمه دي ، نسبي حرامي ، رضعي حرامي ، د خېښۍ له وجهي حرامي ، کومي ښځي چي یو ځای کول ئې حرام دي ، هغه حرامي ښځي په کومو چي د بل چا حق اړه لري ، د کفر او شرك له وجهي حرامي .

س: نسبي حرامي بيان کړئ.
ج: هغه مندي، لوڼي، خوندي، عمه ګاني، خاله ګاني، د ورور لوڼي او د خور لوڼي دي دغه په قرآن کريم کي په څرګنده توګه ذکر سوي دي (۱). په مندو کي د سړي مور او د پلار د خوا اناګاني او د مور د خوا اناګاني چي څومره لوړي وي ټوله داخلي دي. دغه رنګه په لوڼو کي خپلي سکه لوڼي، د زوی لوڼي او د لور لوڼي چي څومره کښته وي داخلي دی، په خوندو کي د پلار او مور له خوا څخه خوندي. د پلار له خوا خوندي او د مور له خوا خوندي داخلي دي څرنګه چي د ورور په لوڼو کي د مور او پلار له خوا د ورور لوڼي، د پلار له خوا د ورور لوڼي او د مور له خوا د ورور لوڼي داخلي دي. د خور لوڼي له درو سره وو خوا څخه پر دغه قياس کړه. دغه رنګه د عمه سره نکاح نه ده روا له هري خوا څخه چي وي که د سړي د پلار د پلار او مور له خوا خور وي که يوازي د هغه د پلار له خوا خور وي او که يوازي د هغه د مور له خوا خور وي. خاله ګاني له درو سره وو خوا وو پر دغه قياس کړه.
س: رضعي حرامي بيان کړئ.
ج: رضعي مورکومه چي سړي ته ئې تی ورکړی وي پر ده حرامه ده او رضعي خور (۲)، کومي ښځي چي نسبي حرامي دي رضعي هم حرامي دي بېله يو څو ښځو څخه چي د رضاع په باب کي به ذکر سي. ان شاء الله.
س د خپښی حرامي ښځي بيان کړئ.
ج: کومه ښځه چي د چا پلار په نکاح کړې وي پر ده ئې نکـاح حرامه ده (۳) که ئې پـلار

---

(۱) د سورة النساء اية ووايه ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَ بَنَاتُكُمْ وَ أَخَوَاتُكُمْ وَ عَمَّاتُكُمْ وَ خَالَاتُكُمْ وَ بَنَاتُ الأَخِ وَ بَنَاتُ الأُخْتِ ﴾ (پر تاسي حرامي سوي دي ستاسي مندي او ستاسي لوڼي او ستاسي خوندي او ستاسي عمه ګاني او ستاسي خاله ګاني او ستاسي د ورور لوڼي او ستـاسي د خور لوڼي).
(۲) الله ﷻ ويلي دي: ﴿ وَ أُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِيْ أَرْضَعْنَكُمْ ﴾ (او ستاسي مندي کومي چي تاسي ته ئې تی درکړی دی او ستاسي رضعي خوندي).
(۳) الله تعالی ويلي وي: ﴿ وَ لَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ أَبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَ مَقْتاً وَ سَاءَ سَبِيْلاً ﴾ او هغه ښځي مه په نکاح کوئ کومي چي ستاسي پلرنو په نکاح کړي وي بېله هغه چي مخکي تيري سوي وي ځکه دا د بې حيائي کار دی او د الله د غضب سبب دی او بده لاره ده.

يو ځاى والى ورسره كړى وي كه نه . دغه رنګه د نيكه ښځه په نكاح كول حرام دي كه د پلار له خوا وي كه د مور له خوا كه څه هم لوړه وي . او د زوى ښځه په نكاح كول حرام دي (١) او د زوى د زوى او د لور د زوى چي څومره كښته وي كه زوى د هغه سره يو ځاى والى كړى وي كه نه . د خپلي ښځي د مور سره نكاح حرامه ده كه ئې د هغې سره يو ځاى والى كړى وي كه نه (٢) د خپلي ښځي د لور سره نكاح حرامه ده كه ئې د هغې سره يو ځاى والى كړى وي (٣) كه د ده په روزنه كي وي كه نه (٤) .

س : هغه ښځي بيان كړئ د كومو چي جمع ئې حرامه ده .

ج : د قريبانو ښځو په منځ كي جمع كول حرام دي ، د دوو خوندو په منځ كي په نكاح كي جمع كول حرام دي څرنګه چي په قرآن كريم كي په څرګنده توګه ذكر سوي دي (٥) ابو هريره ﷺ روايت كړى دى چي رسول الله ﷺ له دې څخه منع كړې ده چي يوه ښځه د هغې پر عمه په نكاح كړل سي يا عمه د هغې دورور پرلور په نكاح كړل سي يا ښځه دهغې پر خاله په نكاح كړل سي يا خاله د هغې د خور پر لور په نكاح كړل سي نه كوچنۍ پر لوي

---

(١) الله تعالى ويلي دي : ﴿ وَ حَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ ﴾ (او ستاسي د زامنو مايني كوم چي ستاسي له ملاوو څخه دي) ، د " الهدايي " مصنف ويلي دي د ملاوو ذكر كول د دې لپاره دي چي د بلني زوى ښځي ووزي د رضعي زوى د مايني د حلالولو لپاره نه دي آه . يعني د رضعي زوى د مايني سره نكاح كول حرام دي څرنګه چي د ملا د زوى د ماينې سره نكاح حرامه ده . د بلني د زوى د ماينې سره د هغه تر مرګ يا طلاق وروسته نكاح جائزه ده .

(٢) الله تعالى ويلي دي : ﴿ وَ أُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ ﴾ (او ستاسي د ښځو مندي) .

(٣) ﴿ وَ رَبَائِبُكُمُ اللَّاتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ ﴾ (او ستاسي د ماينو لوڼي كومي چي ستاسي په روزنه كي وي ستاسي له هغه ښځو څخه چي تاسي يو ځاى والى ورسره كړى وي كه تاسي يو ځاى والى نه وي ورسره كړى د هغه په نكاح كولو كي پر تاسي ګناه نسته) .

(٤) دې خبري ته اشاره ده چي دا قول (اَلّتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ) د حرمت لپاره شرطيه تړلى نه دى بلكه د عادت او رواج پر بناء ذكر سوى دى څكه د ماينې لوڼې د مور د مېړه په كور كي روزل كيږي .

(٥) الله تعالى ويلي دي ﴿ وَ أَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ﴾ (او دا چي تاسي دوې خوندي سره يو ځاى كړئ ښبله هغه چي مخكي تيري سوي دي) .

په نکاح کړل کيږي نه لوي پر کوچنی (۱) د فقه علماوو د دې لپاره يوه عامه قاعده ذکر کړې ده هغه داچي کومي دوې ښځي که په هغوکي له هرطرف څخه يونرفرض کړل سي د دوی په منځ کي رضعي يا نسبي حرمت راځي دهغوی په منځ کي يوځای کول حرام دي .

س : هغه ښځي بيان کړئ کومي چي د کفر او شرك له وجهي حرامي دي .

ج : كه يو سړی مسلمان نه وي پر هر دين كه وي مسلماني ښځي ته ئې نكاح جائز نه ده ، مسلمان سړي لره د مشركي ښځي نكاح جائز نه ده لكه د بت عبادت كونكي د اور عبادت كونكي يا يوه بله كافره (۲) مگر كه له اهل كتاب څخه وه يعني يهودي او نصراني نكاح ئې روا ده (۳) .صابئه ښځه كه پر كوم نبي ايمان لري او په كوم كتاب سره

---

(۱) ابو داود او ترمذي ئې روايت كړی دی .

(۲) نه د اور عبادت كونكو نكاح روا ده نه د بت عبادت كونكو په دې كي آزادي او مينځياني برابري دي ، دغه رنگه په " السراج الوهاج " كي ذكر سوي دي ، د بت په عبادت كونكو كي د لمر عبادت كونكي او ستورو عبادت كونكي او عكسو عبادت كونكي كوم چي دوی ئې خوښوي او معطله (د الله د صفتو څخه انكار كونكي) او زنديقان (د الله څخه انكار كونكي) او باطنيان (هغه صوفيان چي د شريعت په ظاهرو احكامو سره عمل نه كوي) او اباحيان (هغه صوفيان چي خپلو ځانو ته ډير حرام شيان روا كوي) دغه ټوله داخل دي ، او هر هغه مذهب چي عقيده كونكی ئې په كافر كيږي ، دغه رنگه په فتح القدير كي ذكر سوي دي ، كه مشركه يا مجوسي ښځه مينځه وي هم ئې جماع نه ده روا ، مسلمان سړي لره د كتابي ښځي كه حربي (كومه ښځه چي د كفر په هيواد كي اوسي) وي كه ذمي ازاده وي كه مينځه نكاح روا ده ، دغه رنگه په محيط السرخسي كي ذكر سوي دي ، ښه دادی چي نكاح نه ورسره وكړي او د دوی ذبيحه (ذبح كړل سوی حيوان) يوازي د ضرورت په وخت كي خوړل كيږي ، د غه رنگه په فتح القدير كي ذكر سوي دي ، له " الفتاوی الهنديه ۱-۲۸۱ " څخه .ضعيف بنده (مصنف) وايي په كافرانو كي قاديانيان هم شامل دي او كوم كسان چي د دين د متواترو احكامو څخه منكر وي او د اسلام د شعائرو څخه منكر وي او ملحدان باطنيان او كمونستان او د شيعه گانو اثناعشري ډله كوم چي د قران كريم د بدلون عقيده لري (نعوذ بالله) ، ځيني مسلمانان د هغوی په اسلامي نومو او اسلام په دعوو سره غوليږي ، سره له دې چي كافران دي خپلي لوڼي په نكاح وركوي .

(۳) كه څه هم د اهل كتاب د ښځو نكاح روا ده مگر امير المومنين عمر بن الخطاب ﷺ د خپل خلافت په دور كي له هغه څخه منع كړې وه ځكه په دې كي ده لويه خرابي ليدلې وه ، محمد بن الحسن په "كتاب الآثار " كي روايت كړی دی چي حذيفه بن اليمان په المداين كي يوه يهودي ښځه په نكاح كړل ، عمر بن الخطاب ﷺ ورته وليكل چي ايله ئې كړه ، هغه ورته وليكل ای امير المومنين د هغې نكاح حرامه ده ؟ هغه ورته وليكل چي زه قسم دركومه چي زما كتاب تر هغه وخت پوري مه اږده تر څو چي دا

اقرار کوي نکاح ئې روا ده او که د ستورو عبادت کوي او کوم کتاب سره اقرار نه کوي مسلمان سړي ته ئې نکاح نه ده روا (۱) .

س : هغه حرامي ښځې بيان کړئ کومې چې د بل چا حق اړه په لري .

ج : يو سړي ته دا نه ده روا چې د بل چا د ماينې سره نکاح وکړي يا د داسي ښځې سره چې ديو بل سړي په عده کې وي د طلاق عده وي که دوفات که دفاسدي نکاح عده وي .

متفرقي مسئلې

س : د خيښې حرمت په زنا سره ثابتيږي ؟

ج : هو ثابتيږي نو څوك چې د يو ښځې سره نکاح وکړي يا په شهوت سره لاس وروړي يا هغه ښځه ده ته په شهوت سره لاس وروړي د هغې ښځې مور او لور پر حراميږي .

س : د ښځې او د هغې د مخکني ميړه لور په منځ کې يو ځاى والى جائز دى چې هغه لور ئې د بلې ښځې ځخه وي ؟

ج : دغه جائز دى .

د ص ۳۳۳ پاته برخه : طلاقوې ځکه زه له دې ځخه بيريږم چې نور مسلمانان ستا متابعت کوي او ذمياني ښځې غوره کوي ځکه چې هغوى ښائسته دي او دا د مسلمانانو ښځو لپاره لويه فتنه ده . محمد رح ويلي دي موږ په دغه سره عمل کوو ، حرام ئې نه ګڼو مګر موږ دا وايو چې مسلمانانو ښځو ته دي ترجيح ورکړل سي او دغه د ابو حنيفه رح قول دى آه . حضرت عمر ﷺ په قول او فکر کي رښتيني وو . زموږ په زمانه کي دغه خبره عامه سوې ده چې د مسلمانانو ځوانان په اروپا ، امريکا ، کاناډا او اسټرليا کي اوسيږي او نصراني ښځي خوښوي ، مسلماناني پاکي ښځي نه خوښوي او د مسلمانانو ښځو قريبان د خپلو لوڼو د نکاح لپاره خلګ نه سي پيدا کولاى او دا څرنګه چې حضرت عمر ﷺ ويلي دي يوه لويه فتنه ده . دلته يوه بله فتنه ستره چې تر هغه لويه ده هغه دا چې نصارى خپلو لوڼو ته رغبت ورکوي چې د مسلمان سړي سره نکاح وکړي نصرانيت ته ئې رابولي او رغبت ورکوي تر څو چې د اسلام له دين ځخه (نعوذ بالله) واوړي او د هغې په دين کي داخل سي ، که په دغه کار کي هغه کاميابه نه سي نو لږ تر لږه هغه اولاد چې د مسلمان سړي ځخه پيدا سوي وي هغه نصارى کوي (الله دي موږ له هغه ځخه پناه راکړي) . نو مسلمانانو ته څه ضرورت دى چې داسي شى خوښوي چې په هغه کي د دين ، ايمان او آخرت هلاکت وي او د آخرت عذاب ډير سخت او دوام لرونکى دى .

(۱) د قرآن کريم د نازليدو په وخت کي صابئين وه ، له هغه ځخه ژر وروسته دغه فرقه ورکه سول ، نو دغه فرقه صرف په تيرو قرنو کي وه ، په اوسني وخت کي د کتاب اقرار يوازي يهودي او نصراني کوي نو د صابئينو د احوالو پلټنې ته موږ ضرورت نه لرو .

س: که يو سړی خپله ښځه طلاقه کړي د هغې د خور سره نکاح کولای سي ؟
ج: که يو سړی خپله ښځه په بائن (۱) يا رجعي طلاق سره طلاقه کړي تر څو چي د هغې عده نه وي تيره سوې د خور سره ئې نکاح نه سي کولای .
س: که يو سړي دوې مينځي درلودې او هغه دواړي خوندي وې د هغوی د ملکيت له وجهي د دواړو سره جماع کولای سي ؟
ج: د دواړو سره جماع کول جائز نه دي ، کومه يوه چي د ده خوښه وي په هغې سره خوند اخيستلای سي ، که ئې په يوې خوند واخستی تر هغه وروسته پر هغه بلې خوند نه سي اخيستلای تر څو چي اوله پر خپل ځان حراموي .
س: څرنګه به ئې پر خپل ځان حراموي ؟
ج: يو چا ته به ئې په نکاح ورکوي يا به ئې مکاتبه کوي يا به ئې له خپل ملکيت څخه په ازادولو يا بخښلو يا خرڅولو يا خيراتولو سره باسي .

د وليانو او سيالانو باب

س: ولي څوك دی ؟
ج: د نکاح ولي توب په څلورو شيانو سره ثابتيږي ، قرابت ، ولاء (د ميراث حق چي يو چا ته د مريي يا مينځي په ازادولو سره حاصليږي) ، او امامت او ملکيت . د قرابت په ولي توب کي عصبه وليان دي پر کوم ترتيب چي په ميراث کي بيان سوي دي ، کوم يو چي زيات نژدې وي هغه مخکي کيږي بيا چي تر هغه وروسته کوم يو نژدې وي . په ټولو وليانو کي ښځي ته نژدې د هغې زوی دی بيا د زوی زوی چي څومره کښته وي ، بيا پلار بيا نيکه د پلار پلار چي څومره لوړ وي ، وروسته د پلار او مور له خوا ورور ، وروسته د پلار له خوا ورور ، وروسته د پلار او مور له خوا د ورور زوی بيا د پلار له خوا د ورور زوی چي څومره کښته وي وروسته له پلاراومور له خوا تره وروسته دپلار له خوا تره وروسته د پلار او مور له خوا د تره زوی وروسته د پلار له خوا د تره زوی چي څومره کښته وي وروسته د پلار او مور له خوا د پلار تره وروسته د پلار له خوا د پلار تره وروسته د هغوی زامن پر دغه ترتيب . د ولاء ولي توب د ازادولو د ولاء وليتوب ته ويل کيږي ، که يو ښځي د قرابت له خوا له عصبه وڅخه ولي نه درلودی دازادولو بادار کوم

(۱) په بائن طلاق کي مغلظ (درې طلاقه) او يو بائن دواړه شامل دي .

چي دا ئې ازاده کړې وي دا په نکاح ورکولای سي ځکه هغه تر ټولو وروستني عصبه دی . که عصبه له سره نه وي اولو الارحام (د قرابت څښتنان کوم چي عصبه نه وي) کوچنی اوکوچنۍ په نکاح ورکولای سي . د امامت له وجهي ولي توب څخه مراد د امام ، باچا او قاضي ولي توب دی که وليان نه وه دوی وليان دي .

د ملکيت له وجهي ولي توب څخه مراد د مريي او مينځي بادار دی ځکه هغوی ته د دوی د نکاح ولايت سته که څه هم د دوی په خوښي نه وي ، که مريي يا مينځي بيله اجازې د بادار نکاح وکړل د هغه پر اجازه ولاړه ده ، که هغه اجازه وکړل صحيح کيږي که ئې رد کړل باطليږي .

س : که ازاده بالغه ښځه په خپله خوښه نکاح وکړي ولي ئې نه وروتړي څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد د هغې نکاح د دې په خوښه سره صحيح کيږي که څه هم ئې ولي نکاح نه ور وتړي که پيغله وي که کونډه ، کله چي عقل لرونکې بالغه ښځه بيله اجازې د خپل ولي نکاح وکړي نکاح ئې صحيح کيږي ، ابو يوسف رح او محمد رح ويلي دي بيله اجازې د ولي ئې نکاح نه صحيح کيږي .

س : ولي عقل لرونکې بالغه ښځه پر نکاح کولو مجبوره کولای سي ؟

ج : داسي ښځه ولي پر نکاح نه سي مجبوره کولای ځکه که پيغله وي که کونډه هغه د خپل ځان اختيار لري .

س : دا خبره مو ومنل چي مجبوره کول ئې جائز نه دي مګر عامي ښځي خپل ځانونه په نکاح نه ورکوي دهغوی وليان ئې په نکاح ورکوي ،ولي دهغوی اجازې ته ضرورت لري؟

ج : کله چي ولي دا مجبوره کولای نه سي نو له هغې څخه اجازه غوښتل ضروري دي په دې توګه چي ورته ووايي : زه دي فلانکي د فلانکي زوی ته په نکاح ورکوم ، که هغې اجازه ورته وکړل دی ئې په نکاح ورکولای سي که ئې نه وکړل نه ئې سي ورکولای .

س : پيغله ښځه په ژبه سره له جواب ورکولو څخه شرميږي نو به څرنګه اجازه کوي ؟

ج : که ولي اجازه وغوښتل او دا چپ سول يا ئې وخندل يا ئې بيله اواز څخه وژړل دا د دې له خوا اجازه ګڼل کيږي ، که د ولي پرته بل چا اجازه وغوښتل يا داسي ولي چي بل ولي تر هغه نږدې وو دې ته په هغه صورت کي د خولې اجازه ضروري ده .

س : که هغې منع وکړل ولي به څه کوي ؟

ج : په نکاح به ئې نه ورکوي ځکه هغې رد کړل .

س : كه يو ښځي نكاح وكړل وروسته كونډه سول ، ولي غوښتل چي دوهم ځل ئې په نكاح وركړي اجازه غوښتل پر لازم دي ؟

ج : په دغه صورت كي دوه شيان ضروري دي ، ولي به اجازه ځني غواړي او دا به په خوله سره خپله رضا ښكندوي ، چپوالى يا خندا يا ژړا كفايت نه كوي (١) .

س : كه يو پيغلي ښځي نكاح نه وه كړې مګر پيغلتوب ئې په غورځيدلو يا حيض يا تپ يا ستي والى سره ليري سو (٢) ، هغه د پيغلي حكم لري كه د كونډې ؟

ج : هغه د پيغلو حكم لري ، د هغې د رضا لپاره چپوالى يا د هغه په شان رضا كفايت كوي .

س : كه يو پيغلي ښځي نكاح نه وكړل مګر پيغلتوب ئې په زنا سره ليري سو په دغه مسئله كي د هغې څه حكم دى ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد هغه د پيغلو حكم لري نو د اجازې غوښتلو په وخت كي ئې چپوالى كفايت كوي او د ابو يوسف رح او محمد رح په نزد هغه د كونډې حكم لري په دغه مسئله كي .

س : كه يو سړي خپله بالغه پيغله لور په نكاح وكړل ، ميړه ئې وويل تا ته د نكاح خبر دررسيدى او ته چپ سولې ، هغې وويل نه يم چپ سوې بلكه ما نكاح رد كړل څرنګه فيصله ئې كيږي ؟

ج : په دغه كي د دې قول معتبر دي او د ابو حنيفه رح په نزد پر دې قسم نسته ، او دا له هغو مسئلو څخه ده چي په هغو كي د ده په نزد قسم نه وركول او د صاحبينو رح په نزد قسم وركول كيږي .

س : كه يو كوچني هلك ته خپل ولي بيله اجازې نكاح وروكړل يا ئې كوچنۍ نجلۍ بيله اجازې په نكاح وركړل نكاح ئې صحيح كيږي ؟

ج : هو نكاح ئې صحيح كيږي ځكه ولي هغوي ته بيله اجازې نكاح وركولاى سي دا چي

---

(١) نبي ﷺ ويلي دي كونډه ښځه دي په نكاح نه وركول كيږي تر څو چي مشوره نه وي ورسره سوې او پيغله ښځه دي په نكاح نه وركول كيږي تر څو چي اجازه نه وي ځني غوښتل سوې ، هغوى وويل اى د الله رسوله : د هغې اجازه څرنګه ده ؟ ده وويل : دا چي چپ سي ، بخاري او مسلم ئې روايت كړى دى .

(٢) د ستي والى مطلب دا دى چي د نكاح تر وخت تيره سي او نكاح نه وكړي .

ولي کوچنی یا کوچنۍ مجبوره کولای سي د هغه مطلب هم دغه دی ، دغه حکم په هري کوچنۍ کي دی که پیغله وي که کونډه (۱) .

س : که نژدې ولي نه وو حاضر او د هغوی لپاره د نکاح ضرورت وو لیري ولي ئې په نکاح ورکولای سي ؟

ج : که نژدې ولي نه وو حاضر او له هغوی څخه ئې رابطه پرې وه لیري ولي ئې په نکاح ورکولای سي .

س : د نه حاضر والی او رابطه پرې والی مطلب څه دی ؟

ج : د هغه مطلب دا دی چي په یو داسي ښار کي وي چي قافلې په کال کي صرف یو ځل ورځي (۲) .

س : که یو لیونۍ ښځه وه او دوه ولیان ئې درلودل ، یو ئې پلار وو یو ئې زوی وو د هغې د نکاح د ورکولو لپاره څوك ولي دی ؟

ج : د شیخینو رح په نزد ئې زوی ولي دی او محمد رح ویلي دي پلار ئې ولي دی .

س : که یو کوچنی هلك یا یو کوچنۍ نجلۍ خپل ولي په کوچني والي کي په نکاح ورکړل ، کله چي بالغان سي د نکاح د فسخ کولو (ماتولو) حق لري ؟

ج : که پلار یا نیکه په نکاح ورکړل تر بالغ توب وروسته د نکاح د فسخ کولو حق نه لري او که له هغوی څخه پرته بل چا په نکاح ورکړل دوی لره اختیار سته که پر نکاح دریږي که ئې فسخ کوي .

س : له عصبه وو څخه پرته نور قریبان لکه خور ، مور یا خاله کوچنی هلك یا نجلۍ په نکاح ورکولای سي ؟

ج : هو ورکولای ئې سي (۳) .

---

(۱) د کونډوالي مطلب دا دی چي ولي ئې مخکي په نکاح ورکړي اوتربلوغ مخکي ئې میړه مړ سوی وي .

(۲) دغه قول قدوري خوښ کړی دی ، ځینو علماوو ویلي دي : د سفر کمه مده څکه لویه مده ئې پای نه لري . ځینو وروستنیو علماوو دغه قول غوره کړی دی ، ځینو علماوو ویلي دي که په داسي حالت کي وو که د هغه د رایې انتظار وکړل سي سیال د لاسه وزي ، دغه قول د عقل سره سمون خوري څکه په دغه صورت کي د هغه د ولیتوب پاته کول د هغوی لپاره ګټمن نه دی ، له " الهدایې " څخه .

(۳) یعني کله چي عصبه نه وي څرنګه چي د " الهدایې " مصنف ویلي دي .

س: که پلار خپله کوچنۍ لور د هغې د مهر مثل (هغه ولور چې دغه رنګه نجلۍ ته ورکول کیږي) په نیمي سره په نکاح ورکړل یا ئې خپل زوی ته د هغه د مهر مثل څخه په زیات مقدار سره نکاح ور وکړل څه حکم لري ؟
ج: پلار او نیکه دغه کولای سي ، له هغو څخه پرته ئې بل څوک نه سي کولای.
س: د ولي توب لپاره د قرابت او یاد کړل سوو تکو پرته بل کوم شرط سته ؟
ج: دا شرط دی چې ولي به بالغ او عاقل وي ، کوچنی او لیونی ولي توب نه سي کولای.
س: د کافر ولي توب څه حکم لري ؟
ج: کافر پر مسلمان هلك یا مسلماني نجلۍ ولي توب نه لري که څه هم تر ټولو ور نژدې وي.
س: تاسو ذکر کړل چې بالغه ښځه خپل ولي نه سي مجبوره کولای ، که هغې د خپل مهر مثل څخه په کم د یو سړي سره نکاح وکړل ولي پر هغه د اعتراض حق لري ؟
ج: ابو حنیفه رح ویلي دي د هغه ولیان پر دې د اعتراض حق لري تر څو چې مهر مثل ئې ور پوره کوي یا ئې میړه څني جلا کیږي .
س: که د یو ښځي ولي د هغې د تره زوی وو او هغه ئې د خپل ځان لپاره په نکاح کړل څه حکم لري ؟
ج: دغه روا دی او د دوو شاهدانو په حضور سره ئې نکاح صحیح ده .
س: که یو بالغي ښځي یو سړي ته اجازه وکړل چې خپل ځان ته ئې په نکاح کړي . هغه د دوو شاهدانو په حضور عقد وکړي ، دغه نکاح صحیح کیږي ؟
ج: هو صحیح کیږي .

یو څو مسئلې چې په سیالتوب پوري اړه لري

س: سیال څوك دی او سیالتوب څه ته وایي ؟
ج: سیالتوب برابري ته ویل کیږي او سیال هغه څوك دی چې ستاسي سره برابر وي . د نکاح په سیالتوب کي نسب ، دین ، مال او کسب ته کتل کیږي .
س: په دین کي سیالتوب څه ته وایي ؟
ج: هغه په تقوی او ښه عمل کي سیالتوب ته ویل کیږي نو فاسق سړی د صالحي ښځي سیال نه دی (۱) .
س: په مال کي سیالتوب څرنګه پیدا کیږي ؟

ج : كه ميړه د ولور او نفقې (خرڅ) مالك وو نو هغه د دې سيال دی (۱) .

س : په كسب كي سيالتوب څه مطلب لري ؟

ج : د هغه مطلب دا دی چي ميړه د داسي كسب كونكو څخه نه وي چي خلكو ته په هغ

سره پيغور وركول كيږي لكه د مثال په توګه ويني كنبل او پوستونه وچول او جارو كول .

س : كه يو ښځي د نا سيال سره واده وكړی او وليانو ئې پر هغه اعتراض كوی د هغوی

اعتراض څه حكم لري ؟

ج : هغوی د اعتراض حق لري او دوی سره جلا كولای سي (۲) .

يو څو مسئلې چي د مريانو او مينځو په نكاح پوري اړه لري

س :يوه ښځه خپل مريی په نكاح كولای سي يا يو سړی خپله مينځه په نكاح كولای سي؟

ج :د باداري او د هغې د مريي په منځ كي نكاح نسته نه د بادار او د هغه د مينځي په

منځ كي نكاح سته مګر بادار په خپله مينځه سره كه مسلمانه يا يهودي يا نصراني وي

داسي خوند اخستلای سي لكه چي په خپله ماينه سره ئې اخستلای سي ، داسي مينځه

چي د اور عبادت كونكې وي يا د بت عبادت كونكې وي په هغه سره خوند نه سي

اخيستلای ، په مينځه سره خوند اخستلو لپاره يو بل شرط دا دی چي په جماع كي به

دوې خوندي نه سره يو ځای كوي ، دا خبره مو مخكي ذكر كړل .

د ص ۳۳۹ پاته برخه : (۱) د " الهدايي " مصنف ويلي دي : دا د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح قول دی

او دغه صحيح دی ځكه تقوی له لويو فخر كولو وړ ټكو څخه ده ، ښځي ته د ميړه په فسق سره د كم

نسبوالي څخه زيات پيغور وركول كيږي ، محمد ويلي دي : دغه سيالتوب اعتبار نه لري ځكه دا د

آخرت له احكامو څخه دی او د دنيا احكام په هغه پوري نه تړل كيږي مګر هغه وخت معتبريږي كه په

چپلاخه وهل كيدی او ټوكي پر كيدلې يا بازارو ته نشه راوتی او كوچنيانو لوبي په كولې ځكه په دغه

وخت كي ئي سپكاوي كيږي آه .

(۱) نو څوك چي د ولور او نفقې مالك نه وي يا د يوه مالك نه وي هغه سيال نه دی ځكه ولور د ښځي

څخه د خوند اخيستلو په مقابل كي دی نو د هغه وركول ضروري دي او په نفقه سره د نكاح وجود او

دوام دی . له ولور څخه هغه قدر مراد دی كوم چي په عادت كي ئې په فوري توګه وركوي ځكه پرته له

هغه څخه نور مهر په خپله نيته كي وركول كيږي ، له " الهدايي " څخه .

(۲) د دې لپاره چي پيغور له خان څخه ليري كړي ، له " الهدايي " څخه ، د دوی دوو بيلولو لپاره قاضي

ته حاضريدل ضروري دي ، له " الجوهره " څخه

س : مسلمان سړي ته روا ده چي د يو بل چا مينځه په نکاح کړي ؟
ج : هو که مسلمانه يا له اهل کتابو څخه وه روا ده .
س : که يو څوك پر ازاده ښځه مينځه په نکاح کړي يا پر مينځه ازاده ښځه په نکاح کړي څه حکم لري ؟
ج : اول صورت نه دی روا او دوهم صورت روا دی .
س : که يو مينځه خپل بادار په نکاح ورکړل وروسته ازاده سول ، د نکاح په پاته والي کي دې لره اختيار سته ؟
ج : په دغه کي دې لره اختيار سته که ئې ميړه ازادوي که مريی .
س : که يو چا د بادار د اجازې پرته يوه مينځه په نکاح کړل ، وروسته ازاده سول دغه نکاح څه حکم لري ؟
ج : دغه نکاح صحيح ده او دې لره اختيار نسته .
س :که بادارخپله مينځه په نکاح ورکړي داپرلازمه ده چي دميړه په کورکي ئې واوسوي ؟
ج : پر هغه دا نه ده لازمه مګر د بادار خدمت به کوي او ميړه ته ئې ويل کيږي کله چي دي قدرت پر پيدا کړی جماع ورسره وکړه .
س : که ئې د ميړه په کور کي واوسول د نفقې ئې څه حکم دی ؟
ج : نفقه ئې پر ميړه لازمه ده .
س : که بادار د ميړه په کور کي واوسول ورسته ئې زړه وغوښتل چي خدمت په وکي دا کولای سي ؟
ج : هو دا کولای سي .
س : که مريي د بادار په اجازه نکاح وکړل د ماينې ولور به ئې څوك اداء کوي ؟
ج :مهرئې دده پرذمه پوردی‌که بادارله خپل مال څخه نه کړی اداء دی په کښي خرڅيږي .

د مهر (ولور) باب

س : ولور څه ته وايي ؟
ج : مهر (ولور) هغه مال ته ويل کيږي چي د نکاح په عقد سره د ښځي د ګټو په مقابل کي يا په يادولو سره يا يوازي په عقد سره پر ميړه لازميږي (۱) .

(۱) مهر په عربي کي نور نومونه هم لري ، صداق ، نحله ، فريضه .

س : د مهر تر ټولو کم مقدار او تر ټولو زیات مقدار بیان کړئ .

ج : تر ټولو کم مقدار ئې لس درهمه دی که ئې تر لس درهمه کم مقدار یاد کړی لس درهمه ئې حق کیږي ، زیات مقدار لره ئې اندازه نسته ، پر څومره چي سره راضي شي او یاد ئې کړي پر لازمیږي .

س : که ئې مهر نه کړی یاد او د شاهدانو په حضور کي ایجاب او قبول وسو نکاح صحیح کیږي ؟

ج : په دغه صورت کي نکاح صحیح کیږي ، که ئې میړه جماع ورسره وکړل یا مخکي ئې هغه مړ سو مهر مثل ئې حق کیږي او که ئې تر جماع او صحیح خلوت مخکي طلاق کړل متعه ئې حق کیږي ، د متعې معنی به وروسته وپیژنې .

س : که ئې په دې شرط په نکاح کړل چي مهر به نه ورکوي څه حکم لري ؟

ج : د هغه ښځي حکم ئې دی د کومې لپاره چي مهر نه وي یاد سوی چي مهر مثل یا متعه ده څرنګه چي اوس مخکي تیر سو .

س : که ئې د ښځي لپاره مهر یاد کړی ، وروسته ئې طلاقه کړل ټوله یاد کړل سوی مهر پر لازمیږي ؟

ج : په هغه کي تفصیل دی که ئې جماع ورسره وکړل یا تر جماع مخکي څني مړ سو ټوله یاد سوی مهر پر لازمیږي او که ئې تر جماع او صحیح خلوت مخکي طلاقه کړل نیم یاد سوی مهر پر لازمیږي . الله تعالی ویلي دي ﴿ وَ إِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَ قَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ ﴾ (او که مو تر لاس وروړلو مخکي طلاقي کړې او مهر مو ورته ټاکلی وو د ټاکل سوي مهر نیمی درباندي لازمیږي) .

س : که یو چا یو مسلمانه ښځه په شرابو یا سرکوزي سره په نکاح کړل څه حکم لري ؟

ج : نکاح جائز ده او مهر مثل ئې حق کیږي .

س : که یو چا یو ښځه په یو مقدار مهر سره په نکاح کړل وروسته ئې څه مقدار په کښي زیات کړی یا هغې څه مقدار څني کم کړی دغه کمول او زیاتوب څه حکم لري ؟

ج : کمول او زیاتوب دواړه صحیح دي ، که ئې جماع ورسره وکړل یا څني مړ سو زائد مقدار پر لازمیږي او که ئې تر جماع مخکي طلاقه کړل زائد مقدار ختمیږي .

س : كه يو چا يوه ښځه په زر درهمه په دې شرط په نكاح كړل چي له ښار څخه به ئې نه باسي يا به بله ښځه نه پر كوي په دغه صورت كي څه شيء لازميږي ؟
ج : په دغه صورت كي كتل كيږي كه ئې شرط پوره كړى ياد سوى مهر پر لازميږي او كه ئې بله ښځه پر وكړل يا ئې له ښار څخه وايستل مهر مثل ئې پر لازميږي .
س : كه ئې د مهر لپاره يو حيوان وټاكى چي ډول ئې نه وو بيان كړل سوى دغه صحيح كيږي ؟
ج : يادول ئې صحيح كيږي او ميانه حيوان ئې حق كيږي (١) او ميړه اختيار لري كه هغه حيوان وركوي كه د هغه قيمت وركوي .
س : كه ئې د يو كالي په مقابل كي په نكاح كړل چي ډول ئې نه وو بيان سوى كوم شيء پر لازميږي ؟
ج : مهر مثل پر لازميږي (٢) .
س : كه ئې يو ښځه په نكاح كړل او مهر ئې ورته ونه ټاكى وروسته د مهر پر ټاكلو راضي سول په دغه صورت كي ښځه د څه حق لري ؟
ج : راضي والى صحيح دى ، هغه مقدار مهر پر لازميږي چي دوى پر راضي سوي دي ، مګر كه ئې جماع ورسره وكړل يا مخكي تر هغه ځني مړ سو ياد سوى مهر ئې حق كيږي او كه ئې تر جماع او صحيح خلوت مخكي طلاقه كړل متعه ئې حق كيږي .
س : كه يو ازاد سړي يوه ښځه په نكاح كړل او د هغې لپاره ئې دا ولور وټاكى چي دى به ئې يو كال خدمت كوي يا به قرآن كريم ورښوي دغه يادول صحيح كيږي ؟
ج : دغه يادول نه صحيح كيږي په دغه صورت كي ئې مهر مثل پر لازميږي .
س : كه يو مريي د خپل بادار په اجازه يوه ازاده ښځه په نكاح كړل او د هغې لپاره ئې دا ولور وټاكى چي دى به ئې يو كال خدمت كوي دغه نكاح څه حكم لري ؟

---

(١) د دې مسئلې معنى دا ده چي د حيوان مثل ياد كړي او د هغه صفت او ډول ياد نه كړي په دې توګه چي آس يا خر ياد كړي ، كه ئې د هغه قسم ياد نه كړى په دې توګه چي ووايي د يو حيوان په مقابل كي مي په نكاح كړې يې دغه يادول نه صحيح كيږي او مهر مثل پر لازميږي ، له " الهدايې " څخه .
(٢) يعني كه ئې صرف كالي ياد كړي پر هغه ئې زياتوب نه وكړي ، د دې وجه دا ده چي په دغه صورت كي قسم نا معلومه سو ځكه كالي ډير قسمونه دي . كه ئې قسم ياد كړي په دې توګه چي وئې ويل (د هرات جوړ سوى كالى) يادول ئې صحيح كيږي او مهر مثل پر لازميږي ، له " الهدايې " څخه .

ج : نکاح صحیح ده او هغه ښځه د ده د یوه کال خدمت حق لري .

س : که د ښځې ولي د هغې د مهر ضمانت وکړي ، دغه ضمانت ئې صحیح کیږي ؟

ج : ضمانت ئې صحیح کیږي او ښ اختیار لري که ئې د میړه څخه غواړي که د ولي څخه .

س : که یو چا فاسده نکاح وکړل او قاضي ماینه او میړه سره جلا کړل د مهر څه حکم دی ؟

ج : که ئې تر جماع کولو مخکې سره بیل کړل مهر ئې نسته ، دغه رنګه که ئې بیله جماع څخه تر خلوت وروسته سره جلا کړل او که ئې جماع ورسره وکړل مهر مثل ئې حق کیږي مګر تر یاد کړل سوي مهر به زیات نه وي .

س : تر دغه رنګه بیلولو وروسته عده څه حکم لري او که ئې کوچنی وزیږیدی د هغه نسب څه حکم لري ؟

ج : د طلاق عده به تیروي او د کوچني نسب ځني ثابتیږي .

س : که مجبوب د خپلې ښځې سره خلوت وکړی وروسته ئې طلاقه کړل کوم شيء پر لازمیږي ؟

ج : د ابو حنیفه رح په نزد ټوله مهر پر لازمیږي ځکه ښځې خپل ځان ور وسپاری او صاحبینو رح ویلي دي نیم مهر پر لازمیږي .

صحیح خلوت

س : صحیح خلوت څه ته وایي ؟

ج : هغه دا دی چي له جماع څخه کوم مانع نه وي د مثال په توګه له دوی څخه یو ناروغه نه وي یا د رمضان په میاشت کي روژه نیونکی نه وي یا په حج یا عمره سره محرم نه وي او ښځه په حیض کي نه وي .

س : د روژې سره مو ولي د رمضان د روژې تکی زیات کړئ ؟

ج : ځکه که له دوی دوو څخه یو نفلي روژه نیونکی وو او میړه خلوت ورسره وکړی دغه خلوت صحیح ګڼل کیږي .

مهر مثل

س : تاسي په خپلو جوابو کي څو ځله مهر مثل یاد کړئ ، موږ غواړو چي پوه سو چي

مهر مثل څه ته وايي ؟

ج : مهر مثل هغه مهر ته ويل کيږي چي د دې په مثل ښځو ته ورکول کيږي يعني د دې خوندي ، عمه گاني ، د تره لوڼي چي په سن ، ښايست ، مال ، عقل ، دين ، ښار او زمانه کي ورسره برابري وي ، مور او خاله ته ئې نه کتل کيږي که د دې له قبيلې څخه نه وي .

متعه

س : متعه څه ته ويل کيږي ؟

ج : هغه د دغه رنگه ښځي له کاليو څخه (۱) درې کاليه دي چي قميص ، پوړنی او چادري ده .

س : له طلاقو سوو ښځو څخه چا لره متعه واجبه ده چا لره مستحبه ده ؟

ج : د هغي ښځي لپاره واجبه ده چي تر جماع مخکي ميړه طلاقه کړې وي او مهر ئې نه وي ورته ياد کړی ، له هغه څخه پرته د هري طلاقي سوي ښځي لپاره مستحبه ده بيله هغي ښځي څخه چي تر جماع مخکي ميړه طلاقه کړې وي او مهر ئې ورته ياد کړی وي .

د عيبو له کبله بيلولو مسئلې

س : که يو سړي يوه داسي ښځه په نکاح کړل چي عيب ئې درلودی د نکاح په ردولو کي هغه لره اختيار سته ؟

ج : په هغه کي ده لره اختيار نسته او د طلاق اختيار په هر وخت کي ورلره سته .

س : که يوې ښځي يو سړی په نکاح کړی او په هغه کي ئې ليونتوب ، خراړه يا د پس ناروغي وموندل ، ښځي لره د نکاح د فسخ کولو حق سته ؟

ج : د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد هغې لره د فسخ حق نسته ، محمد ويلي دي : د فسخ حق ورلره سته .

س : که يو ښځي خپل ميړه عنين (څوك چي جماع نه سي کولای) وموندی او له حاکم څخه ئې د نکاح د فسخ کولو غوښتنه وکړل حاکم به څرنگه فيصله کوي ؟

---

(۱) دا قول (د دغه رنگه ښځي له کاليو څخه) دې خبري ته اشاره ده چي د دې حال ته کتل کيږي مگر صحيح خبره دا ده چي دده حال ته کتل کيږي تر څو چي په آيت سره عمل وکړل سي چي هغه د الله ﷻ داقول دی ﴿ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهُ وَ عَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ ﴾ (پر خان دهغه مقدار او پرمسکين دهغه مقدار) .

ج : حاکم به ئې مېړه را غواړي او د دواء لپاره به يو کال مده ورکوي ، که ئې په دغه مده کې يوځايوالى ورسره وکړى هغې لره خيار نسته ، که ئې يوځايوالى نه ورسره وکړى او ښځې بېلول غوښتل سره بېل دې ئې کړي .

س : که قاضي سره بېل کړل دغه بېلول څه حکم لري ؟

ج : دغه بېلول يو بائن طلاق ګڼل کيږي .

س : په دغه صورت کې مهر څه حکم لري ؟

ج : که ئې خلوت ورسره کړى وو پوره مهر ئې حق کيږي .

س : که ښځې خپل مېړه مجبوب (څوک چې ذکر ئې پرې سوى وي) وموندى او له حاکم څخه ئې د بېلولو غوښتنه وکړل حاکم به څه فيصله کوي ؟

ج : په هغه وخت کې به ئې سره بېلوي ، مده به نه ورکوي ځکه په ټوله ژوند کې هغه ته د جماع کولو اميد نسته .

س : که ښځې خپل مېړه خصي وموندى او د بېلولو غوښتنه ئې وکړل په دغه صورت کې مده ورکول کيږي ؟

ج : هو هغه ته به داسې مده ورکوي څرنګه چې عنين ته ئې ورکوي .

د دين او هيواد له کبله د بېلېدلو او بېلولو مسئلې

س : که يو ښځه مسلمانه سول او مېړه ئې کافر وو د هغې د اسلام له کبله هغه ځنې بېليږي ؟

ج : يوازې په اسلام سره نه ځنې بېليږي بلکه قاضي به ئې مېړه ته اسلام وړاندې کوي ، که هغه اسلام قبول کړي هغه د ده ښځه ده او که ئې له اسلام قبلولو څخه ډډه وکړل قاضي دې ئې سره بېل کړي ، د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد دغه بېلول بائن طلاق ګڼل کيږي ، ابو يوسف رح ويلي دي دغه بېله طلاق څخه بېلېدل ګڼل کيږي .

س : که يو سړى مسلمان سو او ښځه ئې د اور عبادت کونکې وه په دغه سره هغه ځنې بېلېږي ؟

ج : يوازې د مېړه په اسلام سره نه ځنې بېلېږي بلکه قاضي به هغې ته اسلام وړاندې کوي . که ئې اسلام قبول کړى د ده ښځه ده او که ئې د اسلام قبلولو څخه ډډه وکړل قاضي دې ئې سره بېل کړي او دغه بېلول طلاق نه ګڼل کيږي ځکه دغه بېلول د دې له خوا راغلي دي .

س : په دغه صورت کي مهر څه حکم لري ؟
ج : که جماع ورسره سوې وه پوره مهرئې حق کيږي که نه وه سوې مهر ئې حق نه کيږي .
س : که د اهل کتاب د ښځي ميړه مسلمان سو هغوی سره بېلېږي ؟
ج : بېلولو ته ئې ضرورت نسته ځکه د مسلمان سړي د اهل کتاب د ښځي سره د سره نکاح صحيح کيږي نو د دوی نکاح پر خپل حال پاته کيدلای سي .
س : که د کافرانو په هيواد کي يوه ښځه مسلمانه سول او ميړه ئې کافر وو په هغه سره د دوی په منځ کي بيلتون راځي ؟
ج : تر هغه وخت پوري ئې په منځ کي بيلتون نه راځي تر څو چي درې حيضه ورځي . کله چي له دريم حيض څخه ووزي له ميړه څخه بيليږي .
س : که له ميړه او مايني څخه يو مسلمان سو د کفر له هيواد څخه د اسلام هيواد ته ولاړی کوم وخت ئې په منځ کي بيلتون راځي ؟
ج : يوازي داسلام هيواد ته تللو سره ئې په منځ کي بيلتون راځي کوم بل شي ته نه کتل کيږي .
س : که يوه ښځه د کفر په هيواد کي مسلمانه سول او د اسلام هيواد ته ئې هجرت وکړی او ميړه ئې په هغه ځای کي وو ، عده پر لازمه ده ؟
ج : پر هغې عده نسته ، د ابو حنيفه رح په نزد په هغه وخت کي نکاح کولای سي ، دا په هغه وخت کي چي حامله نه وي ، که حامله وه تر هغه وخت پوري نکاح نه ده ورته روا تر څو کوچني ئې پيدا کيږي .
س : که له ميړه او مايني څخه يو له اسلام څخه مرتد سو (له اسلام څخه وگرځيدی ، (نعوذ بالله) کوم وخت ئې په منځ کي بيلتون راځي ؟
ج : په هغه وخت کي ئې په منځ کي بيلتون راځي او دغه بيلتون طلاق نه گڼل کيږي .
س : په دغه وخت کي مهر څه حکم لري ؟
ج : که ميړه مرتد سوی وو او جماع ئې ورسره کړې وه پوره مهر ئې حق کيږي او که ئې جماع نه وه ورسره کړې نيم مهر ئې حق کيږي .او که ښځه مرتده سوې وه که تر جماع مخکي وو مهر ئې حق نه کيږي او که تر جماع وروسته وو مهر ئې حق کيږي .
س : که مسلمانان ميړه او ماينه يوځای مرتد سول (نعوذ بالله) ورسته بيرته يوځای مسلمانان سول بيلتون په دغه صورت کي څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کې ئې په منځ کې بیلتون نه کیږي او دوی پر خپله نکاح پاته دي .
س : که یو سړی له اسلام څخه مرتد سو یا یوه ښځه له اسلام څخه مرتده سول (والعیاذ بالله) او دوی د نکاح کولو اراده درلودل د هغوی نکاح څه حکم لري ؟
ج : مرتد سړی نه مسلمانه ښځه په نکاح کولای سي نه مرتده ښځه نه اصلي کافره ، دغه رنګه د مرتدې ښځې سره نه مسلمان سړی نکاح کولای سي نه کافر نه مرتد .
س : که میړه او مانینه دواړه کافران وه د کفر په هیواد کې وه ، له هغوی څخه یو د مسلمانانو له خوا ونیول سو او د اسلام هیواد ته راوړل سو کوم وخت ئې په منځ کې بیلتون راځي ؟
ج : کوم وخت چې د اسلام هیواد ته راوړل سي په منځ کې ئې بیلتون راځي ، که دواړه یوځای ونیول سي او د اسلام هیواد ته راوړل سي په منځ کې ئې بیلتون نه راځي .

له مور او پلار څخه چې کوم یو ښه وو کوچنی د هغه تابع ګڼل کیږي

س : که یو هلك وزیږیدی پلار ئې مسلمان وو او مور ئې مسلمانه نه وه په دین کې د کوم یوه تابع ګڼل کیږي ؟
ج : د پلار تابع ګڼل کیږي ، که له میړه او مایني څخه یو مسلمان سو او دوی یو کوچنی درلودی کوچنی د هغه تابع ګڼل کیږي او د هغه په اسلام سره مسلمان ګڼل کیږي .
س : که یو کوچنی وزیږیدی ، له مور او پلار څخه ئې یو له اهل کتاب څخه وو یو د اور عبادت کونکی وو کوچنی د چا تابع ګڼل کیږي ؟
ج : کوم یو چې له اهل کتاب څخه وي د هغه تابع ګڼل کیږي ، د دې لپاره قانون دا دی چې هلك په مور او پلار کې د هغه یوه تابع ګڼل کیږي کوم یو چې په دوی کې د دین په حیث ښه وي .

فائده

۱:- که یو کافر بیله شاهدانو یا د یو بل کافر په عده کې نکاح وکړل او د دوی په دین کې دا روا وه . وروسته مسلمانان سول پر هغه نکاح پاته کړل کیږي بلې نکاح ته ضرورت نه لري .
۲:- که د اور عبادت کونکي د خپلې مور یا لور سره نکاح وکړل وروسته مسلمانان سول سره بیل دي کړل سي .

د رضاع (تی رودلو) کتاب

س : د رضاع مده کوم چي تر هغه وروسته تی ورکول جائز نه وي څو مياشتي ده ؟
ج : د ابو حنيفه رح په نزد د رضاع مده ديرش مياشتي ده او د صاحبينو رح په نزد دوه کاله ده (۱) .
س : په رضاع سره کوم حکم اړه لري ؟
ج : که رضاع په خپله مده کي وي ، د ذکر سوو دوو قولو په اختلاف سره ، که لږ وي که ډيره په هغه سره د دوو تی رودونکو کوچنيانو او تی رودونکی هلك او تی ورکونکي ښځي او د تي ورکونکي ښځي اصول (مور او پلار او له هغه څخه لوړ) او فروع (زوی او لور او له هغه څخه کښته) دغوټولو په منځ کي نکاح حراميږي. الله تعالی د محرماتو ښځو په بيان کي تی ورکونکي مندي او تی ورکړل سوی خوندي ذکر کړي دي او نبي ﷺ ويلي دي : الله له تي رودلو څخه هغه ښځي حرامي کړي دي کوم چي له نسب څخه ئې حرامي کړي دي (۲) .
س : که يوې ښځي د رضاع له مدې څخه وروسته يو هلك يا نجلی ته تی ورکړي څه حکم ئې دی ؟
ج : د رضاع د مدې تر ختميدلو وروسته تی ورکول جائز نه دي او کله چي مده ئې ختمه سي په هغه سره حرمت نه راځي
س : د رضاع د حرمت احکام په تفصيل سره بيان کړئ .
ج : په راتلونکو مسائلو سره ځان پوه کړه او ياد ئې کړه .
۱:- که يو هلك او نجلی د يوې ښځي له تي څخه تی ورودي د دوی په منځ کي نکاح حراميږي (۳) .

---

(۱) په " فتح القدير" کي ذکر سوي دي : ډير صحيح د دوی دوو قول دی چي د نکاح د حرمت لپاره هم بر دوو کالو کفايت وسي ، طحاوي هم په دغه قول سره عمل کړی دی ، " البحر الرائق ۳-۲۲۹" .
(۲) مسلم ئې روايت کړی دی .

۲ :- کومه نجلۍ چې تی ورکړل سوی وي هغه ته د تي ورکونکي ښځي له اولاد څخه د هيڅ يوه سره نکاح کول روا نه دي .

۳ :- که يوې ښځي يوې کوچنۍ ته تی ورکړی دغه کوچنۍ د هغې پر ميړه او د هغې پلرانو او زامنو حراميږي او هغه ميړه چې د هغه له کبله دغي ښځي ته شيدې پيدا سوې دي د تي ورکړل سوي نجلۍ لپاره پلار ګڼل کيږي ، د فقه علماوو دغه مسئلې ته د نر د شيدو مسئله وايي :

٤ :- تی ورکړل سوي هلك ته د تي ورکونکي ښځي د ميړه د خور سره نکاح کول روا نه دي ځکه هغه د ده رضعي عمه ده .

٥ :- سړي لره دا نه ده روا چې د خپل رضعي زوی د مايني سره نکاح وکړي لکه چې د خپل نسبي زوی د مايني سره نکاح ورته روا نه ده .

٦ :- سړي ته دا روا ده چې د خپل رضعي ورور د خور سره نکاح وکړي (۲) لکه چې په ځينو صورتو کي دا ورته روا ده چې د خپل نسبي ورور د خور سره نکاح وکړي . لکه چي د يو هلك د پلار له خوا ورور وي او هغه د مور له خوا خور ولري د هغه د پلار له خوا ورور ته ئې دا روا ده چې د هغې سره نکاح وکړي .

د ص ۳٤۹ پاته برخه : (۳) د " کنز " عبارت داسي دی : دوه تي رودونکي سره حلال نه دي او نه تی ورکړل سوې نجلۍ او د تي ورکونکي ښځي زوی او د هغې د زوی زوی ، د " البحر الرائق " مصنف ويلي دي (۳ - ۲٤٤) : يعني کومه ښځه چې تی ئې ورکړی وي که د هغې زوی د تي ورکړل سوي نجلۍ سره يوځای تی رودلی وي که ډير کلونه له هغه څخه مخکي وي او که له هغې څخه په تي ورکولو کي وروسته وي په دې توګه چې تر هغې څو کاله وروسته زيږيدلی وي ، شامي په خپله حاشيه کي چې پر " البحر " ئې کړې ده ويلي دي : په کار دا وه چې تر دې خبري (او که له هغې څخه په تی ورکولو کي وروسته وي) وروسته ئې دا خبره زياته کړې وای يا ئې له سره تی ورکړی نه وي د دې لپاره چې د چا په ګمان کي دا خبره نه سي پيدا چې د حرمت لپاره د هغې ښځي خپل زوی ته تی ورکول شرط دی سره له دې چې شرط نه دی آه .

(۲) د " الکنز " مصنف ويلي دي د ورور خور که رضعي وي که نسبي روا ده ، د " البحر " مصنف ويلي دي : دغه قول (رضعي) له مضاف او مضاف اليه هر يوه سره او د دواړو سره اړه پيدا کولای سي د اول صورت داسي کيږي چې نسبي ورور ئې دی او د هغه رضعي خور وي او د دوهم صورت داسي دی چې رضعي ورور ئې وي او دهغه نسبي خور وي او دريم ښکاره دی چي رضعي ورور ئې وي او د هغه رضعي خور وي

س : د محرماتو په بيان کي تاسي ذکر کړل چي له نسب څخه کومه ښځه حرامه وي له رضاع څخه هم هغه حرامه ده مګر يو څو ښځي له دغه حکم څخه وتلي دي ، موږ غواړو چي دغه يو څو وتلي ښځي وپيژنو .

ج : راتلونکي صورتونه له دغه حکم څخه وتلي دي :

۱- د رضعي خوردمور سره نکاح روا ده او د نسبي ورور د مور سره نکاح نه ده روا (۱) .

۲- د رضعي زوی د خور سره نکاح روا ده او د نسبي زوی د خور سره نه ده روا (۲) .

۳- د رضعي تره يا عمه د مور سره نکاح کول روا دي او د نسبي سره نه دي روا (۳) .

س : که د دوو ښځو شيدي سره ګډي سوې او يو هلك يا نجلۍ ته ورکول سوې په کوم يوه سره حرمت اړه لري ؟

ج : ابو يوسف رح ويلي دي په هغه شيدو پوري حرمت اړه لري کومي چي ډيري وي او محمد رح ويلي دي په دواړو سره اړه لري .

س : که پيغلي ښځي ته شيدي پيدا سوې او يو هلك يا نجلۍ ته ئې تی ورکړی هغه څه حکم لري ؟

ج : په هغه سره حرمت پيدا کيږي .

س : که سړي ته شيدي پيدا سوې او يو هلك يا نجلۍ ته ئې تی ورکړی په هغه سره حرمت اړه لري ؟

ج : په هغه سره حرمت اړه نه لري .

س : که يو هلك يا نجلۍ د پسه شيدې ورودلې هغه څه حکم لري ؟

---

(۱) په " شرح الوقايه " کي ذکر سوي دي : له رضاع څخه هغه ښځي حرامي دي کومي چي له نسب څخه حرامي وي بيله د خور يا ورور له مور څخه ځکه د نسبي خور يا ورور مور خپله مور ده يا د پلار مابنه ده او هغه دواړي حرامي دي او رضعي داسي نه دي . او په دغه کي درې صورتونه داخل دي ، د نسبي خور يا ورور رضعي مور ، د رضعي خور يا ورور نسبي مور او د رضعي خور يا ورور رضعي مور .

(۲) ځکه د نسبي زوی خور يا د هغه سړي خپله لور کيږي يا د هغه د مابنې لور کيږي او هر صورت چي وي د هغې د مور سره ئې جماع کړې ده او په رضاع کي داسي نه ده . له " شرح الوقايه " څخه .

(۳) ځکه د نسبي تره يا عمه مور يا د پلار د پلار ښځه ده چي هغه جماع ورسره کړې ده يا د مور د پلار ښځه ده چي هغه جماع ورسره کړې ده ، په رضاع کي داسي نه ده ، په دغه ټولو کي درې صورتونه مه هيروه ، له " شرح الوقايه " څخه .

ج : هغه رضاع نه ګڼل کیږي .

س : که یو سړي یو لویه ښځه په نکاح کړل او یوه ئې کوچنۍ د تي نجلۍ په نکاح کړه او لويي ښځي کوچنۍ نجلۍ ته تی ورکړی د دغه تي ورکولو څه حکم دی ؟

ج : دواړې پر حرامیږي

س : په دغه صورت کي مهر څه حکم لري .

ج : که ئې د لويي سره يوځايوالی نه وو کړی هغه لره مهر نسته او کوچنۍ لره نیم مهر سته ، که لويي په قصد سره نکاح فاسده کړې وه د هغه تاوان به له لويي څخه اخلي او که ئې په قصد سره نه وه فاسده کړې پر هغې هيڅ شيء نسته .

س : رضاع څرنګه ثابتیږي ؟

ج : د دوو سړيانو يا يوه سړي يوې ښځي په شاهدي سره ثابتيږي ، يوازي د ښځو شاهدي په نکاح کي کفايت نه کوي .

س : که د يوې ښځي شيدې د اوبو سره ګډي سوې او يو هلك يا نجلۍ وچښلې په هغه سره حرمت ثابتيږي ؟

ج : که شيدې زياتي وې حرمت په ثابتيږي او که اوبه زياتي وې نه په ثابتيږي .

س : که د يوې ښځي شيدې د خوراك سره ګډي سوې د هغه څه حکم دی ؟

ج : که د خوراك سره شيدې ګډي سوې دابو حنيفه رح په نزد په هغه سره حرمت اړه نه لري که څه هم شيدې ډيري وې د صاحبينو رح په نزدکه شيدې ډيري وې حرمت په راځي .

س : که د يوې ښځي شيدې د دواء سره ګډي سوې او يو تی رودونکي هلك وچښلې هغه څه حکم لري ؟

ج : که شيدې ډيري وې په هغه سره حرمت راځي .

س : که يوه ښځه مړه سول شيدې ئې په يو لوښي کي ولوشل سوې وروسته په کوچني وچښل سوې څه حکم لري ؟

ج : په هغه سره حرمت ثابتيږي .

س : که د يوې ښځي شيدې د پسه د شيدو سره ګډي سوې او په يو هلك يا نجلۍ وچښل سوې څه حکم لري ؟

ج : که د ښځي شيدې زياتي وې سره حراميږي او که د پسه شيدې زياتي وې نه ورته حراميږي .

د طلاق کتاب

س: که یو سړي یوه ښځه په نکاح کړل بیا سره جوړ نه وه څه به کوي ؟
ج: الله تعالی امر کړی دی چي یو له بله ښه ګذاره وکړئ . او ویلي ئې دي ﴿ و عاشروهن بالمعروف ﴾ (او په شرعي ډول ګذاره ورسره وکړئ) که دا ممکنه نه وه او د بېلېدلو اراده ئې وکړل د هغه لپاره الله ﷻ د خلاصیدو صورت پیدا کړی دی هغه دا دی چي سړی ښځه طلاقه کړي او له خپلي نکاح څخه ئې وباسي ، په دغه صورت کي سړی طلاق ورکونکی دی او ښځه طلاقه ده .
س: د طلاق لپاره کوم قسمونه سته ؟
ج: طلاق درې قسمونه لري .
۱ :- احسن طلاق .
۲ :- سنت طلاق .
۳ :- بدعت طلاق .
اول : دا دی چي په داسي طهر (پاکي) کي چي جماع ئې نه وي ورسره کړې یو طلاق ورکړي وروسته د عدې تر ختمېدلو پوري جماع نه ورسره وکړي .
دوهم : دا دی چي داسي ښځه وي چي جماع ورسره سوې وي په درو داسي طهرو کي چي جماع نه وي ورسره سوې درې طلاقه ورکړي ، د فقه علماء دغه ته حسن طلاق وایي، په طلاق کي سنت والی له دوو خواوو څخه دی ، په وخت کي او په شمير کي ، د شمير په سنت کي هغه ښځه چي جماع ورسره سوې وي او هغه چي نه وي ورسره سوې دواړي برابري دي او په وخت کي سنت یوازي په هغه ښځه کي پیدا کیږي چي جماع ورسره سوې وي ، هغه دادی چي په داسي طهر کي ئي طلاقه کړي چي جماع ئې نه وي ورسره کړې .
دریم : دا دی چي درې طلاقه یوځای په یوه کلمه سره ورکړي یا په یوه طهر کـــي درې طلاقه ورکړي (۱) کله چي خپلي ښځي ته ئې یو طلاق ورکړی او د هغې سره جماع سوې وه طلاق پر واقع کیږي مګر تر څو چي عده ئې تیریږي ځني بائنه کیږي نه ، که ئې دا وغوښتل چي رجوع ورته وکي او د دې عده نه وي تیره سوې رجوع ورته کولای سي او که

جماع نه وه ورسره سوې په یوه طلاق سره ځني بائنه کیږي ، هغې ته نه په عده کې رج
کولای سي نه وروسته تر عدې ، د دې وضاحت به ان شاء الله وکړو (۱) .

س : که ئې بدعت طلاق ورکړی دغه طلاق څه حکم لري ؟

ج : په هغه سره طلاق واقع کیږي او میړه ګناه کاره دی ځکه د سنت مخالفت ئې وکړی.

س : د حیض په حال کي طلاق واقع کیږي ؟

ج : د حیض په وخت کي طلاق واقع کیږي مګر ممنوع دی ، نو رجوع کول پر لازم دي (۱)
وروسته که ئې خوښه وي په داسي طهر کي دي طلاق ورکي چي په هغه کي ئې جماع نه
وي ورسره کړې ، دا که جماع ورسره کړل سوې ښځه وه ، که ئې داسي ښځه چي جماع
نه وه ورسره سوې په حیض کي طلاقه کړل روا دي .

س : د حمل په وخت کي طلاق څه حکم لري ؟

ج : د حمل په وخت کي طلاق روا دی که څه هم تر جماع وروسته وي .

س : که د یو سړي داسي ښځه وه چي جماع ئې ورسره کړې وه او وئې غوښتل چي د
سنت مطابق درې طلاقه ورکړي څرنګه به کوي ؟

ج : په داسي طهر کي دي یو طلاق ورکي چي په هغه کي ئې جماع نه وي ورسره کړې ،
بیا دي دغه رنګه په دوهم طهر کي یو طلاق ، بیا دي دغه رنګه په دریم طهر کي یو
طلاق ورکړي .

د ص ۳۵۳ پاته برخه : (۱) دغه رنګه په یوه طهر کي دوه طلاقه ورکول هم بدعت دی ، په یوه بائن طلاق
کي اختلاف دی ، په " الاصل " کي ئې ویلي دي : دا د سنت مخالفت دی ځکه د خلاصیدلو لپاره د بو
زائد صفت ضرورت نسته چي بائن والی دی ، او د " زیادات " په روایت کي ذکر سوي دي چي مکروه نه
دی ځکه ژر خلاصیدلو ته ضرورت سته له " الهدایې " څخه . ابن الهمام په " فتح القدیر " کي ویلي دي :
بدعت طلاق هغه دی چي د دواړو قسمو سنت طلاق څخه جلا وي ، هغه دا چي یا په یوه کلمه سره درې
طلاقه ورکړي یا په یوه طهر کي جلا جلا درې طلاقه ورکړي یا په دغه ډول دوه طلاقه ورکړي یا یو طلاق
په حیض کي یا په داسي طهر کي ورکړي چي په هغه کي ئې جماع ورسره کړې وي یا ئې له هغه څخه په
مخ کي حیض کي جماع ورسره کړې وي ، که ئې دغه رنګه طلاق ورکړی طلاق واقع کیږي او دی ګنا
کاره دی آه

(۱) د غیر المدخول بها د طلاق په باب کي او د رجوع په باب کي .

(۲) که طلاق رجعي وو .

س: كه يو سړي وغوښتل چي خپله ښځه د سنت مطابق طلاقه كړي مګر هغې ته حيض نه ورتلى څرنګه به كوي ؟

ج: په يوه مياشت كي دي يو طلاق وركړي ، كله چي يوه مياشت تيره سول بل طلاق دي وركړي ، كله چي بله مياشت تيره سي بل طلاق دي وركړي .

س: كه يوې ښځي ته حيض نه ورتلى او ميړه ئې تر جماع وروسته بيله وخت تېرېدلو طلاقه كړي دغه طلاق روا دى ؟

ج: دغه روا دى .

س: كه د يو سړي ښځه حامله وه او ميړه ئې وغوښتل چي د سنت مطابق درې طلاقه وركړي د هر طلاق په منځ كي به څومره فاصله وركوي ؟

ج: د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد به د هرو دوو طلاقو په منځ كي يوه مياشت فاصله وركوي ، محمد رح ويلي دي : د سنت مطابق طلاق صرف يو دى .

س: د هر ميړه طلاق واقع كيږي ؟

ج: د هر ميړه طلاق واقع كيږي چي عاقل او بالغ وي ، د كوچني او ليوني او بيده طلاق نه واقع كيږي .

س: د نشه او مجبور كړل سوي طلاق واقع كيږي ؟

ج: د هغو دوو طلاق واقع كيږي (۱) .

---

(۱) دا په هغه وخت كي كه ئې نشه كونكى شيء وڅښى او په يو داسي سبب سره ئې فهم ولاړى چي هغه ګناه وه ، په دغه وخت كي د هغه د زجر لپاره د ده عقل پاته ګڼل كيږي ، نو كه ئې يو شيء وڅښى او له هغه څخه ئې پر سر درد سو او د سر د درد له كبله ئې فهم ولاړى موږ وايو چي طلاق ئې نه واقع كيږي له "الهدايې" څخه . په " البحر الرائق ۳-۲۶۶ " كي ئې ويلي دي : ځكه كله چي شارع په امر او نهي سره په فرعي احكامو كي د نشې په حالت كي دى مخاطب وګرځوي نو موږ پوه سولو چي دى ئې د عاقل سړي په شان ګڼلى دى د دې لپاره چي په فرعي احكامو كي پر ده سختې راسي ، د نشه تفسير علماوو په دغه ځاى كي د ابو حنيفه رح د مذهب مطابق په هغه چا سره كړى دى چي سړى او ښځه او اسمان او مځكه نه سره پيژني ، كه ئې دومره فهم درلودى چي د هغه له كبله دى په يو حكم سره مكلف كيدلاى سواى په دغه وخت كي د په سد كي سړي په شان ګڼل كيږي ، نشه ئې مطلق ذكر كړي هغه څوك چي په زور سره نشه كړل سوى وي يا د مجبورى له كبله نشه كړل سوى وي دواړه په دغه كي شامل دي ، پـــه "الخلاصه" كي ئې په قاطع توګه ويلي دي چي طلاق ئې واقع كيږي په دې دليل سره چي دفهم تلل په يو

س : د ګنګي طلاق څه حکم لري ؟

ج : د هغه طلاق په اشاره سره واقع کيږي .

س : که يو مريي يوه ښځه د بادار په اجازه سره په نکاح کړل څوك به ئې طلاقوي ؟

ج : په نکاح کونکی يعني مريی به ئې طلاقوي ، کله چي طلاقه ئې کړي طلاق ئې واق کيږي د بادار طلاق د مريي پر ماينې نه واقع کيږي .

د طلاق د واقع کولو باب

س : تاسو ذکر کړل چي تر رجعي طلاق وروسته رجوع روا ده ، داسي طلاق سته چي تر هغه وروسته رجوع نه وي روا ؟

ج : طلاق پر درې قسمه دی (۱) :

د ص ۳۵۵ پاته برخه : داسي عمل سره وسول چي په اصل کي ممنوع دی که څه هم د مجبورۍ له کبله روا دی مګر د منع سبب پر ځای دی نو د سبب پر ځای والی د طلاق په هکله ثابتيږي . دغه رنګه هغه څوك په دغه کي داخل دی چي هغه شربتونه وچښي چي له دانو او عسلو څخه جوړ سوي وي دغه د محمد رح قول دی او دوهم امام ويلي دي طلاق ئې نه واقع کيږي ، په " فتح القدير " کي ئې ويلي دي: د محمد رح په قول سره فتوی کيږي ځکه د هر د چښلو د شي نشه حرامه ده آه . دغه رنګه په دې کي هغه څوك داخل دی چي د چرسو په خوړلو سره ئې فهم ولاړ سي او خپله ښځه طلاقه کړي ، هغه ته د ټنب بلګونه ويل کيږي د دغه سړي د طلاق پر واقع والي د حنفي او شافعي مذهب علماوو اتفاق کړی دی ځکه هغوی د هغه په حرمت سره او د هغه خرخونکو ته د ادب ورکولو فتوی کړې ده تر داسي اندازې چي هغوی ويلي دي : څوك چي ئې حلال ګڼي هغه زنديق دی دغه رنګه په " المبتغی " کي ذکر سوي دي او محقق عالم ابن الهمام ئې اتباع کړې ده ، له هغو کسانو څخه چي د چرسو ، بنګو او افيون په حرمت سره ئې فتوی کړې ده يو حدادي دی د " الجوهره " د کتاب د" باب الاشربه " په آخر کي او په څرګنده توګه ئې ويلي دي چي خوړونکي ته تعزير (سزا) ورکول کيږي ، دغه رنګه په دغه کي هغه څوك داخل دی چي عقل ئې په بنګو او تارياکو سره ولاړسي که هغه دغه شيان د ساعت تيري او قصداً آفتو راوستلو لپاره استعمال کړي طلاق ئې واقع کيږي ځکه هغه ګناه ده او که ئې د دواء لپاره استعمال کړي سو د سر د درد له کبله ئې فهم ولاړی او خپله ښځه ئې طلاقه کړل طلاق ئې نه واقع کيږي ځکه د فهم تلل د سر درد ته منسوبه کيږي شرابو ته نه منسوبه کيږي دغه رنګه په " فتح القدير " کي ذکر سوي دي . له دغه څخه څرګنديږي چي بنګي او تارياك حرام دي مګر د دواء لپاره حرام نه دي او په " البزازيه " کي ذکر سوي دي : له دليل څخه دا څرګنديږي چي حرام دي مګر د دواء لپاره نه دي حرام ، ختم سول د " البحر " خبره په مختصره توګه .

يو رجعي طلاق دی چي تر هغه وروسته په عده کي رجوع روا ده ، يو بائن طلاق دی چي تر هغه وروسته بيله نوي نکاح څخه رجوع نه ده روا او يو مغلظ طلاق دی چي تر هغه وروسته د دغه ميړه سره نکاح تر هغه وخت پوري روا نه ده تر څو چي ښځه تر عدي وروسته بل ميړه په نکاح کوي او دوهم ميړه جماع ورسره کوي وروسته هغه څني مړ کيږي يا ئې طلاقوي او عده ئې تيريږي .

س : رجعي او بائن طلاق څرنګه واقع کيږي ؟

ج : د لفظو په حيث طلاق دوه قسمه دی :-

١ :- صريح

٢ :- کنايي

صريح دا دی چي سړی خپلي ښځي ته ووايي : ته طلاقه يې يا طلاقه کړل سوې يې يا مي طلاقه کړې يې ، په دغه سره رجعي طلاق واقع کيږي او صرف يو طلاق واقع کيږي که څه هم د زيات نيت وکي ، په دغو الفاظو کي د طلاق د نيت ضرورت نسته ، د طلاق له صريح الفاظو څخه دا لفظونه دي (أنت الطلاق أنت طالقُ الطلاق ، أنت طالق طالقاً) که ئې دغه الفاظ وويل او نيت ئې نه وو کړی يو رجعي طلاق واقع کيږي ، که ئې د دوو نيت کړی وو يوازي يو واقع کيږي او که ئې د درو نيت کړی وو دري واقع کيږي ، که ئې ورته وويل : ته طلاقه يې ، ته طلاقه يې دوه ځله دوه رجعي طلاقه واقع کيږي الله تعالی ويلي دي : ﴿ اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَاِمْسَاكٌ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ ﴾ (طلاق دوه ځله دی يا په شرعي توګه تينګول دي يا په احسان سره ايله کول دي) .

دوهم قسم يعني کنايي (هغه الفاظ چي په طلاق کي صريح نه وي) په هغو سره يوازي په نيت يا د حال په نښه سره طلاق واقع کيږي (٢) .

د ص ٣٥٦ پاته برخه : (١) د طلاق دغه تقسيم د هغه د تاثير له وجهي دی او لمړی تقسيم له دې وجهي څخه وو چي د سنت موافق دی که مخالف .

(٢) د حال د نښي څخه مطلب ظاهري حالت دی چي په هغه سره د ده مقصد ښکاره کيږي ، يو له هغو څخه دا دی چي د طلاق مخکي ذکر سوی وي څرنګه چي په "المحيط" کي ذکرسوي دي ،که ميړه مايني ته وويل ته طلاقه يې که ته غواړې او ته ئې غوره کړه هغې وويل ومي غوښتې او غوره مي کړې بيله نيت څخه دوه طلاقه واقع کيږي يو په غوښتلوسره يو په غوره کولو سره ځکه د صريح طلاق ذکر مخکي

س : په دغه کي موږ ډېر وضاحت غواړو :

ج : کنايي الفاظ پر دوه قسمه دي : له هغو څخه درېځ داسي دي چي په هغه سره رجعي طلاق واقع کيږي او صرف يو طلاق په واقع کيږي که څه هم د دوو يا درو نيت وکړي هغه دغه قولونه دي اِعْتَدِّيْ (عده تيره کړه) ، اِسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ (خپل رحم پاك کړه) او أَنْتِ وَاحِدَةٌ (ته يوه يې) ، نور کنايي الفاظ داسي دي چي په هغو سره يو بائن طلاق واقع کيږي ، که ئې د درو نيت کړی وو درې واقع کيږي او که ئې د دوو نيت کړی وو يو واقع کيږي ، دغه الفاظ لکه چي ووايي أَنْتِ بَائِن وَ بتّة(۱) وَبَتْلَة (ته پرې يې)، حبلك علی

د ص ۳۵۷ پاته برخه : سوی دی " البحر الرائق ۳-۳۲۳ " . د " الدر المختار " مصنف ويلي دي : د فقهاوو په نزد کنايي طلاق هغه لفظ دی چي د طلاق لپاره نه وي ايښول سوی او د طلاق او بلې معنی احتمال لري ، د قاضي په فيصله کي په کنايي الفاظو سره يوازي په نيت او د حال په نښه سره طلاق واقع کيږي ، د حال نښه د طلاق ذکر يا غضب دی ، شامي په " رد المحتار " کي ويلي دي : د قضاء تکی ئې څکه زيات کړی چي بيله نيت څخه د دين په حيث که څه هم د حال نښه وي نه واقع کيږي ، او دا خبره (هغه د طلاق ذکر دی) هغه قول ته اشاره ده چي په " النهر " کي ذکر سوی دی چي د حال په نښه کي د قول نښه هم داخله ده نو د طلاق د ذکر کولو تفسير داسي کيږي : چي د طلاق غوښتنه وکړي يا د طلاق واقع کول مخکي سوي وي لکه چي ووايي : درې عدې تيره کړه ، د هغه مخکي ئې ويلي دي : د طلاق ذکر دا دی چي دا يا يو بيګانه سړی د طلاق غوښتنه وکړي .

(۱) بتّة له بَتَّهُ بَتًّا څخه مشتق دی چي د پرې کولو په معنی سره دی ، د هغه سره د اَلْبَتَّ (پرې سو) لفظ استعماليږي لکه چي انقطع او انکسر د قطع او کسر سره استعماليږي ، داسي ويل کيږي : بت الرجل طلاق امرأته يعني سړي د خپلي ښځي طلاق پرې کړی نو دا پرې کړل سوې ده په اصل کي ئې مطلب دا دی چي طلاق ئې پرې کړل سوی دی او داسي ويل کيږي : طلقها طلقة بتة و ثلاثا بتة کله چي ئې له رجوع څخه پرې کړي ، أبت طلاقها په الف سره هم په يو لغت کي ويل کيږي بتلة له بتله بتلاً څخه مشتق دی يعني پرې ئې کړی او بېل ئې کړی ، دا قول خلية له دغو الفاظو څخه مشتق دی : خلت المرأة من مانع النکاح خلواً فهي خلية أو نساء خليات او ناقة خلية يعني له څنګون بند څخه ايله ده کوم ځای چي وغواړي څر کوي ، دا قول (برية) احتمال لري چي شر ته نسبت وي يعني له ښه خوی او مسلمانانو له کارو څخه بيزاره يې . او دا احتمال هم لري چي خير ته ئې نسبت وي يعنـي له دنيا او بهتان څخه بيزاره

غاربك (رسۍ دي پر اوږه ده) ، الحقي بأهلك (خپل اهل ته ولاړه سه) ، أنت خلية أو برية (ته ايله يې يا بيزاره يې) دغه رنګه دغه الفاظ : وهبتك لأهلك (خپل اهل ته مي وربخښلې يې) ، اختاري (ته غوره کړه) ، فارقتك (زه د ر څخه جلا سوی يم) ، أنت حرة (ته ازاده يې) دغه رنګه دغه قول تقنعي (پوړنۍ پر سر کړه) ، استتري (ځان پټ کړه) ، اغربي (ليره سه) ، ابتغي الأزواج (مېړونه تلاش کړه) په دغو الفاظو سره که ئې د طلاق نيت نه وو کړی طلاق نه واقع کيږي مګر که ئې د طلاق د ذکر په وخت کي ويلي وي د قاضي په فيصله کي طلاق واقع کيږي (۱) او د ده او د الله تعالی په منځ کي يوازي هغه وخت واقع کيږي چي نيت ئې کړی وي ، که د طلاق د ذکر په وخت کي نه وو او دوی پـه

د ص ۳۵۸ پاته برخه : يې او دا احتمال هم لري چي له نکاح څخه بيزاره يې ، په " الكافي " کي ذکر سوي دي : برية له براءة څخه مشتق دی له دې کبله همزه ورسره ويل لازم دي . دا قول (حبك على غاربك) يو مثال دی ځکه دا د هغه حالت سره مشابهت دی چي له خو شيانو څخه فهميږي ، هغه د هغه اوښي هيئت دی چي دا وغوښتل سي چي ايله سي او څر کوي او د دې سره رسۍ وي ، رسۍ ئې پر اوږه ورواچول سي ، اوږه ئې د بوك او غاړي مابين ته ويل کيږي د دې لپاره که ئې رسۍ لوېدلې وي دا په هغه سره بنده نه سي ، نو ددغسي حالت سره ئې د ښځي ايله کول له نکاح يا کار يا تصرف څخه مشابه کړی ، په " المصباح " کي ذکر سوي دي : دغه لفظ د ښځي لپاره استعمال سوی دی او له هغه څخه مطلب طلاق دی يعني لکه اوښ چي ځي کوم ځای چي ته غواړې هلته ولاړه سه . دا قول (تقنعي) په " المعراج " کي ئې ويلي دي له قناعت څخه مشتق دی او داسي ويل سوي دي له قناع څخه مشتق دی يعني پوړنۍ ، دا قول (اغربي) له عزبة څخه مشتق دی په عين سره يا له غروب څخه مشتق دی په غين سره هغه ليري والي ته ويل کيږي يعني ليري سه ځکه طلاقه کړې مي يې يا د خپل اهل د زيارت لپاره او دا قول (ابتغي الأزواج) يعني که درته ممکن وي او روا دي يا د ښځو تلاښ وکړه ځکه د زوج لفظ په نر او ښځو دواړو کي استعماليږي يا مېړونه تلاښ کړه ځکه طلاقه کړې مي يې او زما رنګه بل سړی په نکاح کړه ، له " البحر الرائق " څخه په مختصره توګه .

(۱) يعني د بندګانو په منځ کي د هغه مطلب دا دی چي که دی ووايي د طلاق نيت مي نه وو کړی د قاضي په فيصله کي ئې تصديق نه کيږي دا په هغو الفاظو کي چي د جواب احتمال لري او د ردولو احتمال نه لري لکه دا قول ، خلية ، برية ، بائن ، بتة ، اعتدي ، امرك بيدك ،اختاري له " الهدايه " څخه . د جواب مطلب دا دی چي ښځه د طلاق غوښتنه وکړي مېړه ئې د دې خبره قبوله کړي او د ردولو مطلب دا دی چي د دې خبره رد کړي او خبره ئې قبوله نه کړي .

غضب (١) يا جګړه کي وه هر هغه لفظ چي د هغه څخه مطلب ښکنځل مقصد نه وي په هغه سره طلاق واقع کيږي او کوم لفظ چي په هغه سره مقصد ښکنځل وي په هغه سره يوازي هغه وخت طلاق واقع کيږي چي د طلاق نيت ئې کړی وي .

نو خلاصه خبره دا ده چي رجعي طلاق په صريح لفظ سره واقع کيږي او اعتدي ، استبرئي رحمك ،أنت واحدة له صريحو الفاظوڅخه ګڼل کيږي اوبائن طلاق هغه دی چي په کنايي الفاظو سره وي او په هغه سره ئې د طلاق نيت کړی وي يا هلته د حال نښه وي ، په رجعي طلاق کي چي عده تيره سي او رجوع په کښښي ونه کړي بائن ګرځي او مغلظ طلاق هغه دی چي په درو طلاقو سره وي که په درو طهرو کي وي که په درو مياشتو کي وي او

(١) د "البحر الرائق ٣-٣٢٦ " مصنف ويلي دي د " الکنز " مصنف دغه خبره مطلق ذکر کړې ده ته ئې اشاره وکړل چي دحال په ښوونه په ټولو کناياتو سره طلاق واقع کيږي هغه په دغه کي دقدوري او سرخسي متابعت کړی دی چي په" المبسوط " کي ئې ويلي دي ، فخر الاسلام اونورو مشايخو ئې مخالفت کړی دی هغوی ويلي دی دطلاق څني کنايي الفاظ داسي دي چي په هغوی سره يوازي په نيت سره طلاق واقع کيږي د خلاصې په توګه دهغه قاعده دا ده چي د خوښي په وخت کي بيله طلاق غوښتلو ئې په ټولو الفاظو کي تصديق کيږي چي طلاق مي نه وو مطلب او د خوښي په وخت کي چي په هغه کي د طلاق غوښتنه سوې وي ئې په هغو الفاظو کي تصديق کيږي چي دردولو احتمال لري لکه اخرجي ،اذهبي ، اغربي ، قومي ، تقنعي ، استتري ، تخمري او د غضب په وخت کي چي د طلاق غوښتنه نه وي سوې ئې په هغو الفاظو کي تصديق کيږي چي د ښکنځلو احتمال لري چي دی ووايي صرف ښکنځل او ردول مي مطلب وه لکه خلية ، برية ، بتة ، بتلة ، بائن ، حرام او داسي نور په هغو الفاظوکي ئې تصديق نه کيږي کوم چي يوازي د جواب احتمال لري لکه اعتدي ،استبرئي رحمك ، أنت واحدة ، اختاري ،أمرك بيدك ، کوم الفاظ چي يوازي د جواب احتمال لري پنځه دي څرنګه چي په " غايه البيان" کي ذکر سوي دي د غضب په وخت کي چي د طلاق غوښتنه سوې وي په هغه الفاظو کي چي يوازي د جواب لپاره وي د نه تصديق لپاره دوه سببه دي د طلاق ذکر او غضب او په هغه الفاظو کي چي يوازي د ښکنځلو لپاره وي د هغه د ثابتولو لپاره يوازي يو سبب دی نو حکمونه نه بدليږي . په دغه سره څرګنده سول چي ټوله درې حالته دي : يو مطلق طلاق ، يو د طلاق د ذکر حالت ، يو د غضب حالت دی ،د مطلق څخه مطلب دا دی چي د غضب او طلاق د ذکر څخه خالي وي او کنايي الفاظ درې قسمه دي يوهغه قسم چي يوازي د جواب لپاره کيدلای سي (د دې د طلاق د غوښتني د جواب لپاره) او د ښکنځلو او ردولو لپاره نه سي کيدلای بل داسي قسم دی چي د جواب اوردولو لپاره کيدلای سي اود ښکنځلو لپاره نه سي کيدلای او بل داسي قسم دی چي د جواب او ښکنځلو لپاره کيدلای سي او د ردولو لپاره نه سي کيدلای آه .

که په يوه طهر کي په يوه کلمه يا درو کلمو سره وي يا د کنايي په لفظ سره د درو طلاقو نيت وکړي بيله هغو الفاظو څخه چي له کنايي الفاظو څخه وايستل سول .
س : که ميړه طلاق ته يو قسم د زياتوالي صفت ورکړي په دغه صورت کي کوم طلاق واقع کيږي ؟
ج : په هغه سره بائن طلاق واقع کيږي نو که ئې وويل أنت طالق بائن (ته طلاقه يې پرې يې) يا ته طلاقه ئې سخت طلاق يا فاحش طلاق يا د شيطان طلاق يا د بدعت طلاق يا ئې ورته وويل : ته طلاقه يې لکه غر يا د کور د ډکوالي په قدر (۱) په دغو الفاظو سره ئې ښځه بائنه کيږي او تر هغه وروسته رجوع نه ده ورته روا .
س : که ئې طلاق د ښځي ځينو اندامو ته منسوبه کړي په هغه سره طلاق واقع کيږي ؟
ج : که ئې ټوله ښځي ته يا يو داسي اندام ته چي په هغه سره د ټوله جسم څخه تعبير کيږي طلاق منسوبه کړی طلاق واقع کيږي لکه چي ووايي : ته طلاقه يې يا دي غاړه طلاقه ده يا دي روح طلاق دی يا دي بدن طلاق دی يا دي جسم طلاق دی يا دي شرمځای طلاق دی يا دي مخ طلاق دی‌اوکه ئې ورته وويل لاس دي طلاق دی يا دي پښه طلاقه ده طلاق نه واقع کيږي ځکه په لاس او پښه سره د ټوله بدن څخه تعبير نه کيږي .
س : که ميړه په طلاق کي يو خاص اندام نه کړی ذکر بلکه يو ګډ جزء ئې ذکر کړی د مثال په توګه داسي ئې وويل : نيمی دي طلاق دی يا دي دريمه طلاقه ده په هغه سره طلاق واقع کيږي ؟
ج : هو په هغه سره طلاق واقع کيږي .
س : که ئې طلاق نيمی کړی يا ئې درې حصې کړی د مثال په توګه داسي ئې وويل : ته په نيم طلاق سره طلاقه يې يا په دريمه حصه سره د طلاق طلاقه يې يا د طلاق په دوو دريمو سره طلاقه يې دغه طلاقول څه حکم لري ؟
ج : په دغه سره يو پوره طلاق واقع کيږي ځکه طلاق نه ويشل کيږي .

طلاق ته په شرط سره اړه ورکول

س : که يو سړي يوې ښځي ته وويل : که مي ته پــه نکاح کړې طلاقه يې دغــه شرطيــه

(۱) په " الهدايه " کي ذکر سوي دي : که ئې ورته وويل ته طلاقه ئې په سخت طلاق سره يا لکه زر يا د خوني د ډکوالي په قدر هغه يو بائن طلاق ګڼل کيږي مګر که ئې د درو نيت وکړی درې ګڼل کيږي .

جمله څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي تر نکاح وروسته طلاق واقع کيږي .
س : که ئې طلاق يو شرط ته منسوبه کړي د مثال په توګه خپلي ښځي ته ئې داسي وويل : که ته فلانکي کور ته ننوتلې ته طلاقه يې دغه جمله څه حکم لري ؟
ج : کله چي شرط موجود سي هر شرط چي وي طلاق واقع کيږي مګر که ئې ورته وويل : ته طلاقه يې وروسته ئې په هغه پوري متصل ان شاء الله وويل په دغه شرط سره طلاق نه واقع کيږي .
س : که يو چا بيګانه ښځي ته وويل : که ته دغه کور ته داخله سوې طلاقه يې وروسته ئې هغه په نکاح کړل او هغه کور ته داخله سول په دغه سره طلاقيږي ؟
ج : په دغه صورت کي نه طلاقيږي ځکه تر شرط وروسته طلاق هغه وخت واقع کيږي که قسم اخستونکي د قسم په وخت کي د هغې ښځي د نکاح په توګه مالك وي يا قسم ملکيت ته منسوبه کړي .
س : د شرط کوم الفاظ دي او د هغوی استعمال څرنګه دی ؟
ج : د شرط الفاظ إن ، إذا ، إذا ما ، متى او متى ما دي نوکه ئې طلاق له دغو الفاظو څخه په يوه لفظ سره کوم شرط ته منسوب کړي د شرط تر واقع کيدلو وروسته طلاق واقع کيږي .
س : د قسم د خلاصيدلو څه مطلب دی ؟
ج : د هغه مطلب دا دی که يو ځل شرط موجود سو په هغه سره طلاق واقع کيږي ، تر دغه وروسته که دوهم ځل شرط موجود سي طلاق دوهم ځل نه واقع کيږي ځکه يو ځل چي شرط موجود سو د هغه تاثير ختم سو .
س : د شرط په الفاظو کي داسي لفظونه سته چي د شرط د وجود د مکرريدلو په صورت کي طلاق هم مکرريږي ؟
ج : هو د کلما (هر ځل) لفظ دی ، که ئې په دغه لفظ سره طلاق يو شرط ته منسوبه کړي د شروط د مکرريدلو په صورت کي طلاق هم مکرريږي .
س : د هغه لپاره يو مثال ذکر کړئ .
ج : که يو سړي خپلي ښځي ته وويل : که دغه کور ته هر ځل ننوتلې ته طلاقه يې ، هغه دغه کور ته ننوتل طلاقيږي وروسته چي ننوزي بيا طلاقيږي وروسته چي ننوزي بيا

طلاقيږي په شريعت کي تر درو ځلو وروسته طلاق نسته نو تر هغه وروسته کوم طلاق نه واقع کيږي ؟
س : په دغه مسئله کي د شرط په تکرار سره درې طلاقه واقع سول وروسته ئې تر بل ميړه وروسته په نکاح کړل او هغه کور ته ننوتل پر هغې کوم طلاق واقع کيږي ؟
ج : هيڅ طلاق نه واقع کيږي .
س : که يو چا وويل هره ښځه چي زه ئې په نکاح کوم هغه طلاقه ده ، هره ښځه چي د ده په ژوند کي دی په نکاح کوي پر هغې طلاق واقع کيږي ؟
ج : هو په خپل ژوند کي چي هره ښځه دی په نکاح کوي پر هغې تر نکاح وروسته طلاق واقع کيږي ځکه ښځه ئې په عامه توګه ذکر کړل نو په هغه کي هره ښځه راځي هر څوك چي وي .
س : که يو چا خپلي ښځي ته وويل : که دغه کور ته داخلې سوې ته طلاقه يې بيا ئې تر شرط مخکي بيله شرط څخه طلاقه کړل ، عده ئې تيره سول وروسته ئې په نکاح کړل او تر دغه نکاح وروسته کور ته داخله سول طلاقيږي ؟
ج : هو طلاقيږي ځکه تر قسم وروسته د ملکيت ختميدل قسم نه باطلوي بلکه د شرط وجود ئې باطلوي کله چي د ده په ملك کي شرط موجود سي قسم خلاصيږي او طلاق واقع کيږي .
س : که ئې طلاق په يو شرط پوري وتړی وروسته ئې تر شرط مخکي بيله شرط څخه طلاقه کړل او هغه ځني بائنه سول وروسته شرط پيدا سو وروسته ئې بيا په نکاح کړل د شرط په وجود سره طلاق واقع کيږي ؟
ج : طلاق نه واقع کيږي ځکه شرط د ده د نه ملکيت په حالت کي پيدا سو او په هغه سره قسم خلاص سو .
س : که يو چا طلاق په يو شرط پوري وتړی وروسته ميړه او مايني د هغه په وجود کي اختلاف وکړی د چا قول قبليږي ؟
ج : د ميړه قول قبليږي مګر نه که مايني د شرط پر وجود شاهدان ودرول .
س : ځيني شيان داسي دي چي يوازي د دې له خوا معلوميږي که ئې په دغه رنګه شيانو پوري طلاق وتړی مثلاً ورته وئې ويل که تا ته حيض درغلی ته طلاقه يې ، که د هغه په وجود کي دوی اختلاف وکړی څرنګه به د دوی په منځ کي فيصله کيږي ؟

ج : په دغسي صورت کي د خپل ځان په هکله د ښځي قول قبليږي .

س : ستاسي د دې قول څه مطلب دی چي د دې په هکله ؟

ج : دا تاسو ته په يو مثال سره څرګنديږي چي موږ به ئې درته بيان کړو هغه دا دی که يو چا خپلي ښځي ته وويل که تاته حيض درغلی ته طلاقه يې او ستا بن هم طلاقه ده هغې وويل : ما ته حيض راغلی دا طلاقيږي او بن ئې نه طلاقيږي مګرکه ئې ميړه تصديق وکړي دواړي طلاقيږي ، دغه رنګه که ئې ورته وويل که ته زما سره مينه لرې يا زما سره بغض لرې ته طلاقه يې هغې وويل زه مينه درسره لرم يا بغض درسره لرم دا طلاقيږي او د دې قول پر دې باندي دليل دی که څه هم داسي شيء ښکاره کړي چي د دې د زړه د خبري خلاف وي مګر پر بل چا د دې تصديق نه کيږي (۱) .

س : که يو چا خپلي ښځي ته وويل : که حيض درغلی ته طلاقه يې يا حيض درغلی حيض ته طلاقه يې دغه شرط څه حکم لري ؟

ج : دغه دوې مسئلې دي ښه ئې وفهموه که ئې ورته وويل که حيض درغلی ته طلاقه يې او دې ويني وليدلې تر څو چي درې شپې او ورځي تيري نه سي طـلاق نه واقـع کيـږي کله چي درې شپې او ورځي پوره سي د وينو د ليدلو له وخت څخه د طلاق په واقع کيدلو سره حکم کيږي ځکه تر درو ورځو کم ويني حيض نه دی بلکه استحاضه دی نو دې ته انتظار کيږي چي تر داسي مدې پوري دوام وکړي چي د حيض تر ټولو کمه مده وي او که ئې ورته وويل : که حيض درغلی حيض ته طلاقه يې تر هغه وخت پوري نه طلاقيږي تر څو له حيض څخه پاکيږي ، دغه فرق په دوهمه مسئله کي د حيض د لفظ له زياتوالي سره پيدا سو ځکه هغه د دې طلاق په پوره حيض پوري وتړی .

س : که يو چا خپلي ښځي ته وويل ته په مکه کي طلاقه يې او هغه په مکه کي نه وه څه حکم ئې دی ؟

ج : په هر ښار کي چي وي په داغه وخت کي طلاق پر واقع کيږي ، دغه رنګه که ئې ورته وويل ته په دغه کور کي طلاقه يې که څه هم په هغه کور کي نه وي په داغه وخت کي طلاقيږي ځکه ده طلاق د مکې په ننوتلو يا کور په ننوتلو سره نه دی تړلی .

(۱) لکه چي ورته ووايي که ته زما سره مينه لرې ته طلاقه يې او دغه هم درسره طلاقه ده او هغې وويل زه مينه درسره لرم د خپل ځان په هکله ئې تصديق کيږي طلاقيږي او ملګري ئې نه طلاقيږي .

س : که ئې ورته وويل : ته طلاقه يې که مکې ته داخله سوې دغه مسئله له اولي مسئلې څخه بېل ده ؟
ج : هو دا له هغې څخه بېل ده ځکه په دې ځای کي ئې طلاق د هغې په دخول پوري وتړی نو تر څو چي ورننوزي نه طلاقيږي .
س : که ئې ورته وويل : ته صبا طلاقه يې ؟
ج : د صبا د ورځي د دوهمو سپيدو په راختلو سره طلاق واقع کيږي .
س : که ئې ورته وويل ته درې ځله طلاقه يې بيله يوه ځل څخه يا ئې ورته وويل ته درې ځله طلاقه يې بيله دوو څخه دغه استثناء (ايستل) څه حکم لري ؟
ج : د ده په استثناء سره عمل کيږي په اول صورت کي دوه طلاقه واقع کيږي او په دوهم صورت کي يو واقع کيږي .

فصل د هغه طلاق چي تر جماع مخکي وي

س : له جماع څخه مخکي طلاق څه حکم لري ؟
ج : که يو چا خپله ښځه تر جماع مخکي طلاقه کړل طلاق پر واقع کيږي . که ئې په يوه لفظ سره درې طلاقه ورکړل درې سره پر واقع کيږي او که ئې جلا جلا کړل په اول طلاق سره بائنه کيږي ، دوهم او دريم طلاق نه پر واقع کيږي ، کومه ښځه چي جماع ئې نه وي ورسره کړې رجعي طلاق نه پر واقع کيږي د هغې طلاق يا بائن دی يا مغلظ .
س : که ئې ماينې ته وويل : يو او يو طلاقه يې يا ئې ورته وويل : ته طلاقه يې يو مخکي تر يوه يا يو چي تر هغه وروسته يو وي څو طلاقه واقع کيږي ؟
ج : په دغه صورتو کي يو طلاق پر واقع کيږي .
س : که ئې ورته وويل : ته طلاقه يې يو چي تر يوه وروسته وي يا د يوه سره يا چي د هغه سره يو وي په دغه صورت کي څه حکم دی ؟
ج : په دغه صورت کي دوه طلاقه واقع کيږي .
س : که ئې ورته وويل : که ته دغه کور ته داخله سوې ته طلاقه يې يو او يو هغه ته ننوتل څه حکم ئې دی ؟
ج : په هغه کي د ابو حنيفه رح او صاحبينو رح اختلاف دی ، ابو حنيفه رح ويلي دي : يو واقع کيږي او هغوی ويلي دي : دوه واقع کيږي .

فائده

دغه تفصيل ټوله په هغه ښځي كي دى چي جماع نه وي ورسره سوې ، كومه ښځه چي جماع ورسره سوې وي په ټولو صورتو كي پر هغې دوه طلاقه واقع كيږي .

د طلاق سپارلو باب

س : كه يو چا خپلي ښځي ته وويل : خپل ځان غوره كړه او په دغه سره ئې د طلاق نيت كړى وو يا ئې ورته وويل : خپل ځان طلاق كړه هغې ته روا ده چي خپل ځان طلاق كړي ؟

ج : په دغه دوو صورتو كي تر څو چي په داغه مجلس كي وي دې ته روا ده چي خپل ځان طلاق كړي ، كه له دغه مجلس څخه ولاړه سول يا ئې په بل كار كي شروع وكړل اختيار ئې له لاسه ووتى مگر كه ئې ورته وويل : كوم وخت چي غواړې خپل ځان طلاق كړه په دغه صورت كي په داغه مجلس كي هم ځان طلاقولاى سي او تر هغه وروسته هم ځان طلاقولاى سي .

س : كه ئې ورته وويل : خپل ځان غوره كړه او هغې خپل ځان په داغه مجلس كي غوره كړى څه حكم لري ؟

ج : په دغه سره يو بائن طلاق واقع كيږي ، د هغې له خوا خپل ځان غوره كول درې طلاقه نه گڼل كيږي كه څه هم ئې ميړه د درو اراده وكړي ، د طلاق د واقع كيدلو لپاره د نفس (ځان)، د لفظ ذكر د ده په كلام كي يا د دې په كلام كي ضروري دى .

س : كه ئې ورته وويل خپل ځان طلاق كړه او هغې خپل ځان طلاق كړى كوم طلاق پر واقع كيږي ؟

ج : يو رجعي طلاق پر واقع كيږي مگر كه ئې ميړه په هغه سره د درو طلاقو اراده وكړل او هغې په درو طلاقو سره ځان كړى درې سره پر واقع كيږي او كه ئې د دوو نيت وكړى نه صحيح كيږي مگر كه مينځه وه صحيح كيږي .

س : كه يو چا يو سړى د طلاق لپاره وكيل كړى او داسي ئې ورته وويل : زما ښځه طلاقه كړه ، دغه وكالت يوازي په داغه مجلس پوري خاص دى ؟

ج : يوازي په داغه مجلس پوري خاص نه دى په داغه مجلس كي ئې هم طلاقولاى سي وروسته ئې هم طلاقولاى سي ، دا په هغه صورت كي كه ئې دا ټكى ورسره زيات نه كړى كه ته غواړې كه ئې دا ټكى زيات كړى يوازي په داغه مجلس كي ئې طلاقولاى سي .

د ناروغه طلاق

س: که ښځه طلاقه سي په څينو حالاتو کي ميراث وړاى سي ؟

ج: که ئې د مرګ په ناروغۍ کي په بائن (١) طلاق سره ښځه طلاقه کړل او د هغې د عدې تر پوره کيدلو مخکي مړ سو ميراث وړي او که د عدې تر تيريدلو وروسته مړ سو ميراث ئې حق نه کيږي ، مغلظ طلاق په دغه مسئله کي د بائن په شان دى . د فقه علماء دغه مسئلې ته د تيښتيدونکي مسئله وايي يعني ميړه ژر طلاق د دې لپاره ورکړى چي هغه له ده څخه ميراث يو نه سي نو ده ته دا سزا ورکول کيږي چي په عده کي ميراث ځني وړي او د دې عده په دواړو مدو کي چي کومه اوږده وي هغه ګڼل کيږي لکه چي د عدې په بيان کي به ان شاء الله راسي .

متفرقي مسئلې

س: ازاد سړى او مريى د څو طلاقو مالکان دي ؟

ج: د ابو حنيفه رح په نزد طلاق په ماينه پوري اړه لري په ميړه پوري اړه نه لري ، که ماينه مينځه وه د هغې طلاقونه دوه دي او عده ئې دوه حيضه ده که ئې ميړه ازاد وي که مريى او د ازادي ښځي طلاقونه درې دي که ئې ميړه ازاد وي که مريى ، خلاصه ئې دا ده چي د مينځي ميړه صرف د دوو طلاقو مالك دى کله چي ئې دوه طلاقه ورکړل خپل حق ئې پوره کړى ، د هغې په هکله دوه طلاقه داسي دي لکه د ازادي ښځي په هکله درې طلاقه او په دوو طلاقو سره د هغې طلاق مغلظ ګرځي .

س: پرته له طلاق څخه يو بل شيء سته چي د سړي او ښځي په منځ کي بيلتون راولي ؟

ج: که ميړه د خپلي ښځي يا د هغې د يوې حصې مالك سو يا ښځه د خپل ميړه يا د هغه د يوې حصې مالکه سول په منځ کي ئې بيلتون راځي .

---

(١) د " الکنز " مصنف ويلي دي : که ئې په ناروغۍ کي په رجعي يا بائن طلاق سره طلاقه کړل او د هغې په عده کي مړ سو ميراث ځني وړي ، تر عدې وروسته ميراث نه وړي . شامي د " النهر " په حواله سره ويلي دي : زما په نزد رجعي ټکى له دغه باب څخه حذفول په کار دي ځکه د رجعي طلاق په صورت کي که ئې د صحت په وخت کي طلاقه کړي هم تر څو چي عده پاته وي ميراث ځني وړي ، بائن د لفه څخه جلا دى ، په بائن طلاق کي يوازي هغه وخت ميراث وړاى سي که هغه په ناروغۍ کي وو ، ضروري ښه کړي دي چي يوازي ئې د بائن لفظ ذکر کړى " رد المختار ٢-٥٢١ " .

د خلع باب

س: د طلاق پرته يو بل صورت سته چي ښځه په هغه سره د خپل ميړه له نکاح څخه وزي؟

ج: که ميړه او ماينې اختلاف سره وکړي او له دې څخه وېرېدل چي د الله ﷻ احکام نه سي پر ځای کولای په دغه وخت کي که ښځه خپل ميړه ته مال وٌرکي او په هغه سره له خپل ميړه څخه خپل ځان خلاص کړي پروا نه لري ، که ئې ميړه ته وويل په دومره مال سره مي ستا سره خلع کړې ده او ميړه قبوله کړل يو بائن طلاق پر واقع کيږي او پر دې مال لازميږي ، دغه ته خلع ويل کيږي .

س: که ماينې ورته وويل : په دومره مال مي خلع درسره کړې ده او ميړه قبوله کړل ميړه ته روا ده چي دغه مال بيله مکروه والي قبول کړي ؟

ج: په هغه کي تفصيل دی که سرغړونه د ده له خوا څخه وه له هغې څخه د طلاق په عوض کي مال اخستل مکروه دي او که سرغړونه د دې له خوا څخه وه تر هغه مال زيات اخستل مکروه دي کوم چي ده ورکړی وي ، د دې سره د قاضي په فيصله کي په دواړو صورتو کي مال اخستل روا دي او طلاق بائن ګڼل کيږي .

س: که يو چا خپله ښځه د مال په مقابل کي طلاقه کړل ، هغې دغه مال قبول کړی او په دوی کي يوه هم د خلع لفظ ذکر نه کړی په دغه سره طلاق واقع کيږي ؟

ج: هو په دغه صورت کي هم طلاق واقع کيږي او پر دې مال لازميږي او طلاق بائن دی.

س: که مسلماني ښځي د ميړه سره د شرابو يا سرکوزي په مقابل کي خلع وکړل او ميړه دغه قبوله کړل پر دې څه شیء لازميږي ؟

ج: پر دې هيڅ شیء نه لازميږي او په منځ کي ئې بائن بيلتون راځي .

س: که ئې د شرابو يا سرکوزي په عوض کي طلاقه کړل ، د خلع لفظ ئې ذکر نه کړی طلاق واقع کيږي ؟

ج: هو طلاق واقع کيږي او عوض باطليږي او طلاق رجعي ګڼل کيږي (۱) .

---

(۱) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : په دواړو صورتو کي له دې کبله طلاق واقع کيږي ځکه د ميړه په قبول پوري تړل سوی دی ، مګر د هر صورت حکم جلا دی ځکه کله چي عوض باطل سو په اول صورت کي طلاق د خلع په لفظ سره واقع سو او هغه کنايي لفظ دی په دوهم صورت کي د طلاق صريح لفظ دی او تر هغه وروسته رجوع کيدلای سي ، ميړه د هيڅ شي مستحق نه دی ځکه هغې کوم داسي مال نه دی

س : په کوم مال سره ښځه د میړه سره خلع کولای سي ؟
ج : هر مال چي په نکاح کي مهر کیدلای سي د خلع لپاره عوض کیدلای سي .
س : که ښځي میړه ته وویل زما سره خلع وکړه په هغه چي زما په لاس کي دي ، هغې خلع ورسره وکړل او د دې په لاس کي شيء نه وو څه شيء پر لازمیږي ؟
ج : هیڅ شيء نه پر لازمیږي او یو بائن طلاق واقع کیږي .
س : که ئې ورته وویل : زما سره په هغه مال خلع وکړه چي زما په لاس کي دی ، هغه خلع ورسره وکړل او د دې په لاس کي هیڅ شيء نه وو ، طلاق واقع کیږي او په دغه صورت کي پر هغې مال لازمیږي ؟
ج : یو بائن طلاق واقع کیږي او کوم مهر چي دې اخستی وي هغه به بیرته میړه ته ورکوي .
س : که ئې میړه ته وویل کوم درهمونه چي زما په لاس کي دي پر هغه خلع راسره وکړه هغه خلع ورسره وکړل او د دې په لاس کي شيء نه وو څه شيء پر لازمیږي ؟
ج : د درو درهمو اداء کول پر لازمیږي (۱) .
س : که ئې میړه ته وویل درې طلاقه په زر روپی راکړه هغه یو طلاق ورکړی څه شيء پر دې لازمیږي ؟
ج : د زرو دریمه حصه پر لازمیږي (۲) .
س : که ئې ورته وویل درې طلاقه پر زر روپی راکړه هغه یو طلاق ورکړی څه حکم ئې دی ؟

ص ۳۶۸ پاته برخه : ذکر کړی چي قیمت ولري او دا ئې ضامنه سي بل له دې کبله چي یاد کړل سوی مال له دې کبله نه سي ورکول کیدلای ځکه دوی مسلمانان دي او بل مال ځکه نه سي ورکول کیدلای چي هغه ذمه ئې نه ده اخیستې آه .
(۱) ځکه هغې د جمع لفظ استعمال کړی او د جمع کم مقدار درې دی .
(۲) ځکه کله چي هغې درې طلاقه په زر وغوښتل نو هر طلاق ئې د زرو په دریمه برخه وغوښتی ځکه د ب لفظ پر عوض داخلیږي او عوض پر هغه شي ویشل کیږي د کوم لپاره چي دا عوض وي او طلاق بائن ځکه مال موجود دی ، له " الهدایې " څخه .

ج : په هغه کي د ابو حنيفه رح او صاحبينو رح اختلاف دی ، ابو حنيفه رح ويلي دي
هغې هيڅ شيء نسته او دی د رجوع حق لري او صاحبينو رح ويلي دي د اولي مسئلې
شان د مال دريمه حصه پر لازميږي .

س : که ميړه ورته وويل : ځان ته دري طلاقه ورکه په زر يا پر زر ، هغې ځان ته يو طلا
ورکړي څه حکم ئې دی ؟

ج : پر دې هيڅ طلاق نه واقع کيږي نه پر دې کوم مال لازميږي .

س : که ميړه او ماينې خلع سره وکړل او د يوه پر هغه بل حقوق وه د هغو اداء کول
حکم لري ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي : خلع هر هغه حق ساقطوي (له منځه وړي) کوم چي په نکا
پوري اړه لري او پر يوه هم کوم حق نه پاتيږي ، کوم حق چي په نکاح پوري اړه نه لري
هغه اداء کول واجب دی څرنګه چي مخکي واجب وو ، هغه دا دی د مثال په توګه چي
له هغه بل څخه پور وکړي وروسته خلع سره وکړي نو پور په خلع سره نه ساقطيږي
صاحبينو رح ويلي دي خلع يوازي هغه حقوق ساقطوي چي دوی ئې ياد کړي . د حقو
ساقطولو لپاره يو بل صورت هم سته چي هغه ته مباراة (يو له بل څخه بيلېدل) ويل
کيږي ، د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد هغه هر هغه حق ساقطوي کوم چي په
نکاح پوري اړه لري ، محمد ويلي دي مباراة او خلع سره برابر دي دواړه صرف هغه
حقوق ساقطوي چي دوی ياد کړي وي .

د رجوع باب

س : تاسو مخکي ذکر کړل چي کله سړي خپلي ښځي ته يو يا دوه رجعي طلاقه ورکړل
په عده کي رجوع ورته کولای سي ، د هغه لپاره د ښځي رضاء شرط ده ؟

ج : هغه نه ده شرط که ښځه په دغه سره راضي وي که نه دی رجوع ورته کولای سي .

س : څرنګه به رجوع ورته کوي ؟

ج : هغه دا ده چي ورته ووايي رجوع مي درته کړې ده يا مي خپلي ښځي ته رجوع کړې
ده ، دغه قولي رجوع ده ، که ئې جماع ورسره وکړل يا ئې مچ کړل يا ئې په شهوت سره
لاس ورووړی يا ئې د هغې شرمځای ته په شهوت سره وکتل دی رجوع کونکی ګڼل کيږي
او دغه فعلي رجوع ده .

س: پر رجوع باندي شاهدان درول ضروري دي ؟

ج: شاهدان درول ضروري نه دي مګر دا مستحب دی چي پر رجعت دوه شاهدان ودروي.

س: که ئې رجعي طلاق ورکړی او عده ئې تیره سول ، میړه ورته وویل ما په عده کي رجوع درته وکړل ، هغې ئې تصدیق وکړی یا ئې درواغجن وبلی څه فیصله کیږي ؟

ج: که ئې هغې تصدیق وکړی رجوع بلل کیږي او که ئې درواغجن وبلی د دې قول معتبر دی ، د ابو حنیفه رح په نزد پر دې قسم نسته .

س: که میړه ورته وویل رجوع مي درته کړې ده ، هغې په جواب کي ورته وویل عده مي تیره سول دغه رجوع صحیح کیږي ؟

ج: د ابو حنیفه رح په نزد دغه رجوع نه صجیح کیږي او صاحبینو رح ویلي دي په دغه صورت کي رجوع صحیح کیږي .

س: که یو چا یو مینځه په نکاح کړل وروسته ئې رجعي طلاق ورکړی او د هغې د عدې تیریدلو وروسته ئې ورته وویل : ما په عده کي رجوع درته کړې وه ، بادار ئې تصدیق وکړی او دې نه ومنل ، په دغه صورت کي د میړه یا بادار قول منل کیږي ؟

ج: په دغه صورت کي د دوی قول نه منل کیږي د ابو حنیفه رح په نزد د دې قول منل کیږي (۱) .

س: کله چي د طلاقي سوي ښځي د دریم حیض وینې ختم سي په دغه سره ئې رجوع ختمیږي ؟

ج: په هغه کي تفصیل دی که ئې په لس ورځو کي وینې ختم سوې رجوع ئې ختم سول او عده ئې تیره سول که څه هم تر هغه وروسته غسل و نه کړي او که ئې تر لس ورځي په کم وینې ختم سوې رجوع ئې تر هغه وخت پوري نه ختمیږي تر څو غسل کوي یا د یوه لمانځه وخت پر تیریږي یا تیمم وهي او لمونځ کوي دا د ابو حنیفه رح او ابو یوسف رح په نزد او محمد رح ویلي دي : کله چي تیمم ووهي رجوع ئې ختمیږي که څه هم لمونځ و نه

---

(۱) صاحبینو رح ویلي دي د بادار قول منل کیږي ، په " الهدایه " کي ئې ذکر کړي دي .

س : که ئې غسل وکړي او له بدن څخه ئې یو اندام پاته سو چې اوبه نه وي وررسیدلي
په دغه سره ئې رجوع ختمیږي ؟

ج : په دغه کې کتل کیږي که پاته سوی اندام چې اوبه نه وي وررسیدلي پوره اندام وي
تر هغه زیات وو رجوع نه ختمیږي او که تر پوره اندام کم وو رجوع ختمیږي .

فائده

کومه ښځه چې په رجعي طلاق سره طلاقه سوې وي د هغې د میړه لپاره دا مستحب دي
چې تر هغه وخت پوري پر داخل نه سي تر څو اجازه څنې غواړي یا د چوټو کښکي
اوري څرنګه چې دې ته مستحب ده چې ځان ورته ښایسته کړي ، که میړه جماع ورسره
وکړل ګناه کاره نه دی ځکه رجعي طلاق جماع نه حراموي او څرنګه چې مو مخکي ذ
کړل په دغه سره دی رجوع کونکی بلل کیږي .

دهغه ښځي مسائل چې بائن طلاق یا درې طلاقه ورکړل سوي وي

س : که یو چا خپله ښځه په بائن طلاق سره تر درو طلاقو کم طلاقه کړل هغه ته روا ده
چې دوهم ځل نکاح ورسره وکړي ؟

ج : هو د هغې سره نکاح کول هم په عده کي ورته روا دي هم تر عدې وروسته او بل
سړي لره نه ده روا چې د عدې تر تېرېدو مخکي د دې سره نکاح وکړي .

س : که یو چا خپله ښځه چې ازاده وه د سنت مطابق یا د بدعت پر طریقه په درې طلاقه
سره طلاقه کړل او طلاقونکي وغوښتل چې دوهم ځل نکاح ورسره وکړي دغه نکاح ئې
څه حکم لري ؟

ج : د ازادي ښځي په هکله درې او د مینځي په هکله دوه طلاقه مغلظ طلاق بلل کیږي
. طلاقونکي میړه ته نه ده روا چې دوهم ځل ئې په نکاح کړي تر څو چې تر عدې
تېرېدلو وروسته په صحیح نکاح سره بل میړه په نکاح کوي او هغه دوهم میړه جماع
ورسره کوي بیا ئې هغه طلاقوي یا څني مړ کیږي او تر هغه وروسته د دې عده پوره
کیږي .

س : د صحیح نکاح څه مطلب دی او د دې تکي د زیاتولو فائده څه ده ؟

ج : د صحیح نکاح څخه مطلب هغه نکاح ده چي نافذه (چلېدونکې) وي نو که ئې په فاسده نکاح سره دا په نکاح کړل په دغه سره اول مېړه ته نه روا کیږي ځکه په شرعي توګه ئې نکاح نافذه نه ده (۱) .

س : که یوه مینځه په دوه طلاقه سره طلاقه سول او طلاق ئې مغلظ سو بادار د ملکیت له وجهي د هغې سره جماع وکړل د دغه جماع له وجهي اول مېړه ته نه روا کیږي کوم چي دا ئې په مغلظ طلاق سره طلاقه کړې وي ؟

ج : په دغه سره اول مېړه ته نه روا کیږي ځکه په آیت کریمه دا شرط سوې ده چي د بل مېړه سره به نکاح کوي او بادار مېړه نه دی .

س : په آیت کریمه کي د دوهم مېړه د جماع ذکر نه دی راغلی نو تاسو ولي د حلالولو لپاره جماع شرط وګرځول ؟

ج : دا د نبي ﷺ څخه ثابت دی (۲) .

س : که یو ښځه په مغلظ طلاق سره طلاقه سول ، د هغې د عدې تر تېرېدلو وروسته یو سړي هغه خپل مراهق (هغه چي بلوغ ته نژدې سوی وي) زوی ته ورپه نکاح کړل او هغه جماع ورسره وکړل د دغه جماع له وجهي اول مېړه ته روا کیږي ؟

---

(۱) ځکه په فاسده نکاح کي جماع حرامه ده او بېلېدل لازم دي او تر جماع مخکي مهر نه پر لازمیږي له دې کبله که یو چا قسم واخستی چي نکاح به نه کوي او یوه ښځه ئې په فاسده نکاح سره په نکاح کړل قسم نه پر اوړي ، له " الکفایه شرح الهدایه " څخه . په " البحر " کي ئې ویلي دي له نکاح څخه صحیح نافذه نکاح مراد ده نو فاسده او موقوفه نکاح له دغه څخه وزي لکه چي یو مریی بېله اجازې د خپل بادار نکاح وکړي او تر اجازې مخکي جماع ورسره وکړي اول مېړه ته تر هغه وخت پوري نه روا کیږي تر څو چي تر اجازې وروسته جماع ورسره کوي (٤-٦٢) .

(۲) له عائشې رض څخه روایت سوی دی چي د رفاعه القرظي ؓ ښځه نبي ﷺ ته راغلل او ورته وئې ویل : زه د رفاعه سره وم زه ئې طلاقه کړم او بائن طلاق ئې راکړی بیا ما د عبد الرحمن بن الزبیر سره نکاح وکړل د هغه سره صرف د کالي حاشیه سته ، نبي ﷺ ورته وویل : ته غواړې چي بیرته رفاعه ته ورسې ؟ هغې وویل هو نبي ﷺ وویل : نه ، تر څو چي ته د هغه خوند ګورې او هغه ستا خوند ګوري . بخاري او مسلم ئې روایت کړی دی " .

د " الهدایې " مصنف ویلي دي : د جماع شرط د آیت په اشاره سره ثابت سوی دی هغه دا چي د نکاح څخه جماع مراد سي د دې لپاره چي په کلام کي نوې خبره راسي او تاکید نه سي را ځکه د زوج (مېړه) د لفظ څخه د نکاح عقد معلومیږي یا په مشهور حدیث سره پر آیت زیاتوالی کوو .

ج : مراهق هلك د اول میړه د نکاح په روا کولو کي د بالغ سړي په شان دی .

س : که یو چا داسي ښځه چي په درو طلاقو سره طلاقه سوې وه اول میړه ته د حلالولو لپاره په نکاح کړل په دغه صورت کي نکاح صحیح کیږي او د دوهم میړه تر جماع وروسته اول میړه ته روا کیږي ؟

ج : اول میړه ته د حلالولو لپاره نکاح کول تحریمي مکروه دي مګر که د نکاح رکنونه موجود وه نکاح صحیح کیږي ، که تر جماع وروسته دغه میړه په نکاح کړل یا تر جماع وروسته ځني مړ سو اول میړه ته روا کیږي .

س : که یو سړي خپله ښځه چي ازاده وه په یوه یا دوو طلاقو سره طلاقه کړل او د هغې عده تېره سول او د بل میړه سره ئې نکاح وکړل او اول میړه ته په نوي نکاح سره راوګرځیدل د اول میړه څو طلاقه پر دې حق کیږي ؟

ج : د اول میړه پر هغې درې طلاقه حق کیږي ، د ابو یوسف رح او **محمد** رح په نزد دوهم میړه تر درې طلاقه کم ختموي (۱) او **محمد** رح ویلي دي دوهم میړه تر درې طلاقه کم نه ختموي .

س : که یو سړي خپله ښځه په درې طلاقه سره طلاقه کړل هغې بل میړه وکړی وروسته اول میړه ته په هغه طریقه سره چي شریعت معتبره کړې ده بیرته راوګرځیدل په څو طلاقو سره بیرته ورته راګرځي ؟

ج : په درو طلاقو سره ورته راګرځي ځکه دوهم میړه اول درې طلاقه ختم کړل په دغه مسئله کي زموږ د درو سره امامانو اتفاق دی .

---

(۱) یعني داسي ګڼل کیږي لکه چي اول میړه له سره طلاقونه ورکړي نه وي او مغلظ طلاق تر هغه وخته نه ثابتیږي تر څو تر هغه نکاح وروسته یوځای یا جلا جلا درې طلاقه ورکوي ، په " البحر ٤_٦٣" کي ئې ویلي دي : نو که ئې یو طلاق ورکړی او عده ئې تېره سول او بل میړه ئې وکړی او هغه طلاقه کړل او عده ئې له هغه څخه تیره سول وروسته بیرته اول میړه نکاح ورسره وکړل که ازاده وه میړه ئې د درو طلاقو مالك کیږي او که مینځه وه د دوو طلاقو مالك کیږي ، په مینځه کي صرف یو طلاق ختمېدلای سي ، د [illegible] په نزد په ازاده ښځه کي میړه د دوو طلاقو مالك کیږي او په مینځه کي د یوه (نو په دغه [illegible] ئې ازادي ښځي ته دوه طلاقه او مینځي ته یو طلاق ورکړی په هغه سره طلاق مغلظ [illegible] نزد) ، د هغه مطلب دا دی که ئې جماع ورسره وکړل که ئې جماع نه وه ورسره کړې په نه ختم [illegible] که چي په " القنیه " کي ذکر سوي دي .

س : که يو سړي خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړل . هغې وويل عده مي تېره سول د
مېړه سره مي نکاح وکړل او هغه جماع راسره وکړل او عده مي تېره سول اول مېړه ته ئې
روا ده چي د دې قول ته اعتبار ورکړي او نکاح ورسره وکړي ؟
ج : اول مېړه ته ئې روا ده چي تصديق ئې وکړي او دوهم ځل نکاح ورسره وکړي که د ده
نېنګ ګمان دا وو چي رښتينې ده په دې شرط سره چي دومره مده وي چي دغه شيان په
کښي کېدلای سي .

د عدې کتاب

س : عده څه ته وايي او ولي په دغه نوم سره ياده سول ؟

ج : که يو سړى خپله ښځه په رجعي يا بائن يا مغلظ طلاق سره طلاقه کړي يا د ميړه او ماينې په منځ کي بيله طلاق څخه بيلتون راسي يا ئې ميړه ځني مړ سي په دغو صورتو کي دې ته نه ده روا چي د بل ميړه سره نکاح وکړي تر څو چي پر هغې يوه معلومه مده تېرېږي او دغه مده د ښځي په حالت پوري اړه لري چي څو حيضه به وي يا څو مياشتي . دغه مدې ته عده ويل کيږي ځکه د عده لفظ له عَدّ (شميرل) څخه مشتق دى او طلاقه سوې ښځه مياشتي يا حيضونه شميري .

س : کومه عده چي تاسي په لنډه توګه اشاره ورته وکړل د هغې تفصيل څه دى ؟

ج : راتلونکى تفصيل په ياد و لره :

١ : که طلاقه سوې ښځه ازاده وه او حيض ورتلى عده ئې درې پوره حيضه ده .

٢ : او که د کوچني والي يا د ډير سن له کبله حيض نه ورتلى عده ئې درې مياشتي ده .

٣ : که سړى د خپلي ازادي ښځي څخه مړ سو او حامله نه وه عده ئې څلور مياشتي او لس ورځي ده .

٤ : که طلاقه سوې ښځه يا هغه ښځه چي ميړه ئې ځني مړ سوى وي حامله وه عده ئې د کوچني پيدا کېدل دي .

س : د عدې په بيان کي تاسي دا ټکى ولي زيات کړى چي ښځه ازاده وي ، که مينځه وه د هغې حکم په دغه مسئلو کي مختلف دى ؟

ج : له دې کبله مو دا ټکى زيات کړى ځکه هغه مينځه چي حيض ورځي د هغې عده دوه حيضه ده او هغه مينځه چي د کوچني والي يا د ډير سن له کبله حيض نه ورځي د هغې عده يوه نيمه مياشت ده او که ئې ميړه مړ سو عده ئې دوې مياشتي او پنځه ورځي ده او که حامله وه عده ئې دا ده چي کوچنى ئې پيدا سي که طلاقه سوې وي او که ئې ميړه ځني مړ سوى وي .

س : که يو سړي په حيض کي خپله ښځه طلاقه کړل ، دغه حيض له هغو درو حيضو څخه شميرل کيږي ؟

ج : دغه حيض له هغو څخه نه شميرل کيږي بلکه له دغه حيض څخه وروسته د هغه پرته په درو پوره حيضو سره ئې عده تېرېږي .
س : که يو سړي د مرګ په ناروغۍ کي خپله ښځه طلاقه کړل ، بيا هغه سړی د دې په عده کي مړ سو کومه عده به تېروي ؟
ج : د ابو حنيفه رح او محمد رح په نزد به لويه مده تېروي (۱) .
س : د لويي مدې څخه مطلب څه دی ؟
ج : د هغه مطلب دا دی که د وفات عده اوږده وه د وفات عده به تېروي او که د طلاق عده اوږده وه د طلاق عده بهٔ تېروي (۲) .
س : په دغه کي د دې څه فائده ده ؟
ج : په اوږده مده سره د عدې تېرولو فائده دا ده چي تر څو دا په عده کي وي ميراث ځني وړای سي نو د عدې اوږدوالۍ د دې په ګټه دی .
س : که يوه ښځه خپل ميړه په رجعي طلاق سره طلاقه کړل ، دا په عده کي وه او بادار ئې ازاده کړل کومه عده به تېروي ؟
ج : د هغې عده د ازادو ښځو عدو ته اوړي نو د ازادي ښځې عده به پوره کوي (۳) .
س : که يوه مينځه ازاده سول او د بائن يا مغلظ طلاق عده ئې تېرول يا ئې د وفات عده تېرول اوس به کومه عده تېروي ؟
ج : د مينځي عده به تېروي (٤) د هغې عده د ازادو ښځو عدو ته نه اوړي .

---

(۱) ابو يوسف رح ويلي دي عده ئې درې حيضه ده ، يعني که بائن طلاق وو يا ئې درې طلاقه ورکړې وه که رجعي طلاق وو په اتفاق سره به د وفات عده تېروي ، له " الهدايې " څخه .
(۲) نو که ئې تر څلورو مياشتي مخکي درې حيضه پوره سول عده ئې تر هغو نه پوره کيږي تر څو څلور مياشتي او لس ورځي پوره کيږي .
(۳) په " الدر المختار " کي ذکر سوي دي چي د ازادي ښځي په شان به عده تېروي آه ، شامي ويلي دي : دې خبري ته اشاره ده چي د ازادي ښځي عده له سره راګرځول پر لازم نه دي بلکه عده ئې د ازادو ښځو عدې ته واوښتل نو د عدې تېره سوې برخه به حسابي او درې حيضه به شمېري يا درې مياشتي که حيض نه ورتلی ، زده ئې کړه (۲_۶۰۵) .
(٤) يعني دوه حيضه يا يوه نيمه مياشت يا دوې مياشتي او پنځه ورځي او عده ئې د ازادي ښځي عدې ته نه اوړي ځکه په رجعي طلاق کي نکاح پاته ده نه په بائن او مغلظ کي ، دغه خبره (چي په رجعي

س : كه يوه ښځه له حيض څخه نا اميده سول ميړه طلاقه كړل او دې په مياشتو سره عده تېرول ، وروسته ئې د حيضويني وليدلې اوس به څه كوي ؟

ج : له سره به په حيض عده تېروي د عدې كومه برخه چي تېره سوې وي هغه ماته سول .

س : كه يو سړي په فاسده نكاح سره (۱) يوه ښځه په نكاح كړل او يوځايوالى ئې ورسره وكړى وروسته قاضي سره بېل كړل يا دغه سړى چي نكاح ئې ورسره كړې وه ځني مړ سو څرنګه عده به تېروي ؟

ج : كه د حيض والا ښځو څخه وه په درو حيضو سره به عده تېروي (۲) او كه د حيض والا څخه نه وه په مياشتو سره به عده تېروي او كه حامله وه د كوچني زيږيدلو ته به انتظار كوي كله چي ئې كوچنى پيدا سي عده ئې تېرېږي .

س : كه د يو ښځي سره په شبهه سره جماع وسول ، هغه سړى ځني مړ سو يا قاضي سره بېل كړل پر هغې عده سته ؟

ج : هو پر هغې عده سته او هغه درې حيضه ده .

س : كه يوه ام ولد مينځه وه او بادار ئې ځني مړ سو يا ئې ازاده كړل پر هغې عده سته ؟

ج : هو پر هغې عده سته ، درې حيضه به تېروي .

س : كه يو كوچني ته خپل ولي يوه ښځه وربه نكاح كړل هغه ځني مړ سو او دا حامله وه څرنګه عده به تېروي ؟

د ص ۳۷۷ پاته برخه : طلاق كي نكاح پاته ده) د فرق د بيانولو لپاره ده هغه دا چي په رجعي طلاق كي له هره پلوه نكاح پاته ده او په ازادولو سره د ميړه ملكيت پر دې پوره سو او په پوره ملكيت كي شريعت د دې عده درې حيضه ګرځولې ده ، تر بائن او مغلظ طلاق وروسته حالت مختلف دى ځكه په هغه كي تر ازادولو مخكي د نكاح ملكيت په پوره توګه له منځه ولاړى ، " الدر " او " الرد " "۲-٦٥٠"_ ٦٠٦ .

(۱) دا خبره (هغه ښځه چي په فاسده نكاح سره په نكاح كړل سوې وي) د هغه څخه مطلب هغه ښځه ده چي بېله شاهدانو په نكاح كړل سوې وي يا د بل چا ښځه وه او دوهم ميړه ئې په دې نه وي خبر چي د بل چا ښځه ده ، كه په خبر وو په جماع سره عده نه پر لازميږي ځكه دا زنا ده او پر اول ميړه ئې جماع نه ده ورواده سي يا د ده په بستر كي د شپې وي او د ده ګمان دا وي چي زما ښځه ده لـه " فتح القدير " څخه .

(۲) دا هغه وخت كه ازاده وه او كه مينځه وه دوه حيضه ده يا يوه نيمه مياشت يا د كوچني زېږيدل دي حرامه او هغه ښځه چي په شبهه سره جماع ورسره وي لكه هغه ښځه چي د ميړه څخه پرته بل سړي ته څرنګه چي د دې حالت وي .

ج : كه د هغه د وفات په وخت كي حامله وه عده ئې دا ده چي كوچنى ئې زيږي او كه د هغه تر مرګ وروسته حامله سول عده ئې څلور مياشتي او لس ورځي ده .

س : په دغو ټولو مسئلو كي د عدې د شروع كېدلو وخت وښوئ .

ج : په طلاق كي د عدې شروع تر طلاق وروسته ده او په وفات كي تر وفات وروسته ده او په فاسده نكاح كي تر بېلولو وروسته يا تر هغه وخت وروسته چي جماع كونكى د هغې د جماع د پرېښولو عزم وكړي .

س : كه يوه ښځه مېړه طلاقه كړل يا ځني مړ سو او دا په طلاق يا وفات نه وه خبره تر څو چي عده تېره سول د هغې عده څه حكم لري ؟

ج : د مدې په تېرېدلو سره د هغې عده تېرېږي د طلاق يا وفات تر خبريدلو وروسته پر هغې دوهمه عده نسته .

س : كه يوه ښځه طلاقه سول ، عده ئې تېرول او يو سړي په شبهه سره جماع ورسره وكړل عده به له سره راګرځوي ؟

ج :عده به له سره نه راګرځوي بلكه پردې يوه بله عده سته اودواړي عدې سره داخلېږي .

س : د دوو عدو د يو له بله داخلېدلو صورت څرنګه دی ؟

ج : د هغه صورت دا دی چي كومي ورځې وېني دا وېني هغه له دواړو عدو څخه شمېرل كيږي كله چي اوله عده تېره سي او دوهمه نه وي پوره سوې پر هغې لازمه ده چي د دوهمي پاته برخه به پوره كوي (١) .

س : كه يو سړي په بائن طلاق سره خپله ښځه طلاقه كړل بيا ئې د هغې په عده كي بيرته په نكاح كړل او تر جماع وروسته ئې بيرته طلاقه كړل ، عده به له سره راګرځوي ؟

ج : هو د ابو حنيفه رح په نزد به ئې له سره راګرځوي او محمد رح ويلي دي يوازي به اوله عده پوره كوي .

س : د دغه ښځي مهر حق كيږي ؟

ج :د ابو حنيفه رح په نزد ئې پوره مهر حق كيږي اومحمد رح ويلي دي نيم مهر ئې كيږي .

---

(١) نو كه تر اول حيض وروسته په شبهه سره جماع ورسره وسول دوه حيضه به د اولي عدې د پوره كولو لپاره تېروي او له دوهمي عدې څخه هم شمېرل كيږي كله چي تر هغه وروسته يو حيض ورسي دوهمه هم پوره كيږي " رد المختار " له " النهر " څخه .

احداد (پر مېړه خواشيني كول)

س : پر طلاقي سوي ښځي يا كومه ښځه چي مېړه ئې ځني مړ سوى وي د عدې د مدې د تيرېدلو ځخه پرته كوم شيء واجب دى ؟

ج : كه په بائن طلاق سره طلاقه سوې ښځه يا كومه ښځه چي ميړه ئې ځني مړ سوى وي بالغه او مسلمانه وه د هغې د عدې په ورځو كي احداد پر لاژم دى .

س : احداد ځه ته وايي ؟

ج : هغه دا دى چي خوشبويي لګول او ځان ښايسته كول پرېږدي او نكرځي نه لګوي او په ورس (يو قسم رنګ دى چي خوشبويي لري) يا زعفران سره رنګ سوي كالي بيله عذر ځخه نه اغوندي سر نه غوړوي او سترګي نه توروي .

س : تاسو ولي په دغه مسئله كي دغه ټكى زيات كړى چي په بائن طلاق سره طلاقه ښځه يا كومه ښځه چي ميړه ئې ځني مړ سوى وي بالغه مسلمانه وي ، كه كافره يا كوچنۍ وي په دغه مسئله كي د هغې حكم مختلف دى ؟

ج : له دې كبله مو دغه ټكى زيات كړى چي پر كافري او كوچنۍ احداد نه دى لاژم .

س : د مينځي حكم پاته سو د هغې په عده كي احداد ځه حكم لري ؟

ج : كه مينځه مسلمانه او بالغه وه او ميړه ئې مړ سو يا ئې په بائن طلاق سره طلاق كړل احداد پر لاژم دى ، كه ئې بادار مړ سو او دا دهغه ام ولد وه احداد نه دى پر لاژم (۱) .

له كور ځخه د وتلو حكم

س : له احداد ځخه پرته يو بل حكم سته چي په طلاقي سوي او هغه ښځي پوري اړه ولري له كومي ځخه چي ميړه وفات سوى وي ؟

(۱) د الدر المختار : مصنف ويلي دي پر اوو ښځو احداد نسته كافره ، كوچنۍ ، ليونۍ او هغه چي د ازاديدو عده تېروي لكه له ام ولد ځخه چي ئې بادار مړ سي او هغه ښځه چي له فاسدي نكاح ځخه عده تېروي يا په شبهه سره جماع ورسره سوې وي يا په رجعي طلاق سره طلاقه سوې وي ، ابن عابدين ويلي دي دغه قول (او هغه ښځه چي د ازاديدو عده تېروي) هغه مينځه ده چي ام ولد وي او بادار ئې ازاده كړې وي ، دغه رنګه هغه ام ولد چي بادار ئې ځني مړ سي ځكه هغه د خپل بادار په مرګ سره ازاديږي آه (۲-۶۱۸) .

ج: کومه ښځه چي په رجعي یا بائن طلاق سره طلاقه سوې وي د هغې لپاره دا نه ده روا چي د شپې یا د ورځي له کور څخه ووزي ، کومه ښځه چي میړه ئې ځني وفات سوی وي د هغې لپاره د ورځي یا د شپې په یوه برخه کي له کور څخه وتل روا دي . بیله خپل کور څخه به بل ځای شپه نه کوي (۱) .

س: کومه ښځه چي طلاقه سوې وي او کومه ښځه چي میړه ئې ځني مړ سوی وي هغوی به چیري عده تېروي ؟

ج: په هغه کور کي به عده تېروي کوم چي د دوی لپاره د بیلتون یا د میړه د مرګ په وخت کي اوسېدنځی بلل کیږي .

س: که له یو ښځي څخه میړه وفات سو او د میړه له کور څخه د دې د میراث برخه د دې لپاره کفایت کول دې ته روا دی چي دغه کور پرېږدي او د خپل مور او پلار یا بل چا کور ته نقل سي ؟

ج: بېله عذر څخه دا نه ده ورته روا .

س: که د میړه له کور څخه د دې د میراث برخه د دې لپاره کافي نه وه او وارثانو له خپلي برخي څخه وایستل دې ته له هغه کور څخه نقل کیدل روا دي ؟

ج: هو په دغه صورت کي نقل کیدل ورته روا دي .

متفرقي مسئلې

س: که یوې ښځي د وفات عده تېرول ، ځینو مسلمانانو وغوښتل چي مرکه ورته وکړي دغه ورته روا ده ؟

---

(۱) د " الهدایې " مصنف ویلي دي : کومه ښځه چي میړه ئې ځني وفات سوی وي له دې کبله هغې ته له کور څخه وتل روا دي چي د هغې لپاره نفقه (د خوراك خرڅ) نسته نو د پیسو د ګټلو لپاره وتلو ته ضرورت لري او کله کله د هغه لپاره د شپې تر راتلو پوري ضرورت وي ، طلاقه سوې ښځه داسي نه ده ځکه هغې ته د میړه له خوا نفقه ورکول کیږي ، ابن الهمام په " الفتح " کي ویلي دي : له دلیل څخه دا ځرګندیږي که ئې د خپل کفایت په اندازه مال درلودی داسي ګڼل کیږي لکه طلاقه سوې ښځه ، د یو چا د ملاقات یا دهغه په مثل د یو بل کار لپاره نه د شپې وتل ورته روا دي نه د ورځي ، خلاصه خبره دا ده چي له کور څخه د وتلو اجازه د پیسو په ګټلو سره تړلي ده نو د هغه په اندازه سره اندازه کیږي نو کله چي د دې حاجت پوره سي تر هغه وروسته له کور څخه دباندي پاته کیدل ورته روا نه دي آه .

ج : دغه په څرګنده توګه ورته روا نه ده ، مګر په اشاره سره پروا نه لري (۱) .
س : که یو ذمي سړي ذمي ښځه طلاقه کړه یا ځني مړ سو د هغې د عدې څه حکم دی ؟
ج : که حامله نه وه عده نه ده پر لازمه (۲) . که حامله وه عده پر لازمه ده .
س : که مسلمان خپله ښځه چي د اهل کتاب څخه وه طلاقه کړل یا ځني مړ سو پر هغې عده سته ؟
ج : هو هغه به عده تیروي که حامله وي که نه نو د هغې د عدې تر تېرېدلو مخکي چا ته نه ده روا چي نکاح ورسره وکړي .
س : که یوه ښځه له زنا څخه حامله سول او د نکاح اراده ئې وکړل ، نکاح ورته روا ده ؟
ج : دغه ښځي که نکاح وکړل نکاح ئې صحیح ده مګر تر څو چي کوچنی ئې زیږي میړه به جماع نه ورسره کوي مګر که د هغې سره نکاح کونکی دغه زناء کونکی وو د کوم له اوبو څخه چي ئې کوچنی په نس سوی وي هغه ته ئې تر نکاح وروسته جماع روا ده .

د نسب ثابتېدل

س : د زامنو نسب له پلرو څخه څرنګه ثابتیږي ؟
ج : که یو سړي د یوې ښځي سره نکاح وکړل او تر شپږو قمري میاشتو وروسته یا له هغه څخه زیات ئې کوچنی وزیږېدی ، که ئې میړه په هغه سره اقرار وکړی یا چپ پاته سو د هغه نسب ځني ثابتیږي او که د نکاح له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کم ئې کوچنی وزیږېدی له هغه څخه ئې نسب نه ثابتیږي .
س : کیدای سي چي ښځي زناء کړې وي او له هغه څخه ئې دغه کوچنی په نس سوی وي نو له خپل میړه څخه ئې څرنګه نسب ثابتیږي ؟
ج : له میړه څخه ئې نسب ثابتیږي په دغه ځای کي دغه رنګه احتمال تـه نه کتـل کیـږي

---

(۱) په " البحر الرائق ٤-١٦٥ " کي ئې ویلي دي : د دې مطلب دا دی چي یو داسي خبره ذکر کړي چي له هغه څخه بله خبره مراد وي چي ده نه وي ذکر کړې لکه چي ووایي : زه غواړم چي یو ښځه په نکاح کړم چي داسي او داسي صفتونه ولري ، دغه رنګه ابن عباس ﷺ د آیت تفسیر کړی دی .
(۲) دا د امام رح په نزد ، صاحبینو رح ویلي دي عده پر لازمه ده . اختلاف په هغه صورت کي دی که دوی په دین کي عده نه وه که ئې عده په دین کي وه په اتفاق سره پر لازمه ده او په هغه صورت کي اختلاف دی چي حامله نه وي که حامله وه په اتفاق سره عده پر لازمه ده له " البحر الرائق ٤-١٦٢ " څخه .

تر داسي اندازې که ئې په حقيقت کي زناء کړې وي هم ئې له مېړه څخه نسب ثابتېږي په دې شرط سره چي مده د هغه احتمال ولري ، نبي ﷺ ويلي دي (هلك د بستر دی او زناء کونکي لره ډبره ده (۱) . مګر که د ښځي مېړه د هغه نسب له ځان څخه پرې کړي په دغه وخت کي د لعان فيصله کيږي ، د لعان معنی او ډول به په خپل باب کي ان شاء الله راسي .

س : که يوې ښځي کوچنی وزيږوی او مېړه ئې له زيږېدلو څخه انکار کوی څرنګه ئې زيږېدل ثابتيږي ؟

ج : چي يوه ښځه د هغه په زيږېدلو سره شاهدي اداء کړي نسب ئې ثابتيږي .

س : تاسي له هغه مېړه څخه چي خپله ښځه ئې نه وي طلاقه کړې د نسب د ثابتېدو په هکله شرعي حکم ذکر کړئ ، له هغه مېړه څخه چي خپله ښځه ئې طلاقه کړې وي د نسب د ثبوت په هکله څه تفصيل دی ؟

ج : په هغه کي تفصيل دی او په راتلونکې توګه ئې په ياد ولره :-

۱ :- کومه ښځه چي مېړه په رجعي طلاق طلاقه کړې وي که ئې تر دووکالو وروسته يا له هغه څخه په زياته مده کي کوچنی وزيږوی تر څو چي د عدې په تېرېدلو سره ئې اقرار نه وي کړی د کوچني نسب ئې د مېړه څخه ثابتيږي ، که ئې تر دوو کالو په زياته مده کي کوچنی وزيږوی داسي ګڼل کيږي چي جماع ئې ورسره کړې ده او رجوع ئې ورته کړې ده.

۲ :- که هغه ښځي چي په رجعي طلاق سره طلاقه سوې وي تر دوو کالو په کم کي کوچنی وزيږوی د هغه نسب د دې د مېړه څخه ثابتيږي او دا له مېړه څخه بېليږي .

۳ :- هغه ښځه چي په بائن طلاق سره طلاقه سوې وي که ئې تر دوو کالو په کم کي کوچنی وزيږوی له هغه مېړه څخه ئې نسب ثابتيږي کوم چي دا ئې طلاقه کړې وي او که ئې د بېلتون له وخت څخه تر دوو کالو وروسته کوچنی وزيږوی تر څو مېړه ئې دعوی و نه کړي نسب ئې نه ځني ثابتيږي .

۴ :- کومه ښځه چي مېړه ئې مړ سي د وفات له وخت څخه تر دوو کالو پوري ئې د کوچني نسب له مېړه څخه ثابتيږي .

۵ :- که يوه ښځه په عده کي وي او د عدې د تېرېدلو اقرار ئې وکړی وروسته ئې تر

(۱) بخاري او نورو ئې روايت کړی دی .

شپږو میاشتو په کم کي کوچنی وزیږوی نسب ئې ځني ثابتیږي او که ئې تر شپږو میاشتو وروسته کوچنی وزیږوی نسب ئې نه ځني ثابتیږي .

س : کومه ښځه چي عده تېروي د هغې د کوچني د نسب د ثابتېدلو لپاره کوم وخت چي ذکر سو د هغه پرته بل کوم شرط سته ؟

ج : ابو حنیفه رح د هغې د نسب د ثابتېدلو لپاره دا شرط کړی دی چي د هغه په زیږېدلو سره به دوه سړیان یا یو سړی دوې ښځي شاهدي اداء کوي مګر که ښکاره حمل موجود وو یا میړه اقرار وکړي بېله هغه څخه ئې نسب ثابتیږي ، ابو یوسف رح او محمد رح ویلي دي : په دغو ټولو صورتو کي د یوې ښځي په شاهدي سره نسب ثابتیږي .

فائده

د حمل لويه مده دوه کاله ده او کمه مده ئې شپږ میاشتي ده .

د لعان کتاب

: په مخکي باب کي تاسي وويل ، که مېړه د يو هلك له نسب څخه چي دده مايني
ېږدلی وي انکار وکړي پر هغه لعان لازمېږي ، موږ غواړو چي پوه سو چي لعان څه ته
ايي او څرنګه دی ؟
: که يو سړی خپلي ښځي ته د زنا نسبت وکړي او هغوی دواړه د شاهدۍ اهل وي او
سي ښځه وي چي هغې ته د زنا نسبت کونکي ته د قذف حد ورکول کيږي يا د هغې د
لك له نسب څخه انکار وکړي او ښځه د قذف د حکم غوښتنه وکړي په دغو دوو
ورتو کي پر دغه سړي لعان لازم دی ، که هغه د لعان څخه ډډه وکړي حاکم دي ئې
ي کړي تر څو چي لعان کوي يا خپل ځان دروا‌غجن بولي ، که خپل ځان دروا‌غجن
ولي د قذف حد پر جاري کيږي ، د لعان ډول دادی چي د قاضي په مخکي به لمړی
ړه څلور ځله شاهدي اداء کوي په هر ځل کي به داسي وايي : زه د الله په قسم سره
هدي اداء کوم چي ددې د زنا په نسبت کي زه له ريښتينو څخه يم ، په پنځم ځل کي به
ي : که دی ددې د زنا په نسبت کي له دروا‌غجنانو څخه وي پر ده دي د الله لعنت
ي او په هر ځل کي به دې ته اشاره کوي ، وروسته به ښځه څلور ځله شاهدي اداء
ي په هر ځل کي به وايي : زه د الله په قسم سره شاهدي اداء کوم چي دی زما د زنا په
بت کي له دروا‌غجنانو څخه دی او په پنځم ځل کي به وايي که دی زما د زنا په نسبت
ي له ريښتينو څخه وي پر دې دي د الله غضب وي .
: که ښځي د لعان غوښتنه وکړل او قاضي په لعان سره امر وکړی او مېړه هغه ته تيار
: مګر ښځي له هغه څخه ډډه وکړل قاضي به په کوم شي سره امر کوي ؟
: که ئې مېړه لعان ته تيار سو پر دې لعان لازمېږي ، که ئې له هغه څخه ډډه وکړل
ضي دي ئې بندي کړي تر څو چي لعان کوي يا د مېړه تصديق کوي (۱) .

په " الدر المختار " کي ذکر سوي دي : په دغه سره لعان پورته کيږي او دې ته حد نه ورکول کيږي
څه هم په څلورو مجلسو کي د هغه تصديق وکړي ځکه دا په قصد سره اقرار نه دی اه . د " البحر
ف ويلي دي : داسي ئې نه وويل يا دده تصديق کوي نو پر دې د زنا حد جاري کيږي لکه د قدوري
ينو نسخو کي چي ذکر سوي دي ځکه هغه غلط دی ځکه حد په يو ځل اقرار سره نه لازمېږي نو پـه

س : په دغه مسئله کي تاسي دوه شرطه ذکر کړل چي مېړه او ماينه به د شهادت اهل
او داسي ښځه به وي چي هغې ته د زنا نسبت کونکي ته به د قذف حد ورکول کيږي
دغو دوو شرطو څه فائده ده ؟

ج : دغه دوه شرطه مو ځکه ذکر کړل که مېړه مريی يا کافر وي (۱) يا مخکي د قذف
حد پر جاري سوی وي او خپلې ښځي ته د زنا نسبت وکړي بېله لعان څخه د قذف حد
پر جاري کيږي او که مېړه د شاهدۍ اهل وي او ښځه ئې مينځه يا کافره وي يا داسي
ښځه وي چي مخکي د قذف حد پر جاري سوی وي يا داسي ښځه وي چي هغې ته د زنا
پر نسبت کونکي حد نه جاري کيږي (۲) په دغو صورتو کي دې ته د زنا په نسبت سره نه
پر هغه مېړه حد جاري کيږي نه لعان ستنه (۳) .

س : که قاضي د لعان امر وکړي او دوی لعان وکړي د مېړه توب او ماينه توب علاقه ئې

د ص ۳۸۵ پاته برخه : يوه ځل تصديق سره څرنګه لازميږي ؟ او هغه په څلور ځله تصديق سره نه لازميږي
ځکه تصديق په قصد سره اقرار نه دی نو د حد په لازمېدلو کي هغه نه معتبريږي او د هغه په پورته
کېدلو کي معتبريږي ، نو په هغه سره لعان پورته کيږي او حد نه په لازميږي ، له " البحر الرائق ۴ -
۱۲۵ " څخه .

(۱) په دې توګه چي دا مسلمانه سي او هغه ته د اسلام د راندي کولو مخکي هغه دې ته د زنا نسبت
وکړي ، له " البحر ۴ - ۱۲۵ " .

(۲) دا ضروري ده چي دواړه به د شاهدۍ اهل وي ځکه چي لعان خپله څو ځله شاهدي ده او دا ضروري
ده چي داسي ښځه به وي چي هغې ته د زنا پر نسبت کونکي به د قذف حد جاري کيږي ځکه لعان دده په
هکله د قذف د حد پر ځای ولاړ دی نو دا ضروري ده چي دا سي ښځه به وي چي هغې ته د زنا پر نسبت
کونکي د قذف حد جاري کيږي ، که مېړه د هلك له نسب څخه انکار وکړي هم لعان لازميږي ځکه د
هغې د هلك له نسب څخه انکار کول په ښکاره توګه دې ته د زنا نسبت کول دي ، دې احتمال ته نه کتل
کيږي چي له بل چا څخه به د شبهې په جماع سره زېږېدلی وي لکه چي يو بېګانه سړی د يو چا نسبت له
خپل معلوم پلار څخه وباسي ، دا ځکه چي په نسب کي اصل صحيح بستر دی ، د فاسدي نکاح بستر
ته هم د صحيح بستر حکم ورکول کيږي نو کله چي هلك له صحيح بستر څخه وباسي هغه د زنا نسبت
بلل کيږي تر څو چي د فاسدي نکاح نسب څرګنديږي ، د هغې غوښتنه هم ضروري ده ځکه دا ددې حق
دی نو د نورو حقوقو په شان د هغه غوښتنه ضروري ده ، له " الهدايه " څخه .

(۳) د حد او لعان د نه شته والي خبره ئې وکړل ځکه تعزير (له حد څخه کمه سزا) واجب دی ځکه هغه
ئې ازار کړل او عيب ئې پر ولګوی نو ددې د ختمولو لپاره تعزير واجب دی له " البحر ۴ _ ۱۲۶ " څخه .

په منځ کي پاته کيږي ؟ او د هغه هلك نسب له دغه مېړه څخه چي لعان ئې کړی دی
ثابتيږي ؟

ج: که مېړه اومانيه لعان سره وکړي قاضي دي ئې سره بېل کړي ،دابوحنيفهرح او
محمدرح په نزددغه بېلتون بائن طلاق گڼل کيږي ابويوسف ويلي دي دغه بېلتون ابدي
حرمت گڼل کيږي او که د هلك له نسب څخه د انکار کولو له کبله لعان سوی وي قاضي
دي د هغه نسب د لعان کونکي سړي څخه پرې کړي او په خپلي مور پوري دي ئې وتړي .

س: که تر لعان وروسته مېړه له خپل قول څخه وگرځېدی او خپل ځان ئې دروا غجن
وگڼی ، د هغه څه حکم دی ؟

ج: په دغه وخت کي دي قاضي د قذف حد پر جاري کړي .

س: تر دغه وروسته د هغې سره دوهم ځل نکاح کول ورته روا دي ؟

ج: تر دې وروسته چي خپل ځان درواغجن وگڼي د هغې سره دوهم ځل نکاح کول ورته
روا دي .

س: که يو سړي يو بېگانه ښځي ته د زنا نسبت وکړی او د قذف حد پر جاري سو د هغو
په منځ کي د نکاح کولو څه حکم دی ؟

ج: د هغوی په منځ کي نکاح کول جائز دي .

س: که يوې ښځي زنا وکړل او حد پر جاري سو وروسته يو سړي د زنا نسبت ورته وکړی
دغه سړي ته دا روا ده چي نکاح ورسره وکړي ؟

ج: هو هغه ته دا روا ده چي نکاح ورسره وکړي .

س: که يو چا خپلي ښځي ته د زنا نسبت وکړی او هغه کوچنۍ يا لېونۍ وه ، د هغوی
په منځ کي لعان څه حکم لري ؟

ج: د هغوی په منځ کي نه لعان سته نه حد .

س: که يو چا خپلي ښځي ته د زنا نسبت وکړی او دی کوچنی يا لېونی وو په دغه
صورت کي لعان څه حکم لري ؟

ج: په دغه صورت کي لعان نسته (١) .

س: که گونگي خپلي ښځي ته د زنا نسبت وکړی قاضي به په لعان سره امر کوي ؟

---

(١) ځکه هغه د شاهدۍ اهل نه دی ، له " الهدايې " څخه .

ج : که ګونګی خپلې ښځې ته د زنا نسبت وکړي په هغه سره لعان نه لازمېږي .

س : که مېړه خپلې ښځې ته ووېل : ستا حمل (هغه کوچنی چې د ښځې په نس کې زړ...) زما څخه نه دی په دغه صورت کې په لعان سره امر کېږي ؟

ج : په دغه صورت کې لعان نسته (۱) .

س : که ئې ورته ووېل : تا زنا کړې ده اودغه حمل له زنا څخه دی ، په دغه خبره سر... لعان څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کې به لعان کوي اوقاضي دي دحمل نسب له ده څخه نه پرې کوي (۲) .

س : دخپلې ښځې دکوچني نسب له ځان څخه پرې کول په کوم وخت کې صحيح کېږي ؟

ج : که ئې تر زېږېدلو فورا وروسته يا په داسې وخت کې چې په عادت کې مبارکي ورکول کېږي يا د زېږېدلو د سامان د رانيولو په وخت کې د هغه نسب له ځانه پرې کړ... ، پرې کول ئې صحيح کېږي او د هغه له وجهې به لعان کوي او که ئې تر هغه وروسته ... هغه نسب له ځان څخه پرې کړی لعان به کوي او د هغه نسب دده په پرې کولو سره له ده ... څخه نه پرې کېږي ، دا د ابو حنيفه رح په نزد او ابويوسف رح او محمد رح وېلي دي : د... نفاس په مده کې ئې د نسب پرې کول صحيح کېږي .

س : په دې ځای کې يو عجيب سوال پيدا کېږي هغه دا چې که يوې ښځې دوه کوچنيان... غبرګولي وزېږول د اول نسب ئې له ځان څخه پرې کړی او په دوهم سره ئې اقرار وکړی يا... ئې په اول سره اقرار وکړی د دوهم نسب ئې له ځان څخه پرې کړی په دغو دوو صورتو... کې لعان او نسب ثابتوالی څه حکم لري ؟

س : په دواړو صورتو کې ددواړو هلکانو نسب له مېړه څخه ثابتېږي او په اول صورت... کې د قذف حد پر جاري کېږي او په دوهم صورت کې به لعان کوي .

(۱) ځکه دا په يقين سره نه معلومېږي چې د قذف په وخت کې حمل سته ځکه کېدای سي چې ... پاړسوب وي او که زموږ يقين پيداسي چې په هغه وخت کې حمل وو په دې توګه چې تر شپږو مياشتو ... کم کې کوچنی وزېږوي نو دده خبره داسې ګڼل کېږي لکه چې ووايي : که ته حامله يې ستا حمل زما ... څخه نه دی او په شرط سره قذف نه صحيح کېږي ، دا د امام قول دی او د صاحبينو په نزد که ئې تر ... شپږو مياشتو په کم کې کوچنی وزېږوی په منځ کې ئې لعان کېږي ځکه په يقين سره معلومه سول چې د ... قذف په وخت کې حمل وو . ددې جواب مخکې تېر سو "البحر الرائق ۴- ۱۳۱" .

(۲) ځکه تر زېږېدلو مخکې پر هغه حکم نه کېږي ، دغه رنګه په "الدر المختار" کې ذکر سوی دی .

د ایلاء باب

س: ایلاء په عربي ژبه او د فقه په اصطلاح کي څه ته وايي ؟

ج: د ایلاء لفظ له (الی) څخه مشتق دی چي د قسم په معنی سره دی ، دا په عربي ژبه کي او د فقه په اصطلاح کي د هغه مطلب دا دی چي یو سړی داسي قسم واخلي چي خپلي ښځي ته نه نژدې کیږي .

س: په سپیڅلي شریعت کي ایلاء څه حکم لري ؟

ج: لاندي تفصیل په یاد ولره تر څو چي د ایلاء حکمونه د هغه په مختلفو صورتو کي و پیژني :

که سړي خپلي ښځي ته وويل : په الله سره قسم چي څلور میاشتي نه درنژدې کېږم هغه ایلاء کونکی ګڼل کیږي ، که ئې په څلور میاشتو کي جماع ورسره وکړل قسم پر اوړي او د قسم کفارت (جزاء) پر لاژمیږي او ایلاء ختمیږي ، د ایلاء د ختمېدلو مطلب دا دی چي که تر دغه وروسته ورنژدې سو هیڅ شی نه پر لاژمیږي ، دغه نژدېوالی له ایلاء څخه رجوع بلل کیږي او که تر څلور میاشتو پوري ورنژدې نه سو په یوه بائن طلاق سره ځني بېلیږي او ایلاء ختمیږي (۱) .

او که ئې ورته وویل : په الله سره قسم چي نه در نژدې کېږم یا ابدا نه درنژدې کېږم او په څلورو میاشتو کي ورنژدې سو قسم پر اوړي او کفارت پر لاژمیږي او که څلور میاشتي تیري سوې او ورنژدې نه سو په یوه طلاق سره ځني بېلیږي لیکن په دغه صورت کي ئې قسم پاته دی ، که ئې بیرته په نکاح کړل ایلاء بیرته راګرځي ، که ئې تر هغه وروسته په څلورو میاشتو کي جماع ورسره وکړل د قسم کفارت پر لاژمیږي او که نه سو ورنژدې بل طلاق پر واقع کیږي ، که ئې دریم ځل په نکاح کړل بیرته ایلاء راګرځي ، په دغه صورت کي هم که ئې جماع ورسره وکړل د قسم کفارت پر لاژمیږي که نه د څلورو میاشتو تر تېرېدو وروسته بل طلاق پر واقع کیږي ، که ئې تر بل مېړه وروسته په نکاح کړل په دغه

(۱) په دغه مسئله کي دلیل د الله ﷻ دا قول دی ﴿ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاؤُوْا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ وَ إِنْ عَزَمُوْا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾ (کوم کسان چي د خپلو ښځو سره ایلاء کوي د هغوی لپاره د څلور میاشتو انتظار دی ، که ئې رجوع وکړل الله بخښونکی مهربان دی او که ئې د طلاق اراده وکړل الله اورېدونکی خبرلرونکی دی) سورة البقرة آية ۲۲۷ .

ایلاء سره طلاق نه پر واقع کیږي (۱) ، او قسم ئې پاته دی که ئې جماع ورسره وکړل د قسم کفارت به اداء کوي (۲).

س : که یو چا د طلاقي سوي ښځي سره ایلاء وکړل هغه ایلاء کونکی ګڼل کیږي ؟

ج : که ئې د داسي ښځي سره ایلاء وکړل چي په رجعي طلاق سره طلاقه سوې وي ایلاء کونکی ګڼل کیږي او که ئې د داسي ښځي سره ایلاء وکړل چي په بائن طلاق سره طلاقه سوې وي ایلاء کونکی نه ګڼل کیږي .

س : که ئې تر څلورو میاشتو په کمه مده سره قسم واخیستی هغه څه حکم لري ؟

ج : که ئې تر څلورو میاشتو په کمه مده سره قسم واخستی ایلاء کونکی نه ګڼل کیږي ، د هغه مطلب دا دی که په دغه مده کي چي قسم ئې پر اخیستی دی ورنژدې سو قسم پر اوړي او کفارت به ورکوي او که تر څلورو میاشتو یا له هغه څخه زیاته مده پوري ورنژدې نه سو ښځه ئې نه بائنه کیږي .

س : که یوې مینځي د یو سړي سره نکاح وکړل او مېړه ئې ایلاء ورسره وکړل د هغې په حق کي ایلاء څه حکم لري ؟

ج : د هغې په حق کي ایلاء دوې میاشتي ده ، که په هغو میاشتو کي مېړه نه سو ورنژدې په یوه طلاق سره ځني بائنه کیږي .

س : په دې خبره پوه سولو چي که ایلاء کونکی د څلورو میاشتو په مده کي خپلي ښځي ته ورنژدې سو د قسم کفارت پر لازمیږي او که د څلورو میاشتو تر تېرېدو پوري نه سو ورنژدې په یوه طلاق سره ځني بائنه کیږي مګر په زړه کي یو سوال پیداکیږي ، هغه دا چي که تر ایلاء وروسته پښېمانه سو او دا ئې وغوښتل چي د څلورو میاشتو په مده کي

---

(۱) ځکه هغه ددغه ملکیت په طلاق پوري خاص دی او هغه په درې طلاقه سره ختمیږي که په ابدي ایلاء سره بېل بېل پر واقع سي که تر ایلاء وروسته د هغه د مدې تر پوره کېدو مخکي په یوه ځل درې طلاقه ورکړي او تر بل مېړه وروسته بیرته ورته راوګرځي ځکه هغه ایلاء باطله سول او په نکاح سره بیرته نه راګرځي ، له (البحر) څخه .

(۲) یعني کله چي تر بل مېړه وروسته بیرته ورته راوګرځي او جماع ورسره وکي دقسم کفارت پر لازمیږي ځکه د کفارت په هکله قسم پاته دی او د طلاق په هکله نه دی پاته ، له (البحر الرائق ٤_٦٨) څخه .

رجوع ورته وکړي مګر دی ناروغه وو پر جماع ئې قدرت نه درلودی یا ښځه ناروغه وه یا ئې شرمځای بندوو یادومره کوچنۍ وه چي جماع نه ورسره کېدل یا ئې په منځ کي دومره مسافت وو چي دایلاء په مده کي نه سوای وررسېدلای څرنګه به رجوع ورته کوي ؟
ج: په دغو عذرو کي رجوع دا ده چي په ژبه ورته ووايي رجوع مي درته کړې ده . کله چي دغه ووايي ایلاء ئې ختمیږي .
س: که ئې په ژبه رجوع وکړل مګر د ایلاء په مده کي ئې عذر له منځه ولاړی دغه رجوع څه حکم لري ؟
ج: دغه رجوع ئې له منځه ځي او په جماع سره به رجوع کوي .

د ظهار باب

س: ظهار په عربي ژبه او شریعت کي څه ته وايي ؟
ج: دغه لفظ له ظهر څخه مشتق دی ، کله چي مېړه خپلي ښځي ته ووايي : ته پر ما د مور د شا په شان یې نو شرعي ظهار ئې ورسره وکړی چي په هغه سره ځیني احکام اړه لري .
س: دغه احکام بیان کړئ تر څو چي مقصد څرګند سي .
ج: کله چي مېړه د خپلي ښځي سره ظهار وکړي هغه پر حرامیږي نه ئې جماع ورته روا ده نه لاس وروړل نه مچول تر څو چي د خپل ظهار کفارت ورکوي ، که ئې تر کفارت مخکي جماع ورسره وکړل د الله ﷻ څخه به بخښنه وغواړي ، د یوه کفارت پرته بل شی نه پر لازمیږي او تر څو چي کفارت ورکوي دوهم ځل دي جماع نه ورسره کوي .
س: یوازي د ظهار په لفظ سره کفارت پر لازمیږي یا هغه په یو بل شي پوري تړلی دی ؟
ج: هغه په دې سره تړلی دی چي د هغې د جماع کولو اراده وکړي ، الله ﷻ ویلي دي : ﴿وَالَّذِيْنَ يُظَاهِرُوْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَا﴾ الايـــة (اوکوم کسان چي د خپلو ښځو سره ظهار کوي بیا بیرته خپلي خبري ته راګرځي د یوه مريي ازادول پر لازم دي مخکي له دې څخه چي یو بل ته لاس وروړي) .
س: تاسي دا خبره ذکر کړل : که یو چا خپلي ښځي ته وویل پر ما د مور دشا په شان یې ظهارکونکی ګڼل کیږي که ئې دشا پرته دیو بل اندام سره مشابه کړل څه حکم لري ؟
ج: که ئې ورته وویل ته پر ما د مور د نس په شان یې یا د مور د ورون په شان یې یا د

مور د شرمځای په شان يې هم ظهار کونکی ګڼل کيږي .

س : که ئې ورته ووېل : ستا سر يا ستا شرمځای يا ستا مخ يا ستا غاړه يا ستا نيمی يا دريمه زما د مور د شا په شان ده د هغه څه حکم دی ؟

ج : هغه هم ظهار کونکی ګڼل کيږي .

س : يوازي هغه وخت سړی ظهار کونکی ګڼل کيږي چي د مور د اندامو سره تشبيه ورکړي که د ټولو حرامو ښځو سره تشبيه ورکول دغه رنګه دي ؟

ج : ظهار يوازي د مور سره په تشبيه ورکولو سره خاص نه دی بلکه که ئې خپله ښځه د داسي حرامو ښځو سره مشابه کړل چي هغو ته په ابدي توګه کتل حرام وي لکه خور يا عمه يا رضعي مور د مثال په توګه چي ورته ووايي ته پر ما د خپلي خور د شا په شان يې يا دهغې دورون په شان يې يا دهغې د شرمځای په شان يې هم ظهارکونکی ګڼل کيږي .

س : که يو چا خپلي ښځي ته ووېل : ته پر ما زما د مور په شان يې يا زما د مور په رنګه يې ، د هغه څخه څه مطلب دی ؟

ج : په دغه کي دده نيت ته کتل کيږي ، که ده ووېل : زما مطلب دا وو چي ته پر ما د مور په شان ګرانه يې نو دغه رنګه خبره ګڼل کيږي او که ئې ووېل : زما مطلب ظهار وو ظهار ګڼل کيږي او که ئې ووېل : زما مطلب طلاق وو طلاق ګڼل کيږي او که ئې هيڅ نيت نه وو هيڅ شی نه ګڼل کيږي .

س : که يو سړي څو ښځي درلودې ، هغو ته ئې ووېل : تاسي پر ما زما د مور په شان ياست ، د هغه څه حکم دی ؟

ج : د ټولو سره ظهار کونکی ګڼل کيږي او د هري يوې لپاره کفارت پر لازم دی .

س : د ظهار کفارت څرنګه دی ؟

ج : الله ﷻ د سورة المجادلة په سر کي بيان کړی دی هغه دا چي يو مريی به ازادوي که ئې هغه نه درلودی دوې مياشتي پرله پسې به به روژې نيسي که ئې روژې نه سوای نيولای شپېتو مسکينانو ته دي ډوډوی ورکي دغه ټوله شيان به له جماع څخه مخکي وي (۱).

(۱) د مريي په ازادلو او روژو نيولو کي دغه خبره ښکاره ده ځکه هغه په څرګنده توګه ذکر سوي دي ، ډوډی ورکول هم دغه رنګه دي ځکه په هغه سره حرمت ختميږي نو په کار دا ده چي له جماع څخه مخکي وي تر څو چي جماع ورته روا سي ، له " الهدايې " څخه .

د ظهار په کفارت کي د مريي د ازادولو مسئلې

س : که يو چا وغوښتل چي د ظهار په کفارت کي مريی ازاد کړي څرنګه مريی په هغه کي کفايت کوي ؟

ج : په هغه کي د مسلمان او کافر نر او ښځي کوچني او لوی مريي ازادول کفايت کوي . د رانده يا هغه چي لاسونه ئې پرې وي يا ئې پښې پرې وي يا ئې يو لاس يوه پښه له يوې خوا څخه پرې وي يا ئې د دواړو لاسو بټي ګوتي پرې وي ازادول کفايت نه کوي . که ئي يو لاس يوه پښه له بېلي بېلي خواڅخه پرې وي په کفارت کي د هغه ازادول کفايت کوي .

س : که ئي کڼ مريی ازاد کړی هغه کفايت کوي ؟

ج : هو هغه کفايت کوي .

س : که ئې لېونی مريی ازاد کړی چي فهم ئې نه درلودی څه حکم لري ؟

ج : هغه کفايت نه کوي .

س : که ئي په کفارت کي مدبر مريی يا ام الولد مينځه يا داسي مکاتب مريی ازاد کړی چي د مال يوه برخه ئې اداء کړې وه ، هغه صحيح کيږي ؟

ج : نه صحيح کيږي .

س : که ئې داسي مکاتب مريی ازاد کړی چي هيڅ قدر مال ئې نه وو اداء کړی څه حکم لري ؟

ج : هغه صحيح دی .

س : که يو چا خپل پلار يا زوی رانيوی او په رانيولو سره ئې د کفارت لپاره د ازادولو نيت وکړی ، د هغه لپاره کفايت کوي ؟

ج : هو کفايت کوي .

س : په زړه کي يو سوال راګرځي هغه دا که د يو سړي او د هغه د شريك په منځ کي يو مريی مشترك وو ، هغه سړي خپله برخه ازاده کړل کومه چي دده په ملکيت کي وه او خپل شريك ته ئي د پاتي برخي تاوان ورکړي ، هغه هغه برخه ازاده کړل ، دغه ازادول له کفارت څخه صحيح کيږي ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد هغه نه صحيح کيږي ، ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي : که ازادونکی خان وو کفايت کوي او که فقير وو کفايت نه کوي .

س : که ظهار کونکي سړي دخپل مريي نيمه برخه دخپل کفارت لپاره ازاده کړل د هغه نيمه برخه ئې د کفارت لپاره وروسته ازاده کړل په دغه صورت کي تاسي څه واياست ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد په دې شرط صحيح کيږي چي د دوو ځلو ازادولو په منځ کي به جماع نه کوي (۱) .

د روژو مسئلې

س : تاسي دا خبره ذکر کړل چي که ظهار کونکی د کفارت اداء کولو اراده وکړي او مريی ئې نه درلودی دوې مياشتې پرله پسې به روژه نيسي ، موږ دا سوال کوو که ئې د شعبان او رمضان مياشت روژه ونيول هغه له کفارت څخه کفايت کوي ؟

ج : دغه کفايت نه کوي ځکه د رمضان د مياشتي روژه خو له دې کبله پر ده فرض ده چي دی مسلمان دی نه له دې کبله چي دی ظهار کونکی دی نو د رمضان د مياشتي روژه د ظهار په کفارت کي نه سي داخلېدای .

س : که ئې د شوال او ذوالقعدې د مياشتو روژې ونيولې يا ئې د ذوالقعدې او ذو الحجې د مياشتو روژې ونيولې ، هغه له کفارت څخه کفايت کوي ؟

ج : هغه هم کفايت نه کوي ځکه دکوچني اختر په ورځ ،د لوی اختر په ورځ اودتشريق په ورځو (د ذوالحجې د مياشتي يوولسمه ، دوولسمه او ديارلسمه) کي روژه نيول ممنوع دي ، نو د واجب روژې څخه کومه چي په پوره توګه ئې نيول واجب وي کفايت نه کوي .

س : که ئې د هغه ښځي سره د کومي سره چي ئې ظهار کړی وي د دوو مياشتو په منځ کي د کومو چي دی روژې نيسي جماع وکړل ، څه حکم لري ؟

ج : که ئې د دوو مياشتو په منځ کي دشپې په قصد سره يا دورځي په هېره ســره د هغې سره جماع وکړل (۲) د ابوحنيفه رح او محمد رح په نزد دي روژې له سره راوګرځوي .ابويوسف ويلي دي : له سره دي ئې نه راګرځوي .

---

(۱) ځکه دده په نزد ازادول په ټوټو سره کيدای سي ، او په آيت سره ثابته سوې ده چي ازادول به له جماع څخه مخکي وي نو که نيمه برخه له جماع څخه وروسته ازاده کړي نه صحيح کيږي ، د صاحبينـو په نزد د نيمي برخي ازادول د ټوله مريي ازادول ګڼل کيږي نو کله چي نيمه برخه ترجماع مخکي ازاده کړي داسي ګڼل کيږي چي ټوله مريی ئې تر جماع مخکي ازاد کړی ، له " الهدايې " څخه .

(۲) د ورځي سره ئې د هيري ټکی ولګوی ځکه که ئې د ورځي په قصد سره جماع ورسره وکړل په اتفاق سره به ئې له سره راګرځوي .

س : که ئې په دغو دوو مياشتو کي يوه ورځ په عذر يا بېله عذر څخه روژه ماته کړل څه حکم ئې دی ؟
ج : په دغه صورت کي به هم له سره روژې راګرځوي ځکه پرله پسې والی ځني پاته سو .

د خورك وركولو مسئلې

س : تاسي دا خبره ذکر کړل که ظهار کونکي دوې مياشتي پرله پسې روژې نه سوای نيولای شپېتو مسکينانو ته دي خوراك ورکوي ، د خورك وركولو څه طريقه ده ؟
ج : د هغه طريقه دا ده چي هر مسکين ته به نيمه کاسه غنم يا يوه کاسه خرما يا اوربشي يا د هغه قيمت ورکوي ، که د غرمي خورك او ماښام خورك په مړتيا سره ورکړي ، که لږ وخوري که ډېر صحيح کيږي (۱) .
س : که ئې يوه مسکين ته شپيته ورځي خورك وکړی څه حکم لري ؟
ج : له کفارت څخه کفايت کوي .
س : که ئې يوه مسکين ته په يوه ورځ کي دېرش کاسې غنم ورکړل يائې يو سل او شل کاسې اوربشي ورکړې ، دغه له کفارت څخه صحيح کيږي ؟
ج : دغه خورك يوازي د هغې ورځي لپاره کفايت کوي ، نورو نه پنځوس مسکينانو ته ته به خورك ورکوي .
س : که ئې د مثال په توګه هر مسکين ته نيمه کاسه غنم ورکول او د شپېتو مسکينانو د خورك ورکولو څخه مخکي ئې د هغه ښځي سره نژدېوالی وکړی د کومي سره چي ئې ظهار کړی وو ، له سره راګرځول پر لازم دي ؟
ج : له سره راګرځول نه دي پر لازم ځکه په آيت کي د خورك ورکولو سره د پرله پسې والي تکی نه دی ذکر سوی (۲) .

---

(۱) د مړتيا تکی ئې ورسره زيات کړی ځکه که په هغوی کي داسي څوك وو چي تر خورك مخکي موړ وو يا دومره کوچنی وو چي بلوغ ته نژدې نه وو نه صحيح کيږي .
(۲) هغه د الله ﷻ دغه قول دی ﴿ فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِيناً ﴾ (او څوك چي ئې طاقت نه لري شپېتو مسکينانو ته دي خورك ورکړي) د خورك ذکر ئې وکړی او د ﴿ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ﴾ قول ئې نه کړی زيات څرنګه چي ئې د مريي په ازادولو او روژو نيولو کي زيات کړی وو .

متفرقي مسئلې

۱: که مريي د خپلي ښځي سره ظهار وکړی په کفارت کي بېله روژې څخه بل شی کفايت نه کوي ځکه هغه د کوم شي مالك نه دی ، که ئې بادار د هغه له خوا څخه مريی ازاد کړی يا ئې شپېتو مسکينانو ته خورك وکړی کفايت نه ورته کوي .

۲ : که پر يو سړي دوه د ظهار کفارتونه واجب سول او دوه مريان ئې ازاد کړل ، په نيت کي ئې د يوه کفارت لپاره خاص مريی نه وټاکی له دواړو څخه کفايت کوي .

۳ : دغه رنګه که په پر سړي دوه د ظهار کفارتونه واجب سول څلور مياشتي ئې روژه ونيول يا ئې يو سل او شل مسکينانو ته خورك وکړی او د هر يوه لپاره ئې معلوم نه کړی . هغه د دواړو لپاره کفايت کوي .

٤ : او که ئې له دوو کفارتو څخه يو مريی ازاد کړی يا ئې دوې مياشتي روژه ونيول له هر يوه څخه چي ئې ګرځوي کولای ئې سي .

د نفقو (خرڅو) کتاب

س: د وجوب په لحاظ د نفقې څه تفصيل دی ؟
ج: د ماينو ، اولاد ، طلاقو سوو ښځو ، مور او پلار او قريبانو لپاره نفقه واجب ده .

د ماينو نفقه

س: لمړی هغه احکام ذکر کړئ کوم چي د ماينو په نفقه پوري اړه لري .
ج: راتلونکي مسئلې په ياد ولره :

۱ : د ماينې نفقه پر خپل مېړه واجبه ده که مسلمانه وي که له اهل کتابو څخه وي کله چي خپل ځان هغه ته د هغه په کور کي وروسپاري ، او د هغې کالي او اوسېدنځی هم پر هغه واجبه ده ، په دغو شيانو کي د دوی دواړو حالتو ته کتل کيږي که ئې مېړه خان وي که مسکين .

۲ : که ئې له مېړه څخه سرغړونه وکړل او خپل ځان ئې هغه ته دده په کور کي ونه سپاری تر څو چي بيرته سمي ګذارې ته را ګرځي هغې لره نفقه نسته .

۳ : که ئې ددې لپاره د خپل ځان له سپارلو څخه ډډه وکړل چي هغه ددې مهر ورکي په دغه صورت کي هغې لره نفقه سته .

٤ : که ئې ماينه دومره کوچنۍ وه چي خوند نه سوای پر اخيستل کېدلای که څه هم ځان وروسپاري نفقه ئې پر مېړه نسته .

٥ : که هغې خپل ځان وروسپاری او مېړه ئې کوچنی وو پر جماع ئې قدرت نه درلودی او هغه لويه وه هغې لره دده په مال کي نفقه سته .

٦ : که ښځه په پورکي بندي سول يا يوچا په زور سره وتښتول هغې لره نفقه نسته.

۷ :که ئې پرته له مېړه څخه (۱)دبل چا سره دحج لپاره سفروکړی نفقه ورلره نسته .

(۱)دمېړه پرته حج کولو کي د يومحرم سره حج کول يا يوازې حج کول دواړه شامل دي دغه تکی ئې ددې لپاره ذکر کړی چي هغه صورت ووزي چي د مېړه سره سفر وکي ، په هغه صورت کي په اتفاق سره نفقه پر لازمه ده ، هغه د کور نفقه ده نه د سفرنو دخورك چي په کورکي څومره قيمت وي هغه ته کتل کيږي نه هغه ته کوم چي په سفر کي وي د لاري کرايه او دسفر نور خرڅ نه دی پر واجب " البحرالرائق ٤ – ١٩٧ "

۸ : که د مېړه په کور کې ناروغه سول نفقه ورلره سته .

۹ که يو سړي يوه مينځه په نکاح کړل او بادار ئې په يو کور کې دده سره واوسول نفقه ئې پر واجبه ده .

۱۰ : که يو مريي د بادار په اجازه يوه ازاده ښځه په نکاح کړل د هغې نفقه پر ده پور ده دی په کښي خرڅيږي مګر هغه وخت نه دی پور که بادار له خپل مال څخه پر هغې خرڅ کوی .

س : که يوې ښځي د پلار په کور کې مخکې له واده څخه خادم درلودی ، پر مېړه ئې د خادم خرڅ واجب دی ؟

ج : هو که خان وو واجب دی ، له يوه څخه د زيات خادم خرڅ نه دی پر واجب .

س : که يو سړی دومره مسکين سو چې پر ماينې ئې خرڅ نه سوای‌کولای هغوی سره بېليږي ؟

ج : سره بېليږي نه : هغې ته ويل کيږي چې پور وکه کله چې پيسې پيدا کړي در اداء به ئې کړي .

س : که يو قاضي د ښځي لپاره د مسکنت د نفقې فيصله وکړه وروسته خان سو ، هغې د نفقې د زياتوالي لپاره جګړه وروسره وکړه نفقه به ورزياتوي ؟

ج : هو هغه به وربوره کوي .

س : که يو څه مده تېره سول چې په هغه کې مېړه پر خپلې ماينې پيسې نه کړې خرڅې ، وروسته هغې د هغه پيسو غوښتنه وکړه کومې چې دې پر خپل ځان خرڅي کړې وې ، پر مېړه د هغو پيسو اداء کول واجب دي ؟

ج : په دغه صورت کې دې لره هيڅ شی نسته مګر يوازې په هغه وخت کې هغې لره نفقه سته که قاضي يو مقدار نفقه ورته ټاکلې وه يا مېړه پر يوه خاص مقدار نفقه جوړه ورسره کړې وه . په دغو صورتو کې د هغې لپاره د تېرو وختو د نفقې فيصله کيږي .

س : که پر مېړه د نفقې فيصله وسول او هغه تر څو مياشتو پوري اداء نه کړل وروسته هغه مړ سو . هغه نفقه څه حکم لري د کومې چې پر ده فيصله سوې ده ؟

ج : په دغه صورت کې نفقه ساقطيږي (له منځه ځي) .

س : که يو چا ماينې ته د يوه کال نفقه ورکړل تر څو چې پر خپل ځان ئې خرڅه کړي وروسته له کال څخه مخکې له هغو څخه يو مړ سو پاته نفقه بيرته ځني اخيستل کيږي ؟

ج : هيڅ شی نه څني اخيستل کيږي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد . محمد رح ويلي دي د نيرو ورځو نفقه ددې لپاره حسابل کيږي ، کومه چي پاته سي هغه ئې د مېړه ده .

د اوسيدنځۍ مسئلې

س : تاسي ذکر کړل چي د ماينې لپاره پر مېړه نفقه او اوسېدنځۍ واجبه ده په څرنګه کور کي به ئې اوسوي ؟

ج : پر هغه واجب ده چي په يوازي کور کي به ئې اوسوي چي په هغه کي دده له قريبانو څخه هيڅ څوك نه وي مګر که هغې دا غوره کړل هغه ورسره اوسېدلای سي .

س : که مېړه په يو کور کي واوسول او د هغې مور او پلار او قريبان او د بل مېړه اولاد ورته راتلل ، ده ته روا ده چي هغوی له راتلو څخه منع کړي ؟

ج : ده روا ده چي له کور ته ورتلو څخه ئې منع کړي مګر دې ته له کتلو او ددې سره له خبرو څخه ئې په کوم وخت کي چي ددوی خوښه وي نه سي منع کولای .

د هغه ښځي د نفقې او اوسېدنځۍ مسئلې کومه چي په عده کي وي

س : کومه ښځه چي په عده کي وي پر هغې به د هغې په عده کي څوك خرڅ کوي ؟

ج : که يو سړي خپله ښځه طلاقه کړل هغې لره پر خپل مېړه کوم چي دا ئې طلاقه کړې وي نفقه او اوسېدنځۍ سته که رجعي طلاق وي که بائن (۱) ، کومه ښځه چي مېړه ئې څني وفات سوی وي هغې لره د مېړه په مال کي نفقه نسته ، کوم مال چي دې ته په ميراث پاته سوی وي له هغه څخه به خرڅ کوي .

س : په کوم سبب سره د طلاقي سوي ښځي نفقه ساقطيږي ؟

ج : که د ښځي له خوا د کومي سر غړوني له کبله بېلتون راغلی هغې لره نفقه نسته لکه چي له اسلام څخه مرتده سي (نعوذ بالله) يا له طلاق څخه مخکي د مېړه زوی ددې په خوښه جماع ورسره وکړي ، په دغه صورت کي ئې نفقه ساقطيږي .

س : که تر طلاق وروسته د مېړه زوی ددې په خوښه جماع ورسره وکړل څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه صورت کي هغې لره نفقه سته ؟

---

(۱) دغه رنګه هغه ښځه چي په مغلظ طلاق سره طلاقه سوې وي .

د اولاد نفقه

س : که د مېړه او مايني يو کوچنی وو هلك يا نجلۍ نفقه ئې پر چا واجبه ده ؟

ج : د کوچني اولاد نفقه پر پلار واجب ده په هغه کي دده سره هېڅ څوك نه دی شريك ځرنګه چي د ماينې په نفقه کي څوك ورسره شريك نه دی .

س : د اولاد سره مو د کوچني تکی ولي زيات کړی ؟

ج : ځکه نر اولاد چي لويان وي نفقه ئې پر پلار نه ده واجب ځکه هغوی خپله کار کولای سي مګر که لوی زوی معذور وو پر پلار او مور ئې په درو برخو سره نفقه واجب ده ، دوې دريمي پر پلار او يوه دريمه پر مور ، لويه لور چي مېړه نه لري د هغې نفقه هم پر پلار او مور په درو برخو سره واجبه ده ، دا هغه وخت که لوی معذور زوی او لويه لور مسلمانان وه .

س : د کوچني اولاد نفقه په ټولو حالاتو کي پر پلار واجبه ده که په هغه کي کوم تفصيل سته ؟

ج د هغوی نفقه هغه وخت پر پلار واجب ده که خپله د مال مالکان نه وه ، که هغوی د مال مالکان وه د دوی له مال څخه دي پر هغوی خرڅ وکړي .

س : ځرنګه کېدای سي چي کوچنيان مال ولري او هغوی کار نه سي کولای .

ج دا په هغه صورت کي کيدای سي چي يو بخښونکی کوچني ته د هغه په ژوند کي مال وروبخښي يا هغه لره په مال سره وصيت وکړي چي دده تر مرګ وروسته دي ورکړل سي يا د ميراث په توګه مال ورته پيدا سي .

د مور او پلار نفقه

س : د مور او پلار نفقه پر چا واجبه ده ؟

ج : څوك چي خپله مال لري چي دی ئې مالك وي هغه به له هغه څخه پر خپل ځان خرڅ کوي که ځوان وي که زوړ ، سړی وي که ښځه ، په دغه کي مور او پلار او نور کسان هم داخل دي بېله ماينې څخه ځکه د هغې نفقه پر مېړه واجبه ده که څه هم هغه خانه وي ، که له مور او پلار څخه يو يا دواړه فقيران وي پر اولاد ئې نفقه واجبه ده (۱) ، د مور او پلار په نفقه کي د اولاد سره هيڅ څوك نه شريکيږي ، ځرنګه چي د مور او پلار نفقه پر اولاد واجبه ده د نيکه ګانو او اناګانو نفقه هم پر واجبه ده که فقيران وه .

س: كه يو سړى له خپل كور څخه تللى وو او مال ئې درلودى چي دده د مور او پلار په لاس كي وو هغوى له هغه څخه پر خپل ځان خرڅ وكړى دهغه تاوان پر هغوى واجب دى ؟

ج: نه دى پر واجب .

س: كه يو سړى له خپل كور څخه تللى وو او مال ئې درلودى ، مور او پلار ئې مال يا مځكه خرڅه كړل تر څو چي پر خپل ځان خرڅ ځني وكړي هغوى ته دا روا ده ؟

ج: كه دوى نفقې ته محتاج وه او دده مال ئې خرڅ كړى د ابوحنيفهرح په نزد روا دى او كه ئې مځكه خرڅه كړل نه ده روا ؟

س: كه يو سړى له كور څخه تللى وو او مور او پلار ئې ده ته د نفقې لپاره ضرورت درلودى ، قاضي ته روا ده چي د هغه له مال څخه پر هغوى د خرڅولو فيصله وكړي ؟

ج: هو قاضي به په دغه سره فيصله كوي .

س: كه د يو چا زوى له كور څخه تللى وو او هغه مال درلودى چي د يو بېګانه سړي په لاس كي وو ، هغه بېګانه سړي له هغه څخه دده پر مور او پلار خرڅ وكړى پر هغه ددغه مال تاوان لازميږي ؟

ج: كه ئې د قاضي په اجازه سره خرڅ پر كړى وو تاوان ئې نه پر لازميږي او كه ئې د قاضي د اجازې پرته خرڅ كړى وو تاوان ئې پر لازميږي .

س: د دين د بېلوالي سره د يو چا نفقه پر يو بل چا لازميږي ؟

ج: د دين د اختلاف سره د يو چا نفقه پر بل چا نه لازميږي بېله مايني ، مور او پلار ، نيكه ګانو او انا ګانو او اولاد او د اولاد اولاد ، د دغو قريبانو پرته د نورو قريبانو نفقه د دين د اختلاف سره پر چا نه لازميږي څرنګه چي د دغو كسانو پرته د بل چا نفقه پر فقير سړي نه لازميږي .

ص ٤٠٠ پاته برخه : (١) د اولاد لفظ ئې عام ذكر كړى تر څو چي دا وښوي چي د نر او ښځي په هغه كي فرق نشته ، او په " الهدايه " كي ذكر سوي دي : په ظاهر روايت كي هغه پر نرو او ښځو په برابره ډول واجبه ده . دغه قول صحيح دى ځكه د اولاد معنى په دواړو كي په برابره توګه شته ، او په " الخلاصه " كي ذكر سوي دي : په دغه سره فتوى كيږي او په " فتح القدير " كي ذكر سوي دي : دغه قول حق دى ځكه د نفقې واجبوالى په زېږېدلو پوري اړه لري او هغه په دواړو كي په برابره توګه شته . په هغه صورت كي چي د نفقې واجبوالى د زېږېدلو له كبله نه وي هغه له دې څخه بېل دى ځكه په هغه صورت كي د نفقې واجبوالى په ميراث پوري اړه لري اه ، له " البحر الرائق ٤-٢٢٤ " .

س : څرنګه ممکنه ده چي د کوچني هلك دين د پلار د دين څخه بېل وي ؟

ج : د هغه صورت دا دی چي يو ذمي سړی يوه ذمي ښځه په نکاح کړي او هغه کوچنی وزېږوي ، وروسته هغه ښځه مسلمانه سي او پلار ئې مسلمان نه سي دغه په دين کي د خپلي مسلماني مور تابع ګڼل کيږي او نفقه ئې پر کافر پلار لازميږي .

فائده

که يو سړی له کور څخه تللی وو ، د يو سړي سره دده مال وو او هغه په دغه اعتراف کوی او په دې سره ئې هم اعتراف کوی چي فلانکی دده مانه ده قاضي دې دغه مال کي دده د ماينې ، کوچني اولاد او مور او پلار نفقه وټاکي او د ماينې څخه دې په هغه سره ضامن واخلي ، د دغو کسانو پرته د نورو کسانو لپاره دي د غائب (کوم چي له کور څخه وتلی وي) په مال کي د نفقې فيصله نه کوي .

د قريبانو نفقه

س : د مور او پلار او اولاد پرته د نورو قريبانو نفقه پر يو چا لازميږي ؟

ج : پر قريبانو د دوی د ميراث په قدر (۱) د هر قريب چي د هغه لپاره محرم وي نفقه لازمه ده که کوچنی او فقير وو يا بالغه ښځه او فقيره وه يا نر معذور يا ړوند فقير وو .

فائده

که پر يو سړي د اولاد ، مور او پلار او قريبانو لپاره قاضي د نفقې فيصله وکړل ، يو مده تېره سول او هغه خرڅ نه پر وکړی نفقه ئې ساقطيږي مګر که قاضي دوی ته د پور کولو اجازه کړې وه نه ساقطيږي (۲) .

د مريانو نفقه

س : که مريی يا مينځه د يو چا په ملکيت کي وي د هغو نفقه پر ده لازميږي ؟

ج : پر هغه لازمه ده چي پر خپل مريي او مينځي پيسې خرڅي کړي ، که هغه له دې څخه ډډه وکړي اودوی کارکولای پيسې ګټلای سي کاردي وکړي او له هغه څخه دي پر خپلو ځانو خرڅ وکړي او که ئې کار نه وو زده قاضي دي بادار مجبور کړي چي خرڅ ئې کړي .

---

(۱) لکه چي يو څوك نيکه او لمسی ولري پر نيکه ئې د نفقې شپږمه ده او پاته ئې پر لمسي ده ځکه که دی مړ سي هغوی په دغه ډول له ده څخه ميراث وړي .

(۲) يعني د مدې په تېرېدو سره د هغو نفقه نه ساقطيږي که ئې د قاضي په اجازه سره پور کړی وو .

اولاد ته تی ورکول او د هغوی روزنه

س: كه د مور او پلار يو تی رودونكی كوچنی وو څوك به تی وركوي او څوك به د تی وركولو غوښتنه كوي ؟

ج: كه ئې مور په دې راضي سول چي تی وركړي ډېر ښه دی مګر پر لازمه نه ده كه ئې له څخه ډډه وكړل پلاربه يوه ښځه ورته مزدوروي ترخودمورپه نزدهغه ته تی وركړي .

س: مور ته ئې دا نه ده روا چي په مزدوري تی وركړي څرنګه چي بله ښځه ئې وركوي ؟

ج: كه تی وركونكې دده د پلار مابنه وه يا داسي ښځه وه چي پلار ئې طلاقه كړې وه او په عده كي وه هغوی ته د دوی د زوی پر تی وركولو مزدوري اخيستل روا نه دي ځكه د هغوی نفقه د هلك پر پلار له بله پلوه واجب ده ، كه طلاقه سوې ښځه د عدې تر تېرېدو وروسته د خپل زوی پر تی وركولو مزدوري واخلي دا ورته روا ده .

س: كه پلار په مزدوري يوتی وركونكې ښځه راوستل دمورعده ئې تېره سوې وه اود هغې ښځي دمزدورۍ په قدرراضي سول څوك دتی وركولو لپاره مستحقه ګڼل كيږي ؟

ج: مور ئې د خپل هلك د تی وركولو لپاره مستحق ګڼل كيږي .

س: كه مور تر هغه قدر چي بېګانه ښځه په راضي سوې وه زياته مزدوري غوښتل . پلار پر دې مجبور كيږي چي مور ئې د تي وركولو لپاره وټاكي ؟

ج: پر دغه نه مجبوره كيږي .

س: كه د مېړه او مابنې په منځ كي بېلتون راسي څوك د اولاد مستحق دی ؟

ج: مور داولاد مستحقه ده كه مور نه وه د مور مور د پلار تر مور مستحق ده كه ئې د مور مور نه وه د پلار مور ترخوندومستحقه ده كه ئې دپلار مور نه وه ترعمه ګانواو خاله ګانو خوندي مستحق دي د پلاراومورله خوا خور تر نورو خوندو مخكي كيږي بيا د مور له خوا خور بيا د پلار له خوا خور بيا تر عمه ګانو خاله ګاني مستحق دي بيا عمه ګاني بيا، په عمه ګانو او خاله ګانو كي هم دغه رنګه ترتيب دی كوم چي په خوندو كي وو .

س: د روزني حق په يو وجه سره له منځه ځي ؟

ج: له دغو ښځو څخه چي كومه يوه نكاح وكړي د روزني حق ئې له منځه ځي ښبله انا نه چي مېړه ئې نيكه وي دغه رنګه كه مور د داسي چا سره نكاح وكړي چي هغه د هلك لپاره محرم وي لكه چي د هغه د تره سره نكاح وكړي .

س: كه مورهلك د روزني لپاره نه اخيستی اوبله داسي ښځه نه وه چي دهغه روزنه وكړي

څرنګه فيصله کيږي ؟

ج : مور ئې پر روزنه مجبوره کيږي .

س : که د هلك په قريبانوکي يوه داسي ښځه نه وه چي دده روزنه وکړي او خلګو په هغ
کي جګړه کول څوك به ئې روزنه کوي ؟

ج : هغه څوك د هغه لپاره مستحق دی چي په نسب کي ډېر ورنژدې وي (۱) .

س : تر څومره مدې پوري ښځي د روزني حق لري ؟

ج : مور يا انا تر هغه وخت پوري د هلك مستحق دي تر څو يوازي خورك کوي يوازي
څښتګ کوي يوازي کالي اغوندي او يوازي استنجاء وهي (۲) او د نجلۍ د روزني تر
هغه وخت پوري مستحق دي تر څو حيض ورځي (۳) د مور او انا څخه پرته نـوري ښځي

---

(۱) يعني که د هلك له محرمو قريبانو څخه ښځه نه وه او سړيانو جګړه په کښي وکړل نو د هغه د روزني
لپاره ډېر مستحق هغه څوك دی چي په نسب کي ورنژدې وي ځکه د تصرف حق د هغه چا دی چي ډېر
ورنژدې وي نو تر ټولو پلار مخکي کيږي بيا نيکه دپلار پلار که څه هم لوړ وي بيا سکه ورور بيا د پلار
له خوا ورور بيا دسکه ورور زوی بيا د پلار د خوا د ورور زوی دغه رنګه د هغوی له اولاد څخه چي
کښته وي بيا تره چي د پلار ئې سکه ورور وي بيا هغه اکا چي د پلار ئې د پلار له خوا ورور وي ، د اکا
زامنو ته هلك ورکول کيږي په دې توګه چي لمړی د پلار او مور له خوا د اکا زوی مخکي کيږي بيا د
پلار له خوا د اکا زوی او نجلۍ نه ورکول کيږي ځکه هغوی محرم قريبان نه دي دغه رنګه که ئې مور
امينه ښځه نه وه يا قريبان فاسقان وه يا هغه بادار چي دی ئې ازاد کړی وي نجلۍ نه ورکول کيږي تر څو
چي له فتنې څخه ژغورنه راسي ، له " البحر الرائق ٤-١٨٣ " .

(۲) مصنف د مور او انا په ذکر کولو سره دې ته اشاره وکړل چي له دوی څه پرته د نورو ښځو خو هم
دغه حکم دی ، که مصنف داسي ويلي وای : او روزونکې ښځه تر هغه وخت پور د هلك د روزني
مستحق ده تر څو چي هغه له احتياج څخه وزي ډېر به واضح وای ، له " البحر ٤-١٨٤ " څخه .

(۳) له محمد څخه روايت سوی دی که نجلۍ د شهوت درجې ته ورسيږي پلار ته دي ورکړل سي ځکه د
هغې د ساتني ضرورت سته ، په " النقايه " کي ئې ويلي دي دغه قول معتبر دی ځکه زمانه فاسده ده
په " نفقات الخصاف " کي ذکر سوي دي له ابويوسف رح څخه دغه رنګه روايت سوی دی ، په " التبيين "
کي ذکر سوي دي په دغه قول سره زموږ په زمانه کي فتوی کيږي ځکه فساد ډېر دی ، په " الخلاص " او
" غياث المفتي " کي ذکر سوي دي پر دغو روايتو اعتماد دی ځکه زمانه فاسده ده نو خلاصه داده چي
فتوی د ظاهر روايت پر خلاف ده ځکه په " التجنيس " کي په څرګنده توګه ذکر سوي دي چي ظاهر
روايت دادی چي د حيض ورتلو تر وخت پوري هغه په نجلۍ سره مستحق ده ، " البحر الرائق ٤-١٨٤ " .

تر هغه وخت پورې د نجلۍ د روزنې مستحق دي تر څو چې داسې حد ته رسیږي چې اشتهاء ورته کیږي .

س : که کتابي ښځه د مسلمان سړي مایېنه وي او له هغه څخه کوچنی وزیږوي ، ددغه مسلمان هلك د روزني څوك مستحق دی ؟

ج : تر څو چې هلك په دین نه پوهیږي یا له دې څخه بېره نه وي چې د کفر سره عادت نیسي دا د هغه د روزنې لپاره مستحق ده .

س : د مینځې د خپل هلك د روزني په هکله څه حکم دی ؟

ج : تر ازادېدلو مخکې مینځې او ام الولد لره د روزنې حق نسته (۱) ، کله چې ازادې سې د ازادو ښځو په شان ګڼل کیږي .

س : که یوه ښځه طلاقه سول او خپل هلك ئې د روزنې لپاره واخیستی څکه چې دا د هغه لپاره مستحق وه ، دې دا غوښتل چې له هغه ښار څخه ئې وباسي په کوم کې چې د هغه پلار اوسي ، دې لره دا حق سته ؟

ج : دې لره دا حق نسته مګر که ئې هغه وطن ته بېوی په کوم کې چې د هلك پلار ددې سره نکاح کړې وي په دغه صورت کې دا حق لري .

(۱) څکه د بادار د خدمت له وجهې د هغه له روزني څخه عاجزه دي کله چې ازادي سي د حق د ثابتېدو په وخت کې د ازادو په شان ګرځي ، مدبره مینځه هم په مینځه کې داخله ده څکه هغه هم مینځه ده دغه رنګه مکاتبه مینځه د هغه هلك په هکله چې تر مکاتب والي مخکې زیږېدلی وي ، کوم هلك چې ئې تر مکاتب والي وروسته زیږولی وي د هغه د روزني لپاره تر بل چا دا مستحق ده څکه هغه ددې په مکاتب والي کې داخل سو هغه حق چې هغې ته نه دی ورکول سوی د روزني حق دی ، دوی ویلي دي : د هغه او د مور په منځ کې بېلتون نه راوستل کیږي څکه له هغه څخه منع راغلې ده ، "البحر الرائق ٤-١٨٥" .

د مفقود (څوك چي ورك وي) كتاب

س : كله يو څوك له خپل ښار څخه تللى وي او ځاى ئې نه وي معلوم او دا نه وي معلوم چي ژوندى دى كه مړ په دغه صورت كي دده د مال او نورو شيانو ساتنه څوك كوي ؟

ج : قاضي به يو څوك ټاكي چي دده د مال ساتنه وكړي او دده حقوق له خلكو څخه واخلي او دده پر ماينې او كوچني اولاد دده له مال څخه خرڅ وكړي .

س : قاضي به مفقود او د هغه ښځه سره بېلوي او هغې ته به د نكاح كولو اجازه كوي ؟

ج : د هغه اودهغه ښځي به قاضي ترهغه وخت پوري نه سره بېلوي ترڅودزېږېدو له نېټي څخه ئې يو سل او شل كاله پوره كيږي (١) كله چي دغه عمر پوره سي د هغه په مرګ سره حكم كيږي او ښځه به ئي د وفات عده تېروي بيا كه ئې خوښه وه نكاح به كوي .

س : كله چي قاضي د هغه په مرګ سره حكم وكړي او د هغه ځيني وارثان موجود وي ځيني له هغه څخه مخكي مړه سوي وي اوس به ميراث څرنګه ويشي ؟

ج : كوم وارثان چي په دغه وخت كي موجود وي د هغو په منځ كي دغه ميراث ويشل كيږي ، كوم وارثان چي مخكي مړه سوي وي هغوى ته هيڅ ميراث نه وركول كيږي .

س : كه د هغه د مرګ تر فيصلې مخكي دده له قريبانو څخه ځيني كسان مړه سوي وه مفقود له هغو څخه ميراث وړاى سي ؟

ج : مفقود له هيڅ چا څخه ميراث نه سي وړاى كوم چي دده د وركوالي په وخت كي مړه سوي وي .

---

(١) دا د ابوحنيفهرح مذهب دى او دغه ډېر احتياطمن دى ، وروسته چي وروستنيو حنفي علماوو فتنې او پېښي وليدلې او دا چي تقوى لږده او په ښځو كي صبر نسته د امام مالك پر مذهب ئې فتوى وركړل ، هغه دا چي ښځه به قاضي ته ورځي او په شرعي شاهدي سره به دا ثابتوي چي مېړه ئې له فلانكي وخت څخه مفقود دى نو قاضي به څومره چي ممكن وي د هغه تلاښ كوي كله چي نا اميده سي ښځي ته به امر كوي چي له دغه وخت څخه څلور كاله انتظار وكړي ، كه د مفقود سړي هيڅ خبر نه راغلى او ژوند او مرګ ئې نه وو معلوم نو د هغه په مرګ سره حكم كيږي او تردغه وروسته به ښځه د وفات عده تېروي وروسته چي ئې كله خوښه سي د بل مېړه سره دي نكاح وكړي (د تفصيل او ډېر وضاحت لپاره د حكيم الامه مولانا اشرف علي التهانوي كتاب " الحيلة الناجزه للحليلة العاجزة " وګوره .

س: ځرنګه يو ازاد سړی مريی او يوه ازاده ښځه مينځه ګرځي ؟
ج: جهاد د قيامت تر ورځي پوري چليږي . كله چي مومنان د كافرانو سره جهاد وكړي او هغوی ونيسي ددغو بنديانو په هكله د مومنانو امير ته دا روا ده چي مريان ئې كړي يعني د هغوی په مريي توب سره حكم وكړي او مريان او مينځي ئې كړي كله چي داسي وكړي او د غنيمت اخيستونكو په منځ كي ئې وويشي د غنيمت اخيستونكو لپاره ملكيت ګرځي .
س: داسلام دښمنان پر مريي ګرځولو اعتراض كوي او وايي چي دا پر انسان تېری دی ؟
ج: ددوی اعتراض پالتو دی او قول ئې ظلم دی ځكه كله چي كافران په جهاد كي ونيول سي كه بيرته د كفر هېواد ته واستول سي د اسلام او مسلمانانو سخت دښمنان ګرځي او كوم هدايت چي الله ﷻ په قران كريم كي نازل كړی دی له هغه ځخه ډېر ليري كيږي او كه ئې امام بنديان كړي خرڅي ئې پر بيت المال كيږي او دا تاوان دی چي هېڅ فائده نسته په كښي نو مناسب دا دی چي امام ئې پر غنيمت اخيستونكو وويشي او د خپلو بادارانو خدمت كونكي وي هر مريی د خپل بادار لپاره پيسې ګټي او د هغه له كور ځخه خورك كوي نو پر هغه به بار نه وي او داسي به وي لكه د هغه دكور يو فرد . په دې كي د بادار او مريي دواړو دنيوي فائده ده ، د دين په حيث د مريي دا فائده ده چي كله مريی د مسلمانانو په يو كور پوري اړه لري د هغو لمونځونه ، روژې او عبادتونه ويني او قران كريم ته غوږ نيسي او دا ويني چي هغوی د الله ﷻ په ذكر سره مشغول وي او د هغوی ښه اخلاق ويني . هغه په دغه سره متاثر كيږي او د الله ﷻ په دين كي داخليږي او د اور عذاب ځني ګرځي او دا پر هغه لوی احسان دی ، د هغه مريانو او مينځو چي اسلام ئې راوړی وي وروسته په علم او عمل كي لوړي مرتبې ته رسېدلي دي د هغوی په ذكر سره د تاريخ ورقي ډكي دي ، مريي كول لازم نه دي ځكه د مومنانو امير تـه اختيـار سته چي مريان كوي ئې كه بله معامله ورسره كوي ، د سير په كتاب كي به ان شاء الله دغه وپيژنې . بيا سپيځلي شريعت د مريانو په ازادولو كي رغبت وركړی دی او په

کفارتو کي ئې د مریانو د ازادولو امر کړی دی او مدبر ګرځول او مکاتب کول ئې په شریعت کي پیدا کړي دي ، په دغو لارو سره مریی ازادیږي .

س : سړی به خپل مریی څرنګه ازادوي ؟

ج : که عاقل بالغ سړی خپل مریي یا مینځي ته ووایي ته ازاد یې یا ازاد کړل سوی یې یا مي ازاد کړی یې که د ازادولو نیت وکړي که نه هغه ازادیږي ځکه دغه الفاظ د ازادولو په هکله صریح (څرګند) دی او په صریح الفاظو کي نیت ته ضرورت نسته .

س : که بادار ازادول د مریي ځینو اندامو ته منسوبه کړی په هغه سره ازادیږي ؟

ج : که ورته ووایي ستا سر ازاد دی یا دي غاړه ازاده ده یا دي مخ ازاد دی یا دي بدن ازاد دی هغه ازادیږي دغه رنګه که مینځي ته ووایي شرمځای دي ازاد دی ازادیږي (۱) .

س : که ئې ورته وویل زما پر تا ملکیت نسته څه حکم لري ؟

ج : که ئې په دغه سره د ازادولو نیت کړی وو ازادیږي که ئې نه وو کړی نه ازادیږي ، دغه رنګه د ازادولو ټوله کنایي الفاظ لکه چي ورته ووایي زما له ملکیت څخه وتلی یې یا زما پر تا کومه لاره نسته که ئې په دغو الفاظو سره د ازادولو نیت وکړی ازادیږي که نه نه ازادیږي .

س : که ئې ورته وویل زما پر تا پاچهي نسته هغه پر ازادیږي ؟

ج : په دغه سره که څه هم د ازادولو نیت وکړي نه ازادیږي .

س : که یو چا د خپل مریي په هکله وویل : دا زما زوی دی (۲) او پر داغه قول ودرېدی یا ئې وویل دا زما بادار دی یا ئې داسي ږغ ورووکی : ای زما باداره په دغه سره پر ازادیږي ؟

ج : هو په دغو الفاظو سره که څه هم د ازادولو نیت ونه کړي ازادیږي ځکه دغه الفاظ د صریح الفاظو حکم لري .

س : که ئې ورته وویل : ای زما زویه یا زما وروره یا ئې ورته وویل ته د ازاد په شان یې څه حکم لري ؟

---

(۱) ځکه په دغو الفاظو سره د ټوله بدن څخه تعبیر کیږي ، له " الهدایې " څخه .

(۲) ددې مسئلې مطلب دا دی که دومره انسان له دومره انسان څخه زېږېدلای سوای ، که نه سوای زېږېدلای د هغه حکم ئې وروسته ذکر کړی دی ، له " الهدایې " څخه .

ج : په دغه سره نه ازادېږي .

س : که ئې د يو داسي مريي په هکله چي هغومره انسان له ده څخه نه سواى زېږېدلاى وويل : دا زما زوى دى څه حکم لري ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد پر ده ازادېږي او د صاحبينو په نزد نه پر ازادېږي .

س : که يو چا خپلي مينځي ته وويل : ته طلاقه يې او په هغه سره ئې د ازادولو نيت کړى وو په هغه سره ازادېږي ؟

ج : نه ازادېږي .

س : که ئې خپل مريي ته وويل ته صرف ازاد يې په دغه سره ازادېږي ؟

ج : هو ازادېږي .

س : که داسي سړي چي زور پر سوى وو يا نشه سړي خپل مريى يا مينځه ازاده کړل څه حکم لري ؟

ج : په هغه سره ازادي راځي .

س : که يوه مينځه حامله وه او بادار ازاده کړل د نس د کوچني څه حکم دى ؟

ج : هغه او کوچنى ئې دواړه ازادېږي .

س : که يوازي د نس کوچنى ازاد کړل سو د هغه څه حکم دى ؟

ج : په دغه صورت کي د نس کوچنى ازادېږي او مينځه نه ازادېږي .

س : په ملکيت يا يو شرط سره د ازادولو تړل صحيح کيږي ؟

ج : هو صحيح کيږي نو که يو چا خپل مريي ته وويل : که زه ستا مالك سولم ته ازاد يې کله چي ئې مالك سي ازادېږي او که ئې خپل مريي ته وويل : که دغه کور ته ننوتې ازاد يې ، که شرط موجود سي ازادېږي .

س : داسي يو صورت سته چي د بادار د ازادولو پرته ازادي راځي ؟

ج : که يو سړى د يو داسي چا چي هغه دده محرم قريب وو په ميراث يا بخښنه يا رانيولو سره مالك سو هغه پر ازادېږي که ئې څه هم د ازادولو نيت نه وي کړى .

س : که بادار د خپل مريي يوه برخه ازاده کړل ، يوازي دغه برخه ازادېږي که ازادي ټوله مريي ته ورځي ؟

ج ابوحنيفه رح ويلي دي : يوازي دغه برخه پر ده ازاديږي او د پاته برخي په قيمت کي به کوښښ کوي . ابويوسف رح او محمد رح ويلي دي ټوله پر ازاديږي . کوښښ (د پاته برخي د قيمت ګټل) پر هغه نسته (۱) .

س که يو مريى د دوو کسانو په منځ کي مشترك وو يوه خپله برخه ازاده کړل د پاته برخي څه حکم دی ؟

ج که ازادونکی خان وو شريك لره ئې اختيار شته که خپله برخه ازادوي ، که د خپل شريك څخه د خپلي برخي تاوان اخلي او که د مريي څخه غوښتنه کوي چي د پاتي برخي په قيمت کي کوښښ وکړي او که ازادونکی مسکين وو شريك لره ئې اختيار سته که خپله برخه ازادوي او که له مريي څخه د کوښښ غوښتنه کوي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي : هغه لره د ازادونکي د خانوالي په صورت کي يوازي له شريك څخه تاوان اخيستل سته او د مسکين والي په صورت کي يوازي له مريي څخه د کوښښ غوښتنه سته .

س : تاسي لږ مخکي دا خبره ذکر کړل چي څوك د خپل محرم قريب مالك سي هغه پر ازاديږي . دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا که دوو سړيانو يو مريى رانيوی يا ئې له يو ځا څخه په ميراث يووړی او هغه په دوی دوو کي د يوه زوی وو دغه مريی پر خپل پلار ازاديږي ؟ او د هغه د ملګري په برخه کي څه فيصله کيږي ؟ پلار به د هغه د برخي تاوان ورکوي ؟

ج د پلار برخه ازاديږي او د هغه د ملګري د برخي تاوان پر هغه نه لازميږي . د هغه ملګری اختيار لري که خپله برخه ازادوي که د مريي څخه د کوښښ غوښتنه کوي .

س که دوه سړيان په يو مريي کي شريکان وه او هر يوه پر هغه بل شاهدي اداء کړل چي هغه خپله برخه ازاده کړې ده مګر يوه هم د خپلي برخي په ازادولو سره اقرار نه کوی په دغه صورت کي مريى ازاديږي ؟ او د هريوه د برخي تاوان به څوك ورکوي ؟

---

(۱) د هغه قاعده دا ده چي ازادي دده په نزد په ټوټو سره کيږي نو څومره قدر چي ده ازاد کړی هغومره ازاديږي او د دوی په نزد په ټوټو سره نه کيږي ، د شافعي قول هم دغه دی نو کله چي د مريي يوې برخي ته ازادي منسوبه کړي داسي ګڼل کيږي لکه ټوله ته چي ئې منسوبه کړي ، له دې کبله ټوله ازاديږي . له الهدايه ، څخه

ج : د ټوله مريي په ازادولو سره حکم کيږي او مريی به هر يوه لره د هغه په برخه کي کوښښ کوي که دواړه خانان وي که مسکينان ، دا د ابوحنيفهرح په نزد (۱) . صاحبينو ويلي دي : که خانان وه پر مريي کوښښ نسته نه د دغه لپاره نه د هغه لپاره او که مسکينان وه د دواړو لپاره دي کوښښ وکړي او که يو مسکين وو هغه بل خان وو د خان لپاره دي کوښښ وکړي او د مسکين لپاره دي ئې نه کوي .

س : خلګ مريان او مينځي د الله د رضا لپاره ازادوي که يو چا وويل : د شيطان يا بت لپاره مي ازاد کړی يې په دغه سره ازاديږي ؟

ج : هو ازاديږي .

متفرقي مسئلې

۱ : که د يو داسي کافر سړي مريی چي د کفر په هېواد کي اوسيږي مسلمان سو او موږ ته (زموږ هېواد ته) راغلی هغه ازاديږي .

۲ : که له مينځي څخه د بادار کوچنی وزيږي هغه ازاد دی .

۳ : که د مينځي له خپل مېړه څخه کوچنی وزيږي هغه د بادار ملکيت دی .

٤ : د ازادي ښځي کوچنی چي له مريي څخه زېږېدلی وي هغه ازاد دی .

د تدبير باب

س : تدبير څه ته وايي ؟

ج : هغه دا دی چي بادار خپل مريي ته ووايي : که زه مړ سوم ته ازاد يې يا ئې ورته وويل زما وروسته ته ازاد يې يا ته مدبر يې يا ئې ورته وويل : ته مي مدبر کړی يې .

س : که ئې دغه ورته وويل : په څه سره فيصله کيږي ؟

ج : په دغه سره مريی مدبر کيږي او کله چي ئې بادار مړسي هغه ازاديږي ، خرڅول يا بخښل ئې روا نه دي ، بادار ته ئې روا ده چي خدمت په وکي يا ئې مزدور کړي .

س : که ئې خپله مينځه مدبره کړل په خپل ژوند کي ئې جماع ورسره کول يا يو بل چا ته په نکاح ورکول ورته روا دي ؟

ج : دواړه ورته ورا دي .

(۱) دغه رنګه که يو خان هغه بل مسکين وو ، له "الهدايې" څخه .

س : که بادار يو چا ته په نکاح ورکړل او يو کوچنی ئې وزېږوی څه حکم لري ؟
ج : دغه هلك د مور سره مدبر ګرځي .
س : که بادار کوم چي دی ئې مدبر کړی وو مړ سو هغه بېله شي ازاديږي که به د خپلو وارثانو لپاره په خپل قيمت کي کوښښ کوي ؟
ج : په هغه کي تفصيل دی که مدبر مريی د مړي د مال دريمه برخه يا له هغه څخه کمه کېدل بېله شي څخه ازاديږي ، که ئې ددغه مريي پرته نور مال نه درلودی د خپل قيمت په دوو دريمو کي به وارثانو لره کوښښ کوي او که پر بادار دومره پور باندي وو چي دده ټوله مال په کښي تلی مريی به د پوروړو لپاره په خپل ټوله قيمت کي کوښښ کوي .
س : که بادار مدبر والی په يو خاص صفت پوري وتړی ، د مثال په توګه داسي ئې ورته وويل : که زه په دغه ناروغي کي مړ سوم يا په دغه سفر کي مړ سوم يا له فلانکي ناروغی څخه مړ سوم هغه مدبر ګرځي ؟
ج : په دغه صورت کي هغه نه مدبر کيږي ، له دې کبله ئې خرڅول يا بخښل روا دي مګر که بادار پر هغه ډول مړ سو کوم چي ده ياد کړی وو مريی داسي ازاديږي څرنګه چي مدبر ازاديږي يعني له دريمي څخه څکه شرط پيدا سو .

د استيلاد باب

س : استيلاد څه ته وايي ؟
ج : که بادار د خپلي مينځي سره جماع وکړي او له ده څخه کوچنی وزېږوي په دغه صورت کي دا ويل کيږي چي کوچنی ئې په وزېږوی او هغه مينځي ته ويل کيږي چي دده ام ولد ده ، دا به په دې شرط سره چي دی دا اقرار وکي چي دا زما زوی دی او په دغه صورت کي ئې نسب له ده څخه ثابتيږي .
س : هغه احکام بيان کړئ کوم چي په ام ولد پوري اړه لري .
ج : د هغې خرڅول يا بل چا ته په ملکيت سره ورکول روا نه دي ، بادار ته روا ده چي جماع ورسره وکړي او خدمت په وکړي او مزدوري په وکړي او په نکاح ئې ورکړي ، کله چي ئې بادار مړسي له ټوله مال څخه ازاديږي د وارثانو يا پوروړو لپاره که څه هم پر بادار پور باندي وي د خپل قيمت د ګټلو لپاره کوښښ کول نه دي پر لازم ، که بادار په نکاح ورکړل او کوچنی ئې وزېږوی هغه هلك د مور حکم لري يعني د هغې په ازادېدلو ازادېږي .

س : د استیلاد په مسئله کي تاسي دا تکی زیات کړی چي بادار ئې اقرار وکړي چي دغه هلك زما څخه دی ، که ئې اقرار نه وکړی څه حکم لري ؟
ج : بېله اقرار څخه ئې نسب نه ځني ثابتیږي ، که ئې نسب له ځان څخه پرې کړی ځني پرې کیږي .
س : که ئې بادار په یو هلك سره اقرار وکړی چي زما څخه دی ، تر هغه وروسته ئې بل کوچنی وزیږوی د هغه د نسب د ثابتېدو لپاره دده اقرار ته ضرورت سته یا دهغه لپاره په لمړي اقرار سره کفایت کیږي ؟
ج : د دوهم هلك نسب بېله اقرار څخه ثابتیږي مګر که ئې پرې کړی پرې کیږي .
س : که یو سړي د بل چا مینځه په نکاح کړل د هغې سره ئې جماع وکړل او کوچنی ئې ځني وزیږیدی وروسته د هغې مالك سو هغه دده ام ولد ګرځي ؟
ج : هو دده ام ولد ګرځي او د ام ولد احکام پر جاري کیږي .
س : که یو سړي یوه مینځه درلودل او د هغه سړي پلار دده د مینځې سره جماع وکړل او کوچنی ئې پیدا سو او دا دعوی ئې وکړل چي زما زوی دی ددغه هلك نسب له ده څخه ثابتیږي ؟
ج : د هغه نسب دده له پلار څخه ثابتیږي کوم چي دعوی ئې کړې ده او مینځه د هغه ام ولد ګرځي .
س : کله چي هغه دده د پلار ام ولد سي کوم چي د هلك په هکله ئې دعوی کړې ده چي زما زوی دی ، د هغې قیمت ئې د زوی لپاره لازمیږي کوم چي د هغې مالك وو ؟
ج : هو د هغې قیمت ئې پر پلار لازمیږي .
س : د هغې د قیمت پرته کوم بل شی یعني عقر (د ښځي ولور کله چي په شبهه سره جماع ورسره وسي) یا د هلك قیمت پر لازمیږي ؟
ج : له دغو شیانو څخه پر هغه هیڅ شی نسته .
س : که د پلار پلار د خپل لمسي د مینځې سره جماع وکړل هغې کوچنی وزیږوی او ده ئې د نسب دعوی وکړل څه حکم لري ؟
ج : که ئې پلار مړ وو په دغه صورت کي ئې نسب له ده څخه ثابتیږي او که ئې پلار ژوندی وو له نیکه څخه ئې نسب نه ثابتیږي .

س : که يوه مينځه د دوو کسانو په منځ کي شريکه وه . يو کوچنی ئې وزېږوی . په هغو کي يوه دا دعوی وکړل چي دده زوی دی له هغه ځخه ئې نسب ثابتيږي ؟

ج : هو له هغه ځخه ئې نسب ثابتيږي او مينځه د هغه لپاره ام ولد ګرځي او دده شريك لپاره پر ده د هغې نيمی عقر او نيمی قيمت لازميږي او د هلك له قيمت ځخه هېڅ شی نه پر لازميږي .

س : که دواړو شريکانو دا دعوه وکړل چي دغه هلك زما ځخه دی ځرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : له دواړو ځخه ئې نسب ثابتيږي او مينځه د دواړو ام ولد ګرځي او پر هر يوه ئې نيم عقر لازميږي او کوم حق چي يو ئې پر هغه بل لري هغه به سره اداء کوي (۱) .

س : که له دوی دوو ځخه يو مړ سو يا دغه هلك مړ سو د ميراث ځرنګه فيصله کيږي ؟

ج : زوی له هر يوه ځخه د پوره زوی ميراث وړي او دوی دواړه له ده ځخه د يوه پلار ميراث وړي .

س : که يو سړي د خپل مريې سره د کتابت عقد وکړی ، مکاتب يوه مينځه رانيول او بادار ئې جماع ورسره وکړل ، هغې کوچنی وزېږوی او بادار ئي دا دعوی وکړل چي دغه کوچنی زما ځخه دی د هغه د نسب څه حکم دی او د خپل مکاتب مريي لپاره پر هغه څه شی لازميږي ؟

ج : که ئې مکاتب تصديق وکړی نسب ئې ځني ثابتيږي او پر هغه ددې عقر او د هلك قيمت لازميږي مګر د هغه ام ولد نه ګرځي اوکه ئې مکاتب تصديق نه وکړی نسب ئې نه ځني ثابتيږي .

---

(۱) يعني کوم حق چي د هر يوه پر خپل ملګري سته هغه د هغه حق په مقابل کي اداء کيږي کوم چي دده د ملګري پر ده سته .

د مکاتب کتاب

س: د بادار د خپل مريي سره د کتابت عقد کول څرنګه دی ؟
ج: هغه دا دی چي بادار خپل مريي يا مينځي ته ووايي : (د مثال په توګه) پر تا مي زر درهمه ايښي دي چي په قسطو به ئې را اداء کوي لمړی قسط دومره او اخر قسط دومره که دې تړوله را اداء کړل ته ازاد يې او که عاجزه سوې ته مريی يې ، که مريي دغه عقد قبول کړی مکاتب ګرځي او دغه عقد ته مکاتبت ويل کيږي (۱) او کوم مال چي مريی ئې خپل بادار ته اداء کوي هغه ته د کتابت بدل ويل کيږي . الله ﷻ ويلي دي : ﴿ و الَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ﴾ (او کوم کسان چي کتابت غواړي ستاسي له مريانو څخه که تاسي خير په کښې وليدی کتابت ورسره وکړئ (۲) .
س: دا شرطولای سي چي مال به په هغه وخت کي ورکوي يا دا لازمه ده چي د مال لپاره به نېټه وي ؟
ج: دا روا ده چي دا شرط کړي چي مال به په هغه وخت کي وي څرنګه چي دا روا ده چي نېټه والاوي او دا روا ده چي په قسطو سره وي .
س: دا روا ده چي بادار د خپل کوچني مريي سره د کتابت عقد وکړي ؟

(۱) دغه د کتابت د عقد الفاظ دي چي طوري په " تکمله البحر الرائق " کي له " الجامع الصغير ۸_۱۵ " څخه نقل کړي دي ، دغه عقد ته کتابت او مکاتبه ځکه ويل کيږي چي هر يو يو خط ليکي ، د کتابت شرط دا دی چي د کوم چا سره کتابت کيږي هغه به مريی وي او د کتابت د بدل مقدار او جنس به معلوم وي ، د هغه سبب دا دی چي بادار د کتابت بدل ته رغبت لري په دنيا کي او د ازادولو ثواب ته اميد لري په اخرت کي او مريی د ازادۍ احکامو ته اميد لري په هغه وخت کي او وروسته . د کتابت د عقد ارکان ايجاب او قبول دي او د هغه حکم د بنده په خوا کي د حجر ختمېدل او د لاس ازادي ده په هغه وخت کي تر داسي اندازې چي مريی ته د خپل ځان او کسب اختيار سته او که بادار پر ده يا دده پر مال تېری وکړی تاوان ئې پر لازميږي او کوم وخت چي مال ور اداء کړي حقيقي ازادي ورته حاصليږي او د بادار له خوا په هغه وخت کي د کتابت د بدل مطالبې حق ثابتيږي او د اداء کولو په وخت کي حقيقي ملکيت حاصليږي او الفاظ ئې دا دي چي ورته ووايي : پر دومره پيسو مي مکاتبت درسره کړی دی يا داسي نور لفظونه له " شرح الزيلعي على الكنز " څخه .
(۲) سورة النور : الاية ۳۳ .

ج : كه كوچنى په خرڅولو او رانيولو پوهېدى روا ده .

س : كه بادار د خپل مريي سره د كتابت عقد وكړي په هغه سره كوم حكم اړه لري ؟

ج : كله چي د كتابت عقد صحيح سي مكاتب د بادار له تصرف څخه وزي او د هغه د ملكيت څخه نه وزي (۱) نو مريي ته خرڅول ، رانيول او سفر كول روا دي .

س : مكاتب ته نكاح كول روا دي ؟

ج : د بادار د اجازې پرته هغه نه دي ورته روا .

س : مكاتب مريى د كتابت د مال د اداء كولو لپاره پيسې ګټي له هغه مال څخه بخښ كول يا صدقه كول ورته روا دي ؟

ج : كوم مال چي ده ګټلى وي له هغه څخه د يو لږ مقدار پرته بخښ او صدقه نه ده روا.

س : دا ورته روا ده چي د يو چا ضمانت وكړي ؟

ج : هغه نه ده ورته روا .

س : كه مكاتب يوه مينځه رانيول ، جماع ئې ورسره وكړل ، هغې له ده څخه كوچنى وزېږوى دغه كوچنى څه حكم لري ؟

ج : دغه هلك هم په كتابت كي داخلېږي او حكم ئې د پلار په شان دى او ګټه ئې دده ده .

س : كه يو بادار خپل يو مريي ته خپله يوه مينځه په نكاح وركړل وروسته ئې ددواړو سره كتابت وكړى او هغې يو كوچنى وزېږوى دغه هلك څه حكم لري ؟

ج : د مور په كتابت كي داخلېږي او ګټه ئې دده كيږي .

س : كه يو سړي د خپلي مينځي سره كتابت وكړى وروسته ئې جماع ورسره وكړل يو شى پر لازمېږي ؟

ج : هو عقر پر لازمېږي .

س : كه ئې بادار چي ددې سره ئې كتابت كړى وو پر دې يا ددې پر كوچني تېرى وكړي دغه جنايت څه حكم لري ؟

ج : د تيري تاوان پر لازمېږي يعني په هغه سره داسي نيول كيږي لكه چي يو بل څوك پر هغوى تېرى وكړي .

---

(۱) له دې كبله خينو فقهاوو د كتابت داسي تعريف كړى دى چي هغه په هغه وخت كي د تصرف په حيث ازادول او په وروسته كي د غاړي په حيث ازادولو ته ويل كيږي .

س: كه بادار د خپلي مكاتبي مينځي مال ورهلاك كړى څه حكم لري ؟
ج: كوم مال چي ئې هلاك كړى وي د هغه تاوان به وركوي (١).
س: كه يو مكاتب خپل پلار يا زوى رانيوى هغه پر ازاديږي ؟
ج: په داغه وخت كي نه پر ازاديږي بلكه دده سره په كتابت كي داخليږي كله چي مكاتب ازاد سي پلار يا زوى ورسره ازاديږي .
س: كه مكاتب ام ولد د خپل كوچني سره رانيول څه حكم لري ؟
ج: د هغې زوى په كتابت كي داخليږي او د هغې خرڅول ورته روا نه دي .
س: كه ئې د پلار يا زوى پرته خپل محرم قريب رانيوى هغه دده په كتابت كي ورسره داخليږي ؟
ج: د ابوحنيفه رح په نزد يوازي هغه قريب په كتابت كي ورسره داخليږي چي دده او دهغه په منځ كي د زېږېدو قرابت وي .
س: كه يو مكاتب د كتابت بدل په قسطو سره اداء كوى وروسته له يوه قسط څخه عاجزه سو حاكم به د عاجزوالي حكم پر كوي ؟
ج: حاكم به دده حال ته گوري كه ئې يو پور درلودى چي هغه ئې اخيستى يا ئې يو مال درلودى چي ورته راتلى ژر دي د عاجزئ فيصله نه پر كوي ، دوې يا درې ورځي دي انتظار ورته كوي او كه كومه وجه نه وه او بادار ئې د عاجزي فيصله وغوښتل حاكم دي د عاجزي فيصله پر وكي او كتابت دي فسخ كړي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد (٢) او ابويوسف رح ويلي دي تر څو چي دوه قسطه پر راځي د عاجزي حكم دي نه پر كوي .
س: كه مكاتب عاجزه سي بيرته مريي توب ته راگرځي ؟
ج: هو بيرته داسي مريي توب ته راگرځي څرنگه چي مخكي مريى وو او كوم مالونه چي ئې گټلي وي هغه ئې د بادار كيږي .
س: كه مكاتب مړ سو او دومره مال ئې درلودى چي د كتابت بدل په اداء كېدى ، د هغه د مرگ له كبله كتابت فسخ كيږي ؟

---

(١) دغه رنگه به بادار تاوان وركوي كه ئې د مكاتب پر مال تېرى وكړى .
(٢) دغه رنگه د محمد رح په نزد څرنگه چي په "الهدايه" كي ئې په څرگنده توگه ذكر كړې ده .

ج : د كتابت په فسخ كېدلو سره حكم نه كيږي ، دده له مال څخه هغه د كتابت بدل ادا كيږي كوم چي پر ده سته او دده د ژوند په اخري لمحه كي دده په ازادي سره حكم كيږي.

س : قاضي دده د ژوند په اخري لمحه كي دده په ازادي سره حكم وكړى او د كتابت بدل كوم چي پر ده باندي وو هغه ئې دده له مال څخه اداء كړى ، له هغه څخه وروسته ئې قدر مال ورته پاته سو دغه مال به څوك اخلي ؟

ج : دده وارثان به ئي اخلي .

س : دده اولاد څه حكم لري ؟

ج : دده د اولاد هم د ازادولو حكم كيږي .

س : كه مكاتب دومره مال نه پرېښوى چي دده د كتابت بدل په اداء سي او يو كوچنى ئې پرېښوى چي په كتابت كي زېږېدلى وو دغه هلك څه حكم لري ؟ پر كتابت پاتيږي ؟

ج : دغه هلك مكاتب دى ، د خپل په كتابت كي به د هغه د قسطو مطابق كوښښ كوي كله چي هغه اداء كړي موږ دا حكم كوو چي دده پلار تر مرګ وروسته ازاد سوى وو او زوى ئې هم ازاديږي ، دا په هغه صورت كي كه هلك د كتابت په وخت كي زېږېدلى وو او كه مكاتب يو داسي كوچنى پرېښوى چي د كتابت په وخت كي ئې رانيولى وو هغه ته ويل كيږي يا به په داغه وخت كي د كتابت مال اداء كوې يا بيرته مريي توب ته ګرځې.

س : كه يو مسلمان سړي د خپل مريي سره پر شرابو يا سركوزي كتابت وكړى دغه كتابت څه حكم لري ؟

ج : په دغه صورت كي كتابت فاسد دى .

س : كه مكاتب شراب يا سركوزى ورادا كړى د هغه په ازادي سره فيصله كيږي ؟

ج : هو د هغه په ازادي سره فيصله كيږي (۱) او دخپل قيمت په ګټلو كي به كوښښ كوي چي تر ياد سوي مقدار به كم نه وي او زيات كېدلاى سي .

س : كه يو مريي د بادارسره پر خپل قيمت كتابت وكړى دغه كتابت څه حكم لري ؟

---

(۱) كله چي د خپله شرابو په اداء كولو سره ازاد سي دا پر لازمه ده چي د خپل قيمت په ګټلو كي كوښښ وكړي ځكه پر هغه لازمه ده چي خپل ځان بيرته مريي توب ته راوګرځوي ځكه عقد فاسد دى مګر د ازادى له كبله هغه ناممكنه دى نو د قيمت واپسول پر لازم دي لكه په فاسده بيع كي چي خرڅ سوى شي هلاك سي . له " الهدايه " څخه . او د " الكنز " په شرح كي چي زيلعي ليكلې ده ذكر سوي دي : او په ظاهر روايت كي د شرابو په اداء كولو سره دغه رنګه سركوزى اه .

ج: دغه کتابت هم فاسد دی ځکه قیمت د مقدار ، جنس او صفت په حیث نامعلومه دی
له دې سره که ئې قیمت ورادا‌ء کړی ازادیږي (۱) .

س: که یو بادار د یو مریي سره پر یو حیوان چي صفت ئې نه وو بیان سوی یا پر یو
کالي چي جنس ئې نه وو معلوم سوی کتابت وکړی دغه کتابت څه حکم لري ؟

ج: په اول صورت کي کتابت جائز دی (۲) او په دوهم صورت کي جائز نه دی .

س: که یو سړي د دوو مریانو سره یو کتابت په زر درهمه وکړی دغه کتابت صحیح
کیږي ؟

ج: هو کتابت صحیح دی که ئې په دواړو هغه مال چي پر دوی دی اداء کړی دواړه
ازادیږي او که عاجزه سول دواړه مریي توب ته راګرځي .

س: که یو بادار د خپلو دوو مریانو سره په دې توګه کتابت وکړی چي هر یو به د هغه بل
ضامن وي دغه کتابت څه حکم لري ؟

ج: دغه کتابت صحیح دی او هر یوه چي د کتابت ټوله مال اداء کړی دی او ملګری ئې
دواړه ازادیږي او کوم یو چي مال ئې اداء کړی وي هغه به له خپل ملګري څخه د هغه
مال نیمی اخلي کوم چي ده اداء کړی وي .

س: که یو چا د خپل مریي سره کتابت وکړی وروسته ئې په هغه وخت کي ازاد کړی څه
حکم ئې دی ؟

ج: د هغه په ازادولو سره ازادیږي او د کتابت مال ځني ساقطیږي .

س: که یو چا د خپل مریي سره کتابت وکړی وروسته مړ سو په هغه سره کتابت فسخ
کیږي ؟

ج: نه فسخ کیږي ، مکاتب ته ویل کیږي : د بادار وارثانو ته په هغه قسطو سره مال
اداء کړه.

---

(۱) ځکه په معنی کي هغه بدل (عوض) دی ، له " الهدایې " څخه .
(۲) معنی ئې داده چي جنس ئې بیان کړي ، نوع او صفت ئې نه کړي بیان ، له هغه څخه میانه اخیستل
کیږي او بادار د قیمت پر قبلولو مجبور کیږي ، که ئې له سره جنس نه کړی بیان لکه چي ووایي یو
حیوان هغه نه صحیح کیږي ځکه په هغه کي د ډېر جنسونه شامل دي نو نامعلوموالی ډېریږي . لــه
" الهدایې " څخه

س: كه له وارثانو څخه يوه ازاد كړي د هغه ازادول چليږي ؟

ج: كه له هغو څخه يوه ازاد كړي د هغه ازادول نه چليږي او كه ټولو ازاد كړي ازادېږي او د كتابت مال ځني ساقطيږي .

س: بادار ته روا ده چي د خپلي ام ولد سره د كتابت عقد وكړي ؟

ج: دغه روا دى مگر كه د كتابت د مال تر اداء كولو مخكي ئې بادار مړ سو د كتابت مال ځني ساقطيږي ځكه په دغه وخت كي له دې كبله ازاده سول چي دده لپاره ام ولد ده .

س: كه يو بادار د خپلي مينځي سره كتابت وكړى وروسته ئې جماع ورسره وكړل هغې كوچنى وروزېږوى اوس به دغه مينځه څه كوي ؟

ج: هغې لره اختيار سته كه پر كتابت روانيږي ، كله چي مال وراداء كړي ازادېږي او كه خپل ځان عاجزه كوي او دده لپاره ام ولد گرځي نو دده د مرگ انتظار به كوي ترڅو چي خپل ځان ازاد كړي .

س: كه بادار د خپلي مدبري مينځي سره د كتابت عقد وكړى هغه څه حكم لري ؟

ج: دغه كتابت روا دى كه ئې بادار مړ سو او پرته له هغې څخه ئې بل مال نه درلودى هغې لره اختيار سته كه د خپل قيمت په دوو دريمو كي كوښښ كوي كه د كتابت په ټوله مال كي كوښښ كوي .

س: كه يو سړي اول د خپلي مينځي سره د كتابت عقد وكړى وروسته ئې هغه مدبره كړل دغه مدبر كول څه حكم لري او مينځه به په دغه وخت كي څه كوي ؟

ج: دغه مدبر ول صحيح دي او دې لره اختيار دى كه پر كتابت ځي او كه خپل ځان عاجزه كوي او دا مدبره ده ، په دغه وخت كي د مدبر احكام پر جاري كيږي .

س: كه پر كتابت روانه سول او بادار ئې مړ سو له دې كبله چي مدبره ده ازاديږي ؟

ج: كه ئې تر دې وروسته چي پر كتابت روانه سول بادار مړ سو او له دې څخه پرته ئې بل مال نه درلودى د ابوحنيفه رح په نزد (۱) دې لره اختيار سته كه د كتابت د مال په دوو دريمــــو كي كوښښ كوي او كه د خپل قيمت په دوو دريمو كي كوښښ كوي .

---

(۱) صاحبينو رح ويلي دي : په هغو كي چي كوم يو كم وي په هغه كي دي كوښښ كوي ، له ' الجوهرة ' څخه

س: كه يو مكاتب مريي د كتابت له مال څخه يو مريى رانيوى او دغه مريي رانيول سوى مريى د مال په مقابل كي ازاد كړى دغه روا دى ؟

ج: نه دى روا .

س: كه مكاتب دغه رانيول سوى مريى په عوض سره وبخښى څه حكم لري ؟

ج: دغه بخښنه نه صحيح كيږي .

س: كه مكاتب د رانيول سوي مريي سره كتابت وكړي څه حكم ئې دى ؟

ج: دغه كتابت صحيح دى او د كتابت بدلو ته كتل كيږي كه دوهم له اول څخه مخكي اداء كړى دوهم ازاديږي او ولاء ئي د اول بادار كيږي او كه ئې د اول مكاتب تر ازادولو وروسته مال اداء كړى ولاء ئې د اول مكاتب كيږي .

س: كه مكاتب خپله مينځه چي رانيولې ئې وه په نكاح وركړله دغه روا ده ؟

ج: هو دغه روا ده (۱) .

د ولاء باب

س: ولاء په عربي ژبه او شريعت كي څه ته وايي ؟

ج: هغه له ولي څخه مشتق دى چي د نژدېوالي په معنى دى او په شريعت كي هغه حق دى چي يو سړى ئې د خپل مريي د ازادولو يا د يو چا سره د موالات د عقد (د وروروليـ عقد) كولو په سبب مستحق كيږي نو ولاء دوه قسمه ده د ازادولو ولاء اودموالات ولاء * .

س: د ازادولو د ولاء سره اړه لرونكي احكام بيان كړئ .

ج: كه يو سړى خپل مريى يا مينځه ازاده كړل د هغه ولاء د ازادونكي ده كه ئې په مال سره ازاد كړي كه بېله مال څخه ، كه مكاتب د خپل بادار له مرګ څخه وروسته ازاد سي د هغه ولاء د بادار د وارثانو ده كوم چي دده سره ئې د كتابت عقد كړى وو وروسته مړسوى وو .

س: كه يو سړي خپل مريى يا مينځه مدبره وګرځول يا ئې خپله مينځه ام ولد وګرځول وروسته مړ سو د هغوى ولاء د چا كيږي ؟

---

(۱) ځكه هغه د مال كتل دي ځكه په هغه كي دى د مهر مالك كيږي نو هغه د كتابت په عقد كي داخل دى . له " الهدايې " څخه .

* نو هغه يو حكمي قرابت دى چي د ازادولو يا موالات څخه حاصليږي ، زيلعي پر " الكنز " .

ج : د هغوی ولاء د هغوی د بادار کیږي ځکه دده له وجهي ازاد سوي دي .
س : تاسي دا خبره ذکر کړل چي څوك د يو محرم قريب مالك سي هغه پر ازاديږي په دغه سره کومه ولاء حاصليږي ؟
ج : هو په دغه سره ولاء حاصليږي ، هغه هغه چا لره ده چي دی پر ازاد سوی وي (۱) .
س که د يو سړی مريي د يو بل سړي مينځه په نکاح کړل د مينځي بادار خپله مينځه ازاده کړل او هغه له دغه مريي څخه حامله وه کوم چي دا ئې په نکاح کړې وه دغه کوچني چي په نس کي دی ولاء د چا کيږي ؟
ج کله چي مينځه ازاده کړل سي دا او ددې د نس کوچنی دواړه ازاديږي او ددغه د نس کوچني ولاء د هغه چا کيږي کوم چي دده مور ئې ازاده کړې وي او له هغه څخه هيڅ کله نه نقل کيږي . دغه رنګه که ئې تر شپږو مياشتو په کم کي کوچنی وزېږوی (۲) .
س : که له ازادولو څخه تر شپږو مياشتو په زيات کي کوچنی وزېږوي د دغه حمل ولاء د چا کيږي ؟
ج د هغه ولاء هم د مور د بادار کيږي مګر که مريی - دده پلار - ازاد سي د خپل زوی ولاء خپلو بادارانو ته راکشوي (۳) .
س : که يو عجمي سړي يوه داسي ازاده ښځه په نکاح کړل چي عربو ازاده کړې وه ، هغې اولاد وزېږول د هغې د واولادو ولاء څه حکم لري ؟
ج د ابوحنيفه رح په نزد د هغې د اولادو ولاء د هغې د بادارانو ده ، ابويوسف رح ويلي دي د هغې د اولادو ولاء د هغوی د پلار ده ځکه نسب له پلار څخه ثابتيږي .

---

(۱) په " الجوهره النيره " کي ئې ويلي دي : د هغه صورت دا دی چي دوې خوندي وي ، يوه خپل پلار رانيسي او هغه له دواړو څخه مړ سي او مال پرېږدي ، دوې دريمي د فرض په وجه د دوی کيږي او يوه دريمه د ولاء له وجهي د رانيوونکي کيږي ، دا په هغه صورت کي که ئې نسبي عصبه نه درلودل ځکه د ازادولو بادار تر عصبه ليري دی . ختم سو .
(۲) ځکه دا په يقين سره معلومه ده چي د ازادولو په وخت کي په نس کي کوچنی وو .
(۳) زيلعي د " الکنز " په شرح کي ويلي دي : ځکه په دغه خای کي د مور بادار هلك نه دی ازاد کړی ځکه هغه ددې تر ازادولو وروسته پيدا سوی دی ، هلك ده ته يوازي د مور په تبع کي منسوب سو ځکه پلار ته ئې منسوب والی ممکن نه دی ، کله چي ئې پلار ازاد سي هغه ته منسوبېدلای سي نو د هغه ليارو تابع کول ئې غوره دي تر دې چي د مور تابع ګرځي (۵-۱۷۶)

س : كه يو سړي په دې شرط سره خپل مريى ازاد كړي چي ده لره ولاء نسته يا په دې شرط سره چي ولاء ئې عامو مسلمانانو لره ده ، دغه صحيح كيږي ؟

ج : دغه شرط باطل دى او ولاء ئې هغه چا لره ده چي دى ئې ازاد كړى وي ، له هغه څخه انكار كول هيڅ نه ګټل كيږي (١) .

س : له دغه ولاء څخه كومه فائده حاصليږي ؟

ج : په دغه ولاء سره انسان عصبه ګرځي ، عصبه هغو كسانو ته ويل كيږي چي تر اصحاب الفروض (كوم كسان چي د ميراث برخي ئې ټاكلي سوي وي) وروسته هغوى د ميراث مستحق وي ، كه ازاد كړل سوي نسبي عصبه درلودل هغوى د ميراث لپاره تر ازادونكي مستحق دي او كه ئې نسبي عصبه نه درلودل نو ئې ميـراث د ازادونكي دى (٢) د ازادولو بادار تر نسبي عصبه وروسته دى او تر ذوي الارحام (هغه قريبان چي عصبه نه وي) مخكي دي .

س : كه ئې بادار مړ سو وروسته ازاد كړل سوى مړ سو او بادار ئې اولاد درلودل په هغوى كي څوك له ده څخه ميراث وړي ؟

ج : د بادار زامن ئې ميراث وړي لوڼې ئې نه وړي (٣) .

س : ښځو لره د ازادولو ولاء حاصليږي ؟

ج : هو هغه وخت حاصليږي چي دوى يو څوك ازاد كړي يا د دوى ازاد كړل سوى يو څوك ازاد كړي يا د يو مريي سره كتابت وكړي يا هغه څوك كتابت وكړي د كوم سره چي دوى كتابت كړى وي يا يو مريى مدبر كړي يا هغه څوك يو مريى مدبر كړي كوم چي دوى مدبر كړى وي يا د خپل ازاد كړل سوي ولاء راكش كړي يا د ازاد كړل سوي د ازاد كـــړل سوي ولاء راكش كړي (١) .

---

(١) ځكه دغه شرط د حديث خلاف دى ، هغه د نبي ﷺ دغه قول دى (الولاء لمن اعتق) (ولاء هغه چا لره ده چي ازاد كړى ئې وي) ، له " الجوهره " څخه .

(٢) دا په هغه وخت كي چي صاحب فرض دوه حالته والا نه وي ، كه دوه حالته والا وو د فرض تر اخيستلو وروسته پاته برخه دده كيږي ، له " الهدايې " څخه ، ځكه پلار دوه حالته لري ، يو د فرض حالت يو د تعصيب حالت په دغه وخت كي ازادونكى ميراث نه وړي ، له " الجوهره " څخه ، ځكه پلار پاته برخه د عصبيت له كبله اخلي .

(٣) ځكه ولاء عصبه توب دى او ښځه عصبه نه سي كېدلاى ، له " الجوهره " څخه .

س : که بادار مړ سو او یو زوی او د بل زوی زامن ئې پرېښول وروسته ازاد کړل سوی مړ سو ، په هغوی کي کوم یو به ددغه ازاد کړل سوي میراث اخلي ؟

ج : د هغه زوی ئې میراث وړي ، د زوی زامن ئې نه وړي ځکه ولاء لوئي یعني نژدې لره ده او د ملا زوی د زوی تر زامنو مړي ته نژدې دی .

س : د موالات ولاء او د هغې احکام بیان کړئ .

ج : که یو سړي د یو چا پر لاس اسلام راوړی او دده سره ئې داسي وروړولي وکړل چي هغه به له ده څخه میراث وړي او که ده کوم جنایت (تېری) وکړی هغه به ئې فدیه ورکوي یا ئې د بل چا پر لاس اسلام راوړی او پر میراث او فدیه ئې دده سره وروړولي وکړل نو دغه ولاء صحیح ده او د جنایت فدیه ئې پر بادار ده او که مړ سو او وارث ئې نه درلودی میراث ئې د بادار دی ، که ئې کوم وارث درلودی هغه له ده څخه زیات مستحق دی .

س : که دوو کسانو یو له بل سره وروړولي وکړل او په دوی کي یوه دا وغوښتل چي د خپل ملګري له ولاء څخه د بل چا ولاء ته منتقل سي دغه روا دی ؟

ج : هو دغه روا دی (۲) تر څو چي د جنایت فدیه ئې نه وي ورکړې ، کله چي فدیه ورکړي بیا د هغه ولاء بل چا ته نقلول نه دي روا .

د ص ٤٢٣ پاته حاشیه : (۱) په " الکفایه " کي ئې ویلي دي : د هغوی د ازاد کړل سوي د ولاء د راکشولو صورت دا دی چي د یوې ښځي مریی ددې په اجازه سره د یو قوم د ازاد کړل سوي ښځي سره نکاح وکړي او هغه له ده څخه اولاد وزېږوي د هلك ولاء د مور د بادارانو ده ، که ښځي دغه مریی ازاد کړی هغه د خپل زوی ولاء خپل ځان ته راکشوي او دده باداره بیا هغه خپل ځان ته راکشوي او د ازاد کړل سوي د ازاد کړل سوي د ولاء راکشولو صورت دا دی چي یوه ښځه یو مریی رانیسي او ازاد ئې کړي وروسته دغه مریی یو مریی رانیسي وروسته دوهم مریی د یو قوم د ازاد کړل سوي مینځي سره نکاح وکړي او هغه له ده څخه کوچنی وزېږوي ، نو د هلك ولاء د مور د بادارانو ده مګر که ازاد کړل سوي دغه مریی ازاد کړی هغه د خپل زوی ولاء خان ته راکشوي بیا اول ازاد کړل سوی دغه ولاء ځان ته راکشوي بیا هغه ښځه دغه ولاء خان ته راکشوي .

(۲) په " الکنز " کي ئې دا تکی زیات کړی دی چي د هغه بل په حضور کي به وي ، زیلعي په خپله شرح کي ویلي دي : که هغه بل حاضر نه وو دغه ولاء نه سي فسخ کولای ځکه د ولاء عقد د دوی دواړو له خوا څخه پوره سوی دی لکه په شراکت ، مضاربت او وکالت کي ، او په فسخ کولو کي حتما ضرر سته اه .

فائده

کوم مریی چي ازاد کړل سوی وي هغه د هیڅ چا سره موالات نه سي کولای (۱).

[1] پوه سه چي د موالات ولاء د ازادۍ له ولاء څخه په درو وجهو مختلفه ده یو دا چي د موالات په ولاء کي له دواړو طرفو څخه یو له بل څخه میراث وړي که ئې پر دغه اتفاق کړی وو ، د. ازادۍ ولاء له دغه څخه بېل ده دوهم دا چي د موالات ولاء ماتېدلای سي ، د ازادۍ ولاء نه سي ماتېدلای.دریم دا چي د موالات ولاء له ذوي الارحامو څخه وروسته ده اود ازادۍ ولاء له ذوي الارحـــامو څخه مخکي ده ، لــه ' الجوهره ' څخه .

د اباق (تېښتي) كتاب

س : اباق څه ته وايي ؟
ج : هغه د مريي او مينځي سركښي ته ويل كيږي چي د هغه له كبله په قصد سره له مالك څخه تښتي او تيښتېدونكى آبق بلل كيږي .
س : كه يو مملوك (مريى يا مينځه) له بادار څخه وتښتېدى او يو سړي بېرته خپل بادار ته راوستى ، دغه بيرته راوستونكى د خپل كار لپاره د مزدورۍ حق لري ؟
ج : هو هغه لره مزدوري سته ، كه ئې د درو ورځو يا له هغه زيات مسافت څخه بيرته راوستى څلوېښت درهمه ئې حق كيږي چي بادار به ئې وركوي او كه ئې له دغه څخه كم مسافت څخه راوستى د هغه په حساب سره مزدوري وركول كيږي .
س :كه د مريي قيمت تر څلوېښت درهمه كم وو په څه سره فيصله كيږي ؟
ج : د هغه په قيمت يو درهم كم سره فيصله كيږي .
س : كه يو سړى تښتېدونكى مريى ونيوى چي خپل بادار ته ئې بيرته ورولي او له هغه څخه و تښتېدى د هغه د مزدورۍ څه حكم دى ؟
ج : هغه لره مزدوري نسته څرنګه چي له هغه څخه پر تيښتي پر ده شى نسته ، كله چي ئې ونيسي په كار دا ده چي ددې لپاره شاهدان ودروي چي د بادار لپاره مي ونيوى چي بيرته ئې هغه ته ورولم .
س : كه تښتېدلى مريى ګرو وو يو سړي ونيوى او رائې وستى مزدوري ئې پر چا كيږي پر ګرو وركونكي كه پر ګرو اخيستونكي ؟
ج : هغه پر ګرو اخيستونكي كيږي .

د جنايتو كتاب

س : په عربي ژبه او شريعت كي جنايت څه ته ويل كيږي ؟
ج : جنايت په عربي ژبه كي يو داسي كار كولو ته ويل كيږي چي په هغه كي پر بل چا ضرر وي او د فقه د علماوو په اصطلاح كي دې ته ويل كيږي چي يو سړى پر يو بل چا د هغه په ځان يا اندامو كي تېرى وكړي ، د ځان له تيري څخه مطلب د هغه وژل دي كه په خطا سره وي كه په قصد سره او د اندامو له تيري څخه مطلب د لاس يا پښې يا غوږ پرې كول يا د سترګي ړندول دي (د مثال په توګه) .
س : قتل (وژل) قسمونه لري ؟
ج : قتل پنځه قسمونه لري :

١ : عمد .

٢ : شبه عمد .

٣ : خطا .

٤ : ما اجري مجرى الخطا (كوم چي د خطا په ډول ګڼل كيږي) .

٥ : قتل په يو سبب سره .

س : د پنځو قسمو تعريف وكړئ او د هغو احكام بيان كړئ .
ج : ١ : عمد قتل هغه دى چي په هغه كي په قصد سره په سلاح يا داسي شي چي د اندامو د بېلولو په حيث د سلاح په رنګه وي لكه تېز لرګى يا ډبره يا د ډول لرګى وهل سوى وي ، د هغه سزا ګناه ، له ميراث څخه محرومېدل او قصاص دى مګر كه د مړي قريبانو عفو وكړل قصاص ساقطيږي او په هغه كي كفارت نسته .

٢ : شبه العمد : دا دى چي په قصد سره ئې په داسي شي سره ووهي چي نه سلاح وي نه د سلاح په رنګه وي ، دا د ابوحنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي : كه ئې په لو ډبره يا لوى لرګي سره وواهه هغه هم عمد ګڼل كيږي ، د دوى په نزد شبه العمد دا دى چي په داسي شي سره ئې ووهي چي غالبا په هغه سره څوك نه وژل كيږي ، د شبه العمد سزا پر دواړو قولو ګناه او كفارت دى او قصاص په هغه كي نسته بلكه په هغه

کي پر عاقله (قريبان) غټ ديت دی ، د دغو کلماتو معناوي به په وروسته کي ان شاء الله وبيږنې .

۳ : د خطا قتل پر دوه قسمه دی :

ا : په قصد کي خطا هغه دا دی چي يو سړی يو شی په دې گمان ولي چي ښکار دی مگر هغه انسان وي .

ب : په عمل کي خطا هغه دا دی چي يو نښان ولي مگر هغه پر يو انسان ومښلي . د هغه سزا کفارت او پر عاقله باندي ديت دی او په هغه کي گناه نسته (۱) .

٤ : هغه چي د خطا په ډول گڼل کيږي دا دی چي يو څوك بيده وي او پر يو چا راواوړي او مړ ئې کړي ، هغه د خطا حکم لري .

٥ : په سبب سره قتل دا دی چي يو سړی په لاره کي يو څاه وکني يا د خپل ملکيت څخه پرته يو بل ځای ډبره کښېږدي (د مثال په توگه) ، په هغه سره يو څوك هلاك سي ، د هغه سزا پر عاقله باندي ديت دی او کفارت په هغه کي نسته (۲) .

د انسان په نفس (ځان) کي د قصاص مسئلې

س : قصاص څه ته وايي ؟

ج : هغه دا دی چي د مقتول د نفس په عوض کي قاتل ووژل سي ، هر هغه څوك چي وينه ئې په ابدي توگه ساتل سوې وي که په قصد سره ووژل سي په وژلو سره ئې قصاص واجبيږي .

س : د ازاد په عوض کي د ازاد وژل او د مريي په عوض کي د ازاد وژل او د ازاد په عوض کي د مريي وژل او د مريي په عوض کي د مريي وژل څه حکم لري ؟

ج : د ازاد په عوض کي ازاد وژل کيږي او د مريي په عوض کي ازاد وژل کيـږي (۳) او د

---

(۱) يعني په دواړو صورتو کي . دوی ويلي دي چي له دې څخه د قتل گناه مراد ده ځکه له گناه څخه خو نه خالي کيږي له دې کبله چي دويشتلو په وخت کي ئې د عزيمت او احتياط لاره پرېښول ځکه د کفارت له واجبوالي څخه دغه معنی معلوميږي او له ميراث څخه محروميږي ځکه په هغه کي گناه سته نو له ميراث څخه محرومۍ په هغه پوري اړه پيدا کولای سي ، له " الهدايې " څخه .

(۲) له ميراث څخه محرومۍ په هغه پوري اړه نه لري څرنگه چي په " الهدايه " کي ذکر سوي دي .

(۳) د قصاص حق ئې د بادار دی ، له " الجوهره " څخه

ازاد په عوض کي مريي وژل کيږي او د مريي په عوض کي مريي وژل کيږي .

س : د ذمي او مستامن (هغه کافر چي د مسلمانانو هيواد ته په اجازه راغلی وي) په عوض کي وژل څه حکم لري ؟

ج : د ذمي په عوض کي مسلمان وژل کيږي او د مستامن په عوض کي نه وژل کيږي څرنګه چي د مستامن په عوض کي ذمي نه وژل کيږي .

س : د سړي په عوض کي د ښځي وژل يا د ښځي په عوض کي د سړي وژل او د کوچني په عوض کي د لوی وژل او د ړانده او معذور او ليوني او هغه څوك چي اندامونه ئې ناقص وي په عوض کي د جوړ سړي وژل څه حکم لري ؟

ج : په دغو ټولو کي قصاص کيږي ، الله ﷻ ويلي دي: ﴿ وَ كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَ الْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَ السِّنَّ بِالسِّنِّ وَ الْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ﴾ (۱) (او پر دوی مو په تورات کي وټاکل چي : نفس په عوض کي د نفس قصاص کيږي او د سترګي په عوض کي د سترګي او د پزي په عوض کي د پزي او د غوږ په عوض کي د غوږ او د غاښ په عوض کي د غاښ او د ټپو قصاص کيږي) .

س : که يو سړي خپل زوی يا مريی يا مدبر مريی يا مکاتب مريی ووژی يا ئې د زوی مريی ووژی په هغه کي قصاص سته ؟

ج : په دغو ټولو کي قصاص نسته .

س : که د يو چا پر پلار قصاص واجب سوی وو او هغه ئې په ميراث يووړی ، هغه به قصاص پر پلار جاري کوي او خپل پلار به وژني ؟

ج : په دغه صورت کي د پلار د عزت له کبله قصاص ساقطيږي .

س : که يو کوچني يا ليوني په قصد سره يو څوك ووژی له هغو څخه قصاص اخيستل کيږي ؟

ج : د کوچني او ليوني د عمد قتل خطا ګڼل کيږي او په هغه کي د هغو پر عاقله ديت لازميږي .

س : که قاتل د مقتول د قريبانو سره پر يو مال روغه وکړل هغه څه حکم لري ؟

---

(۱) سورة المائدة : اية ٤٥ .

ج : د هغه حکم دا دی چي قصاص ساقطيږي او مال لازميږي که لږ وي که ډېر .

س : که له شريکانو څخه يوه له قصاص څخه عفو وکړل يا ئې له خپلي برخي څخه پر يو عوض روغه وکړل نور به څه کوي ؟

ج : په دغو دوو صورتو کي قصاص ساقطيږي ، او د پاتو کسانو لپاره د ديت خپله برخه سته . هغوی لره اختيار سته که ديت اخلي که هر يو د خپلي برخي په عوض کي روغه کوي او که عفو کوي ، په دغه صورت کي پر قاتل لازمه ده چي پر دوی سختي نه راولي او کوم مال چي ئې پر ځان لازم کړی وي هغه په ښه توګه ور اداء کړي څرنګه چي د مقتول د قريبانو لپاره په کار ده چي دی تنګ نه کړي ، الله ﷻ ويلي دي : ﴿ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيْهِ شَيْئٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَ أَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ﴾ (۲) (نو چا ته چي د هغه د ورور له طرف څخه د يو شی عفو وسي نو ښه توګه په هغه پسي تلل او په ښه توګه هغه ته مال اداء کول په کار دي) .

س : که يو سړي څو کسان ووژل او د وژل سوو کسانو قريبانو راغلل ، د هغوی ټولو لپاره وژل کيږي ؟

ج : هو د وژل سوو کسانو د ټولو قريبانو لپاره وژل کيږي ، له دې څخه پرته کوم بل شی ددوی لپاره نسته ، که له هغوی څخه يو حاضر سو او د هغه لپاره ووژل سو د پاته کسانو حق ساقطيږي .

س : که يوې ډلي يو سړی ووژی په هغه کي قصاص سته ؟

ج : هو په هغه کي قصاص سته ، ټوله پر وژل کيږي .

س : که پر يو سړي قصاص واجب سو او له قصاص اخيستلو څخه مخکي مړ سو څه حکم لري ؟

ج : قصاص ځني ساقطيږي او د هغه په مال کي هيڅ شی دمقتول قريبانو لره نسته .

س : که يو مريي په عمد قتل سره اقرار وکړی پر هغه قصاص لازميږي ؟

ج : هو قصاص پر لازميږي .

س : که يو سړي يو څوك په قصد سره وويشتی او غشی له هغه څخه بل چا ته ووتی ،

---

(۱) سورة البقرة اية ۱۷۸

دواړه په مړه سول په دغه صورت کي قصاص او ديت څه حکم لري ؟
ج : د اول لپاره پر ويشتونکي قصاص سته او د دوهم لپاره د هغه پر عاقله ديت سته .
س : که يو سړي د خپل مريي سره د کتابت عقد وکړی او هغه مکاتب ووژل سو قصاص به ئې څوك اخلي ؟
ج : که دغه مکاتب پرته له بادار څخه بل وارث نه درلودی او هغه دومره مال نه وو پرايښی چي د کتابت بدل ئې په اداء سي د قصاص حق ئې د بادار دی او که ئې دومره مال پرايښی وو چي د کتابت بدل ئې په اداء کېدی او د بادار پرته بل وارث ئې درلودی هغه لره قصاص نسته که څه هم د هغه وارثان د بادار سره يو ځای سي (۱) .
س : که يوسړي خپل مريی د يو چا سره ګرو کړی ، دغه ګرو سوی مريی ووژل سو په دغه صورت کي قصاص واجبېږي ؟
ج : قصاص واجبېږي مګر په دې شرط سره چي په ګرو ورکونکی او ګرو اخيستونکی دواړه غوښتنه وکړي .
س : که يو سړي يو څوك په قصد سره ټپي کړی او ټپي تر څه وخت پوري پر ځای پرېوتی تر څو چي مړ سو په دغه صورت کي قصاص پر واجبېږي ؟
ج : هو واجبېږي .
س : قصاص څرنګه اخيستل کېږي ؟
ج : بېله توري څخه په بل شي سره قصاص نسته .

په اندامو کي قصاص

س : د اندامو د قصاص مسئلې بيان کړئ .
ج : راتلونکي مسئلې په ياد ولره :

---

(۱) ځکه هغه څوك نه دی معلوم د چا چي قصاص حق کېږي ځکه که د مريي توب په حالت کي مړ سوی وي قصاص ئې د بادار حق دی او که د ازادۍ په حالت کي مړ سوی وي د وارثانو حق دی ، له " الهدايې " څخه . په دې ځای کي يو بل صورت پاته سو هغه دا که مکاتب يو څوك په قصد سره ووژی او پرته له مولی څخه ئې بل وارث نه درلودی او دومره مال ئې پرايښی وو چي د کتابت بدل ئې په اداء کېدی ، ابوحنيفه رح او ابويوسف رح ويلي دي : په دغه صورت کي قصاص سته او بادار به ئې اخلي او محمدرح ويلي دي : په دغه صورت کي زه د قصاص فيصله نه کوم ، له " الهدايه " او " الجوهره " څخه .

۱ : که یو سړي د یو چا لاس د بند څخه وریږ کړی د پرې کونکي لاس پرې کیږي، دغه رنګه که ئې پښنه وریږ کړل یا ئې د پزي نرمی وریږ کړل یا ئې غوږ وریږ کړی د پرې کونکي دغه اندامونه پرې کیږي .

۲ : که ئې د یو سړي سترګه ووهل او وئې کښل په هغه کي قصاص نسته او که سترګه پر ځای وه روښنایي ئې ولاړه قصاص پر لازم دی ، پر سترګه ئې لنده پښبه ایښول کیږي او هینداره ورته ګرمیږي او دده سترګي ته مخامخ نیول کیږي تر څو چي روښنایي یې ولاړه سي (۱) .

۳ : که یو سړي د یو بل سړي غاښ وروکښی د هغه قصاص څني اخیستل کیږي . د غاښ پرته په بل هډوکي کي قصاص نسته .

٤ : داسي ټپ چي په هغه کي برابري راتلای سي په هغه کي قصاص واجب دی .

۵ : په ژبه یا ذکر (د تناسل اندام) (۲) کي قصاص نسته مګر هغه وخت قصاص سته که د ذکر سر پرې کړل سوی وي .

٦ : د نفس څخه پرته د سړي او ښځي په منځ کي قصاص نسته لکه چي د ازاد او مریي په منځ کي یا د دوو مریانو په منځ کي پرته له نفس څخه په اندامو کي قصاص نسته .

۷ : د مسلمان او ذمي په منځ کي په اندامو کي قصاص سته .

۸ : که یو سړي د یوچا لاس د بازو له نیمي څخه وریږ کړی او جوړ سو قصاص

---

(۱) د فقه علماوو دغه خبره ذکر کړې ده چي د سترګي روښنایي دي له منځه یووړل سي څرنګه چي دوی په خپلو زمانو کي تجربه کړې ده ، نن ورځ د ډاکټرانو سره نوي صورتونه ښکاره سوي دي که په هغه سره عمل وکړل سي او قصاص تر خپل مقدار زیات نه سي پر وا نسته .

(۲) په ژبه کي قصاص نسته . دا هغه وخت چي یوه برخه ئې وریږ کي ، که ئې له بېخه پرې کړل په اصل - کي ئې ذکر کړي دي چي په هغه صورت کي هم قصاص نسته ، له ابویوسف رح څخه روایت سوی دی چي په هغه کي قصاص سته (او نه په ذکر کي) که پرې کړل سي ځکه هغه ټولیږي او اوږدیږي نو په هغه کي برابري ممکنه نه ده ، له ابویوسف رح څخه روایت سوی دی که له بېخ څخه پرې سي قصاص واجبږي ، دا قول (مګر نه که د ذکر له سر څخه پرې کړل سي) ځکه په دغه صورت کي د پرې کېدو ځای معلوم دی لکه بند او که ئې یوه برخه پرې سول قصاص نسته ځکه مقدار ئې نه معلومیږي ، له - الجوهره - څخه .

۹ : كه ئې په نس كي تپي كړي او جوړ سو قصاص په هغه كي نسته .

۱۰ : كه د هغه سړي لاس جوړ وو د كوم چي لاس پرې كړل سوی وي او دپرې كونكي لاس شل وو يا ئې ګوتي كمي وې پرې كړل سوي لره اختيار سته كه عيبجن لاس وربرې كوي او له دغه څخه پرته هيڅ شی ده لره نسته او كه پوره ديت اخلي .

۱۱ : كه يو سړي يو بل سړی په سر كي په داسي ډول تپي كړی چي د هغه د دوو ښكرو منځ ئې ونيوی او هغه ټپ د ټپ جوړونكي د دوو ښكرو منځ نه نيوی ټپي سړي ته اختيار سته كه د خپل ټپ په قدر قصاص ځني اخلي له كوم طرف څخه چي دده خوښ وي له هغه طرف څخه دي شروع كوي او كه پوره ديت اخلي .

۱۲ : كه دوو كسانو د يوه سړي لاس وربرې كړی پر هر يوه قصاص نسته ، پر دواړو د نفس نيم ديت سته .

۱۳ : كه يوه سړي د دوو سړيانو ښی لاسونه وربرې كړل هغه دواړه حاضر سول هغو لره دا حق سته چي لاس ئې وربرې كي او د نفس نيم ديت (۲) ځني واخلي او په خپل منځ كي ئې پر دوو برابرو برخو وويشي ، كه له هغو څخه يو حاضر سو لاس ئې وربرې كړی هغه بل لره نيم ديت سته (۳) .

۱٤ : د نفس څخه پرته شبه عمد نسته يا عمد دی يا خطا .

---

(۱) ځكه په هغه كي د برابرۍ ساتنه ممكنه نه ده ځكه بازو هډوكی دی او په هډوكي كي قصاص نسته او بل ځكه دا ماتول دي او دا ممكنه نه ده چي بازو ئې داسي مات كړل سي څرنګه چي هغه مات كړی دی ، دغه رنګه كه ئې نيمه پنډۍ پرې كړل سول ، دغه رنګه كه ئې په نس كي تپي كړی قصاص نسته ځكه په هغه كي برابري ممكنه نه ده او ديت پر لازميږي ، له " الجوهره " څخه .

(۲) او (۳) يعني د نفس نيم ديت .

س : دیت په عربي ژبه او شریعت کي څه ته وايي ؟

ج : هغه د عدة پر وزن مصدر دی فاء ئې غورځول سوې ده ، نوري صیغې ئې (ودی ، یدي ، ودیا ، دیة او واد) دي او په سپیڅلي شریعت کي هغه مال ته ویل کیږي چي پر قاتل هغه وخت واجبیږي کله چي په خطا یا شبه عمد سره قتل وکړي یا یو اندام وربړې کړي او د اندامو عوض ته ارش ویل کیږي .

س : د دیت احکام او د هغو مقدار بیان کړئ .

ج : راتلونکي مسئلې بیان کړئ :

۱ : که یو سړي یو بل سړی په شبه عمد قتل سره ووژی د قاتل پر عاقله غټ دیت دی او پر قاتل کفارت دی ، د ابوحنیفه رح او ابویوسف رح په نزد غټ دیت پر څلورو برخو سل اوښان دي : پنځه ویشت بنت مخاض ، پنځه ویشت بنت لبون ، پنځه ویشت حقې او پنځه ویشت جذعې . مغلظ دیت یوازي په شبه عمد قتل کي لازمیږي ، که د اوښانو پرته د یو بل دیت فیصله وسول په هغه کي مغلظوالی نسته نه په شبه عمد کي نه په بل قتل کي .

۲ : د خطا په قتل کي پر عاقله دیت لازمیږي او پر قاتل کفارت لازمیږي ، د خطا د قتل دیت سل اوښان دي پر پنځو برخو شل بنت مخاض شل ابن مخاض شل بنت لبون شل حقې او شل جذعې دغه مغلظ دیت نه دی .

۳ : له سرو زرو څخه دیت زر دیناره دی او له سپینو زرو څخه لس زره درهمه دی .

٤ : ابوحنیفه رح ویلي دي : دیت یوازي له دغو درو قسمو څخه دی او صاحبینو رح ویلي دي : له دغو درو قسمو څخه او غوایو او پسو او کالو څخه دی ، که د دیت فیصله له غوایو څخه وسول دوه سوه غوایي به اداء کوي او که له پسو څخه فیصله وسول زر پسونه به اداء کوي او که له کالو څخه فیصله وسول دوه سوه جوړې کالي به اداء کوي چي هره جوړه به دوه کالیه وي .

۵ : په شبه العمد او د خطا په قتل کي د نفس پوره دیت لازمیږي مګر په اول کي مغلظ دی .

۶: د ښځې د نرمۍ او ژبې او ذکر په پرې کولو کې پوره ديت يعنې سل اوښان لازميږي .
۷: که ئې يو څوك پر سر ووهی او د هغه عقل ولاړی په هغه کې پوره ديت واجب دی .
۸: که ئې د يو سړي ږيره وروکښل يا ئې وروخرول په هغه کې پوره ديت دی که تر هغه وروسته ئې وريښتان نه سول راشنه .
۹: د سر په وريښتانو کې پوره ديت دی که وخرول سول يا وکښل سول او تر هغه وروسته وريښتان نه سول راشنه .
۱۰: که ئې يو څوك ووهی يا ئې يو بل څه په وکړل چې په هغه سره ئې ورځې يا سترګې له منځه ولاړې په هغه کې پوره ديت سته .
۱۱: که ئې د يو سړي دوه لاسونه يا دوې پښې يا دوه غوږونه ورپرې کړل په هغه کې پوره ديت دی .
۱۲: که ئې د يو سړي شونډان يا خايې ورپرې کړې يا ئې د يو ښځې تې ورپرې کړل په هغه کې پوره ديت دی .
۱۳: په دغو شيانو کې که يو وو په هغه کې نيم ديت دی .
۱۴: د سترګو په باڼو ګانو کې پوره ديت دی او په يوه کې د ديت څلرمه برخه ده .
۱۵: د لاسو او پښو په هره ګوته کې د ديت لسمه برخه ده او ګوتې ټوله برابرې دي .
۱۶: هر ګوته چې درې بنده ولري د هغې په هر بند کې د ګوتې د ديت دريمه برخه ده او هغه ګوته چې دوه بنده ولري په يوه بند کې ئې د ګوتې د ديت نيمه برخه ده .
۱۷: که ئې د يوه لاس ټوله ګوتې ورپرې کړې يا د ګوتو سره ورغوی ورپرې کړی په دواړو صورتو کې نيم ديت واجبيږي .
۱۸: که ئې د بازو له نيمې څخه لاس پرې کړی په ګوتو او لاس کې نيم ديت دی او په زياته برخه کې د يو عادل سړي فيصله ده .
۱۹: په زائده ګوته کې د يو عادل سړي فيصله ده .
۲۰: که ئې د يو سړي ګوته ورپرې کړل د هغه څنګ ته بله ورسره شل سول په

۲۱ : په هر غاښ کي پنځه اوښان دي ، عام غاښونه او داړي سره برابري دي .

۲۲ که ئې د يو سړي غاښ وروکښي اودهغه پر ځای بل راوختی ارش ئې ساقطيږي .

۲۳ : که ئې يو سړي پراندام ووهه او دهغه گټه ئې له منځه يووړه په هغه کي پوره ديت دی ځرنگه چي وربړې ئې کړي لکه چي لاس ئې شل سي يا ئې د سترگي روښنايي ولاړه سي .

۲٤ : د کوچني په سترگه او ژبه او ذکر کي د يو عادل سړي فيصله ده که د هغه روغوالی معلوم نه وو .

س : د سر د ټپو قسمونه او احکام بيان کړئ ؟

ج : اول د سر د ټپو قسمونه وپيژنه ، هغه لس دي (۱) :

۱ : حارصه .

۲ : دامعه .

۳ : داميه .

٤ : باضعه .

٥ : متلاحمه .

٦ : سمحاق .

۷ : موضحه .

۸ : هاشمه .

۹ : منقله .

---

(۱) حارصه هغه ټپ ته وايي چي پوست اړوي او وينه نه راباسي . دامعه هغه ټپ دی چي وينه ښکاره کوي او بيوي ئې نه لکه په سترگه کي اوښکه ، داميه هغه تپ دی چي وينه بيوي ، باضعه هغه ټپ دی چي پوست پرې کوي ، متلاحمه هغه ټپ دی چي په غوښه کي شروع کوي ، سمحاق هغه ټپ دی چي سمحاق ته رسيږي او هغه د غوښو او د سر د هډوکي تر منځ نرۍ پرده ده ، موضحه هغه ټپ دی چي هډوکی ښکاره کوي . هاشمه هغه ټپ دی چي هډوکی ماتوي ، منقله هغه ټپ دی چي هډوکی تر ماتولو وروسته نقل کوي ، آمه هغه ټپ دی چي د سر ام ته رسيږي او هغه هغه ځای دی چي په هغه کي دماغ وي ، له "الهدايې" څخه ، او جائفه هغه ټپ دی چي د نس له خوا يا د شا له خوا څخه نس ته رسيږي .

۱۰ : آمه .

دوهم د هغو احکام وپیژنه :

۱ : په موضحه کي که په قصد سره وو قصاص دی .

۲ : په نورو ټپو کي قصاص نسته (۱) .

۳ : تر موضحه په کم کي د یو عادل سړي فیصله ده (۲) .

٤ : په موضحه کي که په خطا سره وو د دیت شلمه برخه ده .

٥ : په هاشمه کي د دیت لسمه برخه ده .

٦ : په منقله کي د دیت لسمه او شلمه ده .

۷ : په آمه کي د دیت دریمه برخه ده .

۸ : په جائفه کي د دیت دریمه برخه ده ، که هغه ټپ ووتی بیا دوې جائفې ګڼل کیږي او په هغو کي د دیت دوې دریمي دي .

س : که یو سړي د بل سړي په سر کي موضحه ټپ جوړ کړی ، د هغه عقل یا د سر وریښتان له منځه ولاړل په هغه کي دوه دیته لازمیږي ؟ د موضحه ټپ دیت او د عقل تلو یا د سر د وریښتانو ختمېدو دیت ؟

ج : دوه دیته نه واجبیږي د موضحه ټپ ارش په دیت کي داخلیږي (۳) .

---

(۱) ځکه په هغو کي برابري نه سي ساتل کېدلای ، ځکه داسي اندازه نسته چي چاړه هغه ته ورسیږي او له دې کبله چي تر موضحه په لوړ کي هډوکی ماتیږي او په هغه کي قصاص نسته ، دا له ابوحنیفه رح څخه یو روایت دی او محمد رح په " الاصل " کي ویلي دي او هغه ظاهر روایت دی : تر موضحه په کم کي قصاص واجب دی ځکه په هغو کي برابري ساتل کیږي ، له " الهدایه " څخه .

(۲) ځکه په هغه کي ټاکلی ارش نسته او بېله سزا نه سي پرېښول کېدلای نو د عادل سړي فیصلې ته کتل کیږي ، د نخعي او عمر بن عبد العزیز څخه دغه فتوی نقل سوې ده ، له " الهدایې " څخه .

(۳) ځکه د عقل له منځه تلل د ټولو اندامو ګټه له منځه وړي ځکه بېله عقل څخه په هغو سره ګټه نه سي اخیستل کېدلای نو د نورو اندامو لپاره عقل د نفس په شان ګڼل کیږي نو د موضحه ارش په هغه کي داخلیږي لکه په نفس کي او د وریښتانو د یوې برخي په له منځه تلو سره ارش لازمیږي ، که څغه بیرته راشنه سول ساقطیږي او که ټوله وریښتان له منځه ولاړل دیت واجبیږي ، په دې صورت کي دواړه په یوه سبب پوري اړه پیدا کړل چي د وریښتانو له منځه تلل دي نو ټکړه په ټوله کي داخلیږي ، د " الکنز " له شرح څخه چي زیلعي لیکلې ده (٦-۱۳٥) .

س : که ئې اوربدل یا لیدل یا دواړه ولاړل د دیتو د یوځای کېدلو څه حکم دی ؟
ج : په دغه صورت کي پر هغه د پوره دیت سره د موضحه ارش دی (۱) .
س : که یو چا د یو سړي په سر کي ټپ ورجوړ کړی ، هغه جوړ سو او هیڅ اثر ئې پاته نه سو او وربښتان ئې راشنه سول څه حکم لري ؟
ج د ابوحنیفه رح په نزد ئې ارش ساقطیږي او ابویوسف رح ویلي دي : د درد ارش پرسته او محمدرح ویلي دي : د ډاکټر ارش پر سته .
س که یو سړي یو ګوك په داسي ټپ سره ټپي کړی چي قصاص په کښي واجبېدی کله به قصاص ځني اخلي ؟
ج : هغه وخت به قصاص ځني اخلي چي جوړ سي ، له هغه ځخه مخکي به قصاص نه ځني اخلي .
س : که یو سړي د یو چا لاس په خطا کي وربرېږ کړی وروسته ئې مخکي له جوړېدو ځخه په خطا سره ووژی دوه دیته پر واجبیږي ؟
ج : پر هغه د قتل پوره دیت دی او د لاس ارش ساقطیږي او که جوړ سو وروسته ئې ووژی دوه دیته پر واجبیږي ، د نفس دیت او د لاس دیت .
فائده : د ذمي دیت د مسلمان د دیت په شان دی او د ښځي دیت د نر د دیت نیمی دی .

په یو سبب سره قتل

س : که یو سړي د مسلمانانو په لاره کي ځاه وکنی یا ئې ډبره په کښي کښېښول او په هغه سره یو انسان هلاك سو څه حکم لري ؟
ج : پر هغه پوره دیت دی . د هغه پر عاقله واجبیږي او مخکي موږ ذکر کړل چي په دغه کي کفارت نسته .
س : که په هغه سره یو حیوان هلاك سو په څه شي سره فیصله کیږي ؟

(۱) یعني که ئې په سر کي په موضحه ټپ سره ټپي کړی او د هغه له کبله ئې له دغو شیانو ځخه یو شی ولاړی د موضحه ارش د دغو شیانو په ارش کي نه داخلیږي ، دا د ابوحنیفه رح او محمدرح په نزد او ابویوسف رح ویلي دي : د موضحه ارش د اورېدو او خبرو په دیت کي داخلیږي او د لیدلو په دیت کي نه داخلیږي ، د "الکنز" له شرح ځخه چي زیلعي لیکلي ده .

ج: د هغه د تاوان فیصله دده په مال کي کیږي .

س: که ئې په لاره کي یو شرفه یا ناوه راوایستل او پر یو انسان راولوېدل او هغه په هلاك سو څه حکم لري ؟

ج: په هغه سره پوره دیت واجبیږي او د هغه عاقله به ئې ورکوي .

س: که یو سړي په خپل ملك کي څاه وکنی او په هغه سره یو انسان هلاك سو پر کندونکی تاوان واجبیږي ؟

ج: هیڅ تاوان نه پر واجبیږي .

س: که یو دیوال د مسلمانانو د لاري خوا ته راکوږ سوی وو او د څښتن څخه ئې د هغه د نړولو غوښتنه وسول مګر هغه نه ونړوی تر څو ونړېدی او یو نفس یا مال په هلاك سو تاوان به ئې ورکوي ؟

ج: که ئې د نړولو غوښتنه څني وسول او پر هغه ئې شاهدان ودرول (۱) او دومره مده تېره سول چي هغه نړولای سوای مګر نه ئې ونړوی کوم انسان یا مال چي په هغه سره هلاك سوی وي د هغه تاوان پر واجب دی (۲) .

س: که یو ذمي د هغه د نړولو غوښتنه وکړل هغه د مسلمان په شان ګڼل کیږي ؟

ج: په دغه کي ذمي او مسلمان برابر دي .

س: که یو دیوال د یو سړي د کور خوا ته کوږ سو ، د هغه کور د څښتن پرته بل چا د هغه د نړولو غوښتنه وکړل مګر ده نه ونړوی او په هغه سره یو نفس یا مال هلاك سو تاوان به ئې ورکوي ؟

ج: په دغه صورت کي غوښتنه یوازي د کور د مالك ده ، که په هغه کي نور کسان اوسېدل هغوی غوښتنه کولای سي .

---

(۱) شرط دا دی چي مخکي ورته ووایي او د نړېدو غوښتنه څني وکړي ، شاهدان درول شرط نه دي ، هغه ئې یوازي ددې لپاره ذکر کړل چي که هغه څني مَنکره سي د هغه اثبات به کېدلای سي نو دا د احتیاط لپاره دي ، د شاهدانو درولو صورت دا دی چي سړی ووایي : شاهد سه چي ما ددغه سړي څخه د دغه دیوال د نړولو غوښتنه وکړه ، له " الهدایې " څخه .

(۲) کوم نفسونه چي په هغه سره هلاك سوي وي په هغو کي دیت سته چي عاقـــله به ئې ورکـــوي ، له " الهدایې " څخه .

د حیوان جنایت

س : که حیوان پر یو شي وختی تاوان ئې پر چا واجبیږي ؟
ج : کوم شي چي حیوان پر وخېژي یا ئې په لاس ووهي یا ئې په خوله وچیچي د هغه تاوان پر هغه چا دی چي پر هغه سپور وي او کوم شی چي په پښه یا لکۍ ئې ووهي د هغه تاوان نه پر واجبیږي .
س : که ئې په لاره کي خوشایي یا بولي وکړې او په هغه سره یو انسان هلاك سو پر سپاره ئې تاوان واجبیږي ؟
ج : نه پر واجبیږي .
س : د سپاره تاوان مو ذکر کړی هغه څوك چي تر شا ئې روان وي یا ئې کشوي د هغه څه حکم دی ؟
ج : څوك چي تر شا ئې روان وي پر هغه هغه تاوان واجبیږي کوم چي حیوان ئې په لاس یا پښه سره ورسوي او څوك چي ئې کشوي پر هغه هغه تاوان واجب دی کوم چي په لاس سره ئې ورسوي نه هغه چي په پښه سره ئې ورسوي .
س : که یو سړي یو قطار کشوی او له هغو څخه یو حیوان پر انسان یا مال وختی څه حکم لري ؟
ج : حیوان چي پر کوم شي وخېژي (۱) د قطار پر کشونکي ئې تاوان واجب دی ، که ئې تر شا یو څوك روان وو نو تاوان پر دواړو دی (۲) .
س : که دوه پر آس سپاره سړیان سره ټکر سول او دواړه مړه سول پر چا ئې تاوان واجبیږي ؟
ج : د هر یوه پر عاقله د هغه بل تاوان واجبیږي .

د مریي جنایت

س : که مریي په خطا سره یو جنایت وکړی تاوان ئې پر چا واجبیږي ؟
ج : د هغه بادار ته ویل کیږي یا به مریی په هغه کي ورکوي یا به ئې فدیه ورکوي ، که

(۱) څکه هغه ئې جنایت ته نژدې کوي ، په هغه کي د قطار لمړی حیوان او آخر سره برابر دي ، که اوښ پر یو انسان وختی د هغه دیت پر واجب دی او هغه ئې پر عاقله دی ، له " الجوهره " څخه .
(۲) څکه په هغه کي دواړه شریکان دي ، له " الجوهره " څخه .

نې ورکړی د جنايت ښښتن ئې مالك کيږي او که ئې فديه ورکول د جنايت ارش به ورکوي .
س : که ئې بيا جنايت وکړی هغه جنايت څه حکم لري ؟
ج : دوهم جنايت د اول جنايت حکم لري (۱) .
س : که ئې دوه جنايته وکړل په څه سره فيصله کيږي ؟
ج : بادار ته ئې ويل کيږي : يا به ئې د جنايتو ښښتنانو ته ورکوې تر څو هغوی ئې په خپل منځ کې د خپلو حقوقو په قدر سره ووېشي يا به د هر يوه ارش پوره ورکوې .
س : که يو مريي جنايت وکړی بادار ئې په جنايت نه ووخبر ازاد ئې کی څه پر واجبيږي ؟
ج : مريي چې کوم جنايت کړی وي د هغه تاوان پر واجبيږي نو د هغه له قيمت او د جنايت له ارش څخه چې کوم يو کم وي هغه به اداء کوي (۲) .
س : که د جنايت تر خبرېدو وروسته بادار خرڅ کړی يا ئې ازاد کړی څه حکم لري ؟
ج : پر بادار د جنايت ارش واجبيږي .
س : که مدبر مريي يا ام ولد کوم جنايت وکړي څوك به ئې تاوان ورکوي ؟
ج : بادار به ئې تاوان ورکوي ، د هغه له قيمت او جنايت له ارش څخه چې کوم يو کم وي هغه به اداء کوي .
س : که ئې بل جنايت وکړی او بادار ئې قيمت د لمړي جنايت ښښتن ته ورکړی وو اوس څه شی پر واجبيږي ؟
ج : که ئې د قاضي په فيصله سره د لمړي جنايت ښښتن ته د هغه قيمت ورکړی وو په دغه وخت کې کوم شی نه دی پر واجب د دوهم جنايت ښښتن به د لمړي جنايت په ښښتن پسې ځي او په هغه قيمت کې به د هغه سره شريکيږي او که ئې بادار د لمړي جنايت ښښتن ته پرته د قاضي له فيصلې تاوان ورکړی وو د دوهم جنايت ښښتن ته اختيار سته که په بادار پسې ځي که د لمړي جنايت په ښښتن پسې .

---

(۱) يعني تر فديه وروسته څکه کله چې بادار د هغه فديه ورکړل لمړی جنايت ئې ساقط کړی نو هغه داسې ګڼل کيږي لکه چې نه وي ، له " الجوهرې " څخه .
(۲) کم ځکه پر واجبيږي که ارش کم وو خو يوازې هغه پر واجب دی او که د مريي قيمت کم وي نو ده په ازادولو سره بل شی نه دی له منځه وړی ، له " الجوهره " څخه .

پر مريي جنايت

س : كه يو سړي يو مريي په خطا سره ووژی څه پر واجبيږي ؟

ج : د هغه قيمت پر واجبيږي او تر لس زره درهمه نه زياتيږي ، كه ئې قيمت لس زره درهمه يا له هغه څخه زيات وو په لس درهمه كم لس زره درهمه سره فيصله كيږي .

س : كه مينځه په خطا سره ووژي په هغه سره څه واجبيږي ؟

ج : پر قاتل ئي قيمت واجبيږي ، كه ئې قيمت پر ديت زيات سو پنځه درهمه كم پنځه زره واجبيږي * .

س : كه يو سړي د يو مريي لاس وريږي كړی څه شی پر واجبيږي ؟

ج : د هغه نيم قيمت پر واجبيږي او تر پنځه كم پنځه زره نه زياتيږي ، په اندامو كي د ازاد له ديت څخه چي كوم مقدار وي د مريي له ديت څخه هغه مقدار دی .

د جنين (هغه كوچنی چي د مور په نس كي وي) مسئلې

س كه يو سړي يوه ازاده ښځه په نس كي ووهل او هغې مړ جنين واچوی څه شی پر واجبيږي ؟

ج : پر وهونكي غره واجبيږي ، غره د ديت شلمي برخي ته ويل كيږي (١) .

س : كه ئې ژوندی وغورځوی وروسته مړ سو په دغه صورت كي څه پر واجبيږي ؟

ج : په هغه كي پوره ديت دی (٢) .

س : كه ئې جنين مړ وغورځوی وروسته دا مړه سول څه شی واجبيږي ؟

ج : د مور لپاره پوره ديت واجبيږي او د جنين لپاره غره واجبيږي .

س : كه لمړی مور مړه سول وروسته ئې مړ جنين واچوی څه حكم لري ؟

ج : د مور پوره ديت واجبيږي او په جنين كي هيڅ شی نسته .

---

* په " الهدايه " كي ذكر سوي دي : لس درهمه ، دغه ظاهر روايت دی په قدوري كي چي كوم قول ذكر
سوی دی هغه له ابوحنيفه رح څخه د حسن روايت دی ، له " الجوهره " څخه .
(١) يعني د سړي د ديت شلمه برخه چي پنځه سوه درهمه دي كه د نس كوچنی هلك وي كه نجلی
وروسته تر دې چي پيداښت يا د پيداښت يوه برخه ئې څرګند سي ، هغه زموږ په نزد د وهونكي پر
عاقله ده په يوه كال كي ، له " الجوهره " څخه .
(٢) هغه ئې پر عاقله واجبيږي ، له " الجوهره " څخه

س : که ئې مور مړه سول وروسته جنین ژوندی پیدا سو او مړ سو څه په کښي واجبیږي ؟
ج : دوه دیته په کښي واجبیږي .
س : که ئې مېنځه په نس کي ووهل او جنین ئې واچوی په دغه صورت کي تاسي څه وایاست ؟
ج : که ئې مړ جنین واچوی په هغه کي کتل کیږي که نر وو د هغه د قیمت شلمه برخه واجبیږي په هغه صورت کي که هغه ژوندی وای او که ښځه وه د قیمت لسمه برخه ئې واجبیږي .
س : په جنین کي چي کوم شی واجب وي هغه به څوک اخلي ؟
ج : که د ازادي ښځي جنین وو هغه مال میراث دی دده پر وارثانو د هغوی د برخو په قدر وېشل کیږي او که د مېنځي جنین وو هغه د بادار ملکیت دی .

کفارت

س : تاسي ذکر کړل چي په شبه عمد قتل او د خطا په قتل کي کفارت واجبیږي . موږ غواړو چي پوه سو کفارت څه ته وایي ؟
ج : د قتل کفارت الله ﷻ په سوره النساء کي ذکر کړی دی هغه دا آیت دی ﴿ وَ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللّٰهِ ﴾ (او د مومن مریي یا مېنځي ازادول ، څوك چي ئې نه لري د دوو میاشتو پرله پسې روژې (پر واجب دي) د الله له طرف څخه توبه) .
س : د مریي یا مېنځي یا جنین په وژلو کي کفارت سته ؟
ج : په دغه کي کفارت نسته .
س : په دغه کفارت کي خورك ورکول کفایت نه کوي څرنګه چي د ظهار په کفارت کي کفایت کوي ؟
ج : د قتل په کفارت کي خورك ورکول کفایت نه کوي .

د قسامت باب

س : که یو سړی په یوه محله کي وژل سوی وموندل سو او قاتل ئې نه وو معلوم د هغه قاتل څرنګه معلومیږي ؟

ج : نبي ﷺ د هغه لپاره لاره ټاکلې ده هغه دا چي ددغې محلې پنځوسو سړيانو ته قسم ورکول کيږي او دغه ته قسامت ويل کيږي .

س : دغه پنځوس کسان به څوك ټاكي او څرنګه به قسم ورکول کيږي ؟

ج : د مړي قريب به ئې ټاکي او په هغوى کي به کوچنى يا لېونى يا ښځه يا مريى يا مدبر يا مکاتب نه وي او په الله سره به قسم اخلي چي نه مو وژلى دى نه ئې قاتل راته معلوم دى .

س : کله چي هغوى قسم واخلي په پوره توګه خلاصيږي ؟

ج : په پوره توګه نه خلاصيږي بلکه د دغه محلې پر خلګو د ديت فيصله کيږي .

س : که د مړي قريب خپله د دغه محلې له اوسېدونکو څخه وو هغه ته هم قسم ورکول کيږي ؟

ج : هغه ته قسم نه ورکول کيږي او د جنايت فيصله نه پر کيږي که څه هم قسم واخلي .

س : که د مړي قريب پنځوس کسان وټاکل ، له هغو څخه ځينو له قسم څخه ډډه وکړل څه کيږي ؟

ج : بندي کيږي تر څو چي قسم اخلي .

س که د مړي قريب کسان وټاکل مګر پنځوس کسان ددغه محلې له خلګو څخه نه پوره کېدل په دغه کي په څه سره فيصله کيږي ؟

ج کوم کسان چي ئې ټاکلي وي هغو ته په مکرره توګه قسم ورکول کيږي تر څو پنځوس قسمونه پوره سي .

س که يو مړى په يو محله کي وموندل سو او کومه نښه پر هغه نه وه په هغه کي قسامت يا ديت واجبيږي ؟

ج په دغه صورت کي نه په هغه کي قسامت سته نه ديت (۱) .

س کو يو مړى وموندل سو چي د پزي يا شرمځاى يا خولې څخه ئېويني بهېدلې په هغه کيِ قسامت واجبيږي ؟

---

(۱) خکه هغه وژل سوى نه دى . نښه دا ده چي پر هغه يو ټپ يا د وهلو يا خپه کولو نښه وي يا ئې له سترګو يا غوږو څخه ويني رابهيږي . له " الجوهره " څخه

ج: دغه مړی وژل سوی نه ګڼل کیږي نو په دغه صورت کي نه قسامت سته نه پر هیڅ چا دیت سته (۱).

س: که ئې له سترګو یا غوږو څخه ویني راوتلې څه حکم لري ؟

ج: هغه وژل سوی دی او قسامت په کښتي واجبیږي.

س: که د یو حیوان پر شا چي یو څوك ئې په شا پسي روان وو یو وژل سوی سړی وموندل سو په هغه کي څه واجبیږي ؟

ج: د په حیوان پسي شا ته روان سړي پر عاقله دیت واجبیږي د محلې پر خلګو شی نه واجبیږي (۲).

س: که یو وژل سوی سړی د یو چا په کور کي وموندل سو په هغه کي چا ته قسم ورکول کیږي ؟

ج: یوازي د کور څښتن ته قسم ورکول کیږي او د هغه پر عاقله دیت واجبیږي.

س: که یو محله وه چي په هغه کي ځیني داسي کورونه وه چي مالکان ئې په کښتي اوسېدل او ځیني داسي کورونه وه چي د مالکانو څخه پرته نور کسان په کښتي اوسېدل، پنځوس کسان له دواړو څخه ټاکل کیږي ؟

ج: ابوحنیفه رح ویلي دي: په قسامت کي د مالکانو سره اوسېدونکي نه داخلیږي، دده په نزد هغه یوازي پر اهل خطه دی (۳) رانیونکي په هغه کي نه دي داخل که څه هم له هغوی څخه یو پاته وي (٤).

س: که په یو کښتي کي یو وژل سوی سړی وموندل سو قسامت پر چا واجبیږي ؟

---

(۱) ځکه د پزي څخه ویني بهېدل رعاف (د پزي څخه د وینو بهېدلو ناروغي) دی او له شرمځای څخه د وینو راوتل ناروغي ده او له خولې څخه قئ او سوداء ده نو دغه شیان پر وژلو ښوونه نه کوي، له "الجوهره" څخه.

(۲) ځکه هغه دده په لاس کي دی نو داسي ګڼل کیږي لکه چي دده په کور کي وي، دغه رنګه که ئې حیوان کشوی یا پر سپور وو، که درې سره سره یوځای وه یعني سپور، په شا پسي روان او کشونکی پر هغوی دیت سته ځکه وژل سوی سړی ددوی په لاس کي دی نو داسي ګڼل کیږي لکه چي ددوی په کورکي وموندل سي، له "الهدایه" څخه.

(۳) اهل الخطه هغه کسان دي چي امام هغوی ته مځکي ورجلاکړي وي او په خپل خط سره ئې ددوی برخي ټاکلي وي، د زیلعي له شرح څخه.

ج : پر کښېنتې چلونکو او کوم کسان چي په کښېنتې کي سپاره وي پر هغو واجبېږي (١) .

س : كه د يو محلې په يو مسجد كي ومونډل سو قسامت پر چا واجبېږي ؟

ج : د هغې محلې پر خلګو واجبېږي .

س : كه په يو جامع مسجد يا لوى سړك كي ومونډل سو له كوم كلي څخه پنځوس كسان تاكل كيږي ؟

ج : په دغو دوو صورتو كي قسامت نسته او ديت ئې پر بيت المال واجبېږي .

س : كه د دوو كلو په منځ كي ومونډل سو پر كوم كلي ئې قسامت واجبېږي ؟

ج : پر هغه كلي چي ورته نژدې وي .

س : كه په دښت كي ومونډل سو په هغه كي چا ته قسم وركول كيږي ؟

ج : كه په يو داسي دښت كي ومونډل سو چي هغه ته نژدې * كومه وداني نه وه په هغه صورت كي قسامت نسته او ويني ئې بېله تاوانه دي .

س : كه د فرات په درياب كي مړى ومونډل سو قسم اخيستونكي له كوم ځاى څخه تاكل كيږي ؟

ج : كه د هغه په منځ كي ومونډل سو چي اوبه پر تېرېدلې نو ئې ويني بې تاوانه (٢) دي او كه په يوه څنډه كي بند وو پر هغه كلي قسم دى چي ورته نژدې وي .

س : كه د مړي قريب د دغه محلې پر يو خاص سړي دعوى وكړل له هغوى څخه قسامت ساقطيږي ؟

ج : نه ساقطيږي (٣) .

د ص ٤٤٥ پاته برخه : (٤) ابويوسف رح ويلي دي : ټوله په هغه كي شريكان دي يعني اهل خطه او رانيونكي ، ويل سوي دي ابوحنيفه رح دغه حكم د كوفي د خلګو د عادت پر بنسټ كړى دى ، كه د اهل خطې څخه يو هم نه سو پاته په دې توګه چي ټولو مځكي خرڅي كړې بيا هغه په اجماع سره پر رانيونكو دى ، له " شرح الزيلعي " څخه .

(١) ځكه هغه د دوى په لاس كي دى ، مالك او غير مالك په دغه كي برابر دي ، له " الجوهره " څخه .

* د نژدې تفسير هغه دى چي موږ مخكي ذكر كړى چي ږغ اورېدل كيږي ، له " الهدايه " څخه .

(٢) ځكه فرات د چا په لاس كي نه دى نو هغه لكه يو جلا دښت داسي ګڼل كيږي ، له " الجوهره " څخه .

(٣) قسامت او ديت پر خپل حال دي ، له محمدرح څخه روايت سوى دى چي ساقطيږي ځكه پر خاص سړي دعوى كول د نورو ابراء ده . له " الجوهره " څخه .

س : که ئې د هغې محلې پرته پر يو بل سړي دعوی وکړل څه حکم لري ؟

ج : قسامت او ديت ځني ساقطيږي (۱) .

س : که يو سړي ته قسم ورکول سوا وهغه وويل فلانکي ووژی دده په قول فيصله کيږي ؟

ج : دده په قول فيصله نه کيږي بلکه قسم ورکول کيږي (۲) او وايي به : په الله مي قسم دی چي نه مي وژلی دی نه ئې د فلانکي څخه پرته بل قاتل راته معلوم دی .

س : که دهغې محلې دوو کسانو د يو بلې محلې پر سړي شاهدي اداء کړل چي هغه ووژی ددوی شاهدي قبليږي ؟

ج : د دوی شاهدي نه قبليږي (۳) .

(۱) ځکه هغه دوی خلاص کړل ، له " الجوهره " څخه .

(۲) ځکه هغه په خپله خبره سره له خپل ځان څخه جګړه ختمول غواړي ، نو دده قول نه قبليږي او قسم به اخلي ، له " الجوهره " څخه .

(۳) دا د ابوحنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي : قبليږي .

د عاقلو کتاب

س : تاسي څو ځله ذکر کړل چي د قاتل له خوا به عاقله ديت اداء کوي عاقله څه معنی ؟

ج : عقل او معقله د قاتل له طرف څخه د ديت اداء کولو ته ويل کيږي ، کوم کسان چي د ده له خوا څخه ديت اداء کوي هغوی ته عاقله ويل کيږي ، هر ديت چي صرف د قتل له وجهي (۱) واجبيږي هغه پر عاقله واجبيږي ، د ابوحنيفه رح په نزد اهل ديوان (۲) عاقله ده که قاتل له هغوی څخه وو ، ديت په درو کالو کي د دوی له عطاوو څخه اخيستل کيږي . که د دوی تنخواوي تر درو کالو په زيات ياکم کي راووتلې له هغو څخه اخيستل کيږي . که قاتل له اهل ديوان څخه نه وو نو ئې قبيله عاقله ده چي په درو کالو (۳) کي به ئې په قسطو سره ورکوي او له هر يوه څخه به تر څلور درهمه زيات نه اخيستل کيږي په هر کال کي يو درهم او دوه دانقه او که ئې د قبيلې افراد زيات وه تر دغه کميږي او قاتل په عاقله کي داخليږي نو دی به هم د هغوی په شان د ديت خپله برخه ورکوي .

س : که قبيله له هغه څخه کوچنۍ وه له کوم ځای څخه به ئې پوره کوي ؟

ج : هغه ته نژدې قبيله ورسره يوځای کيږي (٤) .

س : کوم شيان چي عاقله ئې پر غاړه اخلي او کوم چي عاقله ئې پر غاړه نه اخلي په تفصيل سره ئې بيان کړئ .

ج : لمړی هغه شيان په ياد ولره کوم چي عاقله ئې پر غاړه اخلي .

---

(۱) د صرف په قتل سره واجبېدلو څخه مطلب دادی چي په صلح سره نه وي واجب سوی ، له " الجوهره " څخه

(۲) يعني هغه لښکر چي نومونه ئې په ديوان (رجستر) کي ليکل سوي وي ، له " الجوهره " څخه .

(۳) عطاء په هر کال کي يو ځل راوزي ، کوم وخت چي د ديت فيصله وسي درې کاله له هغه وخت څخه حساب کيږي نه د وژلو له وخت څخه تنخوا هغه ته ويل کيږي چي فوجي ته له بيت المال څخه په کال کي يو يا دوه ځله راوزي او رزق هغه ته ويل کيږي چي په هره مياشت کي راوزي ، داسي ويل سوي دي چي هره ورځ راوزي . له " الجوهره " څخه .

(٤) يعني کومه يوه چي په نسب کي ورته نژدې وي ، کومه يوه چي د هره نژدې وي بيا چي له هغه څخه وروسته وي د عصبه وو پر ترتيب ، له " الهدايه " څخه .

۱ : د شبه عمد قتل ديت عاقله پر غاړه اخلي . مخکي مو ذکر کړل چي د هغه
ت مغلظ دی .
۲ : د خطا د قتل ديت پر عاقله دی .
۳ . هغه قتل چي په يو سبب سره وي د هغه ديت پر عاقله دی .
٤ : که ئې په لاره کي شرفه يا ناوه راوايستل او هغه پر يو انسان راولوېدل او په
ل سو د هغه ديت پر عاقله دی .
٥ : د کوچني اوليوني قصدا وژل خطا ګڼل کيږي او په هغه کي ديت پر عاقله دی.
٦ : که ازاد سړي پر مريي په خطا سره جنايت وکړی ديت ئې د جنايت کونکي پر
له دی (۱) .
ديت چي عاقله ئې پر غاړه نه اخلي د هغه تفصيل په لاندي ډول دی :
۱ : هر قصدي وژل چي د يو شبهې له کبله په هغه کي قصاص ساقط سوی وي د
ديت د قاتل په مال کي دی عاقله ئې پر غاړه نه اخلي .
۲ :که پلار خپل زوی په قصد سره ووژی د هغه ديت په درو کالو کي دده په مال
دی عاقله ئې پر غاړه نه اخلي .
۳ : د مريي جنايت عاقله پر غاړه نه اخلي .
٤ : دغه رنګه هغه جنايت چي جنايت کونکی په هغه سره اقرار وکړي د هغه ديت
په مال کي واجبيږي عاقله ئې پر غاړه نه اخلي .
٥ : کوم مال چي په صلح سره واجب سوی وي عاقله ئې پر غاړه نه اخلي .

متفرقي مسئلې

۱ : د ازاد کړل سوي مريي عاقله دده د بادار قبيله ده .
۲ : د موالات د مولی له خوا څخه دده مولی او د هغه قبيله ديت اداء کوي .
۳ : د ديت له شلمي څخه کمه برخه عاقله پر غاړه نه اخلي ، د ديت شلمه برخه يا
له څخه زيات پر غاړه اخلي ، له دغه څخه کم د جنايت کونکي په مال کي دی .

مريي په جنايتو کي کوم چي تر نفس څخه کښته وي هغه عاقله پر غاړه نه اخلي ځکه هغه د مالو
د ګڼل کيږي ، له " الجوهره " څخه .

د حدودو کتاب

س : په عربي ژبه او شریعت کي حد څه ته ویل کیږي ؟
ج : حد په عربي ژبه کي منع کولو ته ویل کیږي او په شریعت کي هره سزا چي په یر
خاص مقدار سره د الله ﷻ د یو حق لپاره ټاکل سوې وي .
س : د کومي ګناه د کولو لپاره په شریعت کي حد ټاکل سوی دی ؟
ج : امام به د زنا په کولو ، شراب چښلو ، د پاك سړي یا ښځي د قذف (د زنا نسبت
لپاره حد جاري کوي او یو څلورم حد هم سته چي په غلا کي لاس پرېکول دي ، هغه به
دغو درو حدودو د ذکر کولو وروسته ان شاء الله ژر ذکر کړو .

د زنا حد

س : د زنا حد بیان کړئ .
ج : د زنا حد پر دوه قسمه دی : لمړی سل دري ، هغه د هغه چا لپاره چي محصن (هغه
څوك چي واده ئې کړی وي) یا محصنه (هغه ښځه چي واده ئې کړی وي) نه وي، دوهم
رجم (په ډبرو ویشتل تر څو چي مړ سي) دی هغه د محصن او محصني لپاره دی .
س : د حاکمانو په نزد زنا څرنګه ثابتیږي ؟
ج : زنا په اقرار یا په شاهدي سره ثابتیږي .
شاهدي : دا ده چي څلور کسه شاهدان پر یو سړي یا یوې ښځي د زنا شاهدي اداء
کړي . کله چي هغوی شاهدي اداء کړي امام به له هغوی څخه د زنا په هکله پوښتني
کوي چي زنا څه ته وایي ؟ او څرنګه ده ؟ او چیري ئې زنا وکړل ؟ او کله ئې زنا وکړل ؟
او د چا سره ئې زنا وکړل ؟ کله چي دغه بیان کړي او داسي ووایي چي موږ ولیدی چي د
هغې سره ئې په شرمځای کي داسي جماع وکړل لکه سلایي په رنجنونې کي او امام به د
شاهدانو په هکله پوښتنه کوي چي د صالحوالي او عدالت په حیث هغوی څرنګه دي ،
کله چي په پټه او ښکاره سره د هغوی عدالت ثابت سي د هغوی په شاهدي سره دي
فیصله وکړي او حد دي پر جاري کړي ، که د هغوی شمیر تر څلورو کم سي یا ئې فسق
ثابت سي پر ټولو دي د قذف حد جاري سي .

اقرار دا دی چي يو بالغ عاقل سړی په خپلو څلورو مجلسو کي څلور ځله پر خپل
ځان د زنا شاهدي اداء کړي ، هر ځل چي اقرار وکړي قاضي دي ئې رد کړي ، د قاضي
لپاره دا مستحب ده چي له اقرار څخه د رجوع تلقين ورته وکي او داسي ورته ووايي
کېدای سي چي تا يوازي لاس وروړی وي يا دي مچ کړې وي ، کله چي اقرار ئې د ذکر
سوي بيان مطابق پوره سي قاضي دي د زنا په هکله پوښتني ځني وکړي چي زنا څه شی
ده ؟او څرنګه ده ؟ او د چا سره ئې زنا وکړل ؟ او چيري ئې زنا وکړل ؟ کله چي دغه بيان
وکړي حد پر لازميږي .

س: تاسي دا خبره ذکر کړل چي کوم سړی محصن نه وي د هغه حد سل دري دی ددغو
دروو وهل څرنګه دی ؟

ج: لمړی دي کالي ځني وکښل سي بېله هغو کالو څخه چي د عورت د پټولو لپاره
ضروري وي وروسته دي ئې جلاد په يو داسي لښته په ميانه توګه ووهي چي مېوه نه لري
وهل دي دده پر اندامو سره بېلوي ، پر سر ، مخ او شرمځای دي ئې نه وهي .

س: د نر او ښځي په دغه کي کوم فرق سته ؟

ج: سړی او ښځه په هغه کي برابر دي يوازي دا فرق لري چي له ښځي څخه بېله پوستين
او کوټ څخه نوري جامي نه ايستل کيږي .

س: په ولاړي به ئې وهي که په ناستي ؟

ج: په حدودو کي سړی په ولاړي وهل کيږي او ښځه په داسي حالت کي وهل کيږي چي
ناسته وي .

س: محصن والی څه ته ويل کيږي ؟

ج: د رجم احصان (١) دا دی چي ازاد عاقل بالغ مسلمان وي او په صحيح نکاح (٢) سره
يې د ښځي سره جماع کړې وي او دا شرط دی چي د جماع په وخت کي مېړه او ماينه

---

(١) د احصان سره ئې د رجم تړلی ځکه زيات کړی چي د مقذوف (هغه څوك چي د زنا نسبت ورته سوی
(١) احصان ووزي ځکه هغه د رجم له احصان څخه په دوو شيانو کي کم دی : نکاح او جماع کول ، له
جوهره " څخه .

(٢) له دې څخه فاسده نکاح ووتل لکه بېله شاهدانو سره نکاح ځکه په هغه سره څوك محصن نه ګڼل
کيږي ، له " رد المحتار ٣-١٤٢ " څخه .

دواړه محصن وي (۱) .

س : څوك چي تر احصان وروسته زنا وکړي څرنګه رجم کيږي ؟

ج : د رجم طريقه دا ده چي تر څو مړ کيږي په ډبرو وويشتل سي ، امام به ئې خالي د ته باسي او شاهدان به په رجم سره شروع کوي وروسته امام وروسته خلګ ، که شاهد د هغوی له رجم څخه ډډه وکړل رجم ساقطيږي ، او که زنا کونکی سړی اقرار کونکی امام دي ئې په رجم سره شروع کوي وروسته دي ئې خلګ رجم کوي ، که د رجم لپاره کنده وروکني ډېر ښه دی .

س : رجم سوي سړي ته غسل ورکول کيږي او لمونځ ورکول کيږي ؟

ج : هو غسل ورکول کيږي ، کفن ورکول کيږي او لمونځ ورکول کيږي .

---

(۱) له مېړه او مابنې څخه د هر يوه احصان دهغه بل د احصان لپاره شرط دی نو که يو سړي مينځه به نکاح کړل يا ازادي ښځي د مريي سره واده وکړی په هغه صورت کي احصان نه پيدا کيږي مګر هغه وخت پيدا کيږي چي تر ازادولو وروسته جماع ورسره وکړي نو په هغه سره احصان پيدا کيږي نه په مخکني جماع سره نو که يو ذمي سړي د يو مسلماني ښځي سره جماع وکړل وروسته مسلمان سو نه رجم کيږي بلکه حد پر جاري کيږي ، له " الدر المختار" څخه . د (البحر ٥-١١) مصنف ويلي دي او مريی ځکه محصن نه دی چي په خپله هغه پر صحيح نکاح چي څوك له زنا څخه ژغوري قدرت نه لري او نه کوچنی نه لېونی ځکه هغوی د سزا اهل نه دي او نه کافر ځکه په حديث کي ذکر سوي دي (څوك چي په الله سره شريك ونيسي هغه محصن نه دی) ، نبي ﷺ چي دوه يهوديان رجم کړل هغه د رجم د آيت تر نازلېدلو مخکي د تورات په حکم سره وه وروسته هغه منسوخ سو او نه هغه څوك محصن دی چي واده ئې نه وي کړی ځکه هغه پر حلاله جماع قدرت نه لري او نه هغه څوك چي نکاح ئې کړې وي مګر جماع ئې نه وي ورسره کړې ځکه چي په حديث کي ذکر سوي دي (کنډ سړی په کنډه ښځه سره) او کنډوالی بېله جماع سره نه وي او بل ځکه چي هغه له زنا څخه بې احتياجه نه دی ، له جماع څخه مراد د ذکر سر يا د هغه په قدر داخلول دي انزال شرط نه دی لکه په غسل کي ځکه هغه مورتيا ده او نه هغه څوك چي د داسي ښځي سره جماع وکړي چي هغه محصنه نه وي لکه څوك چي د ذمي ښځي يا مينځي يا کوچني يا لېوني سره جماع وکړي ځکه د دغو ښځو له نکاح څخه څوك نفرت کوي ځکه نعمت پوره نه دی او نه هغه څوك چي د محصني ښځي سره جماع وکړي مګر دی په دغه وخت کي محصن نه وي او د زنا په وخت کي محصن سي د هغه دليل له کبله چي موږ ذکر کړی چي نعمت پوره نه دی او که تر محصن والي وروسته احصان په لېونتوب يا باوله توب سره له منځه ولاړی کله چي جوړ سي بيرته ئې محصن والی راګرځي او د ابويوسف په نزد ئې تر څو چي تر پر سد والي وروسته د ښځي سره جماع کوي احصان نه راګرځي اه .

س : كه يو سړي يو مريى يا مينځه درلودل چي حد پر واجب سوى وو ، هغه به خپله حد پر جاري كوي ؟

ج : بادار به د امام د اجازې پرته پر خپل مريي يا مينځي حد نه جاري كوي .

د رجوع مسئلي

س : كه يو اقرار كونكى له خپل اقرار څخه رجوع وكړي د هغه سره حد پر جاري كيږي ؟

ج : كه د حد جاري كولو مخكي يا د حد جاري كولو په منځ رجوع وكړي رجوع ئې قبليږي او ايله كيږي چي پر خپله لاره ولاړ سي .

س : كه د حد تر فيصلې وروسته او جاري كېدو مخكي يوه شاهد رجوع وكړل (١) څه حكم لري ؟

ج : پر ټولو دي د قذف حد جاري سي او هغه ځوك چي شاهدي پر اداء سوې وي له هغه څخه رجم ساقطيږي او كه تر رجم وروسته يوازي يوه شاهد رجوع وكړل يوازي دي پر رجوع كونكي حد جاري سي او د حد سره د ديت د څلورمي برخي تاوان به وركوي .

هغه صورتونه چي په هغو كي حد جاري كيږي او هغه چي نه جاري كيږي

١ : ځوك چي د يو بېگانه ښځي سره بېله شرمځاى څخه جماع وكړي تعزير وركول كيږي او حد نه پر جاري كيږي .

٢ : ځوك چي د خپل زوى يا دزوى د زوى د مينځي سره جماع وكړي پر هغه حد نسته كه څه هم ووايي زه پوه وم چي پر ما حرامه ده .

٣ : كه يو چا د پلار يا مور يا مايني د مينځي سره جماع وكړل او دا ئې وويل زما گمان وو چي ما ته حلاله ده پر هغه حد نسته او كه ئې وويل زه پوه وم چي ما ته حرامه ده حد پر جاري كيږي ، دغه رنگه كه مريي د خپل بادار د مينځي سره جماع وكړل او دا ئې وويل چي زه پوه وم چي ما ته حرامه ده حدپر جاري كيږي او كه ئې وويل زما دا گمـــان

(١) كه د حد تر فيصلې مخكي يوه شاهد رجوع وكړل زموږ په نزد پر ټولو شاهدانو حد جاري كيږي ، زفررح ويلي دي : يوازي پر رجوع كونكي حد جاري كيږي او كه په درو ووهل سو وروسته يوه شاهد رجوع وكړل په اتفاق سره يوازي پر هغه حد جاري كيږي او پر رجوع كونكي تر درو وهلو وروسته د ابوحنيفه رح په نزد تاوان نسته ، دغه رنگه كه له درو څخه مړ سي او صاحبينو رح ويلي دي تاوان به وركوي ، له " الجوهره " څخه .

وو چي ما ته حلاله ده حد نه پر جاري کيږي .

٤ : که ئې د ورور يا تره د مينځي سره جماع وکړل او دا ئې وويل ما ګمان وکړی چي راته حلاله ده حد پر جاري کيږي .

٥ : که يو چا ته د خپلي مايني پرته يوه بله ښځه ورواده سول او ښځو ورته وويل : دا ستا ماينه ده او جماع ئې ورسره وکړل پر هغه حد نسته او مهر پر لازم دی .

٦: که يوچا يوه ښځه پر خپل بسترومونډل ،جماع ئې ورسره وکړل حد پرواجبيږي .

٧ : که يو چا يوه داسي ښځه چي نکاح ئې ورته روا نه وه په نکاح کړل او جماع ئې ورسره وکړل حد نه پر واجبيږي .

٨ : که يو چا د يوې ښځي سره د شا په خوا کي جماع وکړل (١) يا د لوط ﷺ د قوم کار وکړی د ابوحنيفه رح په نزد پر هغه حد نسته او تعزيز ورکول کيږي ، صاحبينو رح ويلي دي : هغه لکه زنا حد پر واجب دی .

---

(١) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : څوك چي د ښځي سره په ناخوښه ځای کي (د شا په شرمځای کي) جماع وکړي يا د لوط ﷺ د قوم کار وکړي د ابو حنيفه رح په نزد حد پر هغه نسته مګر تعزير ورکول کيږي اه . ابن الهمام په " فتح القدير" کي ويلي دي : او بندي دي سي تر څو چي مړ کيږي يا توبه کاږي اوکه د لواطت عادي وو امام دي ئې د سياست په توګه ووژي که محصن وي که نه وي محصن ، په شرعي توګه اندازه سوی حد د هغه لپاره نسته ، صاحبينو رح ويلي دي هغه لکه زنا ، د دوی له دغه عبارت څخه څرګنديږي چي دوی په دې سره اقرار کوي چي زنا نه بلل کيږي بلکه حکم ئې د زنا حکم دی نو که محصن نه وو په درو وهل کيږي او که محصن وو رجم کيږي ، په " الروضه " کي ذکر سوي دي چي اختلاف په هلك کي دی او که ئې د ښځي سره د شا په شرمځای کي جماع وکړل په اتفاق سره حد پر جاري کيږي ، صحيح قول دا دی چي په دواړو مسئلو کي اختلاف سته ، په " الزيادات " کي ئې دغه خبره په څرګنده توګه ذکر کړي ده اه . ابن عابدين الشامي له " الاشباه " څخه نقل کړی دی چي د امام ابوحنيفه رح په نزد حد نه پر جاري کيږي مګر هغه وخت که ئې په مکرره توګه وکړل حد پر جاري کيږي فتوی پر دې قول ده چي وژل کيږي ، وروسته ئې ويلي دي : بيري ويلي دي : ښکاره خبره دا ده چي په دوهم خل کي وژل کيږي ځکه هغه ته تکرار ويل کيږي اه . او ابن الهمام په " فتح القدير" کي ويلي دي چي خالد بن الوليد ابوبکر الصديق ته وليکل چي ده د عربو په ځينو علاقو کي يو سړی وموندی چي داسي جماع ورسره کېدل لکه د ښځي سره ، ابوبکر الصديق صحابه راټول کړل او له هغوی څخه ئې بوښتنه وکړل ، په دغه کي تر ټولو سخت قول والا علي وو هغه وويل : دا داسي ګناه ده چي يوازي يوه امت کړې ده چي تاسي خبر ياست چي الله ﷻ د هغو سره څه وکړل زما رايه دا ده چي په اور سره ئې

۹ : که یو چا د یو حیوان سره جماع وکړل حد نه دی پر واجب .

۱۰ : که یو چا د کفرپه هېواد کي یا د باغیانو په هیواد کي زنا وکړل وروسته زموږ هېواد ته راغلی حد نه پر جاري کیږي .

متفرقي مسئلې

۱ : که مریي یا مینځي زنا وکړل پنځوس درې وهل کیږي ځکه د مریي یا مینځي حد د ازاد د حد نیمی دی او رجم کیږي نه ځکه احصان ئې نسته .

۲ : په محصن سړي کي درې او رجم نه سره یو ځای کیږي .

۳ : په ځوان (چي واده ئې نه وي کړی) کي درې اوله ښار ځخه شړل نه سره جمع کیږي مګر که امام په دغه کي مصلحت ولیدی د خپلي رایي مطابق به ئې له ښار ځخه شړي (۱) .

٤ : که شاهدانو د یو مخکني حد لپاره شاهدي اداء کړل چي د هغه د اداء کولو ځخه د امام لیري والی مانع نه وو د هغوی شاهدي نه قبلیږي بېله د قذف له حد ځخه .

٥ : که ناروغه سړي زنا وکړل او د هغه حد رجم وو رجم دي کړل سي او که ئې حد درې وې تر څو چي جوړیږي په درو دي نه وهل کیږي .

٦ : که حامله ښځي زنا وکړل تر څو چي کوچنی زیږوي حد دي نه پر جاري کیږي ،

د ص ٤٥٤ پاته برخه : وسوځو د صحابه وو رایه پر دغه سره یو ځای سول ، ابن ابي شیبه په خپل مصنف کي روایت کړی دی له ابن عباس ځخه پوښتنه وسول د لواطت څه حکم دی هغه وویل . په کلي کي لوړي ودانۍ ته کتل کیږي له هغه ځای ځخه سر چپه راغورځول کیږي وروسته په ډبرو ویشتل کیږي ، ددې قول دلیل دا دی چي د لوط ﷺ قوم په دغه ډول سره هلاك کړل سول ځکه د هغوی کلي راپورته سول او سر چپه راو غورځول سول ، زموږ مشایخو له ابن الزبیر ځخه نقل کړی دی چي بدبویه ځای کي بندیانیږي تر څو چي مړه کیږي ، ختم سو په مختصره توګه . په " البحر الرائق ٥_١٨ " کي ذکر سوي دي : علامه اکمل په " شرح المشارق " کي ذکر کړي دي چي لواطت عقلا شرعا او طبعا حرام دی ، زنا داسي نه ده ځکه هغه په طبیعت کي حرامه نه ده نو لواطت تر زنا په حرمت کي سخت دی ، د ابوحنیفه رح په نزد حد ځکه نه پر جاري کیږي چي پر هغه دلیل نسته نه په دې وجه چي حرمت ئې سپك دی او حد له دې کبله په هغه کي نه دی واجب سوی تر څو د هغه پر کونکي سختي راسي ځکه د ځیني علماوو په نزد حد پاکونکی دی اه .

(۱) تغریب له خپل ښار ځخه شړلو ته ویل کیږي په کوم کي چي هغه اوسي .

که ني حد دري وي تر څو چي له نفاس څخه وزي حد دي نه پر جاري کيږي او که ئې حد رجم وو په نفاس کي دي رجم کړل سي

د شراب چښلو د حد باب

س: د شراب چښلو حد کوم يو دی؟

ج: هغه د خمر د انګورو شراب د چښلو سزا ته ويل کيږي. څوك چي ئې وچښي او په نشه کي ونيول سي چي بوی ئې موجود وي او شاهدان په دغه سره پر ده شاهدي ورکړي يا دی اقرار وکړي او بوی ئې موجود وي حد پر سته او که ئې د بوی تر ختمېدو وروسته اقرار وکړی حد نه پر جاري کيږي او تر څو چي نشه ئې نه وي ختمه سوې حد نه پر جاري کيږي ، د دوو شاهدانو په شاهدي يا په يوه ځل اقرار سره د شرابو چښل ثابتيږي . په هغه کي د نرو سره دښځو شاهدي نه قبليږي .

س: که ني له خمر څخه پرته نور شراب وچښل حد پر جاري کيږي ؟

ج: که د نبيذ (د خرما اوبه) د چښلو څخه نشه سي (۱) حد پر جاري کيږي ، پر نشه سږي تر هغه وخت پوري حد نه جاري کيږي تر څو دا معلوميږي چي د خرما د اوبو څخه نشه سوی دی او په خپل اختيار سره ئې چښلي دي (۲) .

س: که د يو چا څخه د خمرو بوی وموندل سو يا ئې قئ کړل ، شاهدان نه وه نه ئې اقرار کړی وو حد پر جاري کيږي ؟

ج: حد نه پر جاري کيږي (۳) .

س: د شرابو چښونکي او نشه څه حد دی .

---

(۱) نشه توب ځکه شرط سو چي بېله نشې ئې چښل حد نه واجبوي ... خمر دي څخه بېل دی ځکه د هغه په لږ مقدار چښلو سره حد لازميږي ، په هغه کي نشه توب شرط نه دی ، له « الجوهره » څخه

(۲) ځکه ممکنه ده چي د نبيذ څخه پرته د بل شي څخه نشه سوی وي لکه بنګي او د آسي شيدي يا د نبيذ په چښلو کي مجبوره کړل سوی وي نو په شك سره حد نه پر جاري کيږي ، له « الجوهره » څخه

(۳) ځکه له هغه څخه ئې چښل نه معلوميږي ځکه کېداي سي مجبوره کړل سوی وي يا ني د تندی په حالت کي چي د اوبو د نه شته والي له کبله ورته مجبور وي چښلي وي نو په شك سره حد نه پر جاري کيږي

ج: د هغه سزا داده چي اتیا درې ووهل سي او وهل ئې پر بدن سره بېلیږي ځرنګه چي د زن په حد کي ذکر سول (۱) .

س: که یو سړي د خمرو په څښلو سره اقرار وکړی یا نشه سو وروسته ئې له اقرار څخه رجوع وکړل پر هغه حد جاري کول څه حکم لري ؟

ج: په دغه سره له هغه څخه حد پورته کیږي

س: که د خمرو څښونکی یا نشه مریی وو سزا ئې نیمی کیږي ؟

ج: د هغه سزا د ازاد د سزا نیمی ده نو څلویښت درې وهل کیږي .

د قذف د حد باب

س: هغه د هغه چا سزا،ته ویل کیږي چي یو محصن یا محصني ښځي ته د زنا د ځرګند لفظ (۲) نسبت وکړي ، هغه د دوو سړیانو په شاهدي او د قاذف (څوك چي یو چا ته د زنا نسبت وکي) په یو ځل اقرار سره ثابتیږي ، حد هغه وخت واجبیږي چي هغه سړی ئې مطالبه وکړي کوم ته چي د زنا نسبت سوی دی .

س: د قاذف څه سزا ده ؟

ج: د هغه سزا دا ده چي اتیا درې وهل کیږي او وهل ئې پر اندامو ویشل کیږي او کالي نه څني خېژي مګر پوستین او کوټ څني خېژي ، الله ﷻ ویلي دي ﴿ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً وَ لَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ﴾ (نو ئې اتیا درې ووهئ او هیڅ کله ئې شاهدي مه قبلوئ) .

س: که قاذف مریی وو د هغه حد څه حکم لري ؟

ج: د هغه حد نیمی کیږي نو څلویښت درې وهل کیږي .

س: احصان کوم صفت دی چي په انسان کي وي هغه محصن ګڼل کیږي ؟

---

(۱) د مخ او سر څخه پر هېز کیږي او کالي څني خیژي په مشهور قول کي ، له محمد رح څخه روایت سوی دی چي نه څني خیژي ، له " الجوهره " څخه .

(۲) په دې توګه چي یو چا ته ووایي : ای زنا کونکې یا تا زنا کړې ده یا ته زنا کونکی یې ، د زنا ځرګند لفظ ئې ځکه ووایه چي په کنایي الفاظو سره نه واجبیږي نو که یو چا یو سړي ته د زنا نسبت وکړی او یو بل سړي وویل : رښتیا وایې پر دغه سړي چي وایي ته رښتیا وایې د قذف حد نسته ځکه هغه د قذف لپاره ځرګند نه دی ، له " الجوهره " څخه .

ج : احصان دا دی چي کوم چا ته نسبت د زنا سوی وي هغه به ازاد بالغ عاقل مسلمان او د زنا له عمل څخه پاك وي ، څوك چي دغه صفتونه (۱) ولري كه نر وي كه ښځه هغه محصن بلل کیږي او پر قاذف ئې حد جاري کیږي .

س : كه يو چا په قذف سره اقرار وكړی ، وروسته ئې رجوع وکړل څه حکم ئې دی ؟

ج : رجوع ئې نه قبليږي كه مقذوف د هغه د حد غوښتنه وكړل حد پر جاري کیږي .

س : كه يو سړي يو چا ته وويل : ته د خپل پلار نه یې دا قذف ګڼل کیږي ؟

ج : هو دا قذف دی څوك چي دغه خبره وکړي حد پر جاري کیږي .

س : كه يو چا يو سړي ته وويل : ای د زنا کونکي زویه او د هغه مور محصنه ښځه وه مړه وه دغه قذف څه حکم لري ؟

ج : كه ئې زوی د حد غوښتنه وکړل پر قاذف حد جاري کیږي د مړي لپاره د قذف د حد غوښتنه يوازي هغه څوك كولای سي چي د قاذف د قذف له كبله د هغه په نسب كي عيب پيدا کیږي ، هغه پلار او زوی دی .

س : كه يو چا يو محصن سړي ته د زنا نسبت وكړی د هغه زوی چي كافر وي يا مريی وي د حد غوښتنه كولای سي ؟

ج : هو هغوی په دغه صورت کي د حد غوښتنه كولای سي .

س : كه يو مريی وو چي مور ئې ازاده وه د هغه بادار دده مور ته د زنا نسبت وكړی مريی د خپل بادار د حد غوښتنه كولای سي ؟

ج : هغه لره دا نسته .

س : كه يو سړي يو عربي ته وويل : ای نبطي يا ئې يو سړي ته وويل : ای د اسمان د اوبو زويه په دغه الفاظو سره حد پر جاري کیږي ؟

ج : حد نه پر جاري کیږي ځکه دا قذف نه ګڼل کیږي .

س : كه يو چا يو څوك د هغه تره يا ماما يا د مور مېړه ته منسوبه کړی هغه قاذف ګڼل کیږي ؟

ج : په دغو صورتو كي قاذف نه ګڼل کیږي .

(۱) دا د هغه چا احصان دی چي د زنا نسبت ورته وسي پر قاذف ئې حد جاري کیږي او د رجم احصان مو مخكي ذكر كړی .

س : که يو چا د خپل ملکيت ښځه پرته حرامه جماع وکړل او يو سړي د زنا نسبت ورته وکړی دغه قاذف څه حکم لري ؟
ج : پر دغه قاذف حد نه جاري کيږي .
س : که يو ښځي ته د هغې مېړه د زنا نسبت وکړی او د قاضي په نزد هغې لعان ورسره وکړی وروسته يو چا د زنا نسبت ورته وکړی پردغه قاذف حد جاري کيږي ؟
ج : که د مېړه او ماينې په منځ کي لعان د هلك د نسب د انکار له کبله وو وروسته يو قاذف د زنا نسبت ورته وکړی پر هغه حد نه جاري کيږي او که لعان د مېړه له خوا پر هغې د زنا د تهمت له کبله وو او ددوی په منځ کي کوم هلك نه وو د هغه پر قاذف حد جاري کيږي .
س : که يو سړي يوي مينځي يا مريي يا کافر ته د زنا نسبت وکړی پر هغه حد جاري کيږي ؟
ج : حد نه پر جاري کيږي بلکه تعزير ورکول کيږي .
س : که يو چا يو مسلمان ته وويل ای فاسقه يا کافره يا خبيثه څه حکم ئې دی ؟
ج : په هغه کي حد نسته بلکه په هغه کي تعزير دی .
س : که ئې يو سړي ته وويل ای خره يا سرکوزې په هغه کي حد يا تعزير سته ؟
ج : په هغه کي نه حد سته نه تعزير (۱) .
س : که امام پر يو چا شرعي حد جاري کړی يا ئې تعزير ورکړی او وهل سوی له هغه څخه مړ سو په هغه کي ديت سته ؟
ج : د هغه ويني ببله تاوانه دي ، په هغه کي ديت نسته .
س : د وهلو څخه پرته قاذف لره بله سزا سته ؟

---

(۱) که ئې ورته وويل : ای فاسقه يا غله او هغه دغسي وو تعزير نه ورکول کيږي دغه رنګه که ئې ورته وويل : ای سپيه يا بزوګيه يا غويبه يا د سپي زويه يا د خره زويه تعزير نه ورکول کيږي ځکه هغه دروا‌غجن دی ، ځيني علماوو ويلي دي زموږ په عرف کي په دغو ټولو الفاظو کي تعزير ورکول کيږي ځکه دغه ښکنځل ګڼل کيږي ، ځيني علماوو ويلي دي که هغه څوك چي ښکنځل ورته سوي دي له علماوو يا علويانو څخه وو تعزير ورکول کيږي که نه نه ورکول کيږي ، دغه ښه قول دی ، له " الجوهره " څخه .

ج : كه پر يو مسلمان د قذف حد جاري سي د ټوله عمر لپاره ئې شاهدي له منځه ځي كه څه هم له هغه څخه وروسته توبه وكاږي ، الله ﷻ ويلي دي : ﴿ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً وَ لَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ﴾ (نو اتيا دري ئې ووهئ او هيڅ كله ئې شاهدي مه قبلوئ) .

س : كه يو كافر سړي يو چا ته د زنا نسبت وكړى او حد پر جاري سو وروسته هغه مسلمان سو شاهدي ئې له منځه ځي ؟

ج : شاهدي قبليږي له منځه نه ځي .

فائدي

١ : د تعزير لوى مقدار نه دېرش درې دى او كم مقدار ئې درې دى ، ابويوسف ويلي دي : تعزير پنځه اويا درو ته رسېدلاى سي .

٢ : كه امام دا مناسبه وګڼ[illegible]ي د وهلو سره بند هم يوځاى سي ورته روا ده .

٣ : سخت قسم وهل په تعزير كي دي وروسته د زنا په حد كي وروسته د شرابو په حد كي وروسته د قذف په حد [illegible] دي .

س: غلا په عربي ژبه او شريعت كي څه ته ويل كيږي ؟
ج: هغه په عربي ژبه كي په پټه توګه مال اخيستلو ته ويل كيږي او په شريعت كي د هغه مفهوم دا دى چي يو مكلف سړى د لسو درهمو په قدر يا له هغه څخه زيات مال چي په يو ځاى كي ساتل سوى وي يا يو چا ساتلى وي واخلي .
س: په سپېڅلي شريعت كي د غله لپاره كومه سزا ټاكل سوې ده ؟
ج: كه عاقل بالغ سړى ازاد يا مريى نر يا ښځه لس درهمه يا داسي مال چي لس درهمه قيمت ولري وهل سوي لس درهمه وي يا نه وي وهل سوي له يو محفوظ ځاى څخه غلا كړي او په هغه كي شبهه نه وي لاس پرې كول ئې واجب دي ، الله ﷻ ويلي دي ﴿ وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ ﴾ [1] (او غل او غله لاسونه ئې ورپرې كړئ د هغه عمل سزا چي دوى وكړى عذاب د الله له طرف څخه) .
س: د غله لاس له كوم ځاى څخه پرې كيږي ؟
ج: ښى لاس ئې له بند څخه پرې كيږي او داغيږي .
س: كه ئې دوهم ځل غلا وكړل چپه لاس ئې پرې كيږي ؟
ج: كه ئې دوهم ځل غلا وكړل چپه پښه ئې پرې كيږي كه ئې دريم ځل غلا وكړل شى ئې نه پرې كيږي بلكه په جيل كي اچول كيږي تر څو چي توبه كاږي .
س: كه يو چا لس درهمه يا له هغه څخه زيات له يو داسي ځاى څخه غلا كړل چي په هغه كي ساتل سوي وه او چپه لاس ئې شل وو يا پرې وو يا ئې ښى پښه مخكي پرې وه قاضي به ئې د پرې كولو فيصله كوي ؟
ج: په دغه صورت كي پر هغه پرې كول نسته [2] .
س: غلا څرنګه ثابتيږي ؟

---

[1] سورة المائدة : الاية :٣٨.
[2] ځكه په دغه صورت كي د نيولو يا تلو استفاده له سره له منځه ځي ، دغه رنګه كه ئې چپه پښه شله وه له دغه وجهي چي ذكر مو كړل ، له " الهدايه " څخه .

ج : د هغه په يوه ځل اقرار او د دوو كسانو په شاهدي سره ثابتيږي .

س : كوم څوك چي مال ئې غلا سوی وي د پرې كولو په وخت كي د هغه حاضربدل ضروري دي ؟

ج : د غله لاس تر هغه وخت پوري نه پرې كيږي تر څو چي هغه سړی چي مال ئې غلا سوی وي حاضريږي او د غلا د سزا غوښتنه كوي ، كه هغه وروبخښي (هغه مال چي غلا سوی دی) يا ئې پر خرڅ كړی يا ئې قيمت د غلا له نصاب (چي هغه لس درهمه دي) څخه كم سو د غله لاس نه پرې كيږي .

س : په هغه صورت كي چي يو څوك لس درهمه يا له هغه څخه زيات يا د هغه قيمت غلا كړي پرې كول لازم دي د غلا سوي مال واپسول پر غله لازم دي ؟

ج : كه د غله لاس پرې سو او غلاسوی مال دده په لاس كي وو واپسول ئې پر لازم دي او كه هلاك سوی وو تاوان ئې نه پر لازميږي .

س : كه په يو غلا كي څو كسان سره شريكان سول د ټولو لاسونه پرې كيږي ؟

ج كه څو كسان په يو غلا كي شريكان سول ، هر يوه ته لس درهمه يا له هغه څخه زيات ورسېدل د ټولو لاسونه پرې كيږي او كه هر يوه ته تر هغه كم ورسېدل د يوه لاس هم نه پرې كيږي .

س : په دغو مسئلو د حرز (ساتنه) څه مفهوم دی ؟

ج : حرز دوه قسمونه لري : په ځای سره ساتنه لكه كورونه او دكانونه او په ساتونكي سره ساتنه ، نو څوك چي له يو ساتل سوي ځای څخه يو شی غلا كړي يا يو شی په داسي حالت كي غلا كړي چي څښتن ئې د هغه سره حاضر وي ساتي ئې د هغه سړي د لاس پرې كول لازم دي .

س : كه يو څو كسان يو ساتل سوي ځای ته د غلا لپاره حاضر سول ځينو كسانو مال راواخستی او نورو نه راواخستی د ټولو لاسونه پرې كيږي ؟

ج : كه هر يوه ته لس درهمه يا له هغه زيات يا د هغو قيمت ورسېدی د ټولو لاسونه پرې كيږي .

س كه يو غله د صيرفي (هغه څوك چي د پيسو د خرڅولو او رانيولو كار كوي) په صندوق كي يا د يو سړي په لستوڼي كي لاس دننه كړی او مال ئې ځني واخستی څه حكم لري ؟

ج : که ئې د غلا د نصاب په قدر مال واخستی لاس ئې پرې کيږي .
س : که يو غله د يو کور په دېوال کي سوری جوړ کړی او ورننوتی او مال ئې راواخستی او يو بل سړي ته ئې ورکړی چي له کور څخه د باندي وو لاسونه ئې پرې کيږي ؟
ج : پر هغوی پرې کول نسته .
س : که هغه څوك چي ورننوتلی وي هغه مال په لاره کي وغورځوی وروسته راووتی او وائې خستی په دغه صورت کي ئې لاس پرې کيږي ؟
ج : هو پرې کيږي .
س : که ئې يو کور سوری کړی او ورننوتی او مال ئې راواخستی او پر خره ئې بار کړی او هغه ئې وشړی او له کور څخه ئې راوايستی څه حکم لري ؟
ج : په هغه کي پرې کول لازم دي .
س : که ئې کور سوری کړی ، لاس ئې له دباندي څخه ورننه ايستی او يو شی ئې راواخستی څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کي ئې لاس نه پرې کيږي .
س : که يو سړي له مسجد څخه يو شی غلا کړی په دغه صورت کي د پرې کولو څه حکم دی ؟
ج : که د شي څښتن د هغه شي سره وو لاس ئې پرې کيږي .
س : هغه صورتونه بيان کړئ په کوم کي چي د غله لاس نه پرې کيږي :
ج : په راتلونکي صورتو کي ئې لاس نه پرې کيږي ، په ياد ئې ولره :

١ : کوم مال چي په اسلامي هېواد کي بې اهميته وي او هر يوه لره ئې اجازه وي لکه لرګي ، وابښه ، نلان ، په اوبو کي مايان او په دښت کي ښکار د هغه په اخستلو کي د چا لاس نه پرې کيږي .

٢ : کوم مال چي ژر خرابيږي لکه لندې مېوې او شيدې او غوښې او ختکی او مېوه چي پر ونه وي او کښت چي نه وي رېبل سوی په هغو کي پرې کول نسته .

٣ : په نشه کونکو شرابو کي پرې کول نسته .

٤ : د طنبور (د موزك يوه آله ده) په غلا کولو کي پرې کول نسته .

٥ : د ډول ، مزمار (د موزك يوه آله ده) او دريې په غلا کولو کي پرې کول نسته .

٦ : د قران كريم په غلا كولو كي كه څه هم پر هغه زړور وي پرې كول نسته .
٧ : د سرو زرو او سپينو زرو د صليب په غلا كولو كي پرې كول نسته .
٨ : د سطرنج په غلا كولو كي پرې كول نسته .
٩ : د نرد په غلا كولو كي پرې كول نسته .
١٠ : د يو ازاد كوچني په غلا كولو كي كه څه هم پر هغه زړور وي پرې كول نسته .
١١ : د لوى مريي په غلا كولو كي پرې كول نسته ، د كوچني مريي په غلا كولو كي پرې كول سته .
١٢ : د هيڅ يوه رجستر په غلا كولو كي پرې كول نسته بېله د حساب رجستر .
١٣ : د سپي يا فهد په غلا كولو كي پرې كول نسته .
١٤ : پر خائن سړي يا خائنه ښځه پرې كول نسته .
١٥ : پر كفن كښونكي پرې كول نسته .
١٦ : پر چور كونكي پرې كول نسته .
١٧ : پر حمله كونكي پرې كول نسته .
١٨ : پر هغه چا پرې كول نسته چي له بيت المال څخه مال غلا كړي يا له هغه ځاى څخه په كوم كي چي د غنيمت مال ساتل سوى وي .
١٩ : په هغه صورت كي پرې كول نسته چي له داسي مال څخه غلا وكړي چي په هغه كي دده شراكت وي .
٢٠ : پر هغه چا پرې كول نسته چي له مور يا پلار څخه يا له اولاد څخه يا له محرم قريب څخه غلا وكړي .
٢١ : كه له مېړه او مايني څخه يو له هغه بل څخه غلا وكړي پرې كول نسته .
٢٢ : كه مريى له خپل بادار څخه يا د خپل بادار له مايني څخه يا د خپلي باداري له مېړه څخه غلا وكړي پر هغه پرې كول نسته .
٢٣ : كه بادار د خپل مكاتب له مال څخه غلا وكړي پر هغه پرې كول نسته .
٢٤ : كه يو څوك له حمام څخه يا داسي ځاى څخه چي خلكو ته د هغه د ننوتلو اجازه سوې وي غلا وكړي پر هغه پرې كول نسته .

۲۵ : پر ميلمه پرې کول نسته که له هغه چا څخه غلا وکړي چې دی ئې ميلمه کړی وي.

۲۶ : که غله دا دعوی وکړل چې غلا سوی مال دده ملکيت دی که څه هم شاهدان نه پر ودروي پر هغه پرې کول نسته.

س : تاسي دا خبره ذکر کړل چې په لرګو کي پرې کول نسته، له دې څخه کوم لرګي ستاسي مراد دي ؟

ج : له دغه څخه هغه لرګي مراد دي چې بې اهميته وي کوم چې خلګ ئې نه ساتي، هغه لرګي چې قيمت لري او خرڅيږي او ساتل کيږي د هغو په غلا کولو کي که يوه نصاب ته ورسيږي لاس پرې کيږي لکه د ساج، قنات، آبنوس، او صندل لرګی. دغه رنګه د هغو شيانو په غلا کولو کي لاس پرې کيږي چې له لرګو څخه جوړ سوي وي لکه لوښي او دروازې.

س : که يو چا يو شی غلا کړی په هغه کي ئې لاس پرې سو او هغه ئې خپل مالك ته ورواپس کړی، دوهم ځل ئې بيا غلا کړی دغه غلا څه حکم لري ؟

ج : که هغه شی پر خپل حال وو څرنګه چې ده واپس کړی وو دوهم ځل ئې اندام نه پرې کيږي او که له خپل حال څخه بدل سوی وو لکه چې ورته وي يو څوك ئې غلا کړي او په هغه کي ئې لاس پرې سي، ورواپس ئې کړي بيا هغه تهوکر ځني جوړ کړي او هغه بيا غلا کړي اندام ئې پرې کيږي.

د لاره نيوونکو احکام

س : د لاره نيولو څه احکام دي ؟

ج : هغه الله ﷻ په خپل ګران کتاب کي بيان کړي دي : ﴿ إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللَّهَ وَ رَسُوْلَهُ وَ يَسْعَوْنَ فِيْ الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوْا أَوْ يُصَلَّبُوْا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيْهِمْ وَ أَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِيْ الدُّنْيَا وَ لَهُمْ فِيْ الْأَخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوْا أَنَّ اللَّهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [المائدة ۳۳ ، ۳٤] (ښېله شکه د هغو کسانو سزا کوم چې د الله او د هغه د رسول سره جنګ کوي او په مځکه کي د فساد کوښښ کوي دا ده چې وژل کيږي يا په داريږي يا ئې لاسونه اوپښې په مخالفه توګه وربرې کيږي يا له مځکي شړل کيږي، دا دوی لره په دنيا کي سزا ده او دوی لره

په آخرت کي لوی عذاب دی بېله هغو کسانو چي مخکي له دې څخه چي تاسي قدر
پر ومومئ توبه وکاږي نو پوه سئ چي بې شکه الله بخښونکی مهربان دی) نو کله چي
یوه ډله چي ځان ژغورلای سي یا یو سړی چي د ځان پر ژغورلو قدرت لري راووزي او
لاري نیولو اراده وکړي او مخکي له دې څخه چي کوم مال واخلي یا یو څوك ووژ
ونیول سي امام دي ئې تر هغه وخت پوري بندي کړي تر څو توبه کاږي او که ئې د یو
مسلمان یا ذمي مال واخیستی او هغه دومره مال وي که پر دوی وویشل سي هر یوه ته
لس درهم یا له هغه څخه زیات یا دهغه قیمت رسیږي امام دي ئې لاسونه او پښې په
مخالفه توګه وریږي کړي ، او که ئې یو څوك ووژی او مال ئې نه وو اخیستی امام دي
ئې د حد په توګه ووژي ، که د وژل سوي قریبانو هغه ته عفو وکړل د هغو عفو ته نه کتل
کیږي اوکه ئې یو څوك وژلی وو او مال ئې اخیستی وو امام لره اختیار سته که ئې
لاسونه او پښې په مخالفه توګه وریږي کوي او وژني ئې او په داروي ئې اوکه ئې وژني او
که ئې په داروي (۱) .

س : د دارولو څه ډول دی ؟

ج : ژوندی په داریږي او په نس کي ئې نېزه جګیږي تر څو چي مري او له درو ورځو څخه
زیات نه په داریږي .

س : که په هغو کي کوچنی یا لېونی یا د هغه چا چي لاره پر پرې سوې وي قریب وو څه
حکم لري ؟

ج : له پاته کسانو څخه حد ساقطیږي (۲) او وژل د وژل سوي قریبانو ته سپارل کیږي که
ئې وژني که عفو کوي .

س : که له لاري پرې کونکو څخه یوه قتل وکړی د قتل حکم پر ټولو جاري کیږي ؟

ج : هو پر هغوی ټولو جاري کیږي .

---

(۱) خلاصه ئې دا ده چي امام لره اختیار سته که دوې سزاوي سره یوځای کوي : لاسونه او پښې پرې کول
دوژلو یا په دارولو سره یا ئې له سره وژني یا ئې په داروي بېله لاسو او پښو پرې کولو څخه ، له " العنایه
شرح الهدایه " څخه .

(۲) د کوچني او لیوني په هکله چي کوم قول ذکر سوی دی هغه د ابوحنیفه رح او زفررح قول دی ، له
ابویوسف رح څخه روایت سوی دی که عاقلانو غلا وکړل پاته کسانو ته سزا ورکول کیږي ، دغه رنګه د
کوچنی غلا سزا . له " الهدایه " څخه .

د شرابو کتاب

س: د کومو شرابو څښل حرام دي ؟
ج: حرام شرابونه څلور دي :
۱ : خمر : هغه د انګورو (۱) اوبه دي چې جوش وخوري او سختي سي (۲) او ځګ غورځوي (۳) .
۲ : د مېوې اوبه (٤) چې پخې سي تر څو چې له دوو دريمو څخه ئې کمه برخه ولاړه ي .
۳ : د خرما نقيع (اوبه) (٥) کله چې و ايشي او سختي سي .
٤ : د وشکو اوبه چې سختي سي او جوش وخوري .
س: د خرما او وشکو په اوبو کي چې پخې سي تاسي څه واياست ؟
ج: که لږ پخې سي که څه هم سختي سي هغه حلالي دي ، که دومره څني وڅښي چې له ګمان ئې دا وي چې نه ئې نشه کوي او غفلت او مستي نه راولي .
س: دواړي ګډي (٦) څه حکم لري ؟
ج: هغه حلالي دي .
س: د عسلو او انځرو او غنمو او اوربشو او جوارو اوبه که پخې نه سي څه حکم لري ؟
ج: هغه که پخې سي که نه (۷) حلالي دي که د غفلت او مستي لپاره نه وڅښل سي .

---

(۱) يعني اومه انګور .
(۲) د سختوالي څخه مراد دا دی چې د نشه کولو توان ولري .
(۳) ابويوسف رح دا نه دی شرط کړی چې ځګ به غورځوي ، نورو درو امامانو هم دغسي ويلي دي ، ابو ... الكبير هم دغه قول اخستی دی او دغه ښکاره قول دی ، له " الدر المختار" څخه .
(٤) يعني د انګورو اوبه .
(٥) د نقع لفظ د وشکو او خرما لپاره په دې معنی استعماليږي چې هغه په اوبو کي واچول سي تر څو ... سي او خوږوالی ئې په اوبو کي ووزي . هغه شراب ته نقيع ويل کيږي .
(٦) له دواړو ګډو څخه مراد د خرما او وشکو اوبه دي کله چې سره ګډي سي او لږ پخې سي او تر هغه ... بوري پرېښول سي تر څو ايشي او سختيږي . له " العناية " څخه .

س : که د انګورو اوبه پخې سي تر څو چي دوې دريمي ئې ولاړې سي څه حکم لري ؟
ج : هغه که څه هم سختي سي حلالي دي .
س : که خمر خپله سرکه سي يا سرکه کړل سي څه حکم لري ؟
ج : که خمر خپله يا د يو شي په اچولو سره سرکه سي د هغه سرکې خوړك روا دی .
س : د هغه سرکه کول څه حکم لري ؟
ج : سرکه کول ئې روا دي .
س : په دباء (کدو) ، حنتم (زرغون منګی) ، مزفت (هغه لوښی چي په ډامبر سره لړل سوی وي) او نقير (د خرما د ونې لرګی چي منځ ئې خالي سوی وي) کي د مېوې اوبه جوړل څه حکم لري ؟
ج : په دغو لوښو کي د مېوې اوبه جوړول روا دي ، له هغو څخه منع راغلې وه بيا ئې بيرته اجازه وسول (١) .

د ص ٤٦٧ پاته حاشيه : (٧) محمد رح حرامي کړي دي يعني هغه شرابونه چي له عسلو او انځيرو او د هغه په رنګه نورو شيانو څخه جوړ سوي وي که لږ وي که ډېر او په دغه قول سره فتوی کيږي ، د " الفتاوی البزازية " د طلاق په بيان کي ذکر سوي دي : محمدرح ويلي دي : کوم شراب چي ډېر ئې څوك نشه کوي لږ ئې حرام دي او نجس هم دي او که له هغه څخه څوك نشه سي زموږ په زمانه کي مختار قول دا دی چي حد پر جاري کيږي ، په " الملتقی " کي ئې دغه خبره زياته کړې ده . د نشه سړي د طلاق واقع کېدل د هغه په حرمت پوري اړه لري د محمدرح په نزد ټوله حرام دي او په دغه قول سره فتوی کيږي . اختلاف په هغه صورت کي دی چي مقصد ئې قوت حاصلول وي او که ئې غفلت مقصد وو په اجماع سره حرام دي ، د بنګو او چرسو او تارياکو خوړك حرام دی ځکه هغه عقل فاسدوي او د الله ﷻ له ذکر او لمانځه څخه څوك راګرځوي مګر حرمت ئې د خمرو له حرمت څخه کم دی ، که ئې له دغو څخه بو شی وخوړی که څه هم نشه سي حد نه پر جاري کيږي بلکه له حد څخه کم مقدار تعزير ورکول کيږي ، له " الدر المختار " څخه له دغه تفصيل څخه څرګنده سول چي د تار د ونې له اوبو څخه جوړ سوي شراب حرام دي . هغه د خرما د ونې په شان يوه ونه ده چي د هندوستان په ختيځ لوري کي پيدا کيږي فاسقان ئې د غفلت حاصلولو لپاره څښي او پر راټوليږي .

(١) په دغه کي دليل دا دی چي کله د عبد القيس د قبيلې وفد نبي ﷺ ته راغلی هغه ﷺ په څلورو شيانو سره امر کړی او له څلورو شيانو څخه ئې منع کړی له حنتم او دباء او نقير او مزفت څخه ئې منع کړی ځرنګه چي امام بخاري ئې په کتاب الايمان کي روايت کړی دی او د هغه لپاره ئې باب جوړ کړی دی (باب اداء الخمس من الايمان) ، په دغه ځای کي محل (ځای) ذکر سوی دی او مراد له هغه څخه حال (

د صيد (ښکار) او ذبح سوو (حيوانانواو مرغانو) کتاب

س: صيد څه ته وايي ؟

ج: د صيد مفهوم ښکار کول دي او هغه حيوان ته ويل کيږي چي ښکار سوی وي ، هغه حيوان دی چي وحشي وي او له انسان څخه ځان ژغوري که ئې غوښې خوړل کيږي که نه ، کوم حيوان چي وحشي وي د يو چا ملکيت نه وي د محرم سړي پرته بل چا ته او له حرم څخه پرته بل ځای ئې ښکار کول حلال دي ، الله ﷻ ويلي دي : ﴿ وَ إِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ﴾ (او کله چې تاسي حلال سئ ښکار وکړئ) .

س: که يو مسلمان د ښکار کولو اراده وکړي څرنگه به ښکار کوي ؟

ج: په تعليم ورکړل سوي سپي او تعليم ورکړل سوي فهد (دسپي اوشرمښ زوی) او تعليم ورکړل سوي باز اونورو تعليم ورکړل سوي څيرونکي حيواناتو(١) سره ښکارکول روا دي

د ص ٤٦٨ پاته برخه : هغه شی چي په يوځای کي وي) دی څکه لوښي خپله نه دي حرام له هغه څخه مراد په هغو کي شراب جوړول دي ، نبي ﷺ له دې کبله په دغو لوښو کي له شراب جوړولو څخه منع وکړل ځکه په هغو کي ژر شراب د نشه کولو قابل گرځي نو دا ممکنه وي چي له هغو څخه چښنګ وکي او دی په خبر نه وي چي نشه کونکي دي ، وروسته دا اجازه راغلل چي په هر لوښي کي شراب جوړ کړئ مگر له نشه کونکي څخه ځان وژغورئ (د حديث شارحانو دغه خبره ذکر کړې ده) ، رخصت ورکونکی حديث هغه دی چي بريده ﷺ ئې روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل : تاسي مي له لوښي څخه منع کړې واست ، لوښی نه شی حلالوي نه ئې حراموي او هر نشه کونکی شی حرام دی او په يوه روايت کي ذکر سوي دي : تاسي مي د څرمني له لوښو پرته نورو لوښو څخه منع کړي واست ، په هر لوښي کي چښل وکړئ مگر نشه کونکی شی مه چښئ ، مسلم ئې روايت کړی دی . د الفاظو تشريح دا ده : حنتم د بې ټکي حاء په زور او نون په سکون او د دوه لوړ ټکي تاء په زور سره منگي ته ويل کيږي دغه رنګه ئې ابن عمر تفسير کړی دی څرنگه چي په صحيح مسلم کي ذکر سوي دي اوهغه له ابوهريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي حنتم زرغونو منگيو ته ويل کيږي ، او دباء د بې ټکي په پيښ او يو ټکي په شد او مد سره کدو ته ويل کيږي ، نووي ويلي دي له هغه څخه مراد وچ کدو دی او قزاز په هغه کي قصر هم نقل کړی دی . او نقير د نون په زور او قاف په زبر د خرما د ونې تنې ته ويل کيږي چي غار په کښي جوړ سي او لوښی څني جوړ سي او مزفت په زاء او فاء سره هغه لوښي ته ويل کيږي چي په ډامبر سره لړل سوی وي ، له "فتح الباري" څخه .

الله ﷻ ويلي دي ﴿ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَ مَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ﴾ (ورته ووايه پاك خوركونه درته حلال دي او (ښكار) د هغو ځيرونكو حيوانانو چي تاسي تعليم وركوئ او ادب وركوئ تاسي له هغه شي څخه تعليم وركوئ كوم چي الله ﷻ تاسي ته درښوولي دي (۱) .

س : كه ښكار كونكي تعليم وركړل سوى سپى يا تعليم وركړل سوى فهد د ښكار لپاره واستوى او هغه ښكار ووژي خورك ئې روا دى ؟

ج : هغه حيوان چي خورك ئې روا وي كه ښكار كونكى د هغو د ښكار كولو لپاره د تعليم وركړل سوي ځيرونكي حيوانانو د استولو په وخت كي د الله ﷻ نوم ذكر كړي خورك ئې روا دى ، كله چي تعليم وركړل سوى حيوان ښكار ونيسي او ټپي ئې كړي او هغه مړ سي خورك ئې روا دى ، دغه رنګه كه تعليم وركړل سوى باز يا تعليم وركړل سوى څرخك ورواستوي او د الله ﷻ نوم پر ذكر كړي او هغه يو مرغه ونيسي او ټپي ئې كړي او هغه مړ سي خورك ئې روا دى .

س : د ټپي كولو او مړكېدلو تكي مو ولي زيات كړل ؟

ج : د ټپي كولو تكى مو ځكه زيات كړى چي د ښكار د روا كېدلو لپاره ټپي كول ضروري دي ددې لپاره چي د مجبورى ذبح حاصله سي ، هغه ټپي كول دي د بدن په هر ځاى كي چي وي ، د مرګ تكى مو ځكه زيات كړى چي تعليم وركړل سوى سپى يا باز د مثال په توګه كه ښكار ونيسي او تر ټپي كولو وروسته ئې ژوندى پرېږدي او ښكاري په دغه حالت كي وررسيږي د هغه ذبح كول ضروري دي ځكه په دغه وخت كي اختياري ذبح حتمي سول نو كه ئې بېله ذبح كولو پرېږدي تر څو مړ سي نه خوړل كيږي .

د ص ۴۶۹ پاته برخه : (۱) هر ځيرونكى حيوان يا منګولو لرونكى مرغه چي تعليم وركړل سوى وي ښكار كول په روا دي ، له دغو څخه پرته په نورو سره ښكار كول يوازي هغه وخت روا دي چي ذبح كړل سي ، دغه رنګه ئې په « الهدايه » كي له « الجامع الصغير » څخه نقل كړى دى .

(۱) زيلعي د « الكنز » په شرح (۶-۵۰) كي ويلي دي : مكلب هغه سپي ته ويل كيږي چي تعليم او ادب وركول سوى وي ، بيا ئې مفهوم عام سو هر ځيرونكي ته ويل كيږي چي تعليم وركول سوى وي كه حيوان وي كه مرغه ، ددې قول (مكلبين) مفهوم دا دى چي تاسي ښكار وروښوئ او د تعلمون مفهوم دا دى چي ادب وروښوئ نو هر حيوان يا مرغه ته شامل دي چي تعليم وركول سوى وي اه .

س : د ښکارونکو حيوانانو سره مو د تعليم ورکړل سوي ټکی زيات کړی د هغو تعليم څرنګه دی ؟

ج : د سپي او فهد تعليم دا دی چي دا وروښوې چي ښکار ونيسي او له هغه څخه خورك ونه کړي ، کله چي پر دغه تمرين وکړي او درې ځله خورك پرېږدي تعليم ورکړل سوی ګڼل کيږي او د باز تعليم دا دی چي کله ئې راوبولي بيرته راځي . په دغه سره د تعليم ورکړل سوي سپي او تعليم ورکړل سوي باز په حکم کي فرق راځي نو که سپی له ښکار څخه خورك وکړي هغه نه خوړل کيږي او که باز له ښکار څخه خورك وکړي خوړل کيږي ځکه د باز تعليم دا دی چي کله ئې خپل څښتن راوبولي بيرته راځي . په هغه کي دا شرط نه دی چي له ښکار څخه به خورك نه کوي (۱) .

س : که سپي يا فهد خپه کړی او ټپي ئې نه کړی او له ذبح کولو څخه مخکي مړ سو خورك ئې روا دی ؟

ج : خورك ئې نه دی روا .

س : که ئې خپل تعليم ورکړل سوی سپی په ښکار پسي واستوی او د هغه سره بل داسي سپی چي تعليم نه وو ورکړ ل سوی يا د مجوسي سپی يا داسي سپی چي استونکي ئې د استولو په وخت کي د الله ﷻ نوم نه وو ياد کړی شريك سو دغه ښکار څه حکم لري ؟

ج : د هغه خورك نه دی روا .

س : دغه بيان چي تاسي ذکر کړی د ښکارونکي حيوان او ښکار کونکي مرغه د ښکار کولو حکم وو ، د ښکار کولو لپاره له دغه طريقې څخه پرته کومه بله طريقه سته ؟

ج : هو يوه بله طريقه هم سته چي په غشي سره ښکار کول دي ، که يو مسلمان سړی يو ښکار په غشي سره وولي او د ويشتلو په وخت کي د الله ﷻ نوم ياد کړي او هغه پر يو حيوان ومنبلي او په هغه سره ټپي سي او مړ سي خورك ئې روا دی ، که ښکار کونکی د ژوند په حالت کي وررورسېدی ذبح کول ئې پر لازم دي ، که ئې نه کړی ذبح خورك ئې نه دی روا .

---

(۱) زموږ ځينو مشايخو د بازي په هکله ويلي دي : دا هغه وخت که ئې په دريم ځل دعوت کي د خپل څښتن دعوت قبول کړی او د غوښو طمع ئې نه کول او که ئې يوازي د غوښي د طمع لپاره د خپل څښتن د دعوت قبلونه کول تعليم ورکړل سوی نه ګڼل کيږي . له " الهندية ٥-٤٢٣ " څخه .

س : که ئې په ښکار پسي غشی وغورځوی او ښکار په اوبو کي ولوېدی او ویشتونکي مړ پیدا کړی یا پر یو مځکه چت یا غره راولوېدی ، وروسته له هغه ځای څخه پر مځکه ومبنتی او مړ سو دغه ښکار څه حکم لري ؟

ج : ددغه ښکار خوړك حرام دی .

س : که له سره پر مځکه ولوېدی او مړ سو حکم ئې له دغه څخه بېل دی ؟

ج : هو حکم ئې له دغه څخه بېل دی او په دغه صورت کي ئې خوړك روا دی .

س : که یو سړي په ښکار پسي یو غشي وغورځوی ، هغه پر ښکار ومبنتی مګر ونې ځغستل تر څو ورك سو ، وروسته ښکاري هغه مړ وموندی خوړك ئې روا دی ؟

ج : که ښکار کونکی له هغه وخت څخه دده په تلاښ کي وو تر څو چي مړ ئې وموندی ودي ئې خوري او که له تلاښ څخه کښېنستی وروسته ئې مړ وموندی نه خوړل کیږي .

س : که یو چا یو ښکار وویشتی او یو اندام ئې ځني پرې کړی څه حکم لري ؟

ج : هغه ښکار خوړل کیږي او اندام ئې نه خوړل کیږي .

س : که ئې سره پرې کړی او دوې ټوټې ئې کړی څه حکم لري ؟

ج : که ئې داسي دوې ټوټې کړی چي دوې دریمې ئې یوه ټوټه سول او یوه دریمه ئې بله ټوټه سول او لویه برخه ئې هغه وه چي د کناټي خوا ته وه ټوله دي وخوري (۱) او که ئې لویه ټوټه د سر خوا ته وه لویه برخه دي وخوري او پاته دي پرېږدي (۲) .

س : که یو چا په ښکار پسي پلن غشی وغورځوی اوهغه په بره پرومبنتی څه حکم لري ؟

ج : تر څو چي تېپي ئې نه کړي دغه ښکار نه خوړل کیږي .

س : د مردکۍ ښکار څه حکم لري ؟

ج : که ښکاري یو ښکار په مردکۍ وویشتی او هغه مړ سو نه خوړل کیږي او که ئې ژوندی ومومی او ذبح ئې کړی خوړك ئې روا دی .

---

(۱) ځکه رګونه له زړه څخه تر دماغ پوري تللي دي نو کله چي ئې د سر له خوا څخه دریمه پرې سي د رګو پرې کونکی ګڼل کیږي لکه چي ذبح ئې کړي .

(۲) او که لویه برخه هغه وه چي د سر خوا ته وه د کناټي خوا نه خوړل کیږي ځکه په رګو کي نه سو نښې نو داسي ګڼل کیږي لکه له ژوندي څخه چي بېل سوی وي نو هغه نه خوړل کیږي او کومه برخه چي له هغه څخه دغه ټوټه بېل سوې ده هغه خوړل کیږي او که ئې پر دوو برخو پرې کړی ټوله دي وخوري ، له "الجوهرة" څخه .

س : که يو سړي يو ښکار وويشتي ، پر هغه ومنښتي مگر ډېر ئې ټپي نه کړي او د ځان ژغورلو له حد څخه ئې نه وايستي بيا يو بل سړي وويشتي او هغه ووژي دغه ښکار د اول سړي دي که ددوهم او غوښي ئې خوړل کيږي که نه ؟

ج : هغه د دوهم دی او غوښي ئې خوړل کيږي (١) .

س : که اول ډېر ټپي کړی وو او دوهم وويشتي او وئې وژی څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي حکم سره اوړي ښکار د اول کيږي او نه خوړل کيږي (٢) او پر دوهم سړي د اول لپاره د هغه تاوان لازميږي بېله هغه کمي څخه کومه چي د اول په ټپ سره ورته پيدا سوې وي (٣) .

س : کوم حيوان چي غوښه ئې نه خوړل کيږي د هغه ښکار روا دی ؟

ج : کوم حيوان چي غوښه ئې خوړل کيږي او کوم چي نه خوړل کيږي د دواړو ښکار روا دی (٤) .

س : داسي سړی سته چي ښکار ئې نه خوړل کيږي ؟

ج : د محرم ، مجوسي ، مرتد او بت عبادت کونکي ښکار نه خوړل کيږي که څه هم د حيوان د استولو يا غشي ويشتلو په وخت کي د الله ﷻ نوم ياد کړي . مسلمان او کتابي که د استولو په وخت کي د الله ﷻ نوم ياد کړي ښکار ئې خوړل کيږي .

د ذبح کولو فصل

س : ذبح کول څه ته وايي او په کوم شرط سره مسلمان لره ذبيحه (هغه حيوان چي ذبح کړل سوی وی) حلاليږي .

(١) ځکه دوهم ښکار کړی او وئې نيوی .

(٢) ځکه کېدای سي چي په دوهم ښکار سره وژل سوی وي او هغه ذبح نه ګڼل کيږي ځکه د هغه پر اختياري ذبح قدرت سته ، په اول صورت کي داسي نه دی ، له " الجوهرة " څخه .

(٣) ځکه د هغه په ويشتلو سره يو داسي ښکار هغه.له منځه يووړی چي د يو چا په ملکيت کي وو ځکه کله چي ئې سخت ټپي کړی هغه ئې مالك سو مگر د ټپ له کبله ئې قيمت کم دی او د يو هلاك سوي شي قيمت هغه وخت معتبريږي په کوم وخت کي چي هلاك سوی وي ، له " الجوهرة " څخه .

(٤) ځکه کوم حيوان چي غوښي ئې خوړل کيږي د هغه غوښي خوړل کيږي او کوم چي غوښي ئې نه خوړل کيږي د هغه په پوست ، ښکو او ښکر سره گټه اخيستل کيږي او کله کله د هغه له شر څخه د ځان ژغورلو لپاره ښکاريږي .

ج : هغه د هغو رګو پرې کولو ته ويل کيږي کوم چې د لبه (۱) (سينې) او زنو په منځ کې دي ، د ذبيحې د حلال والي لپاره دا ضروري ده چې داسې حيوان به وي چې غوښې ئې خوړل کيږي او ذبح کونکی مسلمان يا کتابي (۲) وي او ذبح کونکی به د ذبح کولو په وخت کې د الله ﷻ نوم يادوي ، دغه ته ذکات ويل کيږي .

س : هغه رګونه بيان کړئ کوم چې د ذبح کولو په وخت کې پرې کيږي .

ج : هغه رګونه چې په ذکات کې پرې کيږي څلور دي : حلقوم (۳) ، مرئ (٤) ، او ودجه (٥) ، کله چې دغه پرې کړي خوړک ئې روا دی ، که ئې د هغو زياته برخه پرې کړل هم د ابوحنيفه رح په نزد دغسې دی او صاحبينو رح ويلي دي د حلقوم ، مرئ او يوه ودج پرې کول حتمي دي .

س : که ذبح کونکي د ذبح کولو په وخت کې د الله ﷻ د نوم يادول پرېښول ذبيحه ئې څه حکم لري ؟

---

(۱) لبه د لام په زور سره د اوښ د ذبح کولو ځای ته ويل کيږي لکه د لام په زبر سره او د سينې هغه ځای ته ويل کيږي چې امېل پر راځړيږي ، له " القاموس " څخه .

(۲) زيلعي په " شرح الکنـز ٥-۲۸۷ " کې ويلي دي : څکه الله ﷻ ويلي دي : ﴿ وَ طَعَامُ الَّذِيْنَ أُوْتُوْا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ ﴾ (او د هغو کسانو خوړک چې کتاب ورکړل سوی دی تاسې ته حلال دی) ، له دغه څخه د دوی ذبيحه مراد ده څکه عام طعام چې ذبح کړل سوی نه وي د هر کافر روادی ، په هغه کې دا شرط نه دی چې له اهل کتاب څخه به وي ، په کتابي کې فرق نسته که ذمي وي که حربي ، په هغه کې دا شرط دی چې د الله ﷻ پرته د بل چا نوم به نه پر يادېږي نو که کتابي د مسيح يا عزير نوم ياد کړی نه روا کيږي څکه الله ﷻ ويلي دي : ﴿ وَ مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ ﴾ (او هغه چې د الله ﷻ څخه پرته د بل چا نوم پر ياد سوی وي) ، په دغه مسئله کې هغه د مسلمان په شان دی څکه که مسلمان د الله ﷻ څخه پرته د بل چا نوم پر ياد کړي نه روا کيږي اه .

(۳) حلقوم د تنفس نالی ته ويل کيږي ، د " الهداية " مصنف له " الجامع الصغير " څخه نقل کړی دی د حلق په ټولو برخو کې ذبح کول روا دي منځ ئې ، لوړه برخه ئې او لاندې برخه ئې ، په هغه کې دليل د نبي ﷺ دا قول دی (ذکات د لبه او زنو په منځ کې دی) او څکه چې نالې په دغه ځای کې سره يو ځای سوي دي يعنې د خوړک نالی او تنفس نالی او رګونه نو په دغه ځای کې ذبح کولو سره په پوره توګه وينې بهيږي نو د ټولو حکم برابر دی اه .

(٤) مرئ د خوړک او چښنګ نالی ته ويل کيږي .

(٥) غاړې رګونه کوم چې وينه په کښې بهيږي .

ج : که ئې په قصد سره پرېښول ذبیحه ئې مړه ګڼل کیږي نو نه خوړل کیږي او که ئې په هېره پرېښول خوړل کیږي .
س : ذبح کول یوازي په چاړه سره تاکل سوي دي ؟
ج : یوازي په چاړه سره ذبح کول نه دي تاکل سوي که په نل یا تېره ډبره یا یو بل داسي شي سره ذبح وکړي چي وینه توېوي ذبح ئې صحیح کیږي بېله ولاړ غاښ او ولاړ نوک .
س : که ئې مېږه یا غوا یا اوښه ذبح کړل او د هغه په نس کي ئې مړ چچي پیدا کړی هغه چچی څه حکم لري ؟
ج : د غه مړ چیچی نه خوړل کیږي که ئې پیدا اینبت مکمل سوی وي که نه . که ژوندی راووتی ذبح کیږي او خوړل کیږي او که له ذبح څخه مخکي مړ سو نه خوړل کیږي .
س : که ئې د څټ له خوا پسه ذبح کړی خورك ئې روا دی ؟
ج : که هغه تر هغه وخت پوري ژوندی وو تر څو چي رګونه ئې وریږي کړل خورك ئې روا دی مګر دغه کار مکروه دی او که د رګو د پرې کولو مخکي مړ سو هغه مړه ګڼل کیږي نه خوړل کیږي .
س : هغه ښکار چي کورنی سوی وي د هغه ذبح څه حکم لري او هغه کورنی حیوان چي وحشي سوی وي د هغه ذبح څه حکم لري ؟
ج : کوم ښکار چي کورنی سي د هغه ذکات ذبح کول دي او هغه کورنی حیوان چي وحشي سي د هغه ذکات ټپي کول دي او دغه ته د مجبوری ذبح ویل کیږي .
س : د مسلمان او کتابي پرته د بل چا ذبیحه څه حکم لري ؟
ج : د بل چا ذبیحه نه خوړل کیږي ، که مرتد یا مجوسي یا وثني ذبح وکړل د هغه ذبح سوي حیوان خورك نه دی روا که څه هم د ذبح کولو په وخت کي د الله ﷻ نوم یاد کړي .
س : د محرم ذبیحه څه حکم لري ؟
ج : که محرم یو ښکار ذبح کړي هغه مړه ګڼل کیږي خورك ئې نه دی روا . په کتاب الحج کي مو دا خبره ذکر کړې ده او که ئې غوا یا پسه یا چرګه ذبح کړل یا ئې اوښه نحر کړل د هغو ټولو خورك روا دی .

متفرقي مسئلې

۱ : دا مستحب دی چي ذبح کونکی خپله چاړه تېره کړي .

۲ : مغزو ته چاړه رسول يا سر پرې کول مکروه دي او هغه ذبيحه خوړل کيږي .

۳ : په اوښانو کي مستحب نحر (سينه پرې کول) دی او که ئې ذبح کړی روا دی او مکروه دی او په غواوواوپسو کي مستحب ذبح ده که ئې نحر کړی روادی اومکروه دی .

٤ : که ئې يو داسي حيوان چي غوښي ئې نه خوړل کېدی په شرعي ذکات سره ذبح کړی پوست او غوښي ئې پاکيږي که څه هم خورك ئې نه دی روا ، د انسان او سرکوزي پوست نه پاکيږي ځکه په هغو کي دباغت (پوست وچول) او ذکات کار نه کوي .

هغه حيوان چي خورك ئې روا دی او هغه چي نه دی روا

س : داسي حيوان سته چي خورك ئې نه وي روا ؟

ج : هغه ځيرونکی حيوان چي داړه ولري خورك ئې نه دی روا نه هغه مرغه چي منګولي ولري ، نه د کورني خرو او غاترو خورك روا دی څرنګه چي د کوږ ، سمسارې او تږلو حشراتو خورك نه دی روا .

س : ابوحنيفه رح په کارګه کي څه وايي ؟

ج : د کښت د کارګه خورك پروا نه لري ، د ابلق کارګه خورك نه دی روا کوم چي مرداري خوري .

س : د آس په غوښو کي هغه څه وايي ؟

ج : د هغه غوښي حلالي دي مګر له دې کبله مکروه دي چي د جهاد آله کمه نه سي .

س : د سوی د غوښو د خورك څه حکم دی ؟

ج : د هغه خورك پروا نه لري .

س : د ملخ خورك روا دی ؟

ج : د هغه خورك روا دی او هغه ذکات نه لري .

س : د درياب حيوان د حلالوالي او حراموالي په حيث څه حکم لري ؟

ج : د اوبو له حيوان څخه يوازي د ماهي خورك روا دی ، هغه ماهی چي خپله مړ سوی وي او د اوبو پر سر راپورته سوی وي مکروه دی ، د جريث (۱) او مارماهي (يو قسم ماهی دی) خورك پروا نه لري .

(۱) هغه يو قسم ماهی دی ، په قاموس کي ئې ويلي دي : هغه د سکيت پر وزن دی ماهي ته ويل کيږي .

د اضحیې کتاب

س: په اسلام کي اضحیه څه حکم لري ؟

ج: هغه پر هر هغه چا واجب ده چي مسلمان ازاد عاقل خان (۱) او مقیم (هغه څوك چي مسافر نه وي) وي ، پر مريي ، فقير او مسافر (۲) نه ده واجب .

س: د دغه واجب د اداء کولو لپاره به څه شی ذبح کوي ؟

ج: په اختري کي يو پسه د يوه سړي له خوا كفايت کوي ، که اوه کسان په يوه اوښه يا غوا کي سره شريکان سي د هر يوه د اختري لپاره كفايت کوي په دې شرط چي د هر يوه برخه به تر اومې نه وي کمه او هر يو به د ثواب نيت لري ، که په هغوی کي يوه د غوښو نيت درلودی د يوه لپاره هم كفايت نه کوي .

س: د اختري وخت له کوم وخت څخه شروع کیږي ؟

ج: د اختري وخت د لوی اختر د دوهمو سپېدو له راختلو څخه شروع کيږي مګر د ښار خلګو لره د اختر د لمانځه مخکي د هغه ذبح کول نه دي روا .

س: که يو چا د اختر د لمانځه مخکي ذبح کړی څه به کوي ؟

ج: اختری به بيرته راګرځوي .

س: د کلي خلګ کوم چي د اختر لمونځ نه کوي که د سپېدو له راختلو څخه وروسته اختری ذبح کړي ، ورته روا دی ؟

ج: هو روا دی .

س: د اختري لپاره يوازي داختر ورځ تاکل سوې ده که ئې په وخت کي پيراخي سته ؟

ج: د اختري ذبح کول د لوی اختر په لمړۍ ورځ او دوو ورځو وروستو کي روا دي . کله چي د ذوالحجې د دوولسمي ورځي لمر ولوېږي وخت ئې وزي ، په دغو ورځو کي تر ټولو افضله ورځ لمړۍ ورځ ده بيا ئې د منځ ورځ ده وروسته ئې آخره ورځ ده .

س: که ئې د دغو ورځو په يوه شپه کي ذبح وکړل روا ده ؟

ج: هو دا رواده مګر مکروه ده ځکه کېدای سي په تاريکه کي ځيني رګونه پرې نه سي .

س: هغه پسونه بيان کړئ کوم چي په اختري کي نه صحيح کيږي .

ج : ړنده به نه ذبح کوي او په یوه سترګه ړنده او ګډه چي د ذبح ځای ته نه سي تلای او ډنګره چي په هډوکي کي ماغزه نه لري . او نه به هغه ذبح کوي چي غوږ یا لکۍ ئې پرې وي نه هغه چي د غوږ یا لکۍ زیاته برخه ئې پرې وي .

س : که ئې د غوږ یا لکۍ زیاته برخه (۱) پاته وي هغه څه حکم لري ؟

ج : د هغې په اختري کي ذبح کول روا دي .

س : په جماء (۲) (هغه چي ښکر نه لري) ، خصي سوې ، ثولاء (لېونۍ) او جرباء (هغه چي پر پوست ئې دانې راخېژي) سره اختري کول روا دي ؟

ج : د دغو درو ذبح کول په اختري کي روا دي .

س : د کوم حیوان ذبح په اختري کي روا ده ؟

ج : هغه حیوانان چي په ذبح کولو سره ئې اختری صحیح کېږي اوښان ، غواوي او پسونه دي د هغو پرته نور نه دي روا ، په دغو ټولو کي ثني (۳) یا له هغه څخه غټ صحیح کېږي بېله ضان (٤) (هغه پسه چي لم ولري) څخه په هغه کي جذع (هغه پسه چي

د ص ٤٧٧ پاته حاشیې (۱) له دې څخه مراد هغه خاني ده چي په هغه سره د فطر صدقه واجبېږي او هغه مو د زکات په کتاب کي ذکر کړل .

(۲) قدوري ذکر کړي دي : چي اختری له خپل ځان څخه او کوچني اولاد څخه وي او حنفي فقهاوو په دغه قول سره عمل نه دی کړی ، په " الدر المختار " کي ئې ویلي دي : اختری پر هر هغه چا واجب دی چي ازاد مسلمان مقیم د فطر د صدقې په قدر خان وي له خپل ځان څخه نه د خپل کوچني اولاد څخه . د فطر صدقه له دغه څخه مختلف ده اه . ابن عابدین په خپله " حاشیه " کي ویلي دي : په " خانیه " کي ئې ویلي دي : ظاهر روایت دا دی چي هغه مستحب ده واجب نه ده لکه دفطر صدقه اوحسن له ابوحنیفه رح څخه روایت کړی دی چي په کار ده چي انسان له خپل اولاد او د اولاد د اولاد چي پلار نه لري له خوا اختری وکړي او فتوی پر ظاهر روایت ده (٥-٢٠٠) .

(۱) هغه یوه چي د سترګي د روښنایي زیاته برخه ئې تللې وي نه ده روا ، په " الدر المختار " کي ئې ویلي دي : دا د ونبو په نژدې کولو سره معلومېږي او په " الهدایة " کي ئې د نژدې کولوطریقه ذکر کړې ده هغه وګوره

(۲) جماء هغه ده چي ښکر نه لري او ثولاء لېونۍ ته ویل کېږي او جرباء د اجرب مونث دی هغه چي په پوست کي ئې جرب یعني دانې وي .

(۳) د ث[illegible]هه مو د کتاب الحج په باب الهدی کي ذکر کړل .

شپږ میاشتي ئې پوره سوي وي) هم صحیح کیږي د پسو درې سره قسمونه صحیح کیږي.

س: د اختري د غوښو خوړل او ساتل روا دي ؟

ج: د اختري د غوښو خوړل او خانانو او فقیرانو ته ورکول او ساتل روا دي . دا مستحب ده چي صدقه تر دریمي برخي کمه نه وي .

س: د اختري پوست به څه په کوي ؟

ج: یا به ئې خیراتوي یا به یو داسي آله ځني جوړوي چي په کور کي ئې استعمالوي لکه غلبېل او ژی او داسي نور .

س: خپل اختری به خپله ذبح کوي یا بل څوك وکیلولای سي ؟

ج: افضل دا دی چي خپله ئې ذبح کړي که ئې ذبح کول زده وه ، که دده په امر سره بل چا ذبح کړی هم روا دی .

س: که د یو چا اختری یو کتابي دده په امر سره ذبح کړی څه حکم لري ؟

ج: په هغه سره ئې واجب اداء کیږي مگر مکروه دی .

س: که دوو کسانو پسونه رانیول هر یوه د خپل اختري لپاره یو پسه رانیوی مگر په ذبح کولو کي خطا وتل هر یوه د هغه بل اختری ذبح کړی اختریان ئې صحیح کیږي ؟

ج: هو د هریوه اختری صحیح کیږي او تاوان نه پر لازمیږي .

د ص ٤٧٨ پاته برخه : (٤) ضان هغه ته ویل کیږي چي لم ولري ، جذع له ضان او شاه (پسه یا بزه) او معز(بزه) څخه هغه دی چي شپږ میاشتي ئې پوره سوي وي ، په اختري کي یوازي د ضان جذع صحیح کیږي په دې شرط چي د ثني سره گډ سي فرق ئې نه سره کیږي ، که ئې جسم کوچنی وو تر څو چي کال ئې نه وي پوره سوی او په دوهم کال کي نه وي داخل سوی نه صحیح کیږي ، " الدر المختار " او " رد المختار ٥-٢٠٤ " وگوره .

د ایمان (قسمو) او نذرو کتاب

س : ایمان څه ته وایي ؟

ج : هغه د یمین جمع ده او په عربي ژبه کي لاس او قوت دواړو ته ویل کیږي او د فقه په اصطلاح کي د خبر له دوو طرفو څخه یو طرف په هغه شي سره چي څوك قسم په اخلي ټینګولو ته ویل کیږي ، قسم ته ځکه یمین ویل کیږي چي قسم اخیستونکی په قسم سره د یو کار پر کولو یا پرهېښولو ځان قوي کوي (۱) .

س : د یمین قسمونه بیان کړئ .

ج : د قسم درې قسمونه دي : اول یمین غموس دوهم یمین منعقده دریم یمین لغو :

یمین غموس : هغه قسم دی چي پر تېر کار وي او په هغه کي قصدا درواغ وایي لکه چيووایي : په الله مي قسم چي نه مي دی کړی او هغه کار ئې کړی وي ، په دغه قسم کي لویه ګناه سته ، هغه ته ځکه غموس ویل کیږي چي غموس غټه کولو ته ویل کیږي او دغه قسم انسان په ګناه کي بیا په اور کي غټه کوي ، نبي ﷺ ویلي دي : (لویي ګناهوي د الله سره شریك نیول او د مور او پلار ازارول او د انسان وژل او یمین غموس دي) (۲)، په هغه کي پرقسم خوړونکي کفارت نه واجبیږي بلکه توبه اوبخښنه غوښتنل پرلازم دي، یمین منعقده : هغه قسم دی چي د مستقبل پر یو کار قسم واخلي چي کوي ئې یا ئې نه کوي . کله چي قسم پر واوړي کفارت پر لازمیږي . یمین لغو : دا دی چي پر یو تېر کار قسم واخلي ، دده ګمان دا وي چي دغه رنګه دی مګر هغه داسي نه وي ، په دغه قسم کي الله ته امید لرو چي قسم اخیستونکی نه په نیسي (۳) .

---

(۱) د " الکنـز " مصنف دغه تعریف غوره کړی دی د البحر " مصنف ویلي دي په "الکافي" کي ئې د هغه داسي تعریف کړی دی چي د هغه بر(کوم کار چي انسان ئې د کولو یا نه کولو عزم لري هغه سرته رسول) چي په مستقبل کي ئې یو څوك په نفي یا اثبات سره اراده لري ټینګولو ته ویل کیږي ، او په " تبیین " کي ئې داسي تعریف کړی دی : یو تړون دی چي د قسم اخیستونکي د کولو یا نه کولو عزم په ټینګیږي اه .

(۲) امام بخاري ئې په کتاب الایمان ، باب الیمین الغموس کي روایت کړی دی .

(۳) په هغه کي دلیل د الله ﷻ دغه قول دی ﴿ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِيْ أَيْمَانِكُمْ ﴾ (په لغوقسم سره الله تاسي نه نیسي) مګر په امید پوري ئې ځکه وتړی چي د هغه په تفسیر کي اختلاف سته ، " الهدایه " .

تاسي ذکر کړل چي په يمين منعقده کي که قسم پر واوښتی کفارت لازميږي .
س: ... څخه دا پوښتنه کوو چي کفارت په هغه صورت کي واجبيږي چي په قصد سره قسم واړوي که په ټولو صورتو کي پر لازميږي .
ج: د قسم اوښتلو په ټولو صورتو کي کفارت پر لازميږي که هغه کار چي ده قسم پر ايښی وي په قصد سره وکړي که په هېره سره که په مجبوري سره .
س: که يو سړي په خپله اراده سره قسم نه اخيستی مګر پر قسم مجبور کړل سو او قسم يې واخيستی ، وروسته قسم پر واوښتی څخه حکم ئې دی ؟
ج: په دغه صورت کي هم قسم پر اوړي .

هغه شيان چي قسم په تړل کيږي او هغه چي نه په تړل کيږي

س: د قسم صورت بيان کړئ په کوم سره چي يو مسلمان سړی قسم اخيستونکی ګڼل کيږي .
ج: که يو څوك په الله ﷻ سره قسم واخلي يا د هغه له نومو څخه په يو نوم سره لکه رحمن او رحيم يا د هغه له صفتو څخه په يو صفت سره لکه د الله ﷻ عزت او جلال او لويي (۱) قسم اخيستونکی ګڼل کيږي بېله دې قول څخه چي ووايي د الله په علم مي قسم ځکه هغه قسم نه ګڼل کيږي (۲) .
س: که يو چا د قسم لپاره وويل د الله په غضب (غضب) مي قسم څه حکم لري ؟
ج: په هغه سره قسم خوړونکی نه ګڼل کيږي (۳) .
س: که يو چا وويل : که مي دا کار وکړی د الله غضب دي راباندي وي په دغه سره قسم خوړونکی ګڼل کيږي ؟

---

(۱) ځکه په عادت کي په هغه سره قسم اخيستل کيږي او يمين يعني قوت په دغه سره حاصليږي ځکه هغه الله ﷻ او د هغه صفتونه لوی ګڼي نو د هغو ذکر کول د يو کار لپاره باعث او مانع ګرځېدلای سي .
(۲) ځکه په عادت کي په هغه سره قسم نه اخيستل کيږي او له دې کبله چي له علم څخه معلوم اراده کيږي داسي ويل کيږي : ای الله ستا علم په موږ کي راوبخښه يعني ستا معلوم ، له " الهداية " څخه .
(۳) دغه رنګه که ئې وويل د الله په رحمت مي قسم قسم اخيستونکی نه ګڼل کيږي ځکه په عادت کي په هغه سره قسم نه اخيستل کيږي او له دې کبله چي له رحمت څخه کله کله د هغه اثر مراديږي يعني باران او جنت او له غضب او سخط څخه سزا مراديږي ، له " الهدايه " څخه .

ج په دغه صورت کي (١) قسم خوړونکی نه ګڼل کيږي .

س په الله ﷻ او د هغه په نومو او صفتو سره څرنګه قسم اخيستل کيږي ؟

ج کله چي د قسم حروف پر هغو داخل سي قسم جوړيږي .

س : د قسم کوم حروف دي او څو دي ؟

ج : هغه درې دي واو لکه چي څوك ووايي والله ، باء لکه چي ووايي بالله ، تاء لکه چي ووايي تالله ، کله کله د قسم حرف پټ وي لکه چي څوك ووايي : الله لافعلن كذا (٢) (الله مي قسم چي دغه کار به کوم) .

س که يو چا وويل د الله په حق مي قسم په دغه سره قسم اخيستونکی ګڼل کيږي ؟

ج ابوحنيفه رح ويلي دي په دغه لفظ (٣) سره قسم خوړونکی نه ګڼل کيږي .

س . هغه افعال بيان کړئ چي قسم په اخيستل کيږي .

ج که يو چا وويل : اقسم (قسم خورم) يا اقسم بالله (په الله سره قسم خورم) يا احلف (قسم خورم) يا احلف بالله (په الله سره قسم خورم) يا اشهد (شاهدي ورکوم) يا اشهد بالله (په الله سره شاهدي ورکوم) هغه قسم خوړونکی ګڼل کيږي دغه رنګه که ئې وويل د الله په عهد او ميثاق (تړون) سره مي قسم .

س که ئې په الله سره قسم واخيستی او ان شاء الله ئې ورسره وويل قسم ګڼل کيږي ؟

ج که ئې د قسم سره متصل ان شاء الله وويل وروسته ئې هغه کار وکړی په کوم سره چي ئې قسم اخيستی وو قسم نه پر اوري (٤) .

س که يو چا وويل : که مي داسي وکړل زه يهودي يم يا نصراني يم يا مجوسي يم يا

---

(١) خکه دا خان ته ښرا ده ، دا په کوم شرط پوري اړه نه لري او له دې کبله چي په عادت کي په دغه سرا قسم نه اخيستل کيږي . له : الهدايه · خخه .

(٢) خکه عرب د لنډوالي لپاره حرفونه حذفوي ، وروسته ځيني علماوو ويلي دي د حرف جر د لېرې کولو نه کبله مجروره دی او ځينو ويلي دي خکه مجروره دی چي کسره پر حذف سوي حرف ښوونه وکړي له : الهدايه · خخه

(٣) دغه د محمد رح قول دی او د ابويوسف رح يو قول دی . له ابويوسف رح خخه بل قول نقل سوی دی چي قسم ګڼل کيږي علماوو ويلي دي که ئې داسي وويل : والحق قسم دی او که ئې وحقا وويل قسم نه دی خکه الحق د الله ﷻ له نومو خخه دی او حق چي نکره وي په هغه سره مقصد د وعدې ټينګول دي له : الهدايه · خخه

شرك يم دغه قسم ګڼل کيږي ؟
هو دا قسم دی او که قسم پر واوښتی کفارت پر لازميږي .
که يو چا وويل : که مي داسي وکړل زنا کونکی يم يا شراب څښونکی يم يا ګټه
خوړونکی يم په دغه سره قسم اخيستونکی ګڼل کيږي ؟
په دغو الفاظو سره قسم اخيستونکی نه ګڼل کيږي .
که ئې د الله ﷻ پرته په بل شي قسم واخستی لکه نبي اوقران او کعبه څه حکم لري ؟
که ئې د الله ﷻ پرته په بل شي قسم واخستی قسم اخيستونکی نه ګڼل کيږي او د الله
ﷻ پرته په بل چا سره قسم اخيستل شرك دی (۱).
که يو سړي پر يو ګناه قسم واخستی د مثال په توګه داسي ئې وويل : په الله ﷻ مي
قسم چي لمونځ نه کوم يا د خپل پلار سره خبري نه کوم يا ئې وويل حتما فلانکی وژنم
به کوي ؟
پر ګناه عزم کول ګناه ده او پر ګناه قسم اخيستل سخته ګناه ده او څوك چي په هغه
قسم واخلي د هغه لپاره دا نه ده روا چي د الله نافرماني وکړي بلکه پر هغه لازمه ده

ص ۴۸۲ پاته برخه : (٤) څکه ابن عمر له رسول الله ﷺ څخه روايت کړی دی که يو چا قسم واخيستی
سته ئې ان شاء الله وويل قسم نه پر اوړي ، ابوداود او ترمذي ئې روايت کړی دی .
نبي ﷺ ويلي دي څوك چي د الله پرته په بل چا سره قسم واخلي هغه شرك وکړی ، ترمذي ئې روايت
دی ، ابوداود له ابوهريره ؓ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ وويل : په خپلو پلرو او مندو
قسم مه اخلئ او په شريکانو سره قسم مه اخلئ يوازي په الله ﷻ سره قسم اخلئ او يوازي په داسي
قسم واخلئ چي تاسي رښتيني ياست . د " الهدايې " مصنف د نبي او قران د قسم په هکله ويلي
هغه قسم نه دی او که ئې داسي وويل : زه څني بېزاره يم قسم دی څکه له هغو څخه بېزاري کفر
شيخ ابن الهمام په " فتح القدير " کي ويلي دي : وروسته پټه نه ده چي په قران سره اوس په
کي خلك قسم اخلي او هغه قسم دی لکه درو امامانو چي ويلي دي (تر څو چي بيا ئې ويلي دي
هغه قسم چي څوك ووايي ستا د سر په ژوند مي قسم دی يا د پاچا په سر مي قسم دی که د هغه په
دا عقيده ولري چي له قسم اوښتلو څخه ځان ژغورل په هغه واجب دي کافر کيږي او په " تتمه
ئې " کي ئې ذکر کړي دي چي علي الرازي ويلي دي : څوك چي ووايي په خپل ژوند مي قسم يا
په ژوند مي قسم زه د هغه پر کفر ببربږم ، که دا خبره نه وای چي عام خلك ئې وايي او په پوهيږي
به دا ويلي وای چي شرك دی د " الفتح " خبره ختم سول . زه وايم داخبره چي ما به ويلي وای چي
دی يعني شرك اكبر دی څکه په دې كي خو شك نسته چي شرك اصغر دی

چي پر خپل ځان قسم واړوي او د قسم كفارت وركي (١) .

س : كه يو سړي پر خپل ځان يو داسي شی حرام كړی چي دی ئې مالك وو هغه پر حراميږي ؟

ج : هغه نه پر حراميږي مگر كه ئې حلال وګڼي د خپل قسم كفارت به وركوي (٢) .

س : كه يو چا وويل هر حلال شی پر ما حرام دی له هغه څخه څه مطلب اخيستل كيږي ؟

ج : له هغه څخه خورك او څښنګ اخيستل كيږي ځكه په عادت كي له هغه څخه دغه مراديږي مگر كه ئې د بل شي نيت كړی وو هغه مراديږي (٣) .

س : كه كافر قسم واخيستی وروسته دكفر په حالت كي يا د اسلام په حالت كي قسم پر واوښتی كفارت پر واجبيږي ؟

ج : د هغه قسم په سپېڅلي شريعت كي نه دی معتبر نو كه قسم پر واوښتی كوم شی نه پر لازميږي (٤) .

---

(١) ځكه عوف بن مالك رح له خپل پلار څخه روايت كړی دی چي ما وويل : يا رسول الله كه زما يو د تره زوی وي زه ورځم غوښتنه ځني كوم او هغه ما ته شی نه راكوي او قرابت نه راسره پالي ، وروسته ما ته محتاجه سي ماته راځي او زما څخه غوښتنه كوي او ما دا قسم اخيستی وي چي زه به نه شی وركوم نه قرابت ورسره پالم ، نبي ﷺ زه په دې سره امر كړم چي كوم كار ښه وي هغه وكړم او د قسم كفارت وركړم . نسائي او ابن ماجه ئې روايت كړی دی څرنګه چي په " مشكاة " كي ذكر سوي دي اومسلم له ابوهريرة ﷺ څخه روايت كړی دی چي رسول الله ﷺ وويل : څوك چي يو قسم واخلي او يو بل كار تر هغه ښه ووينې د خپل قسم كفارت دي وركي او هغه كار دي وكړي ، د بخاري په يوه روايت كي له عبد الرحمن بن سمره څخه په مرفوع توګه ذكر سوي دي كله چي يو قسم واخلې او بل شی له هغه څخه ښه ووينې د خپل قسم كفارت وركه او هغه ښه كار وكړه .

(٢) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : وروسته كه كوم كار چي حرام كړی ئې وو لږ يا ډېر ئې وكړی قسم پر اوړي او كفارت پر اوړي ، د روا بللو څخه دغه مراد دی ځكه چي يو شی حرام سي د هغه ټوله اجزاء حراميږي اه .

(٣) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : ښځه په هغه كي يوازي هغه وخت داخليږي چي نيت ئې كړی وي ځكه عامه معنی نه ده مراد او كه د هغه نيت وكړی ايلاء ګڼل كيږي ، قسم له خورك اوڅښنګ څخه بلې معنی ته نه ګرځي ، دغه د ظاهر روايت فتوی ده ، زموږ مشايخو ويلي دي ببله نيت څخه طلاق واقع كيږي ځكه ددغه معنی لپاره استعماليږي او پر دغه فتوی ده اه او بزدوي په هغه كي خبري لري چي ابن الهمام په " فتح القدير " كي نقل كړي دي كه غواړې هغه وګوره .

س: کله یو سړی پر داسي شي قسم اخلي چي کولای ئې نه سي لکه چي ووایي اسمان ته به خیژي یا به دغه ډبره سره زر کوي قسم ئې تړل کیږي او د قسم تر تړلو وروسته کوم وخت پر هغه د قسم اوښتلو حکم کیږي ؟

ج: په دغه صورت کي ئې قسم تړل کیږي او تر قسم وروسته فورا قسم پر اوړي .

س: که یو چا قسم واخیستی چي بصرې ته به ځي او ورنه غلی تر څو چي مړ سو څه وخت د قسم اوښتلو حکم پر کیږي ؟

ج: د ژوند په اخري لمحه کي د هغه په قسم اوښتلو سره حکم کیږي (۱) .

په خبرو کي قسم

س: که یو چا قسم واخستی چي خبري به نه کوي او په لمانځه کي ئې قران ووایـــه پـــه

د ص ٤٨٤ پاته برخه (٤): ځکه هغه دقسم اهل نه دی ځکه هغه دالله ﷻ د تعظیم لپاره تړل کیږي اود کفرسره هغه دالله ﷻ تعظیم کونکی نه سي کېدلای نه دکفارت اهل دی ځکه هغه عبادت دی "الهدایه" .

(۱) ځکه له هغه څخه مخکي دا ممکنه ده چي قسم نه پر واوړي ، له " الجوهره " څخه ، هم دغه فرق دی ددغې مسئلې او د مخکنۍ مسئلې په منځ کي یعني چي سړی قسم واخلي چي اسمان ته خیژي یا ډبره په سرو زرو بدلوي ځکه هلته دا ممکنه نه ده چي د قسم له اوښتلو څخه خلاص سي نو فورا قسم پر اوړي د " الدرالمختار " مصنف ویلي دي : په هغه قسم کي چي ووایي اسمان ته خیژي یا دغه ډبره په سرو زرو بدلوي فورا قسم پر اوړي ځکه دا ممکنه ده چي د قسم له اوښتلو څخه خلاص سي بیا قسم پر اوړي ځکه په عادت کي خلګ له هغه څه عاجزه دي اه . د " الجوهرې " مصنف له " الینابیع " څخه نقل کړی دی چي که یو چا د خپلي ښځي په طلاق سره قسم واخستی او داسي ئې وویل که زه بصرې ته نه ولاړم هغه طلاقه ده هغې ته نه ولاړی تر څو چي مړ سو ، که ئې د هغې سره جماع نه وه کړې میراث هغې لره نسته او نه پر هغې عده سته او که ئې جماع ورسره کړې وه میراث ورلره سته او د تښتېدونکي په شان اوږده عده پر سته او که دا مړه سول طلاقه نه ګڼل کیږي ځکه هغه شرط ددې په مرګ سره نامکنه سوی نه دی اه . دغه مسئله پر دې بنسټ ده چي د خپل ژوند په اخري لمحه کي پر هغه قسم اوړي پوه سه . په (البحر الرائق ٤-٣٣٨) په قسم کي د تلو خصوصیت نسته بلکه هر کار چي په مستقبل کي د هغه پر کولو قسم واخلي او په عامه توګه ئې پریږدي په یو وخت پوري ئې ونه تاکي تر څوچي د بر څخه ناامیدي نه وي راغلې قسم نه پر اوړي (تر څو چي بیا ئې ویلي دي) د عام قسم تکی ئې ځکه ووایه چي که ئې داسي وویل : که زه نن دغه کور ته ننه نه وتلم دده مریی به ازاد وي قسم اوښتل په اخري وخت پوري تړلی دی نو که قسم اخیستونکی د وخت تر وتلو مخکي مړ سو او کور ته نه سو داخل قسم نه پر اوړي او که هغه ته د داخلېدو مخکي وخت ووتی اودی ژوندی وو مریی ئې ازادیږي ، دغه رنګه پــــه " غایه البیان " کي ذکر سوي دي .

هغه سره قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي .

س : كه يو چا قسم واخستى چي د فلانكي سره يو حين يا يوه زمانه يا الحين يا الزمان خبري نه كوي له هغه څخه څومره زمانه مراديږي ؟

ج : له هغه څخه شپږ مياشتي مراديږي.(١) .

س : كه يو چا قسم واخستى چي يو دهر به خبري نه ورسره كوي له هغه څخه څومره وخت مراديږي ؟

ج : هغه د صاحبينورح په نزد شپږ مياشتي دى او ابوحنيفه رح په هغه كي كومه فيصله نه ده كړې او هغه ويلي دي : زه نه يم خبر چي دهر څه ته وايي (٢) ؟

س : كه يو چا قسم واخستى چي (لايكلمه أياما) (يو څو ورځي خبري نه ورسره كوم) له هغه څخه څو ورځي مراديږي ؟

ج : له هغه څخه درې ورځي (٢) مراديږي دا هغه وخت كه نكره وو او كه ئې معرفه ذكر كړې اوداسي ئې وويل (لايكلمه الايام) د ابو حنيفه رح په نزد له هغه څخه لس ورځي اخيستل كيږي او د صاحبينو رح په نزد له هغه څخه د هفتې ورځي اخيستل كيږي .

س : كه يو چا قسم واخستى چي څو مياشتي خبري نه ورسره كوي زموږ درې امامان په هغه كي څه وايي ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد له هغه څخه لس مياشتي اخيستل كيږي او صاحبينو رح ويلي دي له هغه څه دوولس مياشتي اخيستل كيږي .

س : كه يو چا قسم واخستى چي د فلانكي سره خبري نه كوي د هغه سره په داسي حالت

---

(١) داكه ئې نيت نه وو كړى كه ئې د يو شي نيت كړى وو هغه څني مراديږي . له " الجوهره " څخه .

(٢) په نكره لفظ كي دغه اختلاف صحيح دى او كله چي په الف او لام سره معرفه سوى وي له هغه څخه

په عادت كي ابد مراديږي . په " الهدايه " كي ئې ذكر كړي دي ، د " الجوهره النيره " مصنف ويلي دي :

كه په الف او لام سره معرفه سوى وي له هغه څخه ابد مراد دى د دوى په مشهور قول كي يعني دده تر وله

عمر . له ابوحنيفه رح څخه روايت سوى دى چي الدهر او دهر دواړه برابر دي تفسير ئې معلوم نه دى اه .

(٢) څكه د جمع لفظ دى او نكره ذكر سوى دى نو له هغه څخه د جمع كم مقدار اخيستل كيږي او هغه

درې دي . له " الهدايه " څخه .

کې خبرې وکړي چې خبرې ئې اوریدلې مګر بېده وو په هغه کې تاسې څه وایاست ؟
ج : په دغه صورت کې قسم پر اوړي .
س : که یو چا قسم واخستی چې د فلانکي سره دده د اجازې پرته خبرې نه کوم ، هغه اجازه ورته وکړل مګر قسم اخیستونکی د هغه په اجازه نه وو خبر خبرې ئې ورسره وکړې په دغه سره قسم پر اوړي ؟
ج : هو قسم پر اوړي .
س : که یو چا قسم واخستی چې د دغه طیلسان (یو قسم ټوپی ده) د څښتن سره خبرې نه کوم ، هغه سړي طیلسان خرڅ کړی وروسته قسم اخیستونکي خبرې ورسره وکړې په دغه صورت کې قسم پر اوړي ؟
ج : هو قسم پر اوړي .
س : که یو چا قسم واخیستی چې ددغه ځوان سره خبرې نه کوي ، هغه زوړ سو وروسته ئې خبرې ورسره وکړې په هغه سره قسم پر اوړي ؟
ج : هو قسم پر اوړي .
س : که یو چا قسم واخیستی چې د فلانکي د مایني سره خبرې نه کوي ، هغه طلاقه کړل وروسته دغه قسم اخیستونکي خبرې ورسره وکړې قسم پراوړي ؟
ج : قسم نه پر اوړي .
س : که یو چا قسم واخستی چې د فلانکي د مریي سره خبرې نه کوي یا د فلانکي کور ته نه داخلیږي ، هغه مریی یا کور خرڅ کړی وروسته ئې د مریي سره خبرې وکړې یا هغه کور ته داخل سو قسم پر اوړي ؟
ج : قسم نه پر اوړي .

په خوړك او څښنګ کې قسم

س : که یو چا قسم واخیستی چې غداء (ناشته) به نه کوي یا به عشاء (د ماښام ډوډۍ) نه خوري یا به سحور (پیشلمی) نه کوي د هغه څخه کوم شی مرادیږي ؟
ج : غداء له سپېدو څخه تر ماپښین پورې خوړك ته وایي او عشاء له ماپښین څخه تر نیمې شپې پورې خوړك ته ویل کیږي او سحور له نیمې شپې څخه تر سپېدو پورې خوړك ته ویل کیږي (١) ، د خپل سوال جواب له دغه څخه راوباسه .
س : که یو چا قسم واخیستی چې ډوډۍ به نه خوري له هغه څخه کومه ډوډۍ مرادیږي؟

ج : له هغه څخه هغه ډوډۍ مراديږي چې دده د ښار خلګ (۱) ئې په عادت کې خوري که ئې په عراق کې د قطائف ډوډۍ وخوړل يا ئې د ورجو ډوډۍ وخوړل قسم نه پراوړي (۲).

س : که يو چا قسم واخيستی چې دغه اوره به نه خوري ، د هغه ډوډۍ ئې وخوړل په هغه سره قسم پر اوړي ؟

ج : په دغه صورت کې د ابوحنيفه رح په نزد قسم نه پر اوړي بلکه که ئې وژوول او وئې خوړل قسم پر اوړي (۳) .

س : که ئې داسې قسم واخستی چې ددغه اوړو څخه به خوړك نه کوي ، دهغه ډوډۍ ئې و خوړل قسم پر اوړي ؟

ج : هو په دغه صورت کې قسم پر اوړي (٤) .

س : که ئې تر قسم وروسته دغسې وخوړل قسم نه پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي .

س : که يو چا قسم واخيستی چې پوخ شی به نه خوري ، دال يا نوري پخې دانې ئې وخوړلې څه حکم لري ؟

د ص ٤٨٧ پاته حاشيه : (۱) دا ټوله د هغو عادتو پر بنسټ چې په تيرو زمانو کې په عربو کې وه ، اوس د دوی د اوسني عادت پر بنسټ فيصله کيږي دغه رنګه د عجمو په ښارو کې .

(۱) لکه د غنمو ، اوربشو ، جورو او دخن (يو قسم دانې دي) ډوډۍ او هر هغه ډوډۍ چې په هغو ښارو کې ئې خلګ په عادت کې خوري ، له " الجوهره " څخه .

(۲) ځکه خلګ ئې په عادت کې نه خوري ، که يو چا په طبرستان کې يا په يو بل داسې ښار کې وخوړل چې خلګو ئې په عادت کې وريجې د ډوډۍ په ډول خوړلې قسم پر اوړي ، له " الهدايه " او " الجوهره " څخه ، زموږ د ښارو د کلو او صحراوو د خلګو د قسمو حکم پر دغه قياس کړه کوم چې د غنمو او اوربشو پرته د نورو دانو ډوډۍ هم خوري .

(۳) دا د ابوحنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي که ئې د هغه ډوډۍ وخوړل هم قسم پر اوړي ځکه په عادت کې هغه ځنې فهميږي ، ابو حنيفه رح ويلي دي هغه خپله حقيقي معنی لري او په هغه کې مستعمليږي ځکه هغه ايشول کيږي او نينې کيږي او ژوول کيږي او حقيقي معنی ته پر مستعمل مجاز ترجيح ورکول کيږي ځرنګه چې دده په نزد دا قاعده ده او که ئې وژوول په صحيح قول کې ددوی په نزد قسم پر اوړي ځکه مجازي معنی عامه ده ، له "الهدايې" څخه .

(٤) ځکه خپله اوړه نه خوړل کيږي نو هغه شی ځنې مراديږي چې ځنې جوړيږي او که ئې ببله لندولو او اوړه اخيښلو وخوړل قسم نه پر اوړي دغه قول صحيح دی ځکه مجاز ځنې مراد دی له "الهدايه" څخه .

ج : د پخو غوښو په خوړلو سره قسم پر اوړي نه د بل شي (۱) .
س : که يو چا قسم واخيستی چي سربه نه خوري دچوغکي سرئې وخوړی قسم پراوړي ؟
ج : په هغه سره قسم نه پر اوړي ځکه په عادت کي سر يوازي داسي سرو ته ويل کيږي چي په تنورو کي پخيږي او په ښار کي خرڅيږي (۲) .
س : که يو چا قسم واخيستی چي کباب به نه خوري ، کباب سوي غوښي يا کباب سوي بانجاڼ يا کباب سوي زرد کي ئې وخوړلې قسم پر اوړي ؟
ج : د کباب سوو غوښو په خورك سره قسم پر اوړي او د کباب سوو بانجانو او زردکو (۳) په خورك سره نه پر اوړي .
س : که يو چا قسم واخيستی چي دغه وری به نه خوري هغه چيچي وزېږوی او غټ سو پسه ځني جوړ سو وروسته ئې وخوړی قسم پر اوړي ؟
ج : هو قسم پر اوړي (٤) .

---

(۱) دغه مسئله په استحسان سره ثابته ده ځکه عرف ته اعتبار ورکول کيږي ځکه عامه معنی ئې نامکنه ده نو خاصه معنی ئې ځني مراديږي چي هغه معنی ده چي په عرف کي ځني اخيستل کيږي . هغه هغه غوښي دي چي په اوبو کي پخ سوي وي مگر نه که ئې د بل شي نيت وکړی ځکه په هغه کي دده پر خپل ځان سختي ده نو دی په نيول کيږي ، که ئې د هغه ښوروا وخوړل قسم پر اوړي ځکه په هغه کي د غوښو ټوټې سته او ځکه چي هغه ته طبيخ (پخ سوی) ويل کيږي ، له " الهدايه " څخه .
(۲) په " الجامع الصغير " کي ذکر سوي دي : که يو چا قسم واخيستی چي سر به نه خوري د ابو حنيفه رح په نزد له هغه څخه د غويو او پسو سرونه اخيستل کيږي ، صاحبينورح ويلي دي : له هغه څخه يوازي د پسو سرونه اخيستل کيږي ، دا دزماني اختلاف دی دده په زمانه کي په عرف کي دواړو ته سرونه ويل کېدل او ددوی په زمانه کي يوازي پسو ته ويل کېدل او زموږ په زمانه کي د عادت مطابق فتوی کيږي لکه چي په " المختصر " کي ذکر سوي دي ، په " الهداية " کي ئې دغه خبره ذکر کړې ده .
(۳) ځکه کباب چي په عامه توګه ذکر سي له هغه څخه کباب سوي غوښي اخيستل کيږي مگر که ئې د هګۍ يا بل شي چي کبابيږي نيت وکړی صحيح کيږي ځکه د حقيقي معنی په لحاظ هغه ته کباب ويل کېدلای سي ، له " الهداية " څخه .
(٤) ځکه د هغه د کوچنيوالي له کبله قسم نه اخيستل کيږي ځکه څوك چي د يو وري له غوښو څخه پرهېز کوي د پسه له غوښو څخه تر هغه ډېر پرهېز کوي ، له " الهداية " څخه .

س : كه يو چا قسم واخيستى چي د خرما له دغه وني څخه به خورك نه كوي د هغې تنه يا ښاخ ئې وخوړى قسم پر اوړي ؟

ج : له دغه قسم څخه د خرما د وني مېوه اخيستل كيږي ځكه په عرف كي دغه معنى اراده كيږي نو د مېوې پرته د بل شي په خورك سره قسم نه پر اوړي او د مېوې په خورك سره قسم پر اوړي (١) .

س : كه يو چا قسم واخيستى چي له دغه بسر (خرما چي تروه وي) څخه به خورك نه كوي هغه رطب (خرما چي خوږه سي) سول او وئې خوړل يا ئې قسم واخيستى چي بسر به نه خوري رطب ئې وخوړى قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي (٢) .

س : كه يو چا قسم واخيستى چي رطب به نو خوري ، مذنب بسر (٣) (داسي بسر چي د لكۍ خوا ئې خوږه سوې وي) ئې وخوړى قسم پر اوړي ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد قسم پر اوړي .

س : كه يو چا قسم واخيستى چي غوښي به نه خوري د ماهي غوښي ئي وخوړې قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي (٤) .

---

(١) ځكه داسي شي ته ئې قسم منسوبه كړى چي نه خوړل كيږي نو هغه شى ځني اراده كيږي چي له هغه څخه راوزي چي خرما ده ، له " الهداية " څخه .

(٢) ځكه د بسر والي او رطب والي له كبله څوك قسم اخلي ، له " الهداية " څخه .

(٣) څرنګه په " المغرب " كي ذكر سوي دي د نون په زېر سره دى ، داسي ويل كيږي بسر مذنب يا ذنب البسر كله چي د لكۍ له خوا څخه ئې رطب والى ښكاره سي ، رطب هغه خرما ته ويل كيږي چي رسېدلې وي واحد ئې رطبه ده نو رطب مذنب هغه دى چي زياته حصه ئې رطب وي لږ برخه ئې بسر وي او بسر مذنب د هغه چپه دى ، دا د ابوحنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي د رطب په صورت كي په بسر مذنب سره قسم نه پر اوړي اود بسر په صورت كي په رطب مذنب سره قسم نه پر اوړي ، په اكثرو معتبرو كتابو كي ذكر سوي دي چي محمدرح د ابوحنيفهرح سره دى ، له"البحر الرائق ٤-٣٤٧" څخه .

(٤) د " الهداية " مصنف ويلي دي : د قياس مطابق قسم پر اوړي ځكه په قران كي غوښه بلل سوې ده ، د استحسان وجه دا ده چي په قران كي په مجازي توګه غوښه بلل سوې ده ځكه غوښه له وينو څخه پيـــدا

س : که يو چا قسم واخيستی چې له دجلې (په عراق کې يو درياب دی) څخه به اوبه نه چښي ، له هغه څخه ئې په لوښي کې اوبه وچښلې قسم پر اوړي ؟
ج : د ابوحنيفه په نزد (۱) په هغه سره قسم نه پر اوړي هو که ئې په خوله سره له هغه څخه اوبه وچښلې قسم پر اوړي .
س : که يو چا قسم واخيستی چې دجلې له اوبو څخه به اوبه نه چښي . د هغه اوبه ئې په لوښي راواخستې او وئې چښلې څه حکم لري ؟
ج : په دغه صورت کې قسم پر اوړي (۲) .

د نټوتلو ، راوتلو او اوسېدلو په هکله قسم

س : که يو چا قسم واخستی چې خراب کور ته نه ننوزم قسم پر اوړي ؟
ج : قسم نه پر اوړي .
س : که يو چا قسم واخستی چې دغه کور ته نه ننوزي ، کله چې ونړېدی او دښت سو ورننوتی قسم پر اوړي ؟
ج : قسم پر اوړي (۳) .

د ص ۴۹۰ پاته برخه : کېږي او هغه وينه نه لري ځکه په اوبو کې اوسېږي اه . د " الجوهرې " مصنف ويلي دي ځکه په عرف کې غوښه نه ورته ويل کېږي اوله قسمو څخه دقران کريم معناوي نه اخيستل کېږي ته نه ګورې که د يو چا قسم واخيستی چې کور به نه خرابوي او د عنکبوت کور ئې خراب کړی يا ئې قسم واخيستی چې پر دابه (پر مځکه تګ کونکي ژوندي شی) به نه سپرېږي او پر يو کافر سپور سو قسم نه پر اوړي که څه هم په قران کريم کافر ته دابه ويل سوی دی لکه چې الله ﷻ ويلي دي ﴿ إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ (تر ټولو بد ژوند کونکي د اللهﷻ په نزد هغه کسان دي چې کفر ئې کړی وي) دغه رنګه ټول هغه شيان چې په درياب کې وي د ماهي حکم لري . ختم سول .
(۱) صاحبينو ويلي دي که ئې په لوښي سره له هغه څخه اوبه وچښلې قسم پر اوړي (په دغه صورت کې هم لکه په مخکني صورت کې) ځکه په عرف کې دغه معنی ځني اخيستل کېږي ، د امام دليل دا دی چې د من لفظ د بعض (ځيني) معنی لري اود هغه حقيقي معنی مستعملېږي ځکه که خپله له درياب څخه اوبه وچښي په اجماع سره قسم پر اوړي نو مجازي معنی ته تلل ممنوع سول که څه هم په عرف کې هغه معنی اخيستل کېږي ، له " الهدايه " څخه .
(۲) ځکه تر لښي رااخيستلو وروسته هغه ته منسوبه دي او هم دغه شرط دی ، له " الهدايه " څخه .

س : په هغه صورت کي تاسي څه وایاست که یو سړي قسم واخیستی چي دغه ودانۍ ته نه ننوزم او هغه وخت ور ننوتی چي ونړېدل .

ج : په دغه صورت کي قسم نه پر اوړي (۱) .

س : که یو چا قسم واخستی چي دغه کور ته نه ننوزي اودی په هغه کي وو فورا نه ووتی بلکه په هغه کي ولاړ یا ناست وو قسم پر اوړي ؟

ج : په دغه صورت کي قسم نه پر اوړي بلکه هغه وخت قسم پر اوړي چي له هغه څخه ووزي وروسته ورننوزي .

س : که یو چا قسم واخستی چي ودانۍ ته نه ننوزي او کعبې شریفي ته یا مسجد ته یا د یهودو عبادتځای ته یا د نصاری وو عبادتځای ته ننوتی قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي (۲) .

س : که یو چا قسم واخستی چي دغه کورته نه ننوزي او د هغه پر بام ودرېدی یا ئې دهلېز ته ورننوتی قسم پر اوړي ؟

ج : هو قسم پر اوړي مګر که د کور په طاق کي ودرېدی په دې توګه که دروازه وتړل سي دی دباندي پاتیږي قسم نه پر اوړي .

س : که یو چا قسم واخستی چي په دغه کور کي نه اوسیږي ، خپله ځني ووتی او خپل اهل او سامان ئې په کښي پرېښول څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي قسم پر اوړي (۳) .

د ص ۴۹۱ پاته حاشیه : (۳) په "الدر المختار" کي ئې ویلي دي : که چا وویل یو کور ته نه ننوزم او هغه وخت ورننوزي چي خراب سي او هیڅ وداني په کښي نه وي قسم نه پر اوړي او که ئې وویل دغه کور ته نه ننوزم او وروسته ورننوزي قسم پر اوړي که څه هم صحراء سي یا تر نړېدلو وروسته بل کور پر جوړ سي ځکه کور د مخکي نوم دی او وداني د هغه لپاره یو صفت دی . په نکره کي صفت ته کتل کیږي او په معرفه کي نه ورته کتل کیږي مګر هغه وخت که ئې شرط کړی وو یا د قسم لپاره بلونکی وو بیا قسم پر اوړي اه

(۱) ځکه د ودانۍ نوم ځني ولاړی ځکه شپه نه په کښي تېرېږي نو که ئې دېوالونه پاته سول او چت ئې ونړېدی قسم پراوړي ځکه شپه په کښي تېرېدای سي اوچت د هغه لپاره یو صفت دی له "الهدایه" څخه .

(۲) ځکه بیت هغه ودانۍ ته ویل کیږي چي د شپې د تېرېدو لپاره تیاره سوي وي او دغه ځایونه د هغه لپاره نه دي جوړ سوي . له "الهدایه" څخه

د خرڅولو ، رانيولو او اجاره كولو په هكله قسم

س : كه يو چا قسم واخستى چي شى نه خرڅوي يا ئې نه رانيسي يا ئې په كرايه نه وركوي او يو سړى ئې د دغه لپاره وكيل كړى په دغه صورت كي قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي (١) .

په ناسته او خوب كي قسم

س : كه يو چا قسم واخستى چي پر مځكه نه كښېني ، پر كمبله يا بوريا كښېنستى په هغه سره قسم پر اوړي ؟

ج : قسم نه پر اوړي (٢) .

س : كه يو چا قسم واخستى چي پر چارپايي نه كښېني ، پر داسي چارپايي كښېنستى چي فرش پر غوړېدلى وو څه حكم لري ؟

ج : قسم پر اوړي (٣) .

س : كه ئې پر هغه چارپايي بل چارپايي كښېښوى او پر هغه كښېنستى قسم پر اوړي ؟

ج : كه كوم چارپايي چي قسم ئې پراخيستى وو يوخاص چارپايي (٤)ووقسم نه پر اوړي .

د ص ٤٩٢ پاته حاشيه : (٣) ځكه كله چي دده اهل او سامان هلته پاته وي په عرف كي دى اوسېدونكى ګڼل كيږي ځكه د بازاري سړي زياته برخه د ورځي په بازار كي وي او وايي زه په فلانكي كوڅه كي اوسم . بيت او محله هم د كور په شان دي ، ددې لپاره چي د قسم اوښتلو څخه ځان وژغوري ده لره په كار ده چي فورا بل كور ته منتقل سي كه كوڅي يا مسجد ته منتقل سو دوى وايي د قسم اوښتلو څخه نه خلاصيږي ، له " الهدايه " څخه .

(١) ځكه عقد عقد كونكي (وكيل) كړى دى او حقوق پر هغه دي ، له دې كبله كه قسم اخيستونكى عقد كونكى وو قسم پر اوړي ، كه ئې په خپل قسم كي داسي نيت وكړى چي نه خپله دغه كار كوم نه په وكيل سره په هغه صورت كي قسم پر اوړي ځكه ده خپله پر ځان سختي جوړه كړل ، دغه رنګه كه قسم اخيستونكى سلطنت والا سړى وو عقد ئې خپله نه كوى او د دغو شيانو لپاره ئې يو څوك وكيل كړى د وكيل په كار سره قسم پر اوړي ، له " الهدايه " څخه .

(٢) ځكه هغه پر مځكه كښېنستونكى نه بلل كيږي ، مګر د انسان لباس د هغه تابع ګڼل كيږي هغه د مځكه او انسان تر منځ پرده نه بلل كيږي ، له " الجوهره " څخه .

(٣) ځكه پر چارپايي ناست بلل كيږي .

(٤) په دې توګه چي داسي ووايي : پر دغه چارپايي نه كښېنم په دغه صورت كي قسم نه پر اوړي ځكه پر

س : که يو چا قسم واخستی چي پر بستر نه بيدېږي ، پر داسي بستر بېده سو چي پر هغه پوښ وو څه حکم لري ؟

ج : په دغه صورت کي (۱) قسم پر اوړي هو که ئې پر هغه يو بل بستر واچوی او پر هغه بيده سو قسم نه پر اوړي (۲) .

د وتلو د اجازې قسم

س : که يو چا قسم واخيستی چي دده ښځه به دده د اجازې پرته نه وزي ، يو ځل ئې اجازه ورته وکړل ، ووتل او بيرته راغلل دوهم ځل دده د اجازې پرته ووتل قسم پر اوړي ؟

ج : هو قسم پر اوړي ، په هغه صورت کي چي په دغه الفاظو (۳) سره ئې قسم اخيستی وي په هر ځل کي اجازه په کار ده او که ئې خپلي ښځي ته وويل : په اللّٰه ﷻ مي قسم چي تر هغه وخت پوري به نه وزې چي زه اجازه درته کوم ، يو ځل ئې اجازه ورته وکړل ، هغه ووتل بيرته راغلل ، تر هغه وروسته د هغه د اجازې پرته ووتل قسم نه پر اوړي (٤) .

په اغوستلو ، سپرېدلو او ورتللو کي قسم

س : که يو چا قسم واخيستی چي د فلانکي پر حيوان به نه سپريږي ، د هغه د يو مريي پر حيوان سپور سو کوم چي د تجارت اجازه ورته سوې وي په هغه سره قسم پر اوړي ؟

د ص ٤٩٣ پاته برخه : کوم چارپايي چي ئې قسم اخيستی وو پر هغه نه دی کښېنستلی ، که ئې پر يو عام چارپايي قسم اخيستی وو په هغه صورت کي چي پر هر چارپايي کښېني که څه هم داسي چارپايي وي چي تر هغه لاندي بل چارپايي وي قسم پر اوړي ، له " الجوهره " څخه .

(۱) ځکه هغه د بستر تابع ګڼل کيږي نو هغه پر بستر بيده ګڼل کيږي ، له " الجوهره " څخه .

(۲) دا په هغه صورت کي که ئې داسي قسم واخستی چي پر دغه بستر نه بيدېږي ، په دغه صورت کي ځکه قسم نه پر اوړي چي د يو شي مثل د هغه تابع نه ګڼل کيږي ، دا دمحمدرح قول دی او دغه صحيح دی . له ابويوسف رح څخه روايت سوی چي قسم پر اوړي ځکه هغه د ښه تياري لپاره پر اچول کيږي نو داسي ګڼل کيږي لکه چي پر هغه بستر بيده سوی وي چي قسم ئې پر اخيستی وي له " الجوهره " څخه .

(۳) ځکه يوازي هغه وتل ئې څني ايستلي دي چي اجازه ورسره وي ، د هغه څخه پرته وتل په عامه منع کي داخل دي ، که ئې د يو ځل نيت کړی وو دده او د اللّٰه ﷻ تر منځ ئې تصديق کيږي او د قاضي په فيصله کي ئې تصديق نه کيږي ، له " الهدايه " څخه .

(٤) ځکه دا د غايې (د يو شي حد) کلمه ده نو کله چي هغه پيدا سي قسم ختميږي لکه چي ووايي (تر څو چي زه اجازه درته وکړم) ، له " الهدايه " څخه .

ج: قسم نه پر اوړي (۱).

س: که يو چا قسم واخيستی چي دغه کالی به نه اغوندي او هغه ئې اغوستی وو يا ئې قسم واخيستی چي پر دغه حيوان به نه سپرېږي او پر هغه سپور وو . د قسم اخيستلو څخه فورا بعد قسم پر اوړي که په هغه کي تفصيل سته ؟

ج: که ئې په داغه وخت کي کالی وکښی يا له حيوان څخه کښته سو قسم نه پر اوړي . که ئې تر قسم وروسته لږ ځنډ وکړی قسم پر اوړي ځکه پر لمړي اغوستلو دوام کول يا پر لمړي سپرتيا دوام کول نوي اغوستل او نوی سپرتيا ګڼل کيږي .

س: که يو چا قسم واخستی چي که ئې وکولای سوای فلانکي ته به ورځي له دغه قدرت څخه څه مراديږي ؟

ج: له دغه څخه د روغتيا او موانعو نه شته والی مراديږي . حقيقي قدرت نه ځني مراديږي کوم چي ئې الله ﷻ د کار سره يو ځای پيدا کوي (۲).

د پور په اداء کولو او قبض کول کي قسم

س: که يو چا قسم واخستی چي د فلانکي پور به نن وراداء کوم ، هغه ئې وراداء کړی وروسته هغه سړي ته څرګنده سول چي له هغو څخه ځني زيوفي (۳) (کوټه) يا بنهرجه (٤) دي يا د بل چا ملکيت دي له قسم اوښتلو څخه خلاصيږي ؟

---

(۱) دا د شيخينورح قول دی ، محمدرح ويلي دي قسم پر اوړي ځکه حيوان د بادار ملکيت دی که څه هم مربي ته منسوبه دی ځکه بادار او کوم شيان چي د هغه په لاس کي وي هغه د بادار دي ، له "الجوهره النيره" څخه .

(۲) د "الدر المختار" مصنف ويلي دي : که يو چا قسم واخستی که ئې قدرت درلودی صبا به ورځي له هغه څخه د روغتيا قدرت مراد دی ځکه په عرف کي دغه مراديږي نو له هغه څخه د موانعو نه شته والی مراديږي لکه ناروغي او پاچا ، دغه رنګه ليونتوب او هېره " البحر " . که ئې د حقيقي قدرت اراده وکړل دده او د الله ﷻ په منځ کي ئې تصديق کيږي او د قاضي په فيصله کي ئې تصديق نه کيږي پر صحيح قول ، " فتح " ځکه د ظاهري معنی څخه مخالفه معنی ده اه . الشامي ويلي دي : دا قول (چي دده او د الله ﷻ په منځ کي ئې تصديق کيږي) نو که د عذر له کبله يا يو بلي وجهي څخه نه ورغلی قسم نه پر اوړي او هغه داسي ګڼل کيږي لکه چي ووايي که الله ﷻ زما درتګ پيدا کړی ، نو کله چي ورنه سي الله ئې ورتګ او د کار سره يوځای قدرت نه دی پيدا کړی ،که ئې پيدا کړی وای ورغلی به وای " فتح ".

(۳) زيوف د زيف جمع ده يعني بيت المال ئې کوټه ګڼي مګر د تاجرانو په منځ کي چليږي .

هو له قسم څخه خلاصيږي قسم نه پر اوړي (۱) .

س : که هغه وموندلې چي رصاصي يا ستوقه (۲) وې څه حکم ئې دی ؟

ج : په دغه صورت کي قسم پر اوړي .

س : که يو چا قسم واخستی چي ژر يا په ځنډ به ئې پور وراداء کوي ، له دغه ژر او ځنډ څخه څه مراديږي ؟

ج : له مياشتي څخه کم ژردی او له مياشتي څخه زيات ځنډ دی .

س : که يو چا قسم واخيستی چي خپل پور به په ټوټو سره نه قبض کوي ، له هغه څخه ئې يوه برخه قبض کړل څه حکم لري ؟

ج : د يوې برخي په قبض کولو سره قسم نه پر اوړي ، کله چي ټوله قبض کړي قسم پر اوړي .

س : که يو چا دغه قسم واخيستی وروسته ئې خپل پور په دوه ټوله سره قبض کړی قسم پر اوړي ؟

ج : که ئې د دوو تولو په منځ کي بل کار ونه کړی قسم نه پر اوړي ځکه هغه په ټوټو قبض کول نه ګڼل کيږي (۳) او که په بل کار سره مشغوله سو قسم پر اوړي .

د ص ٤٩٥ پاته برخه : (٤) بنهرجه هغه ته ويل کيږي چي د کوټ له کبله ئې تاجران نه قبلوي ، هغه له زيوفو څخه په درجه کي کښته دي ، الشامي په " رد المحتار " کي ويلي دي دا عربي کلمه نه ده ، ددې اصل بنهره ده يعني برخه يعني ددغو درهمو د سپينو زرو برخه کمه او د کوټو برخه ئې زياته ده ځکه ئې تاجران نه قبلوي يا ئې هغه تاجران نه قبلوي کوم چي سختي کوي کوم چي اساني کوي هغه ئې قبلوي .

(۱) ځکه کوټه والی يو عيب دی او په عيب سره اصل جنس له منځه نه ځي ، نو ځکه که ئې هغه قبولي کړې حق ئې وروړسېدی نو د قسم څخه د خلاصېدو شرط پيدا سو ، هغه درهمونه چي بل مالك ئې ښکاره سي د هغو قبض صحيح دی ، کله چي له قسم څخه خلاصون پيدا سي د هغو په ورکولو سره بيرته له منځه نه ځي ، له " الهدايه " څخه .

(۲) د سين په زورا و پېښ او تاء په شد سره ، په " الفتح " کي ئې ويلي دي : هغه درهمو ته ويل کيږي چي کوټ ئې زيات وي ، دغه کلمه له سه توقه څخه عربي سوې ده يعني درې پوړه ، دوه مخه ئې سپين زر وي او منځ ئې نحاس (کاپر) يا بل شي وي اه . د ستوقه او رصاصي درهمو په اداء کولو سره ځکه له قسم څخه نه خلاصيږي چي هغه درهمونه نه دي ، د " البحر " مصنف دغه خبره کړې ده .

(۳) ځکه په عادت کي په يوه ځل د ټولو قبض کول مشکل کار دی نو دغه مقدار له هغه څخه ايستل کيږي . له " الهدايه " څخه .

فائده

که يو والي يو سړی راوبولی او قسم ئې ورکړی چي هر فساد کونکی ښار ته داخل سي ده ته به خبر ورکوي ، له هغه څخه يوازي دده د ولايت وخت مراديږي . کله چي هغه معزول سي او د کوم شي چي ئې قسم ورکړی وي په هغه ئې خبر نه کړی قسم نه پر اوړي (۱).

تنبيه

۱ : که يو چا په دې توګه پر يو کار قسم واخستی چي ووايي : په الله ﷻ سره مي قسم چي داسي به کوم ، د هغه کار په عمر کي يو ځل کولو سره له قسم څخه خلاصيږي که ئې د قسم سره د زمانې يا ځای ټکی زيات کړی يا ئې يو بل شي ته منسوبه کړی ، قسم په هغه ټکي سره تړلی ګڼل کيږي ، که ئې هغه کار په هغه زمانه يا ځای کي وکړی له قسم څخه خلاصيږي که ئې نه وکړی قسم پر اوړي ، که ئې قسم واخيستی چي د فلانکي پر حيوان به نه سپريږي او پر هغه سپور سو قسم پر اوړي ، که د بل چا پر حيوان سپور سو قسم نه پر اوړي .

۲ : که يو چا پر نه کولو قسم واخيستی او داسي ئې وويل : دغه کار نه کوم پر ما لازمه ده چي په خپل ټوله عمر کي به ئې نه کوي که ئې يو ځل وکړی قسم پر اوړي .

د نذر د احکامو فصل

: که يو سړي وويل : پر ما نذر دی يا د الله ﷻ لپاره پر ما نذر دی او منذور (کوم شی چي نذر ئې کيږي) ئې نه کړی ذکر څه حکم لري ؟

: دا په لفظ کي نذر او په معنی کي قسم دی او په هغه کي د قسم کفارت سته (۲) .

: که يو چا نذر وکړی او منذور ئې ياد کړی څه حکم لري ؟

---

(۱) ځکه له هغه څخه مطلب د هغه د شر ليري کول يا د هغه په سزا سره د بل چا د شر ليري کول دی نو عزل نه له حکومت څخه وروسته فائده نه لري ، له " الهدايه " څخه .

(۲) ځکه ابوداود له عقبه بن عامر څخه روايت کړی دی ، هغه وويل چي رسول الله وويل : ﴿ كفارة النذر كفارة اليمين ﴾ (د نذر كفارت د قسم كفارت دی) : او ترمذی ئې هم روايت کړی دی ، د هغه داسي لفظ دی ﴿ كفارة النذر اذا لم يسم كفارة اليمين ﴾ (که ئې منذور نه کړی ياد د نذر کفارت د قسم کفارت دی) ترمذي ويلي دي : دا صحيح حسن او غريب حديث دی .

ج : که يو چا يو مطلق نذر وکړی يه يو شرط پوري ئې ونه تړی او منذور ئې ياد ک
لکه چي وواييي : د الله ﷻ لپاره پر ما د يوې مياشتي روژه ده يا پر ما حج دی يا
رکعاته لمونځ دی د هغه نذر پوره کول پر لازم دي .

س : که ئې نذر په يو شرط پوري وتړی لکه چي وواييي : که الله زما ناروغه راجوړ ک
يا زما زوی له سفر څخه راغلی پر ما دومره روژې يا لمونځونه يا حجونه يا د مر
ازادول لازم دي ، که هغه شرط پيدا سي د نذر پوره کول پر لازم دي ؟

ج : هو په دغه صورت کي ئې هم پوره کول پر لازم دي ځکه دقران کريم لفظ عام دی ا
ﷻ ويلي دي : ﴿ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ ﴾ (او خپل نذرونه دي پوره کړي) (۱) . له ابوحنيف
څخه روايت سوی دی چي هغه ويلي دي : که يو چا داسي نذر وکړی چي که مي داس
وکړل حج راباندي لازم دی يا د يوه کال روژه د قسم په کفارت (۲) سره ئې غاړ
خلاصيږي . د محمدرح هم دغه قول دی .

---

(۱) دغه امر عام دی معلق نذر (کوم چي په شرط پوري تړلی وي) او مطلق نذر (کوم چي په شرط پوري
نه وي تړلی) دواړه په کښي داخل دي ، نبيﷺ پر هغه چا بد ويلي دي کوم چي نذر وکړي او هغه پوره ن
کړي ، عمران بن حصين له نبيﷺ څخه روايت کړی دی چي هغه وويل : په تاسي کي ښه زما قرن (پيړی
) دی بيا هغه کسان چي له هغوی څخه وروسته وي بيا هغه کسان چي له هغوی څخه وروسته وي ،
عمران وويل : زه نه يم خبر چي تر خپل قرن وروسته ئې دوه قرنه ذکر کړل که درې بيا داسي قوم راځي
چي نذر کوي او پوره کوي ئې نه او خيانت کوي او امانتونه نه ورسپارل کيږي او شاهدي اداء کوي او
شاهدي نه ځني غوښتل کيږي او چاغوالی په کښي ښکاره کيږي ، بخاري ئې روايت کړی دی .
(۲) د " الهدايه " مصنف ويلي دي : کوم شی چي ئې ياد کړی وي که هغه پوره کړي هم ئې غاړې
خلاصيږي ، دا هغه وخت که داسي شرط وو چي ده ئې وجود نه غوښتی ځکه په هغه کي د قسم معنی
سته چي ژغورنه ده او په ظاهري توګه نذر دی نو ده لره اختيار سته هغه خوا ته دي ميل وکړي کوم چي
دده خوښ وي ، که داسي شرط وو چي ده ئې وجود غوښتی د هغه حکم بېل دی لکه چي وواييي که الله
ﷻ زما ناروغه روغ کړی ځکه په هغه کي د قسم معنی چي ژغورل دي نسته ، دغه تفصيل صحيح دی
اه ابن الهمام په " فتح القدير " کي ويلي دي : له ابوحنيفهرح څخه روايت سوی دی چي هغه له دغه قول
څخه يعني که په شرط پوري تړلی وي خپله منذور پر لازميږي رجوع کړې ده يعني ده لره اختيار سته ک
خپله هغه کار کوي که د قسم کفارت ورکوي ، اول قول چي خپله د منذور پوره کول پر لازميږي په ظاهر
روايت کي ذکر سوی دی له ابوحنيفهرح څخه داختياررروايت په نادرو روايتو کي ذکر سوی دی اسماعيل
الزاهد په دغه سره فتوی ورکول ولوالجي ويلي دي د بلخ او بخاری مشايخ په دغه سره فتوی ورکوي او

س : که ئې د يو ګناه نذر وکړی څه به کوي ؟

ج : د خپل نذر له وجهي به د الله ﷻ د امر مخالفت نه کوي بلکه د قسم د کفارت په شان به کفارت اداء کوي (١) .

س : که يو چا نذر وکړی چي خپل مال به خيراتوي څه شی پر لازميږي ؟

ج : د هغو شيانو خيراتول پر لازميږي په کومو کي چي زکات واجبيږي (٢) .

س : که يو چا داسي نذر وکړی چي کوم شی چي دی ئې مالك وي هغه به خيراتوي په دغه صورت کي څه پر لازميږي ؟

ص ٤٩٨ پاته برخه : شمس الايمه هم دغه قول غوره کړی دی ځکه په اوس زمانه کي ډېر خلګ په اخته دي ، د ظاهر روايت دليل د قران کريم او احاديثو ظاهري نصوص دي او د نادرو روايتو دليل د عقبه بن عامر حديث دی چي په صحيح مسلم کي ئې روايت سوی دی هغه وويل چي نبي وويل : د نذر کفارت د قسم کفارت دی . له دغه حديث څخه دا معلوميږي چي په هر صورت کي ئې د قسم په کفارت سره غاړي خلاصيږي نو دواړه سره متعارض (ټکر) دي نو د خپله منذور پوره کولو څخه هغه صورت مراديږي چي نذر مطلق وي او په کفارت سره غاړي خلاصولو څخه هغه صورت مراديږي چي نذر په شرط پوري تړلی وي (ترپايه پوري) زه وايم د عقبه په حديث سره دليل ويل نه صحيح کيږي ځکه له هغه څخه هغه نذر مراد دی چي منذور په کښي ياد سوی نه وي لکه چي د ترمذي په روايت کي په ځرګنده توګه ذکر سوی دی هو هغه خبره چي د "الهدايې" مصنف ذکر کړې ده دليل کېدلای سي چي که داسي شرط وي چي دی ئې وجود نه غواړي په هغه کي دقسم يعني ژغورني معنی سته اوپه ظاهري توګه هغه نذردی نوده لره اختيار سته کومي خوا ته چي دی ميل کوي کولای سي الله ﷻ په حق ښه خبردی .

(١) ځکه بخاري له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی دی : که چا داسي نذر وکړی چي د الله ﷻ طاعت به کوي طاعت دي ئې وکړي او څوك چي داسي نذر وکړي چي د هغه د امر مخالفت به کوي مخالفت دي ئې نه کوي ، او مسلم له عمران بن حصين څخه روايت کړی دی چي نبي ﷺ وويل : د ګناه په نذر کي پوره کول نسته نه په داسي شي کي چي انسان ئې مالك نه وي ، د نسائي په نزد ئې داسي روايت دی چي عمران بن حصين وويل : ما له نبي ﷺ څخه واورېدل هغه ويل : نذر دوه قسمه دی څوك چي د ګناه نذر وکړي هغه د شيطان لپاره دی او د هغه پوره کول نسته په هغه کي به د قسم په شان کفارت ورکوي .

(٢) د قياس د دليل پر بنسټ د ټوله مال خيراتول پر لازميږي ځکه مال هغه شي ته ويل کيږي کوم چي څوك ئې مال ګرځوي د استحسان وجه دا ده چي له نذر څخه يوازي په فرضي شيانو کي خپله اصلي معنی مراديږي ، کوم مال چي فرضي خيرات اړه په لري هغه د زکات په دليل سره ده د مال يوه برخه ده نو له دې کبله د سرو زرو او سپينو زرو او د تجارت د سامان او څرکونکو حيوانانو خيراتول پر لازميږي په هغه کي د نصاب مقدار او له هغه څخه کم فرق نه لري ، که ئې په دغه نذر سره خپل ټوله مال مـــراد

ج : د ټوله مال خيراتول پر لازم دي ، ده ته ويل کيږي دومره مال چي ته ئې پر خپل ځان او عيال خرڅوې هغه د ځان سره وساته تر څو چي نور مال ګټې ، کله چي دي نور مال وګټې هغه مال چي دي د ځان لپاره ساتلی وو د هغه په مقدار مال خيرات کړه (١).

د قسم کفارت

س : که پر چا قسم واوښتی په څه شي سره به ئې کفارت کوي ؟

ج : د قسم کفارت الله ﷻ په خپل عزتمن کتاب کي ذکر کړی دی ، هغه ويلي دي ﴿ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِيْ أَيْمَانِكُمْ وَ لَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ أَهْلِيْكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ وَاحْفَظُوْا أَيْمَانَكُمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾ (٢) (الله تاسي په لغو قسمو سره نه نيسي [کوم چي بېله ارادې او قصد سره وي] مګر په داسي قسمو سره مو نيسي چي تاسي ئې عقد کړی وي ، د هغه کفارت لسو مسکينانو ته له هغه خوراك څخه ورکول دي کوم چي تاسي ئې خپلو کورنيو ته ورکوئ يا د هغوی کالي يا د مريي ازادول خوك چي ئې نه کړي پيدا د هغه لپاره درې روژې دي . دا ستاسي د قسمو کفارت دی کله چي تاسي قسم واخلئ او خپل قسمونه په ياد ولرئ دغه رنګه الله ﷻ تاسو ته خپل آياتونه بيانوي بنايي چي تاسي شکر وکړئ) دغه د قسم کفارت دی . قسم اخيستونکي ته اختيار سته چي لسو مسکينانو ته هغه ميانه خوراك ورکوي کوم چي خپلي کورنۍ ته ئې ورکوي يا کالي ورکوي يا مريی ازادوي ، که ئې پر دغو درو شيانو قدرت نه درلودې درې ورځي پرله پسې دي روژې ونيسي .

س : که ئې دا وغوښتل چي خوراك ورکړي څرنګه به کوي ؟

ج : لسو مسکينانو ته به غرمه او ماښام تر مړتيا پوري خورك ورکوي يا به هر مسکين

د ص ٤٩٩ پاته برخه : کړی ټوله به کېني داخليږي ځکه پرخپل ځان ئې سختي وکړل له " الجوهره " څخه

(١) دغه دوې مسئلې قدوري د ښځني د کتاب په اخر کي ذکر کړي دي ، موږ ئې ځکه د نذر په کتاب کي ذکر کړو چي د نذر مسئلې په يوه ځای کي راسي .

(٢) سورة المائدة اية ٨٩

نه د غنمو نیمه کاسه یا د اوربشو یا خرما یوه کاسه ورکوي .

س : که ئې هر مسکین ته د نیمي کاسې غنمو قیمت یا یوې کاسي اوربشو یا خرما قیمت ورکړی په هغه سره ئې کفارت اداء کیږي ؟

ج : هو په دغه سره ئې ذمه خلاصیږي .

س : که ئې وغوښتل چي کالي ورکړي څرنګه به کوي ؟

ج : هر مسکین ته به یو کالی یا زیات ورکوي ، کم مقدار ئې دا دی چي لمونځ په کښې روا کیږي (۱) .

س : که ئې وغوښتل چي مریی ازاد کړي کوم مریی صحیح کیږي ؟

ج : داسي مریی به ازادوي چي سلامت او جوړ وي څرنګه چي مو د ظهار په کفارت کي ذکر کړی .

س : تاسي ذکر کړل چي که ئې له دغو درو شیانو څخه پر کوم شي قدرت نه درلودی درې ورځي پرله پسې دي روژه نیسي ، پرله پسې والی په قران کریم کي نه دی ذکر سوی ، د هغه لپاره څه دلیل دی ؟

ج : دلیل ئې د عبد الله بن مسعود‌ﷺ قراءت دی د هغه داسي قراءت دی ﴿ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ ﴾ (۲) (درې ورځي پرله پسې روژې) .

---

(۱) د " الهدایې " مصنف ویلي دي : کومه خبره چي په الکتاب " مختصر القدوري " کي د کالو په هکله ذکر سوې ده د محمد رح څخه ئې روایت سوی دی . د ابو یوسف رح او ابوحنیفه رح څخه روایت سوی دی چي کم مقدار ئې دا دی چي د بدن زیاته برخه ئې پټه کړې وي نو پر توګ نه صحیح کیږي څکه چا چي پر توګ اغوستی وي په عرف کي هغه لڅ بلل کیږي مګر کوم کالي چي نه صحیح کیږي د قیمت په نظر سره ئې د خوراك غاړي په خلاصیږي اه . شیخ ابن الهمام په " فتح القدیر " کي ددې قول په تشریح کي (وروسته کومه خبره چي په کتاب کي ذکر سوې ده د محمد رح قول دی) ویلي دي : نو د پرتوګ ورکول کفایت کوي ، له هغه څخه یو روایت سوی دی چي دا یوازي د نر لپاره ، که ئې ښځي ته پرتوګ ورکړی نه صحیح کیږي څکه د هغې لمونځ په هغه کي نه صحیح کیږي .

(۲) د " الهدایې " مصنف په دغه آیت سره دلیل ویلی دی ، هغه ویلي دي دغه حدیث د مشهور حدیث په شان دی ، یعني په هغه سره د کتاب پر مطلق زیاتول روا دي ، ابوبکر الجصاص په " احکام القران ۲ ـ ۴۶۱ " کي ویلي دي : مجاهد د عبدالله بن مسعود‌ﷺ څخه او ابوالعالیه‌ﷺ د ابی څخه روایت کړی دی (فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ) ابراهیم النخعي ویلي دي زموږ په قراء ت کي (فصیام ثلاثة أیام متتابعات) دی

س : كه يو سړی قسم واخستی وروسته ئې وغوښتل چي قسم پر ځان واړوي مګر تر قسم اوښتلو مخكي ئې كفارت اداء كړی تر قسم اوښتلو وروسته دوهم ځل كفارت پر لازم دي ؟

ج : كه ئې تر قسم اوښتلو مخكي كفارت اداء كړی د هغه كفارت پر ځای نه درېږي كوم چي پر واجب سوی وي ، تر قسم اوښتلو وروسته ئې دوهم ځل اداء كول پر لازم دي (۱) .

دص ۵۰۱ پاته برخه : ابن عباس‌رضی الله عنه او مجاهدرح او ابراهيم‌رح او قتادہ‌رح او طاووس‌رح ويلي دي : هغه به پرله پسې وي بېلول ئې نه دي روا ، نو ددغو كسانو په قول سره پرله پسې والی ثابت سو ، تلاوت دی او مالك او شافعي ويلي دي بېلول په كښي روا دي اه . ابن الهمام په " فتح القدير " كي ددې قول (هغه د مشهور په شان دي) په تشريح كي ويلي دي ځكه د ابو حنيفه‌رح تر زمانې پوري مشهور وو او خكه ثابت نه دی چي كېدلای سي تلاوت منسوخ وي او حكم ئې ثابت وي ، دغه زموږ د اصحابو قول هغه ويلي دي : او شافعي ويلي دي : پرله پسې والی او بېلول ئې دواړه روا دي ځكه نص (آيت) مطلق دی او دغه د مالك قول دی ، په يو بل قول كي ئې پرله پسې والی شرط كړی دی او د امام احمدرح ظاهر مذهب هم دغه دی اه

(۱) په " الجوهره " كي ئې ويلي دي : دا زموږ په نزد ، امام شافعي ويلي دي : صحيح كيږي مګر كه ئې كفارت په روژو سره اداء كړی دده په نزد هم نه صحيح كيږي .

د دعوی کتاب

س : دعوی په عربي ژبه او اسلامي شریعت کي څه ته وايي ؟

ج : هغه د فعلی پر وزن معتل واوي دی او په عربي ژبه کي یو شی خپل خان ته منسوبه کولو ته ویل کیږي او په اسلامي شریعت کي د جګړې په وخت کي یو شی خپل خان ته منسوبه کولو ته ویل کیږي . کله چي له هغه څخه د افتعال باب مشتق کیږي تاء ئې په دال کي مدغمیږي ، ویل کیږي : ادعی ، یدعي ، ادعاء فهو مدع (۱) .

س : مدعي څوك دی ؟

ج : هغه څوك دی چي که دعوی پریږدي پر دعوی نه مجبوره کیږي .

س : مدعی علیه څوك دی ؟

ج : هغه هغه څوك دی چي پر دعوی مجبوره کیږي .

س : که یو څوك پر یو بل چا د یو شي دعوی وکړي ، یوازي د ده په دعوی سره به قاضي د ده دعوی قبلوي ؟

ج : قاضي به تر هغه وخت پوري د یو چا دعوی نه قبلوي تر څو یو داسي شيء ذکر کوي چي د هغه جنس او مقدار معلوم وي ، که هغه یو داسي شيء وو چي د مدعی علیه په لاس کي وو هغه ته ویل کیږي چي مجلس ته ئې حاضر کړي او دی هغه ته د دعوی لپاره اشاره وکړي او که هغه شيء حاضر نه وو مدعي ته ویل کیږي چي د هغه قیمت ذکر کړه او که مځکه ذکر کړي هغه ته ویل کیږي چي حدود ئې معلوم کړي او دا ذکر کړي چي د مدعی علیه په لاس کي ده او دی د هغه غوښتنه کوي او که یو حق وو د هغه په ذمه کي هغه دي یاد کړي او ودي وايي چي زه د هغه غوښتنه کوم .

---

(۱) د " البحر ۷-۱۹۹ " مصنف له " الکافي " څخه نقل کړي دي چي ویل کیږي ادعی زید علی عمرو مالاً (زید پر عمرو د مال دعوی وکړل) زید مدعي بلل کیږي ، عمرو مدعی علیه بلل کیږي او مال مدعی بلل کیږي او مصدر ئې ادعاء دی له دعا څخه مشتق دی د افتعال پر وزن . دعوی د فعلی پر وزن اسم دی او الف ئې د تانیث لپاره دی نو ځکه تنوین نه پر داخلیږي ، ویل کیږي دعوی باطلة و صحیحة (یعني باطله یا صحیح دعوی ده) جمع ئې دعاوی ده یوازي د واو په فتحه سره لکه فتوی او فتاوی اه .

س : كله چي دعوى صحيح سي قاضي به څه كوي ؟

ج : كله چي دعوى صحيح سي قاضي دي د مدعى عليه څخه د هغه په هكله پوښتنه وكړي كه هغه اقرار وكړي مدعي لره دي په هغه شي سره فيصله وكړي د كوم چي هغه دعوى كړې ده او كه هغه انكار وكړي قاضي دي له مدعي څخه د شاهدانو غوښتنه وكړي ، كه ئې هغه حاضر كړل د هغو تر شاهدي وروسته دي په هغه سره فيصله وكړي او كه مدعي د شاهدانو له حاضرولو څخه عاجزه سو او د خپل خصم (مدعي او مدعى عليه هر يو د هغه بل لپاره خصم بلل كيږي) د قسم غوښتنه ئې وكړل قاضي دي هغه ته قسم وركي ، كله چي هغه قسم واخلي قاضي دي د خپل خصم دعوى رد كړي او كه مدعى عليه له قسم څخه ډډه وكړل قاضي دي له قسم څخه د ډډه كولو په وجه پر هغه فيصله وكړي او كوم شيء چي د ده خصم ئې پر ده دعوى كړې ده هغه دي پر لازم كړي ، قاضي لره په كار ده چي ورته ووايي : زه درې ځله قسم درباندي عرضوم كه دي قسم واخستئ ته خلاص يې كه نه د كوم شي چي هغه دعوى درباندي كړې ده د هغه فيصله درباندي كوم ، كله چي درې ځله قسم ورته پيش كړي او هغه ډډه ځني وكړي فيصله دي پر وكړي (۱) .

س : كه قاضي له مدعي څخه د شاهدانو غوښتنه وكړل او هغه وويل زه شاهدان لرم حاضر دي مګر زه غواړم چي مدعى عليه ته قسم كښېښنول سي قاضي لره روا ده چي د ده په قول سره عمل وكړي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد د هغه د شاهدانو د وجود په وخت كي كوم چي د مدعي لپاره شاهدي اداء كوي مدعى عليه ته قسم نه ايښنول كيږي .

س : كه مدعى عليه د قسم څخه ډډه وكړل مدعي ته قسم وركول كيږي ؟

ج : هغه ته قسم نه وركول كيږي .

(۱) دغه تكرار خصاف د ډېر احتياط او د عذر د ښه څرګندولو لپاره ذكر كړى دى ، مذهب دا دى كه ئې تر يو خل وړاندي كولو وروسته فيصله پر وكړل صحيح ده ، دغه قول صحيح دى . وروسته خبره دا ده چي نكول كله كله حقيقي وي لكه چي ووايي قسم نه اخلم كله حكمي وي لكه چي سكوت وكړي ، كله چي دا معلومه سي چي كوم آفت لكه كڼوالى يا ګنګى والى نه لري دغه نكول د اول نكول حكم لري ، دغه قول صحيح دى ، له " الهدايه " څخه .

س : داسي شيان سته چي په هغو كي مدعى عليه ته قسم نه وركول كيږي ؟
ج : كه د نكاح دعوى وه په هغه كي منكر ته قسم نه وركول كيږي لكه چي رجوع (له طلاق څخه رجوع كول) ، فيء (په ايلاء كي رجوع) ، ايلاء ، مريي توب ، ام ولد ګرځول ، نسب ، ولاء ، حدود او لعان كي قسم نه وركول كيږي ، دا د ابو حنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي : د حدودواو لعان پرته په دغه ټولو شيانو كي قسم وركول كيږي .
س : كه دوو كسانو د يو شي دعوى وكړل چي د دريم سړي په لاس كي وو او هر يوه دا دعوى كول چي زما دى او دواړو شاهدان ودرول قاضي به څه كوي ؟
ج : د دواړو لپاره دي فيصله وكړي (۱) .
س : كه دوو كسانو هر يوه د يوې ښځي د نكاح دعوى وكړل او دواړو شاهدان ودرول څه حكم به كوي ؟
ج : قاضي دي په يوه ډله شاهدانو سره فيصله نه كوي ، د ښځي تصديق ته دي وګوري چي د چا تصديق كوي د هغه لپاره دي فيصله وكړي .
س : كه دوو كسانو هر يوه دعوى وكړل چي دغه مريى ئې له فلانكي څخه رانيولى دى او شاهدان ئې پر ودرول څرنګه فيصله ئې په منځ كي كيږي ؟
ج : هر يوه لره اختيار سته كه نيم مريى په نيم قيمت سره اخلي او كه ئې پريږدي كه قاضي په دغه سره فيصله وكړل او يوه وويل : نيم مريى په نيم قيمت سره نه اخلم بلكه فسخ غوره كوم هغه بل لره دا نسته چي ټوله واخلي ، كه هر يوه د رانيولو لپاره تاريخ ذكر كړى مريى د هغه يوه كيږي چي مخكي تاريخ ئې ذكر كړى وي (۲) او كه ئې تاريخ نه كړى ذكر مګر د يوه په لاس كي وو نو هغه ئې مستحق دى .
س : كه يوه له يو سړي څخه رانيول ذكر كړل او هغه بل بخښنه او هر يوه قبض له همدغه سړي څخه ذكر كړي او دواړو شاهدان ودرول او د يوه سره تاريخ نه وو چا لره فيصله كيږي ؟
ج : هغه يوه لره فيصله كيږي كوم چي رانيول ئې ذكر كړي وي .

(۱) يعني په نيمى دي فيصله وكړي نيمى د دغه ، نيمى د هغه ، له " الهدايه " څخه .
(۲) كه يوه تاريخ ذكر كړى ، هغه بل نه كړى ذكر ، هغه يو ئې مستحق دى چي تاريخ ئې ذكر كړى وي ، له " الهدايه " څخه .

س : که يو سړي له يو بل چا څخه د رانيولو دعوى وکړل او يوې ښځي دا دعوى وکړل چي هغه سړي دا د دغه شي په مقابل کي په نکاح کړې ده او دواړو شاهدان ودرول څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : دواړه برابر دي يوه لره پر هغه بل ترجيح نسته .

س : که يوه سړي د مثال په توګه له زيد څخه د ګرو او قبض دعوى وکړل او هغه بل د هغه له خوا څخه د بخښني او قبض دعوى وکړل او دواړو شاهدان ودرول د چا قول ته ترجيح ورکول کيږي ؟

ج : د ګرو څښتن اولى دى او د هغه قول ته ترجيح ورکول کيږي .

س : که دوو داسي کسانو د يو شي په هکله چي په لاس کي ئې نه وو د مطلق ملکيت دعوى وکړل او په تاريخ کي ئې اختلاف وو څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : کوم يو چي تاريخ ئې مخکي وي هغه مستحق دى .

س : که دواړو له يوه سړي څخه د رانيولو دعوى وکړل او پر دوو مختلفو تاريخو ئې شاهدان ودرول څه حکم لري ؟

ج : د لمړني تاريخ څښتن مستحق دى .

س : که دواړو له بيلو کسانو څخه د رانيولو دعوى وکړل او يو تاريخ ئې ذکر کړى څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : دواړه برابر دي يوه لره پر هغه بل ترجيح نسته (۱) .

س : که دوه کسان وه يو خارج اليد (هغه څوك چي قابض نه وي) وو او يو صاحب اليد (هغه څوك چي د هغه شي قابض وي) وو اول د هغه شي پر ملکيت شاهدان ودرول او تاريخ ئې ورسره ذکر کړى او صاحب اليد د هغه پر ملکيت شاهدان ودرول او له هغه څخه مخکي تاريخ ئې ذکر کړى کوم يو اولى دى ؟

ج : د مخکني تاريخ څښتن اولى دى .

س : که يو حيوان د يو سړي په لاس کي وو او دا دعوى ئې کول چي د ده ملکيت دى او بل سړى خارج اليد وو هغه هم دا دعوى کـول چـي د ده ملکيت دى او دواړوشاهدان

---

(۱) زيلعي د کنز په شرح (٤-٣١١٩) کي ويلي دي يعني که هر يوه له بيلو کسانو څخه پر رانيولو شاهدان ودرول دواړه برابر دي او هغه شيء ئې په منځ کي نيمي کيږي .

ودرول چي د ده په نزد پيدا سوی دی کوم يوه لره په هغه سره فيصله کيږي ؟
ج : صاحب اليد لره فيصله کيږي ځکه هغه اولی دی .
س : يوه سړي د يو کالي دعوی کول او خارج اليد وو او بل سړي دعوی کول او صاحب اليد وو او هر يوه پر دې شاهدان ودرول چي ده اودلی دی چا لره په هغه سره فيصله کيږي ؟
ج : کوم کالی چي صرف يو ځل اودل کيږي په هغه کي صاحب اليد لره فيصله کيږي دغه رنګه د ملکيت هر هغه سبب چي نه مکرر کيږي په ذکر سوي مسئله کي د دغه اودل سوي کالي حکم لري .
س : که خارجي پر مطلق ملکيت شاهدان ودرول او صاحب اليد پر دې شاهدان ودرول چي له ده څخه ئې رانيولي دي (١) کوم يوه لره فيصله کيږي ؟
ج : صاحب اليد لره فيصله کيږي .
س : که دوو کسانو هر يوه دعوی وکړل چي له خپل ملګري څخه ئې شيء رانيولی دی او هر يوه پر دغه شاهدان ودرول او د يوه سړي سره تاريخ نه وو څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟
ج : يوه لره فيصله نه کيږي او دواړي ډلي د شاهدانو ساقطيږي .
س : که دوو کسانو پر يو شي دعوی وکړل او دواړو شاهدان ودرول مګر يوه لره څلورو شاهدانو شاهدي اداء کړل او هغه بل لره دوو شاهدانو يوې ډلي ته پر هغه بلي ترجيح ورکول کيږي ؟
ج : دواړي ډلي برابري دي يوې ته پر هغه بلي ترجيح نه ورکول کيږي .
س : که دوو کسانو پر يو چا د قصاص دعوی وکړل او مدعی عليه ځني منکره سو څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟
ج : مدعی عليه ته قسم ورکول کيږي ، له نفس څخه کښته په نورو حدودو کي که ئې له قسم څخه ډډه وکړل قصاص پر لازميږي او که ئې په نفس کي له قسم څخه ډډه وکړل بندي کيږي تر څو اقرار کوي يا قسم اخلي . دا د ابو حنيفه رح په نزد صاحبينو رح ويلي دي : په دواړو صورتو کي ارش (تاوان) پر لازميږي .

---

١ يعني په [illegible] خارجي څخه

س : که مدعي وويل زه په ښار کي شاهدان لرم حاضر دي ان شاء الله را حاضر به ئې کړم څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : قاضي به ئې خصم ته وايي د خپل ځان لپاره د درو ورځو لپاره کفيل ورکړه ، که ئې داسي وکړل خو ښه دی که نه مدعي ته دي امر وکړي چي مه ځني جلا کيږه مګر نه که لاره نه وه ورته معلومه نو د قاضي د مجلس په قدر دي ورسره وي .

س : که يو سړي پر يو چا د يو شي دعوی وکړل او مدعی عليه وويل : ماته دغه شیء فلانکي سړي چي حاضر نه دی په امانت ايښی دی يا ئې راته ګرو کړی دی يا مي ځني غصب کړی دی څه حکم لري ؟

ج : که مدعی عليه پر خپله خبره شاهدان ودرول نو د ده او مدعي تر منځ دعوی نسته(۱)

س : که مدعی عليه وويل د فلانکي سړي څخه مي رانيولی دی او هغه سړی حاضر نه وو . ـ مدعي لپاره خصم ګڼل کيږي ؟

ج : هو په دغه صورت کي ئې خصم کيږي (۲) .

س : که د يو سړي سره يو شیء وو او بل يوه دعوی وکړل چي له ده څخه غلا سوی دی او شاهدان ئې پر ودورل او صاحب اليد وويل : فلانکي د وديعت په توګه راسره ايښی دی او شاهدان ئې پر ودرول په دغه سره جګړه پورته کيږي ؟

ج : نه پورته کيږي .

س : که يو سړی صاحب اليد وو ، يو شیء ورسره وو او دا دعوی ئې کول چي فلانکي د وديعت په توګه ورسره ايښی دی او بل سړي وويل دغه شیء ما د فلانکي څخه رانيولی دی دغه جګړه څه حکم لري ؟

ج : بيله شاهدانو د دوی په منځ کي جګړه پورته کيږي .

په يوه کور کي د دوو سړيانو دعوی

س : که يو کور د يو سړي په لاس کي وو دوو سړيانو دعوی په وکړل يوه ئې د ټوله دعوی

---

(۱) ځکه ده دا ثابته کړل چي د ده لاس د جګړي لاس نه دی ، يوازي د ده په دعوی سره جګړه نه ځني پورته کيږي تر څو چي شاهدان دروي .

(۲) ځکه کله چي ده دعوی وکړل چي دی ئې مالک دی په دې سره ئې اقرار وکړی چي خصم ئې دی ، له الجوهره ـ څخه .

وکړل او هغه بل ئې د نيمي دعوی وکړل او دواړو شاهدان پر ودرول څرنګه فيصله ئې په منځ کي کيږي ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي هغه د دوی په منځ کي په څلرمو سره ويشل کيږي درې څلورمي هغه لره دي چي د ټوله دعوی کوي او يوه څلرمه هغه لره ده چي د نيمي دعوی کوي او صاحبينو رح ويلي دي هغه د دوی په منځ کي په دريمو سره ويشل کيږي (١) .

س : او که کور د دوی په لاس کي وو او نوره مسئله په دغه ډول وه څرنګه ئې په منځ کي فيصله کيږي ؟

ج : د ټوله دعوی کونکي ته نيمی برخه د قاضي د فيصلې په توګه ورسپارل کيږي او نيمه برخه بيله فيصلې ورسپارل کيږي (٢) .

پر يو حيوان د دوو سړيانو دعوی

س : که دوو سړيانو په يو حيوان کي جګړه سره وکړل او هر يوه دا دعوی وکړل چي د ده په نزد زيږيدلی دی او هر يوه يو تاريخ ذکر کړی چا لره په هغه سره فيصله کيږي ؟

ج : هغه يوه لره فيصله کيږي چي تاريخ ئې د حيوان د عمر سره سمون خوري او که دا مشکله وه هغه د دوی تر منځ نيمی دی (٣) .

س : که دوو سړيانو په يو حيوان کي جګړه سره وکړل يو پر سپور وو او بل تر کيزه نيولی وو د چا حق کيږي ؟

ج : سپور ئې زيات مستحق دی .

س : که ئې په يو اوښ کي جګړه سره وکړل يو بار پر بار کړی وو او بل يوازي دعوی په کړې وه د چا حق کيږي ؟

ج : د بار څښتن د هغه ډير مستحق دی .

---

(١) دوې دريمي د هغه يوه دي چي د ټوله دعوی ئې کړې ده او يوه دوريمه د هغه يوه ده چي د نيمي دعوی ئې کړې ده .

(٢) هغه برخه چي د شريك په لاس کي ده يعني هغه پريښول کيږي دهغه لپاره نه ټاکل کيږي . له " الجوهره " څخه .

(٣) څکه وخت معلوموول له منځه ولاړل او داسي ګڼل کيږي لکه چي تاريخ ئې نه وي ذکر کړی . له " الجوهره " څخه .

د دوو سړيانو په يو قميص کي دعوی

س که دوو سړيانو په يو قميص کي دعوی وکړل يوه اغوستی وو او يوه تر لستوني نيولی وو چا لره به هغه سره فيصله کيږي ؟

ج : اغوستونکی تر هغه بل ډير مستحق دی .

د خرڅونکي او رانيونکي په منځ کي دعوی

س کله کله د خرڅونکي او رانيونکي تر منځ په قيمت يا خرڅ سوي شي کي اختلاف پيدا کيږي نو چا لره به فيصله کيږي ؟

ج : هغه لره مختلف صورتونه دي او د هغو په اختلاف سره حکم مختلف کيږي نو راتلونکي احکام په ياد ولره :

۱ :- که رانيونکي د يو قيمت دعوی وکړل او خرڅونکي له هغه څخه د زيات دعوی وکړل يا خرڅونکي د خرڅ سوي شي د يو مقدار دعوی وکړل او رانيونکي له هغه څخه د زيات دعوی وکړل او شاهدان ئې ودرول د هغه لپاره فيصله په هغه سره کيږي .

۲ :- که دواړو شاهدان ودرول هغه شاهدان اولی دي چي زياتوب ثابتوي .

۳ :- که يوه لره هم شاهدان نه وه رانيونکي ته ويل يا به په هغه قيمت سره راضي کيږې کوم چي بائع ئې دعوی کړې ده يا بيع فسخ کوو او خرڅونکي ته ويل کيږي يا به د خرڅ سوي شي هغه مقدار ورتسليموې چي رانيونکي ئې دعوی کړې ده يا بيع فسخ کوو که نه سول سره راضي قاضي دي هر يوه ته د هغه د دعوی لپاره قسم ورکړي او له رانيونکي څخه دي قسم شروع کړي ، قاضي دي بيع فسخ کړي او که له دوی دوو څخه يوه له قسم څخه ډډه وکړل د هغه بل دعوی پر لازميږي .

٤ :- که ئې په مده کي يا ئې د شرط په خيار کي يا د قيمت د يوې برخي په اخستلو کي اختلاف وکړی دواړو ته قسم نه ورکول کيږي ، د قسم سره د هغه يوه خبره منل کيږي چي له خيار او مدې څخه منکره وي .

٥ :- که خرڅ سوی شیء هلاك سو وروسته ئې په قيمت کي اختلاف وکړی د ابو حنيفه رح او ابو يوسف رح په نزد دواړو ته قسم نه ورکول کيږي په ثمن (هغه مبلغ چي سودا پر شي پر قيمت سوې وي) کي د رانيونکي خبره منل کيږي ، محمدرح ويلي دي او بيع د هلاك سوي شي پر قيمت فسخ کيږي .

۶ :- او که یو مړیی هلاك سو وروسته ئې په قیمت ئې اختلاف وکړی د ابو حنیفه رح په نزد یوازي هغه وخت دواړو ته قسم ورکول کیږي چي خرڅونکی د هلاك سوي برخه پریږدي صاحبینو رح ویلي دي دواړو ته قسم ورکول کیږي او د ژوندي په هکله او هلاك سوي د قیمت په هکله بیع فسخ کیږي .

د میړه او ماینې دعوی

س : کله کله میړه او ماینه په مهر کي اختلاف سره کوي کوم یوه لره فیصله کیږي ؟

ج : په هغه کي تفصیل دی ، په لاندي توګه ئې په یاد ولره :-

۱ :- که میړه دعوی وکړل چي په زر ئې په نکاح کړې ده او ښځي وویل چي په دوه زره ئې په نکاح کړې یم کوم یوه چي شاهدان وړاندي کړل د هغه شاهدان قبلیږي .

۲ :- که دواړو شاهدان ودرول د ښځي شاهدان قبلیږي .

۳ :- که ئې شاهدان نه درلودل د ابو حنیفه رح په نزد دواړو ته قسم ورکول کیږي او نکاح ئې نه فسخ کیږي او په مهر مثل سره فیصله کیږي . که مهر مثل دومره وو چي میړه اقرار په کوي یا له هغه څخه کم وو د میړه په خبره فیصله کیږي او که دومره وو چي ښځي ئې دعوی کړې وه یا له هغه څخه زیات وو په هغه قدر فیصله کیږي چي هغې دعوی کړې ده او که مهر مثل له هغه څخه زیات وو چي میړه اقرار په کړی وو او له هغه څخه کم وو چي ښځي ئې دعوی کړې وه په مهر مثل سره فیصله کیږي .

س : کله کله د میړه او ماینې په منځ کي د کور په سامان کي اختلاف پیدا کیږي نو په منځ کي ئې څرنګه فیصله کیږي ؟

ج : کوم شیء چي د سړیانو (۱) لپاره وي هغه د سړي دی او کوم شیء چي د ښځو (۲) لپاره وي هغه د ښځي دی او کوم چي د دواړو (۳) لپاره وي هغه د سړي دی . دا هغه وخت که دوی ژوندی وه او په منځ کي ئې اختلاف پیدا سو . که له دوی دوو څخه یو مړ سو او د هغه وارثانو د هغه بل سره اختلاف وکړی کوم چي د نرو او ښځو دواړو لپاره

---

(۱) لکه لنګوټه ، آس ، لیندی او اسلحه .

(۲) لکه د ښځو زیور ، غوږ والي او وریښمو کالي .

(۳) لکه چارپایي ، بوریا او لوښي خکه دا څرګنده خبره ده چي د کور په سامان کي نر تصرف کوي او زانیسي ئې نو د هغه تصرف په کښي ښکاره دی . له " الجوهره " څخه .

وي هغه د ژوندي دی ، دا د ابو حنيفه رح قول دی او ابو يوسف رح ويلي دي کوم سامان
چي دغه رنګه ښځي ته ورکول کېږي هغه ښځي ته ورکول کېږي او پاته د قسم سره د
ميړه دی (۱) .

د موجر (په کرايه ورکونکی) او مستاجر (په کرايه اخستونکی) دعوی

س : کله کله د موجر او مستاجر په منځ کي اختلاف پيدا کېږي نو په منځ کي ئې څرنګه
فيصله کېږي ؟

ج : هغه لره مختلف صورتونه دي نو احکام ئې په راتلونکي ډول په ياد ولره :

۱ :- کوم شیء چي عقد ئې پر کړی وي که د هغه څخه تر استفادې مخکي دوی په کرايه
کي اختلاف وکړي دواړو ته دي قسم ورکول سي او هغه شیء او کرايه دي واپس يو بل
ته ورکړي .

۲ :- که ئې د هغه له استفادې څخه وروسته اختلاف وکړی دواړو ته قسم نه ورکول
کېږي د قسم سره د مستاجر خبره منل کېږي .

۳ :- که د معقود عليه د يوې برخي څخه تر استفادې وروسته ئې اختلاف سره وکړی
دواړو ته قسم ورکول کېږي او په پاته برخه کي عقد فسخ کېږي او په تيره برخه کي د
قسم سره د مستاجر خبره منل کېږي .

د بادار او مکاتب په منځ کي د کتابت په مال کي اختلاف

س : کله کله د بادار او مکاتب په منځ کي د کتابت د مال په مقدار کي اختلاف پيدا
کېږي نو د چا خبره منل کېږي ؟

ج : ابو حنيفه رح ويلي دي د کتابت په بدل کي د قسم سره د مکاتب خبره منل کېږي او
دواړو ته قسم نه ورکول کېږي ، صاحبينو رح ويلي دي دواړو ته قسم ورکول کېږي او
کتابت فسخ کېږي .

مينځه چي تر خرڅولو وروسته کوچنی وزېږوي د هغه د نسب دعوی

س : کله داسي پېښېږي چي يو سړی يوه مينځه خرڅه کړي او د رانيونکي په نزد يو

(۱) د ابو حنيفه رح په نزد طلاق او مرګ برابر دی څکه وارثان د ده پر ځای ولاړ دي محمد رح ويلي دي
کوم شیء چي د نرو لپاره وي هغه د سړي دی او کوم چي د ښځي لپاره وي هغه د ښځي دی او کوم چي
د دواړو لپاره وي هغه د سړي يا د هغه د وارثانو دی . له " الجوهره " څخه

کوچنی وزیږوي او خرڅونکی دا دعوی وکړي چې زما زوی دی . له هغه څخه ئې نسب ثابتیږي ؟

ج : که یو سړي یوه مینځه خرڅه کړل او هغې کوچنی وزیږوی او خرڅونکي ئې دعوی وکړل که ئې د خرڅولو له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کمه مده کي وزیږوی هغه د خرڅونکي زوی دی او مور ئې د ده ام الولد ګڼل کیږي او بیع فسخ کیږي او قیمت ئې بیرته ورکول کیږي .

س : که ئې د خرڅونکي د دعوی سره یا له هغه څخه وروسته رانیونکی دعوی وکړي او د خرڅولو له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کمه مده کي کوچنی وزیږوي دغه هلك د چا کیږي ؟

ج : هغه د خرڅونکي کیږي .

س : که ئې د خرڅولو له ورځي څخه تر شپږو میاشتو زیاته مده کي وزیږوی د خرڅونکي دعوی په هغه کي منل کیږي ؟

ج : که ئې له شپږو میاشتو څخه زیاته او دوو کالو څخه په کمه مده کي وزیږوی په دغه صورت کي د خرڅونکي دعوی صرف هغه وخت منل کیږي که ئې رانیونکی تصدیق وکړي .

س : که مینځي د رانیولو له تاریخ څخه تر شپږو میاشتو په کم کي د رانیونکي په نزد کوچنی وزیږوی مګر هغه مړ سو او خرڅونکي تر مرګ وروسته دعوی وکړل نسب ئې څني ثابتیږي ؟

ج : نه ئې د کوچني نسب ثابتیږي نه د هغه هلك مور ام ولد ګرځي .

س : که ئې مور مړه سول او خرڅونکي ئې د هلك د نسب دعوی وکړل او هغه له شپږو میاشتو څخه په کمه مده کي زیږولی وو د هغې نسب څني ثابتیږي ؟

ج : د هلك نسب له بائع (خرڅونکی) څخه ثابتیږي او هغه به ئې اخلي او د ابو حنیفه رح په قول کي به قیمت ټوله بیرته ورکوي ، صاحبینو رح ویلي دي د هلك برخه به بیرته ورکوي او د مور برخه به ئې نه ورکوي .

س : که یوې مینځي دوه غبرګولیان وزیږول او بادار ئې د یوه دعوی وکړل چي زما څخه دی د هغه بل نسب له ده څخه پورته کیږي ؟

ج : نه پورته کیږي بلکه د هغو نسب له ده څخه ثابتیږي .

د قسم ورکولو فصل

س : مدعی علیه ته څرنګه قسم ورکول کیږي ؟

ج : په هغه کي تفصیل دی په راتلونکي ډول ئې په یاد ولره :

١ :- مسلمان ته یوازي په الله ﷻ سره قسم ورکول کیږي ، د الله ﷻ په صفتو سره قسم ټینګول روا دي او پر مسلمان باندي په زمانه یا ځای سره قسم ټینګول واجب نه دي .

٢ :- یهودي ته داسي قسم ورکول کیږي چي ستا دي قسم وي په الله ﷻ سره هغه چي پر موسی ئې تورات نازل کړی دی .

٣ :- نصراني ته داسي قسم ورکول کیږي چي ستا دي قسم وي په الله ﷻ سره هغه چي انجیل ئې پر عیسی نازل کړی دی .

٤ :- مجوسي ته داسي قسم ورکول کیږي چي ستا دي قسم وي په الله ﷻ سره هغه چي اور ئې پیدا کړی دی .

٥ :- د هغوی د عبادت په کورو سره قسم نه ورکول کیږي .

د قسم ورکولو ځیني صورتونه زده کړه

١ :- که یو چا دعوی وکړل چي له دغه سړي ښځه ئې د هغه مړیی په زر رانیولی دی او هغه ځني منکر سو داسي قسم ورکول کیږي چي په الله مي قسم چي زما او د ده په منځ کي ولاړه سو دا بسته ، داسي قسم نه ورکول کیږي چي په الله مي قسم چي پر ده مي نه دی خرڅ کړی .

٢ :- هغه څوك چي د غصب دعوی په سوې وي داسي قسم ورکول چي چي په الله مي قسم پر ما د دغه شي یا د هغه د قیمت د واپسولو حق نه لري ، داسي قسم نه ورکول کیږي چي په الله ﷻ مي قسم نه مي دی غصب کړی .

٣ :- په نکاح کي داسي قسم ورکول کیږي چي په الله ﷻ مي قسم زموږ په منځ کي په اوس کي ولاړه نکاح نسته (١) .

٤ :- د طلاق په دعوی کي داسي قسم ورکول کیږي چي په الله ﷻ مي قسم په اوس کي د دغه وجه ښځه چي دې ذکر کړې ده (٢) زما ښځه پرې نه ده . داسي قسم نه ورکول کیږي

(١) دا د هغه چا په قول کي چي وائي په نکاح کي قسم ورکول کیږي ، له " الجوهره " ښځه .

چي په الله ﷻ مي قسم چي نه مي ده طلاقه کړې .

ص ٥١٤ پاته برخه : (٢) دغه ټکی (د دغه وجه چي دې ذکر کړې ده) ، ئې څکه ذکر کړی چي له هغه ورت ځخه ساتنه راسي چي دا مرتده سوې وي يا ئې د ميړه زوی ته خپل ځان د جماع لپاره سپارلی يا وروسته دا دعوی وکړي چي تر جماع وروستــه ئې طلاق راکړی دی تر څو په عده کي د نفقې ښتنه وکړي يا تر جماع مخکي دغه دعوی وکړي تر څو د نيم مهر غوښتنه وکړي ، نو که ميړه په مه توګه بيلتون ذکر کړي درواغجن ګڼل کيږي .

د شهادتو کتاب

س : په سپيڅلي شريعت کي شهادت څه حکم لري ؟

ج : پر شاهدانو شاهدي اداء کول فرض دي تر څو حقوق را ژوندي سي او له ضائع کېدلو څخه وژغول سي ، که د حق څښتن د شاهدي ورکولو غوښتنه څني وکړل پټول ئې ورته روا نه دي ، الله تعالى ويلي دي ﴿ وَ لَا تَكْتُمُوْا الشَّهَادَةَ وَ مَنْ يَكْتُمْهَا فَاِنَّهُ اٰثِمٌ قَلْبُهُ ﴾ (او شاهدي مه پټوئ او څوک چي ئې پټه کړي زړه ئې ګناه کاره دی) دا په حقوقو کي او په حدودو کي شاهد ته اختيار سته چي پټوي ئې يا ئې ښکاره کوي او پټول ئې افضل دي مګر په غلا کي د مال شاهدي واجبه ده نو داسي به وايي چي مال ئې اخستی دی داسي به نه وايي چي غلا کړی ئې دی .

س : شاهدي لره مرتبې سته ؟

ج : شاهدي څو مرتبې لري :-

١ :- د زنا شاهدي په هغه کي د څلورو سړيانو شاهدي په کار ده او د ښځي شاهدي په هغه کي نه قبليږي .

٢ :- د قصاص او نورو حدودو شاهدي ، په هغه کي د دوو سړيانو شاهدي قبليږي او د ښځي شاهدي په هغه کي نه قبليږي .

٣ :- له هغه څخه پرته نور حقوق که مال وي که پرته له مال څخه بل شيء وي لکه نکاح او طلاق او وکالت او وصيت په هغه کي د دوو سړيانو يا يوه سړي او دوو ښځو شاهدي قبليږي .

۴ :- زيږېدل ، پيغلتوب او د ښځو هغه عيبونه چي نر نه په خبريږي په هغو کي د يوې ښځي شاهدي قبليږي .

س : د شاهدي د قبليدلو لپاره کوم شرط سته ؟

ج : د شاهدي په ټولو قسمو کي عدل او د شهادت لفظ شرط دی ، که شاهد د شهادت لفظ ذکر نه کړی د اعلم (زه خبر يم) يا اتيقن (زما يقين دی) لفظ ئې ذکر کړی شاهدي ئې نه قبليږي .

په ظاهري عدل سره کفايت کيږي که په پټه او ښکاره کي د شاهدانو په هکله ... تښش کيږي ؟

...ابو حنيفه رح ويلي دي د حدودو او قصاص پرته به حاکم د شاهدانو پر ظاهري عدل ... کفايت کوي ، په حدودو او قصاص کي به د هغوی په هکله پوښتنه کوي ، دغه رنګه که ... خصم هغوی معيوب وبلل د هغوی په هکله به پوښتنه کوي ، صاحبينو رح ويلي دي د ... هغوی په هکله په پټه او ښکاره کي پوښتنه کول ضروري دي .

د کوم چا شاهدي قبليږي او د کوم چا شاهدي نه قبليږي

... داسي څوك سته چي شاهدي ئې نه قبليږي ؟

... هو داسي څوك سته چي شاهدي ئې نه قبليږي :

...- د ړانده شاهدي نه قبليږي .

...- د مريي يا مينځي شاهدي نه قبليږي .

...- څوك چي د قذف حد پر جاري سوی وی که څه هم توبه وکاږي شاهدي ئې نه قبليږي .

...- د موراو پلار او نيکه ګانو لپاره يا داولاد او د اولاد داولاد لپاره شاهدي نه قبليږي .

...- د ميړه او مايني څخه د يوه شاهدي د هغه بل لپاره نه قبليږي .

...- د بادار شاهدي د خپل مريي يا مکاتب لپاره نه قبليږي .

...- د شريك شاهدي په داسي شي کي چي هغه په کښي شريك وي نه صحيح کيږي .

...- هغه نر چي د ښځي په رنګه وي د هغه شاهدي نه قبليږي .

...- د نائحې (هغه ښځه چي پر مړو غم کوي) شاهدي نه قبليږي .

١...- د سندر غاړي ښځي شاهدي نه قبليږي .

١...- څوك چي په دائمي توګه د غفلت لپاره شراب څښي د هغه شاهدي نه قبليږي (١).

١...- څوك چي په مرغانو لوبي کوي د هغه شاهدي نه قبليږي .

١...- څوك چي د خلګو لپاره سندري وايي د هغه شاهدي نه قبليږي .

١...- نه د هغه چا چي يوه لويه ګناه کوي په خاصه توګه داسي ګناه چي حد ولري .

(...) يعني د خمر څخه پرته نور شراب څکه د خمر يو ځل څښل عدالت ساقطوي که څه هم د غفلت لپاره ... اِي ، په دائمي توګه څښل د دې لپاره شرط سول چي ښکاره سي ، له " الجوهره " څخه .

۱۵ - نه د هغه چا چې بیله لنګ څخه حمام ته داخلیږي .

۱۶ - نه د هغه چا چې ګټه (سود) خوري .

۱۷ - نه د هغه چا شاهدي قبلیږي چې په نرد (یو قسم لوبه ده) او سطرنج سره خمار کوي .

۱۸ - نه د هغه چا شاهدي قبلیږي چې سپک کارونه کوي لکه په لاره کې بولي کول یا د تنګ په وخت کې خوړک کول

۱۹ - نه د هغه چا شاهدي قبلیږي چې مخکنیو علماوو ته په ښکاره توګه ښکنځل کوي

۲۰ - د حربي کافر (۱) (هغه کافر چې د کفر په هیواد کې اوسیږي) شاهدي پر ذمي نه قبلیږي

۲۱ - د دنیوي دښمن شاهدي پر هغه چا نه قبلیږي چې دښمني ورسره کوي (۲) .

س - اوس غواړو چې پوه سو د چا شاهدي قبلیږي او نه ردیږي .

ج - کوم کسان چې په راتلونکي کې یې ذکر کوو هغه په یاد ولره :-

۱ - د ورور او تره لپاره د سړي شاهدي صحیح کیږي .

۲ - د خطابیه (۴) پرته د نورو مبتدع کسانو (۳) (هغه کسان چې مسلمانان وي او غلطې عقیدې ولري) شاهدي قبلیږي

---

* په ... کې یې دا خبره بیان نه کړې ده یا لمونځ څخه تیرېږي .

(۱) نه حربي څخه هغه حربي مراد دی چې د اسلام هیواد ته په امن راغلی وي د مستامن شاهدي پر مستامن قبلیږي که له یوه هیواد څخه وي . که د بیلو بیلو هیوادو څخه وه لکه روم او ترک نه قبلیږي . نه الجوهره څخه

(۲) ځکه د دښمن لپاره دښمني حرامه ده ، نو څوک چې یې کوي پر هغه باور نه کیږي چې دروغ پر ووایي او که دیني دښمني وه شاهدي یې قبلیږي ځکه دیني دښمني د دین برخه ده نو هغه د ده د دین پر ښکوالي او عدالت دلالت کوي . نه شرح الزیلعي علی الکنز ۴-۲۲۱ څخه

(۳) په الجوهره کې یې د شاهدي د قبلولو لپاره دا شرط کړی دی چې داسې عقیده به نه وي چې خپل ځان په کافر کړي . زیلعي د الکنز په شرح کې دا خبره ذکر کړې ده

(۴) هغه ... یوه ډله ده چې ابو الخطاب محمد بن وهب الاجدع ته منسوبه ده او د کوفې یو سړی وو دا عقیده یې درلودل چې علي لوی اله دی او جعفر صادق کوچنی اله دی امیر عیسی بن موسی ووژل او په دار یې کړل . له الجوهره څخه

۳ - د ذميانو شاهدي يو پر بل قبليږي (۱) .

٤ - کوم څوك چي ښه عملونه ئې پر بدو عملو زيات وي که ئې له لويو ګناهو څخه پرهيز کوی شاهدي ئې قبليږي که څه هم کوچنۍ ګناه وکړي .

٥ - څوك چي ختنه ئې نه وي سوې يا خصي وي يا د زنا څخه زيږيدلی وي د هغو شاهدي قبليږي .

٦ - د ذمي شاهدي پر حربي چي مستامن وي قبليږي څرنګه چي د مسلمان شاهدي پر حربي او ذمي قبليږي .

فائده

۱ - که شاهدي د دعوی سره برابره وي قبليږي که نه نه قبليږي .

۲ - د ابو حنيفه رح په نزد په الفاظو او معنی دواړو کي د شاهدانو د شاهدي يو والی ضروري دی (۲) .

د شاهدانو يو له بل سره موافقت او مخالفت

س کله کله شاهدان په شاهدي کي يو له بل سره اختلاف کوي د مثال په توګه يو په زرو شاهدي اداء کړي بل په دوو زرو په دغه شاهدي سره څرنګه عمل کيږي ؟

ج د ابو حنيفه رح په نزد ئې شاهدي نه قبليږي ، صاحبينو رح ويلي دي په زرو سره ئې شاهدي قبليږي .

س که يوه شاهد په زرو سره شاهدي اداء کړل او بل په يو زر او پنځه سوه او مدعي د پنځلس سوو دعوی کول ، دغه دوې شاهدي څه حکم لري ؟

ج په زر سره ئې شاهدي قبليږي .

س که دوو شاهدانو په زرو سره شاهدي اداء کړل مګر يوه وويل له هغه څخه ئې پنځه

---

۱ که څه هم ئې دينونه سره مختلف وي ، هغوی يهود ، نصاری او مجوس دي کله چي جزيه پر وتاکل سي او ذمه ورکړل سي ، پر مسلمان ئې شاهدي نه قبليږي او د مسلمان شاهدي پر ذمي قبليږي خکه مسلمان د ذمي په دښمني کي پر حق دی نو د هغه شاهدي پر قبليږي او ذمي د مسلمان په دښمني کي باطل دی نو شاهدي ئې نه پر قبليږي . له " الجوهره " څخه .

۲ صاحبينو رح ويلي دي يوازې په معنی کي يو والی ضروري دی . زيلعي د " الکنز " په شرح کي ذکر کړی دی .

سوه اداء کړي دي ، په دغه صورت کي په څه سره فیصله کیږي ؟
ج : په زر سره فیصله کیږي او پر هغه د دوی شاهدي قبلیږي ، د هغه خبره چي پنځه سوه ئې له هغو څخه اداء کړي دي هغه وخت منل کیږي چي هغه بل هم شاهدي ورسره اداء کړي . شاهد که په دغه خبر وو هغه لره په کار ده چي تر څو مدعي په دې سره اقرار نه وي کړی چي پنځه سوه ئې قبض کړي دي په زرو سره شاهدي نه کړي اداء .
س : که دوو شاهدانو شاهدي اداء کړل چي زید د لوی اختر په ورځ په مکه کي ووژل سو او نورو دوو کسانو شاهدي اداء کړل چي د لوی اختر په ورځ په کوفه کي ووژل سو او د حاکم په نزد سره یو ځای سول د هغوی په منځ کي څرنګه فیصله کیږي ؟
ج : دواړي شاهدي دي رد کړي .
س : که یوه ډله شاهدان مخکي حاکم ته حاضر سول او هغه د دوی په شاهدي سره فیصله وکړل وروسته نور دوه شاهدان حاضر سول خپل حکم به فسخ کوي ؟
ج : کله چي په لمړی شاهدي سره فیصله وسي دوهمه شاهدي نه قبلیږي او فیصله نه فسخ کیږي .

په اوریدلو سره شاهدي اداء کول

س : شاهد لره روا ده چي په داسي شي سره شاهدي اداء کړي چي لیدلی ئې نه وي ؟
ج : بېله نسب ، مرګ ، نکاح ، میړه د مابنې سره یو ځای والی او د قاضي د ولایت په نورو شیانو سره نه دي روا ، په دغو شیانو سره که داسي سړی خبر ورکړي چي دی باور په لړي شاهدي اداء کول روا دي (۱) .

پر شاهدي شاهدي

س : پر شاهدي شاهدي په شریعت کي سته که نه ؟ که سته صورت ئې څرنګه دی ؟ او د هغه لپاره شاهدول ضروري دي ؟
ج : کوم شیء چي شاهد ئې زده کوي دوه ډوله دي یو هغه دی چي حکم ئې خپله ثابتیږي لکه خرڅول ، په کرایه ورکول ، نکاح ، اقرار ، غصب ، قتل او د حاکم فیصله ، کله چي

(۱) دا شرط دی چي دوه عادل سړیان یا یو سړی دوې ښځي به خبر ورکوي او د ده په زړه کي به د هغوی رښتیني توب واقع کیږي او دا شرط دی چي خبر ورکول به د شهادت په لفظ سره وي ، دغه رنګه خصاف ذکر کړي دي ، له " الجوهره " څخه .

شاهد دغه واوري يا ئې ووينې په هغه سره شاهدي اداء کول ورته روا دي که څه هم پر شاهد سوی نه وي ، داسي به وايي چي زه شاهدي اداء کوم چي خرڅ ئې کړی . داسي به نه وايي چي زه ئې پر شاهد کړم دوهم هغه قسم ده چي حکم ئې خپله نه ثابتيږي هغه پر شاهدي شاهدي ده ، کله چي څوك له يو شاهد څخه واوري چي په يو شي سره شاهدي اداء کوي د هغه لپاره تر هغه وخت پوري نه ده روا چي شاهدي اداء کړي تر څو دی د هغه لپاره شاهدوي ، دغه رنګه که ئې له يو چا څخه واوريدل چي يو چا پر خپله شاهدي شاهد دروی د اوريدونکي لپاره نه ده روا چي په هغه سره شاهدي اداء کړي . هر حق چي په شبهه سره نه ساقطيږي په هغه کي پر شاهدي شاهدي روا ده . په حدودو او قصاص کي نه قبليږي ، د دوو کسانو شاهدي د دوو کسانو پر شاهدي روا ده او د يوه شاهدي د يوه پر شاهدي نه ده روا .

س : د شاهد درولو ډول بيان کړئ .

ج : هغه دا دی چي اصلي شاهد فرعي شاهد ته د مثال په توګه ووايي زما پر شاهدي شاهدي اداء کړه چي زه شاهدي اداء کوم چي فلانکي د فلانکي زوی زما په نزد په دې سره اقرار وکړی او زه ئې پر خپل ځان شاهد کړم ، که ئې دا خبره ونه کړل چي زه ئې پر خپل ځان شاهد کړم هم صحيح کيږي .

س : کله چي فرعي شاهد غواړي چي شاهدي اداء کړي څه به وايي ؟

ج : فرعي شاهد به د شاهدي اداء کولو په وخت کي وايي زه شاهدي اداء کوم چي فلانکي د ده په نزد په دې سره اقرار وکړی او ماته ئې وويل په دې سره شاهد سه چي زه په دې سره شاهدي اداء کوم نو اوس زه په دې سره شاهدي اداء کوم .

س : د فرعي شاهد د شاهدي د قبلېدو لپاره کوم شيء شرط دی ؟

ج : د فرعي شاهدانو شاهدي يوازي هغه وخت قبليږي چي اصلي شاهدان مړه سي يا د درو ورځو يا زيات مسافت سره له کوره تللی وي يا دومره ناروغه وي چي د حاکم مجلس ته نه سي حاضرېدلای .

س : د فرعي شاهدانو له خوا د اصلي شاهدانو د عدالت بيانول څه حکم لري ؟

ج : که فرعي شاهدان د هغوی عدالت بيان کړي صحيح کيږي او که د هغوی له عدالت څخه چپ پاته سي هم صحيح کيږي ، قاضي به د هغوی په هکله پوښتنه کوي .

س که فرعي شاهدانو وغوښتل چي شاهدي اداء کړي مګر اصلي شاهدانو د هغوی له
شاهدي څخه انکار وکړی د فرعي شاهدانو شاهدي په دغه صورت کي صحیح کیږي ؟
ج نه قبلیږي .

له شاهدي څخه رجوع کول

س کله داسي پېښیږي چي شاهدان له خپلي شاهدي څخه رجوع کوي ، په دغه صورت
کي به قاضي څه کوي او که قاضي د دوی په شاهدي سره فیصله وکړي پر شاهدانو
تاوان لازمیږي ؟

ج په هغه کي تفصیل دی . پر تا لازمه ده چي د زړه په حضور سره ئې واورې او په
راتلونکي ډول ئې په یاد کړې .

۱ که له فیصلې څخه مخکي شاهدانو له خپلي شاهدي څخه رجوع وکړل شاهدي ئې
ساقطیږي او تاوان پر هغوی نشته

۲ :- که د دوی په شاهدي سره حکم په مال سره پر مدعی علیه فیصله وکړل وروسته
هغوی رجوع وکړل فیصله دي نه فسخ کوي او کوم نقصان چي هغوی پر مدعی علیه
باندي په خپله شاهدي سره رسولی دی د هغه تاوان پر لازمیږي .

۳ :- که یوه رجوع وکړل نیم تاوان پر لازمیږي .

٤ :- که درو کسانو په مال سره شاهدي اداء کړل او یوه رجوع وکړل پر هغه تاوان نشته او
که یوه بل رجوع وکړل پر رجوع کونکو نیم مال لازمیږي .

٥ :- که یوه سړي او دوو ښځو شاهدي اداء کړل . له هغو څخه یوې ښځي رجوع وکړل
رجوع کونکې به د څلرمي برخي تاوان ورکوي او که دواړو رجوع وکړل د نیم حق تاوان به
ورکوي .

٦ :- که یوه سړي او لسو ښځو شاهدي اداء کړل . له هغوی څخه اتو ښځو رجوع وکړل
پر هغوی تاوان نشته . که له هغوی څخه یوې بلي رجوع وکړل پر رجوع کونکو ښځو د
مال څلرمه برخه لازمیږي . که سړي او ښځو ټولو رجوع وکړل د ابو حنیفه رح په نزد پر
سړي د حق شپږمه ده او پر ښځو پنځه شپږمي دي او صاحبینو رح ویلي دي پر سړي نیم
دی او پر ښځو نیم دی .

۷ :- كه دوو شاهدانو پر يوې ښځې په مهر مثل يا له هغه څخه زيات سره نكاح كولو باندې شاهدي اداء كړل وروسته ئې رجوع وكړل تاوان پر هغوی نسته او كه ئې له مهر مثل څخه په كم سره شاهدي اداء كړل وروسته ئې رجوع وكړل د نقصان تاوان نه پر لازميږي .

۸ :- او كه ئې پر يو سړي داسې شاهدي اداء كړل چې په مهر مثل يا له هغه څخه په كم سره ئې يوه ښځه په نكاح وركړې ده وروسته ئې رجوع وكړل تاوان ئې نه پر لازميږي او كه ئې په دې سره شاهدي اداء كړل چې له مهر مثل څخه په زيات سره ئې شاهدي اداء كړل وروسته ئې رجوع وكړل د زياتوب تاوان پر لازميږي .

۹ :- كه ئې د قيمت په مثل يا له هغه څخه زيات سره د يو شي په خرڅولو سره شاهدي اداء كړل وروسته ئې رجوع وكړل تاوان نه پر لازميږي او كه ئې له قيمت څخه په كم سره شاهدي اداء كړل د نقصان تاوان پر لازميږي .

۱۰ :- كه ئې له يو ځاى كيدو څخه مخكې پر يو سړي شاهدي اداء كړل چې خپله ښځه ئې طلاقه كړې ده وروسته ئې رجوع وكړل د نيم مهر تاوان به وركوي او كه ئې له يو ځاى كيدو څخه وروسته شاهدي اداء كړل د هيڅ شي تاوان نه پر لازميږي .

۱۱ :- كه ئې په دې سره شاهدي اداء كړل چې خپل مريي ئې ازاد كړى دى وروسته ئې رجوع وكړل د هغه د قيمت تاوان به وركوي .

۱۲ :- كه ئې په قصاص سره شاهدي اداء كړل او تر وژلو وروسته ئې رجوع وكړل د ديت تاوان به وركوي او قصاص نه ځني اخستل كيږي .

۱۳ :- كه فرعي شاهدانو رجوع وكړل تاوان به وركوي .

۱٤ :- كه اصلي شاهدانو رجوع وكړل او دا ئې وويل چې فرعي شاهدان موږ پر خپله شاهدي نه دي شاهدان كړي پر هغوی تاوان نسته او كه ئې وويل چې موږ شاهدان كړل او غلطي مو وكړل تاوان پر لازميږي (۱) .

۱۵ :- كه فرعي شاهدانو وويل اصلي شاهدانو دروغ ويلي دي يا ئې وويل په خپله شاهدي كې ئې غلطي كړې ده په دغه كې د هغوی قول ته نه كتل كيږي .

---

(۱) دا د محمدرح په نزد د شيخينورح په نزد پر اصلي شاهدانو كه رجوع وكړي تاوان نسته ځكه د فرعي شاهدانو په شاهدي سره قضاء سوې ده . له " الهدايه " څخه .

۱۶ :- که څلورو کسانو د زنا شاهدي اداء کړل او دوو دا شاهدي اداء کړل چي محصن دي وروسته تر رجم د احصان شاهدانو رجوع وکړل تاوان ئې نه پر لازميږي .

۱۷ :- که تزکيه کونکو له تزکيې څخه رجوع وکړل تاوان پر لازميږي .

۱۸ :- که دوو کسانو په دې سره شاهدي اداء کړل چي قسم ئې اخستی دی او دوو سړيانو په دې سره شاهدي اداء کړل چي شرط موجود سوی دی وروسته ئې رجوع وکړل يوازي د قسم پر شاهدانو تاوان لازميږي .

متفرقي مسئلې

۱ :- قاضي به پر جرح (۱) (پر شاهدانو عيب ويل) يا پر نشته والی شاهدي نه اوري او نه به په هغه سره فيصله کوي .

۲ :- ابو حنيفه رح د دروا‌غو په شاهدي کي ويلي دي : زه ئې په بازار کي په خلګو کي مشهوره کوم او تعزيز نه ورکوم ، صاحبينو رح ويلي دي : وهو ئې او بندي کوو ئې .

۳ :- که شاهد خپل خط ووينې د هغه لپاره شاهدي اداء کول تر هغه وخت پوري روا نه دي تر څو شاهدي ئې په ياديږي .

(۱) پر جرح شاهدي دا ده چي مدعی عليه پر شاهدانو عيب ووايي چي فاسقان دي يا د شاهدي لپاره مزدوران سوي دي او پر دغه خبره شاهدان ودروي قاضي به د هغوی شاهدي نه اوري او نه به ورته ګوري مګر د مدعي د شاهدانو په هکله به په پټه پوښتنه کوي او په ښکاره سره به د هغوی د تزکيې غوښتنه کوي کله چي ئې عدالت ثابت سي شاهدي دي ئې قبوله کړي . پر نفي شاهدي قبليږي که اثبات ورسره وو او تر قضاء لاندي راتلی لکه چي شاهدي اداء کړي چي دغه د فلانکي وارث دی او هغه بل وارث نه لري يا ئې موږ په بل وارث نه يو خبر دغه شاهدي قبليږي نو توله مال ورتسلميږي . دغه رنګه که يو چا خپل مريي ته وويل که ته نن دغه کور ته نه ننوتلې نو ته ازاد يې او دوو کسانو شاهدي اداء کړل چي نه دی ورننوتلی شاهدي ئې قبليږي او د هغه په ازادي سره فيصله کيږي څکه په شرطو کي پر نفي شاهدي اوريدل کيږي . له : الجوهره : څخه .

د ادب القاضي كتاب

س: قضاء ته ننوتل روا دي ؟
ج: څوك چي په خپل ځان باور لري چي كوم شيء ورته سپارل كيږي په عدل سره ئې اداء كولاى سي د هغه لپاره په قضاء كي ننوتل روا دي ، د هغه چا لپاره په قضاء كي ننوتل مكروه دي څوك چي له دې څخه بېريږي چي د قضاء د فرضياتو له پوره كولو څخه به عاجزه سي يا له دې څخه بيريږي چي ظلم به وكړي ، دا مناسبه نه ده چي د قضاء غوښتنه وكړي د قاضي ولايت تر هغه وخت پوري نه صحيح كيږي تر څو په قاضي كي د شاهدي شرطونه (١) جمع كيږي او هغه د اجتهاد د اهل وي (٢) .
س: كه يو چا ته قضاء وسپارل سول د هغو بنديانو په هكله به څه كوي چي مخكني قاضي بنديان كړي وي .
ج: څوك چي قضاء ور وسپارل سي د مخكني قاضي ديوان دي ور وسپارل سي او د بنديانو احوال دي وګوري ، په هغوى كي كه يو چا په يو حق سره اقرار وكړى هغه دي پر لازم كړي او څوك چي انكار وكړي د معزول قاضي قول دي د هغه په هكله بېله شاهدانو نه قبلوي ، كه شاهدان نه ودريدل په ايله كولو كي دي ئې تلوار نه كوي تر څو چي د هغه لپاره ناره كوي او د هغه معلومات كوي . دغه رنګه به په وديعتو او اوقافو كي ګوري څرنګه چي شاهدان دريږي يا هغه څوك چي په لاس كي ئې وي اقرار په كوي د هغه مطابق به عمل كوي د معزول قاضي قول به نه مني مګر هغه وخت به ئې مني كه هغه سړي چي په لاس كي ئې وي په دې سره اقرار وكړي چي معزول قاضي ما ته را سپارلى دى په دغه صورت كي به د هغه قول مني .
س: څني صفتونه بيان كړئ چي قاضي ئې د خپلي قضاء په ورځو كي د ځان لپاره غوره كوي .
ج: د قضاء لپاره به په مسجد كي په ښكاره توګه كښيني ، بيله محرم قريب يا داسي

(١) هغه عقل ، بلوغ ، ازادي ، اسلام او عدالت دى .
(٢) د " الهدايې " مصنف ويلي دي صحيح دا دى چي د اجتهاد اهليت د اولويت لپاره شرط دى آه .

څوك چي تر قضاء مخكي ئې ده ته تحفه ورکول د بل چا تحفه به نه قبلوي . داسي مېلمستيا ته به نه حاضرېږي چي عامه نه وي . جنازي ته به حاضرېږي . د ناروغه پوښتنه به کوي . يو خصم به بېله هغه بل څخه نه ميلمه کوي . که دواړه خصمه حاضر سول په ناسته او کتلو کي به د هغوی په منځ کي برابري کوي . د يوه سره به پټه خبره نه کوي اشاره به نه ورته کوي او دليل به نه ورښوي .

س کله چي پر مدعی عليه حق ثابت سي قاضي به ئې بندي کوي ؟

ج کله چي حق ثابت سي او د حق څښتن د پوروړي څخه غوښتنه وکړي قاضي به ئې ژر نه بندي کوي . کوم حق چي پر باندي وي د هغه په ورکولو سره دي ئې امر کړي . که ئې نه ورکوي او داسي پور وو چي د يو داسي مال په عوض کي پر ده باندي سوی وو چي هغه د ده لاس ته ورغلی وي لکه د خرڅ سوي شي ثمن او د قرض عوض يا داسي پور وو چي په عقد سره پر ده لازم سوی وو لکه معجل مهر يا ضمانت په هغه کي دي ئې بندي کړي په نورو پورو کي که هغه وويل چي مسکين يم نه دي ئې بندي کوي .

س که هغه ووايي چي زه فقير يم د ده پر خبره اعتماد کيږي او معلومات ئې نه کيږي ؟

ج که د پور څښتن دا ثابته کړل چي دی مال لري دوې يا درې مياشتي دي ئې بندي کړي وروسته دي د هغه په هکله پوښتنه وکړي ، که ئې مال نه سو ښکاره پر خپله لار دي ئې ايله کړي او د پور څښتنان دي نه ځني ګرځوي .

س : د مايني په نفقه کي سړی بندي کيږي ؟

ج : هو بندي کيږي .

س : پلار د زوی په نفقه کي بندي کيږي ؟

ج : په هغه کي (۱) صرف هغه وخت بندي کيږي که ئې واجبه نفقه (۲) نه ورکول .

س پر غائب سړي قضاء روا ده ؟

ج : هغه يوازي هغه وخت روا ده چي يو څوك ئې پر ځای ودرېږي (۳) .

---

(۱) څکه بند يو قسم سزا ده نو زوی ئې پر پلار نه لري .

(۲) که کوچنی او فقير وو او پلار ئې له واجبي نفقې څخه ډډه کول بندي کيږي ځکه په دغه توګه د هلك ساتل کيږي . له "الجوهره" څخه .

(۳) وکيل يا داسي ... ځني ئې پر ځای دروي .

س : که قاضي ته د بل حاکم فیصله وړاندي سي هغه ئې نافذولای سي ؟
ج : هو دا روا ده مګر که د قرآن او حدیث یا اجماع سره خلاف وه یا داسي یو قول وو چي پر هغه دلیل نه وو نه ده روا .
س : قاضي ته روا ده چي د قضاء لپاره یو څوك نائب وټاکي ؟
ج : یوازي هغه وخت ورته روا ده چي د نائب درولو اختیار ورکړل سوی وي .
س : د مور او پلار ، اولاد او ماینې لپاره د حاکم فیصله څرنګه ده ؟
ج : دا باطله ده .

د تحکیم (یو څوك د فیصلې لپاره ټاکل) باب

س : که د دوو کسانو په منځ کي جګړه وه او سړی ئې د خپل ځان لپاره حکم (فیصله کونکی) وټاکي او د هغه په فیصله راضي سول دا روا ده ؟
ج : که حکم د حاکم صفتونه درلودل روا دی ، د (کافر) مریی ، ذمي او هغه څوك چي د قذف حد پر جاري سوی وي او فاسق او کوچنی حکم ټاکل نه دي روا .
س : که دوو سړیانو یو څوك وټاکی وروسته یوه یا دواړو له حکم ټاکلو څخه رجوع کول وغوښتل دغه روا ده ؟
ج : تر څو چي پر دوی ئې فیصله نه وي کړې روا ده کله چي فیصله وکړي پر هغوی لازمیږي .
س : که د حاکم فیصله قاضي ته وړاندي سي د هغه چلول ورته روا دي ؟
ج : که د هغه د مذهب سره برابره وه ودي ئې چلوي که نه وه برابره باطله دي ئې کړي .
س : حکم لره روا ده چي د شاهدانو شاهدي واوري او په نکول سره فیصله وکړي ؟
ج : هو روا ده .
س : که ئې د خطا په قتل کي یو څوك حکم وټاکی او حکم پر عاقله د دیت فیصله وکړل د هغه فیصله چلیږي ؟
ج : نه چلیږي .

قاضي ته د قاضي خط

س : کله دې ته ضرورت پیدا کیږي چي قاضي بل قاضي ته خط ولیکي دغه خط قبلیږي ؟

ج : په حقوقو کي د قاضي خط بل قاضي لره که په هغه سره شاهدي اداء سي قبلیږي ، په حدودو او قصاص کي نه قبلیږي ، که شاهدانو پر یو حاضر سړي شاهدي اداء کړل په شاهدي سره دي فیصله وکړي او خپله فیصله دي ولیکي او که ئې خصم حاضر نه وو او شاهدي ئې اداء کړل فیصله دي نه کوي او شاهدي دي ولیکي تر څو هغه قاضي فیصله په وکړي کوم ته چي خط لیکل کیږي ، دا ضروري ده چي خط به شاهدانو ته وایي تر څو هغه شيء وپیژني کوم چي په خط کي وي وروسته به ئې مهر کوي او هغوی ته به ئې ورسپاري .

س : کله چي هغه قاضي ته چي خط ورته لیکل کیږي خط ورسیږي بیله شاهدانو به ئې قبلوي ؟

ج : د دوو سړیانو یا یوه سړي او دوو ښځو د شاهدي پرته به ئې نه قبلوي او د خصم حاضریدو پرته به ئې نه قبلوي ، کله چي ئې شاهدان وروسپاري د هغه مهر ته دي وګوري ، کله چي هغوی شاهدي اداء کړي چي دا د فلانکي قاضي خط دی موږ ته ئې د خپلي قضاء په مجلس کي راسپارلی دی او موږ ته ئې ویلي دی او مهر کړی ئې دی دغه قاضي دي ئې خلاص کړي کوم چي خط ورته لیکل سوی دی او خصم ته دي ئې ووایي او کوم شيء چي په هغه کي وي پر هغوی دي ئې لازم کړي .

د تقسيم كتاب

س : كه په يو كور يا مځكه يا بل شي كي څو كسان شريكان وه او شريكانو دې ته ضرورت درلودى چي سره وئې ويشي څوك به ئې ورويشي ؟
ج : امام لره په كار ده چي يو قاسم (ويشونكى) ودروي چي د بيت المال څخه تنخواه وركوي تر څو چي بيله مزدوري د خلګو ويشونه وروكړي .
س : كه په بيت المال كي دومره پيسې نه وې چي قاضي قاسم ته تنخواه وركړي قاسم به څرنګه دروي ؟
ج : داسي څوك به دروي چي په مزدوري د دوى په منځ كي ويش كوي او هغه په دغه وخت كي پر شريكانو ده ، دا ضروري ده چي قاسم عادل ، امين او په ويش پوه وي . قاضي به خلګ نه مجبوره كوي چي په يوه قاسم سره ويش وكړي نه به قاسمانو ته اجازت وركوي چي سره شريكان سي .
س : شريكان به مزدوري په برابره توګه پر غاړه اخلي كه به سره مختلف وي ؟
ج : په دې كي د ابو حنيفه رح او صاحبينورح قول مختلف دى ابوحنيفه رح ويلي دي هغه د شريكانو د سروپه شمېر سره ده او صاحبينورح ويلي دي هغه د دوى د برخو په قدر ده.
س : كه شريكان قاضي ته حاضر سول او د دوى په لاس كي يو كور يا مځكه وه او دا دعوى ئې وكړل چي دوى له فلانكي څخه په ميراث وړې ده ، قاضي به يوازي د دوى په قول سره د دوى په منځ كي ويش كوي كه به ئې د شاهدانو په درولو سره امر كوي ؟
ج : تر هغه وخت پوري به د هغوى په منځ كي ويش نه كوي تر څو د هغه پر مرګ او د وارثانو پر شمير شاهدان دروي ، دا د ابو حنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي د دوى په اقرار سره به ئې په منځ كي ورويشي او د تقسيم په كتاب كي به ليكي چي د دوى د قول پر بنسټ ئې ويشلې ده ، دغه اختلاف په مځكه كي دى ، بيله مځكي نور مال چي مشترك وي او هغوى دعوى وكړي چي په ميراث ور پاته سوى دى د دوى درو سره وو په قول كي به ئې په منځ كي ورويشي .

س : دا د میراث مسئله وه چي تاسي بیان کړل ، په هغه صورت کي تاسي څه وایاست که په یو مځکه کي هغوی دعوی وکړل چي رانیولي ئې ده یا ئې د ملکیت دعوی وکړل او دا ئې نه کړل ذکر چي څرنګه دوی ته رسېدلي ده او د ویش غوښتنه ئې وکړل ؟

ج : د دوی د اقرار پر بنسټ به ئې په منځ کي ورویشي .

س : که دوه وارثان قاضي ته حاضر سول او د مړي پر مرګ او وارثانو پر شمېر ئې شاهدان ودرول او کور د دوی په لاس کي وو او د تقسیم غوښتنه ئې وکړل مګر یو وارث حاضر نه وو ، د حاضرو کسانو په غوښتنه سره به قاضي د دوی په منځ کي ویش کوي ؟

ج : هو د دوی د غوښتني په وجه به د دوی په منځ کي ویش کوي او هغه یو چي حاضر نه وي د هغه لپاره به یو وکیل ټاکي چي د هغه برخه قبض کړي ، دا په هغه کور کي چي د دوی په منځ کي مشترک وي او په میراث ئې وړی وي ، که ئې رانیولی وو او له هغو څخه یو غائب وو که څه هم پر رانیولو شاهدان ودروي قاضي به ئې نه ورویشي .

س : که یو څو وارثانو یوه مځکه له یو چا څخه په میراث یووړه ، له هغه څخه یو غائب وو او مځکه یا د هغه یوه برخه د هغه غائب په لاس کي وه ، هغوی د تقسیم غوښتنه وکړل ورویشي به ئې ؟

ج : نه به ئې ورویشي .

س : که ټوله شریکان حاضر نه سول ، یو حاضر سو او د ویش غوښتنه ئې وکړل د هغه په قول سره به قاضي ویش کوي ؟

ج : که شریك په خپله برخه سره ګټه اخستلای سوای ، د یوه په غوښتنه سره دي ئې ورووېشي او که په یو شي کي په داسي توګه شریکان وه چي یوه په خپله برخه سره ګټه اخستل او بل ته د برخي د لږوالي له کبله تاوان رسېدی په دغه صورت کي چي کله د لوی برخي څښتن غوښتنه وکړي ورویشي به ئې او که د لږ برخي څښتن غوښتنه وکړي نه به ئې ورویشي .

س : که په ویشلو سره هر یوه ته تاوان رسېدی څه حکم ئې دی ؟

ج : که دواړه په ویش راضي سول ورودي ئې ویشي که نه نه .

س : د سامان تقسیم څه حکم لري ؟

ج : که یو قسم سامان وو د یوه شریك په غوښتنه سره دي ئې ورووېشي او که دوه قسمه وه سره ګډ وه ، د هغوی د خوښي پرته دي ئې نه ورویشي .

س : د مربي يا مينځي او جواهرو تقسيم څه حکم لري ؟
ج : ابو حنيفه رح ويلي دي مربی يا مينځه او جواهرات به نه ويشي ، صاحبينورح ويلي دي اول به ويشي دوهم به نه ويشي .
س : حمام او ژرنده به ويشي ؟
ج : د شريکانو د خوښي پرته به ئې نه ويشي .
س : که په يوه ښار کي څو کورونه مشترك وه څرنګه به ئې ورويشي ؟
ج :دابو حنيفهرح په قول کي به هرکوربيل بيل ورويشي،صاحبينورح ويلي دي که دهغوی لپاره داسي تقسيم ګټور وو چي يو له بل سره ئې ورووېشي دغه ډول دي ئې ورووېشي .
س : که يو څو کسان په يو کور او مځکه يا کور او دکان کي شريکان وه څرنګه به ئې ورويشي ؟
ج : هر يو دي بيل بيل ورووېشي .
س : د تقسيم څه طريقه ده ؟
ج : د ويشونکي لپاره په کار ده چي کوم شیء ويشي د هغه نقشه وليکي او برخي سره برابري کړي او ګز ئې کړي او ودانی ته قيمت کښيږدي او هره برخه د بلي څخه د لاري او اوبو سره بېل کړي تر څو چي يوه برخه د بلي سره اړه ونه لري او د هغوی نومونه دي وليکي او قرعه دي ئې په منځ کي وکړي ، وروسته دي برخو ته د اول . دوهم او دريم او داسي نور نومونه ورکړي وروسته دي قرعه راوباسي د چا چي نوم اول راسي هغه لره اوله برخه ده ، د چا چي نوم دوهم راووزي هغه لره دوهمه برخه ده ، دغه رنګه د برخو تر پايه پوري ، درهمونه او دينارونه دي د دوی د خوښي پرته په ويش کي نه داخلوي .
س : که قاضي د دوی په منځ کي ويش وکړی او د يوه لښتی د هغه بل په ملك کي وو او د هغه د اوبو تېرېدل او لاره نه وه شرط کړې څه به کوي ؟
ج : که د لاري او لښتي اړول د هغه له برخي څخه ممکن وه نو هغه لره د لاري او د هغه په ملکيت کي د اوبو بيولو حق نسته او که ممکن نه وه تقسيم دي فسخ کړل سي ځکه معيوب دی .
س : که د ودانی لاندي برخه مشترکه او لوړه برخه ئې نه درلودل يا لوړه برخه مشترکه لاندي برخه ئې نه درلودل يا لاندي او لوړه برخه دواړي مشترکي وې قاسم به ئې څرنګه ورويشي ؟

ج : هر يوه ته دې بېل بېل قيمت کښېږدي او په قيمت سره دې ئې ورووېشي بېله دغه
طريقې بله اعتبار نه لري .

س : که تقسيم کونکو په خپل منځ کې اختلاف وکړي ، يوه ويل چې ماته خپله برخه
پوره نه ده رسېدلې ، نورو ويل پوره دې اخستې ده دوو ويشونکو پر دې شاهدي اداء
کړل چې هغه خپله برخه پوره اخستې ده د هغوی شاهدي قبلېږي ؟

ج : هو شاهدي ئې قبلېږي .

س : که له تقسيم کونکو څخه يوه دا دعوی وکړل چې په تقسيم کې غلطي سوې ده او دا
ئې وويل چې ماته يو شيء رسېدلی دی مګر هغه زما د ملګري په لاس کې دی او هغه پر
خپل خان دا شاهدي اداء کړې وه چې خپله پرخه ئې پوره اخستې ده ، د هغه په خپله
دعوی کې تصديق کيږي ؟

ج : بېله شاهدانو ئې تصديق نه کيږي .

س : که ئې وويل چې ما خپله برخه پوره واخستل وروسته د هغه يوه برخه له ويش
کونکو څخه يوه واخستل او هغه منکر وو څرنګه فيصله ئې په منځ کې کيږي ؟

ج : په دغه کې د قسم سره د هغه د خصم قول منل کيږي .

س : که له ويش غوښتونکو څخه يوه وويل ماته تر هغه ځای پوري رسېدلې ده او زما
شريك فلانکي ماته نه ده راتسليم کړې او مخکې ئې د خپلې برخې پر پوره اخستلو
څوك نه وو شاهد کړی او هغه فلانکی دی درواغجن ګڼي څه حکم لري ؟

ج : دواړو ته قسم ورکول کيږي او تقسيم فسخ کيږي .

س : که د يوه شريك د يوې معلومي برخې يو بل مالك څرګند سو په دغه صورت کې
تقسيم فسخ کيږي ؟

ج : د ابو حنيفه رح په نزد تقسيم نه فسخ کيږي ، د هغه برخې څخه چې د ده د شريك
حصه ده هغه دې له هغه څخه واخلي ، ابو يوسف رح ويلي دي تقسيم فسخ کيږي (۱) .

(۱) د " الهدايې " مصنف ويلي دي صحيح قول دا دی چې په هغه صورت کې اختلاف دی چې د يوې
پاشلې برخې بل مالك څرګنده سي ، که د يوې معلومي برخې بل مالك پيدا سو په اجماع سره تقسيم نه
فسخ کيږي . که د يوې داسي برخې بل مالك څرګند سو چې په ټوله کې ګډه وه په اتفاق سره فسخ کيږي
دغه درې صورتونه دي ، د محمد رح قول ئې نه دی ذکر کړی ، ابو سليمان رح د ابو يوسف رح سره
کړي دي او ابو حفص رح د ابو حنيفه رح سره ذکر کړي دي ، دغه قول اصح دی آه .

د اکراه (مجبوره کول) کتاب

س : د اکراه حکم په څه شي سره ثابتيږي ؟

ج : د اکراه حکم هغه وخت ثابتيږي چي د يو داسي چا له خوا وسي چي هغه په کوم شي سره چي دی بېروي د هغه پر کولو قدرت ولري که پاچا وي که غل .

س : که يو څوك د خپل مال پر خرڅولو يا د يو شي پر رانيولو مجبوره سو يا پر دې چي د يو سړي لپاره په زر درهمه سره اقرار وکړي يا پر دې مجبوره سو چي خپل کور په کرايه ورکړي او مجبوره کول په قتل ، وهلو يا بند سره وه او هغه هغه شيء خرڅ کړی يا ئې رانيوی څه حکم لري ؟

ج : هغه لره اختيار سته که سودا چلوي او که ئې فسخ کوي او خرڅ سوی شيء واپسوي دا هغه وخت که ئې ثمن په زور سره قبض کړی وو او که ئې ثمن په خوښه سره قبض کړی وو يا ئې خرڅ سوی شيء په خوښه ورسپارلی وو هغه اجازه ګڼل کيږي .

س : که پر خرڅولو مجبور سو او ثمن ئې په زور قبض کړی څه شيء پر لازميږي ؟

ج : دا پر لازمه ده چي ثمن بيرته ورکړي که ئې په لاس کي وو (۱) .

س : که يو څوك مجبور کړل سو او شيء ئې خرڅ کړی او څوك چي رانيولی ئې وو هغه نه وو مجبور ، د هغه په لاس کي مبيع هلاك سو تاوان پر لازميږي ؟

ج : هو د مبيع تاوان به بائع ته ورکوي .

س : څوك چي مجبور سوی وي هغه له مجبور کونکي څخه تاوان اخستلای سي ؟

ج : که ئې خوښه وي تاوان ځني اخستلای سي .

س : که يو سړی په بند يا وهلو يا زولنه سره مجبور کړل سو چي مړه وخوري يا شراب وچښي څه حکم لري ؟

ج : دمړي خورك يا شرابو چښنګ يوازي هغه وخت روا دی که په داسي شي سره مجبور

---

(۱) که ئې ثمن له منځه تللی وو هيڅ شيء نه ځني اخستل کيږي ځکه د هغه قبض کول د ملکيت لپاره نه دي ځکه هغه مجبوره کړل سوی دی او د مالك په اجازه وو نو امانت ګڼل کيږي او امانتونه که بېله تيري څخه هلاك سي تاوان ئې نسته . له " الکفايې " څخه .

سي چي له هغه ځخه پر ځان يا يو اندام ېېريږي ، كه له دغه ځخه بېريدی دا ورته روا ده چي هغه كار وكړي چي پر مجبور سوی وي .

س : دا نه ده ورته روا چي له كوم شي ځخه بېرول سوي وي پر هغه صبر وكړي او قتل يا د اندام هلاكيدل پر سر واخلي ؟

ج : دا نه ده ورته روا نو كه ئې خورك نه وكړي او هغوی هغه ورسره وكړل له كوم ځخه چي ئې بېرولی وو ګناه كاره دی .

س : كه په زولنه يا بند يا وهلو سره نعوذ بالله پر كفر يا د نبي پر ښكنځلو مجبور سو دغه اكراه اعتبار لري ؟

ج : دغه اكراه نه ده معتبره هغه اكراه معتبره ده چي مكره سړی پر خپل ځان يا يو اندام وبېريږي .

س : كه له مجبورونكي ځخه پر خپل ځان يا يو اندام وبېريدی دا ورته روا ده چي هغه شيء ښكاره كړي چي مجبور ونكی دی په امر كړی وي چي كفر دی (نعوذ بالله) .

ج : هو دا ورته روا ده چي په خوله داسي شيء ښكاره كړي چي په زړه كي ئې نه وي . كله چي دا ښكاره كړي او زړه ئې په ايمان سره مطمئن وي ګناه پر هغه نسته لكه چي الله تعالى په سورت النحل (١) كي ذكر كړي دي مګر په داسي الفاظو سره به توريه (٢) كوي چي د هغه معنی پرته چي مجبورونكی ئې ځني غواړي بله معنی ولري .

س : كه ئې صبر وكړی تر څو مړ سو او كفر ئې نه كړی ښكاره ګناه كاره كيږي ؟

ج : ګناه كاره نه دی بلكه ثواب وركول كيږي .

س : كه په داسي شي سره چي له هغه ځخه پر ځان يا مال بېريدی د يو مسلمان د مال پر هلاكولو مجبور كړل سو دا ورته روا دی ؟

ج : ورته روا دی .

س : د مال ځښتن لره دا حق سته چي له مجبورونكي ځخه تاوان واخلي ؟

ج : دا ورته روا ده چي تاوان ځني واخلي (٣) .

---

(١) يعني دا قول د الله تعالى ﴿ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَ قَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ﴾ (بېله هغه چا چي مجبور كړل سي او زړه ئې په ايمان سره مطمئن وي) .

(٢) توريه دا ده چي داسي كلمه ووايي چي دوې معناوي ولري .

س : که د یو مسلمان پر قتل په دې توګه مجبور کړل سو چې که ئې هغه نه کړی قتل دی به ووژل سي د خپل ځان د ساتني لپاره د هغه قتل ورته روا دی ؟
ج : دا نه دي ورته روا بلکه که څه هم وژل کیږي صبر به کوي (۱) .
س : که مجبور کړل سوي هغه مسلمان قتل کړی د کوم پر قتل چې مجبوره کړل سوی وي څه حکم ئې دی ؟
ج : د هغه په قتل سره ګناه کاره دی .
س : که ئې په قصد سره وژلی وو قصاص پر چا دی ؟
ج : پر مجبورونکي قتل واجب دی کوم چې په قتل سره ئې امر کړی وي .
س : که یو سړی د خپلي ښځي پر طلاق یا مریي پر ازادولو مجبور کړل سو او هغسي ئې وکړل طلاق واقع کیږي او مریی ئې ازادیږي ؟
ج : که ئې هغه کار وکړی چې دی پر مجبوره سوی وو که طلاق وي که ازادول هغه واقع کیږي .
س : بیا ده ته د مریي قیمت او د ښځي مهر څرنګه حاصلیږي ؟
ج : مجبور کړل سوی به له هغه چا څخه چې دی ئې مجبور کړی دی د مریي قیمت او نیم مهر اخلي که تر یوځایوالي مخکي وو ، که تر یو ځای کېدو وروسته وو هیڅ تاوان به نه ځني اخلي .
س : که یو څوك پر زنا مجبور کړل سو او هغه ئې وکړل حد پر لازمیږي ؟
ج : د ابو حنیفه رح په نزد حد پر لازمیږي مګر نه که پاچا مجبور کړی او صاحبینو رح ویلي دي که ئې څه هم د پاچا پرته بل څوك مجبور کړي حد نه پر لازمیږي .
س : که یو څوك پر دې مجبور سي چې له اسلام څخه (نعوذ بالله) مرتد سي او د کفر کلمې ئې ښکاره کړې ښځه ئې ځني بائنه کیږي ؟
ج : په دغه صورت کي ئې ښځه نه ځني بائنه کیږي مګر که په زړه سره مـــرتـــد ســـو (والعیاذ بالله) هغه ځني بائنه کیږي .

د ص ٥٣٤ پاته برخه : (٣) ځکه په داسي شیانو کي چې مجبور کړل سوی د مجبورونکي لپاره آله کیدای هغه ئې آله بلل کیږي او مـال هلاکـول لـه دغـه قسم څخه دي ، له " الهدایې " څخه .
(١) ځکه دهیڅ ضرورت له کبله دمسلمان قتل جائز نه دی نودغه رنګه دغه ضرورت له "الهدایې" څخه .

س : سير څه ته وايي ؟

ج : هغه د سيرت جمع ده او په عربي ژبه كي په كارو كي لاري ته ويل كيږي او د فقه د علماوو په اصطلاح كي يوازي په غزاوو كي د نبي ﷺ لارو ته ويل كيږي د فقه علماء د سير په كتاب كي د جهاد احكام او نور كوم احكام چي په هغه پوري اړه لري لكه د غنيمتو تقسيم او جزيې تاكل او په بنديانو كي د امام فيصله او داسي نور ذكر كوي .

س : په سپيڅلي شريعت كي جهاد څه حكم لري ؟

ج : جهاد كفايي فرض دى كه ئې د مسلمانانو يوه ډله اداء كوي له نورو څخه ساقطيږي او كه هيڅ چا نه اداء كوى په پرهېښولو سره ئې ټوله ګناه كاره كيږي ، پر كوچني يا مريي يا مينځي يا ړانده يا شوټ يا ځوك چي لاس يا پښه ئې پرې وي جهاد نه دى واجب ، كه د مسلمانانو پر يو ښار دښمن حمله وكړل پر ټولو مسلمانانو جهاد فرض عين ګرځي او د دښمن دفع كول پر لازميږي نو ښځه به بېله ميړه د اجازې او مريى بېله بادار د اجازې وزي .

س : تاسو ذكر كړل چي جهاد كفايي فرض دى مګر كه دښمن پر يو ښار حمله وكړل فرض عين ګرځي موږ دا سوال كوو چي جهاد كوم چي كفايي فرض دى په هره زمانه كي به څرنګه په هغه سره عمل كيږي ؟

ج : موږ د دوى په جنګ سره شروع كوو كه څه هم هغوى زموږ په جنګ سره شروع نه كوي ، تر هغه وخت پوري جنګ ورسره كوو چي مسلمانان كيږي يا په خپل لاس د ذلت په توګه جزيه اداء كوي ، كله چي مسلمانانو جهاد او جنګ پرېښوى مغلوب سول او دښمنان لوبي په كوي (١) .

---

(١) طبراني په " المعجم الاوسط " كي له ابو بكر صديق څخه روايت كړى دى چي رسول الله ﷺ وويل : هيڅ قوم نسته چي جهاد ئې پرايښى وي او الله ﷻ عام عذاب نه وي پر راليږلى " مجمع الزوائد ٥-٢٨٤ " ، كوم شئ چي نبي ﷺ بيان كړى دى هغه اوس ښكاره سو ځكه مسلمانان له كوم وخت څخه چي له جهاد څخه غافله سوي دي او پرايښى ئې دى په لويو مصيبتو كي دي .

س : کله چي مسلمانان د جهاد لپاره ووزي او د کفر هيواد ته ننوزي ، يو ښار يا قلعه محاصره کړي په کوم کار سره به شروع کوي ؟

ج : اول به ئې اسلام ته رابولي ، که ئې اسلام قبول کړی د هغوی سره دي جنګ نه کوي که ئې له هغه څخه ډډه وکړل د جزيې ورکولو ته دي ئې راوبولي که د هغه ورکولو ته تيار سول کوم شیء چي مسلمانانو لره وي هغه دوی لره دی او کوم چي پر هغوی وي هغه پر دوی دی ، که ئې د جزيې ورکولو څخه ډډه وکړل مسلمانان دي له الله ﷻ څخه پر هغوی مرسته وغواړي او جنګ دي ورسره وکړي او منجنيقونه دي ورته ودروي او ودي ئې سوځي او اوبه دي پر ايله کي او وني دي ئې ورېړې کړي او کښتونه دي ئې ور ويران کړي او غدر دي نه کوي په غنيمت کي دي خيانت نه کوي مثلت (١) دي نه کوي . ښځه يا کوچنی يا ليونی يا شيخ فاني يا ړوند يا شوټ دي نه وژني ، يوازي هغه وخت دي دغه کسان وژني که ئې په جنګ کي پوهه درلودل يا ئې ښځه پاچا وه ښځه دي د مېړه د اجازې پرته جنګ نه کوي نه دي مريی د بادار د اجازې پرته جنګ کوي مګر هغه وخت دي ئې کوي چي دښمن حمله وکړي .

س : د اسلام تر وړاندي کولو مخکي د هغوی سره جنګ نه دی روا ؟

ج : کوم کسان چي د اسلام دعوت نه وي ورته رسيدلی مخکي له دې څخه چي دعوت ورکړل سي جنګ نه دی ورسره روا ، کوم کسان چي دعوت وررسيدلی وي له جنګ څخه مخکي د هغوی دعوت مستحب دی واجب نه دی .

س : که د کفر په هيواد کي مسلمانان بنديان وه کافرانو زموږ څخه بنديان کړي وه يا مسلمانان سوداګران وه ، که موږ د هغوی طرف ته غشي ولو دا خطره وي چي پر مسلمانانو ومښلي په دغه صورت کي به ويشتل پرېږدو ؟ دغه رنګه يو بل سوال پيدا کيږي هغه دا که کافرانو د مسلمانانو کوچنيان يا بنديان د ځانو لپاره سپر کړل مسلمانانو لره روا ده چي په غشو ئې وولي ؟

---

(١) د عربي ژبي علماوو ويلي دي : مثل بالقتيل و الحيوان د قتل يقتل قتلا پر وزن يعني لاسونه او پښې يا پزه يا غوږ يا ذکر يا د هغه په مثل نور اندامونه ئې ورېړې کړل ، له هغه څخه اسم مثلت راځي هغوی ويلي دي مثّل په شد سره د مبالغې لپاره دی ، نووي په " تهذيب الاسماء و اللغات " کي ذکر کړي دي .

ج : ويشتل به نه پرېږدي ، ولي به ئې مګر يوازي کافران به په هغه سره نښان ګرځوي .

س : د مسلمانانو سره د ښځو او قرآن شريفو ايستل د کفر هيواد ته روا دي ؟

ج : که د مسلمانانو لښکر زيات وو پر هغوی خطره نه وه که د ځان سره ښځي او قرآن شريفونه وباسي پروا نه لري او که يوه ډله وه چي له خطرې څخه په امن کي نه وه د هغوی ايستل مکروه دي .

س : پر کافرانو اسلحه خرڅول څه حکم لري ؟

ج : پر هغوی اسلحه خرڅول روا نه دي څرنګه چي دا نه ده روا چي د تجارت په توګه هلته وروړل سي (۱) .

د موادعې (صلح) فصل

س : امام لره روا ده چي د کافرانو يا د هغوی د يوې ډلي سره صلح وکړي ؟

ج : که په هغه کي د مسلمانانو ګټه وي روا ده .

س : که ئې تر يو مدې پوري صلح ورسره وکړل وروسته ئې په دې کي ګټه وليدل چي صلح ماته کړي څه حکم ئې دی ؟

ج : دا روا ده مګر مخکي له دې څخه چي صلح ورسره ماتوي جنګ به نه ورسره شروع کوي . الله تعالی ويلي دي ﴿ وَ اِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ ﴾ (که د يو قوم له خيانت څخه ببرېدې صلح په برابره توګه ورسره ماته کړه بې شکه الله ﷻ خائنان نه خوښوي (۲) .

س : که هغوی په خيانت سره شروع وکړل امام به څه کوي ؟

ج : که دا د هغوی په اتفاق سره وه ببله صلح ماتولو دي جنګ ورسره وکړي .

س : امام ته روا ده چي د کافرانو سره صلح وکړي او د هغه په عوض کي له هغوی څخه مال واخلي ؟

ج : دا روا دي پروا نه لري ، کوم مال چي له هغوی څخه پر صلح اخستل کيږي د جزيې په مصارفو کي خرڅيږي .

---

(۱) يعني سوداګران به سامان ، اسلحه او نور شيان نه وروړي څکه په دغه کي د هغوی پر مسلمانانو تقويت راځي .

(۲) سورة الانفال .

د امان فصل

س : که مسلمانان کافرانو ته امان ورکي د هغه څه حکم دی ؟
ج : که یو مسلمان ازاد سړي یا مسلماني ازادي ښځي یو کافر یا د هغوی یوې ډلې ته یا د یوې قلعه خلګو ته یا د یوه ښار خلګو ته امان ورکړي امان ئې صحیح کیږي ، له هغه څخه وروسته هیڅ مسلمان ته نه ده روا چي جنګ ورسره وکړي مګر که په هغه کي یو فساد وو امام به ئې امان ورردوي او هغوی ته به خبر ورکوي .
س : داسي څوك سته چي امان ئې نه صحیح کیږي ؟
ج : هو د ذمي امان نه صحیح کیږي نه د بندي نه د تاجر چي د هغوی ښار ته ورځي څرنګه چي د محجور مریي امان د ابو حنیفه رح په نزد نه صحیح کیږي مګر که بادار د جنګ اجازه ورته کړې وه امان ئې صحیح کیږي ، صاحبینورح ویلي دي : امان ئې صحیح کیږي .

د غنیمتو او د هغو د تقسیم باب

س : کله چي امام یو ښار په زور سره فتح کړي د هغوی په مځکو او خلګو به څه کوي ؟
ج : هغه لره اختیار سته که ئې د مسلمانانو په منځ کي ویشي که ئې څښتنان پر هغه پرېږدي او پر هغوی جزیه ایږدي او د هغوی پر مځکه خراج اږدي .
س که د غنیمت مالونه سره یو ځای سول امام به ئې څرنګه ویشي او پر چا به ئې ویشي ؟
ج : د کفر له هیواد څخه تر را ایستلو مخکي به ئې نه ویشي ، کله چي د اسلام هیواد ته را وایستل سي او د ویشلو اراده ئې وکړي اول دي خمس (پنځمه برخه) څني وباسي او پاته څلور خمسه دي د غنیمت حاصلونکو په منځ کي وویشي د ابو حنیفه رح په نزد سپاره لره دوه سهمه او پیاده لره یو سهم ، صاحبینو رح ویلي دي سپاره لره درې سهمه او پیاده لره یو سهم ، ردء (۱)

---

(۱) ردء په کسره سره مرستي ته ویل کیږي ، څرنګه چي په " قاموس " کي ذکر سوي دي له هغه څخه هغه کسان مراد دي چي جنګ ئې نه وي کړی مګر د جنګ کونکو سره ئې مرسته کړې وي او د کفر په هیواد کي د هغوی سره یو ځای سوي وي او د هغوی ئې د شمیر او اسلحه په لحاظ مرسته کړې وي ، په " الهدایه " کي ذکر سوي دي دغه رنګه که ئې د ناروغۍ یا بل عذر له کبله جنګ نه وکړی .

او مقاتل (جنګ کونکی) په هغه کي برابر دي (۱) تر داسي حده پوري چي کوم کسان چي مخکي له دې څخه چي غنيمت د اسلام هيواد ته راباسي د کفر په هيواد کي په مقاتلينو پسي ور ورسيږي په هغه کي د هغوی سره شريکان کيږي ، د برذون آسانو (۲) څښتنان او د عتيق آسانو څښتنان برابر دي ، يوازي د يوه آس لپاره دي سهم ورکوي د اوښي يا غاتري لپاره دي ئې نه وکوي .

س : که يو سړي د غزا لپاره د خپل آس سره ووتی د کفر هيواد ته سپور ننوتی وروسته ئې آس هلاك سو د سپاره د سهم مستحق کيږي که د پياده ؟

ج : د سپاره د سهم مستحق کيږي .

س : څوك چي د کفر هيواد ته پياده ننوتی وروسته ئې هلته آس رانيوی د سپاره سهم ورکول کيږي که د پياده ؟

ج : د پياده د سهم مستحق کيږي .

س : که د مسلمانانو له لښکر څخه يو سړی مخکي له دې څخه چي غنيمت د اسلام هيواد ته راوباسي د کفر په هيواد کي مړ سو د غنيمت د خپلي برخي مستحق دی ؟

ج : هغه په غنيمت کي حق نه لري .

س : څوك چي د اسلام هيواد ته د غنيمت د را ايستلو څخه وروسته مړ سي د هغه مستحق والی څه حکم لري ؟

ج : هغه د غنيمت د خپلي برخي مستحق دی او د هغه وارثان به ئې اخلي .

س : که داسي خلګ وه چي په لښکر پسي ورورسيدل او د لښکر په بازار کي ئې خرڅول رانيول کول د غنيمت حق لري ؟

ج : د لښکر د بازار خلګو لره په غنيمت کي يوازي هغه وخت حق سته چي جنګ وکړي .

س : د کفر په هيواد کي د غنيمت ويشل روا دي ؟

ج : امام دي ئې د کفر په هيواد کي نه ويشي بلکه د اسلام هيواد ته دي ئې راوباسي او هلته دي ئې وويشي . که داسي حيوانان نه وه چي غنيمتونه پر بار سي غنيمت

---

(۱) څکه په سبب کي دواړه برابر دي چي هغه د اسلام له هيواد څخه وتل او د کفر ښار ته ننوتل دي يا پيښي ته حاضريدل دي . له ٫ الهدايه ٫ څخه .

(۲) برذون عجمي آس ته ويل کيږي او عتيق د ښه په معنی دی له هغه څخه مراد ښه عربي آس دی .

اخستونكو ته دي ئې د امانت په توګه ورووېشي تر څو چې د اسلام هيواد ته ئې يوسي وروسته دي ئې بيرته ځني واخلي او خمس دي ئې اداء كړي وروسته دي ئې د هغوى په منځ كي وويشي .

س : له ويشلو څخه مخكي د كفر په هيواد كي د غنيمتو خرڅول څه حكم لري ؟

ج : هغه نه دي روا .

س : د ځينو غنيمتو استعمال د كفر په هيواد كي د هغو تر راايستلو مخكي غنيمت اخستونكو ته روا دى ؟

ج : د لښكر خلګو ته روا ده چي خپلو حيوانانو ته واښه وركړي او كوم خوړك چي هلته ئې ومومي له هغه څخه خوراك وركړي او په لرګو سره اور بل كړي او په غوړو سره ځانونه غوړ كړي او د حيوانانو پښې په غوړي كړي (۱) او كومه اسلحه چي ئې وموندل په هغه سره جنګ وكړي ، دغه ټوله شيان له قسمت څخه مخكي روا دي ، له دغو شيانو څخه د هيڅ شي خرڅول يا په ملكيت اخستل روا نه دي د چا سره چي واښه يا خوړك زيات سي بيرته دي ئې بيت المال ته وركړي ، كله چي د كفر له هيواد څخه راووزي دا نه ده ورته روا چي له غنيمت څخه خپلو حيوانانو نه واښه وركړي نه دا ورته روا ده چي خوړك ځني وكړي .

س : كه يو مريى يا مينځه يا كوچنى يا ليونى يا ذمي جهاد ته حاضر سول له غنيمت څخه برخه لري ؟

ج : په هغه كي برخه نه لري بلكه امام به هغوى لره د خپلي رايي مطابق يو څه شيء وركوي .

س : دغه خمس چي امام ئې له غنيمت څخه باسي چيري به ئې مصرفوي ؟

ج : امام به دغه خمس درې برخي كوي يوه د يتيمانو لپاره ، يوه د مسكينانو لپاره او يوه د مسافرانو لپاره ، د هغوى په منځ كي به ئې ويشي .

س : الله تعالى په خپل كتاب كي ويلي دي ﴿ وَ اعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَ لِلرَّسُوْلِ وَ لِذِى الْقُرْبَى وَ الْيَتَامَى وَالْمَسَاكِيْنِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ﴾ (يوه سئ كوم مال چي تاسي

---

(۱) يعني د حيوانانو پښې په ويله وازګه سره غوړول كله چي له ډيره تګ څخه نرى سي په عربي ژبه كي ويل كيږي حافر وقاح يعني هغه چي پيدا ئښي سخت وي په (المغرب) كي ئې دغه خبره ذكر كړې ده .

ئې په غنیمت کې حاصلوئ الله ﷻ لره د هغه خمس دی او رسول لره او قریبانو لره او یتیمانو لره او مسکینانو لره او مسافرانو لره)، الله تعالی خپل سهم او د نبي ﷺ سهم او د قریبانو سهم ذکر کړی دی او تاسي یوازې درې سهمه ذکر کړل د دې څه وجه ده ؟

ج : د خمس په بیان کې د الله ﷻ ذکر د تبرك لپاره سوی دی لکه چې ابن عباس ﷛ ویلي دي . د نبي ﷺ سهم د هغه په مرګ سره ساقط سو لکه چې صفي (۱) ساقط سو قریبانو یعني د نبي ﷺ قریبان د هغه په ژوند کي د مرستي له کبله د سهم مستحق وه او له هغه څخه وروسته د فقر له وجه مستحق دي (۲) ، هو هغوی له نورو فقیرانو څخه مخکي کیږي د هغوی ځانو ته نه ورکول کیږي .

س : که یو یا دوه سړیان د امام د اجازې پرته د کفر هیواد ته د چر لپاره ننوتل او شیء ئې ځني واخستی له هغه څخه خمس اخستل څه حکم لري ؟

ج : کوم شیء چي هغو اخستی وي په هغه کي خمس نسته .

س : که یوه ډله د کفر هیواد ته ننوتل ، یو شیء ئې واخستی له هغه شي څخه خمس اخستل کیږي ؟

ج : هو که هغوی قوي وه او له دښمن څخه ئې ځان ژغورلای سوای که څه هم امام اجازه ورته و نه کړي خمس ځني اخستل کیږي (۳) .

س : که امام وغوښتل چي د اسلام هیواد ته بیرته راسي او داسي حیوانان ورسره وه چي د اسلام هیواد ته ئې نه سوای منتقلولای څه به په کوي ؟

ج : د دښمنانو لپاره به ئې نه پرېږدي بلکه ذبح کوي به ئې او سوځي به ئې ، تېپي کوي به ئې نه .

---

(۱) صفي د صاد په فتحه سره او فاء په کسره سره د غنیمت هغه برخي ته ویل کېدل کوم چي نبي ﷺ خپل ځان لره غوره کول لکه زغره یا توره یا مینځه .

(۲) د خانانو پر ساقطیدو اجماع سوې ده ، د هغوی فقیران په درو قسمو کي داخل دي ، له " الهدایه"

...غه په زور سره اخستل سوی دی نو غنیمت ګڼل کیږي او ځکه چي پر امام دا لازمه ده چي ...ورسره وکړي ځکه که ئې بېله مرستي پرېږدی په هغه کي د مسلمانانو کمزوري راځي ، یو یا دوه ... دي څخه ... که د هغوی پر ده مرسته لازمه نه ده .

د تنفیل (له غنیمت څخه پرته یوه برخه د ځینو غازیانو لپاره ټاکل) فصل

س:امام ته رواده چي جنګ کونکوته ددوی له حق څخه زیات دغنیمت یوه برخه ورکي ؟

ج : د جنګ په وخت کي دا ورته روا ده چي زیاته برخه ورکړي او د هغه لپاره ترغیب ورکړي او ورته ووايي : څوك چي یو کافر ووژي هغه لره د ده سلب (د هغه کالي او د جنګ سامان چي ورسره وي) دی یا یوې ډلي ته ووايي : تر خمس وروسته (۱) تاسو ته څلورمه درکوم ، دا هغه وخت چي غنیمت ئې د اسلام هیواد ته نه وي نقل کړی کله چي هغه ته ئې نقل کړی یوازي له خمس څخه نفل ورکولای سي .

س : سلب څه ته وايي ؟

ج : هغه هغه شي ته وايي چي پر وژل سوی وي یعني د هغه کالي او اسلحه او د هغه د سپرتیا حیوان او هغه چي د هغه د سپرتیا پر حیوان وي چي ځل او آله ده ، دغه رنګه هغه شیان چي د ده پر حیوان په بسته کي د ده مال وي یا د ده پر ملا تړلی وي ، دغه شیان ټوله سلب ګڼل کیږي .

س : که امام د جنګ کونکي لپاره سلب و نه ټاکی څه حکم ئې دی ؟

ج : هغه لهٔ غنیمت څخه دی جنګ کونکي او نور په هغه کي برابر دي .

د بندیانو فصل

س که د مسلمانانو لښکر کافران بندیان کړل امام به څه په کوي ؟

ج : د مسلمانانو امام لره په بندیانو کي اختیار سته که ئې وژني ، که ئې مریان کوي او که ئې آزاد پریږدي د مسلمانانو په ذمه کي ، د کفر هیواد ته ئې واپس کول نه دي روا نه پر هغوی احسان کول (آزاد پریښول) روا دي د ابوحنیفه رح په نزد د بندیانو سره د هغوی بدلون روا نه دی صاحبینو رح ویلي دي د مسلمانانو د بندیانو سره دي ئې تبدیل کړي .

د هغه کسانو فصل کوم چي د کفر په هیواد کي مسلمانان سي

س :څوك چي د کفر په هیواد کي مسلمان سي په اسلام سره هغه دخپل ځان ساتنه وکړل ؟

(۱) د "الهدایې" مصنف ویلي دي : د هغه معنی دا ده چي وروسته تر دې چي خمس ځني وایستل سي . عیني په " البنایه " کي د " الهدایې " د مصنف د قول په شرح کي ویلي دي یعني کوم مال چي تاسي ئې په غنیمت کي حاصل کړئ له هغه څخه د خمس اخستلو وروسته څلورمه .

ج : هغه د خپل او کوچني اولاد او هر هغه مال چي د ده په لاس کي وي یا د ده یو مال وي د یو مسلمان یا ذمي په لاس کي ودیعت وي د دغو ټولو ساتنه ئې وکړل .

س : که له هغوی څخه یو سړی مسلمان سو او د کفر په هیواد کي ئې مځکه یا مانیه یا لوی اولاد درلودل د دغو شیانو څه حکم دی که موږ پر هغوی غالبه سو ؟

ج : که موږ د کفر پر هیواد غالبه سو د هغه مځکه او مانیه او د هغې په نس کي کوچني او لوی زامن ټوله فیء (غنیمت) ګڼل کیږي .

س : که یو سړی د کفر په هیواد کي مسلمان سو او یو څه مال ئې درلودی چي حربي کافر یا مسلمان یا ذمي ځني غصب کړی وو څه حکم لري ؟

ج : کوم چي د حربي په لاس کي وي هغه فیء دی که غصب وي که ودیعت او کوم چي مسلمان یا ذمي ځني غصب کړی وي د ابو حنیفه رح په نزد هغه فیء دی او محمد ویلي دي هغه فیء نه دی (۱) .

د عشر او خراج باب

س : په کومه مځکه کي عشر یا خراج واجبیږي ؟

ج : عشري مځکه پر څو قسمه ده :

۱ :- د عربو مځکه ټوله عشري ده ، هغه له عذیب (۲) څخه د حجر تر پایه دي کوم چي د یمن د مهره په علاقه کي دي د شام تر حدودو پوري .

(۱) محمدرح دغه رنګه اختلاف په " السیر الکبیر " کي ذکر کړی دی او د " الجامع الصغیر " په شرح کي هغوی د ابو یوسف رح قول د محمدرح سره ذکر کړی دی ، له " الهدایې " څخه .

(۲) عذیب د بني تمیم یو اوبه دي او حجر په دوو فتحو سره د ډبري په معنی دی.یعني د یمن تر آخري حصې پوري چي د هغه آخري ډبره ده . مهره په فتحه او سکون سره د یو سړي نوم دی ، ځینو علماوو ویلي دي د یو قبیلې نوم دی چي مهري اوښان ورته منسوبه دي ، د ځای لپاره نوم ګرځیدلی دی چي په [illegible] دی او بر ئې د یبرین او د هناء له ریګ څخه دی چي د عالج ریګ ورته [illegible] ، هغه ځای ته کله کله منقطع السماوه ویل کیږي ، کرخي ویلي دي هغه د [illegible] یمن او طائف او دښت مځکه ده ، د عربو جزیرې ته حجاز ویل کیږي ، جزیره [illegible] حبش دریاب او فارس دریاب او فرات پر هغه راګرځیدلی دی ، حجاز ځکه [illegible] ئې بیلتون را وستلی دی ، له " فتح القدیر " او " العنایه " څخه [illegible] په کسره وروسته ئې یاء ده وروسته ئې نون ، حموي په معجم

۲ :- هره مځکه چي مالکان ئې مسلمانان سي هغه عشري ده .
۳ :- هره مځکه چي په زور فتح کړل سي او د غنيمت اخستونکو په منځ کي وويشل سي هغه عشري ده .
٤ :- د بصرې مځکه زموږ په نزد د صحابه وو په اجماع سره عشري ده (۱) .
د خراج مځکه هم څو قسمه ده :-
۱ :- د سواد العراق (۲) مځکه ټوله خراجي ده هغه له عذيب څخه تر عقبه حلوان پوري او له علث څخه تر عبادان پوري ده او هغه د هغوی د څښتنانو ملکيت ده هغوی ته ئې خرڅول او په هغه کي د هغوی له خوا تصرف کول (خرڅول ، په اجاره ورکول او داسي نور) روا دي .
۲ :- هره مځکه چي په زور نيول سوې وي او څښتنان ئې پر هغه پريښول سوي وي هغه خراجي مځکه ده .
۳ :- څوك چي يو موات مځکه را ژوندۍ کړي د ابو حنيفه رح په نزد د هغه حيز (۳) تـــه

د ص ٤٤٤ پاته برخه : البلدان (٥-٤٢٧) کي ويلي دي : ويل سوي دي چي هغه له حجر اليمامه څخه د لمر ختو ښې لوري ته بې پايه ريګ دی ، سکري ويلي دي : د بني سعد د ښارو لوري خواته دی ، د نصر په کتاب کي ذکر سوي دي يبرين د بحرين له علاقو څخه دی چي په هغه کي دوه منبره دي او هلته يو ډېر مقدار ريګ دی چي د هغه او فلج په منځ کي درې مرحلې او د هغه او احساء او هجر په منځ کي دوې مرحلې دي آه .

(۱) دغه رنګه قدوري ذکر کړي دي او په " الهدايه " کي ئې ويلي دي او بصره د ده په نزد يعني ابو يوسف رح ټوله عشري ده د صحابه وو په اجماع سره ، هغه د ابو يوسف رح قول ګڼلی دی ، هغه ويلي دي په بصره کي قياس دا دی چي خراجي سي ځکه د خراج د مځکي حصه ده مګر صحابه وو پر هغه عشر اينبی دی نو د هغوی د اجماع له وجهي قياس پرېښول سو .

(۲) له سواد العراق څخه مراد د عراق مځکه ده ځکه هغه ډېره زرغونه ده او د هغه حدود له عذيب څخه تر عقبه حلوان پوري دی په عرض کي او له علث څخه تر عبادان پوري دی په طول کي ، علث د عين په فتحه او لام په سکون سره يو کلی دی چي پر علويانو وقف دی ، هغه د عراق سر دی د دجلې شرقي لوري ته او عبادان د درياب پر غاړه يوه کوچنۍ قلعه ده او حلوان د يو ښار نوم دی ، لـه " العنـايې " او " الکفايې " څخه .

(۳) يعني د هغه نژدې مځکه .

کتل کيږي که خراجي مځکي ته نژدې وه خراجي ده او که عشري مځکي ته نژدې وه عشري ده ، محمد رح ويلي دي که ئې يو څا وکندى په هغه سره ئې را ژوندى کړل يا ئې يو چينه را وايستل يا ئې د دجلې يا فرات يا لويو ولو په اوبو سره کوم چې څوك ئې مالکان نه وي را ژوندى کړل هغه عشري (۱) ده او که ئې په هغه ولو سره را ژوندى کړل کوم چې اعجمي خلګو کندلې وي لکه مهر الملك (۲) او نهر يزدجرد خراجي مځکه ده .

س : د عشر د اداء کولو څه تفصيل دی؟

ج : د زکات په کتاب کي مو ذکر کړي دي هغه وګوره .

س : د خراج مقدور بيان کړئ .

ج : کوم خراج چي عمر ﷺ د سواد پر خلګو ايښى دى له هر جريب څخه چي اوبه ور رسيږي او د زراعت قابل وي يو هاشمي قفيز دى هغه يو صاع او يو درهم دى او د شپشتو له هر جريب څخه پنځه درهمه دي او د انګورو او خرما د ونو له هر جريب څخه چي سره تخته وي لس درهمه دي ، له هغه څخه پرته پر نورو قسمو د هغو د طاقت په حساب سره ايښول کيږي (۳) .

س : که امام پر يو مځکه خراج کښېښوى مګر هغه ئې طاقت نه درلودى څه به کوي ؟

ج : د هغه د حال په مناسبت سره دي ئې امام کم کړي .

س : د خراج پر يوه مځکه اوبه ډيري سوې يا ځني پرې سوې او شىء ئې نه شن کوى يا يو آفت کښت تباه کړى د هغه له کبله خراج ساقطيږي ؟

ج : هو ساقطيږي .

س : که ئې ځښتن معطله پرېښول د هغه وجهي څخه ئې شىء نه کړى را شن په دغه صورت کي خراج څه حکم لري ؟

ج : خراج پر واجب دى .

---

(۱) دغه رنګه که ئې د باران په اوبو را ژوندى کړل ، له (الهدايه) څخه .

(۲) د فارس د يو پاچا نوم دى .

(۳) خجندي ويلي دي د زعفران په يوه جريب کي د هغه د طاقت په مقدار خراج دى که د هغه حاصل د کښت د مځکي حاصل ته رسيدى د کښت د مځکي د خراج په مقدار خراج ځني اخستل کيږي او که د شپشتو حاصل ته رسيدى په هغه کي پنځه درهمه دي ، له " الجوهره " څخه .

س : كه يو خراجي مځكه وه مالك ئې ذمي وو او هغه مسلمان سو يا يو مسلمان خراجي مځكه له ذمي څخه رانيول په دغه صورت كي د مځكي وظيفه بدليږي ؟
ج : نه بدليږي خراج په هغه ډول اخستل كيږي كوم چي مخكي اخستل كيږي .
س : كه يو خراجي مځكه وه كوم شيء چي هغه ئې را شنه كوي له هغه څخه عشر اخستل كيږي ؟
ج : دواړي وظيفې نه سره يو ځاى كيږي ، د خراجي مځكي له حاصل څخه عشر نه اخستل كيږي .
س : كه خراجي مځكه په يوه كال كي څو ځله حاصلات وكړي خراج مكرر ځله ځني اخستل كيږي ؟
ج : مكرر ځله نه ځني اخستل كيږي (۱) .

د جزيې باب

س : جزيه څه ته وايي ؟
ج : هغه هغه مال دى چي له اهل ذمه څخه د هغوى د ځانو او مالو د حفاظت لپاره اخستل كيږي او هغه پر دوه قسمه ده ، يوه هغه جزيه ده چي د دواړو طرفو په رضا او صلح سره اېښول كيږي ، د هغه اندازه هغه ده چي اتفاق پر راځي ، بله هغه جزيه ده چي امام ئې اړدي كله چي پر كافرانو غالبه سي او هغوى پر خپلو ملكيتو پرېږدي .
س : كومه جزيه چي امام ئې اړدي د هغه تفصيل څه دى ؟
ج : كوم څوك چي خان وي او خاني ئې ښكاره وي پر هغه به په كال كي اته څلوېښت درهمه اړدي په هره مياشت كي به څلور درهمه ځني اخلي او پر ميانه سړي به څلرويشت درهمه اړدي په هره مياشت كي دوه درهمه او فقير چي كار كوي پر هغه به دوولس درهمه اړدي په هره مياشت كي به يو درهم ځني اخلي .
س : په اهل ذمه كي داسي كسان سته چي جزيه نه ځني اخستل كيږي ؟
ج : پر مينځه يا كوچني يا شوټ يا فقير چي كار نه كوي جزيه نسته نه پر راهبانو كوم چي د خلكو سره نه ګډيږي .

---

(۱) ځكه عمر ﷺ مكرر ځله نه دي پر مقرر كړي ، عشر له هغه څخه مختلف دى ځكه كه په هر حاصل كي عشر واجب نه وي عشر نه بلل كيږي ، په " الهدايه " كي ئې ذكر كړې ده .

س : پر ټولو کافرانو جزيه ايښول کيږي که ځني کافران له هغوی څخه وزي ؟

ج : پر اهل کتابو او مجوسو او له عجمو څخه کوم کسان چي د بتانو عبادت کوي پرهغوی جزيه ايښول کيږي کوم عرب چي د بتانو عبادت کوي پر هغوی جزيه نه ايښول کيږي لکه چي پر مرتدو کسانو جزيه نه ايښول کيږي ځکه د دغه دوو کسانو لپاره اسلام دی يا توره .

س : که يو ذمي اسلام راوړی او پر هغه جزيه وه هغه ځني ساقطيږي ؟

ج : هو ساقطيږي .

س : که پر يو ذمي دوه کاله تير سول په دغه صورت کي د جزيې په اخستلو کي اساني ورسره کيږي ؟

ج : هو اساني ورسره کيږي او دوې جزيې سره داخليږي ، يوه جزيه ځني اخستل کيږي .

س : داسي څوک سته چي د مسلمانانو د زکات دوه چنده مال ځني اخستل کيږي ؟

ج : هو د بني تغلب نصاری دي له هغوی څخه د مسلمانانو د زکات دوه چنده اخستل کيږي . د هغوی د ځانو او ښځو څخه اخستل کيږي او له کوچنيانو څخه ئې نه اخستل کيږي (۱) .

د فيء فصل

س : فيء څه ته وايي او د هغه او د غنيمت په منځ کي څه فرق دی ؟

ج : فيء د شيء پر وزن دی له فاء يفيء څخه د رجع ، يرجع (۲) په معنی دی ، د دوی په منځ کي دا فرق دی چي کوم مال له کافرانو څخه د غـازيانو پـه زور سره واخستل سي

(۱) تغلب بن وائل له ربيعه قبيلې څخه عرب دي د جاهليت په زمانه کي نصاری سوي وه کله چي اسلام راغلی بيا د عمرﷺ زمانه راغلل هغه د جزيې غوښتنه ځني وکړل هغو له هغه څخه ډډه وکړل او وئې ويل موږ عرب يو زموږ څخه هغه شيء واخله کوم چي په تاسو کي ئې ځيني له ځينو څخه اخلي چي هغه صدقه ده . هغه وويل زه له مشرك څخه صدقه نه اخلم ځيني روم ته ولاړل ، نعمان بن زرعه وويل ای امير المومنين دغه قوم ډير بد نه دی عرب دي له جزيې څخه تکبر کوي خپل دښمن ته په دوی سره قوت مه ورکوه له هغوی څخه د صدقې په نوم جزيه واخله ، عمرﷺ په دوی پسي څوك واستوی او صدقه ئې پر دو[illegible] چنده کړل صحابه وو پر هغه اجماع وکړل بيا د فقه علماوو ، له " فتح القدير " څخه .

(۲) فيء ويل کيږي چي د کافرانو مالونه د هغوی له لاسو څخه زموږ لاسو ته بيله جنګ څخه

هغه غنيمت دی او کوم چي بېله جنګ څخه څني واخستل سي هغه فیء دی ، فیء څو صورتونه لري چي د فقه علماوو په خپلو کتابو کي ذکر کړي دي لکه خراج ، جزيه او هغه مال چي له کافرانو څخه په صلح یا بله توګه واخستل سي .

د خراج او جزيې او فیء مصارف

س : د خراج او جزيې او فیء مالونه چيري مصرفيږي ؟

ج : کوم مال چي امام ئې را ټولوي چي خراج او جزيه ده یا د بني تغلب مالونه دي او هغه چي کافران ئې امام ته تحفه کوي هغه ټوله د مسلمانانو په ګټو کي خرڅيږي . په هغه سره به بندرونه بنديږي ، لوی او کوچني پلان جوړيږي د مسلمانانو قاضيانو او علماوو ته دومره مال ورکول کيږي چي د هغوی بسيږي د جنګ کونکو لښکر او د هغوی اولاد ته له هغه څخه ورکول کيږي .

د اهل ذمه ځيني احکام

س : اهل ذمه د اسلام په هيواد کي اوسيږي داسي خاص احکام سته چي په دوی پوري اړه ولري ؟

ج : هو څو احکام دي چي يوازي په دوی پوري اړه لري ، يو دا چي هغوی د اسلام په هيواد کي بيع(د يهودو د عبادت ځای) او کنيسه (د نصاریوو د عبادت ځای) نه سي جوړولای ،کومي چي مخکي د اسلام له غلبې څخه وي اونړيدلي وي د هغه ترميم کولای سي ، بل دا چي په دې سره امر کيږي چي په لباس کي ، حيوانانو کي او ځلانو کي او خوليانو کي به د مسلمانانو څخه بيل وي ، يو دا چي پر آسانو به نه سپريږي او اسلحه به نه را اخلي .

س : که يو ذمي د جزيې ورکولو څخه ډډه وکړل يا ئې يو مسلمان ووژنی يا ئې نبيﷺ ته ښکنځل وکړل يا ئې د مسلماني ښځي سره زنا وکړل عهد ئې ماتيږي ؟

ج : په دغه شيانو سره ئې عهد نه ماتيږي ، که د کفر هيواد ته ولاړی ماتيږي څرنګه چي په هغه صورت کي ماتيږي چي اهل ذمه پر يو ځای غالبه سي او دوی زموږ سره جنګ وکړي .

د مستامن باب .

س : کله کافران دې ته ضرورت پيدا کوي چي زموږ هيواد ته په امان سره داخل سي او

ډير خله مسلمانان د هغوی هيواد ته داخليږي موږ غواړو چي د هغه حکمونه وپيژنو نو بيان ئې کړئ .

ج : د فقه علماوو په هغه کي تفصيل ذکر کړی دی چي د راتلونکو مسئلو څخه درته څرګنديږي نو په ياد ئې ولره :-

۱ :- که مسلمان د کفر هيواد ته د سودا ګري په توګه په امان ننوتی هغه لره نه ده روا چي د هغوی مال يا وينو ته نقصان ورسوي ، که ئې د هغوی سره غدر وکړی او يو شيء ئې څني واخستی او د اسلام هيواد ته ئې راوړی د هغه مالك ګرځي مګر دغه کار ئې حرام دی نو د هغه په خيراتولو سره امر کيږي .

۲ :- که کافر زموږ هيواد ته په امان سره ننوتی تر يوه کال پوري زموږ په هيواد کي نه پريښنول کيږي او امام دي ورته ووايي که دي يو کال تېر کړئ جزيه درباندي ايښول کيږي ، که ئې يو کال تېر کړی جزيه څني اخستل کيږي او ذمي ګڼل کيږي اوس بيرته د کفر هيواد ته نه پريښنول کيږي .

۳ :- که بيرته د کفر هيواد ته ولاړی او د يو مسلمان يا ذمي په نزد ئې وديعت پريښنوی يا ئې د هغوی په ذمه کي پور پريښنوی ، په بيرته تلو سره د کفر هيواد ته ئې ويني حلاليږي او کوم مال چي ئې د اسلام په هيواد کي پرايښی وي هغه ته انتظار کړل کيږي که بندي کړل سو يا هغه هيواد مسلمانانو فتح کړی او دی ووژل سو پوررونه ئې ساقطيږي او وديعت ئې فيء ګرځي او که ووژل سو او هغه هيواد مسلمانو نه کړی فتح نو قرض او وديعت د ده د وارثانو ګرځي .

د مسلمانانو د کافرنو او د کافرانو د مسلمانانو پر هيواد د غلبې باب

س : د مسلمانانو د کافرانو پر هيواد د غلبې او د هغوی د مسلمانانو پر هيواد د غلبې او هغوی د څينو پر څينو نورو د غلبې احکام څه دي ؟

ج : د فقه علماوو په هغه کي څو مسئلې ذکر کړي دي په هغه سره ستا د سوال جواب څرګنديږي نو خپل ذهن حاضر کړه او دغو مسئلو ته متوجه سه :-

۱ :- که د کافرانو يوې ډلي پر نورو غلبه پيدا کړل هغوی ئې بنديان کړل او د هغوی مالونه ئې واخستل دوی ئې مالکان ګرځي که پر دغو غلبه کونکو موږ غلبه پيدا کړل کوم مالونه چي موږ ئې مومو هغه موږ ته روا دي .

۲ :- که کافرانو (نعوذ بالله) زموږ پر مالو غلبه پیدا کړل او هغه ئې خپل هیواد ته یووړل که مسلمانان پر دغو مالو غلبه پیدا کړي او له ویشلو څخه مخکې ئې خپل مالکان پیدا کړي هغه بیله قیمت سره د دوی کیږي او که ئې تر ویشلو وروسته پیدا کړي که ئې خوښه وي په قیمت سره ئې اخستلای سي .

۳ :- که یو سوداګر د کفر هیواد ته ننوتی هغه مال ئې رانیوی کوم چې کافرانو غلبه پر کړې وه او د اسلام هیواد ته ئې یووړی لمړي مالك لره اختیار سته که ئې په هغه ثمن سره اخلي چې لمړي تاجر په رانیولی دی او که ئې پرېږدي .

٤ :- که د مسلمانانو اوښ وروتښتیدی ، هغوی واخستی هغوی ئې مالکان کیږي (۱) .

د مریانو مسئلې کله چې کافران ئې زموږ څخه بندیان کړي یا ور وتښتي

س : که کافرانو زموږ یو مریی بندي کړی یا مریی د سامان سره ور وتښتیدی یا هغوی زموږ پر مریي غلبه پیدا کړل څه حکم لري ؟

ج : راتلونکي مسئلې په یاد ولره جواب درته حاصلیږي :-

۱ :- که کافرانو دمسلمانانو یومریی بندي کړی ، یو سړي څني رانیوی اوداسلام ښار ته ئې راوایستی سترګه ئې ړنده سول اودهغه ارش ئې واخستی پخوانی مالك به ئې په هغه ثمن سره اخلي په کوم سره چې دوهم بادار له دښمن څخه رانیولی دی ارش به نه اخلي .

۲ : که ئې د یو مسلمان مریی بند کړی یوه سړي په زر رانیوی هغوی دوهم ځل بندي کړی او د کفر هیواد ته ئې بوتلی یو بل سړي په زر رانیوی اول بادار لره دا حق نسته چې له دوهم څخه ئې په ثمن سره واخلي اول رانیونکي لره دا حق سته چې له دوهم څخه ئې په ثمن سره واخلي وروسته به ئې پخوانی مالك که ئې خوښه وه په دوه زره اخلي .

۳ :- کافران زموږ د مدبر مریانو ، ام ولد مینځو ، مکاتب مریانو او ازادو کسانو (۲) نه مالکان کیږي او موږ د هغوی ټولو مالکان کیږو .

(۱) که یوسړي رانیوی داسلام هیواد ته ئې راوستی مالك ئې په ثمن سره اخستلای سي له "الهدایه" څخه.

(۲) ځکه په سبب سره هغه وخت ملکیت حاصلیږي چې د ملکیت ځای وي او مباح مال محل دی د آزاد ځان معصوم دی دغه رنګه هغه نور کسان ځکه په هغوی کي لـه یو وجهـي څخه حـریت راغلـی دی ، د دوی د جنایت له وجهي شریعت د دوی معصومیت له منځه وړی دی او هغوی ئې مریان کړي دي او دغه کسانو کوم جنایت نه دی کړی ، له " الهدایه " څخه .

٤ :- كه د مسلمان يو مريى دوى ته وروتښتيدى هغو واخستى د ابو حنيفه رح په نزد ئې نه مالكان كيږي (١) .

٥ :- كه د يو مسلمان يو مريى هغوى ته وروتښتيدى او آس او سامان ئې هم د ځان سره يووړى ، كافرانو دغه ټوله واخستل او يو سړي ځني رانيول او د اسلام هيواد ته ئې راوړل بادار ئې مريى بيله ثمن څخه اخستلاى سي او آس او سامان په ثمن سره اخستلاى سي ، دا د ابو حنيفه رح په نزد او صاحبينو رح ويلي دي مريى او د هغه سامان كه ئې خوښه وي په ثمن سره اخستلاى سي .

٦ :- كه حربي زموږ هيواد ته په امان راغلى او يو مسلمان مريى ئې رانيوى او د كفر هيواد ته ئې بوتلى د ابو حنيفه رح په نزد ازاديږي او صاحبينو رح ويلي دي نه ازاديږي .

٧ :- كه يو حربي مريى مسلمان سو وروسته موږ ته راغلى يا مسلمانانو د هغوى هيواد فتح كړى هغه ازاديږي دغه رنګه حكم دى د هغوى په مريانو كي چي د مسلمانانو لښكر ته وروتښتي .

د مرتدو كسانو احكام

س : كله ځيني مسلمانان له اسلام څخه مرتد كيږي (نعوذ بالله) د هغوى احكام بيان كړئ .

ج : راتلونكي مسئلې په ياد ولره :-

١ :- كه يو سړى له اسلام څخه مرتد سي اسلام ورته وړاندي كيږي كه ئې يو شبهه درلودل هغه دي ليري كړل سي او دري ورځي دي بندي سي كه مسلمان سو ښه دى كه نه ودي وژل سي .

٢ :- كه د اسلام تر وړاندي كولو مخكي يو وژونكي ووژى مكروه دى مګرنه قصاص پر سته نه ديت .

٣ :- كه ښځه مرتده سول (نعوذ بالله) هغه نه وژل كيږي بلكه تر هغه وخت پوري بندي كيږي تر څو مسلمانه كيږي.

(١) څرنګه چي د ابو حنيفه رح په نزد ئې هغوى نه مالكان كيږي پخوانى مالك ئې بيله قيمت څخه اخستلاى سي . له " الهدايه " څخه .

٤ :- د مرتد له خپلو مالو څخه په موقوفه توګه ملکيت پورته کيږي که ئې اسلام راوړی ملکيتونه ئې بيرته خپل حال ته را ګرځي او که په داغه ردت کي مړ سو يا ووژل سو د ده هغه مالونه چي د اسلام په حالت کي ئې ګټلي وي د هغه مسلمانانو وارثانو ته نقل کيږي او کوم چي د ردت په حالت کي ئې ګټلي وي فيء ګرځول کيږي په بيت المال کي اېښول کيږي .

٥ :- که د کفر هيواد ته مرتد منتقل سو (١) او حاکم ئې د هغه په منتقليدو حکم وکړي د هغه مدبر مريان او ام ولد مينځي ازاديږي او کوم پورونه چي پر ده باندي وه هغه ختميږي او کوم مالونه چي ئې د اسلام په حالت کي ګټلي وي د ده مسلمانانو وارثانو ته نقل کيږي او هغه پورونه چي د ده د اسلام په وخت کي پر ده باندي سوي وي له هغه مالو څخه اداء کيږي کوم چي ده د اسلام په وخت کي ګټلي وي او کوم پورونه چي د ده د ردت په وخت کي پر ده اوښتي وي له هغو مالو څخه اداء کيږي کوم چي ئې د ردت په وخت کي ګټلي ويَ .

٦ :- کوم شيء چي ئې د ردت په حال کي خرڅ کړی وي يا ئې رانيولی وي يا ئې په کومو مالو کي تصرف کړی وي هغه موقوف دي که مسلمان سو عقدونه ئې صحيح دي او که مړ سو يا ووژل سو يا د کفر هيواد ته منتقل سو باطليږي .

٧ :- که وروسته له دې څخه چي د کفر هيواد ته منتقليدو سره ئې حکم وسو بيرته د اسلام هيواد ته مسلمان راغلی کوم مال چي خپله هغه د خپلو وارثانو په لاس کي ومومي خني وادي ئې خلي (٢) .

٨ :- که مرتدي ښځي د ردت په حالت کي په خپل مال کي تصرف وکړی صحيح دی .

---

(١) يا د ردت په حالت کي مړ سو .

(٢) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : څکه د ده وارث له دې کبله د ده نائب ګرځي چي دی هغه ته ضرورت نه لري ، که بيرته مسلمان راسي ضرورت ورته پيدا کوي نو دی له هغو څخه مخکي کيږي . کــه وارث هغه مال له خپله ملکيت څخه وايستی د هغه حکم مختلف دی ، دغه رنګه ام ولد مينځي او مدبر مريان څکه فيصله د يو صحيح دليل پر بنسټ سوې وه نو هغه نه ماتيږي ، که مخکي له دې څخه چي قاضي په هغه سره فيصله وکړي بيرته راسي داسي ګڼل کيږي لکه چي نه وي کافرسوی آه .

د باغيانو باب

س : که يوه ډله د مسلمانانو د پاچا له اطاعت څخه سرغړونه وکړل او پر يو ښار ئې قبضه وکړل امام به څه معامله ورسره کوي ؟

ج : امام به ئې د مسلمانانو جماعت ته بيرته رابولي او د هغوی شبهه به ليري کوي د هغوی سره به جنګ تر هغه وخت پوري نه شروع کوي تر څو هغوی جنګ شروع کوي ، که هغوی جنګ شروع کړی امام دي ورسره وجنګيږي تر څو د هغوی ډله سره وپاشي که ئې ډله درلودل د هغوی ټپي دي ور ووژني (۱) او کوم چي تښتي په هغه پسي دي لښکر روان کړي او که ئې ډله نه درلودل ټپي دي ئې نه وژل کيږي او د هغوی په تښتيدونکي پسي دي لښکر نه روانيږي ، د هغوی اولاد نه بنديان کيږي او مالونه ئې نه ويشل کيږي

س : که د مسلمانانو لښکر له باغيانو څخه اسلحه واخستل د امام لښکر ته دا روا ده چي د هغوی په اسلحه سره جنګ وکړي ؟

ج : که مسلمانانو ضرورت ورته درلودی ورته روا ده .

س : که د امام ډلي د باغيانو پر مالو قبضه وکړل امام به په دغه مالو سره څه کوي ؟

ج : تر هغه وخت پوري به ئې ساتي تر څو توبه کاږي تر توبه وروسته دي ئې بيرته ورکړي .

س : که باغيانو له هغه ښارو څخه چي دوی غلبه پر وکړي عشر او خراج واخلي وروسته امام قبضه پر وکړي دوهم ځل به ئې څني اخلي ؟

ج : دوهم ځل به ئې نه څني اخلي ، که هغوی په خپلو مصرفو کي خرڅ کړي وه د هغو کسانو لپاره کفايت کوي له کومو څخه چي اخستل سوي وي او که ئې په خپلو مصرفو کي نه وه خرڅ کړي د هغوی پر څښتنانو د دوی او د الله ﷻ تر منځ لازمه ده چي بيرته ئې را وګرځوي .

(۱) که ئې داسي ډله درلودل چي هغه ته ئې پناه ور وړل د هغوی مشران چي تدبير ئې کوي هغه دي تر ماتيدو او تښتيدو وروسته ووژل سي او د هغوی ټپي دي ژر ووژل سي ، له الهدايې څخه .

د حظر او اباحت كتاب

س : حظر او اباحت څه معنى لري ؟

ج : حظر په عربي ژبه كي منع ته ويل كيږي او محظور ممنوع شي ته ويل كيږي او د اباحت معنى دا ده چي مكلف (كوم انسان چي عاقل او بالغ وي) ته اختيار سته چي هغه كار كوي كه ئې پرېږدي نه ثواب وركول كيږي نه عذاب .

د لباس فصل

س : هغه شيان بيان كړئ كوم چي اغوستل ئې روا دي او كوم چي نرو او ښځو ته ئې اغوستل روا نه دي .

ج : لاندي مسئلې په ياد ولره :

١ : نرو او ښځو ته په لباس او طرز او شكل كي د كافرانو او كافرو ښځو سره مشابهت نه دى روا څرنگه چي د نرو لپاره د ښځو سره مشابهت نه دى روا او د ښځو لپاره د نرو سره مشابهت نه دى روا (١) .

٢ : تبذير او اسراف روا نه دى .

٣ : د نرو لپاره د ورېښمو اغوستل نه دي روا او د ښځو لپاره روا دي .

٤ : د صاحبينورح په نزد په جنگ كي د حرير (يو قسم ورېښم دي) او ديباج (يو بل قسم ورېښم دي) اغوستل روا دي او د ابوحنيفه رح په نزد مكروه دي .

٥ : داسي كالي چي يو تار ئې ابرېسم او يو تار ئې پنبه يا خز وي پروا نه لري .

٦ : د نرو لپاره د ازار او پرتوگ او قميص او نورو كاليو تر بجلكو اوږدول حرام دي (٢) .

---

(١) له ابن عباس ﷺ څخه روايت سوى دى چي نبي ﷺ وويل : د الله ﷻ لعنت دى پر هغو نرو چي د ښځو سره ځان مشابه كوي او هغو ښځو چي د نرو سره ځان مشابه كوي او هغه ﷺ ويلي دي : له خپلو كورو څخه ئې وباسئ ، امام بخاري ئې روايت كړى دى ، او له هغه څخه روايت سوى دى چي نبي ﷺ وويل : د الله ﷻلعنت دى پر هغو نرو چي د ښځو سره ځان مشابه كوي او هغو ښځو چي د نرو سره ځان مشابه كوي . امام بخاري ئې روايت كړى دى .

س : له وربښمو څخه بالښت جوړول څه حکم لري ؟

ج : د ابوحنيفه رح په نزد له هغه څخه بالښت جوړول پروا نه لري او صاحبينورح ويلي دي له هغه څخه بالښت جوړول مکروه دي .

د سرو زرو او سپينو زرو د استعمال فصل

س : د سرو زرو او سپينو زرو استعمال څه حکم لري ؟

ج : راتلونکي مسئلې په ياد ولره :

۱ : د سړي لپاره د سرو او سپينو زرو زېور اغوستل نه دي روا ، ښځو ته روا دي .

۲ : د کوچني لپاره د سرو زرو او وربښمو اغوستل نه دي روا (۱) .

۳ : د نرو لپاره ګتمۍ پروا نه لري که د سپينو زرو وي او تر يوه مثقال کمه وي ، د سپينو زرو پرته له بل شي څخه نه ده روا (۲) .

٤ : د سرو زرو او سپينو زرو په لوښي کي خورك او څښنګ او يا له هغو څخه سر غوړول او خوشبويي لګول روا نه دي څرنګه چي د هغو په کاچوغو سره خورك او د هغو په سلايي سره سترګي تورول د نرو او ښځو دواړو لپاره مکروه دي .

۵ : د سيبښې او ليډ او بلور او عقيق د لوښو استعمالول روا دي .

٦ : د ابوحنيفه رح په نزد په داسي لوښي کي چښل چي سپين زر پر لګېدلي وي يا داسي څين سپرېدل چي سپين زر پر لګېدلي وي يا داسي.کرسي کښېښستل چي سپين زر پر لګېدلي وي دغه ټوله روا دي که ئې د سپينو زرو له ځاى څخه ځان ژغورى .

د ص ٥٥٦ پاته برخه : (۲) له ابوهريره ﷺ څخه روايت سوى دى چي نبي ﷺ وويل : له لنګ څخه چي کومه برخه تر بجلکو کښته وي هغه په اور کي ده ، امام بخاري ئې روايت کړى دى ، سالم له خپل پلار څخه روايت کړى دى چي نبي ﷺ وويل : اسبال (کالى اوږدول) په لنګ ، قميص او لنګوټه کي دى څوك چي له دغو څخه يو د فخر په توګه اوږد کړى د قيامت په ورځ الله ﷺ نه ورته ګوري ، ابوداود او نسائي ئې روايت کړى دى .

(۱) ځکه کله چي نرو ته ئې اغوستل حرام سول په بل چا سره اغوستل ئې هم حرام دي لکه شراب چي څښل ئې حرام سول په بل چا سره ئې څښل هم حرام دي ، له " الهدايه " څخه .

(۲) د " الدر المختار " مصنف ويلي دي : د سپينو زرو پرته له بل شي څخه دي ګتمۍ نه جوړوي ځکه په هغه سره کفايت کيږي نو له بل شي څخه حرامه ده لکه ډبره او سره زر او اوسپنه او براس او ليډ او سيبښه او [illegible]ان اه .

۷ : قران کريم ته پوښ ورکول او مسجد ته نقش ورکول او د سرو زرو په اوبو سره ښايسته کول پروا نه لري .

د جماع او کتلو او لاس وروړلو فصل

س : د نر کتل بېگانه ښځي ته څه حکم لري ؟

ج : د هغې د مخ او ورغوو پرته بل ځای ته ئې کتل نه دي روا . که له شهوت څخه په امن کي نه وو (۱) بېله ضرورت څخه دي ئې مخ ته نه گوري . مخ او ورغوو ته ئې لاس وروړل که څه هم له شهوت څخه په امن کي وي نه دي روا .

س : په کومه وجه د ښځي مخ ته د کتلو حاجت پيدا کيږي ؟

ج : شاهد ته حاجت پيدا کيږي کله چي وغواړي چي پر هغې شاهدي اداء کړي او قاضي لره کله چي وغواړي چي فيصله پر وکړي ، هغوی لره د بېگانه ښځي مخ ته کتل روا دي

---

(۱) د " الهدايې " مصنف ويلي دي : که له شهوت څخه په امن کي وو هم دي ئې بېله ضرورت څخه مخ ته نه گوري ، که له شهوت څخه په امن کي نه وو بېله حاجت څخه دي ئې مخ ته نه گوري تر څو له حرام کار څخه وژغورل سي ، ددې قول (که په امن کي نه وو) مفهوم دا دی چي که د شهوت په هکله په شک کي وو کتل ئې نه دي ورته روا څرنگه چي په خبر وي يا ئې لويه رايه داسي وي اه . ضعيف بنده الله ﷻ دي عفو ورته وکړي وايي : څرنگه چي له شهوت څخه امن د بېگانه ښځي د کتلو لپاره شرط دی بلکه د محرماتو ښځو د کتلو لپاره هم شرط دی نو دا له دين څخه نه ده چي ښځي لڅ مخ په بازارو او کوڅو کي راوزي په پارکو او مېله ځايو کي گرځي ځکه د فسق او گناوو زمانه ده . له دغو فاسقانو څخه څرنگه دا امن سته چي د بېگانه ښځو مخانو ته دي بېله شهوته او خوند وگوري . خينو کسانو دي ته نه دي متوجه سنوي نو ښځو لره ئې دا روا کړې ده چي له کور څخه لڅ مخ راووزي او دا ئې ويلي دي چي د فقه علماوو ويلي دي چي د بېگانه خلگو په مخ کي د مخ او ورغوو لڅول روا دي ، کله چي ښځي په دغه فتوی خبري سولې کومه چي دغو علماوو کړې ده لڅ مخ ا و لڅ سر لڅي سينې په زينت کي له کورو څخه راووتلې څرنگه چي په بازارو او ښارونو کي ليدل کيږي ، دغه مجتهد د ښځو په مزاج او په دې چي هغوی زينت او د نرو په مخ کي د زينت لپاره ځان ښکاره کولو ته ميل لري نه وو پوه او په دې نه وو پوه چي هغوی يوازي د مخ او لاسو په ښکاره کولو سره کفايت نه کوي نو هغه وښوييدی او ورك لاري سو او له نورو څخه ئې لاره ورکه کړل ، الله ﷻ دي پر هغو مفتيانو رحم وکړي کوم چي د تقوی څښتنان دي ځکه چي پر ښځه ئې دا لازمه کړل چي بېله کامل حجاب څخه له کور څخه نه راووزي په داسي توگه چي داسي چادر به ئې پر ځان پېچلی وي چي سر او مخ او سينه ئې په پټه وي ، الله ﷻ دي ټولو ته هغه لاره وروښوي کومه چي هغه ئې خوښوي .

که څه هم له شهوت څخه بېرېږي .

س : که د یوې ښځي په ورون کي تپ وو او دې ته ضرورت وو چي ډاکټر ورته وګوري څه به کوي ؟

ج : د تپ ځای ته کتل ورته روا دي د ورون نورې برخي ته دي نه ګوري .

س : د سړي و سړي ته کتل او د ښځي ښځي ته کتل څه حکم لري ؟

ج : سړی د سړي ټوله بدن کتلای سي بېله له نو څخه تر ځنګنو پوري دغه رنګه ښځه د ښځي هغو ځایو ته کتلای سي کوم چي سړی د سړی ځایو ته کتلای سي .

س : ښځه د سړي کومو ځایو ته کتلای سي ؟

ج : د سړي هغو ځایو ته کتلای سي کومو ته چي سړی ورته کتلای سي .

س : د سړي خپلي مینځي او مایني ته کتل څه حکم لري ؟

ج : د خپلي مینځي کومه چي ورته روا وي (۱) او ماینې ټوله بدن ته کتلای سي .

س : محرماتو ښځو ته د سړي د کتلو حکم پاته سو هغه بیان کړئ .

ج : سړي لره روا ده چي د محرماتو ښځو مخ او سر او سینې او پنډیو (۲) ته وګوري ، شا ، مخ او ورنو ته دي ئې نه ګوري ، کوم ځای ته چي ئې کتل ورته روا وي هغه ځای ته لاس وروړل هم ورته روا دي (۳) .

س : د بل چا مینځي ته د سړي کتل څه حکم لري ؟

ج : د سړي لپاره د بل چا د مینځي هغو ځایو ته کتل روا دي کومو ځایو ته چي د خپلو محرماتو ښځو کتل ورته روا وي ، که ئې رانیول دغو ځایو ته لاس وروړل هم ورته روا دي که څه هم له شهوت څخه بېرېږي .

س : مریي لره روا ده چي خپلي باداري ته وګوري .

ج : یوازي هغو ځایو ته کتل ورته روا دي کومو ځایو ته چي د بېګانه سړي کتل په ذکر

---

(۱) دغه تکی ئې خکه ذکر کړی چي مجوسي او مکاتبه مینځه او هغه چي د بل چا په نکاح کي وي او کوم چي د نی رودلو یا خپښی له کبله حرامه سوې وي ، هغه د بېګانه مېنځي حکم لري . دغه رنګه په الدر المختار کي ذکر سوي دي .

(۲) دا په هغه حالت کي چي د خپل خان او ددې له شهوت څخه په امن کي وي .

(۳) دا هم په هغه حالت کي دی چي پر خپل خان او پر ښځي له شهوت څخه په امن کي وي . له الدر المختار څخه

سوي شرط سره روا دي .

د احتکار (ذخیره کول) او نرخ ورکولو فصل

س : د قوت (کوم شی چي د انسان یا حیوان غذا په حاصلیږي) احتکار څه حکم لري ؟
ج : د انسانانو او حیوانانو د قوت احتکار نه دی روا که په داسي ښار کي وو چي د هغه اوسېدونکو ته ئې نقصان رسوی .
س : که یو چا د خپلي مځکي غله وساتل یا داسي غله چي له بل ښار څخه ئې راوړي وي دغه په هغه احتکار کي داخلیږي کوم چي ممنوع دی ؟
ج : دغه ممنوع احتکار نه دی .
س : که پاچا خلګو ته نرخ ورکړي څه حکم لري ؟
ج : هغوی ته نرخ ورکول مناسب نه دي بلکه هغوی دي پرېږدي چي خپل مالونه یو له بل سره خرڅ کړي څرنګه چي د هغوی خوښه وي (۱) .

متفرقي مسئلي

۱ : په مصحفو کي تعشیر (۲) او تنقیط (۳) مکروه دي .
۲ : د خصیانو مزدورول مکروه دي .
۳ : د حیوانانو خصي کول پروا نه لري .
٤ : د غاترو د زېږولو لپاره نر خرونه دښځو اسانو سره یوځای کول پروا نه لري .
٥ : په تحفه او اجازه کي د مریي او کوچني خبره منل کیږي (٤).

---

(۱) په " الدر المختار " کي ئې ویلي دي : حاکم دي نرخ نه ورکوي مګر که ئې له خپلو قیمتو څخه ډېر زیات تېری وکړی د اهل الرای په مشوره دي نرخ ورکړي ، امام مالك ویلي دي : د ګرانی په کال کي نرخ ورکول پر لازم دي ، شامي په " الحاشیة " کي ویلي دي یعني دا پر واجبه ده څرنګه چي په " غایة البیان " کي ذکر سوي دي ، زیات تېری ئې هم نه دی شرط کړی لکه چي ابن الکمال ذکر کړي دي په دغه سره د دواړو مذهبو فرق څرګند سو (٥-٢٥٦) .
(۲) هغه دا دی چي تر هرو لسو آیاتو وروسته یوه نښه ولیکل سي تر څو هر لسو آیاتونه سره بېل سي
(۳) په " الجوهره النیره " کي ئې ویلي دي تنقیط یعني قران کریم ته نقطې او اعراب ورکول په مخکنی زمانه کي مکروه وه ځکه هغوی خالص عرب وه لحن او خطا نه ورته پېښېدل ، اوس څرنګه چي عرب او عجم سره ګډ سول نقطې او اعراب ورکول مستحب دي ځکه د هغه پرېښول حفظ ته نقصان رسوي .

٦ : په معاملو کي د فاسق قول قبلیږي .

٧ : په ديني خبرو کي د عادل پرته د بل چا قول نه قبليږي .

٨ : د بېګانه ښځي په کتلو کي خصي سړي د جوړ سړي په شان دي .

٩ : سړي لره د خپلي مينځي سره عزل کول د هغې د اجازي پرته روا دی او د خپلي ماينې څخه دي د هغې د اجازې پرته عزل نه کوي .

١٠ : د فتنې په ورځو کي د اسلحې خرڅول مکروه دي (١) .

١١ : د ميوې اوبه پر داسي چا خرڅول چي دی په خبر وي چي شراب ځني جوړوي پروا نه لري .

د ص ٤٥٩ پاته برخه : (٤) ددې مطلب دا دی چي يو سړی له يو چا څخه د کور داخلېدلو اجازه وغواړي . مريی يا کوچنی راووزي او د ننوتلو لپاره ئې راوبولي اجازه غوښتونکي لره روا ده چي کورته ورننوزي او د هغه په خبره سره عمل وکړي ځکه لويان ددغه کار لپاره نه راوزي بلکه د اجازې د خبرولو لپاره مريان او کوچنيان وراستوي ، دغه رنګه که کوچنی يا مريی يوه تحفه راوړي او دا ووايي چي زما بادار دغه تحفه تا لره راواستول د هغې قبلول ورته روا دي .

(١) يعني پر داسي چا خرڅول چي دا معلومه وي چي فتنې والا دي لکه خوارج او باغيان . له "الجوهره"

د وصيتو كتاب

س : وصيت څه ته وايي او څه حكم ئې دی ؟

ج : وصيت او ايصاء په عربي ژبه كي له بل چا څخه د كار غوښتني ته ويل كيږي چي دده په غياب كي ئې وكړي كه هغه ژوندی وي كه مړ وي د فقه په اصطلاح كي هغه تمليك (په ملكيت سره وركول) ته ويل كيږي چي تر مرګ وروسته ته ئې نسبت سوی وي كه هغه يو شی وي كه يوه ګټه وي ، د هغه حكم دا دی كه پر موصي (كوم څوك چي وصيت كوي) د الله ﷻ واجب حقوق وه لكه زكات چي ئې نه وي اداء كړی يا ئې حج تر فرضيت وروسته نه وي كړی ، په دغه صورت كي د هغه د ا داء كولو لپاره وصيت كول پر لازم دي ، دغه رنګه د بندګانو د حقوقو او پورو د ا داء كولو وصيت كول پر لازم دي . دغه رنګه د امانتو او وديعتو د اداء كولو وصيت پر لازم دی كوم چي دده سره محفوظ وي ، كه د الله ﷻ حقوق نه وه پر پاته نه د بندګانو حقوق پر پاته وه او نه پورونه پر باندي وه ، دا ورلره مستحب ده چي داسي وصيت وكړي چي دده د مال يوه برخه د خير په كارو كي خرڅه كړل سي (١) ، كه دومره پورونه پر باندي وه چي دده مال ټوله په كښي تلی د هيڅ چا لپاره وصيت كول ورته جائز نه دي ، كه ئې وصيت وكړی نه صحيح كيږي او عمل نه پرې كيږي مګر په هغه صورت كي عمل په كيږي كه پوروړو خپل پورونه ورمعاف كړل .

س : د مسلمان كافر ته وصيت كول يا د كافر مسلمان ته وصيت كول جائز دي ؟

ج : هو دواړه جائز دي .

س : د كوچني وصيت كول جائز دي ؟

ج : نه دي جائز .

س : داسي څوك سته چي وصيت كول ورته جائز نه وي ؟

ج : د خپل قاتل لپاره وصيت نه دی جائز كه په قصد سره وي كه په خطا سره كه ئې خپله قتل كړی وي .

---

(١) دغه رنګه په هغه مال كي چي له حقوقو او پورو څخه زيات سي .

س : د قاتل پرته داسي څوك سته چي وصيت كول ورته جائز نه وي .

ج . وارث ته وصيت يوازي په هغه صورت كي جائز دى چي نورووارثان ئې اجازه وكړي او هغوى لوى بالغان او عاقلان وي (۱) .

س : تاسي ولي په وصيت كي دا تېكى (د مال يوه برخه) ، زيات كړى په ټوله مال سره وصيت كول جائز نه دى ؟

ج : دا ټكى مو ځكه زيات كړى چي وصيت تر يوې دريمي پوري جائز دى له هغه څخه په زيات سره وصيت يوازي هغه وخت جائز دى چي د موصي تر مرګ وروسته لوى وارثان اجازه وكړي . د هغوى په ژوند كي اجازه اعتبار نه لري ، مستحب دا دى چي له يوې دريمي څخه په كم سره وصيت وكړي (۲) .

س : كه يو سړى د يو چا لپاره وصيت وكړى هغه د موصي په ژوند كي قبول كړى يا ئې رد كړى دغه قبول او رد څه حكم لري ؟

ج : دغه قبول او رد هيڅ شى نه دى ، كله چي موصي مړ سي او له هغه څخه وروسته ئې قبول يا رد كړي هغه اعتبار لري .

س : كوم مال چي په هغه سره وصيت كړل سوى وي په قبول سره ئې مالك كيږي ؟

ج : په قبول سره د هغه مالك كيږي بېله يوې مسئلې څخه چي په هغه كي ئې له قبول څخه مخكي مالك كيږي ، هغه دا مسئله ده چي موصي مړ سي وروسته موصى له (هغه څوك چي وصيت ورته كړل سوى وي) له قبول څخه مخكي مړ سي هغه مال چي وصيت په كړل سوى وي دده د وارثانو په ملك كي داخليږي .

د وصي (كوم څوك چي د وصيت نافذلو لپاره ټاكل كيږي) بيان

س : كه يو سړى يو څوك وصي كړى يعني د خپل وصيت د نافذلو لپاره ئې وټاكى او هغه د موصي په مخكي وصيت قبول كړى او د هغه په غياب كي ئې رد كړى وصيت ئې په دغه سره باطليږي ؟

ج : كه ئې د موصي په مخكي رد كړى وصيت ئې باطليږي او كه ئې د هغه په غياب كي

---

(۱) د بالغ او عاقل تكي ئې زيات كړل ځكه د ليوني او كوچني اجازه اعتبار نه لري .

(۲) ابن عباس ﷺ ويلي دي : دا ښه ده چي خلك وصيت تر څلورمي برخي پوري را كم كړي ځكه نبي ﷺ ويلي دي : دريمه او دريمه لويه ده يا ډېره ده ، امام بخاري ئې په كتاب الوصايا كي روايت كړى دى .

رد كړى نه باطليږي .

س : كه يو سړي مريي يا كافر يا فاسق ته وصيت وكړى دغه وصيت څه حكم لري ؟

ج : قاضي به ئې له وصيت څخه باسي او د هغوى پر ځاى به نور كسان دروي .

س : كه يو چا خپل مريى وصي كړى وصيت ئې صحيح كيږي ؟

ج : كه په وارثانو كي لويان وه دغه وصيت نه صحيح كيږي كه نه صحيح كيږي ؟

س : كه ئې داسي څوك وصي كړى چي د وصيت كار ئې نه سواى پوره كولاى څه حكم لري ؟

ج : قاضي دي بل څوك ورسره ملګرى كړي .

س : كه ئې دوه سړيان وصيان كړل دا پر لازمه ده چي په وصيت كي به اتفاق سره كوي ؟

ج : كه ئې دوه سړيان وصيان كړل دابوحنيفهرح اومحمدرح په نزد يوه لره نه ده رواچي بېله خپل ملګري تصرف وكړي بېله كفن رانيولو اوجنازه تيارولو اودهغه دكوچني اولادو خورك اوكالي او امانت خپل مالك ته بيرته وركول او د هغه يو معلوم وصيت نافذول او يو معلوم مريي د ازادولو نافذول او پور اداء كول او د مړي د حقوقو لپاره دفاع كول .

د موصى له (كوم څوك چي د هغه لپاره وصيت كيږي) بيان

س : تاسي ذكر كړل چي وصيت يوازي په دريمه يا له هغه څخه كم سره روا دى ، دلته يو سوال پيدا كيږي كه يو سړى د يو چا لپاره په دريمه سره وصيت وكړى او د يو بل چا لپاره ئې هم په دريمه سره وصيت وكړى او وارثانو نه ومنى څرنګه نافذيږي ؟

ج : دريمه برخه د دوى دواړو په منځ كي ويشل كيږي .

س : كه ئې د يوه لپاره په دريمه برخه سره وصيت وكړى د بل لپاره ئې په شپږمه برخه وصيت وكړى څرنګه فيصله ئې په منځ كي كيږي ؟

ج : يوه دريمه ئې په منځ كي درې برخي كيږي يعني دريمي والاته د دريمي دوې دريمي وركول كيږي او شپږمي والاته د دريمي يوه دريمه وركول كيږي .

س : كه ئې يوه سړي ته په ټوله مال سره وصيت وكړى او يو بل ته ئې په دريمه سره وصيت وكړى او وارثانو نه ومنى دريمه برخه ئې په منځ كي څرنګه وېشل كيږي ؟

ج : ابوحنيفه رح ويلي دي : دريمه برخه ئې په منځ كي دوې برخي كيږي . ابويوسف رح او محمدرح ويلي دي : دريمه برخه د دوى په منځ كي څلور حصې كيږي ، ټوله مال والاته درې حصې وركول كيږي او دريمي والاته يوه برخه وركول كيږي .

س . داسي صورت سته چي ابوحنيفهرح موصى له ته له دريمي څخه زياته برخه ورکوي ؟
ج د ابوحنيفه په نزد موصى له ته له دريمي څخه زياته برخه نه ورکول کيږي بېله محاباات (يو چا ته تر نور زياته ترجيح ورکول) (۱) ، او سعايت (د ځان ازادولو لپاره پيسې ګټل) (۲) او ايله درهمو (۳) .

---

(۱) د محاباات صورت دا دی چي يو سړی دوه مريان ولري د يوه قيمت يو زر او يو سل وي او د بل قيمت شپږ سوه وي او داسي وصيت ئې وکړی چي يو پر يو سړي په سل خرڅ کړل سي او هغه بل پر فلانکي په سل خرڅ سي . په دغه صورت کي يوه لره په زر سره محاباات وسو او هغه بل لره په پنځه سوه سره او دغه تول وصيت ګټل کيږي ځکه دا د ناروغۍ په حالت کي دی ، که ئې د دغو دوو مريانو پرته نور مريان نه درلودل او وارثانو وصيت و نه منی د يوې دريمه په قدر محاباات روا دی او هغه د دوی په منځ کي پر درو برخو ويشل کيږي ، کوم يو چي په زر سره وصيت ورته سوی دی هغه ته به د خپل وصيت په قدر مال چي زر دي ورکول کيږي او هغه بل به د خپل وصيت پهلا قدر مال چي پنځه سوه دي اخلي نو د کوم چا سره چي د زرو محاباات سوی دی د دريمي دوې دريمي به اخلي او د کوم چا سره چي د پنځو سوو محاباات سوی دی د دريمي يوه دريمه به اخلي ځکه زر د يو زر او پنځه سوو دوې دريمي دي ، که دغه وصيت د نورو وصيتو په شان وای د ابو حنيفهرح په قول کي دا لازمه وه چي موصى له ته له دريمي څخه زيات مال ورنه کړل سي .

(۲) د سعايت صورت دا دی يو سړی د خپلو دوو مريانو په ازادولو سره وصيت وکړي چي د يوه قيمت زر وي د بل قيمت دوه زره وي او بل نه ولري . که وارثانو دغه وصيت ومنی دواړه ازاديږي او که ئې نه منی دواړه له دريمي څخه ازاديږي او د هغه د مال دريمه زر دي نو زر د دوی په منځ کي د دوی د وصيت به مطابق ويشل کيږي د زرو دوې دريمي هغه يوه لره چي قيمت ئې دوه زره دی او په پاته برخه کي به سعی (د ځان ازادولو لپاره پيسې ګټل) کوي او يوه دريمه د هغه لپاره چي قيمت ئې زر دی او په پاته برخه کي به سعی کوي

(۳) د ايله درهمو صورت دا دی چي يو سړی يو چا لره په دوه زره درهمو سره وصيت وکړي او يو بل لره په زرو درهمو سره وصيت وکړي او د هغه د مال دريمه زر درهمه وي او وارثان ئې نه ومني هغه د دوی په منځ کي پر درو برخو ويشل کيږي هر يوه ته د هغه پوره وصيت ورکول کيږي ځکه وصيت په خپل مخرج (کوم مال چي له هغه څخه برخي جوړيږي) کي صحيح دی ځکه کېدای سي چي نور مال ولري نو دغه قدر مال له دريمي څخه ايستل کيږي . مګر که ئې يوه سړي ته د خپل مال په دريمه سره وصيت وکړی او يو بل ته ئې د خپل مال په نيمي يا دريمه سره وصيت وکړی هغه ددغه څخه بېل دی ځکه دغه برخي له خپل مخرج څخه نه صحيح کيږي ځکه که ئې مال زيات سي يا ئې نور مال څرګند سي هغه هم به دغه وصيت کي داخليږي او له دريمي څخه نه وزي ، د " الهدايې " له حواشي څخه .

س: که ئې يو چا ته د خپلو درهمو په دريمه يا د خپل پسو په دريمه وصيت وکړی او د
هغه دوي دريمي هلاك سوې يوه دريمه ئې پاته سول موصی له به څومره قدر اخلي ؟
ج: که پاته دريمه دده د پاته مال له دريمي څخه ايستل کېدل هغه لره ټوله پاته برخه
ورکول کيږي .
س: که ئې يو چا ته د خپلو کالو په دريمه سره وصيت وکړی او دوې دريمي ئې هلاك
سوې يوه دريمه ئې پاته سول او هغه دده د مال له دريمي څخه ايستل کېدل موصی له د
څومره مال مستحق دی ؟
ج: يوازي د پاته کالو د دريمي مستحق دی (۱) .
س: که ئې يو سړي ته په زر درهمه وصيت وکړی او د هغه نقد مال هم وو او پر نورو
کسانو ئې پور هم باندي وو ، موصی له لره د موصي له مال څخه څرنګه برخه ورکول
کيږي ؟
ج: که د هغه د نقد مال له دريمي څخه زر درهمه وتل هغه موصی له ته ورکول کيږي او
که نه وتل د نقد مال دريمه ورکول کيږي او څومره قدر پور چي راوزي د هغه دريمه
ورکول کيږي تر څو چي زر پوره کيږي .
س: د مور په نس کي چي کوچنی وي د هغه لپاره وصيت صحيح کيږي ؟
ج: صحيح کيږي .
س: کوم کوچنی چي د مور په نس کي وي په هغه سره وصيت صحيح کيږي ؟
ج: که ئې د وصيت له وخت څخه تر شپږو مياشتو په کم کي وزېږوی صحيح کيږي .
س: که ئې د يو چا لپاره په يو مينځه سره وصيت وکړی او د هغې د نس کوچنی ئې له
وصيت څخه وايستی دغه وصيت څه حکم لري ؟
ج: دغه وصيت او ايستل دواړه صحيح کيږي .
س: که ئې د يو چا لپاره په يو مينځه سره وصيت وکړی او د هغې د کوچني ذکر ئې نه
وکړی او هغې د موصي تر مرګ وروسته او د موصی له دقبلولو مخکي کوچنی وزېږوی

---

(۱) دوی ويلي دي : دا په هغه صورت کي که کالي له مختلفو جنسو څخه وه . که له يوه جنس څخه وه
نو د درهمو په شان دي ، دغه رنګه د پېمانې او تول شی د درهمو په شان دی څکه هغه په ويش کي د
کمي د پوره کولو لپاره سره يو ځای کېدلای سي ، له "الهدايې" څخه .

وروسته هغه وصيت قبول کړي ، يوازي مينځه ئې حق کيږي او که ئې کوچنی هم ورکول کيږي ؟

ج که مينځه او کوچنی دواړه له دريمي څخه وتل دواړه د موصی له حق کيږي او که دواړه له دريمي څخه نه وتل دريمه ورکول کيږي ، د ابويوسفرح او محمدرح په قول کي له دواړو څخه دريمه ورکول کيږي او ابوحنيفهرح ويلي دي هغه ئې له مور څخه اخستل کيږي که ئې له هغه څخه برخه زياته سول له کوچني څخه اخستل کيږي .

س : که يو چا د يو چا د اولاد لپاره يا د يو چا د وارثانو لپاره وصيت وکړی هغه د دوی په منځ کي څرنګه وېشل کيږي ؟

ج : په لمړي صورت کي د نر او ښځي په منځ کي په برابره توګه وېشل کيږي او په دوهم صورت کي د ميراث پر طريقه وېشل کيږي يعني : نر لپا ره د ښځي دوه چنده .

س : که ئې د زيد او عمر لپاره د خپل مال په دريمه سره وصيت وکړی ، او دا څرګنده سول چي عمر مړ وو څرنګه ئې په منځ کي وېشل کيږي ؟

ج : په دغه صورت کي وېش نسته ، دريمه برخه ټوله د زيد ده .

س : که ئې داسي وويل چي زما د مال دريمه برخه د زيد او عمر په منځ کي ده او زيد مړ وو څه حکم ئې دی ؟

ج : عمر لره د دريمي نيمی ده .

س : که ئې د خپل مال په دريمه برخه سره وصيت وکړی او مال ئې نه درلودی ورروسته ئې مال وګټی موصی له ته څه شی ورکول کيږي ؟

ج : د هغه د مرګ په وخت کي چي د څومره مال مالك وي د هغه دريمه ورکول کيږي .

س : که موصی له د وصيت کونکي په ژوند کي مړ سو وصيت څه حکم لري ؟

ج په دغه صورت کي وصيت باطليږي .

س که ئې د زوی د برخي په مقدار وصيت وکړی څه حکم لري ؟

ج دغه وصيت صحيح کيږي که د وصيت کونکي دوه زامن وه هغوی لره دوې دريمي دي او موصی له لره يوه دريمه ده .

س : که يو سړي داسي وصيت وکړی چي زما د مال يوه برخه د فلانکي ده او برخه ئې معلومه نه کړل موصی‌له ته څه ورکول کيږي ؟

ج : د وارثانو د مال تر ټولو کمه برخه ورکول کیږي مګر که تر شپږمي کمه سول شپږمه ورپوره کیږي .

س : که ئې داسي وصیت وکړی چي زما د مال یوه برخه فلانکي لره ده موصی له ته څومره قدر ورکول کیږي ؟

ج : وارثانو ته ویل کیږي چي ستاسي خوښه وي هغومره مال ورکړئ . څومره مال چي هغوی ورکړي هغه دده حق دی .

س : که یو چا د خپلو ګاونډیانو لپاره وصیت وکړی د هغه مال څوك مستحق کیږي ؟

ج : د ابوحنیفهرح په نزد کوم کسان چي کورونه ئې سره مښتي وي هغه ګاونډیان ګڼل کیږي نو هغوی مستحق دي .

س : که ئې خپلو خسرانو یا زومانو لره وصیت وکړی څوك په کښي داخلیږي ؟

ج : که ئې خسرانو لره وصیت وکړی په هغه کي د هغه د مایني هر هغه قریب داخلیږي چي د هغې محرم وي او که ئې زومانو لره وصیت وکړی په هغه کي د هري قریبي ښځي مېړه داخلیږي .

س : که ئې خپلو قریبانو لره وصیت وکړی په هغه کي څوك داخلیږي ؟

ج : په دغه وصیت کي هر هغه قریب داخلیږي چي دده محرم وي نژدې بیا نژدې، مور او پلار او اولاد په هغه کي نه داخلیږي ، ددوو او له هغه څخه زیاتو لپاره کیږي .

س : که ئې قریبانو لره وصیت وکړی او دوه ترونه او دوه ماما ګان ئې درلودل څوك د هغه مال مستحق کیږي ؟

ج : دغه وصیت د ترو لپاره کیږي .

س : که ئې یو تره او دوه ماماګان وه څومره حق ئې کیږي ؟

ج : د تره لپاره نیمی دی او د ماما ګانو لپاره نیمی دی دا د ابوحنیفهرح په نزد ، ابویوسفرح او محمدرح ویلي دي که ئې خپلو قریبانو لره وصیت وکړی په هغه کي هر هغه څوك داخلیږي چي په اسلام کي دده تر ټولو لیري پلار ته منسوبه وي .

د ناروغۍ په حالت کي د ازادولو ، محابات او بخښني فصل

س : که ئې د مرګ په ناروغي کي خپل مریی ازاد کړی یا ئې خرڅ کړی یا ئې محابات وکړی یا ئې و بخښی دغه روا دی ؟

ج : دغه تيوله روا دي او له دريمي ځخه ګټل كيږي ، د نورو هغه كسانو سره برخه وركول كيږي كومو ته چي وصيت سوى وي .
س : كه ئې محابات وكړى وروسته ئې ازاد كړى يا ئې ازاد كړى وروسته ئې محابات وكړى كوم يو مخكي كيږي ؟
ج : ابوحنيفهرح ويلي دي په لمړي صورت كي محابات اولى دى او په دوهم صورت كي دواړه برابر دي ، صاحبينورح ويلي دي په دواړو صورتو كي ازادول اولى دي .

په كوم شي سره چي ئې وصيت كړى وي د هغه د نافذولو د ترتيب فصل

س : كه يو چا د ثواب لپاره څو وصيته وكړل كوم يو مخكي كيږي ؟
ج : فرضيات كه موصي مخكي كړي كه ئې وروسته كړي تر نورو مخكي كيږي لكه حج ، زكات او كفارتونه او كوم چي واجب نه دي په هغوى كي هغه مخكي كيږي كوم چي موصي مخكي كړى وي .

په حج سره د وصيت فصل

س . كه يو چا د فرضي حج وصيت وكړى پر وارثانو څه لازميږي ؟
ج : پر هغوى لازمه ده چي دده له ښار ځخه يو سړى په حج كولو سره امر كړي او امر كړل سوى سړى دي په سپرتيا سره حج وكړي ، كه د وصيت مال تر خرڅي لږ وو له هغه ځاى ځخه دي ئې په حج سره امر كړي له كوم ځاى ځخه چي په خرڅه سره رسيږي (۱) .
س كه له خپل ښار ځخه د حج په سفر روان سو او په لاره كي مړسو او وصيت ئې وكړى چي دده له خوا ځخه حج وكړل سي په دغه صورت كي له كوم ځاى ځخه حج كيږي ؟
ج : ابوحنيفهرح ويلي دي د هغه له ښار ځخه حج كيږي ، ابويوسفرح او محمدرح ويلي دي له هغه ځاى ځخه حج كيږي كوم ځاى چي مړ سوى وي .

---

(۱) قدوري دا خبره نه ده ذكر كړې چي دا يوازي په هغه صورت كي دى چي خرڅه ئې د مال له دريمي ځخه وزي ځكه له دريمي ځخه زيات وصيت هر وصيت چي وي ببله اجازي د وارثانو نه نافذيږي ، په (غنيه الناسك ۱۸۲) كي ئې ويلي دي كه يو چا يو سړي ته وصيت وكړى چي دده له خوا ځخه حج وكړي يا ئې ووېل زما له خوا ځخه حج وكړئ بل تكى ئې نه كړى زيات او مال ئې معلوم نه كړى نه ئې د حج مقدار معلوم كړى د هغه د مال له دريمي ځخه يو فرضي حج په ميانه توګه اداء كيږي اه .

متفرقي مسئلې

۱:د مکاتب وصيت نه صحيح کيږي که څه هم دومره مال پريږدي چي دی په ازاديږي .

۲ : موصي لره له وصيت څخه رجوع کول روا دي ، که ئې په څرگنده توگه رجوع ذکر کړل رجوع گڼل کيږي او که له وصيت څخه منکر سو رجوع نه گڼل کيږي .

۳ : د يو څو معلومو کلو لپاره د مريي په خدمت او کور په اوسېدلو سره وصيت روا دی لکه چي د ټوله عمر لپاره روا دی په دغه صورت کي که مريی له دريمي څخه وتی موصی له ته د خدمت لپاره ورسپارل کيږي او که ئې نور مال نه درلودی دوې ورځي دي د وارثانو خدمت وکړی او يوه ورځ دي د موصی له خدمت وکړي ، که موصی له مړ سو مريی په پوره توگه وارثانو ته بيرته راگرځي .

د فرائضو کتاب

س : فرائض څه ته وایي ؟

ج هغه د فریضه جمع ده ، کله د هغه شي لپاره استعمالیږي چي الله ﷻ پر خپلو بندګانو فرض کړی وي او په ټینګه توګه ئې د هغه په کولو امر کړی وي چي کول ئې ضروري وي او پرېښونکی ئې که بېله شرعي عذر څخه پرېږدي فاسق کیږي او په اصطلاح کي دغه کلمه ډېر وختونه د میراث د مقدارو په معنی استعمالیږي کوم چي الله ﷻ په خپل کتاب کي د هغو نرو او ښځو لپاره ټاکلي دي کوم چي له مړي څخه پاته سوی مال په میراث وړي ، الله ﷻ ویلي دي ﴿ يُوْصِيْكُمُ اللَّهُ فِيْ أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ﴾ ﴿ الله تاسو ته ستاسي د اولاد په هکله وصیت کوي نر لره د ښځي دوه چنده ﴾ .

س : د میراث ترتیب بیان کړئ :

ج : کوم مال چي مړی ئې پرېږدي لمړی له هغه څخه دده په کفن ورکولو او قبر تیارولو شروع کیږي بېله اسراف او کمی څخه ، وروسته له ټوله مال څخه دده پورونه اداء کیږي وروسته د پاته مال له دریمي څخه دده وصیتونه نافذیږي وروسته پاته مال دده د وارثانو په منځ کي پر هغه ډول ویشل کیږي کوم چي الله ﷻ په خپل کتاب کي یا د خپل رسول پر ژبه بیان کړی دی . لمړی دي په اصحاب الفرائض شروع کوي هغه هغه کسان دي چي دالله ﷻ په کتاب کي ئې برخي ټاکل سوي دي وروسته دي په عصبه سره شروع کوي هغه هغه کسان دي چي له اصحاب الفرائض څخه پاته مال اخلي که له اصحاب الفرائض څخه یو هم نه وي ټوله مال اخلي ، که عصبه نه وي پاته مال نسبي اصحاب الفرائض ته د دوی د حقوقو په قدر بیرته ورګرځول کیږي ، که له اصحاب الفرائض او عصبه څخه یو هم نه وي یا داسي اصحاب الفرائض وي چي هغوی ته مال بیرته نه ورګرځي ذوو الارحام ته ورکول کیږي که له ذووالارحام څخه یوهم نه وي مولی الموالات (هغه څوك چي د هغه سره ئې د ورورولۍ تړون کړی وي په دې توګه چي یو به د هغه بل مرسته کوي او یو له بل څخه به میراث وړي) ته ورکول کیږي ، که هغه نه وي هغه چا ته ورکول کیږي چي د ټوله مال وصیت ورته سوی وي که هغه هم نه وي په بیت المال کي ایښول کیږي .

س : د هغو نرو شمېر ذکر کړئ کوم چي د مړي له مال څخه میراث وړي او یاد ئې کړئ .

ج : کوم نر کسان چي د هغوی پر میراث ورلو اجماع سوې ده لس دي :

۱ : زوی .

۲ : د زوی زوی که څه هم کښته وي .

۳ : پلار .

٤ : د پلار پلار که څه هم لوړ وي .

٥ : ورور .

٦ : د ورور زوی .

۷ : تره .

۸ : د تره زوی .

۹ : مېړه .

۱۰ : بادار چي مریی ئې ازاد کړی وي .

س : ښځي کومي چي د هغوی پر میراث ورلو اجماع سوې ده څوك دي او شمېر ئې څو دي ؟

ج : هغه اوه دي :

۱ : لور .

۲ : د زوی لور .

۳ : مور .

٤ : انا یعني د پلار مور او د مور مور .

٥ : خور .

٦ : ماینه .

۷ : باداره چي مریی ئې ازاد کړی وي .

س : د میراث موانع څو دي ؟

ج : هغه څلور دي :

۱ : مریي توب .

۲ : وژل .

۳ : د دینو اختلاف (۱) .

٤ : د هېوادو اختلاف نو مرتد (هغه څوك چي له اسلام څخه نعوذ بالله گرځېدلی وي) او مرتی له هېڅ چا څخه میراث نه سي وړای نه قاتل له خپل مقتول څخه میراث وړای سي نه مسلمان له کافر څخه نه کافر له مسلمان څخه نه حربي (هغه کافر چي د کفر په هېواد کي اوسي) له ذمي (هغه کافر چي د اسلام په هېواد کي د یو خاص مقدار مال ورکولو په مقابل کي اوسي) څخه نه ذمي له حربي څخه نه یو حربي له بل حربي څخه که په بېل بېل هېوادو کي اوسي .

س : فرائض (هغه برخي چي د الله ﷻ په کتاب کي بیان سوي دي) کوم دي او څو دي ؟

ج : هغه شپږ دي :

١ : نیمی .

٢ : څلورمه .

٣ : اتمه .

٤ : دوې دریمي .

٥ : دریمه .

٦ : شپږمه .

س : د نیمی مستحق څوك دي ؟

ج : په مختلف حالاتو کي نې پنځه کسان مستحق دي :

١ : لور .

٢ : د زوی لور که خپله لور نه وي .

٣ : د پلار او مور له خوا څخه خور .

٤ : د پلار له خوا څخه خور که د پلار او مور له خوا څخه خور نه وي .

٥ : مېړه که مړی زوی یا لور یا د زوی اولاد که څه هم کښته وي نه ولري .

س : د څلورمي مستحق کوم کسان دي ؟

د ص ۵۷۱ پاته برخه: (۱) یعني چي یو مسلمان بل کافر وي یو له بل څخه میراث نه سي وړای ، که دواړه کافران وي یو له بله څخه میراث وړای سي که څه هم نې دین سره مختلف وي ځکه کفرټوله یو دین دی

ج : مېړه ئې مستحق دی که مړه ښځه له هغه ځخه یا له بل مېړه ځخه اولاد یا د زوی اولاد که څه هم کښته وي ولري ، دغه رنګه ئې ښځه مستحقه ده که ئې مېړه چې مړ سوی وي له دې ځخه یا د بلې ماینې ځخه اولاد یا د زوی اولاد نه ولري ، که ماینې زیاتې سوې تر څلورمې زیاته برخه نه ورکول کیږي .

س : د اتمې برخې څوك مستحق دي ؟

ج : ماینه ئې مستحق ده که مړي اولاد یا د زوی اولاد درلودی ، ماینې که څه هم ډیرې وي تر اتمې برخې زیاتوب نه کیږي .

س : د دوو دریمو څوك مستحق دي ؟

ج : دوې لوڼې یا زیاتې چې د مړي زوی نه وي ورسره ددوو دریمو مستحق دي ، دغه رنګه د زوی دوې لوڼې یا زیاتې چې خپل اولاد ئې نه وي او د زوی زوی نه وي ، دغه رنګه دوې خوندې یا زیاتې چې د پلار او مور ځخه وي یا یوازې له پلار ځخه وي او مړی نه نر اولاد ولري نه ښځه ، دغه رنګه پلار (۱) چې مړی مور او پلار پرېږدي او نه نر نه ښځه اولاد ولري .

س : د دریمې څوك مستحق دي ؟

ج : مور ئې مستحق ده که مړي نه اولاد درلودل نه د زوی اولاداو نه ئې له وروڼو او خوندو ځخه دوه یا زیات درلودل ، دغه رنګه د مور دوه اولاد یا زیات نر او ښځې په استحقاق او تقسیم کې برابر دي که مړي لره نه اولاد وو نه د زوی اولاد نه پلار نه نیکه .

س : د شپږمې څوك مستحق دي ؟

ج : هر یو له مور او پلار ځخه ئې مستحق دی که مړي لره اولاد یا د زوی اولاد وو که څه هم کښته وي ، دغه رنګه ئې مور مستحق ده که مړي لره دوه وروڼه او خوندې یازیاتې وي له هر لوري چې وي ، دغه رنګه ئې اناګانې او نیکونه مستحق دي که مړي اولاد یا د زوی اولاد درلودل ، دغه رنګه ئې د زوی لوڼې مستحقې دي که مړي لور درلودل که ئې ورور نه وو ورسره ، دغه رنګه ئې د پلار له خوا خوندې مستحقې دي که مړي د پلار

---

(۱) ددغو دوو دریمو پلار د عصبه توب له کبله مستحق دی الله ﷻ ویلي دي ﴿ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَ وَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ﴾ (که ئې اولاد نه وو او مور او پلار ئې دده مال په میراث یووړی نو مور لره ئې دریمه ده) کله چې مور ئې دریمه واخلې پاته برخه یعني دوې دریمې ئې د پلار کیږي .

او مور له خوا خور درلودل كه ئې ورور نه وو ورسره ، دغه رنگه ئې د مور يو اولاد مستحق دی كه مړي اولاد يا د زوی اولاد نه درلودی‌كه څه هم ښځه وي كه نر وي كه ښځه نه ئې پلار درلودی نه نيكه .

س : څيني قريبان په ميراث كي په څينو نورو سره ساقطيږي ؟

ج : هو څيني په څينو نورو سره ساقطيږي ، په هغه كي تفصيل دی په لاندي توگه :

۱ : اناگاني (۱) په مور سره ساقطيږي .

۲ : نيكه او وړونه او خوندي په پلار سره ساقطيږي .

۳ : د مور اولاد په يوه له څلور كسانو څخه ساقطيږي اولاد ، د زوی اولاد ، پلار او نيكه .

٤ : كله چي لوڼي دوې دريمي پوره كړي د زوی لوڼي ساقطيږي مگر كه د هغوی په برابر كي يا له هغو څخه كښته د زوی زوی وي ، په دغه صورت كي هغه لوڼي عصبه گرځوي (۲) .

٥ : كه له مور او پلار څخه خوندو دوې دريمي پوره كړې د پلار له خوا خوندي ساقطيږي مگر كه د هغوی سره د هغوی ورور وو هغه عصبه گرځوي (۳) .

د عصبه وو باب

س : تاسي اصحاب الفرائض او كومي برخي چي هغوی لره ټاكل سوي دي بيان كړې اوس غواړو چي پوه سو چي د عصباتو په خپل منځ كي كوم ترتيب دی ؟

ج : تر ټولو نژدې عصبه زامن دي بيا د هغو زامن دي بيا پلار دی بيا نيكه دی بيا د پلار زامن دي يعني وړونه بيا د نيكه زامن يعني ترونه بيا د نيكه د پلار زامن كه د پلار زامن په مرتبه كي سره برابر وه تر ټولو زيات مستحق هغه دی چي د پلار او مور له خوا وي ، زوی او د زوی زوی او وړونه د خپلو خوندو سره ميراث ويشي نر لره د ښځي دوه چنده . له هغو څخه پرته نور عصبه يوازي ميراث وړي نه ښځي . كوم عصبه چي موږ بادار دی چي دغه مړی ئې ازاد كړی وي هغه ته د سبب عصبه ويل كيږي بيا ددغه بادار له هغو څخه پرته نور عصبه هم سته هغه هغه عصبه دي ، له هغو څخه پرته نور عصبه هم سته هغه هغه

---

(۱) ... ه د پلار له خوا وي كه د مور له خوا .
(۲) (۳) ميراث ... منځ كي د نر لپاره د ښځي دوه چنده دي .

له عصبه وو څخه هغه يو مستحق دی چي نژدې وي بيا چي تر هغه وروسته نژدې وي د سبب عصبه له نسبي عصبه څخه وروسته دی او له ذووالارحام څخه مخکي دی .

د حجب باب

س : حجب څه ته وايي او څرنګه دی ؟

ج : هغه دا دی چي ځيني وارثان په ځيني نورو سره له ميراث څخه محروم سي که په پوره توګه محروم سي هغه ته حجب حرمان ويل کيږي او که ئې برخه کمه سول هغه ته حجب نقصان ويل کيږي .

س : د دواړو حجبو مسائل بيان کړئ :

ج : لاندي مسائل په ياد ولرئ :

د مور حق له دريمي څخه شپږمي ته کميږي په اولاد او د زوی په اولاد سره که څه هم کښته وي يا په دوو وړونو او خوندو سره له هري خوا چي وي او د ميړه حق له نيمي څخه څلورمي ته کميږي که مړي اولاد درلودی ، دغه رنګه د ماينې حق له څلورمي څخه اتمي ته کميږي که ئې ميړه اولاد درلودی ، دغه ته حجب نقصان ويل کيږي . حجب حرمان په هغه صورت کي کيږي چي دوې لوني او يوه د زوی لور پرېږدي څکه د لونو په وجود کي د زوی لور پر مخ محرومه کيږي نو که يو چا يوه لور او يوه د زوی لور پرېښول لور نيمی اخلي او د زوی لور شپږمه اخلي تر څو چي دوې دريمي پوره سي دغه رنګه که ئې دوې سکه خوندې پرېښولې او يوه ئې د پلار له خوا خور پرېښول وروستنۍ په پوره توګه محرومه کيږي او که يوه د پلار له خوا خور وه او يوه د مور او پلار دواړو له خوا خور وه د پلار له خوا خور شپږمه برخه اخلي تر څو دوې دريمي پوره سي .

د رد باب

س : تاسي ذکر کړل که په وارثانو کي عصبه نه وه د اصحاب الفرائض تر برخو وروسته پاته مال بيرته اصحاب الفرائض ته ورګرځي مور دا سوال کوو چي دغه ورګرځېدل په هغه وخت کي کيږي چي، نسبي او سببي عصبه دواړه نه وي که په هغه وخت کي کيږي چي يوازي نسبي عصبه نه وي ؟

ج : په هغه كي دواړه عصبه شامل دي ، كه مړي سببي عصبه يعني هغه بادار چي دغه مړی ئې ازاد كړی وي درلودی هغه د ميراث مستحق دی او د اصحاب الفرائض څخه پاته برخه بيرته هغوی ته نه ورګرځي .

س : دلته يو بل سوال دی هغه دا چي تاسو ذكر كړل چي پاته مال بيرته نسبي اصحاب الفرائض ته ورګرځول كيږي ، ولي مو د نسبي تكی زيات كړئ ؟

ج : ځكه مېړه او ماينې ته بيرته نه ورګرځي .

د ذوو الارحامو باب

س : تاسي د ميراث په ترتيب كي ذكر كړل چي كه په وارثانو كي اصحاب الفرائض او عصبه نه وه ذوو الارحام د ټوله مال مستحق كيږي ، موږ غواړو چي پوه سو چي ذوو الارحام څوك دي ؟

ج : هغوی لس دي :

١ : د لور زوی .

٢ : د خور زوی .

٣ : د ورور لور .

٤ : د تره لور .

٥ : ماما .

٦ : خاله .

٧ : د مور پلار .

٨ : د مور له خوا تره .

٩ : عمه .

١٠ : د مور له خوا د ورور زوی ، په دغو كي هغه يو مستحق دی چي ډېر نژدې وي .

س : د دوی د ميراث په مستحق والي كي كوم ترتيب سته كه سره برابر دي ؟

ج : دغه كسان په لاندې ترتيب سره ميراث وړي ، تر ټولو زيات مستحق هغه كسان دي چي د مړي اولاد وي يعني د لور زوی بيا د مور او پلار يا يوه اولاد هغه د وړونو لوڼي

دي او خوندو اولاد دي بيا د مور اوپلار يا د يوه د مور او پلار اولاد هغه ماماگان او خاله گاني او عمه گاني دي .

س : كه دوه كسان د قرابت په لحاظ په درجه كي سره برابر وي دواړه د ميراث مستحق دي كه يو پر بل مخكي كيږي ؟

ج : په هغو كي هغه يو مستحق دي چي د وارث په وسيله مړي ته نژدي وي (۱) .

متفرقي مسئلې

۱ : په دوو مسئلو كي مور ته د پاته مال دريمه وركول كيږي: لمړی په هغه صورت كي چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او مور او پلار پرېږدي مېړه نيمی اخلي او پاته مال مور او پلار په دريمو سره اخلي يوه دريمه ئې د مور او دوې دريمي ئې د پلار ، دوهم په هغه صورت كي چي يو سړی مړ سي او يوه ماينه او مور او پلار پرېږدي ښځي لره څلورمه ده او د هغې له برخي څخه پاته مال په دريمو سره د هغه مور او پلار ته وركول كيږي يوه دريمه ئې د مور او دوې دريمي ئې د پلار .

۲ : كه يو سړی مړ سو او دوه د تره زامن ئې پرېښول چي په هغو كي ئې يو د مور له خوا ورور وو ورور لره ئې شپږمه ده او پاته ئې ددوی په منځ كي دوه ځايه كيږي .

۳ : كه يو ښځه مړه سول او يو مېړه او مور يا انا او د مور له خوا وړونه او يو د مور او پلار له خوا ورور پرېښول مېړه لره ئې نيمی دی ، مور لره ئې شپږمه ده ، د مور اولاد لره دريمه ده او د مور او پلار له خوا ورور لره هيڅ شی نسته (۲) .

٤ : كه يوه ډله غرقه سول يا دېوال پر يوې ډلي ونړېدی معلوم نه وو چي كوم يو اول مړ سوی دی د هر يوه مال يوازي ژوندي وارثانو لره دی .

٥ : كه يو مجوسي (د اور عبادت كونكی) دوه قرابتونه درلودل كه په دوو كسانو كي سره بېل سي يو د هغه بل سره ميراث وړي په دواړو قرابتو سره ميراث وړي (۳) .

---

(۱) لكه چي يو څوك مړ سي او يوه د تره لور پرېږدي يو د عمه زوی ټوله مال د تره د لور كيږي دغه رنگه كه ئې د لور د لور لور او د زوی د لور لور پرېښول ټوله مال د زوی د لور د لور دی له " الجوهره " څخه .

(۲) څكه الله ﷻ مېړه لره نيمی وركړی دی او مور لره ئې شپږمه وركړې ده او د مور له خوا وړونو ته ئې دريمه وركړې ده نو ټوله برخي ختم سوې او وړونو ته شی نه سو پاته ، له " الجوهره " څخه .

۶ : مجوس خلك په فاسدو نکاحو سره کومي چي هغوی ئې په خپل دين کي روا ګڼـــي میراث نه سي وړای .

۷ : د ولد زنا او لعان کونکي ښځي د زوی عصبه د هغوی د مور قريبان دي (۱) .

۸ : خوك چي مړ سي او يو د ښځي د نس کوچنی ئې پاته سي د ابوحنيفه رح په نزد ئې مال بند پاتيږي تر څو چي د ښځي کوچنی پيداکيږي .

۹ : د ابوحنيفه رح په نزد تر وړونو نيکه په ميراث سره ډېر مستحق دی ، ابويوسفرح او محمدرح ويلي دي هغه مال د دواړو په منځ کي وېشل کيږي (۲) مګر نه که په وېش سره دده برخه له دريمي څخه کمېدل .

۱۰ : که اناګاني سره يو ځای سوې تر ټولو چي کومه يوه نژدې وي هغې لره شپږمه ده .

۱۱ : د نيکه مور د نيکه سره ميراث نه سي وړای او د مور د پلار موز ته برخه نه ورکول کيږي او د هري انا سره د هغې مور ميراث نه سي وړای .

۱۲ : که ازاد کړل سوي مريي يو د بادار پلار پرېښوی يو د بادار زوی د ابوحنيفهرح او محمدرح په نزد ئې مال د زوی کيږي او دابويوسفـرح په نزد ئې دپلارشپږمه کيږي او پاته

د ص ۵۷۷ پاته برخه : (۳) د مسئلې صورت دا سي دی لکه د " الجوهرې " مصنف چي ذکر کړي ده چي يو مجوسي خپله لور په نکاح کړي له هغې څخه دوې لوڼي وزېږوي او مجوسي مړ سي وروسته ئې يوه لور مړه سي د هغې يوه مور پاتيږي چي د پلار له خوا څخه ئې خور ده او يوه ئې د مور او پلار له خوا څخه خور پاتيږي مور لره د مور والي له کبله شپږمه ده او د مور او پلار له خوا څخه خور لره نيمی ده او مور لره د پلار له خوا څخه د خوروالي له کبله شپږمه ده.

(۱) د "الجوهره" مصنف ويلي دي څکه ولد زنا پلار نه لري نو په مور پوري تړل کيږي د غه رنګه د لعان کونکي ښځي زوی نو کله چي دغه هلك مړ سي ميراث ئې د مور او د مور د اولاد کيږي نر او ښځي په هغه کي برابر دي نو که ئې يو ورور او د مور له خوا وروڼه پرېښول يوه لره شپږمه ده او دوو او زياتو لره دريمه ده او د مور او د هغې د اولاد څخه پاته مال د مورد عصبه وو کيږي ترټولو نژدې بيا ترهغه نژدې .

(۲) د وېش مطلب دا دی چي نيکه د وړونو په شان يو ورور ګڼل کيږي ، دا قول (مګر نه که وېش دده برخه له دريمي څخه کمول) ددې مطلب دا دی چي دده برخه له دريمي څخه نه کميږي ، ددې وضاحت په مثال سره کيږي هغه دا چي مړی يو نيکه او درې وروڼه پرېږدي که نيکه د وړونو په شان وګڼل سي د څلورمي برخي مستحق کيږي او که څلورمه برخه ورکول سي برخه ئې له دريمي څخه کميږي نو څلورمه نه ورکول کيږي بلکه دريمه ورکول کيږي او پاته مال درو وړونو ته ورکول کيږي دوې دريمي درې برخي کيږي .

برخه ئې د زوی کیږي .

۱۳: که ئې د بادار نیکه او د بادار ورور پرېښوی د ابوحنیفهرح په نزد ئې مال د نیکه کیږي او صاحبینورح ویلي دي د هغوی په منځ کې وېشل کیږي .

۱٤ : د ازادولو قرابت نه خرځیږي نه بخښل کیږي .

د فرائضو حساب

س : ترکه (کوم مال چې مړي پرایښی وي) د وارثانو په منځ کې څرنګه وېشل کیږي او اصل مسئله څرنګه معلومیږي ؟

ج : لاندې تفصیل په یاد ولره :

۱: که په مسئله کې نیمی او نیمی وو لکه چې یوه ښځه مړه یوه سکه خور پرېږدي یا په مسئله کې نیمی او پاته برخه وه لکه چې مړه او یو تره پرېږدي په دغو دواړو صورتو کې اصل مسئله له دوو څخه کیږي .

۲ : که په مسئله کې دریمه او پاته برخه وه لکه چې مړی مور او تره پرېږدي یا دوې دریمې او پاته برخه وه لکه چې دوې لوڼې او یو تره پرېږدي نو اصل مسئله له درو څخه ده .

۳ : که په مسئله کې څلورمه او پاته برخه وه لکه چې مړی یوه ماینه او یو ورور پرېږدي یا په مسئله کې څلورمه او نیمی وي لکه چې ښځه مړه او لور او ورور پرېږدي نو مسئله له څلورو څخه کیږي .

٤: که په مسئله کې اتمه او پاته برخه وه لکه چې یو سړی ماینه او زوی پرېږدي یا اتمه او نیمی وو لکه چې ماینه او لور پرېږدي نو اصل مسئله له اتو څخه کیږي .

٥ : او که په مسئله کې نیمی او دریمه وه لکه چې مېړه او مور او ورور پرېږدي یا نیمی او شپږمه وه لکه چې مور او لور او ورور پرېږدي نو اصل مسئله له شپږو څخه ده.

٦ : او که په مسئله کې څلورمه او دریمه وه لکه چې ماینه او مور پرېږدي یا څلورمه او شپږمه وه لکه چې مېړه او مور او زوی پرېږدي نو اصل مسئله له دوولسو څخه کیږي .

۷ : او که په مسئله کي اتمه او دوې شپږمي وې لکه چي ماينه او مور او پلار او زوی پرېږدي يا اتمه او دوې دريمي وې لکه چي ماينه او دوې لوڼي وې نو اصل مسئله له څلورويشتو څخه کيږي .

د عول باب

س : کله د کسر له مخرج څخه ټوله برخي نه پوره کيږي په دغه صورت کي څرنګه وېشل کيږي ؟

ج : د مسئلې د صحيح کولو لپاره مخرج له هغه څخه زياتيږي او دغه ته عول ويل کيږي او مسئلې ته په دغه صورت کي عائله ويل کيږي ، تاته معلومه سول چي مخرجونه اوه دي له هغو څخه د څلورو عول نه کيږي : هغه دوه ، درې ، څلور او اته دي او له هغو څخه د درو کله کله عول کيږي ، د شپږو عول اوو ، اتو ، نهو او لسو ته کيږي ، د دوولسو عول ديارلسو ، پنځه لسو او او اوه لسو ته کيږي او د څلورويشتو عول اوه ويشتو ته يو عول کيږي .

د مسئلې د صحيح کولو باب

س : که د اصل مسئلې مخرج پر وارثانو وېشل کېدی اشکال نسته ، کله داسي کيږي چي د يوې ډلي برخي پر هغوی نه وېشل کيږي ، که داسي وو نو د مسئلې تصحيح څرنګه کيږي ؟

ج : پوسه چي د عددو په منځ کله تماثل وي کله تداخل کله توافق او کله تباين وي ، د تماثل مطلب دا دی چي يو د بل سره برابر وي لکه درې او درې ، د تداخل مطلب دا دی چي دوه عددونه سره ښېل وي په داسي توګه چي لوی عدد پر کوچني په صحيح توګه وېشل کېدای سي لکه درې او نه ، د توافق مطلب دا دی چي لوی عدد پر کوچني نه څلورو وېشل کيږي نو دغه دواړه متوافقان بلل کيږي او د تباين مطلب دا دی چي نه لوی عدد پر کوچني په صحيح توګه وېشل کيږي نه دواړه پر يو دريم عدد وېشل کيږي لکه نه او لس .

کله چي په دغه پوه سوې دوهم خل دا زده کړه که د يوې ډلي برخي پر هغې نه وېشل کېدلې د هغه ډلي شمېر چي برخه ئې نه پر وېشل کيږي په اصل مسئله کي يا د

هغې په عول کي ضرب کړه که مسئله عائله وه کوم عدد چي له ضرب څخه حاصليږي له هغه څخه برخي راوزي او مسئله صحيح کيږي ان شاء الله ﷻ لکه چي يو څوك يوه ماينه او دوه وړونه پرېږدي ښځي لره څلورمه ده او دوو وړونو لره دري څلورمي دي او هغه پر دوی ببله کسر څخه نه وېشل کيږي نو د وړونو شمېر چي دوه دی په اصل مسئله کي چي څلور دی ضربيږي او اته حاصليږي او له هغه څخه مسئله صحيح کيږي نو دوه ماينې لره دي او شپږ د دوو وړونو په منځ کي وېشل کيږي ، دا په هغه صورت کي که د سرو د شمېر او برخو په منځ کي تباين وو ، که د برخو او د دوی د شمېر په منځ کي توافق وو د دوی د عدد وفق په اصل مسئله کي ضرب کړه لکه چي يوه ماينه او شپږ وړونه پرېږدي ښځي لره څلورمه ده او وړونو لره دري څلورمي دي يعني دري برخي او هغه پر دوی نه وېشل کيږي نو ضرب ته ضرورت لري نو کله چي ددوی د عدد دريمه يعني دوه چي موږ نې وفق بولو په اصل مسئله کي ضرب سي مسئله صحيح کيږي ځکه چي دوه په څلورو کي ضرب سي اته حاصليږي نو ښځه دوه اخلي او وړونه شپږ اخلي يوه يوه برخه ، په دغه مثال سره د هغې مسئلې د صحيح کولو وضاحت کيږي چي عائله نه وي ، د عائله مسئلې مثال د تباين په صورت کي دا دی چي مال پر مېړه او درو د مور او پلار له خوا خويندو وېشل کيږي ، اصل مسئله له شپږو څخه ده او اوو ته ئې عول کيږي او مسئله له يو ويشت څخه صحيح کيږي ، او که مسئله عائله وه او په هغه کي توافق وو او دې ته ضرورت وو چي په عول کي ضرب سي د هغه مثال دا دی چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او مور او پلار او شپږ لوڼي پرېږدي نو اصل مسئله له دوولسو څخه کيږي مېړه لره څلورمه يعني دري دي او مور او پلار لره دوې شپږمي يعني څلور دي او شپږ لوڼو لره دوې دريمي دي چي اته دي نو مخرج کم دی او د مسئلې عول پنځلسو ته کيږي او د لوڼو برخي چي اته دي د دوی پر سرو په کسر سره وېشل کيږي او د دوی د سرو او برخو په منځ کي توافق دی په نيمي سره نو د دوی د سرو شمېر مو نيمي ته راوګرځوی چي دري دي او هغه مو په عول کي ضرب کړی ، نو کله چي مو پنځلس په درو کي ضرب کړی پنځه څلوېښت حاصل سول او له هغو څخه مسئله صحيح کيږي مېړه نه برخي اخلي او مور اوپلار دوولس برخي اخلي او لوڼي څليرويشت برخي اخلي هره يوه څلور برخي اخلي نو مخرج او وېش صحيح سو .

س: کوم بیان چي تاسي ذکر کړی په هغه سره په دې خبره پوه سولو چي که برخي پر یوې ډلي په کسر سره وېشل کېدلې څرنګه صحیح کېږي که پر دوو یا زیاتو برخو په کسر سره وېشل کېدلې مشکل څرنګه حل کېږي؟

ج: که د دوو یا زیاتو ډلو برخي په کسر سره وېشل کېدلې یوه ډله په هغه بله کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په دریمه ډله کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه. دا په هغه صورت کي که د دواړو ډلو یا زیاتو د سرو په منځ کي تباین وو لکه چي سړی مړ سي او دوې ماینې او پنځه اناګاني او درې د مور له خوا وروڼه او یو تره پرېږدي. اصل مسئله له دوولسو څخه ده دوو ماینو لره څلورمه ده او اناګانو لره شپږمه ده دوې برخي او د مور له خوا وروڼو لره دریمه ده څلور برخي او تره لره پاته برخه ده چي درې برخي دي او برخي پر ماینو او اناګانو او وروڼو په کسر سره وېشل کېږي نو د ماینو شمېر چي دوه دي د اناګانو په شمېر کي ضرب کړه چي لس حاصل سي بیا لس په درو کي چي د وروڼو شمېر دی ضرب کړه چي دېرش حاصل سي بیا دېرش په اصل مسئله کي ضرب کړه چي درې سوه او شپېته حاصلېږي او له هغه څخه مسئله صحیح کېږي که عددونه سره برابر وه یو له بل څخه کفایت کوي لکه چي دوې ښځي او دوه وروڼه پرېږدي مسئله له څلورو څخه کېږي دوې ښځي څلورمه اخلي چي یوه برخه ده او دوه وروڼه پاته مال اخلي چي درې دي د هري ډلي برخي پر هغې په کسر سره وېشل کېږي. که ته غواړې چي مسئله صحیح کړې دوه چي د یوې ډلي شمېر دی په اصل مسئله کي ضرب کړه اته حاصلېږي او له هغه څخه مسئله صحیح کېږي نو دوې ښځي څلورمه چي دوه دي اخلي یوه یوه برخه او دوه وروڼه شپږ اخلي هر یو ... درې او که یو عدد د بل جزء وي یعني له ډېر څخه لږ لکه څلور ښځي او دوه وروڼه، چي څلور ضرب کړل سي کفایت کوي. که یو عدد د بل سره توافق درلودی د یوه وفق په بوله بل عدد کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه لکه څلور ښځي او یوه خور او شپږ تروند شپږ د څلورو سره په نیمي سره توافق لري نو د یوه نیم په بوله هغه بل کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه اته څلوېښت حاصلېږي او له هغه څخه مسئله د صحیح کېږي کله چي مسئله صحیح سي د هر وارث برخي په ترکه کي ضرب کړه بیا د هغه حاصل د برخو پر هغه مخرج ووېشه له کوم څخه چي مسئله صحیح سوې ده او د هر وارث حق راوزي.

مناسخه

س : کله داسي کيږي چي ځيني وارثان د ترکې تر وېشلو مخکي مړه سي په دغه وخت
کي پر ژوندي کسانو کوم چي له اول او دوهم مړي څخه ميراث وړي څرنګه ميراث
وېشل کيږي ؟
ج : که هغه برخي چي له لمړي مړي څخه دوهم مړي ته رسيږي دده د وارثانو پر شمېر
وېشل کېدلې دواړي مسئلې له هغه مخرج څخه صحيح کيږي له کوم څخه چي لمړۍ
مسئله صحيح کيږي لکه چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او يو زوی او دوې لوڼي پرېږدي
مسئله له څلورو څخه صحيح کيږي ، مېړه څلورمه اخلي چي يوه برخه ده او درې برخې
په اولاد کي د الله ﷻ د قول ﴿ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ﴾ مطابق وېشل کيږي ، وروسته د
اولادو برخي پر هغوی په کسر سره وېشل کيږي نو د سرو شمېر چي څلور دي (ځکه زوی
د دوو لوڼو پر ځای دريږي) په اصل مسئله کي چي څلور دي ضربيږي شپاړس
حاصليږي ، مېړه په هغه کي څلور اخلي او زوی شپږ اخلي او هره لور درې درې اخلي
وروسته مېړه له وېش څخه مخکي مړ سو او يو ياد سوی زوی او دوې يادي سوي لوڼې
ئې پرېښولې په دغه صورت کي هم مسئله له شپاړسو څخه صحيح کيږي زوی به اته
اخلي او هره لور څلور څلور اخلي ، دغه چي موږ ذکر کړې د هغه مثال دی چي د دوهمې
اصل مسئلې او هغه برخو چي دوهم مړي ته له لمړي مړي څخه رسېدلي وي برابري وي
او په دغه صورت کي موږ کوم ضرب يا بل عمل ته ضرورت نه لرو ، که ئې په منځ کي
توافق يا تداخل وي د دوهمي مسئلې وفق د اولي مسئلې په تصحيح کي ضرب کړي
وروسته دغه وفق د اول مړي د وارثانو په برخو کي ضرب کړه د دغو دوو ضربو له
حاصل څخه دواړي مسئلې صحيح کيږي لکه چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او دوه
وروڼه پرېږدي مسئله له څلور څخه صحيح کيږي مېړه نيمی اخلي چي دوې برخي دي او
دوه وروڼه پاته برخي يوه يوه برخه اخلي وروسته مېړه د ترکې تر وېشلو مخکي مړ سو او
يوازي څلور زامن ئې پرېښول ، د دوهمي اصل مسئلې او هغو برخو چي دوهم مړي ته له
اول مړي څخه رسېدلې دي په نيم سره توافق دی نو د اصل دوهمي مسئلې نيمی يعنې
دوه د اولي مسئلې په تصحيح کي چي څلور دي ضرب کړه اته حاصليږي بيا دغه وفق
لمړي مړي د وارثانو په برخو کي ضرب کړه نو دوه وروڼه دوې دوې برخي اخلي او د مې

س کوم بيان چي تاسي ذکر کړی په هغه سره په دې خبره پوه سولو چي که برخي پر يوې ډلي په کسر سره وېشل کېدلې څرنګه صحيح کيږي که پر دوو يا زياتو برخو په کسر سره وېشل کېدلې مشکل څرنګه حل کيږي ؟

ج که د دوو يا زياتو ډلو برخي په کسر سره وېشل کېدلې يوه ډله په هغه بله کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په دريمه ډله کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه . دا په هغه صورت کي که د دواړو ډلو يا زياتو د سرو په منځ کي تباين وو لکه چي سړی مړ سي او دوې ماينې او پنځه اناګاني او درې د مور له خوا وروڼه او يو تره پرېږدي . اصل مسئله له دوولسو څخه ده دوو ماينو لره څلورمه ده او انګانو لره شپږمه ده دوې برخي او د مور له خوا وروڼو لره دريمه ده څلور برخي او تره لره پاته برخه ده چي درې برخي دي او برخي پر ماينو او اناګانو او وروڼو په کسر سره وېشل کيږي نو د ماينو شمېر چي دوه دي د انګانو په شمېر کي ضرب کړه چي لس حاصل سي بيا لس په درو کي چي د وروڼو شمېر دی ضرب کړه چي دېرش حاصل سي بيا دېرش په اصل مسئله کي ضرب کړه چي دريلس دي درې سوه او شپېته حاصليږي او له هغه څخه مسئله صحيح کيږي که عددونه سره برابر وه يو له بل څخه کفايت کوي لکه چي دوې ښځي او دوه وروڼه پرېږدي مسئله له څلورو څخه کيږي دوې ښځي څلورمه اخلي چي يوه برخه ده او دوه وروڼه پاته مال اخلي چي درې دي د هري ډلي برخي پر هغې په کسر سره وېشل کيږي . که ته غواړې چي مسئله صحيح کړې دوه چي د يوې ډلي شمېر دی په اصل مسئله کي ضرب کړه اته حاصليږي او له هغه څخه مسئله صحيح کيږي نو دوې ښځي څلورمه چي دوه دي اخلي يعني يوه يوه برخه او دوه وروڼه شپږ اخلي ... دي او که يو عدد د بل جزء وي يعني له هغه څخه لږ لکه څلور ښځي او ... وروڼه ، چي څلور ضرب کړل سي کفايت کوي . که يو عدد د بل سره توافق درلودی د يوه وفق په تول بل عدد کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه لکه څلور ښځي او يوه خور او شپږ ترونه شپږ د څلورو سره په نيمي سره توافق لري نو د يوه نيم په تول هغه بل کي ضرب کړه وروسته د هغه حاصل په اصل مسئله کي ضرب کړه اته څلوېښت حاصليږي او له هغه څخه مسئله صحيح کيږي کله چي مسئله صحيح سي د هر وارث برخي په ترکه کي ضرب کړه بيا د هغه حاصل د برخو په هغه مخرج ووېشه له کوم څخه چي مسئله صحيح سوې ده او د هر وارث حق راوزي .

مناسخه

س : کله داسي کيږي چي ځيني وارثان د ترکې تر وېشلو مخکي مړه سي په دغه وخت کي پر ژوندي کسانو کوم چي له اول او دوهم مړي څخه ميراث وړي څرنګه ميراث وېشل کيږي ؟

ج : که هغه برخي چي له لمړي مړي څخه دوهم مړي ته رسيږي دده د وارثانو پر شمېر وېشل کېدلې دواړي مسئلې له هغه مخرج څخه صحيح کيږي له کوم څخه چي لمړۍ مسئله صحيح کيږي لکه چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او يو زوى او دوې لوڼي پرېږدي مسئله له څلورو څخه صحيح کيږي ، مېړه څلورمه اخلي چي يوه برخه ده او درې برخي په اولاد کي د الله ﷻ د قول ﴿ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ﴾ مطابق وېشل کيږي ، وروسته د اولادو برخي پر هغوى په کسر سره وېشل کيږي نو د سرو شمېر چي څلور دي (ځکه زوى د دوو لوڼو پر ځاى درېږي) په اصل مسئله کي چي څلور دي ضربيږي شپاړس حاصليږي ، مېړه په هغه کي څلور اخلي او زوى شپږ اخلي او هره لور درې درې اخلي وروسته مېړه له وېش څخه مخکي مړ سو او يو ياد سوى زوى او دوې يادي سوي لوڼي ئې پرېښولې په دغه صورت کي هم مسئله له شپاړسو څخه صحيح کيږي زوى به اته اخلي او هره لور څلور څلور اخلي ، دغه چي موږ ذکر کړى د هغه مثال دى چي د دوهمي اصل مسئلې او هغه برخو چي دوهم مړي ته له لمړي مړي څخه رسېدلي وي برابري وي او په دغه صورت کي موږ کوم ضرب يا بل عمل ته ضرورت نه لرو ، که ئې په منځ کي توافق يا تداخل وي د دوهمي مسئلې وفق د اولي مسئلې په تصحيح کي ضرب کړه وروسته دغه وفق د اول مړي د وارثانو په برخو کي ضرب کړه د دغو دوو ضربو له حاصل څخه دواړي مسئلې صحيح کيږي لکه چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او دوه وړونه پرېږدي مسئله له څلور څخه صحيح کيږي مېړه نيمى اخلي چي دوې برخي دي او دوه وړونه پاته برخي يوه يوه برخه اخلي وروسته مېړه د ترکې تر وېشلو مخکي مړ سو او يوازي څلور زامن ئې پرېښول ، د دوهمي اصل مسئلې او هغو برخو چي دوهم مړي ته له اول مړي څخه رسېدلې دي په نيم سره توافق دى نو د اصل دوهمي مسئلې نيمى يعني دوه د اولي مسئلې په تصحيح کي چي څلور دي ضرب کړه اته حاصليږي بيا دغه وفق د لمړي مړي د وارثانو په برخو کي ضرب کړه نو دوه وړونه دوې دوې برخي اخلي او د مېړه

زامن يوه يوه برخه اخلي او كه ئې په منځ كي تباين وو دوهمه پوره تصحيح په اولي پوره تصحيح كي ضرب كړه او كوم مبلغ چي حاصليږي د دواړو مسئلو مخرج دى نو د اول مړي د وارثانو برخي په دوهمي تصحيح يا د هغې په وفق كي ضربيږي او د دوهم مړي د وارثانو برخي په هغه كي ضربيږي چي دده په لاس كي وي يا د هغه په وفق كي لكه چي يوه ښځه مړه سي او مېړه او يوه لور او مور او يو ورور ئې پرېږدى مسئله له دوو لسو څخه صحيح كيږي مېړه څلورمه اخلي چي درې برخي دي او لور نيمى اخلي چي شپږ برخي دي او مور شپږمه اخلي چي دوې برخي دي او ورور پاته حصه اخلي چي يوه برخه ده ، وروسته مېړه مړ سو او له اولي ماينې څخه پرته يوه بله ماينه ئې پرېښول او پلار او مور ئې پرېښول مسئله له څلورو څخه كيږي ماينه څلورمه اخلي يوه برخه او مور او پلار پاته حصه په دريمو سره اخلي د هغه برخي چي مېړه ته له اولي ماينې څخه رسېدلې ده او اصل دوهمي مسئلې په منځ كي تباين دى نو اصل دوهمه مسئله په اصل اوله مسئله كي ضربوو اته څلوېښت حاصليږي له هغه څخه دواړي مسئلې صحيح كيږي بيا د اول مړي د ژوندي وارثانو برخي په اصل دوهمه مسئله كي چي څلور دي ضربيږي بيا د دوهم مړي د وارثانو برخي په هغو برخو كي ضربوو چي دوهم مړي ته له لمړي څخه رسېدلي وي نو د اولي مړي لور څليرويشت اخلي او د اولي مړي مور اته اخلي او ورور ئې څلور اخلي او دوهمه ماينه چي ژوندۍ ده درې اخلي او د دوهم مړي پلار شپږ اخلي او مور ئې درې اخلي نو ټوله اته څلوېښت كيږي .

فائده

كله چي د مناسخې مسئله صحيح سي او ته غواړې چي پوه سي چي هر يوه ته څومره درهمونه رسيږي كوم مقدار چي مسئله ځني صحيح سوې وي پر اته څلوېښت ئې ووېشه كوم چي حاصل راووزي په هغه مقدار سره هغه لره د هر وارث له برخو څخه راواخله الله ﷻ ته حق ښه معلوم دى .

د كتاب خاتمه

دغه ښه كتاب د الله ﷻ په فضل سره چي مالك او بخښونكى دى د خپل مصنف په لاس چي د الله ﷻ رحمت او رضا ته محتاج بنده محمد چي په عاشق الهي سره معروف دى ـ الله ﷻ دي عفو ورته وكړي او اخرت دي ئې له دنيا څخه ښه وګرځوي ـ په يو زر او څلور سوه او يوو لس كال د صفر المظفر په اوائلو كي په مدينه منوره كي پاى ته ورسېدى . او الله ﷻ لره ستاينه ده په اول او اخر كي او په ښكاره او پټه او د الله ﷻرحمت او سلام دي وي پر هغه نبي چي په زورورو دلائلو سره لېږل سوى دى نو د هغه دين پر نورو دينو غالبه او ښكاره دى او پر هغو كسانو چي دده سره ملګري سوې دي او جهاد ئې ورسره كړى دى او د الله ﷻ د دين لپاره مرسته كونكي وه او پر هر هغه چا چي دده دين ئې زده كړى وي او رسولى ئې وي او دده د سنت نشر كونكى وي .

پاملرنه :

فهرست